

# نیمه پیړۍ یون

## اووم ټوک

(کلتوري او څېړنیز اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹٦ل



نیمه پیړۍ یون

اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار)

(څوارلس ټوکه)

۷

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱٤٤)

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د درېو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نږدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکری او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پېړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکتر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

HALF CENTURY JOURNEY

BY: PROF. MOHAMMAD ISMAEL YOON

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱٤٤)

### په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پښتوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په ورمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنی لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زمانې په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتی ۳ مخ)

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماسټرې):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.

**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵٦) مخونه.

**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنۍ سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.

**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



### مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت
ښاغلي محمود کرزي
څخه د زړه له کومې مننه کوي چې ددې اثر د اووم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست.
یو ځل بیا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتی ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېړۍ یون

## اووم ټوک

## (کلتوري او علمي اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پیړۍ یون

## اووم ټوک

**(کلتوري او علمي اثار)**


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**



خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۳)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**


٦١٣٤

ډالۍ:

# د افغانيت، اسلاميت او انسانيت

# رښتينو لاروپانو ته!

# نیولیک


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ٦١٤٢ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ٦١٥٨ |
| | **فرهنګي فقر** | |
| ١ | دا اثر د غمجنو پېښو انځورنه | ٦١٦٨ |
| ٢ | د تنظیمواکۍ د مهال دا لیکنې | ٦١٧٤ |
| ٣ | د جدي شپږمه زمونږ د معاصر تاریخ غمیزه | ٦١٨٠ |
| ٤ | فرهنګي فقر | ٦١٩١ |
| ٥ | د عقایدو بحران | ٦١٩٥ |
| ٦ | که خبر نه یې نو واوره! | ٦١٩٨ |
| ٧ | جګړه او روحي ستونزې | ٦٢٠١ |
| ٨ | فرهنګي ټولنې او فرهنګي مسئولیتونه | ٦٢٠٥ |
| ٩ | د کابل طب انستیتیوت، د زیان تر پښتې لاندې | ٦٢٠٨ |
| ١٠ | د افغانستان د ملي ګالرۍ برخلیک | ٦٢١١ |
| ١١ | د کابل د اوسنۍ ادارې څو ځانګړتیاوې | ٦٢١٤ |
| ١٢ | د جدي د ٦ نېټې غمیزه او د هغې مرکزي کرکټر | ٦٢١٨ |
| ١٣ | کابل: رنځونه، مرګونه او کړاوونه | ٦٢٢٦ |
| ١٤ | کابل بیا په وینو ولمبل | ٦٢٣١ |
| ١٥ | د قدرت د انتقال مساله | ٦٢٣٥ |
| ١٦ | یرغمل شوی ولس | ٦٢٤٠ |
| ١٧ | غني، غني دی | ٦٢٤٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | ننګیال یو شاعرانه شخصیت | ٦٢٥٥ |
| ۱۹ | فرهنګي رغونه د افغاني ټولنې د رنځونو د یوه علاج په توګه | ٦٢٦٢ |
| ۲۰ | په افغانستان کې تنظیمي اداره او  پولي تورم | ٦٢٦٨ |


## د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دویم چاپ سریزه | ٦٢٧٥ |
| ۲ | سریزه | ٦٢٧٨ |
| ۳ | ښوونځي | ٦٢٨١ |
| ٤ | د لوړو زده کړو مرکزونه | ٦٢٨٧ |
| ٥ | د افغانستان د علومو اکاډمي | ٦٣٠٤ |
| ٦ | دولتي فرهنګي ټولنې | ٦٣٠٩ |
| ۷ | خپلواکې فرهنګي ټولنې | ٦٣١٧ |
| ۸ | نندارې یا سینماوې | ٦٣٢٠ |
| ۹ | ملي موزیم او نور موزیمونه | ٦٣٢٣ |
| ۱۰ | ملي آرشیف | ٦٣٤٣ |
| ۱۱ | ملي ګالري | ٦٣٤٦ |
| ۱۲ | نندارتونونه | ٦٣٥٠ |
| ۱۳ | څلي او منارونه | ٦٣٥٤ |
| ١٤ | تاریخي ودانۍ | ٦٣٥٨ |
| ۱٥ | بیهقي کتاب خپرولو موسسه | ٦٣٦٢ |
| ۱٦ | عامه  کتابتون | ٦٣٦٦ |
| ۱۷ | راډیو او ټلویزیون | ٦٣٨٢ |
| ۱۸ | اخبارونه او مجلې | ٦٣٨٨ |
| ۱۹ | چاپخونې (مطبعې) | ٦٣٩٤ |
| ۲۰ | پایله (نتیجه) | ٦٣٩٩ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | اخځلیکونه | ٦٤٠٢ |


## له افغانستانه د مسلکي کادونو د فرار عوامل


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دې اثر دویم چاپ | ٦٤١٠ |
| ۲ | سریزه | ٦٤١٤ |
| ۳ | تر غمیزې دمخه څو کلونو په بهیر کې ښوونیز ... | ٦٤١٩ |
| ٤ | د علمي کادرونو د فرار پړاوونه | ٦٤٢٨ |
| ٥ | دویم پړاو | ٦٤٣٨ |
| ٦ | دریم پړاو | ٦٤٤٦ |
| ٧ | څلورم پړاو | ٦٤٥٨ |
| ٨ | پنځم پړاو | ٦٤٧٠ |
| ٩ | د ارزښتونو کمزوري کېدل او د فرار ګړندي کېدل | ٦٤٧٩ |
| ١٠ | د افغانستان راډیو ټلویزیون | ٦٤٨٥ |
| ١١ | ټولنیز - فرهنګي سازمانونه | ٦٤٩١ |
| ١٢ | کابل پوهنتون | ٦٤٩٨ |
| ١٣ | د افغانستان د علومو اکاډمۍ | ٦٥٠٢ |
| ١٤ | پایله او څو وړاندیزونه | ٦٥٠٤ |
| ١٥ | اخځونه | ٦٥١٤ |


## مرکه او مرکې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | پر دې اثر یو څو لنډې خبرې | ٦٥١٩ |
| ۲ | مرکه او مرکې | ٦٥٢١ |
| ۳ | زه د هېواد فرهنګ ته ډېرې زیاتې هیلې... | ٦٥٣٤ |
| ٤ | نه بدلېږمه افغان یم څو چې یم | ٦٥٤٣ |
| ٥ | پوهاند زیار د پښتو لیکني او ژبني معیار مخکښ | ٦٥٥٩ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦ | فرهنگیالی روغتیا پال | ٦٥٧٦ |
| ٧ | (( ژوندۍ اکاډمۍ )) هم مهاجره شوه | ٦٥٩٥ |
| ٨ | په کاڼو کې غمی | ٦٦٠٩ |
| ٩ | د پښتو ژبې د غوړېدو په تحریک کې باید منفي... | ٦٦٣٥ |
| ١٠ | د چنارونو او نښترو شاعر | ٦٦٤٥ |
| ١١ | عبدالباري جهاني له ((ورکې مېنې)) تر ((شیش محله)) | ٦٦٦٠ |
| ١٢ | ترڅو چې په افغانستان کې قانون حاکم نه شي ... | ٦٦٧٢ |
| ١٣ | زه جل وهلی یم باران ته اړ یم | ٦٦٩٠ |
| ١٤ | افغانستان یوې ملي ستراتیژۍ ته اړتیا لري | ٦٦٩٦ |


## کلتوري یون


| | | |
|---|---|---|
| ١ | یون له یو بل ((کلتوري یون)) سره | ٦٧١٤ |
| ٢ | لیکنې د وختونو خاطرې له مرگه ژغوري | ٦٧١٦ |
| ٣ | په شعر کې تکلف | ٦٧٢٠ |
| ٤ | فرهنگي او ټولنیز ارزښتونه | ٦٧٢٥ |
| ٥ | (په) او (پر) دوه مترادفې کلمې دي که مخالفې؟ | ٦٧٢٩ |
| ٦ | فرهنگي کار قرباني غواړي | ٦٧٣٧ |
| ٧ | دخدای پامانۍ گیله | ٦٧٤١ |
| ٨ | په پښتو کې د (یاگانو) سمه کارونه او اړتیا | ٦٧٤٦ |
| ٩ | په لیکوالۍ کې احتیاط | ٦٧٥٨ |
| ١٠ | ازاد او تړلي مطبوعات | ٦٧٦٨ |
| ١١ | گران خوشال روهي ته داوښکو مړاوی لیک | ٦٧٨٩ |
| ١٢ | اوسني استوگن ادبي بهیر ته یوه لنډه کتنه | ٦٧٩٢ |
| ١٣ | په لیکوالۍ کې د حقارت عقده | ٦٧٩٨ |
| ١٤ | د مونوگراف لیکنې گټې او اړتیاوې | ٦٨٠٨ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ | ليکوال، کتونکی او لوستونکی | ٦٨١٣ |
| ١٦ | کلتوري اخلاق | ٦٨٢٧ |
| ١٧ | مثبت کلتوري بدلون، اوښتون او پرمختګ ته اړتيا ده | ٦٨٣٥ |
| ١٨ | زموږ د ليکوالو عمومي او خپلمنځي ستونزې | ٦٨٤١ |
| ١٩ | الفت د زړونو الفت | ٦٨٤٨ |
| ٢٠ | زموږ د اوسنيو ادبياتو فکري لوری | ٦٨٥٩ |
| ٢١ | راډيو په وير او ټلويزيون په زنځير کې | ٦٨٦٢ |
| ٢٢ | د پوهنتوني کتابونو د چاپ اړتيا | ٦٨٧٨ |
| ٢٣ | د افغانستان په ختيځ کې ژورنالستيکي هڅې | ٦٨٨٤ |
| ٢٤ | کلتوري يون او د فرهنګي تجربو تبادله | ٦٨٩٤ |
| ٢٥ | د ((پسرلي)) د فکر پسرلی | ٦٩٠٨ |
| ٢٦ | د يوې ((ژبخورې)) ژبې يرغل ... | ٦٩١٧ |
| ٢٧ | افغانستان او د ايران کلتوري يرغل | ٦٩٢٦ |
| ٢٨ | زرين انځور د فکر او کار سړی | ٦٩٣٣ |


## جنګ او فرهنګ په افغانستان کې


| | | |
|---|---|---|
| ١ | د تحريک يادښت | ٦٩٤٦ |
| ٢ | په تحميلي جنګ کې راټوکېدلی فرهنګ | ٦٩٤٧ |
| ٣ | بيا هم په جنګ او فرهنګ کې | ٦٩٥٣ |
| ٤ | د يو مثبت فرهنګي بدلون او اوښتون هڅه | ٦٩٥٥ |
| ٥ | پښتو رسنيو ته څو د زړه خبرې او څو د راز مشورې | ٦٩٥٩ |
| ٦ | بابي ګله! ستا دليدو په هيله | ٦٩٦٦ |
| ٧ | په ((ځانګو)) کې کوم فکر زانګي؟ | ٦٩٦٨ |
| ٨ | پوهاند محمد حسن کاکړ د جګړې پر لومړۍ کربښه! | ٦٩٧٥ |
| ٩ | د (ودان) اوښکه | ٦٩٨١ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | د (ضمیر) پر مړینه ضمیر لړزېږي | ۶۹۸۷ |
| ۱۱ | جنګ او فرهنګ په افغانستان کې | ۶۹۸۹ |
| ۱۲ | د خـوشـال پـوځـي نــړۍ لید | ۷۰۰۶ |
| ۱۳ | ((د بریالیتوب لار)) له کومو پېچومو تېرېږي؟ | ۷۰۱۹ |
| ۱۴ | پښتو کې درې نوي شعري فورمونه | ۷۰۲۷ |
| ۱۵ | پښتو اوسنی شعر د حوادثو په مسیر کې | ۷۰۵۳ |
| ۱۶ | د یو ښه لیدلوري لپاره یوه ښه هڅه | ۷۰۷۷ |
| ۱۷ | د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري | ۷۰۸۰ |
| ۱۸ | د نظم رغنده توکونه | ۷۱۰۷ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنګسالارانو او فسادګرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانګړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنګي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانګړې توګه ځوانان یې تر څنګ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توګه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولګي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو، د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په

دې سختتو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینگار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولگی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. یون پر (۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروگرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر

مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې لـه یـو شـمېر اخبـارونو او مجلـو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حـق الزحمـه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کـې د تحصـیل پـر مهـال هـم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشـال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شـمېر نـورو فرهنګـي ټولنـو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یـې د لـرو او بـرو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پـر (۱۳٦٦ل) کـال یـې چاپ کړه.

د پـوهنځي پـر وروسـتي کـال یـې دوه اثـار: د خپلـو شـعرونو ټولګـه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شـعرونو ټولګـه (نیمګـړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه پـه پېښـور کې اوسېده، هلته پـه پېښـور کـې یـې (هیلـه) مجلـه چاپولـه، د (معـارف) مجلې همکار و، په جرمني کې د دوو افغاني کلتـوري ټولنـو؛ (د افغانسـتان کلتـوري ودې ټولنـه) او (د پښـتني فرهنـګ د ودې او پراختیـا ټـولنې) استازی هم و.

محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګـرو ملتونـو د مرسـتو د

ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یادو ولایتونو کې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنده هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱۶۰۰) تنو په کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپاره ټاکنې وشوې او یون د رایو په اکثریت سره د بېړنۍ لویې جرګې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګه- ولسواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تر منځ د (امن ګډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامد کرزي د یوه ځانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګه غوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامدکرزي ته یې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په

نامه د یـو ازاد، فرهنگـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کـې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته یـې ځـان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنگ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانگوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې یـې خلکـو تـه پـه مسـتقیم او نامسـتقیم ډول د

میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کړې ده. د مصیبت ځپلو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کار ددې سبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځان ورسوي. د جګړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې څو پروګرامونه جوړ کړي او همدارنګه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یې ونډه اخیستې، د صحي اوبو لپاره یې د ژورو څاګانو په کیندنه او د چاپېریال د پاک ساتلو لپاره یې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجموعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چې یون په تېرو (۳۰) کلونو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې له کوم سیاسي ګوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ ایښی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سیاسي فعالیتونه ترسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېواد کې د ولسواکۍ د ټینګښت، د جنګسالارانو او فسادګرو د زور کمونې، له منځه وړنې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کړي او په ځینو نورو دا ډول مظاهرو کې یې ګډون کړی دی. دا

مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنايي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنايي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلویزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلویزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| متکور | (لومړۍ شعري ټولگه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولگه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (گډه شعري ټولگه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمگړې ارمانونه (د حیران شعري ټولگه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (گډه شعري ټولگه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولگه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننگیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولگی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنگي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جگړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاگون ترڅنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- خېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زيار د پښتني فرهنگ يو ځلاند ستوری (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي ژبانونه (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساينسي پرمختياوې (څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لويه جرگه ولسواکي او زورواکي (سياسي څېړنيز اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- انديال خوشال (د څېړنيزو ليکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هيله د خپلو سريزو په لمن کې (د تحليلي ليکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري يون(د ادبي څېړنيزو ليکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنيزو ليکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- مرکه او مرکې (له بېلابېلو ليکوالو سره د مرکو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ايډيال (د څېړنيزو ليکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ

وروستي حـد تـه ورسـاوه. خـو دا نیمـه پېـړۍ لـه منـډو، تـرړو، سـتونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریـاوو سره ملـه وه. لـه لـومړي ټـولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسـان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمـه وي. لـه لـومړي ټـولګي څخـه بیـا تـر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یـون سره لـه دې چـې پـه دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کـور د سرپرسـتۍ درونـد مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کـړو تـه یـې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یـا راټولونـو لـومړی ثمـر (هیلـې) ګـډه شـعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند دربیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چـې د څلـورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (متکـور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړانـدې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګڼو خـدمتونو مرحلـه ده چـې لـه (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کالـه وخـت یـې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلـې ځلـې وکـړې چـې مـوږ یـې دمخـه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کـې مـوږ د استاد یون له خـوا ټـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده

د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې له لیکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل لیکل شوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کمیت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد یون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یې ماته تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سوڼ هم نه شو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطر کې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سترو ارزښتونو د لیکلو مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو

سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر يې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځوربدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل

شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم

کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو يو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني ليکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تيار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر يوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو يو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په يادښتونو کې ليکلي او ملګرو ته مې هم ويلي وو چې هېواد کې حالات ترينګلي دي، پر ژوند يوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي ياني اثار يې ليکلي دي، بايد په خپله يې راټول او چاپ کړي.

زما کار يوه نوې تجربه وه، ځينو نورو ليکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه يې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وايې او خپله يې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نيمه پېړۍ مزل وواهه، نو يو ځل بيا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وينا چې د عمر اساس پر باد ايښی دی، نو بيا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بيا له سره منظم او کلياتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې

مې نه دي غوښتي څوک راځخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرگ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرگردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو گوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنگي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جگړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جگړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولگي کې وم چې جگړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرگ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما

یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، ځو شپېې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړۍ ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوړو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار ګاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
فرهنگي فقر
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# فرهنگي فقر

## ( د تنظیمواکۍ د مهال ځو لیکنې )

لیکوال

**محمد اسمعیل یون**

**۱۳۸۷ لمریز کال**

# بسم الله الرحمن الرحيم

## كتاب پېژندنه

د كتاب نوم: فرهنگي فقر
ليكوال: محمد اسمعيل يون
خپرندوی: يون كلتوري يون
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوكه
لومړی چاپ: ۱۳۷۳ل كال
دويم چاپ: ۱۳۸۷ل كال
د ليكوال
پرله پسې نومره: (۲٤)
د خپرندوی
پرله پسې نومره: (۲٤)

**سریزه:**

# دا اثر د غمجنو پېښو انځورنه

د ډاکتر نجیب الله د رژیم د پای کلونه وو، چې افغان فرهنګیانو ((د خوشال فرهنګي ټولنې)) بنسټ کېښود . دغې ټولنې په لنډ وخت کې یو شمېر مهم سیمینارونه جوړ کړل، یو شمېرمهم اثار یې چاپ کړل او د طب اوانجینرۍ په برخوکې یې هم ځانګې پرانیستې، ډېر ژر یـې د یوه ملي او فرهنګي غورځنګ بڼه غوره کړه .دا مهال یـون صـیب د ادبیاتو په پوهنځي کې و، ما او ډاکتر صیب ابراهیم شینواري د طب په پوهنځي کې زده کړې کولې. یون صیب نه یوازې د خوشال فرهنګـي ټولنې د مشرتابه جرګې هڅاند غړی و، بلکې د دغې ټولنې په ایجـاد کې یې هم مهمه ونډه درلوده. زما او د یـون صـیب او ډاکتـر صـیب شینواري ترمنځ په همدې وخت کې اړیکي ډېرې سره نږدې شول، په ګډه مو فرهنګي هلې ځلې کولې او په دې هیله وو، چې که دا فرهنګي غورځنګ همداسې پرمخ ولاړ شي، نو په ډېر لږ وخت کې به پښتانه له کلتوري غفلت څخه راویښ شي اود چټک پرمختـګ لاره بـه غـوره کړي.خو په همدې وخت کې له شمال څخه د افغانستان د تجزیـې او نیواک یوه بله خطرناکه دسیسه د توپان په څېر راروانه وه ، چې څپې یې واردمخه کابل ته هم رارسیدلې وې .

همداسې وشول ، د ډاکتر نجیب رژیم نسکور شو، خــو د ســولې او خپلواکۍ پرځای کورنۍ جګړه او د افغان په لاس د افغان وژنــه پیــل شوه او هغه څه چې له روسي تاړاک څخه خوندي پــاتې و، تنظیمــي جګړو او تالان له کومې تېر کړل او هېواد مو پر وړو وړوکورګیو ووېشل شو. موږ به رواني پېښې او نادودې په ډېر ځیر سره څارلې او که مونور څه له وسه نه کېدل نو هڅه موکوله چې خپلې اندېښنې له یو شمېر اغېزمنو کسانوسره شریکې کړو.یوځل مو پرېکړه وکړه ، چې په کابل کې یو ګډ کور ونیسو ، هره شپه به روان حالات سره څېړو او په سبا به یې د ټاکلي پلان له مخې له خپلې وسې سره منډې تررړې کــوو، خــو زموږ کورنیو مسوولیتونو داموقع رانه کړه. څلور کاله وروسته مــا لــه هېواد څخه بهر ته مخه کړه ، خو یون او ډاکتر شینواری همدلته پاتې شول، چې تل به زما د اندېښنې مزي ورسره تړلي وو.

ترکومه چې زه یون پېژنم، د دې تر څنګ چې پر هېواد دتپل شوې غمیزې او ورڅخه رازېږېدلو پېښو پروړاندې ډېر حســاس و ، همــدغو پېښو ته یې تل په یوه ځانګړې ، ژور اوذره بیني نظر کتل اوډېر وخت به یې پېښې له یوې داسې زاویې څخه ځیرلــې، چــې د یــوه عــادي کتونکي به هډو ورته پام نه واو په همدې لړکې به یې کله کله د پېښو، د هغو د لاملونو او پایلو ترمنځ عجیبه اړیکي او منطق موندل.

یون چې پیاوړی قلم لري، تل یې هڅه کړې خپــل دردونــه، کتنــې ،شننې اواندېښنې د کاغذ پرمخ راوړي او له نورو سره یې شریک کړي ،چې د مقالو همدا ټولګه یې د تنظیمواکۍ د پېر د نادودو یو ښه انځور وړاندې کوي. په دغو لیکنو کې د تنظیمونو د مدعا او عمل تــرمنځ د واټن له مخه پرده پورته شوې او د لوټ ،تالان ، وژنو، ورانۍ او تبــاهۍ

ترخُنګ داسې کیسې هم لولو، چې د سړي له ډېره درده خندا ورتــه راشي ، لکه د پچو محصول ، له کابل څخه د اسلامي ځواکونو دفاع او دې ورته نورې کیسې .

خو په دې لیکنو کې تاسو یوازې د مرګ ژوبلــو اوورانیواحصــایوي رپوټ نه لولئ او نه هم یوازې د یوه شاعریا ادیــب عــاطفي احســاس ګورئ، بلکې یون د روان ناورین ځینو داسې زیانونو اوڅنډو ته ګوتــه نیسي چې که څه هم ډېر مهم دي، خو د ډېرو له پامه غورځېدلي دي .

د بېلګې په توګه ، کله چې موږ د جګړې د زیانونو خبــره کــوو، نــو سمدستي مو فزیکي ، مادي او اقتصادي زیانونه او ورانۍ ســترګو تــه درېږي؛ کله چې د بیا رغــونې خبــره کــوو نــو هــم یــوازې د مــادي اواقتصادي بیا رغونې په اړه فکر کوو.خو یــون د مــادي او اقتصــادي زیانونو تر څنګ او تر هغو لا زیات په فرهنګي او معنــوي برخــو کــې زیانونو ته متوجه دی .د اعتماد بحران ، د معنویت ســقوط، د افغــان ولس ذهني وېش او فرهنګي زیانونه هغه مهم بنسټيز لاملونــه دي ، چې نن یې هم موږ له پایلوسره لاس او ګرېوان یو. د بېلګې په توګه که څه هم د طالبانو د حکومت تر نسکورېدو وروسته په لسګونو میلیارده ډالره له افغانستان سره د مرستې په نامه راغلل، خــو د معنویــاتو د سقوط له امله د ولس د هوساینې پرځای د یوڅو تنو جېبونه پرې ډک شول؛ که څه هم خلکو ته د سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو ازادي ورکړل شوه، خو د هغه ژور ذهني وېش له امله چې د دښمنانو تبلیغاتي چړو زموږ ترمنځ رامنځته کړی اوس هم پر سلو لارو روان یو او د یو بل پښو ته موټبرونه نیولي دي ،چې له همدې امله یوازې د ثبت شویو سیاسي ګوندونو شمېر دسلو شاوخوا ته رسېږي. له بده مرغه موږ تراوسه پورې

هم د معنوي ارزښتونود بیا رغونې او د ملي اوټولنیز -انتګراسیون یا بیا کوشیر کولو کومه ستراتیژي نه لرو.

موږ معمولاً هغوخلکوته معیوب وایو ، چې د بدن غړي يې له لاســه ورکړي وي ، خو یون د افغانانو رواني زیانونه او نــاروغۍ هــم نــه دي هېرې کړي او په همدې اړه د یوې لیکنې په پای کې لیکي : « لندن دا چې د ولس زیاته برخه په ډول ډول رواني ستونزو واوښــته. د کابــل پوهنتون له یوه استاد څخه مې د دغه درد د شریکولو په تــرڅ کــې وپوښتل ، چې د افغانستان زیات وګړي تقریبا ۹۵ په سلو کې پر یوې نه یوې ډول روحي ناروغۍ اخته دي ،هغه وویل: (تاته چې کــوم روغ ښکاري هغه هم ناروغ دی ، ځکه چې دا دردونکې او غملړلې پېښــې ولې پرې تاثیرنه کوي) .»

د یون د لیکنویوه بله ځانګړنــه لــه شــمېرو او ارقــامو ســره د ده علاقمندي ده . د دې ترڅنګ چې معمولاً د پېښو او زیــانونو پــه اړه دقیقې شمېرې وړاندې کوي ، کله کله له دغو شمېرو او ارقاموڅخــه داسې پایلې راوباسي ، چې سړی ورته اریانېږي او د موضوع اهمیت ته متوجه کېږي .د بېلګې په توګه تاسو دا متن ولولئ:(( اوس نو تقریبــا هره ورځ له هرو دریو افغانانو دوه تنه ضرور پر بــې نتیجــې سیاســي بحثونو خپل وخت تېروي، نو لږ تر لږه که له ۱۵ ملیونو افغانانو څخــه لس ملیونه تنه افغانان د ورځې یوساعت پرسیاسي خبرو تېر کړي، نو په یوه ورځ کې به مو ۱۰ ملیونه ساعته وخت ضایع کړی وي او که دا په

یوکال کې ضرب کړو، نو ۳۶۵۰ میلیونه ساعته وخت به شي او کــه دا بیا په ۱۵ کلو کې ضرب کړو نو ۵۴۷۵۰ میلیونه ساعته وخت بــه مــو یوازې پر بې نتیجې بحثونو ضایع کړی وي ... .))

او یا د کابل طب انستیتیوت ته درسېدلو زیانونو په لړکې دا بله په زړه پورې بېلګه وګورئ:((... په دې موده کې د محصلینو درسونه یا په نیمه او یا په بشپړ ډول ودرول شوي وو. که د محصلینو د شــمېر پــه تناسب د درسي ساعتونو شمېر په پام کې ونیسو ،نو په مجموعي توګه به نوموړي انستیتیوت ته د لسو ملیونو پــه شــاوخوا کــې د درســي ساعتونو د ضایع کېدو زیان اوښتی وي .)).په دغو شمېرو کې د وخت دضیاع په اړه د یون سخت حساسیت په څپله د پاملرنې وړ خبره ده . په دې کې هېڅ شک نشته هغو ولسونو چې له وخت نــه ســمه ګټــه اخیستې ده، د تمدن او پرمختګ پر لوړو پوړیوختلي دي . له بده مرغه موږ اکثراًیوازې د مادي زیانونو په اړه خبرې کوو ، خو داچې څــومره وخت مو له لاسه ورکړی او تر نوروهېوادونو څومره وروسته غورځېدلي یو، دې ته پام نه کوو.

په دغه ټولګه کې د تنظیمواکۍ په اړه پر لیکنو سربېره دوې ادبــي لیکنې هم راغلي ، چې زما په اند بهتره وه د ادبي لیکنو په یــوه بلــه ټولګه کې راغلې وای.کېدی شي په دغه ټولګه کــې د پېښــو زیــاتره انځورونه زموږ لپاره اشناوي ،یامو په څپله لیدلي وي او یا موهم له بل چا اورېدلي وي ، خو یو نسل وروسته همدا لیکنې د تاریخ مینه والو ته

د تنظیمواکۍ د پېر یو ډېر رښتینی اوعیني انځور وړاندې کولی شي او بل دا چې له هغه زاویې څخه چې دا پېښې څېړل شوي ښایي د ډېرو لوستونکو لپاره نوې وي .

داچې یون صیب همت کړی او خپلې لیکنې یې په خپله راټولې کړي د ستاینې او قدر وړ کار دی، که نه وروسته د دغــو لیکنــو مونــدل ، راټولول او بیا د چاپ تر درشله رسول څه اسانه کار نه دی. په پای کې یون صیب ته د دغې ټولګې د چاپ له امله مبارکی وایم او له قــادر و متعال خدای(ج) څخه یې قلم ته لاډېر برکتونه غواړم .

په درنښت

خوشال روهي

## د سریزې په ډول:

# د تنظیمواکۍ د مهال دا لیکنې

په دې ورځو کې چې زه د خپلو لیکنو د راټولولو په هڅه کې یم، نــو دخپلو ټولو چاپي لیکنو د راټولېدو لپاره مې د هغو چاپي خپرونو لټــه پیل کړه، چې زما د لیکنو د چاپ احتمال په کې و. له نېکه مرغه چــې ددې خپرونو یو زیات شمېر ما سره خوندي و، خو دا خوندیتوب هم یو ځای او یو مهال نه و، د ځینو خپرونو کلکسیون، په پېښور، د ځینو په کابل، د ځینو په ننګرهار او د ځینو نورو هم په لغمان کې و، په دې تېرو شلو کلونو کې ددغو اخبارونو او مجلو خوندي ساتل هم اسانه کار نه و، د موږکانو دې خونه ړنګه شي، هغوی هــم پــرې صــرفه نــه وه کــړې، بادوباران هم د ځینو پاڼې دوړولې وې او لېږد رالېږد هــم خپــل تــاثیر ښندلای و. خو بیا هم د یو مسلکي لیکوال په توګه زه له پیله بیا تر دې دمه د خپلو لیکنو خوندیتوب ته متوجه وم، له هغه مهالــه چــې زمــا لومړني شعرونه په اخبارونو کې چاپ شول او بیا تر څو کلونو پورې، ما په منظم ډول د خپلو چاپي لیکنو یو فهرست په یوه کتابچه کې لیکه او هلته مې دا واضح کوله، چې زما کومه لیکنه او شعر په کومه خپرونه کې څه وخت چاپ شوي دي، دې کار ته مې تر یوه وخت دوام ورکړ، خو دا لړۍ بیا وروسته وشلېده او کله چې مې ددې لیکنو پر راټولونې پیل وکړ، نو هغه کتابچه هم راڅخه لادرکه شوه، خو په هر ترتیب د اخبــارونو او

مجلو لړۍ مې چې وپلټلې، ډېرې لیکنې مې ترلاسه کړې او یو کم شمېر داسې لیکنې چې پر بیا چاپ ارزېدلې، لاسته رانغلې، ځینــې لیکنــې داسې هم وې چې د همغه وخت په اندول یې یو څه ارزښت درلود او یا یې هم خبري او ژرونالستیکه بڼه لرله او پر بیا چاپ نه ارزېــدلې، هغــه خپله ما ترې حذف کړې، نو له څو لیکنو پرته چې بیا چاپ یې زما په نظر ضرور و، نورې اکثره ترلاسه شوې.

زه د ښوونځي په اتم او یا نهم ټولګي کې وم چې زما لومړني شعرونه په (ستوري) مجله او بیا په (قبایلي زلمیان) جریده کې چاپ شول، دا نو د انسان لپاره یوه نه هېرېدونکې خاطره وي، هغه شعر چې په ستوري مجله کې چاپ شوی و، مطلع یې دا وه:

نن کې زه ماشوم یم د سبا د ورځې پلار به شــم
نوی ژوند به جوړ کړم د غریبو خدمتګار به شــم

او هغه چې په قبایلي زلمیانو جریده کې چاپ و (زما هــوډ) نومېــده مطلع یې دا وه:

جوړ به مې هېواد کړم چې ځلاند شي پــه نــړۍ
لا بـــه مـــې درنــه کړم د خپل پلار نیکه پګړۍ

البته دا زما لومړني شعرونه نه وو، خو د لومړنیو چاپي شــعرونو لــه جملې څخه وو. بیا همداسې په نورو اخبارونو او مجلو کې زما لیکنې او شعرونه راغلل، خو له ۱۳۶۴ل کال بیا تر دې دمه چې زما لیکنــې پــه کومو چاپي خپرونو کې راغلي دي، اکثره په دې خپرونو کې دي: ستوری مجله، قبایلي ځلمیان جریده، درفش جوانان اوونیزه، هېــواد، انــیس،

پيام، ملي ارمان ورځپاڼې، جرګه، ژوندون، هيله، ډيوه، شمشاد، باختر، کابل پوهنتون، خپلواکي، ګندهارا، ښکلا، کمکی خيبر، روهي، انګــازه، الينګار او الفت مجلې، وفا، ارمان، دعوت، سپوږمۍ او قلموال جريدې او همدارنګه ټول افغان، بېنوا، لر او بر، غورځنګ، ققنوس او ځينې نورې وېبپاڼې چې زما ځينې شعرونه او ليکنې په کې راغلې دي.

کله چې ما د خپل تېر کار پر ټولولو پيل وکړ، نو طبعاً د مهال او محتوا له مخې د هغو د ډلبندۍ مسئله هم راسره مطرح شوه، دغه ليکنې چې په دې ټولګه کې راټولې شوي، د هغو ليکنو ټولګه ده چې يو مشــخص مهال په خپله لمن کې رانغاړي: ۱۳۷۱-۱۳۷۵ لمريز کلونه چې د هېواد پر بېلابېلو سيمو مختلف تنظيمونه واکمن وو او پر ټول هېواد د ګډوډۍ، لوټ او تالان لمن خوره وه، دا ليکنــې د بېلابېلــو سياســي، ټــولنيزو، کلتوري او ورځنيو مسايلو په اړه ليکل شوي او پر يوه واحده ټولګه کې مې د مهال له مخې د هغو راټولېدنه ځکه غوره وبلله، چې د همدې يوه غمجن مهال د بېلابېلو ژوند پېښو څرکونه په کې ليدل کېدی شي، که څه هم د موضوع او محتوا له پلوه سره توپير لري، خو که په ځير ورتــه وګورو د هغې زمانې د تاوجن او غمجن حالت تصوير راکاږي، ددې ليکنو په منځ کې د هغې ليکنې شتون هم ضروري و چې ما پر کابل بانــدې د تنظيمي واکمنۍ تر پيل وروسته لنډ مهال کې ليکلې و. ددې ليکنې نوم و: ((له سره ښکېلاکه تر سپين زبېښناکه)). په دې ليکنه کې د روسيې (استعمار) او د پاکستان (استثمار) سره پرتله شوي وو، څرنګه چــې دا مهال په کابل کې چاپي خپرونې پر ټپه ودرېــدلې وې او نــه د خپرونــو ازادي وه، نو دا ليکنه د کوزې پښتونخوا په مردان کې، يوې خپرېدونکې

مجلې خپره کړه، خو تر دې مهاله یې زه په بیا پیداکولو بریالی نه شوم او همدارنګه یو شمېر نورې لیکنې چې پر بیا چاپ ارزېدلې.

د تنظیمواکۍ تر ړنګېدو وروسته د ډاکتر نجیب الله د وژنې په باب زما د یو لیکلي یادښت چاپ هم ضروري و. دا یادښت ما د میــزان پــر (۶) نېټه د کابل په اریانا څلور لارې کې هغه مهال لیکلی و، چــې د ډاکتــر نجیب الله او د هغه د ورور احمدزي ځوړند مړي مې، په خپلو سترګو، په داسې حالت کې ولیدل چې د کابل په زرګونو خلک ورته راټول شــوي وو، ما په دې یادښت کې ددې صحنې تصــویر ایســتلی دی، خــو پــه خواشینۍ سره چې ددې لیکنو د چاپ تر مهاله یې په پیدا کولو بریالی نه شوم.

ددې ټولګې درنو لوستونکو پام دې ټکي ته را اړوم چې دا لیکنې زما د هغه مهال د فکر اخیستنه ده او کوم تصویر چې ما د هغــه وخــت د حالاتو کاږلی، تر ډېره بریده له واقعیت سره منطبق دی، په دې لیکنــو کې ما بیا لاس نه دی وهلی او نه مې دا د مهال له غوښتنو سره عیارې کړې دي او هدف مې دا هم نه دی چې عیارې یې کړم، ځکه نــه هغــه وخت ماته چا ددې لیکنو په خاطر امتیاز راکړی او نه به یې اوس راکړي، زما لپاره تر ټولو غټ امتیاز همدا دی چې خپل روح او روان مې ارام وي، په دې کې مې یو څو هغه ځایونه چې د املایي، انشایي او چاپي تېروتنو د سمون ایجاب یې کاوه او همدارنګه ځینې نېټې او ارقام چې هغه هم د طباعتي تېروتنو زېږنده وه، په هغو کې سمون راوړی او یو دوه عنوانــه مې لنډ کړي دي. نور متن مې د تاریخي اصــالت لــه مخــې کــټ مــټ همغسې پرې ایښی دی، حتی ځینې هغه املایي تېروتنې چې تراوســه پورې دود دي، هم پر خپل حال مې پرې ایښي او هغو ته په خپل بل اثر

((پښتو ليکنی سمون)) کې اشاره کوم، دا تېروتنــې لا تراوســه پــورې عامې دي.

((تېرې ليکنې په خپل شکل)) له چاپ څخه زما هــدف دادی چــې ليکوال، لوستونکو ته دا په گوته کړي، چې تېر وخت چا څه کړي؟ او په راتلونکي کې بايد څه وکړي؟، تېر حالات زموږ د راتلونکي لپاره يو پُــل دی، که چا ددغه پله ستنې سمې ايښې وي، نو د راتلونکي مزله لپاره به يې لاره اواره کړې وي او د نورو د باور د خپلولو لپاره به يــې اساســات پاخه وي، زما له نورو ليکوالو څخه هم هيله ده، چې خپل تېر اثار راټول او د خپلو لوستونکو مخې ته يې د قضاوت لپاره کېږدي، ليکوال خپله هم بايد په ژوندوني خپل امتحان ته حاضر شي.

په خپله د خپلو ليکنو راټولونه ځکه ښه کار دی، چې يو خو به يې د خپل کړي او نيمگړي کار د راټولونې بار پر بل چا بار نه شي او بل د ډېرو هغو تېروتنو او ناسميو مخه به ونيول شي چې راتلونکي ليکوال يــې د تېرو ليکوالو د اثارو د راټولېدو پر وخت زغمي، دا سمه ده چې پر ژوند باور نه شته او انسان د خپل ژوند له برخليکه خبر نه وي، مرگ هم چاته د خپل راتگ خبر نه اعلانوي، خو زه دومره وايم چې ليکوال ته په کــار دي چې هر څو کاله وروسته (که ژوندی و) لږ تر لږه پنځه کاله وروسته، يو څه وخت د خپل تېر کړي کار ارزونې او راټولونې ته بېل کړي او خپل هغه څه راټول کړي، چې پر بيا راټولونې او بيا خپرونې ارزي، په دې ډول به مو د خپل راتلونکي نسل او هغه ليکوال وخت سپما کړی وي، چې بيا يې زموږ د اوسني ليکوال د کړي او متفرق کار پر بيا راټولونې لگوي او هم به مو د هغو تېروتنو، ناوړه پوهاوي او زياتې مبالغې مخه هم نيــولې وي چې بيا وروسته ددغه ليکوال په باب کېږي. يو ليکوال چې په خپله د خپل کار د راټولولو وس او وخت ونه لري، نو بيا له نورو ولې دا هيلــه

وشي، چې هغوی به په ښه ډول دا کارونه ترسره کړي. زموږ یو شمېر لیکوال د خپل ژوند پر مهال د خپلو اثارو شمېر تر حقیقت لوړ ښیي، داسې لیکوال هم شته چې یوه موضوع یې تر یوه حده څېړلې وي، خو بشپړه کړې یې نه وي، هغه هم په بشپړ کار کې حسابوي او د خپلو اثارو په نیولیک کې یې راوړي او ځینې لا داسې هم دي چې یوازې موضوع یې ټاکلې وي او بیا یې هغه هم په اثارو کې وشمېرل شي، نو ددغسې تېروتنو او ابهاماتو د مخنیوي په خاطر هر لیکوال ته بویه چې د خپلو اثارو د راټولېدو غمه په خپله وخوري. اوس له نېکه مرغه د کمپیوټر او انټرنیټ زمانه ده، لیکنې یوازې په چاپي خپرونو کې نه خوندي کېږي، اوس که لیکنه یو ځل د کمپیوټر او انټرنیټ څپو ته ورداخله شوه، بیا یې د محوه کېدو امکان ښېخې کمېږي، نو لیکوال ته په کار دي، چې د خپلو لیکنو تر ټولېدو وروسته د هغود خوندیتوب په باب یوازې پر چاپي رسنیو بسنه ونه کړي، بلکې ښېلابېلو وېبپاڼو ته یې هم ورکړي، چې هم یې ګټه زیاتو خلکو ته ورسېږي او هم د مرګ له بلا وژغورل شي. ما چې د خپلو لیکنو د راټولولو تکل او کار پیل کړی، هدف مې همدا دی چې په راتلونکي کې نور له ماسره په تکلیف نه شي او هم نورو لیکوالو ته خپل دا پیغام پرېږدم، چې که غواړئ کار وکړئ او کار خلاص کړئ، نو خپله یې وکړئ! په همدې هیله دا لیکنې د قدرمنو لوستونکو مخې ته ږدم.

په ډېره مینه او درناوي

ستاسو یون

۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۱۶نېټه

کابل- افغانستان

# د جدي شپږمه زموږ د معاصر تاریخ غمیزه

دا لیکنه هغه مهال له پېښوره د خپرېدونکې وفا جریدې په پرلـه پسـې (۷۹) گڼه کې چـې د (۱۳۷۲ل) کـال دمرغـومي لـه (۱۰) مـې نېټـې سره سمون خوري، خپره شوې ده. په دې لیکنه کې له بېلابېلو اخځونو څخه گټه پورته شوې وه، چې د چاپ پر مهال، هغه له چاپه غورځېـدلي دي، خو کومو ځایونو کې چې متن په غبرگو لیندیو کې نیول شوی، د بل چا د اثر ښکارندویي کوي، نو زه دلته د لیکنې همغه بڼه بیا خپروم چې وفـا جریدې خپره کړې ده.

د (۱۳۵۸ لمریز) کال د جدي (۶) نېټه زموږ د هېواد په تاریخ کې د ویر او درد هغه غم لړلې ورځ ده، چې د نړۍ ستر فکري او پوځي ښامار، په اقتصادي لحاظ د افغانستان له مظلوم، خو په رواني لحاظ له غښتلي ولس سره، د زور ازمویني لپاره، د جنگ ډگر ته راودانگل او زموږ پـر سپېڅلې او غیرتي خاوره یې څه ناڅه د فکـري او اقتصـادي ښـکېل ترخنگ د پوره پوځي ښکېلاک لاره خپله کړه.

دوی دې کار ته (( د انترناسیونالیستي)) مرستو نوم ورکـړ او خپـل روزل شوی غلام (ببرک کارمل) چې روحاً او جسماً د شوروي اتحـاد د اوامرو تابع و، د خپل یوه جمهوریت د راډیو له لارې د افغانستان ولس

ته لا ښه راوپېژانده، یوه ورځ وروسته یې د خپل سره پوځ د زور پر اوږو سپور کابل ته راواستاوه او د کابل پر تخت یې کېناوه. تر دې وخته پورې (ببرک کارمل) زموږ په ټولنه کې د یوه منفي سیاسي کرکتر پــه توګــه ځان تثبیت کړی و؛ سیاسي کړۍ او روښنفکري قشر له روسانو سره د هغه له نږدې اړیکو نه خبر وو، مذهبي او روحاني کړیو کې د هغه عقیده یي تګلوري ته په سپکه سترګه کتل کېدل او په فرهنګي او ملي حلقو او اذهانو کې د هغه د ملي او قومي هویت د ناڅرګندتیا په وجه هم د هغه پر وړاندې څه ناڅه حساسیتونه راپارېدلي وو، له دې دومره نیمګړتیاوو او منفي صفاتو سره سره روسانو د پخوانیو روابطو په تعقیب هغــه پــه چکوسلواکیا کې د افغانستان له سفارت نه (شوروي اتحاد) ته بوته او تر څو میاشتو څنډ وروسته یې د خپل ۸۵ زره کسیز پوځ په زور د (حفیظ الله امین) واکمنۍ او ژوند سقوط او پر ځای یــې دی (ببــرک کارمــل) کېناوه. ببرک کارمل له شوروي څخه د ((سپاس)) او مننې ادا کولو په ترڅ کې  خپله څېره خلکو ته وښوده، د افغانانو تاریخ، فرهنګ، معنویت او اتلولي یې له نظره وغورځوله او د افغانستان برخلیک یې د شــوروي انترناسیونالیستو(!) مرستو سره تړلی وباله. په لسګونو ځلــه یــې پــه رسمي او مطبوعاتي غونډو کې دا خبرې په ډېر ویاړ او جرئــت ســره د تاریخ حافظې ته وسپارلې چې: ((ما هرگز شکست نه خواهیم خورد از خاطریکه اتحاد شوروی بزرگ عقب ما ایستاده است، اگر کمکهای بجا و انترناسیونالستی اتحاد شوروی بزرگ نمیبود، افغانستان هر گز در نقشه سیاسی جهان وجود نمی داشت، دوستی افغان شوروی خلــل ناپــذیر است، اتحاد شوروی دوست صدیق مردم افغانستان است)).

## عکس العملونه:

د پخواني شوروي د زورواکانو دا تېرى د ټولې نړۍ، د ملګـرو ملتــو، اسلامي هېوادونو او ملي ازادي  بښونکو غورځنګو وغانــده او زمــوږ د هېواد دخلکو له غوځ ملي، جنګي، رواني او عقيده يــي پــاڅون ســره مخامخ شو.

ملګرو ملتونو د (۱۹۸۰-۱۹۸۷م) کلونو په موده کې په خپلــو عمــومي کلنيو غونډو کې د افغانســتان پــه بــاره کــې ((۳۷/۳۵، ۷۳/۲۴، ۴۳، ۳۸/۲۹، ۳۹/۱۳ په لسګونو پرېکړه ليکونه صادر کړل چې په دې ټولــو کې د رايو په اکثريت سره د شوروي د يرغل غندنه او له افغانستان څخه له قيد او شرط پرته د هغو د پوځيانو د وتلو غوښتنه شوې وه.  د ملګرو ملتو د بشر د حقوقو کميسيون، د اروپا ګډ بازار، د اســلامي هېوادونــو کنفرانس، امريکا  او د لويديزې اروپا ټولو هېوادونــو د شــوروي تېــرى وغانده او ((د ملتونو دايمي محکمې چې د نړۍ لوى علمي او سياســي شخصيتونه د هغې غړي دي او په ازاد ډول کار کوي، د (۱۹۸۰) کــال د مى پر لومړۍ نېټه د سويډن په مرکز (ستوکهولم) کې پــر افغانســتان باندې د سره پوځ قضيه وڅېړله او په نتيجه کې د دې محکمې له خوا د شوروي يرغل محکوم شو)).

## د يرغل عوامل:

شوروي اتحاد چې تر دويم نړيوال جنګ وروسته په نړۍ کې د يو ستر سياسي، فکري، پوځي، جغرافيايي او څه نا څه د اقتصادي ځواک پــه توګه سر راپورته کړى و، ځان يې لوى فاتح، د کمونيزم لوى مرکــز او د سولې مدافع(!) باله، نو په پاتې نړۍ کې يې د کمونيستي فکر د خپراوي،

د سیاسي او اقتصادي ګټو لاسته راوړلو او پر امریکـا بانـدې د پـوځي لاسبري لپاره ځان برابراوه. نو افغانستان پر دې وخت په سیمه کـې د جغرافیایي موقعیت له مخې سترو ځواکونو ته خاص اهمیت درلـود او سترو قدرتونو ورته په ډېرې ځیرتیا کتل.

د شوروي د زورواکي (لیونید برژنیف) د یوې وینا لـه مخـې: (( مـوږ افغانستان ته ځکه لښکرې واستولې، چې زموږ جنوبي پولې په خطر کې وې)). خو د شوروي دربار او کمونست ګوند ارمانونو ته وفادار او د ببرک کارمل ډېر نږدې ملګری (اولیانو فسکی) وایي: (( مـوږ پـر افغانسـتان باندې ځکه لښکر کشي وکړه چې هلته د اکثریت ځواک ختم کـړو او دولتي قدرت اقلیتونو ته انتقال کړو)).

ځینې نور وایي پـه افغانسـتان کـې د شـوروي هـدف دا و، چـې د افغانستان د کانونو، ځنګلونو، د اقتصـاد د ودې څرنګـوالی او د ټولـو طبیعي منابعو انحصار په خپل لاس کې ولري، خـو ځینـې نـور بیـا د شوروي لویو او ستراتیژیکو هدفونو ته ګوري او وایي شوروي غوښتل د افغانستان له لارې د هند ګرمو اوبو ته ځان ورسوي او په دې توګه هغه پوځي او عقیده یي کمربند چې (ناتو) ورڅخه تاو کړی و، مات کـړي. د جګړې عوامل او لاملونه چې هر څه وو، خو جګړه د افغانستان پر خلکو وتپل شوه.

## د جګړې د دواړو غاړو د ځواک څرنګوالی:

د کفارو او مشرکانو پـر وړانـدې د اسـلام د سـتر پیغمبـر حضـرت محمد(ص) او صحابه کرامو له غزاګانو پرته چې ډېرې نا انډوله جګـړې وې او مسلمانانو په کې ډېر وسایل نه درلودل خو روحي قوت یې زیات

و، د افغانستان او شوروي جګړه داسې یوه نا انډوله جګړه وه چې د نړۍ تاریخ به یې بېلګه کمه ثبت کړې وي. د جګړې په لومړي پړاو کـې ۸۵ زره شوروي عسکرو پر افغانستان تېـری وکـړ او وروســته د حــالاتو د کړکېچن کېدو له امله (۳۰) زره تنه نور هــم پــرې زیـات شــول. ددې ترڅنګ د کارمل د رژیم منظم قطعات چې شمېر یې وروسته پنځه سوه زره تنه اټکلېده، هم جنګېدل، د هغو شوروي عسکرو شمېر چــې پــه جګړې کې یې برخه واخیسته، یو ملیون تنو ته رسېده، په دې جګــړه کې روسانو له خفیفه وســلو، لکــه مکــروف، کلاشــینکوف، کلکــوف، ګرونوف، پیکا او داسې ډېرو نورو وسلو څخه چې د ټولو یادول یې ضرور نه دي، له دې لاندې درندو وسلو څخه هم کار واخیست:

((جټ الوتکې (۳۰۰)

هلیکوپټر (۶۰۰)

ټانکونه (۱۴۲۰) عرادې

له هغو مدرنو الوتکو څخه چې روسانو د مجاهدینو پر ضد ورڅخه کار واخیست د MI-17,MI-8, MI-24, MI-24/27 هلیکوټپرو په ګــډون او Tu-16, Bedger, Su24, Fancer , Tu-22 Blinderd، بمب غورځونکې الوتکې دي، دغه راز د روسانو د شتوالي پر وروستیو وختونو او د وتو پر مهال د کابل د رژیم قوتونه په لاندې ډول تثبیت شوي وو: (( څلور قول اردو او یو امنیتي زون، (۱۶) پیاده فرقې، د خاص ګارد یوه فرقه، د خاص ګارد ۳ غونډونه، د کماندو (۵) غونډونه، توپچي یو غونډ، (۶۲۰) درانده ټانکونه، ۶۰۰ سپک ټانکونه، (۲۵۰) جګړه ییــز ماشــینونه، (۸۵۰) نفــر وړونکي زغروالې واسطې، (۱۰۰۰) توپونه چــې (mm۱۵۲) او (۲۲۰ mm)

درانده توپونه هم پکې شامل وو،( ۱۰۰۰) هاوانونه چې په هغه جمله کې m۴۳ هم شامل وو، د سکاډ توغوندي د توغولو دوه دســتګاوې، (۱۰۷) جټ الوتکې، (۱۰۲) هیلیکوپترې، (۷۶) انتونوف (ترانسپورتي) الوتکې، د SA-2-110 او SA-3-110 لرونکي د سام(۲) غونډونه، د دافع هــوا یــو غونډ او د رادارو یو غونډ.)) په تبلیغاتي جنګ کې د هېواد په داخل کې د رژیم په لسګونو جریدې، مجلې، ورځپانې، راډیو او تلویزیون او په بهر کې د شوروي اتحاد خپرونو، رادیو او تلویزیون او د نورو سوسیالیستي هېوادونو خپرونو په بېلابېلو ژبو، په څلیریشت ساعتونو کې په لسګونو ساعتونه په خپله ګټه تبلیغات کول. په روانــي لحــاظ شــوروي خپلــو عسکرو ته د کمونیزم د پلي کېدو او انترناسیونالیزم روحیه ورکوله او د کابل رژیم د انقلاب دفاع او وطن پالنې روحیه چې دواړه یې د ورځې په تېرېدلو سره کمزورې کېدلې.

## د مجاهدینو پوځي څرنګوالی:

کله چې شوروي پوځ له مدرنو او وژونکو وسلو سره پــر افغانســتان باندې یرغل وکړ، نو افغان ولس یې په تش لاس مقابلې ته ورودانګل او په یوه نا انډوله جنګ کې له روسي پوځ او د هغو له کېنول شوي رژیم سره ښکېل شول. د مجاهدینو وسلې پر دې وخت بېل، کلنګ، تبر، مش کش ټوپک، ښکاري چریز ټوپک، سرپې ټوپک، لاسي پترولي بمونه، خال خال پنځه ډزي او لس ډزي ټوپک وو، وروسته یې په جګړه کې له دولتي عسکرو څخه ځینې وسلې او له بهرنیو سرچینو څخــه د ټانــک ضــد ماینونه او توغندي لاسته راوړل او همدارنګه د جګــړې پــه وروســتیو وختونو کې د درندو وسلو، د بلوپایپ او ستېنګر هوایي ضــد توغنــدیو

درلودونکي شول، چې د جګړې د برخلیک په ټاکلو کې یې د مجاهدینو په ګټه اغېزمنتوب ورځ پر ورځ زیاتېده. له تبلیغاتي پلوه مجاهدین لـه عصري امکاناتو څخه بې برخې وو، خو څرنګه چې د افغانستان اکثریت ټولنه نالوستې وه، نو د شفاهي او مخامخ تبلیغ تـاثیرات پـرې زیـات پرېوتل، نو روحاني قشر، ملایانو او سیمه ییزو مشرانو د مجاهدینو پـه ګټه عمومي روحیه وروزله او له اسلام نه یې د یوه رواني سپر په توګه د یرغلګرو پر ضد ګټه واخیسته، ټول مجاهدین یې له اسلام او خپلواکۍ سره د مینې په روحیه وروزل، د مجاهدینو د یوه مشر د وینا له مخــې چې پر ۱۳۶۱ل کال یې یوې غونډې ته کړې وه، ویلــي ووچــې: ((مــوږ هرومرو بریالي کېږو، ځکه چې موږ ستر رواني ځواک او تکیه ځای لرو او هغه اسلام دی)) نو د فزیکي جنګ په انډول په روانــي جګــړه کــې د مجاهدینو روحیه ډېره پیاوړې وه.

په تبلیغاتي او سړه جګړ کې مجاهدینو وروســته عصــري تبلیغــاتي وسایل پیداکړل، له اخبارو نه نیولې تر راډیو پورې د وسایلو خاونــدان شول، او همدا راز نړیوالو خپرونو او راډیوګانو هم د دوی پــه تبلیغــاتي جنګ کې د دوی په ګټه ونډه واخیسته.

## د جګړې تلفات او زیانونه:

په دې جګړه کې د ځینو سرچینو له قوله د شوروي د مـړو عســکرو شــمېر ((۱۳۳۱۰-۱۵۰۰۰) د ټیپــانو (۳۵۴۷۸-۳۷۰۰۰) تنــه او د ورکــو (۳۱۱تنه)) ښوول شوی دی. خو ځینې نور دا تلفات ډېر زیات ښیي، مثلاً د استونیا (نوته هال) نومې ورځپانه د روسي پوځیانو د تلفاتو په بــاب لیکي: ((د افغانستان په جنګ کې (۵۰۰۰۰) تنه پوځیــان وژل شــوي او

(۱۵۰۰۰۰) تنه ټپیان شوي دي)). (( یو روسي جنرال د خپل یو لیک په ترڅ کې د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو اتحاد ته لیکلي: (( تر هغه ځایه چې د ځاني تلفاتو په باب ماته راپور رارسېدلی دی، عرض کوم چې (۲۷۹۸۱) تنه مړه، (۷۶۵۲۰) تنه ټپیان او (۱۸۱۸) تنه اسیر شوي دي.)) د ماسکو د ختیځپوهنې انستیتیوت ((په دې جګړه کې د کابل د رژیم د مړو عسکرو شمېر (٦٨٥٥٦) تنه، د ټپیانو (١١٦٥٨٩) تنه او د اسیرانو (۱۷۲۴۵) تنه ښوولی دی)). (البته د روسانو تر وتو پورې).

په دې جګړه کې د یرغلګرو(( (۷۰۰–۷۵۰) جټ او هیلیکوټپر الوتکې، (۵۰۴–۶۰۰) عرادې ټانکونه، (۷۴۰-۵۸۰) نفر وړونکي زغروالې واسطې، (۸۲۰-۹۵۰) ډول ډول توپونه او (۵۴۰۰–۶۰۰۰) عرادې لارۍ له منځه تللې دي.)) همدارنګه په دې جګړه کې شورویانو (۹۵) بلیونه ډالره زیان زغملی دی، چې د افغانستان له اوسنۍ بودجې سره د پرتلې کولو له مخې د افغانستان تر (۱۰۰۰) کلونو څخه د زیاتې مودې بودجه جوړوي. دغه راز د جګړې د دواړو غاړو د یوې ورځې لګښت (۵۰) ملیونه ډالره اټکل شوی دی. پر دې تلفاتو سربېره شوروي اتحاد، له سترو روانـي او روحي ناروغیو سره مخامخ شو. په کلني اقتصادي بودجه کې یې په سلو کې (۱۲) کمښت راغی، نړیوال حیثیت یې راټیټ او تجزیه کېدو ته یې لاره اواره شوه. شوروي وګړو ته سترې رواني ناروغۍ پیدا شوې، هغه یو ملیون شوروي عسکر چې د افغانستان په جګړو کې یې ګډون کړی و، ډېر زیات یې پر مخدره موادو، الکولو، چرسو او نورو رواني ناروغیو اخته وو، دوی خپلو کورونو ته تر ستنېدو وروسته خپلې یو ملیون کورنۍ او کورنیو سره د ارتباط له مخې خپل خپلوان او بیا ټوله شوروي ټولنه پر رواني ناروغۍ اخته کړل؛ دوی ته د افغانستان خاوره، لکه دوزخ داسې ګرځېدلې وه او پر افغانستان باندې د یرغل په لومړیو شپو او ورځو کې یې چې د انټرناسیونالیزم په روحیه او د خوشالۍ په جذبه په عسکري

بارکونو کې د افغان وژنې سندرې ويلې، وروسته په ډېـره مايوسـۍ او خپگان د خپلو ماتو ساندې ووهلې. لکه ((اليچ پشماکوف يـو روسـي جنرال چې د مجاهدينو له خوا د کره باغ په سيمه کـې وژل شـوی، د يادښت په کتابچه کې يې لاندې څلوريزه په روسي ژبه ليکل شوې، چې ترجمه يې داده:

((خـــدای(ج) نـــاز او مهربـــاني پيـــدا کـــړې ده
شـيطان ماشـيندار او پـوځي خـولۍ پيـدا کـړې ده
خـــــدای(ج) جنـــــــت پيـــــــدا کـــــــړی
شـــيطان د افغانســـتان خـــاوره پيـــدا کـــړې.))

دغه راز يو روسي عسکر ته يې خپله معشوقه ليکي:

((خوره او گرانه شاسا سلام!

ته هر وخت زما په زړه راورېږې، دايا د گروزين قطب په خوا تللې ده، د گروزين څوکې په واورو ډکې دي، يخني ساعت په ساعت زيـاتېږي، زه هر وخت په کار مصروفه يم، نه شم ويلای ته به کله راځې، مور مې ځان مصروفه ساتي، له تلويزيون وروسته خپل زياتره وخت د راډيو په اورېدلو تېروي. څو ورځې دمخـه چـې سـخت بارانونـه وو، لـه افغانسـتان د ((ويکتور)) غريب لاش راورسېد، کم بخت ويکتور، له دايا سره د هغه د واده لا يوه مياشت هم نه وه تېره شوې، اوف بدنصيبه دايـا! څـومره د بدمرغۍ تيارو گيره کړه.

گرانه! ته به کله راځې؟)). دغه راز د دې جگړې زيات معيوبين چـې کله خپلو کورونو ته ستانه شول، نه يوازې خپله پر رواني ناروغۍ اخته او له ژوند مايوسه وو، بلکې خپلې کورنۍ يې هم پر ناروغيو اخته کړې.

((مثلاً د منسک په سیمه کې (۷۵) تنه معیوب، په سپینه روسیه کې (۴۳۶) تنه، په (پارلو ګراد) کې (۴۰۰) تنه، په سنت سترز بـورګ کـې (۱۵۳) تنه په (تولا) کې (۱۰۳) او په ګورکي ښار کې (۹) تنه معیـوبین ژوند کوي)). ((له همدې کبله په شوروي کې د هغه وخت د حکومت پر ضد پټ او ښکاره عکس العملونه رابرسېره شول، لکه د روسي لیکوال (الکساندر پروخانوف) د (اوکراین مولد) ورځپاڼه، میخایل وستوفسکي، پروفیسور یاچوشي د ایشیوف او د اندري ســخاووف څرګنــدونې او د خلکو پټ او ښکاره عکس العملونه...))

## افغانستان ته د جګړې زیانونه:

سره له دې چې دې جګړه کې افغانانو یوه ستره او معجزه ډوله اتلولي وکړه، چې په نتیجه کې د ختیزې اروپا هېوادونه او ځینــې نــور نیمــه مستعمره هېوادونه ازاد شول، امریکا او د لویدیزې اروپـا هېوادونــه د شوروي او کمونیزم د یرغل له خطر نه خلاص او د سترو رواني ناروغیو له فشار نه بې غمه شول، خو د جګړې دروند پېټی او ناخوالې افغانــانو وزغمل او زغمي یې. د دې جګړې په ترځ کــې پــه زرګونــو کیلــومتره سړکونه وران، په سلګونو پلونه او پلګوټي خراب او یوازې د ډاکټر نجیب الله تر وخت پورې (۳۰۰۰) ښوونځي وران شول، په زرګونــو هکتــاره د کښت ځمکه ویجاړه او له کښته پاتې شوه، دوه ملیونــه کورونــه وران شول، د دېرشو ملیونو په شاوخوا کې ماینونه په ځمکه کې ښخ پــاتې شول، ۷ ملیونه افغانان (دوه ملیونه په داخل او پنځه ملیونه په بهر کې) مهاجر شول، یونیم ملیون تنه شهیدان شول، د تلیفون او برېښــنا پــه زرګونو ستنې له منځه لاړې او د برېښنا ستیشنونو تــه ســخت زیــان

ورسېد او دې بدمرغیو مجاهدینو ته د قدرت تر انتقال وروسته هم ادامه پیدا کړه، د هېواد ډېر زیات ښارونه وران شول، یوازې په کابل ښار کــې دوه زره لویې او وړې فابریکې د اور تر ستوني تېرې شوې، د ښار په سلو کې اویا برخې پر کنډوالو بدلې شوې، ملي او تاریخي افتخارات مو لوټ او یا د اور په لمبو کې وسوځول شول، لنډه دا چې د سوونو او زرګونــو کلونو مادي او معنوي شتمنۍ مو له خاورو سره برابرې شولې.

# فرهنگي فقر

دا ليکنه د ارمان جريدې په (۵)مه گڼه کې چې د (۱۳۷۳ل) کال د سلواغې له (۳)مې سره سمون لري، خپره شوې ده.

په ټوليز ډول فرهنگ د يوې ټولنې له ټولې جـوړې شـوې مـادي او معنوي شتمنۍ څخه عبارت دی او په ځانگړي ډول د ټولنې ذهنـي او دوديزې پانگې ته فرهنگ ويل کېږي.

له فرهنگي پلوه افغانستان په نړيوال فرهنگ کې ځانگړی مقام درلود او د تاريخ په اوږدو کې زموږ لرغوني هېواد ته د فرهنگ او فرهنگپالنې زانگو ويل شوې ده. هر کله چې افغانانو تر يوې څه ارامې سـاه کښـلو وروسته د خپل ذهني او مادي اعمار لپاره ځانونه چمتـو کـړي او يـوه معنوي پانگه او شتمني يې راټوله کړې، بيا نو يو طاعون، يو توپان او يوه تباه کوونکې سيلۍ پرې راخوره شوې او د هغوی هرڅه يې لـه خـاورو سره برابر کړي دي، د مقدوني سکندر تر تاړاک دمخه او هم وروسته دې قام په پرله پسې ډول پنځه لسيزې هم د سولې او ارامۍ پر پالنگ خوب نه دی کړی، کله چنگيزيانو، کله مغولو، کله فارسيانو، کله انگرېزانو، کله روسانو او کله هم... نورو په دې خاوره کې د خپلو زور ازمويلـو آسـونه زغلولي دي. کورنيو جگړو او داخلي اختلافونو هم وخـت پـر وخـت د هېواد فرهنگ ته درانه زيانونه اړولي دي. له انگرېزي ښـکېلاک نـه د

خپلواکۍ تر ګټلو وروسته سمدلاسه په هېواد کې د ذهني ښــېرازۍ او مادي هوساينې لپاره ګړندي ګامونه پورته شول، ایله یوه لسیزه لا نه وه پوره شوې، چې د ناپوهۍ یو بل طاعون پر هېواد خور شو. خو د هېــواد ویښو او خبیرو اشخاصو ډېر ژر د دې طاعون علاج وکړ او بیا د هېواد د فرهنګي پرمختیا، مادي رغونې او سوکالۍ لپاره هڅې پیل شوې او همدا (۱۳۰۹-۱۳۵۷ل کلونه) لــه یــو څــه خفیــف اړودوړو پرتــه، د معاصــر افغانستان د فرهنګي او ارام ژوند کلونه دي.

په یاد شوي زماني واټن کې د مادي پرمختیا ترڅنګ، په هېواد کې په سلګونو ښوونځي، په لسګونو پوهنځي، څو پوهنتونونه، پــه لســګونو ننداړتونونه، موزیمونه، د تاریخي اثارو ارشیفونه او د فرهنګ ډېــر نــور روزنځایونه جوړ شول. په سلګونو عنوانه علمي، تاریخي او ادبــي اثــار چاپ شول او په زرګونو علمي او ادبي غونــډې جــوړې شــوې. زمــوږ دښمنان هم په دې زماني واټن کې لاس تر زنې پاتې نه شول، زموږ پــه هېواد کې یې لومړی د ذهني پاشنې لپاره سیاسي ډلــې وروزلــې او د ملاتړ لپاره یې بې حسابه لګښتونه وکړل او دا پــه دې هیلــه چــې پــه افغانستان کې د اوږدې جګړې لپاره، ذهني شرایط برابر کړي. بالاخره دا جګړه پیل شوه او د روسانو په عملي دخالت خپل اوج تــه ورســېده. د افغانستان ګاونډیو، لرې او نږدې هېوادونو هر یوه پــه دې جګــړه کــې ځانګړي هدفونه لرل. خو ځینو د نــورو موخــو ترڅنــګ دا درې مهــم هدفونه تعقیبول: د افغانستان د پوځ له منځه وړل، د اقتصاد ختمول او د فرهنګ محوه کول. کېدی شي چې ځینــې نــورو هېوادونــو هــم دا

غوښتل، خو د یو ځو هېوادو علاقه ورته د مینې او یوازینۍ هیلـــې تـــر پولې رسېدلې وه او په پای کې همداسې وشول. په (۱۶) کلنه جګړه کې پر مالي زیانونو سربېره تر (۳۵۰۰) څخه زیات ښوونځي وسیزل شـــول، پوهنتونونه ړنګ شول، کتابتونونه، موزیمونه چور شول، ارشیفونه غــلا شول، ننداراتونونو ته اور واچول شو او څه پاتې تاریخي اثار په ناځیزه بیه د دوی لاس ته ورغلل، د دغو اثارو له تباهۍ څخه د دوی مقصد دا دی چې زموږ تاریخي غرور مات کړي او له ماضي سره زموږ د ولس ذهنـــي رابطه وشلوي. د فرهنګ پرځای د ولس په ذهن کې د جنــګ مفکــوره خوره او ولس له فرهنګي فقر سره مخامخ کړي. د جنګ له لارې افرادو ته تغذیې لاره اواره کړي او د فرهنګ مادي ملاتړ ختم کــړي. اوس پــه افغاني ټولنه کې د فرهنګ له لارې د ورځیني ژوند د چارو خړوبول ډېر ګران شوي دي. په همدې وجه فرهنګي ارزښتونه او فرهنګي هڅــې د ورځیني ژوند د نورو ستونزو تر سیوري لاندې راغلي دي. نو که غـــواړو خپله ټولنه له دغه رنځېدونکي او کړېدونکي حالته راوباسو نو څه باید وکړو؟ له فرهنګه یې پیل کړو؟ که له سیاسته؟ او که له اقتصاده؟ سره له دې چې دا درې توکه یو له بل سره نږدې اړیکــي لــري، خــو زیــات اشخاص شاید پر دې خبره متفق وي چې د یــوې ټــولنې د هوســاینې بنسټیز عامل فرهنګ دی. د بې فرهنګه او وچ سیاست پایلې (نتیجې) موږ په خپل هېواد کې په خپلو سترګو ولیدلې، له اقتصادي پلــوه هــم زموږ هېواد د زیاتو طبیعي شتمنیو خاوند دی، خو رابرسېره کــول یــې

علمي کادرونه او زیات وسایط غواړي. د پیداګوژۍ پوهان عقیده لــري چې اقتصاد او فرهنګ یو د بل لازم او ملــزوم دي بایــد دواړو تــه ژوره پاملرنه وشي. عیني تجربو ښودلې ده، هغه ټولنې چې له فرهنګي پلوه بډایې دي، په اقتصادي لحاظ هم ډېرې شاته نه پاتې کېــږي. المــان او جاپان د دویمې نړیوالې جګړې درانه زیانونه وزغمل، خو څرنګــه چــې ټولنې یې له فرهنګي پلوه رسېدلې وې، خپل هېوادونه یې بېرته ودان کړل. نو فرهنګ باید پیاوړی، شفاف او روښانه شي، چې د ژوند لارې او کوڅې پرې په روښانه ډول ووینو.

# د عقایدو بحران

دا لیکنه له پېښوره خپرېدونکې ارمان جریدې د (۱۳۷۳ ل) کال د سلواغې پر (۳)مه نېټه په خپله (۵) مه ګڼه کې خپره کړې ده.

څو کاله دمخه یوه افغاني پوهاند ویلي وو: (( په افغانستان کې د عقیدې بحران او د معنویت سقوط منځته راغلی دی)).

پر یو بل نه باور او اوږدې فزیکي جګړې د ژوند جوړوونکو خواوو توازن ګډوډ کړ او داسې حالت رامنځته شو چې لیدل یې سترګې برېښوي او اورېدل یې عواطف او زړونه راپاروي. په افغانستان کې د متضادو عقیده یي سیستمونو د نادرست استعمال په پایله کې عقده یي ټکر منځته راغی، ددغه عقیده یي تصادم په نتیجه کې ولس پر ډلو او ډلګیو ووېشل شو او ذهني پاشنه منځته راغله، کله چې هر یوه د خپلو عقایدو د برلاسي لپاره فزیکي جګړه پیل کړه، نو خپله ګروهه ورته داسې تفهیم شوه، چې د مخالف لوري د محوه کولو لپاره باید له هر امکان څخه کار واخیستل شي.

د لرغوني یونان یو لیکوال وایي: ((جګړه چې په هر نوم او د هر مقصد لپاره وي، په بشریت کې د وحشت، ذلت، فقر او بدمرغۍ طاعون زېږوي.)) د افغانستان جګړې هم دا بد ګنې لرلې، جګړې په وګړو کې عاطفه او زړه خوږی ختم کړل او ځینې ډلې لا په رواني لحاظ دېته هم

ورسېدې، چې د مقابل لوري له وژنې او نابودۍ څخه د خپلو روحي نــا ارامیو د تسکین لپاره کار واخلي.

عقایدو او له عقایدو سره په ناپوهېدلي ډول افراطي چلند د دوی په ذهن کې د اوږدې جګړې او وینې شیندلو ځواک پیاوړی کــړ او دېتــه وزګار نه شول، چې د عقیدې په رښتیني مفهوم د خپــل زړه پــردې د عاطفې په اوبو ووینځي او د مینې غېږه پرانیزي.

د مرحوم استاد الفت په نظر؛ عقیده د انسان په ژوند کې تر ټولو مهم اصل او ارزښت دی، چې بې له هغې ژوند ناممکن برېښي. خو راځو دېته چې هر فکر، هر اند، هر ذهني تاثر او هره اخیستنه عقیده کېدی شي؟ او سیاست هم د عقیدې تر سرحده اوچتېدی شي او که نه؟

یو سیاستپوه په افغانستان کې د جګړې مهم لامل دا ګڼلی چې تقریباً ټولو سیاسي ډلو سیاست د عقیدې تر پولې اوچت کړی دی. څرنګه چې عقیده د انسان په ذهن کې یو سپېڅلی او مقدس څیز دی، نو انسان د هغې پر وړاندې هر ډول راولاړ شوی عمل نه شي زغملای. په داسې حال کې چې په ځینو نورو ټولنو کې د سیاست او عقیدې ترمنځ ذهني پولې موجودې دي. سیاست د ټولنې د ورځیني ژوند د تخنیکي او اقتصادي چارو د سمون لپاره کارول کېږي او عقیده د انسان د روحي سپېڅلتیا، اخلاقي روغمنتیا، رواني ارامۍ او اخروي نړۍ د لاسته راوړلــو لاره ده. ځینې شاید ووایي چې سیاست د عقیدې د پلي کولو اغېزمنه وسیله او د هغې د عملي تطبیق لپاره ورته اړتیا ده. که سیاست دلته د پــورتني مقصد او مفهوم لپاره استعمال شي، نو بیا هم واسطه او وسیله وګڼــل شوه، خو وسایل د وخت په تېرېدلو سره بدلون مومي او عقیده د انساني ذهن نه بېلېدونکی توک دی. همدارنګه کوم اعمال چې په سیاست کې

ترسره کېږي او په اصطلاح جواز ګڼل کېږي، په عقیده کې هغو ته ځای نه شته.

خو اوس راځو خپلې ټولنې ته: زموږ په ټولنه کې دا دوه ژوند جوړوونکي توکي (عقیده او سیاست) داسې استعمال شوي چې کله هم له عقیدې نه د یوې وسیلې او کله هم له سیاست نه د یوې عقیدې په توګه کار اخیستل شوی او په پایله کې نه یوازې یو سیاسي کړکېچ، بلکې یو عقیده یي بحران هم رامنځته شوی دی. په دې عقیده یي بحران کې هغو اشخاصو خاصه ونډه درلوده، چې د عقایدو د ممثل او مظروف په شکل یې خلکو ته ځان پېژانده، څرنګه چې مظروف او ممثل صیقل شوی، شفاف او روښانه نه وو، نو د عقیدې روښانه او نرمې وړانګې ترې د عام ولس ذهن ته ښې ونه رسېدې او د ولس ذهن یې د عقیدې له اصلي ماهیت نه همداسې په ابهام کې وساته. په همدې وجه د ولس یوه برخه له ذهني کنټروله ووته او د مادي لذایزو د ګټلو لپاره یې مادي وسایطو ته ورمخه کړه او فزیکي ټکرونو ته لاره اواره شوه. ان تر دې چې د یوې عقیدې لارویان هم د خپلو عقیده یي آرونو (اصولو) پرخلاف پر ذهني او فزیکي جګړو اخته شول. اوس نو زموږ ټولنه نه یوازې سیاسي او مادي بیا رغونې ته ضرورت لري، بلکې په لومړي ګام کې ذهني او عقیده یي بیا رغونې ته هم اړتیا لري.

# که خبر نه یې نو واوره!

دا لیکنه هم له پېښوره خپرېدونکې وفا جریدې په خپله (۵-۶) ګڼه کې چې د (۱۳۷۳ل) کال د سلواغې له (۲۶)مې سره برابره ده د (نیازي) په مستعار نامه خپره کړې ده. اصلاً ((که خبر نه یې نو واوره)) د دې جریدې د یوه کالم نوم و، چې همداسې ورځنیو مسایلو ته وقف شوی و، ما هم څو ځله دې کالم ته وړې وړې لیکنې ورلېږلې وې، هغه هم په بدل نامه، دا لیکنه هم د (نیازي) په بدل نامه خپره شوې ده، خو نورې لیکنې زما لاس ته رانغلې، دا یوه یې د بېلګې په توګه دلته وړاندې کوم:

په وروستیو څه کم دریو کلونو کې د کابل - جلال اباد د لویې لارې د پاټکونو، پوستو او وسله والو اشخاصو چلند هر هغه چاته چې پر دې لاره یې یوځل هم سفر کړی وي، ډېر ښه څرګندېږي. خو له دې ستونزو او کړاوونو سره سره ځینې نورې خبرې هم شته چې هم دردونکې دي او هم خندوونکې:

✸ د سروبي د نښترو دویم بڼ چې اوس یې له منځه وړی (تګاب ته د ورغلي سړک) د پیلېدو ترڅنګ د څښاک د اوبو د پخواني حوض پر یوه دېوال لیکل شوي: ((سه چیز مسلمان بر مسلمان حرام است، خونش، ابرویش و مالش (روایت مسلم/ محصلین) )) د همدې حوض ترڅنګ د مجاهدینو(!) یو پاټک هم واقع دی او له همدغو دریو څیزونو سره یې کار دی.

✸ کله چې تر سروبي پورته د نغلو اوار ځای ته ورسېږې، نو دا شعار به دې هم تر سترګو شي: (( ایمان، تقوی، تنظیم، جهاد فی سبیل الله)) ددې شعار ترڅنګ هم یو پاټک پروت دی. دغه راز د سروبي له بازار راکښته په یوې بلې تنظیمي پوځي قرارګاه کې چې د سړک غاړې ته پرته ده لیکـل شوي: ((په خپله ساحه کې د خلکو د سر او مال تضمین ورکوي.))

✸ د انسانانو د سرونو او غړو د اره کولو داستان به پرځای پرېږدو اوس به راشو د بمبونو او برېښنا مزو د اره کولو او پرېکولو کیسې ته. بمونه تـر انسانانو ( غیرتي او غځ اخیستونکي ښکاري) خو زموږ ولس لا تراوسـه پورې له خپلو اره کوونکو او پرې کوونکو څخه انتقام نه دی اخیسـتی. د بمونو د انتقام کیسه داده: ((د بګرام هوایي ډګر چې اوس د شورای نظار په لاس کې دی، د افغانستان یو لوی پوځي هوایي ډګر و. په دې هـوایي ډګر کې ډېرې وسلې او له هغې جملې ډېر ستر بمونه چې د جنګي الوتکو له خوا غورځول کېږي، هم موجود وو. څرنګه چې په دې بمونو کې تر ۲۰- ۳۰ منو پورې باروت وي او نن سبا د یومن باروتو بیه تر ۳۰۰۰۰ افغانیو هم پورته شوې، نو ځینو سوداګرو د میدان د پیره دارانو په مرسته دا بمونـه اره کول او باروت یې ځنې کښل. یوه ورځ د بم د اره کولو پر وخت د زیات حرارت له کبله یو بم انفلاق وکړ، ورپسې نورو بمونو هم انفجار وکړ او لـه سوداګرو او باروت خرڅوونکو څخه یې خپل انتقـام واخیسـت.)) خـو برېښنا مزو لا تراوسه له خپلو غوڅوونکو څخه انتقام نه دی اخیستی. له جبل السراج نه تر کابل پورې چې د برېښنا کوم مزي غځېدلي وو، هغـه خو لا پخوا ټول شوي او بازار ته وړاندې شوي وو، خو اوس یې د هغه ځای د برېښنا د پایو (ستنو) پر پرېکولو او غوڅولو هم لاس پورې کړی دی. دا ناروغي یوازې هلته پاتې نه شوه، بلکې د کابل- سـروبي، کابـل- نغلـو

بربښنا مزو ته هم راورسېده، ځکه چې بربښنا مزي له مسو څخه جوړ شوي او یو من مس په تور بازار کې په ډېره لوړه بیه پلورل کېږي، نو وسله والو او نورو غلو ته تر دې غوره غنیمت کله په لاس ورځي. د کابل- سروبي، کابل- نغلو بربښنا مزي نوي فیصده غوڅ شوي دي. د کباړ او تالان دا ناروغي ان کلیو او باندو ته هم رسېدلې، د کباړ دا لړۍ دهغې سیمې خلکو ته ښه معلومه ده، چې له لغمان ولایت نه الینګار ولسوالۍ ته تګ راتګ لري. د لغمان- الینګار په لویه لاره کې یو زیات شمېر عسکري موټر او درانه ټانکونه، ځینې ویجاړ او ځینې نیمه ویجاړ پاتې وو، خو کباړیانو ان له پاکستان څخه ورپسې مسلکي کسان او وسایل یوړل، هغه یې پرې ټوټې ټوټې کړل او پاکستان ته یې واړول.

له اوسپنو او ټانکو پرته، دې ډول خلکو پر شنو ونو او بوټو هم صرفه ونه کړ، په کابل کې یې د خلکو له باغونو څخه ډېرې د منو او نورو مېوو ونې ووهلې، د سون د لرګیو او پوځي مورچلو په جوړولو کې یې ترې کار واخیست، د سروبي د نښترو پورتنی شین بڼ یې هم پر سپېره ډاګ بدل کړ.

# جګړه او روحي ستونزې

دا لیکنه له پېښوره خپرېدونکې ارمان جریدې د لومړي کال په (۷)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۳ل) کال د دلوې له(۲۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

په افغانستان کې د پنځلس کلنې فزیکي جګړې له پیل سره سم او ان د هغې تر پیله لا دمخه د رواني، ذهني، عقیده یي او یا د اعصابو د جګړې لپاره د پیلامې ټکي ایښودل شوي وو. د ځلوېښتمو کلونو په لومړۍ نیمایي کې چې زموږ په هېواد کې د لویو ځواکونو له مالي او عقیده یي سرچینو څخه خړوبېدونکو سیاسي ډلګیو ته د پنځېدو لاره اوارېده، د دې ډول جګړې لومړني څرکونه ولیدل شول. کله چې په هېواد کې ګرمه جګړه پیل شوه، نو هر لوی ځواک د خپلو پلویانو تر شا ودرېد. په توده جګړه کې کورنیو او بهرنیو غاړو هر یوه تر خپله وسه خپل خپل رول ولوباوه. پخواني شوروي اتحاد پر ځاني تلفاتو سربېره ۹۵ ملیارده ډالره، لویدیځو هېوادو او د هغو ملګرو (۶۵) ملیارده ډالره، د دې جګړې د دوام لپاره په تله کې ایښي وو. دا چې د دې لګښت تخریبي ساحه څومره وه، هغه بېل بحث دی، خو د دې ترڅنګ هغوی د ذهني تخریب او رواني جګړې لپاره هم یو لړ لګښتونه کړي، چې زموږ د ولس ترمنځ ذهني واټن، روحي او فکري عقده او بحران رامنځته کړي.

پخواني شوروي اتحاد د پښتو او فارسي ژبو په ګډون د نړۍ په (۵۲) ژبو خپرونې کولې او هم یې راډیویي، تلویزیوني او نورې خپرونې په ډېر

ځواک سره فعالې وې. د افغانستان لپاره د دوی خپرونې به له شکه زموږ د ولس پر ذهني وېش لويه اغېزه شيندلې، لويديز هېوادونه او د هغوی متحدين هم په دې لوبه کې تر هغوی وروسته پاتې نه شول او د افغانستان په باب يې په يوه شپه ورځ کې يوازې خپلې راديويي خپرونې (۱۱۰) ساعتونو ته ورسولې. په کابل کې د (۸۰) عنوانو په شاوخوا کې چاپي خپرونو ترڅنګ راډيو او تلويزيون هم په اوونۍ کې په لسګونو خپرونې کولې، پاکستان، ايران او د مجاهدينو تنظيمونو هم تر خپلو همسيالو ځان شاته ونه شو زغملای او په مجموعي توګه ټولو داسې يو څه زموږ د ولس ذهن ته وړاندې کړل، چې د هغوی د ذهني وېش، ستړيا او روحي نارامۍ سبب شول. په دې ذهني جګړه کې نه يوازې مطبوعاتو، بلکې د هغو پر بنسټ رامنځته شويو مبلغينو هم خپله ونډه واخيسته. که د جګړې د مهال د ټولو غاړو مطبوعات سره پرتله کړو، نو وبه ګورو چې ټول پر سخت دردونکي او رنځوونکي ذهني جنګ اخته دي. د هرې غاړې له کلام او بيان څخه د کينې او وينو بوی راځي او يو د بل پر نظرياتو او شتوالي د نابودۍ اورونه شيندي او بيا داسې وخت راغی چې د وخت واکمنو له دې رواني جګړې څخه د ستړيا احساس وکړ. کله چې د پخواني شوروي اتحاد مشر ميخايل ګرباچف پر شوروي باندې د مسلط عقيده يي سيستم پر نه بري معتقد شو، نو په لويديځ کې يې د ژورنالستانو په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې وويل، چې ژورناليزم تراوسه خپل مسووليت ترسره کړی نه دی. د نوموړي مقصد دا و چې د نړۍ خپرونې د سياستوالو تر کنترول لاندې دي، خو دا د ژورنالستانو مسووليت او دنده ده، چې نړيوالو ته د دوستۍ، مينې او عاطفې پيغام ورسوي. خو د افغانستان په باب خپرېدونکو خپرونو له ځينو ښېګڼو پرته د سياستوالو له هيلو سره سم ذهني جګړه جاري ساتله.

په پایله کې داسې وشول، چې د فزیکي جګـړې نـاخوالو، سیاســي دښمنیو، د عقایدو په نوم له عقیده یي آرونو تېرې، اقتصادي ستونزو او د رواني جګړې وسایلو په ګډه داسې یو حالت رامنځته کړ، چې زمــوږ ولس له سختو رواني ستونزو او ذهني بحران سره مـخ شــي. اوس نــو تقریباً هره ورځ له هرو دریو افغانانو څخه دوه تنه ضرور پر بې نتیجــې سیاسي بحثونو خپل وخت تېروي، نو لږ تر لږه که له (۱۵) ملیونه افغانانو څخه لس ملیونه افغانان د ورځې یو ساعت پر سیاسي خبرو تېر کړي، نو په یوه ورځ کې به مو (۱۰) ملیونه ساعته وخت ضایع کړی وي او که دا په یو کال کې ضرب کړو (۱۰×۳۶۵) نو (۳۶۵۰) ملیونه ساعته وخت به شي او که دا بیا په (۱۵) کالو کې ضرب کړو (۱۵×۳۶۵) نو (۵۴۷۵۰) ملیونه ساعته وخت به مو یوازې پر بې نتیجې سیاسي بحثونو ضایع کړی وي او دا دومره خت دی چې د نړۍ هېڅ ملت به هم پر داســې بــې نتیجــې مسایلو نه وي لګولای.

له دې بې نتیجې توندو سیاسي بحثونو څخه چې زیات پر احساساتو ولاړ دي، داسې هم پېښ شوي، چې د یوه کور غړي سره پر ببلابېلو لارو روان کړي او یو د بل پر وړاندې د حقارت او بدګنلو عقده پــه زړه کــې وروزي. دې عقدې روښنفکري ذهن کې هم ځای نیولای ، د هېواد یــو شمېر روښنفکرانو او لیکوالو یوازې د یو بل پر غندلو د خپــل فکــر او لیکوالۍ ځواک اوبه کړ.

له خپرنیو هڅو او ساړه جنګ پرته، تودې جګړې هم د هېواد وګړو ته درانه رواني زیانونه اړولي وو. د پخواني دولت له یوه افسر څخه پوښتل شوي و، چې د خپل روحي ژوند په باب وغږېږي، هغه ویلي وو، چې زه د خپلې دندې پر وخت له سختې رواني سترړیا او وېرې سره مخــامخ وم، کله چې به مې د شپې سترګه پټه کړه، نو پر جګړه به بوخت وم، زموږ او د مجاهدینو ترمنځ به سخت جنګ روان و، په همدې وېره کې بــه لــه

خوبه راپاڅېدم، ټول وجود به مې خوله شوی و. همدا پوښتنه لــه یــوه مجاهد څخه هم شوې، هغه هم په خپل خوب کې د رواني پېټي خبرې کوي او وايي: ((د جګړې په شپو او ورځو کې کله چې زه ویده شوی یم، نو شاوخوا مې ټانکونه او عسکر تاو وي او په همدې شېبه کې له خوبه راپاڅېدلی یم)). دا خو د جګړې دواړه عملي خواوې وې. خو پــر عــام ولس بیا دا دواړه وېروونکې خپسې ناستې وې او هېڅ به هم په دې څو کلونو کې په ارام روح او روان خوب نه وي کړی. د پخــواني دولــت تــر کنټرول لاندې ځوانه پرګنه د پوځ په ټولګیو کې له جبري تنظیم څخه ترسخت رواني فشار لاندې وه. روښنفکران د خپل راتلونکي ژوند پر لر لید ډاډمن نه وو او عوامو کې د جګړې ترڅنګ د زیاتېدونکي اقتصادي فقر له کبله رواني ستونزې نورې هم په زیاتېدو وې. دې ستونزو هغــه وخت لا ځواکمنتیا وموندله چې په کابل کې سیاسي نظام بدل شو، خو حالات د خلکو د هیلو خلاف لا پسې ویجاړ شول. لنډه دا چې د ولــس زیاته برخه په ډول ډول رواني ستونزو واوښته. د کابل پوهنتون له یوه استاد څخه مې د دغه درد شریکولو پــه تــرڅ کــې وپوښــتل چــې د افغانستان زیات وګړي، تقریباً (۹۵) سلنه پر یوې نه یــوې ډول روحــي ناروغۍ اخته دي، هغه وویل: ((تاته چې کوم روغ ښکاري هغه هم ناروغ دی؟ ځکه چې دا دردونکې او غملړلې پېښې پرې ولې تاثیر نه کوي؟))

# فرهنګي ټولنې او فرهنګي مسئولیتونه

**دا لیکنه له پېښوره خپرېدونکې ارمان جریدې د( ۱۳۷۴ ل) کال د وري پر (۱۳)مه نېټه په خپله (۱۱) ګڼه کې خپره کړې ده.**

د افغاني ټولنې جوړښت او برخلیک همداسې راغلی، چې ټول تاریخ یې له جګړو، لوړو، ژورو، سیاسي کړکېچونو او ناندریو څخه ډک دی. د وخت د تاریخي وېش په اندول ډېره لږه موده لیدلای شو، چې افغانانو پکې ارامه ساه ایستلې وي. خو زموږ ولس د خپلې فرهنګي سلیقې، مینې، استعداد، ذوق او شوق په زور، وخت پر وخت د فرهنګ او ادب ښکلې ماڼۍ تیارې کړي او سینګار کړي دي. دا چې ولې دا ماڼۍ بیا ژر له خاورو سره برابرې شوي او د ایرو پر څلو بدلې شوي؟ دا نو د هېواد د سیاسي پېښلیک په هنداره کې مطالعه کېدی شي.

په افغانستان کې سیاسي واکمنو ( له استثناتو پرته) هغه وخت فرهنګپالنې او فرهنګ بډاینې ته غېږه پرانیستې، چې د دوی له سیاسي او ځاني ګټو سره یې سمون لرلای دی. دا خبره په ځانګړي ډول د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ په باب د صدق وړ ده. هم په افغانستان او هم په کوزه پښتونخوا کې وخت پر وخت پښتو ژبه او پښتني فرهنګ د سیاسي معاملو په تله کې ایښودل شوي دي. خو له دې سره سره بیا هم په سیاسي واکمنو او نا واکمنو کړیو کې دلته او هلته ځینې ځانګړي شخصیتونه وو، چې له خپلې ژبې او فرهنګ سره یې بې کچې مینه

درلودله او د قربانۍ تر پولې یې خپلې هڅې نه دي سپمولي. د همدې مقصد لپاره هم د دولت په چوکاټ او هم په خپلواکه توګه ځینې فرهنګي ټولنې جوړې شوي، چې تر خپله وسه یې خپل فرهنګي مسوولیت ترسره کړی دی.

یو وخت داسې هم راغی چې روښنفکرو فرهنګپالو او فرهنګ مینه والو خپله په خپلواکه توګه دې ډګر ته راودانګل او نور یې نو دېته ونه کتل چې سیاسي واکوالو او نورو ته دې د فرهنګ د خدمت په هیله کېني. په همدې هیله د( ۱۳۶۹ل) کال د عقرب پر (۲۵)مه نېټه په کابل کې د افغاني روښنفکرانو یو لوی فرهنګي مرکز ((خوشال فرهنګي ټولنه)) جوړ شو. ورپسې د ((علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه)) هم پرانیستل شوه. د خوشال فرهنګي ټولنې له هغې نېټې نه تراوسه پورې په لسګونو علمي غونډې، سیمینارونه او مشاعرې جوړې کړي او د خپل خپرني ارګان ((شمشاد)) مجلې په ګډون یې (۱۴) عنوانه علمي او ادبي اثار خپاره کړي دي. د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنې هم تراوسه پورې (۹) عنوانه بېلابېل علمي او ادبي اثار چاپ کړي دي.

کله چې په افغانستان کې د یوه ((ناتار)) له پاسه ((بل ناتار)) منځته راغی او د هېواد پاتې فرهنګي شتمنیو ته پکې درانه زیانونه واوښتل، د هېواد د فرهنګیانو مسوولیت نور هم دروند شو. په پېښور کې مېشتو افغاني فرهنګیانو وپتېیله چې د مهاجرت په ژوند کې هم د خپل فرهنګ لپاره خپلو هڅو ته انسجام او اوډون ورکړي. (( افغان ادبي بهیر)) یې جوړ او دا دی له څو میاشتو راهیسې خپلو اونیزو ادبي غونډو او نورو هڅو ته په اوډلي ډول دوام ورکوي. د ((افغان ادبي بهیر)) اوسنۍ

هڅې د لیکوالو ترمنځ د کره کتنې د زغم پیدا کولو، د ادبـي لیکنـو د بېلابېلو ډولونو د څرنګوالي او د استعدادونو د غوړولو په برخه کې ډېرې اغېزمنې دي.

د (۱۳۷۳ل) کال د کب پر (۲۸)مه نېټه د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ او زرغونتیا لپاره یو بل ګام هم پورته شو. پر همدې نېټه په جلال اباد پـه ښار کې ((ننګرهار فرهنګي ټولنه)) جوړه شوه. د دې فرهنګي ټولنې په پرانیستونکې غونډه کې د هېواد ځینو لیکوالو، شـاعرانو، د ننګرهـار جهادي شورا ځینو غړو، د ننګرهار ولایت ځینو مخورو، فرهنګیـانو او فرهنګپالو برخه اخیستې وه، د غونډې برخه والـو د هېـواد نومیـالي لیکوال استاد محمد اصف صمیم د نوموړې فرهنګي ټولنې د مشر پـه توګه وټاکه. د دې ټولنې لومړۍ مېوه د ځوان او هڅاند لیکوال حفـیظ الله تراب د لنډو کیسو مجموعه ده چې (ورکه) نـومېږي او د نومـوړې ټولنې له خوا تازه خپره شوې ده.

د خوښۍ خبره خو دا ده چې د فرهنګـي ټولنـو لـه تعـدد څخـه د هېوادنیو ملي او فرهنګي چارو په باب بنسټیز اختلافونه، نه رامنځتـه کېږي او د ځینو سیاسي ګوندونو په شان د هر څه حل د برچې د زور په هنداره کې نه مطالعه کوي. هره فرهنګي ټولنه کېدی شي په ټولیز ډول ټول فرهنګ او په ځانګړي ډول د فرهنګ د یوې مشخصې څـانګې د ښېرازۍ لپاره غوره خدمتونه وکړي.

اوس نو د فرهنګښېرازۍ او فرهنګپالۍ لپاره همدغو فرهنګي ټولنو ته د هیلو سترګې اوښتي، زموږ په شان یوه ټولنه کې خو هسې هم په پوره مانا د یوه ځواکمن دولت تنستې په اسانۍ ټینګېدی نه شي، نو ژبـه او فرهنګ د همدغو فرهنګي ټولنو، لیکوالو او شاعرانو په هڅو ژوندي او خړوب دي.

# د کابل طب انستيتيوت، د زيان تر پېټي لاندې

ما په کابل کې د تنظيمي جګړو پـر مهـال ډېـر وختونـه تېـر کـړي. د افغانستان هرې اقتصادي، علمي او فرهنگـي شـتمنۍ تـه چـې بـه زيـان رسېده، نو زموږ له زړونو به وينې څڅېدلې، هغه وخـت مـا پـه خپـل او بدل نامه ځينو فرهنگي او اقتصادي موسسو ته د اوښتو زيـانونو پـه بـاب معلومات راټول او چاپول. فرهنگي موسساتو ته د اوښتو زيانونو پـه بـاب معلومات بيا په يوه ځانگړي اثر کې راټول او چاپ شول. دا ليکنـه هـم، همغه وخت شوې وه او د (مروان) په مستعار نامه له پېښوره خپرېـدونکې ارمان جريدې په (۱۸)مه گڼه کې، چې د( ۱۳۷٤ل) کـال د چنگـاښ پـر (۱۱)مه نېټه چاپ شوې، خپره شوې ده.

**د تېرو درې کلنو جګړو په لړ کې د هېواد د نورو لويو او وړو تحصيلي، تعليمي، اقتصادي او کلتوري موسسو د ړنگولو په لړۍ کې د کابل د طب انستيتيوت ته هم درانه زيانونه اړول شوي دي. په ياد شوي زماني واټن کې نه يوازې دا چې نوموړي روزنځي ته اقتصادي او مالي درانه زيانونه اوښتي، بلکې ډېر دروند معنوي زيان يې هم زغملی دی. په دې مـوده کې د محصلينو درسونه يا په نيمه او يا په بشپړ ډول ودرول شـوي وو. که د محصلينو د شمېر په تناسب د درسي ساعتونو شمېر په پام کـې ونيسو، نو په مجموعي توگه به نوموړي انستيتيوت ته د لسو مليونو په شاوخوا کې د درسي ساعتونو دضايع کېدو زيان اوښتی وي.**

د طب انستیتیوت (د جنسي مدیریت) مدیر ښاغلي محمداصف وویل: ((سره له دې چې انستیتیوت ته د ټولو رسېدلو زیانونو دقیــق شــمېر خورا ګران کار دی، خو بیا هم په اټکلیز ډول د زیانونو اندازه څه ناڅــه لګېدی شي. په انستیتیوت کې د پتــالوژۍ، بیوشــیمی، هســتولوژۍ، فارمکولوژۍ، مکروبیالوژۍ، اناتومی، کیمیا او فزیک دیپارتمنونه موجود دي. دې څانګو خپل خپل مجهز لابراتوارونه لرل، چې د طبي علومو په زیاتو عصري وسایلو سمبال وو. دا لابراتوارونه له ټولو وسایطو او وسایلو سره له منځه وړل شوي دي، چې مالي ارزښت یې پــه ســوونو ملیونــو افغانیو ته رسېږي. د انستیتیوت فزیکــي ســاختمان او نــورو درســي وسایطو او وسایلو ته هم درون زیان اوښتی. د ودانیو (۳۰) په سلو کــې برخې تخریب شوي، د اوبو او برېښنا سیستم یې هم ویجــاړ شــوی، د انستیتیوت (۲۰) عرادې بېلابېل موټر غلا شوي: د قرطاسیې ډیپوګانې چور شوي، د انستیتیوت ټول سمعي او بصري مــواد لکــه د عکاســۍ کمرې، مایکونه، پروجکتورونه، لوډسپیکرونه، علمي سینمایي فلمونه، هنــري ســینمایي فلمونــه، ګرځنــد امپــي فایرونــه، تلویزیونونــه، ترانسفرمرونه، ویدو کیستې او داسې نور غــلا شــوي. لــه دې پرتــه د انستیتیوت ډېره مجهزه چاپخونه (مطبعه) له منځه وړل شوې ده)).

د بیالوژۍ څانګې یوه سابقه لرونکي استاد وویل: ((یوازې یې زموږ د څانګې (بیالوژۍ) له لابراتوار څخه یې په لســګونو میکروســکوپونه، د تسلیخ بکسونه، د میکروســکوپ ګروپونــه، تثبیــت شــوي مختلــف سلایډونه (۵۰۰۰) دانې، ساده سلایدونه، (۲۰۰) دانــې، درجــه لرونکــي استوانې، یخچالونه او نور وسایل چور او له منځه وړي دي)).

د انستیتیوت یو تن مسوول وویل: (( کېـدی شــي د انســتیتیوت د ودانیو د بیا جوړولو لپاره زر ملیونه افغانۍ کفایت وکړي، خو دا خبــره دقیقه نه ده، د زیانونو د تثبیت کمیسیون په دې خبره کار کوي، چــې وروسته به دقیق زیان معلوم کړي)). بل دروند او نه جبرانېدونکی زیان چې نوموړي انستیتیوت ته اوښتی هغه د علمي او درسي کتــابونو لــه منځه تلل دي. د کابل طب انستیتیوت یو ډېر مجهز کتابتون درلــود. د نوموړي کتابتون امر ښاغلي غلام علي وویل : (( د انستیتیوت کتابتون درې منزله درلودل، په دې کې دوه خونې د محصلینو د مطالعې لپــاره وې. د کتابتون فزیکي جوړښت په ډېر علمي سیستم او بنې جوړ شوی و. په دې کتابتون کې پنځوس زره عنوانه بېلابېل علمي کتابونه موجود وو، چې زیاتره یې په انګلیسي ژبه وو، کله چې دلته د جګړې اور ولګېد، نو د کتابتون درې واړه منزله وسیزل شول، زیات کتابونه پکې ایره شول، د طب انستیتیوت په هڅه او هاند یوازې (۶۰۰۰) عنوانــه کتابونــه لــه انستیتیوت څخه یو مصئون ځای ته انتقال او د حالاتو په ښه کېدو سره بېرته انستیتیوت ته راوړل شول، چې اوس ترې محصلین ګټه اخلي. د انستیتیوت په کتابتون کې د دې انستیتیوت د استادانو هغــه (۵۰۰۰) عنوانه علمي کتابونه هم موجود وو، چې دوی په بېلابېلو وختونو کې د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره لیکلي وو او دلته یې یوه یوه خطــي نســخه موجوده وه. دا اثار هم د جګړې د طاعون ښکار شول)).

# د افغانستان د ملي ګالرۍ برخلیک

دا لیکنه هم د وفا جریدې د څلورم کال (۳۹-۴۰)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۴ل) کال د لړم له (۹)مې نېټې سره سمون خوري، د(نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده. د تنظیمواکۍ په بهیر کې چې په کابل کې سخت جنګونه روان او وخت پر وخت زموږ فرهنګي اثار لوټېدل، نو زه او زما په شان نور هېوادوال پرې زیات دردېدل، همغه وخت ما د دې کلتوري تراژیدیو په باب معلومات راټولول، دا لیکنه هم د همغې لړۍ یوه کړۍ ده چې وروسته بیا ترې یو ځانګړی کتاب جوړ شو.

ملي ګالري د (۱۳۶۲ ل) کال د ثور پر میاشت افتتاح شوې ده. د ګالرۍ د پرانیستو په مراسمو کې د کندهار له ولایت، د کابل له موزیم او له سلطنتي قصر څخه (۲۰۰) هنري او تاریخي اثار راوړل شوي او ننداره ته ایښودل شوي وو.

دا موسسه د اسمایي واټ په هغه تعمیر کې جوړه شوې وه، چې اصلاً د غلام نبي خان چرخي ملکیت و او وروسته بیا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې تړل شوی و. سره له دې چې دا ودانۍ د ملي ګالرۍ د اثارو د ساتنې او نندارې لپاره مناسبه هم نه وه، خو بیا هم دا اثار په کې ننداره ته کېښودل شول.

د ملي ګالرۍ د (۱۲) کلن فعالیت په لړ کې هر کال د پلان او بودیجې له مخې د هېواد د معاصرو هنرمندانو اثار اخیستل کېدل. په دې لړ کې د نقاشۍ، میناتورۍ، مجسمې او ظریفه اثارو (۵۹۶) اثار اخیستل شوي او ملي ګالرۍ ته تحویل شوي وو. د دې اثارو زیاته برخه د غلام محمد میمنګي، عبدالغفور برېښنا، استاد عبدالعزیز، استاد غوث الدین، استاد

**یوسف کهزاد، استاد عطايي، استاد خیرمحمد یاري، استاد کریم، استاد قربانعلي عزیزي او داسې نورو استادانو اثار وو.**

**تر یوې لسیزې په زیاته موده کې دې ګالرۍ هر کال لس زره لیدونکي درلودل او د افغان ولس لرغونی او تاریخي فرهنګ یې تمثـیلاوه. کلـه چې (۱۳۷۱ل) کال پیل شو او جهادي تنظیمونه کابل ته داخل شول، پر دې وخت نو د اطلاعاتو او کلتـور وزارت اداري، حقـوقي او فرهنګـي مسوولین په دې هیله وو، چې هر څه به خوندي پاتې شي، خو امنیتي چارواکي او غالباً وسله وال جهادي افراد د یو توند باد په شان راخواره شول او د ګالرۍ دېوالونه یې ولړزول. کله چې وسله والو افرادو د وزارت ټول اداري قیمتي وسایل او وسایط، لکه غالۍ، فرشونه او مـوټر چـور کړل، نو د ملي ګالرۍ د منځه تلو وېره لا پسې ګرندۍ شوه. د (۱۳۷۱ل) کال د سنبلې پر (۲۳) نېټه د وسله والو کسانو له خوا د اسـتاد غـوث الدین او نورو هنرمندانو څلور تابلوګانې غلا شوې، دولتي ادارو ته خبر ورکړ شو، چې د ګالرۍ پیره دارانو دا کار ترسره کړی دی او په راتلونکې کې هم دا وېره شته، خو هغوی بې تفاوتـه پـاتې شـول او د ګـالرۍ د برخلیک په باره کې یې هېڅ پرېکړه ونه کړه، ان دا چې د اطلاعــاتو او کلتور وزارت د هغه وخت د اداري رئیس په دستور او د هغــه وخــت د کوپوني مغازې د مدیر په واسطه د (۱۳۷۱ ل) کال د سنبلې پر (۴) نېټه تر (۳۰) موټرو زیات د ډېرو سکاره د ملي ګالرۍ په انګړ کې وغورځـول شول. دې کار ددې مخه ونیوله چې د ګالرۍ اثار راټول او یـو مصـئون ځای ته انتقال شي، ان تر دې چې د ګالرۍ یو زیات شمېر ښکلي او ناب اثار د ډېرو سکرو په تور ګرد ککړ شول او د ګالرۍ تعمیر او لوازم هم د ډېرو سکرو په شان تور واوښتل. دې کار د هېـواد ټـول فرهنګپـال او فرهنګیان متاثر کړل او د یادو شویو کسانو عمل یې وغنده. ویل کېږي**

چې د نوموړ اشخاصو عمل قصدي و، د ګالرۍ اثار به يې د ((بتانو)) پـه نومونو يادول.

د (۱۳۷۲ل) کال د ثور پر ۵نېټه په ګالرۍ کې د ځای پرځـای شـويو وسله والو کسانو له خوا (۳) نور هنري اثار هم غلا شـول، پـر دې کـار باندې د وزارت امنيتي ځانګو هم ځان غلی ونيو او بيا يې هم د ګالرۍ د اثارو د ساتنې کوم مشخص تدبير ونه نيو.

د (۱۳۷۳ل) کال د ثور پر (۱۳) نېټه د ګالرۍ د امنيتي ساتونکو له خوا د هنري نقاشۍ (۲۶) اثار غلا شول، دا ګالرۍ ته دومره لوی زيان و، چې جبران نه کېدونکی ګڼل کېږي. دې ټولو پېښو ته د اطلاعاتو او کلتـور وزارت لوړو مقامونو او نورو اړوندو ادارو هېڅ پاملرنه ونه کړه. کله چې د ګالرۍ د بېخي له منځه تلو وېرې د ځينو زړونه ودردول، نو په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ځينو اشخاصو له هغه جملې نه د نوموړي وزارت د هنر د رئيس په ځاني هلو ځلو او د ځينو نورو مسولينو په مرسته د ملي ګالرۍ (۶۹۲) تاريخي اثار له اصلي تعمير څخـه د وزارت تعميـر تـه را انتقال شول.

تر دې نږدې تېرو ورځو پورې هم د ګالرۍ تعمير د وسله والو کسانو په لاس کې و، معلومه نه ده چې تر کومه بـه پـه دې تعميـر کـې د دوی واکمني وي. په هغو ځايونو کې چې پخوا په کې ظريفه او ښـکلي اثـار ځوړند وو اوس يې بيا ترې تشنابونه جوړ کړي او يا هم پخلنځي، کېدی شي د يو څه وخت په تېرېدو سره د تعمير پاتې برخه هم ونړېږي.

هغه اثار چې له ملي ګالرۍ څخه د وزارت مقر ته راوړل شول اوس هم مصئون نه دي او داسې ګونګسي هم دي، چې د وزارت په مقر کې هم د ځينو چارواکو له خوا د ګالرۍ ځينې اثار غلا شوي او دا لړۍ کېدی شي، نوره هم ادامه پيدا کړي.

# د کابل د اوسنۍ ادارې څو ځانګړتیاوې

دا لیکنه له پېښوره د خپرېدنکې وفا جریدې د څلورم کال په (۴۵-۴۶)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۴ل) کال د لیندۍ (۲۴)مې نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده او د هغه وخت د ادارې انځورنه کوي.

له هغې ورځې چې په کابل کې دولتي سیستم رنګ شوی او نوې اداره جوړه شوې، نو پر ټول افغانستان په تېره بیا پر کابل د اورونو او غمونو، لوږو او توندو، سختیو او بدمرغیو قحطیو او قیمتیو سخت ناتار اوري.

هغه څه چې د تېرو غمیزو له ناتار څخه خوندي پاتې وو، د تنظیمي ادارې د ځان غوښتنو او ډول ډول منفي فکري تمایلاتو د اور په څپو کې ایره شول. سره له دې چې په افغانستان کې له درېو کلونو راهیسې حکومت او دولت نه شته، خو القاب شته: جمهور رئیس(!) او د دفاع وزارت(!) اسلامي اردو، د وسله والو پوځ اعلی قوماندانې او دې ته ورته نومونې اورېدل کېږي. له دفاع وزارت سره د افغانستان نوم اخیستل کېږي ( د افغانستان د دفاع وزارت) خو د دفاع غږ یې یوازې د کابل ښار له څو ناحیو څخه پورته کېږي او اعلامیو کې یې دا ټکي هم راغلي وي: (( که چېرې مخالفین د کابل پر ښار خپلو راکټي حملو ته دوام ورکړي، نو د اسلامي اردو ځواکونه به د کابل شاوخوا ته نږدې ښارونه تر غوڅو هوایي بمباریو لاندې ونیسي)) مقصد یې میدان ښار، چهاراسیاب او د

لوګر ولایت مرکز دی. د دوی په فکر، چهاراسیاب، میدان ښار، لوګر او د هېواد نورې سیمې چې د مخالفینو په لاس کې دي، هغه افغانستان نه ګڼل کېږي. له کابل راډیو څخه داسې خبرونه هم اورېدل شوي: (( د اسلامي اردو ځواکونو او مجاهدینو تېره شپه او نن سهار د غوځو او ځېونکو عملیاتو په نتیجه کې د ناولو وملېشو له وجود څخه یو کلی په بشپړ ډول پاک کړ، د دې عملیاتو په نتیجه کې چې په ډېرې لوړې او عالي روحیې سره ترسره شول، د دښمن دوه ټینګ سنګرونه او د هغوی یوه زیاته اندازه سپکه او درنه وسله د اسلامي اردو د ځواکونو لاسته ورغلې ده.))

دا د اسلامي اردو د ځواکمنۍ جاج و، چې یو کلی یې له مخالفینو څخه نیولی و او د دفاع وزارت بیا د خپلو ښارونو اوسېدونکو ته اخطار ورکوي، چې سخته بمباري به پرې وکړي. د نورو ملکو د دفاع وزارتونه خو یو بل ته د جنګ اخطار ورکوي او د خپلو سیمو او هېوادونو دفاع کوي، خو د کابل د دفاع وزارت بیا معکوس دی. که چا یوازې د سږ کال د حمل له میاشتې راهیسې، کابل راډیو په پرله پسې ډول اورېدلې وي، نو داسې شپه به نه وي، چې د کابل د ادارې یو پیغام کوم بهر ملک ته نه وي خپور شوی. په دې پیغامونو کې هم د تسلیت پیغامونه دي او هم د مبارکۍ.

داسې وختونه هم راغلي، چې تنظیمي ادارې د یو هېواد مشر ته د مبارکۍ پیغام لېږلی، ورپسې د اسلامي اردو د ځواکونو او د مخالفینو ترمنځ د جګړې خبر خپور شوی او په خبر کې ویل شوي، چې دومره مو مړه، دومره مو ټپیان او دومره مو اسیران کړل. یوه ورځ دې ادارې د انګلستان د ملکې د زېږېدو د کالیزې په ویاړ هغې ته د مبارکۍ پیغام

لېږلی و، په پيغام کې د هغې روغتيا او د عمر د اوږدوالي غوښتنه شوې وه، خو همدا ورځ په کابل کې يوه غملړلې ورځ وه، تر شلو پورې کسان مړه او ټپيان وو، د فکر خاوندانو به ويل: ((افرين په دې اداره ))(!) چې دلته د ورځې په لسګونو وژني او هلته د يو شخص د روغتيا او د عمر د اوږدوالي لپاره پيغامونه لېږي. دې ته ورته خبرونه نور هم زيات خپاره شوي دي.

د (۲۹/۸/۱۳۷٤) نېټه دې ادارې د مصر جمهور رئيس حسن مبارک ته په اسلام اباد کې د مصر سفارت ته د اينښودل شوي بم له امله د خواشينۍ او ډاډګېرنې پيغام لېږلی و. په پيغام کې ادارې د نوموړې پېښې له کبله د افسوس او خواشينۍ اسويلي ښکاره کړي وو، پر همدې ورځ په کابل ښار کې د جګړې له امله (۱۰) تنه مړه او (۱۶) تنه زخميان شوي وو، خو ادارې د هغوی پر حال يوه اوښکه هم تويه نه کړه. بله ورځ يې بيا په سعودي عربستان کې د امريکا پوځي اډې کې د چاودلي بم له امله د سعودي حکومت ته د خواشينۍ او ډاډګېرنې پيغام ورلېږلی و، پر دې ورځ هم په کابل کې (۸) تنه هنرمندان او د طلوع کورس (۱۲) تنه شاګردان وژل شوي وو، ددې پيغامونو له کثرت څخه د ادارې يو مقصد دا دی چې په خبرونو کې د ادارې نوم ياد شي، نور خو نه دوی پر هېواد حاکميت لري، چې دوی د هېواد بېلابېلو سيمو ته لاړ شي او له بېلابېلو قومونو سره وګوري او يا کومې ابادۍ، ودانۍ او يا هم د کوم علمي کار ډبره کېږدي، هغه سيمې چې د نوموړې ادارې تر کنټرول لاندې دي، په هغو کې هم د خير کوم کار نه ترسره کېږي، چې د ادارې مشران په پرانيستو کې برخه واخلي او نوم يې ياد شي، نو دوی ته يوازې همدا پيغامونه پاتې دي او بس. په پيغامونو کې د يادونې وړ بل ټکی دادی چې

داسې منظم شوي، چې هره شپه باید یو پیغام وي مثلاً د اسد د (۲۸)مې نېټې په باب له یو هېواد څخه یو پیغام رالېږل شوی و، څرنګــه چــې د پیغامونو لېږل او رالېږل زیات وو او هره شپه باید د نامه لپاره یو پیغــام نشر شوی وای، نو دا پیغام یې د سنبلې میاشتې په پای کې نشــر کــړ، چې یوه میاشت د هغې ورځې له مناسبت څخه تېره شوې وه. له ایران، هند، چین، سورېې، البانیا، امریکــا، ترکیــې، اذربایجــان، ارمنســتان، سعودي، قطر او ځینو نورو مشهورو هېوادونو نه پرته ځینو نورو داسې هېوادونو ته هم پیغامونه لېږل شوي، چې هغه ګرد سره له افغانســتان سره نه پخوا او نه هم اوس ډیپلوماتیکي اړیکي لري. د اکثرو پیغــامونو متن کټ مټ یو شان وي، داسې فکر کېږي چې پیغامونــه مخکــې تــر مخکې تیار لیکل شوي، یوازې د هغه هېواد او جمهور رییس د نوم لیکل ورته په کار دي.

یوه بله اساسي موخه چې د کابل اداره یې له دې ډول پیغامونو څخه لري، هغه داده، چې دوی فکر کوي ځانته به مشروعیت او بین المللــي ملاتړ ترلاسه کړي او بیا به خلکو ته وواییي هغه دی ټول ملکونه موږ په رسمیت پېژني، خو په دې خبر نه دي چې ولس اوس پر ټولو خبرو پوره پوهېږي.

# د جدي د (٦)مې نېټې غميزه او د هغې مرکزي کرکټر

دا لیکنه د وفا جريدې د څلورم کال په (٤٧-٤٨)مه گڼه کې چې د (١٣٧٤ل) کال د جدي له (١٠) مې نېټې سره سمون خوري، د (ا.نيازي) په مستعار نامه خپره شوې ده.

هره ټولنه او ولس ځانته د وياړونو، پرتمونو، نېکمرغيو، بدمرغيو، غميزو او کړاوونو شپې ورځې لري. دا پېښې او يادونه د ولس په ذهن کې انځور شوي وي او له يوه نسل څخه بل ته انتقالېږي. څرگنده خبره ده چې پېښې په خپل سر نه رامنځته کېږي، اشخاص او د ژوند نور پېچلي شرايط د پېښو د رامنځته کېدو سبب گرځي او د پېښو په لړۍ کې نور اشخاص روزل کېږي. هغه اشخاص چې د ذهني، فکري، اخلاقي، اجتماعي او نورو ښېگڼو له پلوه کمزوري وي او لويو کارونو ته لاس اچوي، نو نتيجه يې ډېره کرغېړنه او بدمرغه راوځي. دا ډول اشخاص د منفي کرکټرونو په توگه د ولس په ذهن کې ځای نيسي او ولس ته د وراړول شوي درد او زيان له کبله د هغو د سختې کرکې سبب گرځي. زموږ د هېواد د معاصر تاريخ تر ټولو بدمرغه ورځ د (١٣٥٨ لمريز) کال د مرغومي شپږمه نېټه ده. ددې غميزې مرکزي کرکټر ببرک کارمل دی، چې پر نوموړې نېټه د شوروي اتحاد د سرو لښکرو په زور د کابل پر تخت کېنول شو.

((ببرک کارمل د جنرال محمد حسین خان زوی د بګرامیو د کمریــو اوسېدونکی و، د ببرک کارمل د نیکه محمد هاشم پلرونه له کشمیر نه کابل ته راغلي دي. د بهرنیو چارو د پخواني وزیر عبــدالوکیل نیکــه، د نوموړي پلار (محمد حسین) حربي ښوونځي کې شامل او وروسته یــې خپله لور هم ورته ورکړه)). ببرک کارمل د کابل پوهنتون د حقوقو لــه پوهنځي څخه فارغ شوی او بیا یې د پلان په وزارت او ځینو نورو دولتي ارګانونو کې کار کــړی دی. نومــوړی د (۱۹۶۵-۱۳۴۳) کــال د (خلکــو دموکراتیک ګوند) د لومړۍ کنګرې له غــړو څخــه و. وروســته یــې د (پرچم) په نامه یوه بېله سیاسي ډله جوړه کړه. ده د خپل سیاســت د پیل له کلونو څخه د شوروي اتحاد له سفارت سره لار درلوده، په همدې وجه خو روسانو تر بل هر چا پر ده زیــات بــاور درلــود. دی د شــوروي سفارت کار کوونکو ته دومره نږدې و، چې د هغوی په ډېــرو خصوصــي غونډو او مېلمستیاوو کې هم د ګډون بلنه ورکول کېدله.

د ((پلوشې)) جریدې د (۱۳۷۴ل) کال (۳)مــه ګڼــه د ســردارمحمد داودخان د وخت د کابینې د یوه غړي له خولې لیکي: (( موږ په کابل کې د شوروي سفارت له خوا رسماً د ځینو خبرو لپاره نوموړي سفارت تــه بلل شوي وو، کله چې سفارت ته ورننه شو، نو د سفارت کار کوونکــو موږ ته هرکلی ووایه، د هرکلي ویونکو په ډله کې دی (کارمل) هم، لکه د سفارت د یو غړي په توګه ولاړ و)).

((جګړن ولادیمیر کوزیچ کین چې په ایران کې د افغانستان په ارتباط د کي.جي. بي مامور و، د (۱۹۷۲م) کال د نومبر پر (۱۱)مه نېټه له بي بي سي سره د یوې مرکې په ترڅ کې دی د کي.جي.بي یو لوړ رتبه مــامور

وباله)). د همدغو روابطو نتیجه وه چې دی په چکوسلواکیا کې د افغانستان له سفارت څخه په مخفي ډول مسکو ته بوتلل شو.

(( د کي.جي.بي د جاسوسۍ ضد مشر تورنجنرال لوکین وایي: کې. جي.بي کولای شول، چې د ټولنو او افرادو په خصوصي او عمومي تاریخ کې بدلون راولي او د کماندو داسې افراد یې په واک کې وو، چې د شوروي تر پولو د باندې هم په هر ډول تهاجمي او تروریستي عملیاتو لاس پورې کړي، چې له همدې قطعې نه یوه ډله چې په مستعار نامه (زینت) یادېدله، د سفارت د ساتنې په پلمه کابل ته ولېږل شوه او د جنرال ویکتور پاپوتین قوماندې ته ورکړل شوه.

نوموړی وایي: ((دمرغومي پر پنځمه نېټه د کي.جي.بي له مشر اندروپوف سره ناست و، چې له کابل نه د کي. جي.بي نماینده د امین د وژلو او د عملیاتو د بریالیتوب خبر ورکړ، اندروپوف احساساتي و او ویې ویل چې کارمل ژر پیدا او د بیانیې متن ورته جوړ کړئ!)).

بیا (( له تاشکند راډیو نه د حفیظ الله امین د وژنې اعلان له یو اشنا ستوني نه راووت او دا اعلان د مفصلې وینا په ترځ کې د هغه له خوا د تاشکند د راډیو په څپو کې څو ځلې تکرار شو، چې وروسته یې خپلې غلطۍ ته پام شو، کابل راډیو یې قطع او خپله خپرونه یې د کابل راډیو په نامه کړله.

کله چې دی د امین له مرګ نه پوره ډاډه شو، نو د کي.جي.بي له مېلمستون نه له خپلو تښتېدلو ملګرو سره بېرته کابل ته راوستل شو او پر تخت کېنول شو.

برژنیف او روسي مشرانو د یو تلګرام په ترځ کې ده ته د بریالیتوب مبارکي ورکړه.))

کله چې دی د کابل پر تخت کېنول شو، بیا نو ده په زغرده د شوروي اتحاد پر دوستۍ او اړیکو ویاړ کاوه، ان دا چې د یوه محفل په ترڅ کې یې د ګرمو احساساتو په وجه خپل هر څه په ډاګه کړل.

نوموړی د روسپالنې په مینه کې دومره ډوب و چې ان د خپل زوی نوم یې (واستوک) ایښی و او د شوروي اتحاد دوستي یې تلپاتې او خلل نه منونکې بلله.

سره له دې چې ده د جدي د (۶)مې نېټې پېښه د انقلاب نوی بشپړتیایي پړاو باله، خو د دې پړاو په بري کې یې د شوروي له رول څخه په خپله پرده اوچته کړه. دی وایي: (( هر گاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحاد شوروي سوسیالستی نمیبود، انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحلهء نوین خود نمیگشت و امروز نه تنها در افغانستان، بلکه در منطقه یک فاجعهء عظیم تاریخ رُخ میداد)). (کابل کالنۍ، ۱۵مخ، ۵۸-۵۹ کال ګڼه).

نوموړي د ګران هېواد د ویاړونو، پرتمونو او رزمونو د ماضي پاڼې نه وې لوستې او د هېواد ژوند او بقا یې په ((ستر شوروي اتحاد)) پورې تړله. په سلګونو ځله به یې په رسمي او خصوصي غونډو کې دا خبرې تکرارولې: (( که د شوروي اتحاد د محدودو قواوو شته والی نه وای نن به زموږ هېواد د امپریالیزم خولې ته لوېدلی وای)). (کابل کالنۍ ۵۸-۵۹کال ګڼه، ۱۱۷مخ)

(( در حالی که استقلال ملی کشور ما را خطر جدی ناشی از تجاوزات امپریالستی تهدید میکرد یکبار دیگر دوست بزرگ و ازموده مردم افغانستان، اتحاد شوروی درکنار ما قرار گرفت)). (کالنۍ، ۱۸۹مخ)

ده د خپل هېواد عظمت، غیرت او همت ته نه کتل، یوازې جغرافیایي حدود، د نفوسو د شمېر څرنګوالی او ځینو مادي وسایطو یې د ذهــن سترګې ورپټې کړې وې، ځکه یې نو پخپلو خبرو کې خپل هېــواد ډېــر کوچنی او خپل دوست هېواد(!) یې ډېر لوی معرفــي کــاوه. (( کمــک بلاعوض خلقهای شوروی به مردم افغانستان نمونهء برجسته اســت در مناسبات بین المللی که از روابط حسنه یک کشور بزرگ و کبیر بایک دولت کوچک...)).

ده زیات زیار ایسته چې د ژوند په ټولو چارو کې د شوروي اتحاد لــه تجربو او کړنو نه ګټه پورته کړي، که د افغاني ټولنې له ژوند چارو ســره سمون خوري او که نه؟ دا نو بېله خبره ده، د ده هڅه دا وه چــې د دوو بېلابېلو ټولنو ژوند هماهنګ وښیي او په اصطلاح د شوروي اتحــاد لــه تجربو څخه ګټه پورته کړي، نو ځکه به یې په زیاتو غونډو کې د شوروي پر تجربو ټینګار کاوه. د ښځو یوې غونډې ته د خبرو په ترڅ کــې ددې تجربو یادونه او د ځوانانو یوې غونډې ته ددې تجربو د یادونې ترڅنګ د شوروي ځوانانو د کمسمول له سازمان څخه مننه څرګندوي: (( بشریت مترقی تجارب ارزشمند در ارتباط باجنبش زنــان اندوختــه اســت، در زمینه بیش از همه تجربه تاریخی کشورهای سوسیالستی و در درجــه اول اتحاد شوروی ارزش والا و بزرګی دارد)).

((اجازه راکړئ چې د هېواد د ځوانــانو د دغــې ســترې غونــډې او پیوستون په کار کې د زړه له کومې د ښو او لویو بریالیتوبونو هیله وکړم او یو ځل بیا د سوسیالستي هېوادونــو او د نــړۍ د نــورو هېوادونــو د ځوانانو د بین المللي سازمانونو په سر کې د شــوروي اتحــاد د لیننــي کمسمول سازمان مخکښو استازیو ته خپلې مننې څرګنــدې کــړم)).

(کالنی، ۲۱۲مخ). ده به تل د خپلو خبرو په ترڅ کې پر څو خبرو باندې ډېر ټینگار کاوه: (( د افغان شوروي دوستي)) او (( د انقلاب نوی پړاو)). ده په دې یادونو کې د افراط تر وروستی بریده ځان رسـولای و. ((اگـر مرحلهء نوین انقلاب صورت نمیگرفت، اکنـون افغانسـتان در نقشـهء سیاسی جهان وجود نمیداشت)). (کالنی، ۲۸۳مخ) (( دور نمای دوستی افغان و شوروي خلل ناپذیر وخدشهء ناپذیر است و از یک پیروزی بـه پیروزی دیگر موج به طـرف تکامـل و اسـتحکام خـود پـیش میرود)). (کالنی، ٣١٦مخ)

دی د جدي تر (۶)مې نېټې وروسته شوروي ته د خپل سفر اهمیـت داسې څرگندوي: (( د ثور انقلاب د نوي پړاو تر بریالیتوب وروسته پـه بین المللي لحاظ زموږ لپاره ستره سیاسي پېښه هماغه شوروي اتحاد ته زموږ د گوندي او دولتي لوړې رهبرۍ د هئیت سفر او په مسکو کې د افغانستان او شوروي اتحاد د خبرو بریالي سرته رسول وو، د دغو خبر اهمیت د اوسنۍ شېبې د خبرو له چوکاټ څخه ډېر لـوړ دی او ځینـو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو له چوکاټ څخه هم لوړ ځـي)). (کـالنی، ۲۷۸مخ).

که په پورته عبارت کې د ((چوکاټ)) کلمې ته ځیر شـو، نـو ډېـرې سپورې ماناوې ځنې راځي، په عادي ورځنۍ محاوره کې هم له (چوکاټه وتل) په منفي مانا کارول کېږي، خو ده د کلمو پرځای کارونې ته هم پام نه دی اړولای، هغه ((دوستي)) چې له چوکاټه ووځي، نو طبیعي ده چې نور څه ترې راولاړېږي.

بله خبره چې ده د هغو په باب بېلابېل متضاد نظرونه څرگند کـړي، هغه د شورویانو د راتگ مساله وه، سره له دې چې موږ پورتـه یادونـه

وکړه. ده ویلي: (( هرگاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحـاد جمـاهیر شوروی سوسیالستی نمیبود انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحلهٔ نـوین خود نمیگشت)). (کالنی، ۱۵مخ). خو بیا بـه یـې هـم کلـه کلـه دا د افغانستان- شوروي د (۱۹۷۸م) کال د دسمبر د (۵) او د (۱۳۵۷ل) کال د قوس د ۱۴ نېټې د تړون پر اساس چې د ده په قول د دواړو هېوادونو د حکومتونو ترمنځ شوی و، راغلي، کله به یې ویل چې د ملگرو ملتونو د منشور د (۵۱) مادې پر اساس راغلي، خو کله چې به د هېواد په دننـه کې انتقادونه او فشارونه پرې تر حده زیات شول، نو بیا به یې ویل چې دا خو ((امین راوستي))، دا خبرې به ده هغه وخت کولې، چې نور نو د روسانو او پر خپل بري ورته شک پیدا شوی و. د خپل قدرت پر لـومړي کال خو یې ځان د شوروي اتحاد یو وجود باله دا ویاړ(!) یې چاتـه نـه ورکاوه او همدا به یې ویل: (( در این دوستی و در این روابط میتـوانیم بگویم که هیچ قدرت درجهان اعم از ارتجاع سیاه، امپریالیزم جهانی، شوونیزم چین و دیگر نیروهای طاغوتی هر گز نمیتواننـد کـوچکترین خدشه وارد سازند)). (کالنی، ۴۳۳مخ) (( زنده باد دوستی خلل ناپذیر جمهوری دموکراتیک افغانستان و اتحاد شوروی دوست و برادر جاودان و همیشه گی ما)). (کالنی ۴۵۶مخ)

د اسوشیتد پرس خبریال له ده څخه پوښـتنه وکـړ: (( قسـمی کـه جلالتمآب شما فرمودید وقبلاً گفتید که امین ایجنت امپریالیزم امریکا بود پس او چرا قشون شوروی را در افغانستان دعوت کرد؟)).

جواب: ((حفیظ الله امین ایجنت امپریالیزم امریکا از اتحاد شـوروی طلب کمک قطعات محدود نکرده بود، بلکه این کمک به اراده و تصویب

نزدیک به اتفاق ارای شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانســتان صورت گرفته است)). (کالنۍ۳۲۵مخ)

دلته که له انقلابي شورى څخه مقصد د نورمحمد تره کی ((انقلابــی شوری)) وي، نو د هغه پر ژوند خو روسان رانغلل، نو د هغــه تــر مرگــه وروسته روسانو د هغه ترون عملي کاوه؟ او که د امین د وخت انقلابــی شوری څخه يې مقصد وي، نو هغه خو دی خپله ردوي چې امين نه دي راغوښتي. بله عجیبه خبره خو داده چې راغوښــتي هغــو دي(!) خــو قدرت ته يې دی ورساوه!؟

# کابل: رنځونه، مرګونه او کړاوونه

دا لیکنه له پېښوره د خپرېدونکې  وفا جریدې د پنځم کال په (۷-۸)مه ګڼــه کــې چــې د (۱۳۷٤ل) کــال د کــب (۱۰)مــې نېټــې سره ســمون خوري،د(نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده. دا لیکنه پــه کابـل کــې د همغه مهال د حالاتو تصویر کاږي.

په کابل کې د ژوند د سختوالي، تنګوالي او نورو کړاوونو په وجه خلک له ډېرو ستونزو سره مخ دي. دې ستونزو خلک ډول ډول کارو ته مجبور کړي دي، د چا کوکې پورته شوې، د چا فریادونه، چا چور وکــړ، څــوک چور شول، څوک مړه شول او چا د مړو په شتمنیو د ژوند د هوســاینې چارې برابرې کړې. ژوند د افراط او تفریط له څپو سره یوځای شو، اوس نو په ښار کې هره ورځ یوه نه څو داسې رنګینې متضادې، خندوونکې او ژړوونکې پېښې پېښېږي، چې د انسان عواطف دردوي او خوځوي.

څوموده دمخه د کابل د موسی کلا یوه مسجد ته یو څــوک د شــپې ورننوتی و، د مسجد غالۍ او نور فرشونه یې وړي وو. سهار چې لمــونځ کوونکي مسجد ته دننه شول، ګوري چې مسجد کې فرشونه نه شــته، کله چې لږ رڼایي شوه او د مسجد دروازې ته یې پام شو، نو په یوه کاغذ کې په روښانه ډول لیکل شوي وو:

((زه ډېر مجبور وم، نو ځکه مې د مسجد سامان او فرشونه یوړل، هر کله چې زما مجبوریت رفع شو، نو مسجد ته به دا شیان بیا واخلـم او رابه یې وړم. په احترام)).

د روان کال د مرغومي پر میاشت په کابل کې قحطي او قیمتي د یـو شمېر کورنیو د ژوند د ورځینیو چارو د خړوبولو تنابونه دومره سسـت کړي وو، چې نور نو د ټینګولو نه وو، ان دا چې ځینې کـورنۍ د خپلـو ماشومانو په ساتنه پکو شوې دي. د خیرخانې مېنې یوه جامع مسجد ته یو سړي خپل دوه تنه ماشومان راوستل او په مسجد کې پر ناستو لمونځ کوونکو یې غږ وکړ: (( هر څوک چې دا ماشومان ساتلای شـي، د ټـول عمر لپاره دې ځان سره بوځي)). دې ته ورته پېښې د کابـل پـه نـورو جوماتونو کې هم شوې دي.

په همدې ساړه ژمي کې نه یوازې په مسجدونو، بلکې په نورو عامـه ځایونو او بازارونو کې هم د ماشومانو د سپارلو خبرې شـوې دي. د روان کال د دلوې میاشتې په لومړیو وختونو کې، د کابل د پښتني تجـارتي بانک مخې ته، یو سړي خپل ماشومان ترلاسه نیولي وو او په زوره زوره یې چیغې وهلې: (( او خلکو راشئ! دا ماشومان ځان سره بوځئ! زه نور ددې توان نه لرم، چې دوی ته ډوډۍ ورکړم، په تن یې پټ او په نس یې ماړه کړم، دا مري، زه د دوی قتل په خپله غاړه نه شم اخیستی، څوک چې ددې توان لري، دا دې بوځي! که نه نو دا خو مري، بیا به نو قتـل د دوی پر غاړه وي، ما خو خپله غاړه خلاصه کړه، نوره مو خپله خوښه)).

د قحطۍ او قیمتۍ مرګ او درد تر څنګه یخنۍ هم پر ښار خپله خوله لګولې ده. د سون مواد په ډېره لوړه بیه خرڅېږي. په همدې وجه خلک مجبور دي، د سون له هغو موادو څخه هم ګټه پورته کـړي، چـې لـه

ځارویو څخه لاسته راځي، د کابل ښار یو تن تحصیل کړی ښاري، ددې موادو د لاسته راوړلو داستان داسې بیان کړ: (( څوموده دمخه پـه دې لټه کې وم، چې د سون نسبتاً ارزانه مواد لاسته راوړم، چـا راتــه پتــه راکړه، چې د ښار په څنډو کې له شپنو سره د ګډیو، مېښو او وریو پچې پیدا کېږي، تیارې یې په بوجیو کې اچولي او د بوجیــو پــه توګــه یــې خرڅوي، سره له دې چې د سون دا مواد هم ارزانه نه وو او د چا خبره د کشمشو په بیه خرڅېدل، خو مجبوریت و، وامې خیستل، ټولې څلــور بوجۍ شوې، ښار ته راروانې یوې لارۍ موټر کې مې دا بوجۍ واچولې او زه پرې له پاسه کېناستم، څو دقیقې لانه وې تېرې شوې، چــې مــوټر ودرېد او یو ټوپکوال رادمخه شو، سر له واره یې پوښتنه وکړه، دا څــه شی دي؟ او د چا دي؟ ما نو په ډېر جرئت وویل: دا خو د وریو پچې دي، کور ته یې وړم سېزو یې. نو ماته رابرګ شو، هله راشــه ددې محصــول راکړه، ما ویل پچې! دي پچې د پچو مې محصول لیدلی نه دی، سړی ډېر په قهر شو او راته یې وویل: ډېرې خبرې مه کوه ژر شه هله د بوجۍ په سر زر افغانۍ راکړه، ما چې فریاد کاوه سړی راته نور هم بدو رګی کېده، نو په پای کې مجبور شوم څلور زره افغانۍ مې ورکړې او کور ته راغلم.))

په کابل ښار کې د نورو بدمرغیو ترڅنګ غلا، اختناق، وژنې او نــورې ناروا چارې هم خپل شتون وخت پر وخت ثابتوي، څو موده دمخــه یــو وسله وال ګروپ د خیرخانې مېنې یو کور ته داخل شو، دوی غوښــتل چې پر رڼا ورځ ددې کور یوه پېغله وتښتوي، سره له دې چې په دې کور کې پر دې وخت د کور مشر او کوم بل نارینه نه و، یو میل وسله، همــدا پېغله او تقریباً یو دولس کلن کوچنی موجود وو، کوچنی او پېغله چې د وسله والو کسانو په نیت پوه شول، نو کوچني وسلې ته لاس کــړ، ددې

وسله والو کسانو قوماندان يې مړ او څو نور يې ټپيان کړل او پاتې نـور وتښتېدل. دا ډول پېښې نه يوازې په کابل کې دي، بلکې د هېـواد پـه گوټ گوټ کې دې ته ورته پېښې هم ترسره شوي او تر سره کېږي.

د کابل ترڅنگ په ولاياتو کې هم د غلاوو، تالاوو او بدمرغيو بازار تود دی، د مثال په ډول:

د لغمان ولايت د الينگار ولسوالۍ د (سيدکلا) نومي کلي کې د شپې د سپکې وسلې پرله پسې ډزې وشوې او بيا وروسته پته ولگېده چې: ((په نوموړي کلي کې يوه کور ته چې يو غړی يې ايران ته د مزدورۍ لپـاره تلی و، څه پيسې رالېږلې وې، وايي چې غله له دې رازه خبر وو، نـو د شپې درې تنه له وسلو سره دې کور ته ور واوښتل، د کور مېرمن پـرې ويښه شوه، غله د پيسو غوښتنه کوله، دې غيرتي مور هغـه لـه اوږدو وېښتانو ونيوه، وسله يې ترې واخيسته او راچپه يې کړ، غله سمدلاسه خپل بل ملگري ته چغه کړه! هله وله يې چې مړ يـې کـړم او نـه مـې خوشې کوي، هغه چې کله ډز وکړ، نو خپل ملگری يې په پښه وويشت، غله چغه کړه: زه دې وويشتم ښځه پاتې ده، ښځې لکه زمرۍ غونـدې غل کلک له وېښتو نيولی و او کشاوه يې، دې بل غله بيا ماشې ته گوته وروړه، ماشينگنه يې ضربه کړه او د ښځې له زړه او گوگله گولۍ ووتې. ښځې خپل روح خدای(ج) ته وسپاره او په ابدي خوب ويده شوه. غلو د شهيدې له منگولو څخه د غله وېښته خلاص کړل او خپل ټپي يې پر شا واچوه، پکول، څپلۍ او کلاشـينکوف ورڅخـه پـاتې شـول او خپلـه وتښتېدل، غلو لا خپل ملگری تر يوه ځايه نه و رسولی چې سـاه يـې وخته، کله چې د لغمان چارواکي خبر شول، نو د غلو اقارب يې ونيول، د غله مړی ډېر ځنډ په لغمان ښار کې د عامو خلکو مخې ته پـروت و او

ټولو پرې لعنت وايه، د يوه کلي خلک هم حاضر نه شول چې په خپلــه هديره کې د هغه مړی پرېږدي. داسې اوازې هم وې چې د غله مړی بيا په پټه په يوه باغچه کې ښخ کړای شوی و، خو کله چې خلک خبر شوي وو، د شپې څوک ور اوښتی و او قبر يې ورتــه لــوټ کــړی و. د لغمــان چارواکو هڅه کوله چې دده نور ملګري ونيسي او په عام محضر کې يې په سزا ورسوي، ځينې ګونګوسۍ وې، چا وې چې غله يې نيولي دي، نن او سبا به ورته سزا ورکړ شي، چا وې چې تښتېدلي دي، خــو تراوســه پرېکونې خبره نه ده شوې.

# کابل بیا په وینو ولمبل

دا لیکنه هم له پېښور څخه خپرېدونکې وفا جریدې د پنځم کال په (۲۵-۲٦) ګڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال د چنګاښ له (۲۵) نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په مستعار نامه خپره کړې ده.

نن یو ځل بیا سېزل شوي او لمبه شوي کابل د خپلو بچیانو (سلو) جنازو ته اوږه ورکړه. دا لومړی ځل نه دی چې له دې ښار نه دومره جنازې پورته کېږي، دا څلورم کال دی چې هره ورځ د دې ښار د سیاسي سوداګرو ترمنځ د سرونو سودا کېږي، هره ورځ پر دې ښار د مرګونو سېلۍ ګرځي او هره ورځ د غمونو یوه نوې ټکه راغورځېږي.

د کابل ښاریان هغه قربانیان دي، چې هم په جوړه کې زیان مومي او هم په جګړه کې. یو لیکوال د یوه ښاروي (پسه) له خولې لیکلي وو: (( زه نن ډېر خفه یم))، چا ورته وویل چې ولې؟ او په څه دومره پرېشانه یې؟. پسه په ځواب کې ورته وویل: ((خبر به یې چې نن زمونږ د کلي د دوو لویو خانانو د پخلاینې ورځ ده. دا هغه خانان دي چې کلونه کلونه یو د بل وینو ته تږي ناست وو او یو د بل ډېر کسان یې وژلي دي. مونږ ته پکې هم ډېر زیات زیان رارسېدلی و. خو نن نه پوهېږم د کوم مجبوریت له مخې سره پخلا شول او یو بل ته یې د دوستۍ لاسونه ورکړل، نو ته ولې د دوی پر دې دوستۍ خفه یې؟ پسه پر خپلو شونډو یوه مړاوې او مرګنۍ خندا تېره

کړه، څنګه به خفه نه یم؛ ددې خانانو پخلاینه نن د ډېرو شاندارو مراسمو په ترڅ کې ترسره کېږي، هلته به یو خان بل ته د دوستۍ لاس ورکوي او یو بل به غېږ کې نیسي، کله چې دوی سره لاسونه ورکړل، نو دغه مهال ما د دوی په پښو کې حلالوي چې وینه تویه شي او نوره دښمني پای تـه ورسېږي.))

کابل ښاریان چې د څه کم دوو لسیزو او په تېره بیا د تېرو څلورو کلونو د رنځورونکي ژوند درانه پېټي پر ملا کړوپ کړي دي. دا پېښه په بېوســه نظر څارله، څو ورځې دمخه د خلکو په ذهنونــو کــې د کــومې غمیــزې څرکونه لګېدل، زه هم ددې پېښې یو لیــدونکی او شــاهد یــم. د کابــل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په یوه ټولګي کې پر تــدریس بوخــت وم، د درسي ساعت تر پای وروسته محصلینو وویل: چې مورې سبا نه راځو! مــا وې ولې؟: مورې ته کورنۍ اجازه نه راکوي ځکه چې د توغنــدیو د لګېــدو احتمال حتمی دی. کله چې د چهارشنبې ورځ پوهنتــون تــه لاړم، نــو پوهنتون له محصلینو تش و، ډېر لږ شمېر محصــلین راغلــي وو. زه لــه پوهنتونه ښار ته دعامه کتابتون پر لور رهي شوم. ســره لــه دې چــې د توغندیو د لګېدو امکان راته حتمي برېښېده، خو د یو ضروري راســپارل شوي څېړنیز کار لپاره مې هلته تګ ضرور وګاڼه . د سهار ۹ بجــې وې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورڅېرمه د بیهقي کتاب پلورلو غرفې ته چې ورسېدم، نو د دریو توغندیو لومړنی اواز مې ترغوږ شو، لږ تم شوم، بیا یې په نسبتاً لرې سیمو کې د لګېدو غږ راغی، بېرته راوګرځېدم، کله چې د پوهنتون تمځي ته راورسېدم، نو د نورو توغندیو د (ډم، ډم، ډم) غږ راغی، خلکو اخوا دېخوا لکه د مرغیو د بچیانو په څېر منډې وهلې، داسې لکه پر چنچڼو او یا هم د سیسیو پر بچیو چې باښه پرېوزي، ټول غلي غلي پــه

دکانو او اخوا دېخوا ځایونو کې ننوتل. هر څوک (انسان) چــې د کابــل د خلکو دا حال ویني، نو له سترګو څه چې له ذهن او زړه نه به یــې هــم ورته ویني او اوښکې وڅاڅي.

یو سرویس موټر په ډېرې وارخطایۍ په همدې تمځي کې ودرېــده، پــه موټر کې پورته شوم او د پوهنتون پر لور رهي شوم، په لاره کې د توپونو د نورو پرله پسې ډزو غړونه راتلل او د اجل نیولو تر روحه یې ځان رســاوه. کله چې پوهنتون ته ورسېدم، نو نیم ساعت وروسته یو چا دا خبــر راوړ، چې د پوهنتون په تمځي (پل باغ عمومي) کې د دوو ټکسي موټرو ترمنځ توغندی ولګېده او دواړه له سورلۍ ډکو ټکسیانو اور واخیســت او ټــول پکې ایره شول. یوه بجه شوه، له پوهنتون څخه د عملیې په موټر کــې د کور (کارګرې قصبې) پر لور رهي شوم. کله چې موټر د خیرخانې مېنــې پنځه سوه کورنۍ څلور لارې ته ورسېده، نو یو زیات شمېر نتلي، سپېره او رنګ الوتلي خلک موټر ته راوختل، یو سپین ږیري سمدلاسه په توبــو او سپکو پیل وکړ، چا لا پوښتنه هم نه وه کړې، چې ده د ښار د مرګ ژوبلې داستان پیل کړ، سره له دې چې عمر یې خوړلی و، خو همدا یې ویل (من امروز تولد شدم امروز تولد شدم) زما ترشا څوکۍ کې یو بل رنګ الــوتي ځوان هم دا فریاد کاوه، هغه د سرحدونو چارو وزارت کار کوونکی و، پــه بنده بنده ژبه یې وویل: په خپلو سترګو مې ولید چې زموږ د وزارت د یو مدیر سر د هغه له تنې غوڅ شو، هغه په مینوبوس موټر کې ناست و، چې د توغندي یوه ګرمه او سره پارچه یې پر ستوني ولګېده او سر یې ورته له تنې څخه جلا کړ. په موټر کې خلکو دې ناستو حاکمانو ته دومره بد ورد ویل چې په لیکلي بڼه یې قلم او کاغذ له دود سره سم نه شي زغملای.

کله چې له موټر نه کښته شوم، نو د وزیراکبرخان له روغتون څخه یــو تن راغی، وویل چې: نن یې دې روغتون ته زښت ډېر ټپیان او مړي راوړل، د چا لاس نه و، د چا پښه، څوک پر یوځای لګېدلی، څوک پر بل ځای، د یوه پښه لاندې زنګېدله او په چیغو چیغو یې ژړل. ډاکترانو یوه خوا او بله خوا منډې وهلې، ټپیان ډېر زیات وو، یو ډاکټر چې د دې ماشوم او نــورو زیاتو ټپیانو حال ولید، نو پخپله پرې ضعف راغی او له نورو ناروغانو سره یې ده ته هم سیروم چالان کړ.

# د قدرت د انتقال مساله

دا ليکنه هم د وفا جريدې د پنځم کال په (۲۷-۲۸)مه گڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال د زمري (۹)مې نېټې سره سمون خوري، د (نيازي) په بدل نامه خپره شوې ده.

**څلور کاله کېږي چې په کابل کې د قدرت(!) د انتقال پر سر ټول هېواد له ستونزمن، دردمن او رنځوونکي حالت سره مخامخ شوی دی. جنگونه وشول، مرگونه وشول، جرگې وشوې، مرکې وشوې، دسيسې او معاملې وشوې، له جلال اباده تر اسلام اباده، له کابله تر پېښوره، او ان تر لوړې کعبې شريفې پورې عهدونه وشول، قسمونه وخوړل شول، سوگندونه ياد شول، پر قرآن لاسونه کېښودل شول، دا وشول او هغه وشول او... خو دا ټول يو په بل پسې په اوبو لاهو شول، د ملت هيلو، غوښتنو، اتلوليو او د ولس ټول پاتې مادي او معنوي شته د ايرو او خاورو پر څلو بدل کړای شول.**

**له ظاهري پلوه دا ټول زيانونه د قدرت پر سر پر پاتې کېدو، د کابل د چارواکو ټينگار او د دوی د راپرځونې لپاره د دوی د مخالفينو د هڅو په پايله کې رامنځته شوي دي. په اساسي مانا خو په افغانستان کې حکومتي ځواک د (۱۳۷۱ لمريز) کال د ثور پر مياشت د يوې دسيسې په نتيجه کې چې خپله چارواکي يې هم ددې توطيې غړي وو، وپاشل شو**

او برخه برخه د جهادي تنظيمونو لاسته ورغی. د اوسنيو چارواکو برخه هم په دې وېش کې د ياد وړ وه او د دوی برخه په دې هم درنه شوه چې د دولت(!) نوم ورته ورکړ شو. دغه راز روسي چاپ افغاني بانکنوټونه چې نور (تنظيمي حکومتونه) ترې بې برخې وو، روسانو دا (نعمت)(!) پر دوی ولوراوه.

چارواکي په دې نظر وو، چې له قانوني او نا قانوني لارې بــه د خپلــو لاس لرلو وسلو او بې پشتوانې نوټونو په زور خپل مخالفين ژر له منځه يوسي، بيا نو که هر ډول اداره وي، د دوی مخالفين به نه وي او ((ولس به له يوه انجام شوي عمل سره مــخ وي)) خــو داســې ونــه شــول، د مخالفينو د مخالفت په نتيجه کې که پخواني مخالفين کمــزوري او لــه دوی سره يې يوځای سياسي حيثيت ختم شــو، نــو نــوي او تــازه دم مخالفين پيدا شول او ان تر دې پورې چې د چړې څوکه يې د چارواکو تر غاړې ورنږدې شوه، همدې فشارونو چارواکي په اصــطلاح اســتعفی کولو ته جبراً متمايل کړل، دغه او هغه نېټه، دغه ورځ او هغه ورځ به يې د خپلې استعفی نېټې وټاکلې، خو هغه ورځ چې به رانږدې شوه، بيا به يې پرې وفا ونه کړه. په حقيقت کې خو خبره دا ده چې چــارواکي نــه استعفی کوي او نه دې ته حاضر دي او نه هم د استعفی کولو پوره وس لري، اوس راځو دې ته چې ايا چارواکي به دا خوندونه او دا خزانې بــل چاته پرېږدي؟؟

د ويل دورانت امريکايي په قول: ((اپلاتون به ويل چې د وروسته پاتې ټولنو د اداري لپاره اشرافي او دکتاتوري حکومتونه پــه کــار دي)) لــه اشرافي اشخاصو څخه د اپلاتون مقصد دا و، چې د دوی زياتې غريــزې مخکې تر مخکې مرفوع شوې وي او دکتاتوري يې د يوې وســيلې پــه توګه د دې ډول ټولنو لپاره ځکه غوره ګڼله، چې وروسته پاتې ټولنې له دکتاتورۍ پرته نه شي کنټرولېدی او زياته دموکراسي کېدی شي هغو ته په انارشي بدله شي.

کله چې موږ د ځينو چارواکو فردي شخصيت ته ګورو، نو په هغه کې د يو سياسي شخصيت ډېرې نيمګړتياوې ترسترګو کېږي: يو دا چې دی له فکري او روحي پلوه دې حد ته نه دی رسېدلای، چې څوکۍ دې تر خپل شخصيت ټيټه وګڼي. اوس هم پر خپــل شخصــيت هــر ډول داغونــو ايښودلو ته تيار دی، خو مقصد چې دی پر دې کرسۍ پاتې شي، ځکــه چې دا چارواکي د ټولنې له يو ډېر ټيټ قشر څخه دي. نو هغه څوک چې د اقتصادي محروميت دغسې ټکلې غريزه ولري ايا دا خزانې چې اوس دی پرې ناست دی، ملت ته پرېږدي؟ د کابل ښار خو لا څه چې يــوازې دوه سپين تعميرونه او دا ډول د پيسو خزانې ورسره وې. هېڅکله به يې چاته پرې نږدي، نوم بدوالی او د شخصيت کوم سپکاوی چې د هغــو د کړنو په نتيجه کې هغوی ته په برخه شوی، هغه باندې خــو اوس د چــا خبره سر هم نه ګروي (( اوبه چې په سر واوښتې څــه يــوه نيــزه څــه لس...)) له دې پرته کوم څيز چې د چارواکو په فکر او شخصيت کې په

عملي، ذهني او ضمني ډول لیدل کېږي او زموږ د ولس د ګټو خلاف او د کرکې وړ دی، هغه د هېواد د اکثریت قوم پر وړاندې د کینې او تعصب درلودل دي.

کوم کسان چې د ځینو چارواکو پر شاوخوا راټول دي، هغوی ټول خپله ګټه او ژوند په همدې جګړه کې ویني، ځکه چې اوس نه کوم قانون شته، نه کوم پارلمان، نه کومه پوښتنه او نه کومه ارزونه (ارزیابي). یو چارواکي په ( د افغانستان بانک) کې یو ځانګړی حساب (۹۰۰۰) باب پرانیستی او دا د ده داسې باب دی، چې د پیسو د لګښت وجه یې څرګنده نه ده. داسې میاشت هم راغلې، چې یوازې له دې باب څخه یې له لس زره ملیونو نه نیولې تر پنځه لس زره ملیونه افغانیو پورې پیسې بېلابېلو اشخاصو ته ورکړې دي، نور حسابونه د پیسو خو لا څه کوي، هلته بل چارواکي ځانته بله پاچاهي جوړه کړې ده. د پیسو اصلي ټولواک هغه دی. پیسې له مسکو نه د باګرام هوايي ډګر ته راځي، څه چې یې زړه وي هغه هلته ستنوي او څه چې په کابل کې پکارېږي، هغه هلته لېږي. له دې پرته ځینې نور هم د پیسو د وېش صلاحیت لري. نو اوس که ځیر شو په هېڅ یو ملک کې هېڅوک د پیسو د داسې وېش صلاحیت نه لري، نو ایا چارواکي له دې خزانو څخه څنګه پورته شي؟

هسې د خبرو او مذاکرو له لارې د خبرو سیاسي حل یو انساني اصل دی او اکثره اشخاص هم ظاهراً په اخبارونو، مرکو او خبرو کې د تفاهم او

خبرو اترو له لارې د قضيې حل غواړي، ان چارواکي هم د سولې له لارې د خبرو فيصله کولو ويناوې کوي، خو په زړه کې خبره بله ده.

ځينې چارواکي او هم نور اشخاص په خپلو زړونو کې ښه پوهېږي، چې دا اشخاص هېڅکله له خپل دې اوسني حالت نه لاس نه اخلي، خو بيا هم په متحدالمال دول او د سياسي نزاکتونو(!) لپاره جگړه مـار هـم د سولې خبرې کوي او سوله دوست هم. که واقعيت او حقيقت تـه پـام وکړو، له سياسي نزاکتونو څخه سياسي واقعيتونو ته مخ راواړوو، نو وبه وايو چې له دغو لارو چارواکي سقوط نه شي کولای ؟ له هرې ممکنـې لارې د بې پشتوانې روسي چاپ افغاني بانکنوټونو بندول او يا له هغـو څخه د ځينو چارواکو د لاسونو لنـډول ددې ادارې د سـقوط عوامـل کېدلای شي.

# یرغمل شوی ولس

> دا لیکنه د وفا جریدې د پنځم کال په (۳۵-۳٦)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال د تلې له (۹)مې نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده.

**څه کم پنځه کاله کېږي، چې د کابل پر ښار باندې د بېلابېلــو جګـړه مارو ډلو او تنظیمونو بېلابېله او پراو په پراو تنظیم واکي تېره شــوې او تېرېږي. په دې موده کې په ښار کې تقریباً ټوله ملي شتمني او د ښار د خلکو اکثره شخصي شتمني د جګړه مارو ډلو له خوا چور شوې او یا له منځه وړل شوې ده.**

**په کابل ښار کې اکثره جګړې (( د کابل د دفاع))(!) په نامــه ترســره شوي. هرې ډلې باندې به چې د بلې ډلې له خوا توغندي وویشتل شول، نو هغوی به دا بله غاړه ملامته کړه، چې پر کابل یې توغندي ویشــتلي. که څه هم د دوی د (( دښار د دفاع)) (!) توغندي هم پر همدې کابــل لګېدلي، خو دې غاړې به د ښار بله غاړه او سیمه چې دمقابل لوري په لاس کې وه، د کابل څه چې ښځي د افغانستان برخه نه ګڼله. د ساري په توګه د ۱۳۷۱ کال د ثور میاشتې پر ۴ یا ۵ ورځ د کابل له واکوالو څخه دوه تنه یو بل ته د مخابروي خبرو اترو په ترڅ کې اخطار ورکــوي چــې کابل ښار ته خپلې لښکرې راونه لېږي که نه دی به د کابل لــه ښــار او خلکو څخه ((دفاع))(!) وکړي. همدارنګه یو بل حزب د خپل ځان دفاع، د کابل د غرب د خلکو دفاع ګڼله او همدارنګه نورو بېلابېلو تنظیمونــو**

ترخپل لاس لاندې سیمې د خلکو د سر ومال د ساتنې او دفاع په نامه تر خپل واک لاندې ساتلې، خو حقیقت دادی چې ددې ډلو د موجودیت او ((دفاع))(!) په وجه د کابل هره برخه ویجاړه او هر ډول شتمنۍ چور او وسېزل شوې. د خلکو سر ومال، عفت او عــزت تــه درانــه زیانونــه واوښتل. عجیبه خبره خو دا وه چې د خلکو د کورونو د دفاع په نامه د هغو کورونه چور، د سر او مال د ساتنې په نامه د هغو ســرونه غــوڅ او مالونه چور او عفت یې لوټ شو، خو د دفاع(!) هېڅ ډول پته ونه لګېده، خو که فرض کړو دا ((دفاع))(!) هېڅ نه وای، نو د کابل خلکو ته به څه زیان اوښتی وای؟ څرګنده خبره ده چې نه به څلوېښت زره ښاریان مړه شوي وای، نه به یو ملیون وګړي مهاجر شوي وای، نه به تقریباً اتیا زره کورونه او دوه  زره لویې او وړې فابریکې او دســتګاوې لــه منځــه وړل شوې وای. عجیبه خبره خو دا وه چې د کابل ښاریانو څخه دا حق هــم اخیستل شوی و، چې دوی په ډاګه ویلي وای چې ستاسو له ((دفاع)) نه مننه، خو موږ پرېږدئ چې په همدې بېدفاعۍ کې ژوند وکړو. کله کلــه خو داسې هم پېښ شوي، یوازې هغه سیمې چې د چارواکو تــر ولکــې لاندې وې، د کابل د ښار په نامه یادېدلې. مثلاً که د تنظیمونو له خوا به د ښار پر منځنۍ او یا شمالي برخه توغندي وورول شول، نو د کابل لــه راډیو څخه نیولې بیا تر نورو بهرنیو راډیوګانو پورې ټولو به پــر کابــل د توغندیو خبر خپور کړ، خو کله چې به د کابل چارواکو د کابل پر درېیمې کارتې، جمال مېنې، سید نورمحمدشاه مېنې، رحمان مېنې، شاه شهید او ان پر زرو مکروریانو توغندي او د الوتکو بمونه وورول، نو بیا به په هغه تېر څرنګوالي سره دا خبر نه خپرېده. د کابل هغه  برخه چې د چارواکو ترلاس لاندې وه، د هغو ویاند به ویلې چې: (( د کابل دفاع))(!) زموږ حق دی. هغوی کابل همغه سیمه ګڼله چې د دوی تر واک لاندې وه. دوی د کابل د جنوب، جنوب ختیز او جنوب لویدیز ورانول د کابل دفاع ګڼله.

چارواکو یو ځل بیا د کابل ښار او د هغه ولس، د خپلې ساتنې او ځان پټونې وسیله وګرځوله. دوی د ښار د ګڼ مېشتو سیمو په منځ کې درندې او وژونکې وسلې ایښې او هره شېبه د مخالفینو پر مورچلو ګولۍ ورویې. کله چې هغوی هم د دوی په شان عمل ترسره کړي، نو دوی یو ځل بیا چیغې پورته کړي چې دا دی ښار یې وویشته او ولس یې تباه کړ، خو خپله یې چې د کابل ولس د یرغمل په څېر د خپلو توپونو او ټانکونو مخ ته ودرولی او تر شا یې پر خپل رقیب ډزې کوي. هغه خپل حق ګڼي. اوس د کابل ښار شاوخوا پرتې سیمې په ځانګړي ډول هغه سیمې چې هغه د مخالفینو لاس کې دي، هغه د دوی په نظر د افغانستان خاوره نه ګڼل کېږي او نه هلته افغانان اوسېږي، د هغو سیمو ورانول او ویشتل دوی ته هېڅ دي. اوس یو ځل بیا د کابل ښار او د هغو د اوسېدونکو کورونه د مورچلونو حیثیت لري، چې له دې ځایه د دې ښار چارواکي پر خپل دښمن ډزې کوي، خو هغوی پر دې ځای د ډزو کولو له کبله ګناهکار دي. د کابل ښاریانو ته یو ځل بیا دا سوال پیداکېږي، چې د دې ((دفاع))(!) ازرښت به څه وي، چې زموږ د کورونو له بامونو مو مورچې جوړې کړي او موږ ټول دې د خپل توپ مخې ته د یرغملیانو په شان ودرولي یو او ځان دې زموږ ترشا پټ کړی دی؟ مهرباني وکړه یا وړاندې لاړ شه او یا شاته لاړ شه! موږ له دې ((دفاع))(!) څخه په نه دفاع خوښ یو.

# غني، غني دی

> دا لیکنه له کابله خپرېدونکې (هنداره) جریدې د (۱۳۷۵ل) کال د غـویي پر (۱۶)مه په خپله اتمه گڼه کې خپره کړې ده.

کله چې د پښتون ملت د ستړي ژوند د تاریخ پاڼې را اړوو، نو وینو چې دې کړېدلي، دردېدلي، سوزېدلي، خو



ویاړمن ملت د څومره غمیزو توپانونه زغملي او زغمي یې. څـومره چـې د طبیعت نـاخوالې او کړاوونـه زیـات شوي، همغومره لوی څښتن تعالی دې ملت ته د تورې او قلم داسـې ډالـۍ ښښلي، چې د هر یرغل او هر توپان پر وړاندې یې خپله شمله هسکه ساتلې ده.

که یو وخت د امیر پولاد سوري زوی؛ امیرکروړ جهان پهلوان په یوه تن له سلو جنگاورانو سره جنگېده او د غور پر غرونو به ((زه یم زمری پـر دې نړۍ له ما اتل نسته- پر هند و سند و پر تخار و پر کابل نسته- بل پر زابل نسته- له ما اتل نسته)) پرتمینه سـندره زمزمـه کېـده، غـرج و بامیان، تخار و هرات د ده د تورې د ځلا، پوهې او لورېینې تر سـیوري لاندې ژوند تېراوه او ان تر ((رومه)) پېژندوی و، نو بل وخـت خـو بیـا سلطان شهاب الدین غوري او شېرشاه سوري د پښتنو د عظمت او پرتم

بیرغ د نړۍ د ((سرو زرو مرغۍ)) او ((خم)) (هندوستان) پــه زړه کــې ورپاوه.

که یو مهال (هوتک بابا) پښتانه زلمي د مغولو د یرغل پــر وړانــدې د خپل هېواد د پت ساتلو لپاره ننګ ته رابولي:

(( پر سور غر بل راته نن اور دی- وګړیه جوړ راته پیغــور دی
پر کلي کور باندې مغول راغی- هم پر غزني هم پر کابل راغی
آه د مرغې غښتلیو راسئ - پر ننګ ولاړ د پښــتونخوا ســئ
تورې تېرې غشي تر ملا سئ - پر کلي کور باندې مغــول راغــی))

نو بل وخت خو بیا (روښان پیر) هم د پردیو پر وړاندې د خپلې پــوهې، همت او غیرت رپی اوچت کړی دی.

که یو وخت (ایمل خان) او (دریا خان) له مغولو سره پــه تــاترو کــې ډغرې وهلي او خان علین مکان (لوی خان خوشال خان خټک) د لویې پښتونخوا په غرونو کې د خپلواکۍ د باز او شاهین وزرې خورولې او په همدې هیله له یوه ځولۍ ارمانونو او هیلو سره د داسې غره په لمن کې ځان له ابدیت سره یوځای کوي، چې د مغولو د سورو د اسونو ګرد، دده پر قبر پرېنوزي، نو بل وخت یو بل لوی پښــتون (میــرویس نیکــه)(رح) د پښتنو د برم شمله اوچتوي، د ګورګیانو د وحشت برجونــه نــړوي، تــر اصفهانه د پښتنو د واک عظمت خوروي او بیا پخپلــه (شــاه حســین صفوي) خپل تاج له افغان فاتح (شاه محمود هوتک) سره غوره بولي.

که یو وخت نادر افشار د پښتون اتل سیدال خان ناصر سترګو ته چې د نور او غیرت سپرغۍ ورڅخه بادېدلې مخامخ کتلی نه شــول او دواړه غبرګې سترګې یې د دوو په اور سرو دوکانو پواسطه ورڅخه را ایستلې،

نو بل وخت غیرتي او لوی احمدشاه بابا تر ډهلي پورې د خپل پت او ابرو (پاني پت) جنګ ورساوه او د ایران د نیولو لپاره به خــو پــه ((ډول پــه نغاره)) او خوشالۍ سره روان و.

خان عبدالغني خان ددغه ویاړمن او بــاتور ولــس یــو جنګیــالی او فرهنګیالی استازی دی. غني پــه یــوه داســې کــورنۍ کــې ســترګې پرانیستي، چې د خپل ولس د ازادۍ لپاره یې شپه او ورځ پر ځان یــوه کړې وه. غني له خپل بډایه شاعرانه فطرت سره په همدې ګرم سیاسي چاپېریال کې ځوان شو، شاعر شو، مصور شو، جنګیالی شــو، فلســفي شو، ((لېونی)) شو او د ژوند د ډول ډول ناخوالو جامونه یې پر سر واړول.

غني لا کوچنی و، چې له شعري مرغلرو ډک تخیل او شاعرانه فطرت یې زړګی وتخناوه، پر ښکلا یې مین کړ، پر ګلونو یې مین کړ، له مینــې سره یې مینه وکړه، خپل روح او روان یې د مینې د زمزم په اوبو ووینځه او د جام تر سیوري لاندې یې د قام د ارمانونو سندرې وویلې:

((زهــــر یــــې څکــــل حــــرام ورتــــه کتــــل

بــــې مینــــې ژونــــدون دی، لکــــه بــــې سُــــر ســــتار))

غني د خپلې مینې لپاره د ښکېلاک په (پنجره) کــې ډېــرې چغــې ووهلې، د زړه له وینو یې ((پلوشې)) جوړې کړې او خپله ورته (پانوس) (پانوس) شو.

کله چې د غني فردي، کورني او ادبي ژوند ته پام را اړوو، نو په لومړي ګام کې خو د سړي په سترګو کې دا تصویر تېروبېر کېږي، چې غني ګنې په یوه مجلله- وړانګینه کورنۍ کې زېږېدلی، له دردونو، غمونو، کړاوونو او د زمانې له ربړونو څخه ګوښې پاتې شوی دی. د غني انځور ورته په یو

داسې بڼه تداعي کېږي، چې يو ښکلی اشرافي شخص د سرو ګلونو په منځ کې د ورېښمين تخت له پاسه قلم په لاس د شعر ناوې جوړوي، په څنګ کې يې صراحي او جام ايښي او غني يوازې د شاعرانه تخيل پـه دريابونو کې ډوب دی، هو د غني په ښکلا او ښايست کې خو هېڅ شک نه شته: ((ډېر ښکلی و او د مور و پلار ډېر نازولی و. پر غاړه به يې د سرو زرو درنه اوړۍ وه او پر ښي غوږ به يې د سرو زرو والۍ وه، پر سر به يې تيله داره د پوندېونو ډکه ټوپۍ او په ټوپۍ کې به يې يوه زرينـه جوغـه ټومبلې وه، چې د جوغې نه چاپېر به دوه درې د نظر ماتي تاويزونه تـاو شوي وو.)) هو غني ښکلی و، د هغه په ښکلا د ډهلي، پاريس او لنـدن ښاپېريو زړونه بايلولي وو.

هغه له کوچنيوالي ډېر ښکلی و، خو د غنـي د ټکلـي، سـوزېدلي او غمځپلي زړه او روح څخه هغه وخت څوک ښه خبرېدی شي، چې پـه ورځو ورځو او شپو د غني د تخيل، اند او فکر په لوړو او ژورو کې د يانه (سفر) تکل وکړي.

غني غني دی، هغه د پښتو ادب يو داسې ناسپړلې خزانـه ده، چـې سپړل يې لا ډېر وخت غواړي او ژور فکر. کله چې د غني په نـړۍ کـې سفر کوو، نو لومړی غواړو د هغه زړه ته ننوزو او وګورو چې د غني د سرو ټپونو په دې کان کې څومره سکروټې او اورونه پراته دي:

د غني زړه چې د مينې له ګلونو ډک دی، تر هر څه دمخه خپل زړه د لوی خدای(ج) کور ګني، هغه د خپل زړه په هنداره کې د لوی خدای(ج) د قدرت وړانګې ويني او دا هغه څه دي چې ده په بل ځای او مکان کې لاسته نه دي راوړي.

په جومات کې مې ونه موند- په مکه کې رانه ورک شو
خدای مې زړه کې راپيدا شو - چې مې مخ د يار کړ ښکل
دا هغه فکر او اند دی چې پر خدای پالنې ډېر گروهمن (عقيده من) پوهان په دې نظر دي او (زړه) د مينې د پالنې او روزنې ځای او ساتنځای گڼي.

غني د يو خوځند، حساس او دراک انسان په توگه د ژوند د ډېرو رمزونو راز ته متوجه دی، دی ژوند له غم او خوشالو، گډ او له خندا څخه يو رغېدلی څيز بولي.

د لرغوني يونان د اتيکا دورې يو نامتو ډرامه ليکونکی (اشايلوس) وايي: ((په ژوند کې بايد په هر غم پسې يوه ښادي او په هرې ښادۍ پسې يو غم راشي، چې د ژوند پانې مانيزې او رنگارنگ کړي.))

غني وايي:

چې په ژوند کې سختي نه وي - لکه بې مالگې طعام
چې په خوله کې خندا نه وي - لکه ډک د خاورو جام
ژوند نه ختم نه مانۍ وي - نه ډېرۍ د سرو لالونو
نه ياران نه معشوقې وي - نه باغونه د گلونو
ژوند خو تله دي يو په مخه - غورځېدل او پاڅېدل دي
تکی سوز او تکی ساز - څه خندل دي څه ژړل دي.

قومپالنه او پښتونپالنه د غني د ژوند او شاعرۍ يو بل اړخ دی، د هغه د ځوانۍ په ژوند چې کله د پسرلنيو بارانونو ورېدل پيل شول، نو له دې سره جوخت يې کورنۍ د خپلواکۍ د گټلو او د ښکېلاکگرو له جغ نه د خپل اندو ژوند د ازادولو لپاره سياسي مبارزه هم ښه په گرمۍ سره روانه

کړې وه. غني د خپلې ځوانۍ شېبې هم له همدې ایډیا څخه لوګی کړې ((د زلمي پښتون)) په نوم یې یو تحریک جوړ کړ، چې شاوخوا اتیا زره ځوانانو په کې ګډون درلود.

لکه څنګه چې د غني شعري سکښت او د ده د کلام له رواني او روحي مانا څخه ښکاري، غني د ګرمې وینې او ګرم احساس څښتن او رواني جوړښت یې د عامو پښتنو له جګړه ییز سایکلوژیک جوړښت پوره سمون درلود، نو د (عدم تشدد) د لارې په اډول یې د تورې په زور د دښمن ماتې غوره ګڼله، نو له دې کبله دده د اورني پښتني احساس، او د زړونو د پاچا ( باچاخان) د عاطفې او احساس دتګلارو ترمنځ ټکر منځته راغی. غني خان د خپل پلرني احساس او مینې تر سیوري لاندې خپله توره په ناهیلي زړه کېښوده او د شعر د نړۍ روحي ډاډ ځي ته یې پناه یوړه.

وایي پر هر چا چې غم زیات شي، نو دریو شیانو ته به مخه کوي: یا به شرابي کېږي، یا به لېونی کېږي او یا به شاعرۍ ته پناه وروړي.

نور غني هغه غني نه و، چې چا په پاریس، لندن او امریکا کې لیدلی و او نه هغه غني و، چې په ځوانه ځوانۍ کې د هند پارلمان ورته په یوه پښه ولاړ و. غني د قام د غمونو د هېرولو لپاره لکه خیام د جام سیوري ته پناه وروړې وه، اوس نو یوازې غني و او جام، د تخیل په وړمو پوښلې شاعرانه نړۍ او د خپل قام او ولس غمونه:

خدایه شکر چې پیدا دې له دې قام کړم
د پښتون د نر وجود دې یو اندام کړم

چـــې خـــر مخـــی ورور پښـــتون ســـینې لـــه درشـــي
درنـــه هېـــر بـــه تـــول ښایســـت د بحـــرو بـــر شـــي

پـــه والله چـــې لـــه جنتـــه شـــم راســـتون
کـــه کنځـــل پـــه کـــې وانـــه ورم د پښـــتون.

لکه څنګه چې ښکاره ده، شاعر د عاطفې او احساس بچی دی، غني هم په خپل فردي ژوند کې د پلرنۍ- مورنۍ، مینې او عاطفې په سمندر کې ډوب و، د باچاخان عاطفي نړۍ، د غني د روح او روان ټـول مـزي داسې سره تړلي وو، چې د هغه ګرمه وینه او یاغي احساس یـې مهـار کړي وو. هغه د خپلې پلرنۍ مینې په څپو کې ډوب وو:

بابا ته:

ســـتا خطونـــه ټـــول زمـــا ســـرته پراتـــه دي
زه یـــې لـــولم هـــره شـــپه دوبـــار دوبـــار
کلـــه خانـــدم کلـــه ژاړم لېـــونی یـــم
ای زمـــا پـــه بنـــد کـــې پـــروت غریبـــه پـــلاره!
نه، ته نه یې غریـب تـه ډېـر لـوی اوچـت یـې
مصـــیبت دی ســـتا عـــزت تـــه عـــزت داره
خـــدای بـــه رحـــم و پـــه تـــا بانـــدې لـــر کـــړی
بـــل ښـــه زوی بـــه یـــې و کتلـــی ســـتا دپـــاره
چې په تا کې کوم جوهر دی مـا کـې نـه شـته
ســـتا نیکـــی زمـــا بـــدی دواړه بـــې شـــماره
تـــه ســـالار یـــې د کـــاروان پـــه نېغـــه لار ځـــې

زه کـــوږ ځغلـــم لکـــه اوښــــه بـــې مهـــاره
ســـــتا د زړه فـــــوارې ډکــــې دي د مینــــــې
زمــــا زړه دی وچ کـــــوهي نـــــه لـــــري داره
وهـــي منـــدې تـــا پســـې خـــو تـــه هـــم لـــرې
ویـــــنم ســـــتا ایلــــه ایلـــــه د پښـــــو غبـــــاره
پـــروا نـــه شـــته کـــه پـــه منـــډو منـــډو مـــړ شـــم
فقـــط ســـــتا او د خپـــل قـــوم د نـــوم دپـــاره.

غني لکه څنګه چـې دی د پـلار پـه عـاطفي مینـه کـې ډوب دی همدارنګه د مور د غم هغه تپ چې ده د خپل عمر په ۵ کلنۍ کې لیدلی و، د ژوند ترپایه ورسره ملګری و.

ګر چې خاورو کې دی پـټ وجـود سـتا مـورې
ما تـه یـادې هغـه شـان سـتا سـترګې تـورې

مـــورې! ســـتا لاســـونه مـــا نـــه نـــه دي هېـــر
چـــې تکلیـــف کـــې بـــه زمـــا نـــه و چـــاپېر.

غني د یو مصور او انځورګر په توګه دا ځواک درلود، چې د یو تـاکلي تخیل د زخمونو فوارې انځور کړي، د خوب شېبې په ویښــه راواړوي او هغه څه چې په خولې نه شي ویل کېدی، د خوب په جامه کې د کاغذ پر مخ ترسیم کړي.

غني د (فریدون د مورخط) تر سرلیک لاندې په یو ښکلي شعر کې د خپلې مېرمنې د ښځینه احساس هغه نا ویلې او نا سپړلې عاطفي غوټې په شاعرانه ډول سپړلي چې تراوسه لا په پښتني ټولنه کې د ښـځې د

اندروني احساس او درد بیان، یا د ښځو د نالوستوب، کملوستۍ او نا بشپړ کلام له کبله او یا هم د حیا او شرم د اور تر کړیو لاندې، همغسې په خپل زړه کې ساتل کېږي.

غني دا درد او د زړه خواله د خوب په بڼه انځور کړي او د یوې پښتني مېرمنې د زړه د دردونو پوره عکاسي یې کړې ده:

هغه وایي: ((دا زما د واده په دولسم کال په ۱۵ تاریخ د جون د میاشتې ۱۹۵۱ زما صرف یو او یوازنی زوی فریدون ((رستم جنګ)) پیدا شو. د هغه مور د پېښور په هسپتال کې وه او زه لرې په هزاره کې ناجوړ پروت وم. هر وخت به چې د کوټې د دروازې په مخکې یو تور بدرنګه ټوپک او سنګین په لاس پولیس ولاړ وو. ټول جهان تور او تاریک وو، د وجود د ناجوړتیا سره مې روح هم د مایوسۍ اخري مقام ته رسېدلی و چې ناګهانه خبر راغی چې زوی دې وشو. ما وی ښه ده غني روک خو یې میرات خو نه یې.

ددغې ورځې د درد او د خوشالۍ بیان زه نه شم کولای، خو درد او خوشالي دواړه انسان ډېر ستومانه کوي او چې اخر مې سترګې د هوش دنیا ته پټې کړې، نو څه وینم چې د فریدون مور راغله او ماته یې یو خط په لاس کې کېښود.

دا هغه خط دی:

ما د دوو لپو خاورې تا له ژوند او جهان جوړ که
خپلې مینې داسې یوړم بل مې تاله جانان جوړ که
دا چې زه د وفا ډکه د جنون جهان له لاړم
دا مې لال هغلته ومونت د همه لالونو ښکلی
دا زما د غرور نخښه د هغو ګیلو جواب دی

چــې بــه تــا پــه ماښــامي کــې ماتــه کــولې غلــې غلــې
دا ثبـــوت زمـــا د مینـــــې د ایمـــان او د وفـــا دی
دا زمــا روح چــې روښــان شــو، دده ســترګې یــې کــړې بلــې
دا تصـــویر زمـــا د ژونـــد دی څـــه خنـــدا ده څـــه ژړا ده
د شـــــهبازو وزر شـــــخ دی پوســـــت ســـــرونه د بلبلـــــې
دا ثبـــوت د شـــاه د مینـــــې، دا ازادي ده د غـــــلام
دا انعـــام د ټولـــو ښـــکلی د همـــاو رنګینـــــی جـــام
دا تعبیـــر ســـتا د خوبونـــو او زمـــا د مـــخ ارمـــان دی
ما جوړ کـړی د خپـل ځانـه ښـکلی عکـس سـتا د ځـان دی
پــه صــحرا مــې وو خــور کــړی ســور څــادر د ګلســتان دی
هــره ســاه کــې مــې لیکلــی نــوم د مینــې د جانــان دی
دا چـــې زه ســـتا د خوبونـــو د جنـــون تـــالاش کـــې لاړم
ستا خانۍ له مې جـوړ کـړی سـتا نـه ښـه غونـدې یـو خـان دی
دا چـــې مـــا ســـتا وزرونـــو کـــې ارمـــان د عقـــاب ولیـــد
دا عقاب مې ستا نـه جـوړ کـړ، هـم عقـاب هـم یـې ارمـان دی.

غني لکه هر شاعر پر حسن مین دی او دی په دې لاره کې دومره بې پروا دی چې هر څه په ډاګه وایي. شاعران ټول حسن پرســت دي، یــو شاعر وایي:

یار مې د ســپین ســتوري پــه څېــر خوښــېږي
لاس مـــې ســـپوږمۍ ځنـــې چـــاپېر خوښـــېږي
شـــاعر ســـړی یمـــه رښـــتیا بـــه وایـــم
دا ښـــکلي نـــه دي، دا مـــې ډېـــر خوښـــېږي.
(کاروان)

غني هم د خدای(ج) له درباره د خپل جانان د ټیک لپاره د سپوږمۍ یو څاڅکی غواړي، هغه د نور څه وړی نه دی، هغه له مینې جوړ او پـر حسن مین دی.

یو د سپوږمۍ څاڅکی درنه ټیک له د یار غواړمه
زه یــــم د خوبونــــو د لالونــــو ګــــدا نــــه یمــــه.

غني، مینه د (ادم) جوهر او حسن د ژوند رنګ بولي او لکــه اســتاد الفت چې مینه د انساني ژوند د کړاوونو د خلاصون اساسي لاره ګڼــي، هغه د مینې او مینتوب په باب په خپل یو نثر کې لیکي: سکندر له ډېر لوی لښکر سره د یوه ښار د نیولو هڅه وکــړه، د ښــار خلکــو ســخت مقاومت وکړ، سکندر ډېر په غوسه و او داسې معلومېده چې د ښار تــر نیولو وروسته به د ښار ټول خلک له تېغه تېر کړي، کله چې ښار ته دننه شو په یوې ښکلې پېغلې یې سترګې ولګېدې، هغه زړه بایلود او څنګه چې جنګ په زړه کېږي، نو هغه زړه بایلولی و. ســکندر ددې پېغلــې د مینې او ښکلا په وجه د ټول ښار وګړي وبښل.

غني هم په مینه کې ډوب او پر ښکلا مین، مینه وړی شاعر دی، هغه ښکلا یو سمندر، سپوږمۍ او زهرا بولي او مینه د ادمیت جــوهر او بــې زواله حقیقت.

او تپـــوس د حســـن مـــه کـــړه - ســـمندر شـــي څـــوک تللـــی څـــوک ســـپوږمۍ شـــي رانيـــولی - څـــوک زهـــرا شـــي ښـــکلولی. دی وايي:

((حسن حسن لټومه - که په غرو يي که په سمه

زه په مينه مينه پايم - بې د مينې مرمـــه مـــرمه))

✵ ✵ ✵

ســـتوري تـــه اســـمان کـــې يـــوه ورځ ووې هـــلال

خـــدای ادم لـــه مينـــه ورکـــړه مـــونږ لـــه تـــش جمـــال

زه بـــه پـــه خنـــدا ورکـــړم دا خپـــل ښايســـت کمـــال

ما له که يـو څـاڅکی مينــه راکـړي څـوک پـه ســوال.

# ننګیال یو شاعرانه شخصیت

دا لیکنه ما د اسحق ننګیال د زوکړې د څلوېښتمې کلیزې پـه ویـاړ کـړې وه او پـه هغـه علمـي غونـډه کـې هـم اورول شـوې وه، چـې پـر (۱۳۷۵ل) کال د ننګیال د څلوېښتمې کلیزې په ویاړ د لیکوالو د ټـولنې له خوا په کابل کې د هغې ټولنې په مقر کې جـوړه شـوې وه. دا لیکنـه هغه مهال له کابلـه خپرېـدونکې هنـدارې جریـدې د( ۱۳۷۵ل) کـال د چنګاښ پر (۲۸)مه په خپله یوولسمه ګڼه کې هم خپـره کـړې ده. ددې لیکنې د لیکلو پرمهال مې له ننګیال صیب سره ټـوکې کـولې، مـا ویـل کلیزې ملیزې دې مه نیسه چې بیا د مرګي درته پام کېږي، اوس خو یې هېر یې چې څو کلن یې؟ کله چې یې درته پام شو بیا دې نه پرېـږدي، هغه له خندا شین شو، پیرجانه چې همدا اوس یې راته نه نیسئ (کلیزه) نو بیا چې مړ شوم بیا نو څه کوم؟ بیا یې نو...

کال لا وتی نه و چـې لـه مـرګ څخـه زمـوږ د دواړو وېـره پـر ترخـه واقعیت بدله شوه، دا دی اوس چې مرحوم ننګیال پر ابـدي نـړۍ دی، زه دا لیکنه یو ځل بیا چاپوم او د مرحوم ننګیـال اروا تـه د دعـا لاسـونه پورته کوم.

وایي چې د یونان نامتو فیلسوف اپلاتون به د ښو او مثبتـو اړخونـو درلودونکي او یا په شعر کې د یوې ښکلې او نوښتګرې لارې څښتن ته د سبک خاوند وایه او هر سړی او هر شاعر یې د سبک څښتن نه باله،

خو د هغه شاګرد ارستو بیا دا خبره نه منله او ویل به یې: ((هر سړی یو سبک لري خو د چا ښه د چا خراب.))



ځینې ټولنپوهان ټولنه د ضدینو یانې متضادو اړخونو مجموعه ګڼي، چې ښه او خراب، تور او سپین، خواږه او ترخه، غم او خوشالي یې په هنداره کې ځان ښکاره کوي. انګلیسي لیکوال جورج اورویل ټولنه له یوه ژوبڼ سره ورته بولي، چې رنګارنګ موجودات پکې ننداره کېدی شي. خو که چېرې ټولنه یو ژوبڼ وي، نو له دې ژوبڼ څخه به څوک (فاضله مدینه) جوړوي او څرنګه به یې جوړوي؟؟

استاد قیام الدین خادم د شاعر، عالم او سیاستمدار تر عنوان لاندې په یوه هنري نثر کې لیکي: عالم په کرونده کې کښت وکړي، شاعر د دې کښت پالنه او روزنه وکړي، خو کله چې د ثمر او مېوې وخت راشي، نو سیاستمدار یې مېوه، وړی او ثمر ټول کړي...

نن موږ هم د دغسې یو شخص (شاعر شخص) په باب خبرې کوو، چې په خپلو اوښکو او اوسېلیو د انسانانو په زړه کې د مینې د بزغلیو د زرغونېدو تکلیزې ولولې لري.

دا شاعر او دا شخصیت اسحق ننګیال دی، چې د ۱۳۳۵ل کال د ثور پر میاشت یې د لغمان ولایت د الینګار د ښکلې او شاعرانه سیمې د بسرام په یوه زړه وړونکي ننداریز کلي کې د نړۍ ترخو او خوږو ته

سترګې پرانیستي دي. اسحق ننګیال لا ډېر کوچنی و، چې د مینې عواطفو او ولولو یې د زړه تارونه لکه د یوه مینه وړي رباب د تارونو په څېر ترنګولي وو او په ذهن کې یې ورته د یوې شاعرانه سندریزې جونګړې بنسټ ایښی و. پر (۱۳۵۰لمریز) کال یانې د ژوند پر پنځه لسم پسرلي د شعر د الهې وربښمینې ماڼۍ ته ننوت او د خپل ټکلي روح د درملتیا ارام یې وموند. له هغه راهیسې دا دی ۲۵ کاله تېر شول او نن موږ د همدغه (۲۵)کلن ویاړمن او ارزښتمن ژوند په ویاړونو او ارزښتونو د ننګیال د زړه محل ته ننوتی شو او د هغه د زړه او له هغه څخه د راوتلو شعري او ادبي ماڼیو ننداره کولای شو.

ننګیال خپلې لومړنۍ زده کړې د لغمان ولایت په روښان لېسه کې بشپړې کړي، بیا پر (۱۳۵۳ل) کال د پولیسو اکاډمۍ کې شامل او تر فارغېدو وروسته د نوموړې اکاډمۍ تدریسي غړی شو. وروسته یې د هېواد د پوځ په دې برخه کې په بېلابېلو ځایونو کې دنده سرته رسولې او هم یې د هېواد له فرهنګي او خپرنیو ارګانونو سره خپل اړیکې ساتلي، خو وروسته بیا دی د هېواد له فرهنګي او نورو خپرنیو بنسټونو سره دومره وتړل شو چې هډو یې خپل آر مسلک هم له یاده ووت او چا لا دا ګومان قدرې هم نه شو کولای چې ننګیال دې ګڼې یو پوځي افسر وي. دده فرهنګي بوختیاوو، خواږه شعر او نرم قلم، ده ته د فرهنګ وربښمینه جامه اغوستې وه. په تېره بیا له شپېتمو کلونو راهیسې ننګیال دومره په فرهنګ کې حل شو چې د چا خبره سرګرولو ته یې هم وخت نه درلود. ننګیال د خپل ۲۵ کلن فرهنګي ژوند له ژورو یا پیل نه نیولې تر لوړو یا تر دې دمه پورې زیات وخت له قلم سره لوبېدلی او قلم یې لوبولی او دغه لاندې شعري ماڼۍ یې جوړې کړې دي:

**۱- ډالۍ:** د ننګیال د ژوند لومړۍ مانۍ (ډالـــۍ) نـــومېړي چـــې پـــر ۱۳۶۳ل کال د کورنیو چارو وزارت د نشراتو د امریت له خوا خپره شوې ده.

**۲- سپېره ډاګونه او غوړېـــدلي بزغلـــي:** د شـــعرونو دویمـــه مجموعه ده، چې پر (۱۳۶۵ل) کال د وخت د ځوانانو سازمان لـــه خـــوا خپره شوې ده.

**۳- هغه شپېې هغه کلونه:** د شعرونو درېیمه مجموعه ده، چې پر ۱۳۶۵ل کال کې د چاپ او خپرونو د دولتي کومېټې له خوا چاپ شوې ده.

**۴- څاڅکي څاڅکي:** د ننګیال د شعرونو څلورمه مجموعـــه ده، چې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا پر ۱۳۶۸ لمریز کال چاپ شوې ده.

**۵- ښېړې په مالت کې:** د شعرونو پنځمـــه مجموعـــه ده، چـــې تراوسه چاپ شوې نه ده.

**۶- سیندونه هم مري:** د شـــعرونو شـــپږمه مجموعـــه ده، چـــې تراوسه چاپ شوې نه ده.

**۷- نه جام نه څادر:** د شعرونو اوومه مجموعه ده، چـــې دا هـــم تراوسه چاپ شوې نه ده.

**۸- سیند په منګي کې:** د بېلابېلو مقالو مجموعه ده، په مستقل ډول تراوسه چاپ شوې نه ده.

**۹- سیوری:** ناول دی، چې د څو وروستیو کلونو د پېښو انځورنــه کوي. تراوسه چاپ شوی نه دی.

دغه راز د هېواد په بېلابېلو مهالنیو خپرونو کې ګڼ شمېر لیکنې. تر کومه ځایه چې د ننګیال په شخصیت پورې اړه لري او دده د شخصیت پر څېړنه، نو په لومړي ګام کې پخپله د شاعر شعرونه د سړي سترګو ته ودرېږي. په دې مانا چې شعرونه پخپله د شاعر د پېژندنې او د هغــه د اندروني ولولو هنداره دي. که چا له پیله تر دې دمه د ننګیال شعرونه له نظره تېر کړي وي، نو تر ټولو دمخه یو شی، چې دده په شعرونو کــې زیاته ځلا مومي، هغه مینه او عاطفه ده. ننګیال په خپل شعر کې زیات وخت د هیلیو له معصومو بچیانو، کبانو، هوسیو، ((ای ښکاري اشنا درته سلام کوم، پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه)) او د عاطفې او مینې نو رو زړه وړونکو موجوداتو سره سفر کړی دی، دا منو چې کله کله به یــې د کلتوري او ځینو نورو اغېزو له کبله د شعر ټوپک ته هم لاس کړی وي او پر دښمن به یې ډېرې ډزې کړې وي. ((جنګ دی جنګ دی پر ښایسته ننګرهار جنګ دی)) خو په ورځینې ژوند کې د چا پر ضد ټوپک ته څه چې چړې ته یې هم د لاس تېرولو خیال نه دی کړی. دده د خپلې وینا له مخې د چرګ د حلالولو توان هم نه لري، په همدې ډول دی په خپلو شعرونو کې د مینې په سیند د یوه لاهو شوي عاطفي شخص حیثیــت لري. په شعر کې د ننګیال مینه او عاطفه په دې مانا نه ده چې ننګیال دې ګنې د ځینو ټولنیزو ستونزو او چوکاټونو په دننه کې راګیر وي او په دې وجه دې دا کار کوي. ننګیال څومره چې په شعر کې مینــه وړی او عاطفي دی، هغومره بیا د ټولنیز دود د حاکمو او یا باب چوکاټونو خیال

نه ساتي. هغه زموږ د ټولنې د حاکم دودیز چوکاټ پر خلاف ډېر ځله لکه د غني په شان د جام تر مورګو خپلې شونډې رسـولي او خپـل لونـد ګرېوان یې بیا چا نه پټ کړی هم نه دی، که غني له سر زوری نـه کـار اخیست او چا یې مخه نه شوه نیولای، نو هغه خو یو خـانزاده و او یـو شهزاده. ننګیال سره له دې چې د شعر د شهزادګۍ رنګینه ډولۍ یـې کور ته رانښویستې، خو د نور سیاسي او اقتصادي ځواک غرونه یې نه وو ولاړ. د ټولنې له دې ډول حاکمو کلتوري دېوالونو څخه سر اوچتول څه اسانه خبره نه ده. د ننګیال په وجود کې هغه شاعرانه خصلت موجود و، چې د ټولنې د دودیزو کړیو پر ضد بغاوت وکړي.

څرنګه چې طبیعت د تحول په حال کې دی، نو انسان چې یو طبیعي موجود دی. هم د بدلون په حال کې دی. ننګیال هم په خپل شـاعرانه ژوند او شاعرانه شخصیت کې د بدلون په حال کې دی. کـه د ننګیـال لومړي شعرونه او هم یې د څو کلونو مخنی شخصیت له اوسـني هغـو سره پرتله کړو، نو ډېر توپیر به په کې وګورو. هغه په لومړیو وختونو کې یو څه چاته ((ډالۍ)) کوي، غواړي ((په سپېرو ډاګونـو کـې غوړېـدلي بزغلي)) وکري او خپلې ((هغه تېرې شپې او هغه کلونه)) راپه یاد کړي او بیا پرې ((ځاځکي ځاځکي)) وورېږي، خو وروستیو کلونـو کـې بیـا داسې نه دی. ((په مالت کې د هغه لـه خـولې نـه ښـېرې)) راوځـي، ((سیندونه مري او وچېږي))، شاعر پکې (بې څادره او بې جامه) کېږي. په شاعرانه مفاهیمو کې جام لکه د قلم پـه شـان د شـاعر همېشـنی ملګری او دوست دی او د خپل زړه د اورونو لمبې د جـام تـر شـونډو رسوي او (څادر) د یو کلتور او یوې ټولنې د جامې یوه برخه ده، خـو د زمانې ناخوالو شاعر له دې دواړو نه بې برخې کړی دی.

د ننګیال په شعرونو کې دا بدلون په دې مانا نه دی، چې شـــاعر دې ګنې پر بېلابېلو لارو تللی وي، بلکې په دې مانا دی چې دی پـــه خپـــل شعري یون کې پوړ پر پوړ د لوړتیا پر لور خوځېـــدلی دی. دده اوســـني شعرونه هم د ښکلا او هم له مانیز پلوه تر پخوانیو شعرونو ډېر اوچـــت دي. څرنګه چې یې په شعرونو کې لوړتیا لیدل کېږي، دغه راز یـــې پـــه شخصیت کې هم دې آر ووده کړې ده. ددې بهیر د دوام په حالت کې به ننګیال د خپل شخصیت د پوره بشپړاوي، نور پړاوونه هم ووهي. خو یو ځل بیا یادونه کوم چې له ننګیال نه به د بل ډول شخصیت؛ اجتماعي، سیاسي او نورو ډېره ډېره هیله نه کوو، خو د یو بشپړ شاعرانه شخصیت جوړېدل یې حتمي دي او دا ځکه چې ((شاعران له قیدوبنده بې پـــروا وي.))

# فرهنګي رغونه د افغاني ټولنې د رنځونو د یوه علاج په توګه

دا لیکنه هغه مهال له پېښوره د خپرېدونکې تعاون مجلې په (۳)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال له (زمري-وږي) میاشتو سره سمون خوري، خپره شوې ده.

افغاني ټولنې ته د تېرو څه کم دوو لسیزو په ترڅ کې تر تصوره اوچت زیانونه اوښتي، دې زیانونو د ژوند د ټولو ډګرونو رګونه نیولي او ځینې برخې خو یې بېخي له کار او فعالیت څخه غورځولي دي. له اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او نورو برخو څخه نیولې تر فرهنګي او نورو چارو پورې هرې یوې دومره ټپونه زغملي چې بیا رغونه یې ډېر کلونه، ډېر تدبیرونه او ډېرې زیاتې اقتصادي پانګې او سرچینې ته اړتیا لـري. د افغانــانو دا تراژیدي نه یوازې له دې کبله د ډېرې اندېښنې وړ ده، چې د ملیونونــو افغانانو ژوند یې اخیستی، بلکې له بېلابېلو خــواوو د خپګــان وړ ده. د شمېرنو او خپرونو له مخې تر اوسه پورې د افغانستان په دې اوږده او په درنو وسلو سمبال جګړه کې د یو نیم ملیون افغانــانو ژونــد اخیســتل شوی او په همدې شمېر معیوب او معلول شوي دي. په دې مانا چې لږ تر لږه له هرو پنځه لسو افغانانو څخه (درې تنه، معیــوب، معلــول او وژل

شوي او په مجموعي توګه د شپړو تنو نه یو یې معلـول دی او دا هغـه درانه تلفات دي چې د نړۍ د جګړو په تاریخ کې بې ساري دي.)

همدا راز د افغانستان په جګړه کې د ټولو غاړو له خوا دومره زیـاتې پیسې لګول شوي، چې د افغانســتان د ســوونو کلونــو بودجــه پــرې جوړېدلای شوه او همدارنګه د هېواد د اقتصادي منابعو لوټول او ړنګول. خو له دې ټولو ورانیو او تلفاتو سره سره کوم درد او زیان چې انســاني فکر او هر هېواد مین افغان لپاره د زغم او تحمل تر بریده پورته دي، هغه د هېواد د هغو فرهنګي شتمنیو لوټول او له منځه وړل وو، چې نه یوازې د افغانستان د تاریخ او فرهنګ بابونه پرې ښکلي وو او زموږ د ماضــي ژوند د اثبات او عزت عیني بېلګې وې، بلکې د نړیوال بشري فرهنــګ لپاره هم د زیات ارزښت وړ وې.

زموږ د هېواد د فرهنګي ماڼیو د ړنګولو او فرهنګي شتمنیو د لوټولو په نتیجه کې ددې وېره راپیدا شوې، چې په ځینو برخــو کــې زمــوږ د هېواد د حال رابطه د هغه له ماضي پرتم سره وشلېږي او همدارنګــه د هېواد د ځوان پښت ذهني اړیکي د هغو له ویاړلي ماضي څخه پرې شي.

په دې فرهنګي شتمنیو کې تر ټولو لویه شتمني د افغانســتان ملــي موزیم دی، چې د څه کم یوې پېړۍ په بهیر کې په ډېر زیات زیار او هڅو جوړ شوی و. په دې موزیم کې له لسو زرو کلونو څخه نیولې تر پنځوس زرو کلونو پورې تاریخي اثار وو چې د افغانستان د تېر تــاریخ، شــان او شوکت برم او عزت څرګندونه یې کوله او د افغانانو لپاره د ډېــر زیــات ارزښت درلودونکي وو، یا چور او یا له منځه یوړل شول. د نانسي دوپرې په وینا: (( د افغانستان د ملي موزیم اثار نه یوازې د افغانانو لپاره د زیات ارزښت وړ وو، بلکې د هغو له منځه وړل د نړیوال فرهنګ لپاره هم یو له

غمه ډک خبر و)) ویل کېږي چې په دې موزیم کې یوازې شل زره طلایي سکې موجودې وې چې د هغو برخلیک هم معلوم نه دی او همدارنګه نور قیمتي اثار. د افغاني فرهنګ بل دروند زیان په هېوادنی سطحه هماغه تقریباً د (۳۵۰۰) ښوونځیو ړنګول او سېزل وو، چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې یې فعالیت کاوه. که په منځني ډول په هر ښوونځي کې (۱۰۰۰) تنه زده کوونکي پر درس بوخت وای، نو په مجموعي ډوله به د زده کوونکو شمېر (۳۵۰۰)×(۱۰۰۰)=(۳۵۰۰۰۰۰) تنه شوی وای، که لږ تر لږه له ښوونځي څخه د کال (۵۰) تنه فارغ شوي وای، نو د یو کال د فارغانو شمېر به (۳۵۰۰)×(۵۰)= (۱۷۵۰۰۰) تنه شوی وای او که له هر پنځو تنو څخه په کال کې یو تن د لوړو زده کو امکان پیدا کړی وای، نو په یوه کال کې به مورږ لږ تر لږه (۳۵۰۰۰) تنه د لوړو زده کړو محصلین درلودل، که دا په (۱۷) کلونو کې ضرب کړو (۱۷×۳۵۰۰۰) نو له (۵۹۵۰۰۰) تنو سره مساوي کېږي، یانې اوس به مو د هېواد د دې شتو کادرونو ترڅنګ تقریباً شپږ لکه تنه نور متخصصین او د بېلابېلو مسلکونو کادرونه درلودل او که یوازې د (۱۷) کلونو د دولسمو ټولګیو د فارغانو اټکلیز شمېر په پام کې ونیسو، نو (۱۷×۱۷۵۰۰۰)= (۱۹۷۵۰۰۰) تنه به شوی وای. د ښوونځیو پر ودانیو شوی اقتصادي لګښت خو لا پرځای پرېږده.

له ښوونځیو پرته د لوړو زده کړو موسسو ته هم دا ډول زیانونه اوښتي دي. کابل پوهنتون ته د جګړو له کبله د (۵۰) ملیونه ډالره زیان اړول شوی. د دوو ملیونو په شاوخوا کې کتابونه یې یا سېزل شوي او یا لوټ شوي او د محصلینو د شمېر په تناسب یې (۲۱) ملیونه درسي ساعتونه ضایع کړي. کابل پولیتخنیک او کابل طب انستیتیوت هم په ملیونونو

درسي ساعتونه او لکونو جلده کتابونه ضایع کړي دي. بیهقـــي کتــاب خپرولو موسسه چې په بېلابېلو کتاب ساتنځایونو کې یې لږ تر لږه دوه ملیونه جلده بېلابېل کتابونه ایښودل شوي وو، ټول لوټ شوي، همـــدا رنګه د لیکوالو انجمن، عامه کتابتون د ژورنالیســـتانو اتحـــادیې، ملـــي ګالري او ځینو نورو فرهنګي موسسو هم همدې ته ورته زیانونه زغملي دي.

بل دردونکی فرهنګي زیان د کابل ننداري په ســـیمه کـــې د لاســـي صنایعو پنځه لس نندارتونونه دي، چې تاریخي او اقتصادي ارزښت یې تر تصوره هم لوړ دی، دا نندارتونونه هم د جګړو په ترڅ کې چـــور او د ایرو پر ځلو بدل شول. په دې کې د قیمتي ډبرو او غالیو نندارتونونه د زیاتې یادونې وړ دي. همدا رنګه په کابل کې د کتاب چاپولو پنځه لـــس مجهزې چاپخونې موجودې وې، چې اکثره یې لـــه منځـــه وړل شـــوي، دولتي چاپخونې، د پوهنې مطبعې او د اریانا چاپخونې د زیاتو امکاناتو په درلودلو سره د ټول هېواد په کچـــه ډېـــر زیـــات کتابونـــه چـــاپول. د (۱۳۷۱ل) کال د ثور د میاشتې پر (۷،۸،۹) نېټه پوهنې مطبعې ته دومره زیان اړول شوی، چې د همدې درې ورځو په زیان د ټول هېـــواد د هـــر وګړي لپاره (۳) جلده کتابونه چاپېدلای شول او وروستی ور رســـېدلی زیان خو لا پرېږده. ددې چاپخونو اکثره وسایل او ماشینونه یا په ګاونډیو هېوادونو خرڅ شول، یا ویجاړ کړای شول او یا هم د کباړ په بنه په ډېره ارزانه بیه وپلورل شول. د پوهنې وزارت، د هغې په چاپخونه، ښوونځیو او نورو ګودامونو کې چې په ملیونه ټوکه کتابونه خوندي وو، یا چور شول او یا وسیزل شول.

دغو ټولو درندو فرهنګي زیانونو هېواد له ستر معنــوي او فرهنګــي ګواښ سره مخامخ کړی دی. د ښوونځیوپه نشتوالي کې نــه یــوازې د هېواد کوچنیان او ځوان پښت له خپلې نېکمرغې راتلونکي څخه بــې برخې کېږي، بلکې ځوان قشر د جګړه مارو غاړو د خامو موادو په توګه کارول کېږي او په دې توګه د دوی د ژوند د بربادۍ او د هېواد د ورانۍ سبب ګرځي.

اوس راځو دېته چې خپل هېواد او خپله ټولنه باید څرنګه له دې ستر کړکېچ او بحرانه وباسو؟ پوهان او نور ځیرمن اشخاص پــر دې ګروهمن دي، چې د ټولنې ددې ډول بحران د نجات یوه اساسي لاره همدا فرهنګي وده او فرهنګپالنه ده. نو که څوک د هېواد د اوسنۍ رنځورې ټولنې علاج غواړي نو باید تر هرڅه دمخه فرهنګپالنې تــه پام راواړوي. ښوونځي باید له سره جوړ شي او ددې ترڅنګ علم یا زده کړه باید خپله مادي پشتوانه (ملاتړ) لاسته راوړي. یانې دا چې د علم او پوهې د زده کړې په صورت کې باید د هغه خاوند له دې لارې دومره اقتصادي امکانات پیدا کړي، چې دده ژوند پرې خړوب شي، دغه راز د علم له زده کړې پرته له ځینو نورو ناوړو لارو د اقتصادي امکاناتو د لاسته راوړلو لارې چارې وتړل شي. اوس چــې زمــوږ پــه ټولنه کې د یو شمېر اشخاصو لپاره د ژوند د خړوبېدو لار یــوازې د ټوپک شپېلۍ ده او یو عادي ټوپکوال کولای شي د خپل ژوند چارې له همدې لارې خړوبې کړي او یو عالم، متخصص نه شــي کــولای د خپل کړي تحصیل په واسطه ځان او کورنۍ ته یوازې وچه ډوډۍ پیدا کړي، نو علم او زده کړه خپل مادي ارزښت او ملاتړ له لاسه ورکوي. پکار خو دا دی چې د ټولنې د وګړو اړتیاوې له دې ســالمې علمــي لارې خړوبې شي.

په هېواد کې د پوهنتونونو رغول، د نویو پوهنتونونو جوړول او یا د نورو لوړو زده کړو موسسو تاسیسول نه یوازې د هېواد د علمي سطحې په اوچتیا کې اساسي رول لري، بلکې د هېواد د ملي قشر په زیاتون کې هم برخه اخلي او د زیاتو کادرونو روزل د هېواد د بېلابېلو تپونو د علاج لپاره ضروري دي.

هغه ((پوهنتونونه)) چې د بېلابېلو عقایدو او ذوقونو پر بنسټ جوړ شوي او تر مسلکي موخو یې سیاسي مقصدونه زیات او لومړي ښکاري، باید تر سالم کنټرول لاندې ونیول شي، چې د هېواد روشنفکر اشخاص تر دې زیات له سیاسي او ذهني پلوه ونه وېشي او پر دښمنیو یې مصروف نه کړي. دمتعددو پوهنتونونو موجودیت د هېواد په زیان نه دی، خو په دې شرط چې آره موخه یې یوازې یوازې د مسلکي او فني کادرونو روزل وي او بس.

د ملي موزیم، ملي آرشیف، ملي ګالري او د افغانستان د فرهنګ د بېلابېلو نندارتونونو بیا رغونه او جوړونه او همدارنګه د هغو لوټ شویو اثارو بیا راټولونه د هېواد د تېر برم د ساتنې د یوې وسیلې په توګه د افغانانو د ملي تاریخ په ژوندي ساتلو کې برخه اخیستلای شي.

د ښوونځیو، پوهنځیو او نورو فرهنګي موسسو په زیاتېدلو سره به په هېواد کې د زده کړو خاوندان زیات شي او د هغو نازده کړو اشخاصو شمېر به ورو ورو کم شي، چې جګړه ماري غاړې یې د جګړې لپاره د پیسو په مقابل کې استخداموي.

# په افغانستان کې تنظیمي اداره او پولي تورم

دا لیکنه هم د وفا جریدې د شپږم کال په (۳۳-۳۶) ګڼه کې چې د (۱۳۷۶ل) کال د تلې له (۸) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده او هغه پولي تورم ته په کې اشاره شوې چې له څو کلونو، په تېره بیا د تنظیمي واکمنۍ پر مهال پر افغانستان راخور شوی و.

**تېره څلورنیم کلنه جنجالیزه او نادریزه تنظیمي اداره، له ډېرو زیاتو بدمرغیو، جنګونو او کړاوونو ډکه وه. پر همدې وخت په شعوري او ناشعوري ډول زموږ د ولس، کلتوري، اقتصادي او ټولنیزې شتمنۍ ته دومره زیانونه واړول شول، چې که هرڅوک یې یوځل له نظره تېر کړي، نو پر زړه به یې لمبې بلې شي. په اقتصادي برخه کې په لسګونو ملیارده ډالر زیان واړول شو او د افغاني ټولنې د ژوند بېلابېلې برخې یې تر اغېزې لاندې راوستې. د ګرمې جګړې په ترڅ کې د رسول شوي زیان ترڅنګ خلکو ته یو بل ډول زیان هم اړول کېده، دلته موږ ولس ته پر همدغه اړول شوي زیان خبرې کوو.**

**دا زیان پولي تورم او انفلاسیون دی، چې تېرې تنظیمي ادارې او واکوالو یې د خپلې بقا لپاره زموږ ولس ورسره لاس او ګرېوان کړ. دوی په روسیه کې په ټنونو بې پشتوانې افغاني بانکنوټونه چاپ او د جګړې لپاره یې پر خپلو افرادو ووېشل. نه یوازې دا چې د خلکو د عایداتو سطحه راټیټه کړای شوه، بلکې بېخي له منځه یوړل شوه. د ډاکټر نجیب الله د حکومت**

د وروستي کال او د تنظیمي اداري د وروستي کـال د شـیانو د نرخونـو ترمنځ خورا لوی واټن موجود دی. په دې زماني واټن کې نرخونو له (۵۰۰) څله څخه نیولې تر (۱۵۰۰) څلو پورې اوچت شوي دي. په داسې حال کې چې په تنظیمي اداره کې د مامورینو په معاش کې یـوازې (۲۵) یـا (۳۰) څله زیاتوالی راغلی، هغه هم یوازې د وچو بې ارزښته کاغذي پیسو پـه شمېر کې. نه د هغوی په ارزښت او اهمیت کې او دا هم د کوپوني موادو په بدل کې. که د کوپوني موادو ارزښت په پام کې ونیسو، نو نه یوازې دا چې د مامورینو په معاش کې زیاتوالی نه دی راغلی، بلکې لا ډېـر کمـی هـم راغلی دی. په حقیقت کې په تېره اداره کې هره میاشت انفلاسیون له ۵۰ فیصدو نه تر پوره سل فیصدو پورې لوړېده او کله لا تر دې هم زیاتېده. د تنظیمي اداري چارواکو فکر کاوه چې د پیسو د چاپ انحصار د دوی پـه لاس کې دی او همدا کاغذي پیســې دي، چــې پــه اوس وخــت کــې د مخالفینو او د ولس له چنګاله دوی ژغورلی شي، نو د پیسو چاپ ته یــې کش ورکړ او دومره پیسې یې چاپ کړې، چې نه یوازې پــه افغانســتان ، بلکې د زماني واټن له مخې به یې په نړۍ کې هم ساری کم وي.

وګورئ د پخواني پاچا محمدظاهرشاه په ټولــه ۴۰ کلنــه دوره کــې ۱۹ ملیارده افغانۍ چاپ شوي، د سردار محمدداودخان په پنځه کلنــه دوره کې ۲۸ ملیارده افغانۍ او کمونست رژیم په څوارلســو کلونــو کــې (۷۰۰) ملیارده افغاني چاپ کړي، خو د طالبانو وینا ده چې د ښاغلي رباني رژیم په څلورو کالو کې لږ تر لږه (۸۰۰۰) ملیــارده افغــانۍ چــاپ کــړي دي. د افغانستان بانک د یو تن کار کوونکي په قول دا رقم تر دې زیات دی. د ده په قول استاد رباني (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ کړي دي، چې د بانــک کار کوونکو ته معلومې دي. د کتونکو او څېړونکو په اند کېدی شي، د دې

اداري له خوا چاپ شوې پیسې تر دې هم زیاتې وې، ځکه دا هغه شمېره ده چې لږ تر لږه د افغانستان بانک کې ثبت شوې او یا د بانک کارکوونکو ته معلومه ده، خو ددې ترڅنګ د تېرې اداري ځینو واکوالو هم ځانته په خپله خوښه د خپلې اړتیا وړ پیسې چاپ کړې، چې هغه لا پــه مرکــزي بانک کې ثبت شوې نه دي. هماغسې لنډې د باګرام هوایي ډګر ته راوړل کېدې، بیا پنجشیر ته وړل کېدې او بیا یې د خپلو موخو لپاره لګولې، خو که دا خزانه په پام کې هم ونه نیول شي  او یوازې د استاد رباني (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ په پام کې ونیسو، نو دا د افغانستان د تېرو شپېتو کالو د ټولو چاپ شویو بانکنوټونو ۱۵ برابره پیسې دي. د خواشینۍ خبــره خــو داده چې دې پیسو د هېواد اقتصادي او د ثابت عایده او لږ عایده خلکــو حالت له سختو ستونزو سره مخامخ کړ. ټول هېواد له پولي تــورم ســره مخامخ شو او د پیسو ارزښت دومره راټیټ کړای شو، چې نږدې و د چاپ له قیمت سره منطبق شي. هغه وخــت چــې پنځــه زریــز او لــس زریــز بانکنوټونه نه وو چاپ شوي، نو استاد رباني د زرو افغانیو په بدل کې څلور زره افغانۍ چاپولای شوې. کله چې دا حالت نور هم خراب شو، نو بیا دوی پنځه زره ګون او لس زره ګون نوټونه چاپ کړل. دې سره د زرګــون پــه انډول د چاپ لګښت د هغه د لوړ رقم له کبله څه کم شو، خــو تــورم او انفلاسیون لا پسې زیات شول، خو استاد بیا هم د پیسو چــاپ تــه دوام ورکړ. د پیسو د بې ارزښتۍ یوه بله مرموزه او پټه وجه دا هم وه چې پــه یوه نمبر او یوه سریال نمبر باندې یو بنډل (سل سل ) بانکنوټونــه چــاپ شول. یانې دا چې سل دانې زرګونونونه لیدل شوي، چې له پیله تر پایه په یوه نمبر چاپ شوي او همداسې نورې جعلکارۍ. بله ســتره د بــدمرغۍ خبره داده، چې تېرې اداري تقریباً دا ټولې چاپ شوې پیسې د هېواد په تخریبي برخه کې مصرف کړې. که موږ په فرضي ډول د تېــرې تنظیمــي

اداري له خوا دا معلومې چاپ شوې پیســې (۱۲۰۰۰) ملیــارده افغــانۍ او نورې نامعلومې تولې د افغانستان پر ۱۵ ملیونه نفوس باندې وویشو، نو هر تن ته به په لکونو افغانۍ ورسېږي. که تنظیمي اداري دا پیسې همداسې پر هر افغان وېشلې وای، نو د هر افغان لپاره یې په هېواد کې یو متوسط کور جوړولای شو. اداري نه یوازې دا چې د چا کور ودان نه کړ، بلکې زموږ د هېوادوالو کورونه یې هم ونړول، یوازې د کابل په ښار کې یې تر اتیا زرو زیات کورونه د ځان مینې واکمنۍ په غرض د خاورو او ایرو پر ځلو واړول. بله بدمرغي خو داده چې نه یوازې دا پیسې د ملت لاسته ورنغلې، بلکې دملت د ژوند او ملي شتمنۍ پر ضد هم استعمال شــوې او دا څرګنــده خبره ده، چې په تخریبي ساحه کې د یوې افغانۍ لګښــت د ســلو نــورو افغانیو زیان اړولای شي، اوس نو که د استاد رباني له خوا دا چاپ شوې او معلومې (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ په تخریبي برخه کې د احتمالي زیان له مخې په سلو کې ضرب کړو( ۱۲) زره ملیارده ضرب یې (۱۰۰) زره ملیارده، له ۱۲۰۰ زره ملیارده افغانیو سره به مساوي شي، یانې دا چې د استاد پــه واکمنۍ کې هېواد ته د هغه د چاپ شــویو پیســو لــه مخــې د معنــوي، فرهنګي او نورو زیانونو ترڅنګ (۱۲۰۰۰) زره ملیارده افغــانۍ زیــان اړول شوی. په دې محاسبه کې لا هغه مادي شتمنۍ چې په کابل کې د ده تــر واک دمخه موجوده وه او بیا لوټ شوه، شامله نه ده او هم هغه مالي او نور امکانات چې له نورو لارو استاد او د هغه یارانو ته رسېدل او بیا په جګړه کې ورڅخه کار اخیستل کېده.


Yoon Cultural Foundation
۱۳ ۸۷
یون کولتوري یون
د افغانستان فرهنګ
ته اوښتي زیانونه
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# د افغانستان فرهنګ ته

# اوښتي زيانونه

ليکوال

محمد اسمعيل يون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه |
| لیکوال: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۶ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۱۱) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۱۱) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

# د دويم چاپ سريزه

دا اثر (د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه) د افغانستان پر کلتوري شتمنيو د راغلي ناتار يو دردونکی داستان دی. زه (يون) ددې اثر ليکوال، ددې غمجن داستان يو عيني ليدونکی او کتونکی يم، پر هېواد او کابل باندې د جګړې په ټول بهير کې زه د خپل هېواد په غېږه کې پاتې شوی يم، څه چې تېر شوي او څه چې ما ليدلي، ټول نه، خو هغه څه چې زما قلم يې د ليکلو وس درلود، هغه مې ليکلي دي، په تېره بيا زموږ پر کلتوري شتمنيو راغلی ناتار.

کېدی شي نورو خلکو هم دا ډول مسايل ليکلي وي او يا يې وليکي، خو هغه څه چې ما ليکلي د پېښو د يو عيني شاهد په توګه زما درد هم په کې منعکس شوی، نور به يې تر ما ډېر ښه تحليلي، هر اړخيز او بشپړ وليکي، خو کوم درد، چې له دې غملړلو پېښو ما اخيستی او کېدی شي قدرمن لوستونکي يې په دې اثر کې محسوس کړي، د نورو په دا ډول اثارو کې کېدی شي دا ډول درد احساس نه شي.

ما که همغه وخت په عملي صحنه کې دا یادښتونه نه وای لیکلي، نو کلونه وروسته، چې پر بدو پېښو نورې ناوړه پېښې زیاتې شوې، خدای خبر چې بیا به مو ددې مجال پیدا کړی وای، چې داسې څه ولیکم او یا هم هغه درد او سوز چې په عملي




صحنه کې سړي ته رسي، هغه دې تر پېښو ډېره موده وروسته هم په همغه شان پاتې شي. دا اثر له نن څخه یوولس کاله دمخه پر (۱۳۷۲ل) کال په پېښور کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې (وفا) له خوا چاپ شو. تر هغه وروسته د طالبانو په واکمنۍ کې د افغانستان فرهنګي شتمنیو ته نور زیانونه هم واړول شول، چې پر هغو باندې زما په نورو بېلابېلو لیکنو کې بحث شوی دی، لکه په بامیانو کې د بودا تاریخي مجسمو نړول او نور. دا ډول زیانونه زما په یو بل اثر (کلتوري یون) کې کتلای شئ، خو په دې اثر کې اکثره هغو زیانونو ته ګوته نیول شوې، چې د طالبانو تر واکمنۍ دمخه بیا تر ۱۳۵۷ل کال پورې په بېلابېلو پړاونو کې زموږ فرهنګي شتمنیو ته اوښتي دي، نو ځکه مې په دې اثر کې کمونې او زیاتونې ضرور ونه ګڼلې او د همغه وخت د یو تصویر په توګه مې همداسې پرېښود. زه نور پر

دې غمجن داستان څه ویل نه غواړم، د لومړي چاپ په برخه کې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې (وفا) له مشر پروفیسور رسول امین او همدارنګه سرمحقق زلمي هېوادمل څخه ډېره مننه کوم، چې ددې کتاب د لومړي چاپ زمینه یې برابره کړه. دغه راز له ګران ورور ښه شاعر عبدالغني هاشمي او اسد دانش ساپي مننه کوم، چې لومړي دا اثر وژباړه او دویم چاپ کړ. د قدرمن مشر ورور جنرال صیب شېرمحمد کریمي هم ډېر قدرداني کوم، چې دا اثر یې انګلیسي ته وژباړه، که څه هم ددې اثر انګلیسي ژباړه لاتراوسه چاپ شوې نه ده، خو هیله من یم چې یو وخت چاپ شي. درانه لوستونکي ددې اثر لوستلو ته رابولم.

په فرهنګي مینه او درناوي

محمد اسمعیل یون

ارګ- د جمهوري ریاست ودانۍ

۱۳۸۷ل کال د کب ۲۷مه

# سریزه

د (۱۳۵۷ل) کال د ثور پر (۷)مه نېټه په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي پیل شوه. له سیاسي کړکېچ سره یوځای پوځي اړودوړ هم پیل شو او خبره خونړیو جګړو ته ووته. د (۱۳۵۸ل) کال د جدي پر (۲)مه نېټه روسانو د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف پر افغانستان مستقیم یرغل وکړ. افغان ولس سم له لاسه د هغو پر ضد ملي او اسلامي پاڅونونه پیل کړل او ټول هېواد د اور او سکروټو په اور غورځوونکي غره واوښت. په نتیجه کې په سوونو ملیونه ټنه چاود يدونکي مواد زموږ د هېواد پر غرو رغو، کلیو او بانډو استعمال شول. دې جګړې عموماً د لویو ښارونو له منځ څخه لرې شان لرې په کلیو او بانډو کې دوام وموند او د جګړې په ترځ کې دا امکانات برابر شول، چې پردي یرغلګر په شعوري او کورني مخالفین په نا شعوري ډول د هېواد د ژوندانه بېلابېلو ډګرونو ته زیانونه واړوي. داسې پېښې شول هغه ناوړه نیتونه چې لرې او نږدې ګاونډیو دښمنانو زموږ د هېواد په باب لرل افغانانو هم د هغو په عملي کولو کې، په یوه نه یو ډول برخه واخیسته، دا چې څوک په دې برخه کې زیات مجرم وو او د چا په لاس دا غمیزه دومره اوږده شوه، دا یو بېل بحث دی، خو په هر ډول او هره بڼه چې وو زموږ د ټولنې د ښېراز ژوند پانې یې ورژولې او هېواد یې له ستر ناورین

سره مخامخ کړ. افغاني ټولنې ته چې کوم زیانونه اړول شوي، هر یو پر خپل ځای د زیات درد او غمونو سبب شوي دي. په دې کې د افغاني ټولنې فرهنګي زیان هم د زیاتې اندېښنې وړ دی. هغه وخت چې جګړه له ښارونو د باندې روانه وه، نو هغه فرهنګي شتمني چې په کلیوالي سیمو او له لویو ښارونو څخه په لرې پرتو سیمو کې موجوده وه، هغه د جګړې د دواړو غاړو له خوا په شعوري او ناشعوري ډول له منځه یوړل شوه، خو کله چې د یوې بلې سنجول شوې توطیې له مخې د (۱۳۷۱ل) کال د ثور پر (۸)مه نېټه د کابل رژیم ظاهري بڼې ته بدلون ورکړای شو، نو خبره تر بدو بدتره شوه. مختلفې وسله والې ډلې د هېواد بېلابېلو ښارونو ته وردننه او پر جګړو اخته شوې. هغه شتمني چې له تېرو جګړو څخه یوازې په ښارونو کې خوندي پاتې وه، اکثره برخه یې لوټ او تالان شوه. فرهنګي شتمني چې زیاته برخه یې په ښارونو کې وه تر بېلابېلو دردوونکو ناتارونو لاندې راغله، اکثره برخه یې یا چور او یا هم د اور د لمبو په څپو کې وسوځول شوه. هر کله چې به په یوه فرهنګي مرکز کوم طاعون خورېده، نو زموږ د هېواد د فرهنګیانو له زړونو به لمبې جګېدلې، ان خبره تر دې هم راورسېده، چې د هېواد اکثره فرهنګي شتمني او مرکزونه یو په بل پسې له منځه یوړل شول. څرنګه چې زموږ هېواد له فرهنګي پلوه دومره غریب او بې شتو نه و، لکه څنګه چې په اقتصادي ډګر کې ساتل شوی دی. ددې اثر د لیکلو یوه اساسي وجه دا هم ده، چې لوستونکو ته، لکه چې څرګنده ده نوره هم څرګنده شي، چې زموږ هېواد له فرهنګي پلوه

غريب نه و، خو لکه د اوس په شان هر وخت جگړې د دې سبب شوې، چې زموږ د هېواد فرهنگي شته لوټ شي. زه د فرهنگ يو مينوال او لېوال د هېواد پر فرهنگ باندې د ډول ډول راغليو اوسنيو ناتارونو شاهد وم اوددې رسالې ځينې بحثونه زما د خپلو سترگو ليدلي حال کيسې دي. د دې رسالې مقصد دا هم دی، چې د هېواد فرهنگي زيانونه په گوته شي او په راتلونکي کې د هېواد ځيرک او با درده فرهنگيان او پر هېواد او کلتور مين واکمن د هغو د بيا رغونې په فکر کې شي. که په دې رسالې کې پورتني هدفونه تر يوه حده پوره شوي وي، نو دا به زما د زړه د تسکين لپاره يو درمل وي.

په ډېره مينه

پوهيالی محمد اسمعيل يون

((۱))

# ښوونځي

کله چې د افغانستان دا تېره (۱۹) کلنه جګړه پیلېده، نو لومړی او اساسي ګوزار يې د ښوونې او روزنې پر موسسو و.
د روسانو يرغل او په هېواد کې د ګرمې سياسي، عقيده يي او ملي جګړې پیل د دې زمينه برابره کړه، چې پر ښوونځيو او نورو روزنيزو بنسټونو مستقيم او نا مستقيم ګوزارونه وشي.
د افغانستان د نورو ملي شتمنيو او ودانيو ترڅنګ ښوونځيو ته هم دومره زيانونه واړول شول، چې ان ويلای شو له هېڅ بلې برخې سره د پرتلې وړ نه دي.
تر جګړې دمخه لومړنی ګوزار، چې ښوونځيو ته متوجه شو، هغه په تعليمي او تحصيلي نصاب کې منفي بدلون راوستل و. پر (۱۳۵۷ل) کال، چې د سردار محمد داود خان جمهوري نظام رنګ کړای شو، نو د ټولنې په نورو ډګرونو کې د ژورو بدلونونو ترڅنګ د زده کړې په نظام کې هم په فوري ډول لاسوهنه پيل شوه او په لکونو ټوکه نوي تعليمي، تحصيلي کتابونه په ډېر درانه لګښت له سره چاپ شول. سره له دې چې په نوموړي واټن کې هېواد ورځ پر ورځ له زياتو ستونزو او ډول ډول اقتصادي، سياسي او پوځي

کړکیچونو سره مخامخېده، خو واکمنو تر خپل ټاکلي انډ لاندې کوښښ کاوه، پر ښوونځیو، پوهنځیو او د زده کړې نورو اکثرو روزنځیو باندې خپل کنټرول او څارنه جاري وساتي. د ځینو ښوونځیو د رنګېدو له پیل شوي بهیر سره سره، د یو شمېر نویو ښوونځیو د جوړولو کارونه هم پیل شول، خو څرنګه چې د زده کړې مرکزونه د یو سیاسي فکر تر کنټرول لاندې وو، نو د زده کوونکو او محصلینو د زده کړې ټاکلی او یاد وړ وخت د سیاسي غونډو او مارشونو پر جوړولو تېرېده. «ګوندي لومړني سازمانونه» چې په هر ښوونځي، پوهنځي او روزنیز مرکز کې یې جلا جلا ځانګې درلودې، د پوره واک او ځواک څښتنان وو، په روزنځیو او نورو پوهنیزو چارو او بهیر کې یې له خپلې هیلې سره سم وقفه او بندیز راوستلای شو. د همدې ډول وقفو په ترڅ کې په اټکلیز ډول که لږ تر لږه هره ورځ د هر زده کوونکي له هرو شپږو درسي ساعتونو څخه یو ساعت وخت ضایع شوی وي، په ټولیز ډول به په یاد شوي واټن کې د ټولو زده کوونکو په ګډون د اټکل له مخې تر (۱۲۲۵ سوه زره) درسي ساعتونو څخه زیات وخت ضایع شوی وي. (۱)

د (۱۳۵۸ل) کال د مرغومي پر شپږمه نېټه روسانو د ټولو نړیوالو مدني او بشري قوانینو خلاف د افغانستان پر خاوره مستقیم یرغل وکړ او د (۸۵) زره (۲) کسیز لښکر په زور یې خپل ګوډاګیان پر کابل مسلط کړل.

دغې ډلې د افغاني فرهنګ خلاف د نورو ګڼو هڅو ترڅنګ په تعلیمي نصاب کې د بدلون هڅه وکړه، د زده کړې په سیستم کې

یې نوي مضامین ځای او په تدریج سره یې د هغو مضامینو د محتویاتو پر کمښت پیل وکړ، چې دوی ته یې ذهني او فزیکي خطر راولاړولای شو. ځینو درسي کتابونو ته بدلون ورکړای شو او ځینې نور یې په خپله خوښه ورزیات کړل. په ټولو فرهنګي مرکزونو کې د روسي مشاورینو شتون حتمي خبره وه.

په هر دولتي او روزنیز مرکز کې «د شوروي دوستۍ خونه» په نوم یو کلتوري مرکز جوړ شو. روسي ژبه په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې شامله او هڅه وشوه، چې د انګلیسي ژبې ځای ورکړای شي. د روسانو د شتوالي پر وخت د تعلیمي نصاب د بدلون په نتیجه کې یو ځل بیا د ملت پر اوږو دروند مالي لګښت پرېوت. کله چې د روسانو او د هغو د پلوي حکومت پر ضد په ټول هېواد کې ملي او اسلامي سراسري جګړه پیل شوه، نو هغه ښوونځي او فرهنګي مرکزونه چې د حکومت له واکه وتل بیا پر بل ډول ناتار اخته کېدل. تنظیمیانو په دې پلمه، چې ښوونځي د دولت ملکیت کې حسابېږي او دوی د روسانو او حکومت پرضد جګړه کوي، د ښوونځیو په سېزنې او ړنګونې یې لاس پورې کړ. شاید ددې تر شا داسې ناوړه توطیه ګر لاسونه موجود وو، چې ښوونځي ټول ختم کړای شي او ټولنه بېسواده شي او په دې ډول د جګړې لپاره خام مواد (بشري قوه) زیاته شي. ځکه چې نالوستي کسان د عقیدې تر چتر لاندې هر ډول قربانۍ ته حاضرېږي. هر کله چې به یوه سیمه د تنظیمونو لاس ته ورغله، نو له ښوونځیو به لوګي پورته کړای شول. په پایله کې به د جګړه ځپلو سیمو اکثره هغه ښوونځي چې له یوه

لاس نه بل ته لوېدل، له منځه يوړل شول او دا کار د هېواد په اکثرو سيمو کې ترسره شو. د ښوونځيو د رنګونې او سېزنې عملي او درونډ بار د تنظيميانو پر اوږو پروت دی او دا مسووليت تر زياته حده د دوی پر غاړه دی، خو د پردې تر شا کېدی شي نور غرضونه او لاسونه موجود وو. پايله دا شوه، هغه ښوونځي چې په کليوالي او اطرافي سيمو کې موجود وو، د هغو ډېر زيات شمېر له منځه يوړل شو. «پر (۱۹۷۲م) کال په افغانستان کې (۱۹۱۲) کليوالي، (۱۵۱۷) ابتدايي، (۵۱۲) متوسطې، (۱۹۷)لېسې، (۱۹) ديني مدرسې او (۱۷) مسلکي ښوونځي موجود وو». (۳)

د ښوونې او روزنې وزارت د يوې خپرونې له مخې پر «۱۳۶۹ل کال د عمومي زده کړو د ښوونځيو شمېر (۱۴۰۱) و، چې له هغې جملې څخه (۳۴۴) لېسې، (۴۸۰) منځني ښوونځي او (۵۷۷) يې لومړني ښوونځي وو. په هغوی کې (۹۰۹۸۷۰) تنو زده کوونکو لوست کاوه.» (۴)

غالباً دا ښوونځي به په هغو سيمو په ځانګړې توګه په لويو ښارونو کې پاتې وو، چې تر دې وخته لا د تنظيمونو تر واک لاندې نه وو راغلي.

کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال د تنظيمونو يوه ډله له روسانو سره د پټ سازش او د حاکميت په دننه کې سمتي، قومي او سيمه ييز

فکر ته د ځينو د متمايلو اشخاصو د ښکاره ائتلاف په نتيجه کې کابل ته رادننه کړای شوه، هغه څه ترسره شول چې د کولو نه وو.

کله چې د هېواد په اکثرو ښارونو او له هغې جملې نه په کابل ښار کې ستر بشري ناورين پيل شو، په ښارونو کې له تېرو ناخوالو پاتې فرهنګي او ملي شتمنۍ د اور تر ستوني تېره شوه. د ټول هېواد په کچه (۳۵۰۰) (۵) ښوونځي رنګ او وسېزل شول. که په هر ښوونځي کې (۱۰۰۰) تنه زده کوونکي پر درس بوخت وای، نو مجموعي شمېر به يې (درې نيم مليونه تنه) شوی وای او که لږ تر لږه له هر ښوونځي څخه (۵۰) تنه فارغ شوي وای، نو د يو کال د فارغانو شمېر به (يو سل او پنځه اويا زره تنه) وای او که له هرو پنځو تنو څخه يو تن د لوړو زده کړو امکان پيدا کړی وای، نو پر يو کال به مو لږ تر لږه پنځه دېرش زره تنه د لوړو زده کړو محصلين درلودل او که دا بيا په تېرو (۱۷) کلونو کې ضرب کړو (نو له پنځه سوه او پنځه نوي زره) تنو سره مساوي کېږي. يانې تقريباً په هرو دېرشو تنو کې به يو تن د لوړو زده کړو خاوند وای. که يوازې د دولسمو ټولګيو د اتکليزو فارغانو شمېر په پام کې ونيسو، نو تر دوو مليونو تنو څخه زياتېږي، يانې که جګړه نه وای او يا دا اوسني لوستي کسان هم په پام کې ونيسو، نو په هرو شپږو او يا اوو تنو

کې به یو تن د لیک او لوست خاوند وای. (۲) په داسې حال کې چې اوس موږ په سلو تنو کې پنځه تنه باسواده کسان هم نه لرو.

دا خو د ښوونځیو معنوي زیان و، دغه راز د یادو شویو ښوونځیو د ودانیو مالي لګښت هم تر سوونو ملیونو ډالرو څخه زیات اټکلېدای شي.

کله چې د تنظیمونو او ملحدینو بېلابېلې ډلې په کابل ښار کې پر جګړه اخته شوې، نو یوازې په څو لومړنیو ورځو کې د کابل ښار ښوونځیو ته د اړتیا وړ لومړنیو موادو له درکه (۱۵) ملیونه امریکایي ډالره زیان واړول شو. (۷) د ټول زیان د اټکل کچه ډېره زیاته ده.

((۲))

# د لوړو زده کړو مرکزونه

په افغانستان کې د لوړو زده کړو عملي پیل له (۱۳۱۱ل) کال راهیسې شوی، پر همدې کال په کابل کې د طب پوهنځی جوړ شو، چې د کابل پوهنتون زړی یې کېښود. (۸) سره له دې چې تر دې دمخه هم په افغانستان کې د عصري او لوړو زده کړو لپاره نظرونه او فکرونه موجود وو، خو د لوړو زده کړو په برخه کې د واکمنو هڅې او نظرونه بریالیتوب ته نه وو رسېدلي.

تر (۱۳۱۱ل) کال راهیسې په هېواد کې د لوړو زده کړو بېلابېل مرکزونه جوړ شول. د کابل پوهنتون تر تاسیس وروسته پر (۱۳۴۲ل) کال په جلال اباد کې د طب پوهنځی جوړ شو، پر (۱۹۶۷م) کال په کابل کې د پولیتخنیک انستیتوټ جوړ شو، چې بېلابېل پوهنځي یې درلودل. (۹) دغه راز په حربي او عسکري برخه کې حربي او هوايي پوهنتونونه جوړ شول او هم د پولیسو او تخنیک اکاډمۍ تاسیس شوې.

د (۱۹۷۵- ۱۹۷۲م) کال د یو رقم له مخې په ټول هېواد کې (۱۰) دارالمعلمینونه او د لوړو زده کړو (۱۴) موسسې موجودې وې. (۱۰) تر دې وروسته بیا هم یو لړ نورې موسسې جوړې شوې.

پر (۱۹۷۷م) کال یوازې د دارالمعلمینونو شمېر (۱۵) ته رسېده. (۱۱) له (۱۳۵۷ل) کال څخه تر (۱۳۷۱ل) کال پورې بیا هم د لوړو زده کړو لپاره ځیني پوهنځي او پوهنتونونه جوړشول، لکه د بلخ، هرات او کندهار پوهنتونونه، د اجتماعي علومو او پیداګوژۍ انستیتیوتونه او ځیني نور، خو له دې سره سره بیا هم په هېواد کې لوړو زده کړو هغسې چې لازمه وه، مناسبه وده ونه کړه. پر (۱۳۵۷ل) کال د هېواد د لوړو زده کړو پر موسسو باندې یو فکري سیوری او کنټرول خپور او حاکم شو. هغه چا چې د حاکم فکر مخالف حرکت ته لمن وهله په زغرده له منځه وړل کېدل، په همدې وجه د لوړو زده کړو د موسسو یو شمېر پوهان یا په زندانونو کې واچول شول، یا مهاجر شول او یا هم د ژوند له نعمت نه بې برخې شول. د لوړو زده کړو د موسسو پر علمي ساحې سیاسي فضا خپره شوه، سیاسي غونډې، میټنګونه او مارشونه د درسي چارو د اخلال او تم کېدو اساسي وسیلې شوې. کله چې روسان او ګوډاګي یې راغلل، نو بیا هم دې لړۍ دوام وکړ او په ځینو ځایونو کې لا ګرمه شوه. د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د نورو موسسو په نصابونو کې د بدلون هڅه وشوه او یو زیات شمېر نوي کتابونه چاپ او محصلینو ته د تدریس لپاره وړاندې شول. (۱۲) د داسې فکر او ایډلوژي د تبلیغ لپاره هڅه وشوه، چې زموږ د ټولنې کلتور او فکر ورسره پوره مخالفت درلود.

د دوکتور نجیب الله د حاکمیت پر وخت هڅه وشوه، چې په تدریجي ډول پوهنتونونه او د لوړو زده کړو نور روزنځایونه خپل

اصلي مسیر ته وروګرځول شي، خو دا داسې وخت و، چې د نړۍ د لوړو زده کړو له اکثرو موسسو سره د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسسو هغه پخواني روابط شلېدلي وو او نه د دوکتور نجیب الله د حکومت بقا یقیني وه او نه هم د هغه د حکومت اقتصاد ددې جوګه و، چې د لوړو زده کړو مؤسسې دې بېرته خپل تېر کیفیت ترلاسه کړي.

خو بیا هم په تولیز ډول له (۱۳۵۷ - ۱۳۷۱ل) کال پورې د پوهنتونو او د لوړو زده کړو د نورو مؤسسو فزیکي جوړښت روغ و، یوازې د فکر او د درس د میتود مساله پوره مطلوبه نه وه، خو کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال په کابل کې یو منفي بدلون راوستل شو، نو هر څه له کنټروله ووتل. ان ځینو هغو کسانو، چې د کابل د لوړو زده کړو په مؤسسو کې یې زده کړې کړې وې له هغو څخه مورچلې جوړې کړې او دومره توغندي، درنې او سپکې ګولۍ یې پرې وورولې، چې په نړۍ کې به یې ساری پیدا نه شي. په نتیجه کې نه یوازې په کابل ښار، بلکې په ټول هېواد کې د لوړو زده کړو کوم مرکزونه چې د تېرو جګړو له ناخوالو جوړ پاتې وو، یو په بل پسې ړنګ او وسېزل شول، وسایل او وسایط یې لوټ او تالان شول. دلته به موږ د کابل پوهنتون، د کابل طب دولتي انستیتیوت او د کابل پولیتخنیک انستیتیوت د بېلګې په توګه راوړو او په نورو به په مجموعي ډول خبرې وکړو:

## ۱- کابل پوهنتون:

کابل پوهنتون په افغانستان کې د لوړو زده کړو تر ټولو لویه او ستره موسسه ده. د دې موسسې د بنسټ ډبره پر (۱۳۱۱ل) کال (۱۹۳۲م) کال د (طب پوهنځي) په جوړلو سره کېښوول شوه. پر (۱۳۱۷ل) کال د حقوقو پوهنځی جوړ شو، پر (۱۳۲۱ ل) کال د علومو پوهنځی او پر (۱۳۲۳ل) کال د ادبیاتو پوهنځی جوړ شو. پر (۱۳۲۵ل) کال د هغه وخت د دولت له خوا یو فرمان صادر شو او د هغه ترمخه کابل پوهنتون رسماً په همدې نامه ونومول شو او نوموړو ځلورو پوهنځیو یو ځای په کې پر تدریس پیل وکړ.

د پوهنتون په چوکاټ کې پر (۱۳۳۰ل) کال د شرعیاتو، پر (۱۳۳۵ل) کال د انجنیري او زراعت، پر (۱۳۳۲ل) کال د اقتصاد، پر (۱۳۳۸ل) کال د فارمیسي، پر (۱۳۴۰ل) کال د وترنري، پر (۱۳۴۱ل) کال د تعلیم او تربیې او نورو پوهنځي یو په بل پسې جوړ شول.

خو پر شپېتمو کلونو د پوهنتون په چوکاټ کې د ښکلو هنرونو، ژورنالیزم، ځمکپوهنې او د اجتماعي علومو پوهنځي نوي جوړ شول، د شرعیاتو پوهنځی چې د شپېتمو کلونو په وروستیو کې ترې د اسلامي څېړنو پوهنتون جوړ شوی و، پر (۱۳۷۳ل) کال بېرته د پوهنتون جز شو. کابل پوهنتون (۱۴) پوهنځي او (۶۲) ډیپارټمنټونه لري. یو وخت کابل پوهنتون د کوبالټ، د لمر انرژۍ څېړنو مرکز او د کرنې د څېړنو یو فارم درلود.

د کابل پوهنتون د پخواني رئیس پوهاند سید امیرشاه حسن یار د څرګندونو له مخې د ((۱۳۷۱ ل کال په لومړیو کې په کابل پوهنتون کې (۵۲۵) تنه استادان پر تدریس بوخت وو)) او بیا دې شمېر د وخت په تېرېدو سره بدلون موندلی دی، ورځ پر ورځ د استادانو شمېر کم شوی دی.

د درې کلنو جګړو په اثر د زده کړې اتاقونو، لابراتوري تجهیزاتو مجهزې چاپخونې، سامان او فرنیچر، د لیلې سامان او وسایل، کفتریا او د څېړنو مواد او سامان یا په بشپړ ډول او یا نسبي توګه له منځه وړل شوي دي. د پوهنتون رئیس د یوې مرکې له مخې ((د دې زیانونو لومړنۍ ټاکل شوې خساره (۵۰) ملیونه ډالره اټکل شوې ده. پر هره ورځ د هر محصل د پنځوسو درسي ساعتونو او په اوونۍ کې د دېرشو ساعتونو ضایع کېدل او په دوو اکاډمیکو کلونو کې د اتلس میاشتني تلف شوي وخت پر اساس له لس زرو څخه د زیاتو محصلینو تلف شوی وخت تر (۲۱) ملیونو درسي ساعتونو څخه زیاتېږي)).

یانې کابل پوهنتون د یوویشتمې پېړۍ د تمدن له کاروان څخه (۲۱) ملیونه ساعتونه وروسته پاتې شوی دی. له دې پرته د پوهنتون مرکزي کتابتون، د ښکلو هنرونو د پوهنځي ګالري او د علومو پوهنځي موزیم له منځه وړل شوي دي. د دې فرهنګ لوټونې معنوي ارزښت په مادیاتو اټکل کېدی نه شي. په حقیقت کې په ځینو برخو کې د دې ولس د فرهنګ د حال رابطه د هغې له ویاړلي ماضي سره پرې شوې ده.

سره له دې چې د پوهنتون ټول پوهنځي یا په بشپړ او یا هم په نسبي ډول تخریب شوي، خو په دې کې بیا د فارمیسي پوهنځي دري پوړیز تعمیر تقریباً په بشپړ ډول تخریب شوی دی، د علومو او وترنرۍ پوهنځیو ودانۍ په سلو کې شپېته زیانمنې شوي، د مرکزي لیلیې یو وینګ هم بشپړ تخریب شوی او لیلیې ته نور هم زیات زیان اړول شوی دی. د کرنې پوهنځي د ودانۍ چت په سلو کې پنځوس تخریب شوی، په مجموعي ډول هېڅ داسې ودانۍ نه شته، چې زیان یې نه وي زغملی. دغه راز د اوبو او برېښنا سیستم او هم د ټلېفون شبکه تقریباً په بشپړ ډول له منځه وړل شوي دي. د نجونو لیلیه چې پر (۱۳۵۷ - ۱۳۷۱)کلونو په ډېر عصري سیستم او له اوسني نرخ سره د ملیونونو ډالرو په ارزښت او لګښت جوړه شوې وه، په بشپړ ډول سېزل شوې او تخریب شوې ده.

د پوهنتون په مرکزي کتابتون کې د (۱۳۷۱ل) کال په لومړیو کې (یوسلو پنځوس زره عنوانه) بېلابېل او په بېلابېلو ژبو علمي، ادبي، سیاسي، تاریخي، هنري او نور مهم کتابونه موجود وو. پنځه سوه عنوانه علمي ژورناله، اووه زره عنوانه مونوګرافونه، تحقیقي رسالې او کتابونه ( د افغانستان پېژندنې په برخه کې) د جرایدو او مجلو شپږ سوه کلکسینونه د (میرعماد) د اووه قلمه او اته رنګه قرآن کریم په ګډون دوه زره پنځه سوه خطي نسخې، د بهزاد میناتوري اثار او نور موجود وو.

تر جګړو وروسته د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې یوازې شل زره عنوانه کتابونه پاتې وو او نور ټول یا لوټ شوي او یا د اور تر کومې تېر شوي دي.

د پوهنتون مرکزي کتابتون نه یوازې د استادانو او محصلینو لپاره یو څېړنیز مرکز و، بلکې له بهر څخه هم ځینې څېړونکي دې کتابتون ته د څېړنې لپاره راتلل. کابل پوهنتون چې د نړیوال ارزښت او اتوریتې درلودونکی دی او د یونسکو د پوهنتونونو په زرغون کتاب کې یې نوم ثبت دی، یو وخت د اتومي انرژۍ د څېړنو مرکز، د لمر د انرژۍ، د دارالامان د څېړنیز مرکز او د کتابونو د چاپ لپاره د مجهزې چاپخونې درلودونکی و، یو وخت یې (۱۴) عنوانه بېلابېلې مجلې چاپولې او تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه د استادانو تر (۱۲۰) عنوانو څخه زیات علمي او مسلکي درسي کتابونه په همدې چاپخونه کې چاپ شوي دي. (۱۳)

## ۲- د کابل طب انستیتیوت:

په کابل کې تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته د تنظیمي او خپلسرو جګړو په ترڅ کې د هېواد زیات شمېر فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزې موسسې ړنګې شوې.

د کابل طب انستیتیوت هم د دې جګړو له امله درانه زیانونه زغملي دي. د مالي زیان ترڅنګ یې د علمي زیان خبره هم د زیاتې اندېښنې وړ ده.

د جګړې په موده کې د محصلینو درسونه یا په نیمه او یا په بشپړ ډول ودرول شوي وو. که د محصلینو د شمېر په تناسب د درسي

ساعتونو شمېر په پام کې ونیسو، نو په مجموعي توګه به نوموړي انستیتیوت ته شاوخوا لس ملیونه درسي ساعتونه زیان اوښتی وي.

د طب انستیتیوت د هغه وخت، جنسي مدیر ښاغلي محمداصف وویل: ((سره له دې چې انستیتیوت ته د ټولو رسول شویو زیانونو دقیق شمېر خورا ګران کار دی، خو بیا هم په اټکلیز ډول د زیانونو اندازه څه نا څه لګېدی شي. په انستیتیوت کې د پتالوژۍ، بیوشیمۍ، هستولوژۍ، فارمکولوژۍ، مکروبیالوژۍ، اناتومۍ، کیمیا، فزیک ډیپارټمنټونه موجود دي. دې څانګو خپل خپل مجهز لابراتوارونه لرل، چې د طبي علومو په زیاتو عصري وسایلو سمبال وو. دا لابراتوارونه له ټولو وسایطو او وسایلو سره له منځه وړل شوي دي. د انستیتیوت فزیکي ساختمان او نورو درسي خونو، وسایطو او وسایلو ته درونډ زیان اوښتی دی. د ودانۍ په سلو کې ۳۰ برخې تخریب شوي دي، د اوبو او برېښنا سیستم یې هم ویجاړ شوی او د انستیتیوت شل عرادې بېلابېل موټر غلا شوي دي. د قرطاسیې ډیپوګانې چور شوي، ټول سمعي او بصري مواد، لکه د عکاسۍ کمرې، مایکونه، پروجکټورونه، لوډسپیکرونه، علمي سینمایي فلمونه، هنري سینمایي فلمونه، ټلویزیونونه، ترانسفرمرونه، ویډیوکیسټې او داسې نور غلا شوي دي. سربېره پر دې د انستیتیوت ډېره مجهزه چاپخونه (مطبعه) هم له منځه وړل شوې ده.))

د بیـالوژۍ د څـانګې یـو سـابقه لرونکـي اسـتاد وویـل: ((یـوازې زمـوږ د بیــالوژۍ څــانګې لــه لابراتــوارو څخــه یــې پــه لســګونو میکروسـکوپونه، د تسـلیخ بکسـونه، د میکروسـکوپ ګروپونـه، مختلف تثبیت شوي سلایډونه، (۵۰۰۰) داني ساده سلایډونه، (۲۰۰) دانې درجه لرونکې استوانې، یخچالونه او نور وسایل چور او له منځه وړي دي.))

د انستیتیوت یو تن مسوول وویل: ((کېدی شي د انستیتیوت د بیا رغونې لپاره په لکونو ډالر په کار شي، خو د ټول زیان د دقیقې شمېرې اټکل اوس ناشونی دی.))

بـل درونـد او نـه جبرانېـدونکی زیـان، چـې دې انسـتیتیوت تـه اوښـتی هغـه د علمـي او درسـي کتـابونو لـه منځـه وړل دي. د کابـل طب انستیتیوت یو ډېر مجهز کتابتون درلـود. د نومـوړي کتـابتون د هغـه وخت امـر ښـاغلي غـلام علـي وویـل: ((پـه دې کتـابتون کـې پنځوس زره عنوانه بیلابېل علمي کتابونه موجود وو، چې اکثره یې په انګلیسي ژبه وو، کله چې دلته د جګړې اور ولګېد، نو د کتـابتون دري واړو منزلونو اور واخیست، زیـات کتـابونـه پـه کـې ایره شول، د طب انستیتیوت د ځینو کارکوونکو په هڅه او هانـد یوازې (۲۰۰۰) عنوانه کتابونه له انستیتیوت څخه بهر یو خوندي ځای ته انتقال شول او د حالاتو په ښه کېدو سره بېرته راوړل شول. د انسـتیتیوت پـه کتـابتون کـې د دې انسـتیتیوت د اسـتادانو هغـه (۵۰۰۰) عنوانه علمي کتابونه هم موجود وو، چې دوی پر بېلابېلو

وختونو د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره لیکلي وو او دلته یې یوه یوه خطي نسخه موجوده وه. دا اثار هم د جګړې د طاعون ښکار شول.
په اټکلیز ډول ویلای شو، چې یوازې د کتابونو د مالي زیان له امله نوموړي انستیتیوت ته په لکونو ډالره زیان اوښتی دی». (۱۴)

## ۳- د کابل پولیتخنیک انستیتیوت:

تر کابل پوهنتون وروسته د کابل طب انستیتیوت په شان د کابل پولیتخنیک هم د هېواد ستر علمي او روزنیز مرکز دی. تراوسه پورې دې انستیتوت په زرګونو کادرونه افغاني ټولنې ته وړاندې کړي دي. دا انستیتیوت د پخواني شوروي اتحاد په مالي لګښت جوړ شوی دی او تراوسه یې تحصیلي نصاب په همغه روسي سیستم روان دی.
د پولیتخنیک انستیتیوت څلور بېلابېل پوهنځي لري. د لیلیې د ودانیو ترڅنګ یو لوی جمنازیوم او یو لوی خوړنځای هم لري. د ودانیو او نورې ښکلا له پلوه د کابل پولیتخنیک تر کابل پوهنتون وروسته دویمه ستره اولویه تحصیلي موسسه ده.
کله چې جګړه پیل شوه، نو کابل پولیتخنیک هم ډېر زیات وخت د جګړې ډګر پاتې شو، په پولیتخنیک کې چې د نوموړي علمي مرکز څه شتمني وه، ټوله لوټ شوه، د انستیتوت پر ودانیو په زرګونو لویې او وړې مرمۍ راپرېوتې او د هرې ودانۍ سینې پرې سورۍ سورۍ شوې، د محصلینو د تطبیقاتو اکثره وسایل چې

د ډېر زیات مالي ارزښت درلودونکي وو ټول یا چور او یا له منځه یوړل شول.

د پولیتخنیک مجهز کتابتون، چې په بېلابېلو ژبو، په ځانګړي ډول په روسي ژبه په کې په لسګونو زره عنوانه بېلابېل علمي، تخنیکي او نور ډول ډول کتابونه موجود وو اکثره له منځه یوړل شول. د جګړې په اکثرو (تقریباً درې نیم کلونو) کې کابل پولیتخنیک د محصلینو پر مخ تړلی پاتې شو. که د محصلینو د هرې ورځې درسي ساعتونه او د محصلینو شمېر په پام کې ونیسو، نو په اټکلیز ډول کابل پولیتخنیک تر (۱۲) ملیونو درسي ساعتونو څخه زیات وخت ضایع کړی دی.

د کابل پولیتخنیک د ټول زیان معلومول هم څه ناڅه ناشونی ښکاري، خو څرنګه چې کابل پوهنتون ته رسېدلې خساره تر (۵۰) ملیونو ډالرو زیاته اټکل شوې وه، نو د کابل پولیتخنیک به هم ددې معادله او یا هم تر دې زیاته اټکل شي، ځکه چې په کابل پولیتخنیک کې د محصلینو د زده کړې لپاره ډېر زیات تخنیکي او انجنیري امکانات برابر شوي وو. سره له دې چې د کابل پوهنتون او کابل پولیتخنیک د ودانیو د بیا جوړونې لپاره پر (۱۳۷۵ل) کال بیا کار پیل شو، خو بیا هم دا کار بشپړ نه شو او هغه وسایل او د زده کړې نور امکانات چې په دې مرکزونو کې وو د هغو بیا پوره کول ډېر وخت او غټ مالي امکان غواړي او ځینې برخې یې کېدی شي بیا هېڅ جوړې نه شي.

## ۴- د لوړو زده کړو نور مرکزونه:

پر کابل پوهنتون، کابل پولیتخنیک او کابل طب انستیتیوت سربېره په هېواد کې د لوړو زده کړو نورې ګڼ شمېر موسسې هم موجودې وې، چې د (۱۳۷۱ل) کال له ثور څخه د (۱۳۷۵ل) کال تر میزان پرله پسې جګړو یو په بل پسې رنګې کړې، لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه د لوړو زده کړو د نورو موسسو ترڅنګ تر پنځلسو زیاتو دارالمعلمینونو هم هېواد ته ښوونکي روزل.

په ملکي ساحه کې د لوړو زده کړو پر مرکزونو سربېره په عسکري ساحه کې هم هېواد داسې ستر مرکزونه درلودل، چې پر خپل وخت د ځینو ګاونډیو هېوادونو په ډله کې په لومړي کتار کې ودرېدل.

حربي پوهنتون د خپل ټول عمر په بهیر کې په زرګونو صاحب منصبان ټولنې ته وړاندې کړي دي، خو کله چې په کابل کې څلور نیم کلنه جګړه پیل شوه، نو حربي پوهنتون داسې یوه ساحه وه، چې په دې ټوله موده کې د جګړې ډګر پاتې شو. په زرګونو زرګونو درنې او سپکې ګولۍ د حربي پوهنتون پر سینه ورتشې شوې. په نتیجه کې د پوهنتون ټولې ودانۍ یا بشپړې او یا په نسبي ډول ویجاړې شوې. د پوهنتون درسي خونې وسایل او وسایط ټول له یوې مخې تباه کړای شول. حربي پوهنتون په تحصیلي موسسو کې هغه ستره موسسه ده، چې ډېر زیات زیان یې ګاللی دی، اوس د پوهنتون د بډایه کتابتون په ګډون هلته هېڅ شی پاتې نه دي. د حربي پوهنتون د درانه زیان د اندازې ټاکل خورا ګران کار دی، خو

کلـه چـې سـړی د پوهنتــون ودانیــو، درســي خونــو، د درس د نــورو لوازمو او په مجموعي ډول د پوهنتون پخوانیو امکاناتو تـه ګوري، نو تر سلو ملیونو ډالرو زیاته پانګه په کار ده، چې لږ تر لږه پوهنتون هغه پخواني حالت ته ورنږدې کړي.

د حربـي پوهنتــون ترڅنـګ د هـوايي او هـوايي مـدافعې پوهنتــون هغـه دویـم سـتر پوهنتــون دی، چـې د افغانســتان د پـوځ لپــاره يــې پیلوټـان، تخنیکـران او د هـوايي مـدافعې لپـاره مسـلکي پوځیـان روزل. دا پوهنتــون هــم د امکانــاتو، وســایلو او مســلکي کــادرونو لــه پلوه په سیمه کې د خپـل وخت یو نـامتو پوهنتـون و. پـر (۱۳۷۱ل) کال پر دې پوهنتون وبا خوره شوه. د پوهنتون د زده کـړې وسـایل او د تطبیقــاتو ټــول لــوازم او امکانــات لــه منځــه یــوړل شــول، ان د پوهنتون د ځینو ودانیـو کړکـۍ هـم پاتې نـه شـوې؛ څـه د توغندیو اور وسېزلې او څه هم د چور او تـالان منګولو تبـاه کـړې. د پوهنتـون مجهز کتابتون هم چور او تالاشو.

ویـل کېږي، یـو وخـت هـوايي پوهنتــون هـر کـال (۵۰) تنـه پیلوټـان فارغول، د هوايي پوځ د نورو برخو مسلکي کادرونه خو لاپرېږده.

د حربي پوهنتون په شان ددې پوهنتون زیان هـم خـورا درونـد دی. ځکه هغه وسایل او وسایط چې دغـه پوهنتـون د خپلـو محصـلینو د روزنــې پــه مقصــد د تطبیقــاتو لپــاره اینښــي وو، هغــو پــه خپلــه د ملیونونو ډالرو ارزښت درلود.

که د پوهنتون د ودانیـو، وسـایلو، وسـایطو، د محصـلینو درسـي لوازمـو او د هغـوی د تطبیقـاتو درانـه او سـپک وسـایل پـه پـام کـې

ونیسو، نو د هغوی ټول مالي ارزښت تر دوه سوه ملیونه ډالرو هم زیاتېږي. ځینو کسانو ته کېدی شي دا اټکل زیات معلوم شي، خو که هغه ډول ډول الوتکې، توغندي او د هوایي پوځ نورې درنې وسلې چې محصلینو پرې تطبیقات کول او پر هغو باندې یې زده کړه کوله، په پام کې ونیسو نو یقیناً چې دا زیان به تر یاد شوي رقم هم لوړ شي.

د حربي پوهنتون تر څنګ د تخنیک اکاډمۍ موقعیت درلود، دې اکاډمۍ چې د تخنیک په بېلابېلو څانګو کې افسران او تخنیکران ټولنې ته وړاندې کول، هم د جګړې ګوزارونه وزغمل. پر دې ځای د جګړې سیوری تقریباً په څلور نیم کلنه موده کې د زیات وخت لپاره پاتې شو. په نتیجه کې هر څه چې په دې اکاډمۍ کې موجود وو یا په جګړه کې له منځه یوړل شول او یا هم چور او غلا شول.

د تخنیک پر اکاډمۍ سربېره په پوځي چارو کې یوه بله اکاډمي هم موجوده وه،چې د پولیسو او بیا یو وخت (د څارندوی اکاډمۍ) په نامه یادېدله، دې اکاډمۍ د کورنیو چارو وزارت د مربوطو قطعاتو او نورو څانګو لپاره مسلکي صاحب منصبان او کادرونه روزل.

دې اکاډمۍ د کابل د خوشال مېنې په سیمه کې موقعیت درلود او دا هغه سیمه وه، چې د نورو سیمو په شان د جګړې دروند توپان پر همدې سیمه هم تېرېده راتېرېده. په نتیجه کې نه یوازې دا اکاډمي له خپلو زیاتو امکاناتو سره ویجاړه کړای شوه، بلکې په

هغه سیمه کې چې نورې تحصیلي، تعلیمي موسسې وې هغه هم لـه منځه لاړې.

د کابل ښار د خوشال مېنې په ساحه کې ( د ټولنیزو علومو انستیتیوت) موجود و. دا انستیتیوت د شپېتمو کلونو په بهیر کې ((د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند)) له خوا د خاصو اهدافو لپاره جوړ شوی و. تر څو کلونو وروسته بیا د ګوند له خوا لغوه شو. ټول محصلین یې په کابل پوهنتون کې جذب شول. خو له دې انستیتیوت څخه ډېرې ښکلې ودانۍ پاتې شوې. یو وخت بیا داسې راغی، چې په همدې ځای کې د ((وحدت حزب)) مرکز جوړ شو. بیا څو ځله دا سیمه لاس په لاس شوه او د انستیتیوت ودانۍ په کې زیانمنې شوې. خو بیا هم د هغې سیمې د نورو ودانیو په تناسب دا ودانۍ جوړې پاتې دي. د کابل په ده بوري سیمه کې ( د اسلامي څېړنو مرکز) موقعیت درلود. دې مرکز د خپلو ګڼ شمېر علمي څېړنو او غونډو د جوړولو ترڅنګ یو ډېر مجهز کتابتون هم درلود. کله چې د کابل په دې سیمه کې ګرمه جګړه پیل شوه، نو دا مرکز له خپلو ټولو امکاناتو سره له منځه لاړ. د مرکز ودانۍ اوس داسې رنګه شوې ته به وایې دلته هېڅ ودانۍ نه وه.

همدې علمي مرکز ته مخامخ د سید جمال الدین افغان دارالمعلمین واقع و، چې ګڼ شمېر محصلین یې درلودل. ددې روزنځي ودانۍ اوس پر سینه پرته ده او د یوې لویې غمیزې انځورګري کوي. دې دارالمعلمین چې هر څه لرل، سره له خپلو

ټولو څانګو، درسي موادو او نورو امکاناتو له منځه یوړل شول. د دې مرکز د ټولو ودانیو بیا جوړول ملیونو ډالرو ته اړتیا لري.

تر سید جمال الدین افغان دارالمعلمین یو څو کیلو متره وړاندې د دارالامان تاریخي ودانۍ ته نږدې د کابل د پیداګوژۍ انستیتیوت جوړ شوی و. دې انستیتیوت د ښوونې او روزنې د وزارت په چوکاټ کې فعالیت کاوه. د انستیتیوت ودانۍ په خوار ښکلې او لوکسه بڼه نوې جوړه شوې وه. دې انستیتیوت ګڼ شمېر ښوونکي ټولنې ته وړاندې کړي دي. د پښتو، دري، تاریخ څانګو په ګډون یې یو شمېر نورې څانګې هم درلودلې. هرې څانګې ځانته یو ځانګړی کتابتون هم درلود. کله چې جګړه پیل شوه، نو ددې سیمې اکثره ودانۍ د درنو توغندیو تر ګوزارونو لاندې راغلې. اوس ددې سیمې اکثره ودانۍ پر سینه پرتې دي، یوازې ځینې سوي دېوالونه ولاړ ښکاري. څرنګه چې د پیداګوژۍ د انستیتیوت دېوالونه پاخه وو، د خامه کورونو په پرتله پرې د توغندیو زور ډېر نه دی رسېدلی، خو بیا هم ددې علمي مرکز درسي خونو، ودانیو او نورو امکاناتو ته دومره زیان رسېدلی، چې بیارغونه یې لکونو ډالرو ته اړتیا لري.

تر دې مرکز څو کیلومتره لرې د واصل اباد د غره په ډډه کې د کابل تخنیکم جوړ شوی و، چې ښکلو او زړه وړونکو ودانیو یې د هغې سیمې ښکلا ډېره زیاته کړې وه. دې تخنیکم یو وخت په کابل کې خپل ښه دوران، شان او شوکت درلود دا تخنیکم چې د پخواني شوروي په مالي لګښت او مرسته جوړ شوی و، درسي سیستم یې

د شوروي اتحاد تحصیلي سیستم تعقیباوه او زیات وخت یې درسي چارې د روسي مشاورینو او استادانو تر مستقیمې لارښوونې لاندې پرمخ وړل کېدلې. جګړې دا سیمه هم د کابل د غرب د نورو سیمو په شان ډېره زیاته وځپله.

کابل تخنیکم تر ځوارلسم ټولګي پورې محصلین روزل او تر هغه وروسته یې کابل پوهنتون او کابل پولیتخنیک ته د نورې زده کړې لپاره معرفي کول. کابل تخنیکم یو ډېر بډایه کتابتون او مجهزه لیلیه درلودله. د جګړې په دوران کې د دې تخنیکم د درسي چارو ټول لوازم او وسایل له منځه یوړل شول. د تخنیکم ودانۍ په زرګونو درنو ګولیو وویشتل شوې او ټول تخنیکم پر کنډوالو بدل کړای شو. د تخنیکم د بیا جوړونې لپاره ډېرو زیاتو پیسو ته اړتیا ده، چې کېدی شي په اټکلي ډول تر لسګونو ملیونو ډالرو واوړي.

((۳))

# د افغانستان د علومو اکاډمي

د افغانستان د علومو اکاډمۍ پر (۱۳۵۷ل) (۱۹۷۸م) کال د پښتو ټولنې، د تاریخ ټولنې، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز او د دایرة المعارف ټولنې څخه د هغه وخت د وزیرانو شورا په چوکاټ کې جوړه شوه.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په ترکیب کې اکاډمیسنان، د کاډمیسنانو کاندیدان او افتخاري غړي شامل دي. د علومو اکاډمي د لاندنیو څلورګونو علمي رتبو لرونکې ده:

۱- د محقق مرستیال

۲- محقق

۳- د سرمحقق مرستیال

۴- سرمحقق

د علومو په بېلابېلو برخو کې د علمي څېړنو سرته رسول، په هېواد کې د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او د فرهنګي بډاینې په مقصد د اوږدې مودې علمي تحقیقاتو پرمخ بیول، د اوبو د سرچینو، خاورې، تودوخې، انرژۍ، منرالي موادو، اومو موادو او د نورو طبیعي منابعو څېړنه او ارزیابي کول، د زېرمو ټاکنه او له هغو نه د

اغېزمنې ګټې د لارو چارو لټول، په ملي اقتصاد کې د ډېرو نويو علمي تخنيکي لاسته راوړنو او پرمختګونو نه د ګټې د امکاناتو او لارو چارو لټول، د هېواد د اقتصادي، ټولنيزې ودې، د لنډې او اوږدې مودې د پلانونو جوړول او څېړنه، د هېواد د اقتصادي بنسټونو د پياوړتيا او فرهنګي بډاينې په مقصد د اسلامي هدفونو په لاره کې فعاليت او ونډه اخيستل، په افغانستان کې د علم او پوهې د سطحې لوړوالی، د علومو په ډېرو سترو برخو کې د څېړنو ټاکنه او رهبري کول، په هېواد کې د علمي او څېړنيزو چارو سمون، يووالی او د تجربه يي څېړنيزو مسالو د پرمخبيولو لپاره د مادي او تخنيکي امکاناتو د برابرولو په لاره کې هڅه او هاند د افغانستان د علومو اکاډمۍ ستر هدفونه دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د همدغو هدفونو د پوره کولو لپاره کاميابي او بريمنې هڅې کړې دي. په کورنۍ کچه يې يو زيات شمېر څېړونکي او پوهان روزلي او د هغو د کار ثمرې يې ټولنې ته وړاندې کړې دي. يوازې د بشري علومو په برخه کې يې تر (۱۳۵۷ل) کال پورې د کتابونو او رسالو په ګډون ( دوه سوه پنځه شپېته پروژې) برابرې کړې دي. په کورنۍ سطحه يې په لسګونو لويې او وړې علمي او ادبي غونډې او سيمينارونه جوړ کړي او په لسګونو عنوانه بېلابېل څېړنيز، تاريخي، علمي او ادبي کتابونه، چې عمومي شمېر يې لکونو ټوکو ته رسېږي، په ډېره ښه بڼه او کچه چاپ او خپاره کړي دي. د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کورنۍ سطحه د هېواد د فرهنګ په بډاينه کې خپله ونډه اخيستې

ده. د علومو اکاډمۍ ځینو غړو په نړیوالو سیمینارونو او غونډو کې د افغانستان نمایندګي کړې او هلته یې د خپل هېواد علمي پرستیژ ساتلی دی. په خپله د علومو اکاډمۍ له خوا هم تر لسو زیات علمي نړیوال سیمینارونه او کنفرانسونه جوړ شوي چې د کوشانیانو په اړه، د پښتو د نړیوالو څېړنو د مرکز د لسمې کالیزې، د ابو علي سینا بلخي، خوشال خان خټک، امیر کروړ او ناصر خسرو بلخي نړیوال سیمینارونه د یادونې وړ دي. په دې سیمینارونو کې د نړۍ له نورو هېوادونو نه هم ګڼ شمېر پوهانو ګډون کړی و.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خپلو علمي پروژو د چاپ او خپراوي ترڅنګ په بېلابېلو وختونو کې د آریانا، خراسان، کابل، پښتو، لرغونپوهنه، طبیعت او ځینې نورې مجلې هم خپرې کړې دي او د زېري جریده هم. دغه راز یې په لسګونو خطي نسخې چې د اکاډمۍ لاسته ورغلي، بیا پرې کوم څېړونکي کار کړی او چاپ شوې دي او په دې ډول یې له مرګه ژغورلي دي.

خو اوس راځو دېته چې ایا اکاډمي هم چا خپل کار ته پرېښوده؟ او که پر هغې یې هم د سکروټو او قهر اورونه وورول؟

کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال د یوې غمیزې له پاسه بله غمیزه راغله، نو د اکاډمۍ پر ودانیو هم لوی ناتار خور شو. د اکاډمۍ اکثره ودانیو ته درانه زیانونه واړول شول. د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز ودانۍ او د پښتو ژبې او ادبیاتو، همدارنګه د کابل مجلې دفتر او یو شمېر نورې اداري پر پوځي اډې واړول شوې. له کتابونو

نه د سون د موادو په توګه کار واخیستل شو او د نومورو مرکزونو زیاتره علمي اثار او کړي کارونه له منځه یوړل شول. د علومو اکاډمۍ د خپلو ادارو ترڅنګ د کتاب ساتنې او کتاب پلورنې مرکزونه هم درلودل. ټول هغه کتابونه چې په کتاب ساتنځایونو او کتاب پلورنځیو کې موجود وو، هغه یا چور شول او یا له منځه لاړل. د علومو اکاډمۍ په هغو ودانیو کې چې پوځي چونۍ جوړې شوې وې کتابونه د هغو د ملېشو د ډوډۍ پخولو لپاره د سون مواد ګرځېدلي وو. هغوی به یو لوی دېګ ایښی و او یو یو کتاب به یې تر دېګ لاندې لمبو ته غورځاوه. کله چې د کتابونو زېرمې پای ته ورسېدې بیا نو د ودانیو پر کړکیو او دروازو پیل وشو. وایي چې د افغانستان مشهور عالم مرحوم دوست شینواري د کتابونو د سون همداسې یو حالت ولید. هغه د خپل عمر یو مهم څېړنیز کار پسې د علومو اکاډمۍ ته تللی و. هغه کار پسې دی ډېر سرګردانه شوی و او د ده د کلونو د زیار پایله وه، کله چې دی خپل دفتر ته ورننوتې شو، نو ګوري چې یو ټوپکي د ده د پروژې د کړي کار او کتاب یوه یوه پاڼه راشکوي او د اور کومي ته یې ګوزاروي. کله چې ده ټوپکي له دې کار څخه منع کولو ته دعوت کړ، نو هغه په تونده ژبه له دې ځایه ده ته د وتلو امر وکړ او ستغې سپورې خبرې یې هم ورپسې زیاتې کړې. کله چې دوست صیب له داسې یوې صحنې سره مخامخ شو، نو تاب یې رانه ووړ، زړه کې یې یو تاو پیدا شو او کله چې کور ته لاړ څو شېبې روغ و بیا پرې د زړه یوه

حمله راغله، تر روغتون پورې یې ساه یوړه، خو بیا یې بېرته تر خپل کور او دفتره رنې ستر ګې رانه وړې.

پر یو شمېر نورو لیکوالو هم د زړه حملې راغلې او ډول ډول کړاوونو یې د ژوند ستوني او لاسونه ومروړل.

په دې ډول د اکاډمۍ په زرګونو ټوکه کتابونه او په لسګونو عنوانه پروژې، خطي نسخې او تر لاس لاندې کړي او کېدونکي کارونه له منځه یوړل شول. (۱۵)

د علومو اکاډمۍ مرکزي کتابتون سره له دې چې له فزیکي پلوه روغ ښکاري، خو بیا هم ځیني مهم کتابونه او خطي نسخې یې په بازارونو کې لیدل شوې دي. د علومو اکاډمۍ د ټولو څېړونکو څېړنیزې پروژې او نور علمي کارونه تقریباً د څلورو کلونو په واټن کې پر ټپه ودرېدل. د کتابونو او ودانیو د فزیکي زیان د محاسبې له مخې نوموړې اکاډمۍ ته په ملیونونو ډالره زیان اړول شوی دی.

((۴))

# دولتي فرهنګي ټولنې

تر (۱۳۵۹ل) کال وروسته په کابل ښار کې د دولت په چوکاټ کې او د دولت د مالي لګښت په مرسته یو شمېر فرهنګي ټولنې منځته راغلې. د ژورنالیستانو، لیکوالو او هنرمندانو ټولنې هغه درې ټولنې وې، چې په دولتي فرهنګي فعالیتونو کې ډېرې زیاتې مطرح او د خپل ټول ژوند په اوږدو کې یې ګڼ شمېر علمي او هنري غونډې او سیمینارونه جوړ کړي او هم یې ګڼ شمېر کتابونه خپاره کړي دي. دې هرې ټولنې ځانته یو خپرنی ارګان او نور نشرات درلودل. د ژورنالیستانو اتحادیې د ((سباوون)) په نوم یوه ذوقي، هنري او ادبي میاشتنۍ مصوره مجله خپروله، د هنرمندانو اتحادیې هم د ((هنر)) په نوم یوه ځانګړې مجله خپروله او هم یې د هنرمندانو لپاره بېلابېل هنري انجمنونه جوړ کړي وو. کله چې په کابل کې جګړه پیل شوه، نو په دې ټولو خواوو زلزله خوره شوه، اکثره لیکوالو او هنرمندانو د جګړې، اقتصادي ستونزو او نورو کړاوونو له کبله کابل پرېښود. ددې انجمنونو د فعالیت ساحه ورځ پر ورځ تنګېدله، په نتیجه کې یې د کار ساحه ډېره محدود وه او

بیا وروسته بېخي له منځه یوړل شوه. ددې انجمنونو د مانیز زیان ترځنګ د هغو د ودانیو فزیکي زیان هم د زیاتې اندېښنې وړ دی.

د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیه، چې د افغانستان بانک سره متصل موقعیت لري، د ځو توغندیو اور ورته وررسېدلی، د اتحادیې دوه پوړیزه ودانۍ سخته ویجاړه شوې، د اتحادیې د کنفرانسونو او سیمینارونو تالار، چې په ډېره ښکلې بڼه او د ټولو امکاناتو او وسایلو په درلودلو سره جوړ شوی و، بېخي له منځه وړل شوی. د ودانۍ دویم پوړ ته هم درانه زیانونه اړول شوي او هم د دفترونو اکثره وسایل او وسایط غلا شوي، د ودانۍ نورې برخې ته هم زیات زیان اړول شوی دی. اوس نو که ځوک وغواړي، چې دا ودانۍ بېرته همغه لومړني شکل ته واړوي، نو تر یو ملیون ډالرو زیات لګښت ته په کې اړتیا شته. د هنرمندانو اتحادیې ته، چې په وزیرمحمداکبرخان مېنه کې یې موقعیت درلود، هم د توغندیو د لګېدو له امله زیان وراړول شوی دی. دغه راز د نومړو اتحادیو هغه وسایط هم غلا شوي، چې دې انجمنونو پخوا درلودل او بیه یې سلګونو ملیونو افغانیو ته رسېږي. د دفترونو د وسایلو ترځنګ د نومړو انجمنونو هغه شمېر کتابونه او نور نشرات، چې دې انجمنونو وخت پر وخت خپاره کړي وو، هم یا چور او یا هم وسېزل شول. یو شمېر نور مهم اثار چې تراوسه یې لاد تبلیغ، نشر او خپرېدو امکان نه و پیدا کړی، هم تباه کړای شول. دلته به د لیکوالو انجمن برخلیک ددې ډول انجمنونو د بېلګې په توګه لږ په تفصیل سره تر څېړنې لاندې ونیسو:

## د افغانستان د لیکوالو ټولنه:

د افغانستان د لیکوالو ټولنه پر (۱۳۵۹ل) کال د هغه وخت د دولت په چوکاټ کې د یو ټولنیز فرهنګي سازمان په توګه جوړه شوه. د لیکوالو انجمن تر (۱۳۷۱ل) کال پورې ښه په خلاص مټ او زغرده توګه د یادونې وړ کارونه ترسره کړل.

په یاده شوې موده کې د لیکوالو انجمن له خوا تر سلو زیاتې لویې او وړې علمي، ادبي او هنري غونډې جوړې شوي دي. دې ټولنې د خپلو فرهنګي کارونو د لاښه سمبالښت لپاره په ځینو ولایتونو او هم د کابل ښار په بېلابېلو موسسو او علمي مرکزونو کې خپلې او د ځوانانو د ادبي انجمن څانګې پرانیستې وې.

له (۱۳۵۹-۱۳۷۱ل) کال پورې د لیکوالو انجمن په پښتو او دري ژبو په ټولیز ډول تر (۱۵۰) عنوانو څخه زیات علمي، ادبي، تاریخي او هنري کتابونه چاپ کړي او هم یې په پښتو او فارسي ژبو د ((ژوندون)) څانګړې ادبي مجله او د ((قلم)) په نوم ادبي جریده له خپل مهالوېش سره سم په ډېره ښه علمي او طباعتي کچه خپرې کړې دي.

د لیکوالو ټولنې د خپرو شوو اثارو عمومي شمېر (۲۵۰۰۰۰) ټوکو په شاوخوا کې دی. له یاد شوي رقم څخه (۱۵۰۰۰۰) ټوکه کتابونه د نوموړي انجمن د کتاب ساتنې په زېرمه ځایونو او هم په کتابتونو او کتاب پلورنځیو کې خوندي وو. د (۱۳۷۱ ل) کال د ثور میاشتې تر لومړۍ لسیزې وروسته چې په کابل ښار کې کوم جنګونه پیل شول، نو دا کتابونه ټول یا چور او یا وسېزل شول.

زما د خپلو سترګو لیدلی حال دی؛ تر یاد شوي تاریخ څخه وروسته زه یوه ورځ د لیکوالو انجمن ته ورغلم، د لیکوالو په انجمن کې یوه پوځي اډه جوړه شوې وه.

د انجمن ټولې څوکۍ، مېزونه او د دفترونو نور وسایل مات او چور شوي وو؛ کتابونه له الماریو څخه راغورځول شوي او په خونو کې د ېرۍ پراته وو. د ځینو کوټو بامونه سوري شوي وو او د باران اوبه همداسې دننه په خونو کې پر کتابونو څڅېدلې.

له کتابونو څخه لږ څه لرې هلته په کوچنۍ کوټه کې یو نسبتاً لوی د بګۍ ایښودل شوی و. دا هغه دېګی و، چې تنظیمیانو ته په کې غرمنۍ او ماښامنۍ تیارېدله. د دېګي ترڅنګ په لسګونو کتابونه، لکه د خښتو په څېر سر پر سر ایښودل شوي وو او یو یو تر دېګي لاندې د سرو لمبو خولې ته اچول کېده.

ښه مې په یاد دي، یوه ورځ له یوه استاد سره د لیکوالو انجمن ته لاړم، له یو څه وېرې سره سره د لیکوالو انجمن ته وردننه شوو. استاد نېغ په نېغه هغې خونې ته ورغی، چې کتابونه په کې ایښودل شوي وو. هغه د خپل درې کلن زیار (خپل کتاب) د پلټلو او میندلو په خاطر هغې خونې ته ورغی. هغه د خاورو او دوړو له منځه خپل نازولی اولاد (کتاب) راووېست، په خپل زنګانه یې وواهه او ویې ښانده، دوړې او ګردونه ترې لاړل، په خپل کتاب یې د لیدو مینه نه وه ماته شوې ځکه چې هغه نوی چاپ شوی و او تراوسه یې لا د بازار سترګې هم نه وې لیدلې. دواړه له خونې راووتو. استاد د خپل اثر څو جلده نور هم راواخیستل، ما ته یې

وويل دا به هم واخلو، چې له مرګه بچ شي. کله چې له دې خونې راووتو، نو د يو ټوپکوال سترګې رابانـدې ولګېدې له ((چيس چيس؟)) اواز سره يې رابانـدې غـږ وکـړ او بيا يې د لاس په اشاره د ځان خواته وغوښتو. کله چې يې د استاد په لاس کې کتابونـه وليدل، نو وې ويل: (( چيست ده بغلت؟)) له دې سره يې لاس را اوږد کـړ او د استاد لـه لاسه يې د هغـه (اولادونـه) واخيستل. يو ځوګامه وړاندې تر تور د ېګي لاندې سرې لمبې بيا په مستۍ راغلې او دا کتابونه يې هم ددې لمبو غېږې ته ګوزار کړل. استاد ما ته وکتل او ما هغه ته. په سترګو کې يې د قهر او نهيلۍ لمبې تاوې شوې، خپل تندی يې د لاس په دوو ګوتو ټينګ کېکاږه او دواړه په يوې درد ېدلې چوپتيا له انجمنه ووتو.

تر هغه وروسته زه بيا هم څو ځلې انجمن ته لاړم، خو يوازې پر همهغه تور د ېګي او سرو لمبو مې سترګې لګېدې، چې يوه ګړۍ هم له نغري څخه نه کښته کېده.

يوه ورځ مې سوچ وکړ داسې يو څوک پيدا کړم، چې د دوی په ژبه پوه وي، په خوی او بوی يې بلد وي او په يوه کاسه يې ورسره ډوډۍ خوړلې وي، خو په پای کې مې داسې يو څوک پيدا کړ، له هغه سره يو ځای انجمن ته لاړم، غرمه رانږدې وه، يو ځل بيا مې پر د ېګي سترګې ولګېدې، د لمبو غورس ترې پورته کېده، يو تن يې تر څنګ ناست و، يو يو کتاب يې نيمايي کاوه او بيا يې تر د ېګي لاندې د اور کومي ته اچوه. کله چې پر موږ د پوستې د قوماندان سترګې ولګېدې، نو زما د همځنګ په ليدو ډېر خوشاله شو او

تر سلام دمخه يې وار له واره وويل: (( كجا استى بادار؟ دركايت نيس، مرا تنا ماندى تو رفتى چكرايته ميزنى؟)). ((قومندان)) د خولې مزي نور هم سستول، خو زما د همځنګ په اشاره يې ځان کنټرول کړ. تر دې خبرو وروسته لومړۍ زما همځنګ او بيا ما ورسره روغبړ وکړ. بيا هغه دننه خونې ته وبللو، دا هغه خونه وه چې پخوا په کې ( د افغانستان د ليکوالو د انجمن رئيس) د کار دفتر و. څوکۍ، مېزونه ټول مات او کړوپ شوي وو، له دفتر څخه فرش ټول شوی و او کوچونه په برچو سوري شوي وو، په خونه کې څو تنه نور هم ناست وو، د کوټې د متن په ځينو ځايونو کې د نسوارو شين رنګ له ورايه ځرګندېده، په فضا کې د چرسو او سګرټو لوګيو او بوی خپلې حلقې جوړې کړې وې. زموږ له ناستې سره سم زما همځنګ (( قوماندان صاحب)) ته زما د مشکل يادونه وکړه.

بيا ((قوماندان صاحب)) مخ راواړاوه او د خپلې ((ځوانۍ په شنګ)) يې راته وويل: (( برو بيادر تمام تاميرا در خدمتت است هر قدر که پاليدى از تو باشه، پيش چرا نامدى که به کتابا سيرت ميکدم حالا خو چيزى نه مانده باشه. از روزيکه ما امديم، بچه ها سرش ديگ پخته ميکنه)).

کله چې زه د خپلې شعري مجموعې په لټه کې شوم او هغو خونو ته لاړم، چې پخوا په کې د کتابونو ګودام و، هيڅ شی مې هم په نظر رانغلل، يوازې څو ګردجنې پاڼې مې وليدې، چې په

هره خونه کې تیت و پرکې پرتې وې. دا و د لیکوالو د انجمن د کتابونو په باب زما د سترګو لیدلی حال.

د افغانستان د لیکوالو انجمن پر خپلو چاپ شویو کتابونو سربېره یو بل ډېر مجهز او بډایه کتابتون هم درلود، چې خپله انجمن په مقر کې جوړ شوی و. په ټولیزه توګه په دغه کتابتون کې په بېلابېلو کورنیو او بهرنیو ژبو د (۳۰۰۰) عنوانو په شاوخوا کې ډېر ګټور او مهم علمي، ادبي، تاریخي، سیاسي او هنري کتابونه موجود وو. دا کتابتون هم له خپلو ټولو وسایلو سره له منځه وړل شوی دی.

ددې کتابونو د مانیز زیان او ارزښت د حد ټاکل ناشونی کار دی، خو له مالي پلوه که د هر یو ټوک کتاب بیه دوه امریکایي ډالره اټکل کړو، نو د لیکوالو انجمن په کتاب ساتنځایونو کې د (۱۵۰۰۰۰) ټوکو کتابونو مالي لګښت به (۳۰۰۰۰۰) امریکایي ډالره شي. دغه راز د لیکوالو انجمن د مطالعې په کتابتون کې چې په بېلابېلو برخو کې د بېلابېلو ژبو (۳۰۰۰) عنوانه کتابونه موجود وو که په اوسط ډول د کتابتون له نورو وسایلو سره یوځای د هر کتاب بیه (۸) امریکایي ډالره اټکل کړو، نو (۲۴۰۰۰) ډالره به شي. په دې ډول به په ټولیز ډول ددې کتابونو مالي زیان (۳۲۴۰۰۰) ډالره شي. دغه راز د لیکوالو

انجمن درېو ودانیو او د هغو ټولو لوازمو ته هم درانه فزیکي زیانونه اړول شوي، چې بیا جوړونه یې لکونه ډالر اټکل کېدی شي. سربېره پر دې د ټولنې مهالنۍ خپرونې هم زیانمنې شوې دي. تر ۱۳۷۱ل کال وروسته د ((قلم)) جریدې او د ((ژوندون)) مجلې د ګوتو په شمار ګڼې خپرې شوې او یو وخت لا داسې هم راغی چې دا ټولې خپرونې پر ټپه ودرېدلې.

## ((۵))

# خپلواکې فرهنګي ټولنې

د (۱۳۶۵- ۱۳۷۰) کلونو په موده کې په کابل کې واکمنو هڅه وکړه، چې د دیموکراسۍ تمثیل وکړي. په همدې وجه یې یو لړ ازادو(!) سیاسي سازمانونو او ټولنو ته د فعالیت اجازه ورکړه.
په کابل کې یو شمېر فرهنګي ټولنې جوړې شوې، دا ټولنې ظاهراً خپلواکې ښکارېدلې، خو داسې نښې نښانې هم څرګندې شوې وې، چې له دې ټولنو څخه یې له ځینو ځانګړو دولتي ادارو سره لارې درلودې.
په دې فرهنګي ټولنو کې د ناصر خسرو بلخي، هرات باستان، حکیم سنایي غزنوي، انجمن فرهنګي امیر علي شیر نوایي، انجمن دوستداران مولانا او یو کم شمېر نورې فرهنګي ټولنې شاملې وې. دې ټولنو اکثرو خپل نشراتي ارګانونه درلودل او د دې ترڅنګ یې ځانګړي علمي او فرهنګي اثار هم خپرول. یو شمېر غونډې، فرهنګي او علمي سیمینارونه یې جوړول. د ناصر خسرو بلخي انجمن د (حجت)، د دوستداران مولانا جلال الدین بلخي انجمن د (نای) په نوم او ځینو نورو انجمنونو په نورو نومونو مجلې

خپرولې. د پورتنیو یادو شویو ټولنو اکثره کار دري ژبې او ادب ته وقف شوی و.

وروسته بیا په کابل کې یو شمېر فرهنګي اشخاصو دا وپتېیله، داسې یوه ټولنه جوړه کړي، چې افغاني فرهنګ ته هم ستر خدمتونه وکړي. په همدې وجه یې د (۱۳۶۹ل) کال د لړم پر (۲۵)مه نېټه د کابل د انټرکانټیننټال هوټل په تالار کې د یوې درنې غونډې په ترڅ کې ( د خوشال فرهنګي ټولنه) جوړه کړه. په پیل کې ۸۰ تنو فرهنګیانو، چې د هېواد له بېلابېلو قومونو، بېلابېلو سیمو او د بېلابېلو مسلکونو استازیتوب یې کاوه د بنسټ ایښودونکو په توګه دا ټولنه جوړه کړه. وروسته بیا نور فرهنګیان په ډله ییز او انفرادي ډول د ټولنې غړي شول، چې شمېر یې سلګونو ته رسېده. خوشال فرهنګي ټولنې د یو کال (۱۳۶۹) عقرب- (۱۳۷۰) کب پورې ترلسو زیات علمي او ادبي سیمینارونه او محفلونه جوړ کړل او (۴) عنوانه بېلابېل ادبي او علمي کتابونه یې چاپ کړل.

کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال په کابل کې جګړې پیل شوې، نو د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو په شان دا ټولنې هم پوپناه شوې. نه یوازې دا چې د ټولنو د فعالیت ساحه له منځه لاړه، بلکې د دې اکثرو ټولنو ټول دفتري امکانات او شتمني هم له منځه یوړل شوه. ددغو ټولنو له جملې څخه د خوشال فرهنګي ټولنې دفتر چې د کابل ننداري په سیمه کې یې موقعیت درلود، له ټولو وسایلو سره چور او ړنګ کړای شو. د خوشال فرهنګي ټولنې ترځنګ د علامه

سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنې هم پر فعالیت پیل وکړ، چې هغې هم په کابل کې د جګړو له امله نور فعالیت ونه کړای شو. پورتنۍ یادې شوې ټولنې د جګړې له امله ټولې له سقوط سره مخامخ شوې، خو یوازې خوشال فرهنګي ټولنې او د سیدجمال الدین افغان فرهنګي ټولنې وکولای شول په پېښور کې خپلو خپرونو ته دوام ورکړي او بیا خپلې خپرونې په کابل کې پر لیکوالو او فرهنګیانو وویشي.

((٦))

# ننداري یا سینماوې

د تېرو شلو کلونو په بهیر کې په ځانګړي ډول هغه وخت، چې جګړه لاله غرونو، رغونو، کلیو او باندو څخه د ښارونو زړونو ته نه وه ننوتلې، د هېواد په لویو ښارونو په تېره په کابل ښار کې سینماوې ښه په ګرمه توګه چلېدې، هندي فلمونو او نورو جنګي امریکایي او اروپایي فلمونو د سینماګانو بازارونه ښه تاوده کړي وو. هره ورځ تقریباً دوه ځله او کله هم درې ځله سینماوې چلېدلې. په دې ډول له یوې خوا د نندارچیانو ذوقونه خړوبول او له بلې خوا یې عایدات هم درلودل. دا چې دې سینماګانو د هېواد د ځوان پښت او نورو ننداړچیانو د ذهن په روزلو کې کوم ډول رول ترسره کړی دی، په دې باب کېدی شي مختلف نظرونه او فکرونه موجود وي. ځینې اشخاص وايي چې په دې سینماګانو کې داسې فلمونه ننداري ته وړاندې کېدل، چې هغو زموږ له ملي کلتور او اسلامي عقیدې سره سمون نه درلود او د هغو خلاف بهیر کې یې برخه اخیسته. دغه راز ځینې نور بیا په دې نظر دي، چې دا فلمونه که هر ډول وو او هر څنګه وو، ښېګڼې او بدګڼې یې دواړه درلودلې، خو ځینې فلمونه یې د ستاینې وړ وو. په مجموعي ډول ویل کېدی شي، چې په افغانستان کې سینماګانو د هېواد د ځوان پښت او په

مجمـــوعي ډول د تولـــو ننـــدارچیانو د ذهنـــي ســـطحې او ذوق د اوچتولو په لاره کې مثبت ګامونه پورته کړي او هغوی یې لـه نړیـوال کلتور، تمدن، پرمختیا او نویو پرمختګونو سره اشنا کړي او هـم د هنر او تخنیک بېلابېل ډولونه یې هغوی ته ورښودلي دي.

دا خو د سینماګانو د معنوي رول او د هغو د اغېز پـه بـاب د نظر د اختلافونو خبره وه، خو اوس راځو دې تـه چـې همـدا سـینماوې هـم چا خپل مثبت او یا منفي پدل ته پرېښـودې او کـه نـه؟ پـه خواشینۍ سـره بایـد ووایـم، پـر دې فرهنګي مرکزونـو هـم ناترسـه ګوزارونـه وشـول. د یـادونې وړ ده، چې پـه افغانسـتان کـې خصوصـاً پـه کابـل ښار کې سینماګانې په دومره عصري او اساسي توګه جوړې شـوې وې، چـې فزیکـي جوړښـت یـې د هغـه وخـت لـه لسـګونو ملیونـو افغانیو او د اوس وخت له لکونو ډالرو سره معادل دی.

یـوازې پـه کابـل ښـار کـې (۱۲) سـینماوې موجـودې وې، چـې لـه هغې جملې څخه د کابل ننداري، میوند، فرخي، بهزاد، بریکوټ، اریانا، میرویس میدان سینماوې یـا پـه بشـپړ ډول او یـا هـم پـه سلو کـې (۹۰) برخـې لـه منځـه وړل شـوې دي، نـورو سـینماګانو، لکـه پامیر، بهارستان، اریوب، بـاختر ننداري، زینب، پـارک، ملـي، د خیرخانې سینما او تیمورشاهي پـه قسـمي ډول زیـانمنې شـوې دي. کـه ددغـو تولـو سـینماګانو اوسـنۍ بڼـې تـه څـوک وګـوري او یـا وغواړي بیرته یې په همغه لومړني شـکل لـه سره جـوړې کـړي، نـو د اټکل له مخې به لـه پنځـه ملیونـه ډالـرو څخـه تـر لسـو ملیونـو ډالـرو پورې لګښت پرې راشي. دا چې د څو کلونو جګړو او نورو فکـري او

ذوقي سانسورونو په وجه دا سینماوې له ګټې څخه لوېدلي دا خو نو بل دروند مالي زیان دی، چې دا هم تر لکونو ډالرو اوړي، داچې دې سینماوو به دهنر په برخه کې څومره معنوي خدمتونه کړي وای، دا خو بل معنوي زیان دی.

د کابل ښار پر سینماوو سربېره د هېواد په ځینو ولایتونو، لکه: کندهار، ننګرهار، هرات، هلمند، مزار، لغمان او نورو ولایتونو کې هم یو شمېر سینماوې موجودې وې، چې هغه هم پر همدې برخلیک اخته کړای شوي. دغه راز په کابل ښار کې له تجارتي سینماګانو پرته یو شمېر نورو دولتي ارګانونو داسې ودانۍ درلودلې، چې هغوی د سینما او غونډو لوی لوی تالارونه لرل، چې هم د دولتي او رسمي غونډو لپاره کار ورڅخه اخیستل کېده او هم د هنري، علمي فلمونو د ننداري او د غونډو د جوړولو لپاره مناسب ځایونه وو. لکه د استقلال، اماني، خوشال خان لېسې د غونډو تالارونه، چې د سینما او فلم پوره وسایل یې درلودل او یا هم د ځینو وزارتونو او دولتي ادارو سالونونه او د کنفرانسونو خونې، چې اوس اکثره یا په بشپړ ډول ویجاړ کړای شوي او یا یې زیاته برخه له ټولو وسایلو او وسایطو سره له منځه وړل شوې ده. که ددې ډول تالارونو او سالونونو ټول مالي لګښت په پام کې ونیسو، نو تر لسګونو ملیونو ډالرو هم اوړي.

## ((۷))

# ملي موزیم او نور موزیمونه

((کابل موزیم چې وروسته د افغانستان ملي موزیم وبلل شو د لومړي ځل لپاره پر (۱۲۹۷هـ ش) کې د باغ بالا په ماڼۍ کې په موقتي ډول تاسیس شو او هغه وخت يې د ((عجایب خانې)) په نوم یاد کړ. ځینې حربي وسایل، د جهاد بیرغونه، لاسي کارونه د کور ځینې انتیک شیان، تزیني الات، دولتي یادګاري اثار، تفسیر شریفونه او ځینې خطي نسخې د ننداري لپاره په کې کېښودل شول)) (۱۷)

د وخت په تېرېدو سره موزیم دارالامان ته نقل شو او د موزیم کلکسیون د لرغونپوهنې د علمي ګروپونو پر بنسټ، چې د (۱۹۲۲م) کال تر سپټمبر وروسته د یوې ډپلوماتیکې معاهدې له مخې د فرانسویانو په مرسته پیل شوې، لابډای شو. له فرانسویانو سره دا ګډه موسسه د( DAFA) (په افغانستان کې د فرانسې د لرغونپوهنې هئیت) په نامه وپېژندل شوه. تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته یو زیات شمېر کینډني د نورو هېوادونو له خوا، چې ایټالیا، امریکا، جاپان، بریتانیا، هندوستان او شوروي هم په کې

شامل وو، تر سره شوې، خو د افغانانو تر لاربښوونې لاندې لومړنۍ کیندنه په ((هډه)) کې پر (۱۹۲۵م) کال ترسره شوه.

د وخت په تېرېدو سره زیات شمېر اثار کشف او د کابل موزیم ته راوړل شول. دلته په لنډیز سره د موزیم د ځینو اثارو پر څرنګوالي خبرې کوو:

| د سیمې نوم | د څېړونکي نوم | د فرهنګي دورې نوم |
|---|---|---|
| دادل دره | لویس دوپرې | ۵۰ زره کاله وړاندې زمانه د پخوانۍ ډبرې منځنۍ دوره |
| قمره کمر | کارلټون، س، کون | ۳۰ زره کاله وړاندې د پخوانۍ ډبرې پورتنۍ دوره |
| اق کپرک | لویس دوپرې | د کوپرک دوره (محلي نوم) له ۲۰ څخه تر ۱۱ زره کاله وړاندې زمانه |
| اق کپرک | لویس دوپرې | له ۱۱ زرو څخه تر ۷ زره کاله وړاندې زمانه د نوې ډبرې دوره |
| کور دره | لویس دوپرې | د ۲ زره کاله ق م زمانه د نوې ډبرې دوره |
| اق کپرک | لویس دوپرې | له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر |
| منديګک | D.A.F.A | له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر |
| ناد علي | D.A.F.A | له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر |

| | | |
|---|---|---|
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لویس دوپرې | د موراسي غونډۍ |
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لویس دوپرې | شمشېر غار |
| له ۳ زره څخه تر یو زر ق م زمانه د اوسپنې عصر | لویس دوپرې | اق کپرک |
| له ۶-۴ ق م پېړۍ پورې د هخامنشي دوره | تصادفي | حضوري چمن |
| له ۴-۳ م پېړۍ پورې باختري دوره | D.A.F.A | آی خانم |
| له ۲-۱ م پېړۍ پورې هندو یوناني دوره | تصادفي | میرزکه ګردېز |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان-کوشاني دوره | D.A.F.A | بګرام |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان-کوشاني دوره | D.A.F.A | سور کوتل |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | تصادفي | شترک او پایتاوه |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | D.A.F.A | چم قلعه |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | D.A.F.A | بامیان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | هډه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | بامیان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، | D.A.F.A | شترک اوپایتاوه |

| | | |
|---|---|---|
| ساساني او يفتلي دوره | | |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | قول نادر |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | تصادفی | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | تصادفی | سرای خواجه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | د لرغونپوهنې انستيتوت | خم ازګر |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | جاپاني لرغونپوهان | درمان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | کم داقا |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | کهنه مسجد |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | تپه کلان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | فندوقستان |
| له ۸-۹ م پېړۍ پورې | تصادفي | ګردېز |
| د هندوشاهي دوره | تصادفي | تګاب |
| له ۱۵ پېړۍ څخه تراوسه | ISMEO | غزني |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | لښکرګاه |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | غلغلې ښار(۱۸) |

له کابل موزیم وروسته د موزیمونو د سیستم په پام کې نیولو سره برابر شوی و؛ د نورو اثارو ترڅنګ ((د موزیم په چوکاټ کې د مسکوکاتو یوه خونه وه، چې په هغې کې ټولې سکې او فلزي پیسي چې په اتفاقي توګه پیدا شوې او یا د حفریاتو په جریان کې لاس ته راغلې او موزیم ته وړاندې شوې وې. د بېلګې په توګه له خزینهء امو څخه (۱۵۰۰) سکې، چې په هخامنشي دورې پورې مربوطې ګڼل شوې دي، له بلخ څخه (۱۷۰) یوناني سکې، چې پر (۱۹۲۲م) کال کشف شوې او اړوند تاریخ یې (۳۸۰ق.م) پېړۍ ټاکل شوی و. د حضوري چمن خزانه، چې له یو زر سکو څخه یې (۱۱۵) سکې د شلمبرژه فرانسوي لرغونپوه له خوا څېړل شوې وې او تاریخ یې څه ناڅه څلور سوه کاله ق.م ټاکل شوی و. د خوګیاڼو د ولسوالۍ له پنځوسو سکو څخه چې فقط (۱۲) سکې موزیم ته انتقال شوې هم په څلورمه ق. م پېړۍ پورې مربوطې ګڼل شوې وې. له میرزکې څخه لږ تر لږه یوولس زره سکې پر (۱۹۴۷م) کال پیدا شوې، چې په هغو کې پنځوس محدبې، (۵۲۳) سکې سایفیټ، (۴۸۴) سکې نقره یي، (۲۰۱۲) سکې یوناني، نور باختري درهمونه، (۳۳۳۵) ساکي درهمونه وو او همدا شان له بګرام څخه لږ تر لږه (۳۰۰۰) بېلابېلې سکې چې پر (۱۹۴۱) او (۱۹۴۲م) کلونو د فرانسه یي هئیت د لرغونپوهانو په لاس کشف او موزیم ته لېږدول شوې وې. (۱۹)

په دې ډول تر ډېر اوږده مزله او هلو ځلو وروسته د کابل موزیم د اثارو د تاریخي لرغونتوب له مخې د نړۍ د سترو موزیمونو په

کتار کې ودرېد او په لسګونو زره بېلابېل تاریخي اثار یې په خپله غېږه کې راټول کړي وو.

«د افغانستان ملي موزیم د (۱۳۷۰ ل) کال پر وروستیو میاشتو تر سلو زرو پارچو زیات تاریخي اثار درلودل». (۲۰)

پر (۱۹۷۸م) کال د (۲۱) زره طلایي سکو اریانوونکې خزانه د جوزجان په ولایت کې شبرغان ته نږدې د طلا تپې له غونډۍ څخه لاسته راغله. (۲۱)

کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال په کابل خونړي جنګونه پیل شول، نو د افغانستان د نورو فرهنګي بنسټونو غوندې پر موزیم هم د چور او تالان طاعون خور شو. لومړۍ هغه ډله موزیم ته ورسېدله، چې ځانونه یې د دولت ممثلین معرفي کول، د دوی چې څومره د موزیم پر اثارو لاس بر شو هغه یې یوړل.

نانسي دوپرې وایي: «د (۱۹۹۲م) کال پر اپریل د جګړه مارو تنظیمونو تر راتګ وروسته، چې په کابل کې نظم او قانون مات شو، موزیم ته لویه بدمرغي پېښه شوه. په لومړي سر کې کله چې د دارالامان سیمه د موزیم په شمول د نظار شورا په لاس کې وه د موزیم کارکوونکو ته د کار اجازه نه وه. نجیب الله پوپل چې د موزیم یو ډېر مستعد کار کوونکی و، د تنظیمونو تر بریالیتوب درې میاشتې وروسته مخکې تر دې چې پر موزیم باندې توغندي وورېږي، له موزیم سره هېڅ ډول رسمي ارتباط نه درلود. سره له دې د موزیم له ویشتل کېدو څخه یوه اوونۍ مخکې ده خطر پر ځان ومانه او له کومې اجازې پرته یې موزیم وکوت. ده ولیدل، چې

صندقونه او بکسونه پر خپل ځای دي، خو ددې وخت یې پیدا نه کړ، چې د صندقونو منځ ولټوي. کوم وخت چې موزیم په توغندیو ویشتل کېده دا سیمه د استاد عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د اسلامي وحدت حزب لاس ته ورغله. د جګړې تر کراریو درې ورځې وروسته پوپل یو ځل بیا په نا رسمي ډول موزیم وکوت. ده ولیدل چې د دلبرجان تپې د ېوالي انځورونه په نه رغېدونکې توګه سوځېدلي دي، خو زېرخانه له بکسونو او صندقونو سره خوندي ده. د سپتمبر په پیل کې د (CNN) او (BBC) خبرلوڅو ولیدل، چې د زېرخانې د دروازو مهرونه روغ دي، خو دوی مطمین نه وو، چې دا به هماغه د پوپل په لاس لګول شوي مهرونه وي. ددې لپاره چې سړی پوه شي د مهرونو تر شا څه شی دي، هېڅ لاره نه وه. د سپتمبر په نیمایي کې پوپل په پټه موزیم ته ورغی او د موزیم په غولي کې یې د صندوقونو پاتې شوني ولیدل. دا ډېره د تشویش وړ خبره وه.

ویلیم ریو د (BBC) خبریال له موزیم څخه په خپله دویمه لیدنه کې راپور ورکړ، چې بکسونه او صندقونه خالي شوي او وړل شوي دي. د بودا یو وړوکی سر د یو ګودام کړکۍ ته چې میلې ورکړای شوې وې، نږدې ایښودل شوی او له بهر څخه د تایر کرښې مستقیماً تر دغې کړکۍ پورې ورغلې وې. د (۱۹۹۳م) کال د سپتمبر په پای کې ما د ښاغلي ستوریس موسوریس په غوښتنه، چې د افغانستان له کلتوري میراثونو سره د زړه له کومې علاقمندي لري، له کابل څخه لیدنه وکړه. د دې توصیې پر وړاندې، چې د موزیم د ترمیم چارو لپاره باید د استاد مزاري

ملاتړ ترلاسه شي، ښاغلي موسوریس سملاسي عکس العمل وښود. په موزیم کې د ترمیم چارې (UNOCHA) د (۱۹۹۳م) کال په نومبر کې د ملګرو ملتو د بشري اسکان له مرکز (HABITTAT) وغوښتل، چې د ژمي تر پیلېدو وړاندې د موسم د ناخوالو پر وړاندې د موزیم مقاومت او امکانات وسنجول شي، ځکه ددې وېره ده، چې ښايي د واورې د انبار کېدو له امله پاسني چتونه راوغورځي او د باران اوبه د زېرخانو ګودامونو ته ورننوزي.

(HABITTAT) خبر ورکړ، چې په هره خونه کې صندوقونه خلاص پراته دي او د شیانو په ترتیب کې ژوره ګډوډي لیدل کېده او په دغه ځای کې ګودامونو ته هم په اسانۍ سره لاس نه رسېده. نازک کاغذي مهرونه، چې د لومړي پوړ د ګودامونو پر دروازو او کړکیو نښلول شوي وو، پر ځای وو، خو دا مهرونه په اسانۍ سره د بدلېدو وړ وو. د (HABITTAT) عکسونه چې له ماتو شویو او شیندل شویو شیانو څخه اخیستل شوي وو، ډېر دردوونکي وو. په عکسونو کې هغه اره شوې الماری هم لیدل کېږي، چې هلته به د موزیم دفترونه او لستونه ساتل کېدل. دا الماری ټولې یو شان او بې توپیره راوړل شوې وې او کاغذونه ډېر بد خیرې شوي وو. زولپې خلاصې شوې وې او پولادي صندوقونه ټول سپک ښکارېدل او داسې اټکل کېده، چې باید تش وي. بکسونه او جعبې ټول د کوټې پرمخ اړول شوي وو. په دې توګه څرګنده شوه، چې زیاتې تحویلخانې ښې لټول شوې دي. د (HABITTAT) له خوا ځینې ترمیمونه وشول. کړکۍ د تېرو او خښتو په واسطه بندې شوې،

چتونـه د هـوا د خرابـوالي پـر وړانـدې جـوړ شـول او تحويلخـانو تـه پـولادي دروازې ورکـړل شـوې. ښـاغلي موسـوريس چې پخـوا يـې د (UNESCO) په موزيم کې د کار لپاره تشويش څرګند کړی و، کله چې د موزيم په هکله د ارزيابۍ راپور ترلاسه کړ د نومبر پر (۷مـه) يې په اسلام اباد کې يوه عاجله غونډه راوبلله. وروسـې د نومبر پر (۲۹مه) دی کابل ته ولاړ او له استاد مزاري سره يې وليدل. اسـتاد مـزاري ښـاغلي موسـوريس تـه اطمينـان ورکـړ، چـې د مـوزيم خونـديتوب بـه تـامين کـړای شـي. وروسـته د نجيـب الله پوپـل پـه مشرۍ د نظارت يوه کمېټه جوړه شوه او دغـې کمېټې د ډسمبر پر (۲۱)مـه خپـل کـار پيـل کـړ. ښـاغلي موسـوريس پـه خپلـه د مـوزيم ليدنه وکړه او دی لومړی کتونکی و، چې د سکو خونې تـه د ننوتو اجازه ورکړل شوه، ده وليدل چې ټولې جعبې تشې دي.

د (۱۹۹۴م) کال په (مې) مياشت کې زه کابـل تـه لاړم او د مـی پـر (۱۲)مه ما ټوله ورځ د موزيم د تحويلخانو پر کتنو تېره کړه. ترسره شـوی کـار واقعـاً قناعـت بښـونکی و. پـه تېـره بيـا دا چـې د ژمـې شرايط او سخت ساړه وو، د کـار کوونکـو لپـاره لـه يـوه تيلـي لالټين پرتـه د تـودوخې او روښـنايۍ هېڅ وسـيله نـه وه. ټولـو خونـو تـه ښـې مضـبوطې دروازې ورکـړای شـوې وې. دهليزونـه پـاک شـوي وو او درې زره ختـين لوښـي لـه فضـلاتو څخـه را ايسـتل شـوي وو او پـه تحويلخانو کې خوندي شوي وو. يوه خونه د اسلامي برونزي شيـانو لـه مـاتو شـويو ويلـي شـويو او خيـرې شـويو ټوټـو څخـه ډکـه وه. پـه کتـابتون کې (۲۲۴۷) ټوکه کتابونه پاتې وو، خـو هغـه کتـابونـه چـې

د ډېرو ښو اثارو عکسونه يې درلودل، غلا شوي وو. اوس بايد د لوټمارانو په هکله رڼا واچول شي. برياليو مجاهدينو له پيله لوټماري خپل طبيعي حق گاڼه. د کابل موزيم په ارتباط ټول مدارک ښيي، غلا ښه په ډاډه زړه ترسره شوې ده او داسې نښې نښانې نه ليدل کېږي، چې دا کار دې د بېسوادو او بې پروا تنظيميانو له خوا شوی وي، په لومړي سالون کې د نندارې شيان، لکه د کنشکا مجسمه او له سره کوتل څخه نور ترلاسه شوي شيان، د کندهار مرمرين لوښي او د ناستې په حال کې د بودا لويه مجسمه، چې له مرنجان تپې څخه لاس ته راغلې پر خپل ځای ليدل کېدل. د (۱۹۹۴م) کال تر سپټمبر پورې (۱۵۳۴۱) قلمه اثار ثبت شوي وو او څلور گودامونه د موجودي لپاره لاپاتې وو. د پوپل د اټکل له مخې د ډېرو ښو اثارو تقريباً په سلو کې اويا ورک شوي وو. داسې ښکاري چې لوټمارانو پوره وخت درلود، چې د شيانو ارزښت وټاکي او ډېر ښه اثار په کې چاڼ کړي. ښايي موږ هېڅکله پوه نه شو، چې دغه غلا څه وخت ترسره شوې ده؟ او څو پورې چې دقيقه موجودي ونه شي، د موزيم واقعي حالت به هم څرگند نه شي.

وروسته تر دې چې کابل د مجاهدينو لاس ته ورغی، اوازه خپره شوه، چې د کابل موزيم د مجاهدينو له خوا چور شوی دی. پېښور- اسلام اباد او د کراچۍ بازارونه له غلا شويو اثارو څخه ډک شول. يو وخت ماته خبر راورسېد، چې د موزيم ټول اثار په چترال کې دي او د لوړو بيو انتظار کوي. عملاً د بهرنيانو يوه ډله چترال ته لاړه،

خو دوی یوازې د کباړ شویو شیانو یو دردونکی کلکسیون ولید. ما په خپله هم ډېر اثار ولیدل، خو هغه ټول جعلي او پروني شیان وو. یوازې د بګرام لس عاجونه چې د (۱۹۹۴م) کال پر اپریل په اسلام اباد کې ولیدل شول واقعاً اصلي وو. د هغوی بیه دوه سوله لکه برتانوي پونډه وه، څه موده مخکې زه خبره شوم، چې دغه عاجونه له پاکستان څخه وتلي دي او بیه یې څلور سوه لکه پونډو ته ختلې ده.)) (۲۲)

دا د موزیم د غملړلي داستان یوه برخه وه، چې دوپرې لیکلی و. پر موزیم باندې د راغلي طاعون داستان ډېر اوږد دی. کله چې موزیم د بېلابېلو ډلو لاس ته ورغی، نو هر یوه تر خپل وسه په موزیم کې پاتې شیان غلا کړل، ،خو هغه ډله چې په لومړي پړاو کې یې موزیم په لاس کې و، په ډېر ماهرانه ډول د موزیم اثار غلا کړل او بیا یې د نړۍ په بازارونو کې وپلورل. د نورو اثارو ترڅنګ په همدې موزیم کې د قرآن کریم هغه نسخه، چې ویل کېږي د طلاوو په اوبو لیکل شوې وه او په نړۍ کې یې ساری نه و، غلا او د باجوړ په سیمه کې په اتیا زره کلدارو وپلورل شوه. (۲۳)

یو افغان په خپلو سترګو لیدلي وو، چې د پاکستان د کوچي بازار په سیمه کې څلور دبرش مجسمې چې قیمت یې په ملیونونو کلدارې اټکلېده او د مغولو د عصر (۱۲) توري چې (۲۳) ملیونه ډالره قیمت یې لاره په یو تر زمکې لاندې دکان کې ایښودل شوی وو. (۲۴) د موزیم په اثارو نه یوازې زموږ د هېواد د ګاونډیو نږدې بازارونه ډک شول، بلکې لرې نړیوالو بازارونو ته یې هم لاره وکړه.

د موزیم د اثارو د غلا او د غلو په اړه پر همغه وخت او هم بیا وروسته پلټنې او ګروېږنې وشوې. یو بهرني شخص چې پر هغه وخت یې د موزیم د اثارو د غلا کوونکو په باب لیکنې کولې، د دې لپاره، چې ده ته څه ستونزه جوړه نه شي، نو هغو ډلو چې د موزیم په لوټ او تالان کې یې برخه اخیستې ده، د هغو نومونه یې په شفري ډول ثبت کړي او بیا یې د کمپیوټر حافظې ته سپارلي. دا شفرونه په دې ډول دي: ((HI-۷، GH-۲ , Am-۲، BR-۱۳، Hw-۲، SNP، HI-۹، HI-۸ او نور)). (۲۵)

د ملي موزیم په اثارو کې د طلا تپې هغه شل زره (۲۲) طلايي سکې، هوسۍ او نور اثار هم شامل وو، چې د ډېر زيات ارزښت درلودونکي وو.

ځينې داسې اوازې هم وې، چې ((له ملي موزیم څخه یو شمېر با ارزښته اثار د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ په وروستیو شپو ورځو کې د ساتنې په خاطر د افغانستان مرکزي بانک تحتاني منزل ته راوړل شوي دي، دا چې دا اثار به اوس چېرته وي معلومات نه شته، دغه راز د ملي موزیم یو شمېر اثار د یونسکو په مرسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته هم انتقال شوي دي)). (۲۷)

څرنګه چې د افغانستان بانک د نظار شورا په لاس کې و، نو که دا خبره رښتیا وي، چې د نجیب الله د حاکمیت پر وخت دا اثار هلته وړل شوي دي، نو طبعاً د شورای نظار د افرادو په لاس کې به لوېدلي وي. د (۱۳۷۵ ل) کال پر څو لومړنیو میاشتو یو ځل بیا د موزیم د اثارو په تېره بیا د طلا تپې د اثارو په باب د هېواد په دننه

او بهر کې ګڼ شمېر مقالې چاپ او خپرې شوې. پخوانۍ تنظیمي اداري او نظار شورا ته هم په دې ارتباط ډېر زیات سوالونه راجع شول. بالاخره قوماندان مسعود اعتراف وکړ، چې: «اثار طلا تپه در جایی که به وسیلهء هئیت حکومت قبلي و هئیت ملل متحد جا به جا و مهرلاک گردیده بود محفوظ است». (۲۸) ښه به وي چې په دې اړه د دوکتور نجیب الله په واکمنۍ کې د هغه د دفتر رئیس ښاغلي محمد اسحق توخي ځرګندونې هم راوړو؛ ښاغلي توخي دا ځرګندونې په خپله یوه اوږده لیکنه (دوکتور نجیب الله و خروج نیروهای نظامی شوروی از افغانستان) کې چې د (۱۳۸۷ل) کال په وروستیو کې د انټرنټ له لارې خپره شوه، کړې دي. موږ د طلا تپې اثارو سره اړوند موضوع کټ مټ له کومې ژباړنې او کمونې پرته خپروو: * [«... رییس جمهور دکتور نجیب الله کشورش را در شرایط حساس رهبری میکرد. او نخستین شخصیتیست، که خطری راکه سرمایهء ملی و فرهنگی افغانها را تهدید میکرد، احساس مینمود.

قبل از بسته شدن موزیم کابل به علت حمله های راکتی مجاهدین، او همه اثار طلاتپه را تحت نظر مستقیم خودش به زیرزمینیهای بانک مرکزی، جایی که ذخیرهء طلای مملکت محفوظ است، منتقل ساخت و ان را در اتاق مخصوص که تنها رییس جمهور صلاحیت باز کردن آن را دارد، قرار داد، حالا گاوصندوقهای حاوی این اثار را بیرون کشیده اند. هر صندوق با

* دا ځرګندونې مې ځکه په کې راوړې چې موضوع لاپسې روښانه شي. (یون)

بوریهای مخصوص پوش گردیده است و یک جدول و پروتوکول و فهرست محتوای داخل ان با مهر و نامهء رییس جمهور نجیب الله دریافت گردید.))

حامد کرزی با چند وزیرش در برابر خبرنگاران ظاهر شده اظهار نمود که: (( گنجینهء طلا تپه محفوظ و دست ناخورده باقی مانده است. "بدون توضیحهای بیشتر".))

به همین ارتباط برای شناخت هر چه بیشتر شخصیتهای چون برهان الدین ربانی، که جز ثروت اندوزی به چیزی دیگری نمی اندیشد، خاطره یی در ذهنم تداعی گردید، که میخواهم خدمت هموطنان بیان کنم.

روزی، کارمند بین المللی ملل متحد در کابل به دکتور نجیب الله مراجعه نمود، که برهان الدین ربانی دو نفر را که حامل کدام پیغام از جانب او هستند فرستاده است و تقاضای ملاقات با شما را دارند. دکتور نجیب الله به کارمند ملل متحد گفت، که اگر او (کارمند ملل متحد) مانعی نمیبیند، میتوانند بیایند. دو نفر مذکور داخل امدند، وقتی که من ان ها را دیدم، یک نفر ان راشناختم، که همان وکیل عبدالرسول از بدخشان بود، که در صفحه های قبل نیز در موردش نوشته ام، که در سال ۱۳۶۷خ. (۱۹۸۸م.) عضو رابط برهان الدین ربانی با سفارت اتحاد شوروی در کابل بود. به نظر من دلیل اعزام وکیل عبدالرسول مذکور این بود، تا ما باور کنیم، که فرد همراه او امده واقعاً فرستادهء برهان الدین ربانی بوده است. این فرستاده یکی از اعضای جمیعت

اسلامی بود ، که خود را څارنوال معرفی میکرد. بعد از مصافحه دکتور نجیب الله برای شان گفت، بفرمایید ، چه گفتنی داشتید ، من در خدمت تان هستم.

کسی که خودر را څارنوال معرفی کرده بود ، گفت: ((استاد برهان الدین ربانی پس از عرض سلام، تقاضا دارد ، در این روز هایی که دولت اسلامی افغانستان دچار مشکلات اقتصادیست، اگر شما لطف نموده کمک نمایید ، که در زمان شما کدام ذخیره یی از داراییهای دولت در کدام جایی اگر مانده باشد ، برای ما معلومات بدهید ، تا از ان در رفع مشکل اقتصادی دولت استفاده شود.))

دکتور نجیب الله خندید و برای موصوف گفت: (( به استاد ربانی بگویید ، که قدرت دولتی را شما با تمام دم و دستگاه ان به طور سالم و رسماً در سال (۱۳۷۱خ). (۱۹۹۲م) تسلیم شدید و چندین سال هم از حکومت اسلامی (( عدالت گستر)) شما میگذرد. حالا چگونه به من مراجعه نموده اید؟ من رییس جمهور کشور بودم، نی خزانه دار. بهتر است، بعد از این به من همچو مراجعات را انجام ندهید.))

سپس ان ها را از نزد خود رخصت کرد. ان گاه خطاب به من گفت: ((از این میترسم، که نشود این غارتگران به ذخیرهء طلای افغانستان دست یابند و ان را غارت کنند. چیزی دیگری را در کشور باقی نگذاشتند.)) ] له دې خبرو څخه څرګندیږي، چې استاد برهان الدین رباني د افغانستان ددې ملي او فرهنګي

شـتمنۍ د لاسـته راوړلـو هڅـه کـړې، خـو بریـالی شـوی نـه دی. احمدشاه مسعود چې کومه یادونه کړې هغه هم لـه همغـې غوښـتنې سره ارتباط لري. ځکه دوی ته یوازې دومره پتـه وه، چې دا شـتمني د مخنـي حکومـت او ملګـرو ملتـو لـه خـوا خونـدي شـوې ده، خـو د ترلاسه کولو امکان یې پیدا نه کړای شو.

لنډه دا چې هر چا چې په هر نامه او د هر مقصد لپاره مـوزیم چـور کړ، زموږ هېواد یې له ډېرو زیاتو تاریخي اثارو څخه بې برخې کـړ، اوس نو موزیم پر یوه سوځېدلې کنډواله بـدل شـوی او اثـار یـې غلـو وړي دي. د هېـواد تر ملي مـوزیم وروسـته (د اردو مـوزیم) پـه هېـواد کې بل ستر موزیم و، چې په زرګونو بېلابېل اثار په کې خونـدي وو. د نـورو مهمـو اثـارو پـه لـړ کـې د احمدشـاه بابـا د لاس تـوره او د اعلیحضـرت امـان الله خـان د کـار څـوکۍ هـم پـه دې مـوزیم کـې خونـدي وو. دغـه راز د جګـړې د اکثـرو هغـو وسـلو بېلګـې پـه کـې خوندي وې، چې لـه ډېرې پخوا راهیسې افغانـانو عمـلاً پـه هغـو د یرغلګرو پـر ضـد مبـارزه کـړې وه. دا مـوزیم تـر ملـي مـوزیم لـږ څـه وړاندې په یوه ښکلې ودانۍ کې په ډېر مـنظم او سیسـتماتیک ډول جوړ شوی و. له ملي موزیم سره یو ځای د دې موزیم اثار هم لـوټ او تالان شول.

## د هېواد سیمه ییز او ولایتي موزیمونه:

### ۱- د غزني موزیم:

د غزني موزیم پر (۱۳۴۵ل) کال د لړم پر میاشت د تیموریانو د دورې په یو تعمیر کې رسماً پرانیستل شو.

د غزني موزیم اثار د تاریخ او هنر له مخې خاص اهمیت لري او د افغانستان د اسلامي دورې ډېر پخواني اثار په کې شامل دي. دغه اثار له لسمې میلادي پېړۍ څخه تر دولسمې پېړۍ پورې اړه لري او له هنري پلوه هغه یوازېني اثار دي، چې د غزنویانو د مخصوص سبک، چې سلجوقیانو ته نږدې دي نماینده ګي کوي.

سربېره پر دې چې ځینې ورې او لویې پارچې، د قبرو لوحې، کوچني حوضونه هم د ننداري لپاره تیار شوي وو. په مجموعي ډول د غزني موزیم اثار پر (۱۳۴۲ل) کال (۳۵۰) قلمو ته رسېدل، چې تر ۱۳۵۷ل کال پورې زرو قلمو ته ورسېدل. دا اثار تر (۱۳۷۰ل) کال پورې خوندي وو.

## ۲- د کندهار موزیم:

دا موزیم پر (۱۳۱۱ل) کال تاسیس شوی او لومړی اثر یې هم د وزیرمحمداکبر هغه کمیس و، چې د دوی لاس ته ورغلی و. پر (۱۳۳۹ل) کال د دغه موزیم د اثارو شمېر (۸۰۷) ته رسېده.

## ۳- د هرات موزیم:

دا موزیم د (۱۳۰۲ل) او (۱۳۰۴ل) کلونو ترمنځ جوړ شوی دی. د (۱۳۰۷) او (۱۳۰۸ل) کلونو د پېښنو په جریان کې د هرات موزیم دروازه خلاصه شوه او د هرات د جامع جومات مسي دېګ او د هفت اقلیم په نوم اثر چې د تنظیمیه رئیس په امر له ګازرګاه څخه موزیم ته نقل شوي وو، بېرته وایستل شول او د موزیم نور اثار له

منځـه لاړل. پـر (۱۳۱۰ل) کـال مـوزیم ښـاروالۍ تـه وسـپارل شـو، پـر (۱۳۲۵ل) کال یو شمېر لرغوني اثار له کابل نه موزیم ته د تحفې پـه ډول ورکـړی شـول. د هـرات مـوزیم اثـار هغـه وخـت لازیـات او د درنښت اندازه یې زیاته شوه، چې د (لرغوني هرات) په نـوم نړیـوالې پروژې خپلې مرستې پیل کړې.

## ۴- د میمنې موزیم:

پـر (۱۳۳۵ل) کـال د میمنـې د اعلـی حـاکم غـلام حیـدرخان زوی محمـد سـهیل، چـې لـه خپلـو او نـورو مېلمنـو سـره خواجـه کنـت تـه نـږدې د سـلطان سـنجر پـر غونـډۍ پـه تفـریح بوخـت و، یـو منګـوټی ومونـد، چـې پـه هغـه کـې د غوریـانو د دورې سـکې پرتـې وې، د دغـو سکو د ساتنې مسالې د موزیم د جوړېدو موضوع رامنځته کړه.

د میمنې اعلی حاکم د موزیم اساس کېښـود، څـه مـوده وروسـته مـوزیم د یـوې مجمـوعې خاونـد شـو. دې مـوزیم خپـل ننـداریز پروګرامونه تر (۱۳۳۲ل) کال وروسته بیا تر (۱۳۵۷ل) کال پورې پـه منظمه توګه ترسره کړي دي.

## ۵- د مزارشریف موزیم:

د مزارشـریف مـوزیم زیـات پخـوانی تـاریخ لـري. د دې مـوزیم اسـاس لـه هغـه وختـه پیلېږي، چـې د حضـرت علـي کـرم الله وجهـه مرقد تـه ځینـو پاچاهـانو او لویـانو سوغاتونه او هدیې ورکـړې دي. دغه سوغاتونه ټول د روضې مبارکې په یوه کوټه کې ایښـودل شـوي دي او همـدا راز یـو شـمېر پخـواني او لرغـوني اثـار د مزارشـریف پـه تحویلخانـه (سـاتنځي) کـې موجـود وو. دا مـوزیم د قلمـي نسـخو او

مسکوکاتو له اړخه زیات شتمن ګڼل شوی دی. پر (۱۳۳۹ ل) کال د دې موزیم د اثارو شمېر (۷۳۵) ته رسېده. (۲۹)

## ۲- د هډې موزیم:

د جلال اباد د ښار د جنوب ختیز په شپږ کیلو متری کې یو ستر کلی د کوچنیو کوچنیو غونډیو په منځ کې پروت دی. دغه ځای ته هډه وایي.

د اعلیحضرت محمدظاهر شاه د واکمنۍ په زمانه کې همدلته کیندنې پیل شوې او په نتیجه کې تر ځمکې لاندې یو بیضوي موزیم ومونډل شو. هغه وخت د دولت له خوا د همدې ځای د اوسېدونکو (۱۵۰) تنو پر دې ځای د دې غونډۍ ګردچاپېره پر کار پیل وکړ. د درې جریبه ځمکې په ساحه کې د ښار په بڼه موزیم ومونډل شو. دغه موزیم ته یوه لار راغلې وه او همدا لار له ټولې ودانۍ شخه ګردچاپېره ګرځېدلې وه. د دروازې خوا کې یو لوی بُت د سلامۍ په حال کې لیدل کېده، تر ټولو مشر بُت چې ګردچاپېره ورشخه ځو بُتان د محافظینو په شکل ولاړ وو، ځای پر ځای شوي وو. یوه فرانسه یي ښځه د کیندونکو د فني هئیت مشره وه. هغې دغه بت ته د ((ارکولیس پهلوان)) نوم ورکړ. دا موزیم د شپږو کلونو په موده کې سم برابر شو، ټولې (۴۲) کوټې ومونډل شوې، حکومت ورته یو ساتونکی کنډک واچاوه. یو کانتین هم په دروازه کې ورته جوړ شو، چې وروسته به سیلانیان ورته راتلل.

د سردارمحمدداودخان د واکمنۍ پر وخت پر دغو نورو غونډیو ګانو کار شروع شو په هر ځای کې به بُتان مونډل کېدل. دا

موزیم د جهاد په دوران کې د تنظیمي ځواکونو له خوا وسوځول شو. کله چې تنظیمونو جلال اباد ونیو، د هډې شاوخوا په چټکۍ کیندنې پیل شوې، د ملیونو ډالرو په ارزښت بتان راووتل او هغه ټول باندنۍ نړۍ ته انتقال شول، خو نن ورځ هلته هېڅ نه شته او سپېره میدان دی. (۳۰)

د هډې پر تاریخي اثارو سربېره د هېواد په زیاتو سیمو کې ګڼ شمېر تاریخي اثار د مختلفو اشخاصو له خوا راوسپړل شول او پر نورو هېوادو خرڅ کړای شول. دا څېړنې او پلټنې له کوم مسلک او قانون پرته ترسره شوې او د هېواد په اکثرو هغو سیمو کې چې د تاریخي اثارو د پیدا کېدو هیله ترې کېدله ترسره شوې، لکه کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا، کابل، تخار، غزني، بلخ او نور. یوازې د پکتیا له میرزکي څخه په لسګونو ډوله تاریخي اثار را وایستل شو ل او بیا خرڅ شول. په دې کې ځینې هغو اثارو ته هم زیان واړول شول، چې د انتقال وړ نه وو، د ساري په توګه د بامیانو تاریخي بُتان چې د ځینو جګړو او طبیعي پېښو له کبله زیانمن شوي دي.

کله چې جګړه له کلیو نه ښارونو ته دننه شوه، نو د هېواد د نورو اقتصادي او فرهنګي مرکزونو په شان پر دې ولایتي موزیمونو هم تالان خور شو او اکثره اثار یې لوټ شول. اوس په دقیق ډول معلومه نه ده، چې په دې موزیمونو کې څومره اثار پاتې دي، خو د عیني کتنو او لیدنو له مخې نه یوازې دا چې د دې موزیمونو اثار له منځه وړل شوي دي، بلکې ان ودانۍ یې هم ړنګې شوي دي.

((۸))

# ملي آرشیف

لـه څـو لسـیزو راهیسـې زمـوږ پـه هېـواد کـې ځینـو وزارتونـو او موسسو د خپلو اسنادو د ساتنې لپاره خپل ارشیفونه لرل. پـه غـالـب ګمان په دې برخه کې بـه تر ټولـو پخوانی آرشـیف هماغـه د بهرنیـو چارو د وزارت آرشیف وي.

د وزارتونو او دولتي موسسو پر آرشیفونو سربېره پـه افغـانسـتان کې تـر ټولـو مهـم او د زیـات ارزښت لرونکی آرشـیف د افغـانسـتان ملي آرشیف دی.

ویل کېږي چې د ملي آرشیف د جوړېدو مفکوره پر (۱۳۵۲ل) کـال منځتـه راغلـه، د هغـه ودانـۍ د سـردارمحمد داود خـان د جمهـوري ریاست پـر وخـت بیـا لـه سره جوړه او ښکلې شوه. د دې آرشـیف اسـاس د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت خطـي کتـابتون و. د محمد داودخان د جمهوري ریاست پـر وروسـتیو میاشـتو نومـوړې نسخې دې نوې ودانۍ ته انتقال شوې او پـه دې ډول د ملي آرشیف جوړښت پیل شو.

د (۱۳۶۰ل) کال د مني په شپو کې ملي آرشیف رسماً پرانیسـتل شو. خطي نسخې، تـاریخي اسـناد، د خطـاطۍ لیکنـې، زاړه چـاپي کتابونه، تاریخي عکسونه، د زړو مطبوعـاتو متفرق کلکسـیونونه

او ګڼې د آرشيف نور ډول ډول مواد دې موسسه کې ځای پر ځای شول.

دغه راز د غزني د عامه کتابتون او د اعليحضرت محمدظاهر شاه د کتابتون د خطي نسخو انتقال ملي آرشيف نور هم بډايه کړ. دغه راز يو لړ نور اثار په بيه واخيستل شول او آرشيف ته ورکړل شول. په پښتو، دري، عربي، ترکي، اويغوري، اردو، سنسکريت او هندي ژبو په زرګونه زرګونه خطي نسخې په ملي آرشيف کې راټولې شوې، چې د مسوولينو په وينا د هغو ټول شمېر تر لسو زرو زياتېږي. ددې نسخو ځينې د خط د هنر او ميناتورۍ له مخې ځانګړي او ډېر اوچت اثار ګڼل کېږي.

د اسنادو، عکسونو او نورو اثارو شمېر هم زرګونو ته رسېده. ملي آرشيف په شپېتمو کلونو کې د خپلو خطي نسخو دوه کتابونه، چې په هغو کې د آرشيف خطي نسخې معرفي شوې وې، چاپ کړل. همدارنګه پر دې وخت کې ملي آرشيف ته قانون جوړ شو. (۳۱)

له نېکه مرغه بايد يادونه وکړو، چې د جګړې په دې تېرو کلونو کې د نورو فرهنګي مرکزونو په اندول ملي آرشيف ته ډېر دروند تاوان او زيان نه دی اړول شوی. «سره له دې چې په دې موده کې د ملي آرشيف په اثارو د غلو څو حملې وشوې، خو داسې ويل کېږي ، چې د غلو لاس بر نه شو، خو د تخنيکي امکاناتو د نشتوالي او مشکلاتو او وسايلو د کمښت له کبله ځينو اثارو ته زيان اوښتی دی». (۳۲)

د (۱۳۷۲ل) کال د سرطان تر میاشتې پورې بیا هم د ملي آرشیف تخنیکي مشکلات حل شوي نه دي او نه د اثارو د ساتنې او پالنې لازم وسایل او امکانات برابر شوي، نو که دا وضعه همدا شان دوام ومومي، د ملي آرشیف هغه قیمتي اثار به چې لازمې ساتنې او پالنې ته اړتیا لري، په تدریجي ډول له منځه لاړ شي.

((۹))

# ملي ګالري

د افغانستان ملي ګالري د (۱۳۶۲ل) کال د ثور پر میاشت افتتاح شوه. د ګالرۍ د پرانیستو په مراسمو کې د کندهار له ولایت، د کابل له موزیم او له سلطنتي قصر څخه (۲۰۰) هنري او تاریخي اثار راوړل شوي او ننداري لپاره ایښودل شوي وو.

دا موسسه په اسمایي واټ کې د غلام نبي خان څرخي په کور کې او وروسته بیا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې تړل شوې وه. سره له دې چې دا ودانۍ د ملي ګالرۍ د اثارو د ساتنې او ننداري لپاره مناسب ځای هم نه و، خو بیا هم دا اثار په کې ننداري ته کېښوول شول.

د ملي ګالرۍ د (۱۲) کلن فعالیت په لړ کې هر کال د پلان او بودجې له مخې د هېواد د معاصرو هنرمندانو اثار اخیستل کېدل. په دې لړ کې د نقاشۍ، میناتورۍ، مجسمې او ظریفه اثارو (**۵۹۲**) اثار اخیستل شوي او ملي ګالرۍ ته تحویل شوي وو. ددغو اثارو زیاته برخه د غلام محمد میمنه ګي، عبدالغفور برېښنا، استاد عبدالعزیز، استاد غوث الدین، استاد یوسف کهزاد، استاد

عطايي، استاد خیرمحمد یاري، استاد کریم، استاد قربانعلي عزيزي او داسې نورو اثار وو.

تر یوې لسیزې په زیاته موده کې دې ګالرۍ هر کال لس زره لیدونکي درلودل.

کله چې (۱۳۷۱ل) کال پیل شو او تنظیمونه کابل ته داخل شول، پر دې وخت ، نو د اطلاعاتو او کلتور وزارت اداري، حقوقي او فرهنګي مسوولین په دې هیله وو، چې هر څه به خوندي پاتې شي، خو امنیتي چارواکي او غالباً وسله وال تنظیمي افراد د یو توند باد په شان راخواره شول او د ګالرۍ دېوالونه یې ولړزول. کله چې وسله والو افرادو د اطلاعاتو او کلتور وزارت ټول اداري قیمتي وسایل او وسایط، لکه غالۍ، فرشونه او موټر چور کړل، نو د ملي ګالرۍ د له منځه تلو وېره لاپسې ګړندۍ شوه.

د (۱۳۷۱ل) کال د سنبلې پر (۲۳)مه نېټه د وسله والو کسانو له خوا د استاد غوث الدین او نورو هنرمندانو څلور تابلوګانې غلا شوې. دولتي ادارو ته خبر ورکړ شو، چې د ګالرۍ پهره دارانو دا کار ترسره کړی دی او په راتلونکي کې هم دا وېره شته، خو هغوی بې تفاوته پاتې شول او د ګالرۍ د برخلیک په باره کې یې هېڅ پرېکړه ونه کړه، ان دا چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هغه وخت د اداري رییس په دستور او د هغه وخت د کوپوني مغازې د مدیر په واسطه د (۱۳۷۱ل) کال د سنبلې پر(۴)مه نېټه تر (۳۰) موټرو زیات د ډېرو سکاره د ملي ګالرۍ په انګړ کې وغورځول شول. دې کار د دې مخه ونیوله چې د ګالرۍ اثار راټول او یو خوندي ځای ته

انتقال شي، ان تر دې چې د ګالرۍ ځینې ښکلي او ناب اثار د ډېرو سکرو په تور ګرد ککړ شول او د ګالرۍ تعمیر او لوازم هم د ډېرو سکرو په شان تور واوښتل. دې کار د هېواد ټول فرهنګپال او فرهنګیان متاثر کړل او د یادو شویو کسانو عمل یې وغانده. ویل کېږي چې د نومړو اشخاصو عمل قصدي و؛ د ګالرۍ اثار به یې د ((بتانو)) په نومونو یادول.

د (۱۳۷۲ ل) کال د ثور پر (۵)مه نېټه په ګالرۍ کې د ځای پر ځای شویو وسله والو کسانو له خوا (۳) نور هنري اثار هم غلا شول، پر دې کار د وزارت امنیتي څانګو هم ځان غلی کړ او بیا یې هم د ګالرۍ د اثارو د ساتنې کوم مشخص تدبیر ونه نیو.

د (۱۳۷۳ل) کال د ثور پر (۱۳)مه نېټه د ګالرۍ د امنیتي ساتونکو له خوا د هنر او نقاشۍ (۲۹) اثار غلا شول، دا ګالرۍ ته دومره لوی زیان و، چې نه جبرانېدونکی ګڼل کېږي. په دې ټولو پېښو کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لوړو مقامونو او نورو اړوندو ادارو هېڅ پاملرنه ونه کړه. کله چې د ګالرۍ د ښځي له منځه تلو وېرې د ځینو زړونه ولړزول، نو په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ځینو اشخاصو له هغې جملې د هغه وخت د هنر رئیس په ځاني هلو ځلو او د ځینو نورو مسوولینو په مرسته د ملي ګالرۍ (۲۹۲) تاریخي اثار له اصلي تعمیر څخه د وزارت ودانۍ ته را انتقال شول.

بیا هم تر ډېره وخته پورې د ګالرۍ په ودانۍ کې وسله وال کسان پاتې شول او په هغو ځایونو کې چې پخوا به ظریفه اثار ننداري ته ایښودل کېدل، دوی پرې تشنابونه جوړ کړل.

هغه اثار چې له ملي ګالرۍ څخه د وزارت مقر ته راوړل شول بیا هم خوندي پاتې نه شول، ډېر ځله داسې ګونګسې وې، چې د وزارت د هغه وخت د ځینو چارواکو له خوا هم ځینې اثار غلا شوي او دې لړۍ کېدی شي نوره هم ادامه پیدا کړې وي. (۳۳) خو خدای(ج) دې داسې ورځ نه راولي، چې موږ د خپلې ګالرۍ یو اثر هم ونه لرو.

((۱۰))

# نندارتونونه

د نورو فرهنګي مرکزونو ترڅنګ د افغانستان ننداړتونونو ته داسې زیان واړول شول، چې اوس څوک هغه سیمه ګوري، نو فکر نه کوي، چې دلته به هم یو وخت د یو لرغوني هېواد داسې کلتوري مرکزونه وو، چې یو وخت به هر کال په زرګونو افغانانو او په سلګونو بهرنیانو ورڅخه لیدنه کتنه کوله او د افغانستان د کلتور، پراختیا او لاسي صنایعو د ځینو برخو پر څرنګوالي او څومره والي به خبرېدل.

د کابل ښار حضوري چمن ته ورڅېرمه ( د کابل ننداري) په سیمه کې د هېواد د لاسي صنایعو، قیمتي ډبرو، غالیو، تولنیزې پراختیا او برېښنا بندونو، مهمو ودانیو، او ډول ډول لرغونو او اوسنیو وسلو (پنځلس ننداړتونونه) (۳۴) جوړ شوي وو. په دې ننداړتونونو کې د ((شوروي اتحاد)) او افغانستان د تخنیکي همکارۍ او نورو برخو یو ځانګړی ننداړتون هم موجود و.

دې ننداړتونونو هر یو ځانته ځانګړې ودانۍ درلودله، چې د اړوندې څانګې خپل اثار په کې د ننداري لپاره وړاندې شوي وو.

هـر ننـدارتون پـه خپـل ذات او د امکانـاتو د لرلـو پـه وجـه د زیـات ارزښت وړ و.

پـه دې ګڼـو ننـدارتونونو کـې د قیمتـي ډېـرو یـو سـتر ننـدارتون د زیـاتو کتونکـو پاملرنـه ځانتـه راګرځولـه. پـه دې ننـدارتون کـې د افغانسـتان لـه اکثرو هغـو کـانونو څخـه چې بېلابېلې قیمتـي ډبـرې یـې درلـودې، یـوه یـوه او یـا هـم څـو بېلګـې خونـدي وې، چـې د لیدونکو زړه یې ځانته راکاږه، نه یوازې د دې ننـدارتون سمبولیک ارزښت ډېـر زیـات و، بلکـې هغـه قیمتـي غمـي او تیـږې چـې دلتـه ایښودل شوي وو، هم تر لکونو ډالرو څخـه یـې مـالي ارزښت زیـات محاسبه کېدی شي.

بـل ننـدارتون، چـې هغـه هـم پـه ډېـر زیـات زحمـت او ظرافـت جـوړ شوی و، هغه د افغانسـتان د غـالیو ننـدارتون و. پـه دې ننـدارتون کـې د افغـاني غـالیو تقریباً ټـول ډولونـه ننـدارې تـه ایښـودل شـوي وو. د ننـدارتون دېوالونـه او متـن ټـول پـر رنګارنـګ غـالیو فـرش او ښـکلی شوی و. لـه وړښمینو غـالیو څخـه نیـولې د غـالیو ټـول ډولونـه پـه کـې خونـدي وو. دلتـه لـه ډېـرو کوچنیـو غـالیو څخـه نیـولې بیـا تـر ډېـرو لویـو غـالیو پـورې هـر ډول غـالۍ راټولـې شـوې وې. پـر هـرې غـالۍ خپـل قیمت لیکل شوی و. په دې غـالیو کـې داسـې غـالۍ موجـودې وې، چـې لـه نـن څخـه دېرش یـا څلوېښـت کالـه دمخـه یـې قیمـت پـه ملیونـو افغـانیو وو چـې د اوس وخـت لـه لسـګونو زرو ډالـرو سـره معادل دي، دا ډول غـالۍ دې ننـدارتون تـه راټولـې شوې وې. اوس نـو د غـالیو د ننـدارتون یـوازې څلـور دېوالونـه ولاړ دي او بـس. د کابـل

ننداريې په سیمه کې چې موږ د کومو (۱۵) نندارتونونو یاد وکړ دا ټول د (۱۳۷۱ل) کال د ثور د میاشتې پر (۷)مه، (۸)مه او (۹)مه نېټه جنګونو کې، چې له یوې خوا د جمعیت ګوند او د دوستم ملېشې او له بلې خوا د اسلامي حزب د قواوو ترمنځ وشول، له منځه یوړل.

دا سیمه د لنډ وخت لپاره د اسلامي حزب تر واک لاندې وه، خو کله چې د دوستم ملېشې او د نظار شورا کسان دلته داخل شول، نو لومړی دا ټول نندارتونونه چور او بیا یې ځینو ته اور واچول شو او ځینې یې بیا په پرله پسې جګړو کې له منځه یوړل شول. د شاه شهید او سید نورمحمد شاه مېنې ځینو اوسېدونکو دا نندارتونونه په خپلو سترګو لیدل، چې لوګي ترې پورته کېدل. ځکه چې د دوی کورونو ته ډېر نږدې پراته وو. د شاه شهید اوسېدونکي وایي چې موږ پر هغو شپو ورځو په خپله لیدل، چې د دوستم ملېشو د نندارتونو اثار په ډېره ارزانه بیه پر خلکو ان پر عادي لارویانو هم خرڅول، ځکه چې د دوی عادي اشخاص د دې اثارو پر قدر نه پوهېدل. خو د نندارتونونو ډېر مهم او قیمتي اثار په ډېر دقت او مهارت سره چور او مهمو قوماندانانو پټو ځایونو ته انتقال کړل.

دا د افغانستان د نندارتونونو غملړلی برخلیک و. هغه چا چې مخکې دا سیمه لیدلې وه او اوس یې بیا وګوري، نو کېدی شي ویې نه پېژني او فکر وکړي، چې په خوب کې دا سیمه ګوري، یو وخت به هلته د علم او تمدن، پوهې او فرهنګ مینوال افغانان او

بهرنيان د دغو نندارتونونو کتنې لپاره ورتلل، خو اوس په کې د وزو، پسونو او غويو گلې گرځي. اوس يوازې د ننداړتونونو ولاړ او لغوړن شوي دېوالونه ښکاري او بس، چې يو لوی تېر شوی وحشت په کې ننداري ته وړاندې شوی دی.

کوم اثار چې په دې ټولو ننداړتونونو کې موجود وو، په خواشينۍ سره بايد ووايو، چې د هغو بيا لاسته راوړل، لکه د افغانستان د نورې لوټ شوې فرهنگي شتمنۍ په شان ناممکن دي او نه يې څوک د زيان اندازه ټاکلی شي. هسې که په سرسري ډول هم محاسبه وکړو، نو تر لسگونو مليونو ډالرو اوړي. يوازې د هغو د ودانيو د بيا رغونې لپاره په مليونو ډالرو ته اړتيا ليدل کېږي.

«۱۱»

# څلي او منارونه

زموږ د هېواد په وینو لړلې برخلیک همداسې جوړ شوی، چې هر کله دلته یو تمدن، یو انساني نظام، یو ټولنیز سمون او یو فرهنګي بهیر منځته راغلی، بیا نو ورپسې داسې یوه سیلۍ خوره شوې، چې زموږ د ولس مېوې ته رسېدلې ونه یې نه یوازې دا چې ښورولې، پاڼې او مېوې یې ورته له منځه وړې، بلکې وچه کړې او سوې یې هم ده. پر دیو له دغه او یا هغه ملک سره د مقابلې او نیولو په نامه خپل آسونه ددې خاورې پر شنه کرونده تېر کړي دي او د خپلې ځانپالنې، ځان غوښتنې او هوسپالنې په غرض یې یو وخت هم ددې ولس د واک څوکۍ په ارامه پرېښې نه ده. د همدغو کړکېچونو په پایله کې مادي او معنوي شتمني وخت پر وخت د مرګ او نابودۍ تر کندې رسېدلې ده.

د هېواد د فرهنګ او تاریخي ارزښتونو د محوه کولو یو بل ناتار پر ۱۳۷۱ ل کال پیل شو. د دې خونړۍ او تباه کوونکې سیلۍ په بهیر کې د افغانستان زیات تاریخي اثار محوه کړای شول. په دغو فرهنګي او تاریخي اثارو کې هغه څلي او منارونه هم شامل دي،

چې د هېواد په پلازمېنې او نورو سيمو کې موجود وو. دا څلي او منارونه يا په بشپړ ډول او يا هم په نيمه ډول له منځه وړل شوي دي.

د کابل ښار د پل محمود خان په څلور لارې کې چې کوم منار (د ساعت برج) په نوم مشهور و، لومړی په توپونو او درنو ګوليو وويشتل شو، بيا نيمه ړنګ او وروسته بيا لکه د لاس ورغوي په شان اوار کړای شو.

د دهمزنګ په درې لارې کې، چې د سختو جنګونو مرکز و، د خپلواکۍ د ګټلو د يو تن نامتو مبارز (عبدالوکيل نورستاني) يادګاري څلی دی. دا څلی چې په ډېره ښکلې بڼه له مرمرينو ډبرو څخه جوړ شوی، له څو خواوو څخه په توغنديو او سپکو وسلو ويشتل شوی، خو تراوسه پوره ړنګ شوی نه دی او د منار د لاندېني متن په شاوخوا کې زغره والو وسايطو د خپلو زنځيرونو د ورانۍ نښې پرېښې دي.

د کابل ژوبڼ د ختيزې ډډې ترڅنګ د خپلواکۍ د شهيدانو او اتلانو يادګاري څلی دی او پر ښکلو مرمرينو ډبرو د غازيانو او شهيدانو نومونه پرې ليک دي. سره له دې چې دا څلی روغ پاتې دی، خو د وړو مرميو ډېر ټپونه يې پر بدن څرګند برېږي.

د کابل پوهنتون ختيزې دروازې ته مخامخ د کابل د سناتوريم يادګاري منار دی، چې ډېر ښکلی برېښي. پر (۱۳۱۰-۱۳۱۲ل) کال په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د سل د ناروغۍ د مخنيوي او علاج لپاره يو روغتون جوړ شو، دا د دغه روغتون د جوړېدو يو يادګاري منار دی، چې په ډېر ښکلي ډيزاين او جوړښت

له ډېرو ښکلو مرمرینو ډبرو څخه ودان شوی. دا منار سره له دې چې درنو جګړو او مرمیو څخه خوندي پاتې شوی، خو د برېښنا د روښانتیا ځای یې ویجاړ شوی، په وړو ګولیو یې ځینې برخې ویشتل شوي او هم یې ځینې ډبرې ښورول شوي او بېځایه شوي دي.

د کابل پوهنتون په زړه کې د ختیځ د ستر نابغه او د اسلام روښانه مفکر سید جمال الدین افغان مقبره واقع ده، چې ډېر ښکلی څلی یې پرې جوړ کړی دی. د درې کلنو جګړو په ترځ کې دې څلي ته هم درانه زیانونه اړول شوي، پر قبر او څلي په لسګونو لویې او وړې ګولۍ لګېدلي، خو څلی لا ولاړ دی.

د کابل د میوند واټ په منځنۍ برخه کې د افغان ولس د بریمنې سوبې (د میوند فتحې) یادګاري څلی په ډېره ښکلې او زړه وړونکې بڼه جوړ شوی و. د څلي په کښتنۍ برخه کې د افغان اتلې او د میوند له ویاړه ډکې قهرمانې ملالۍ له خولې دا راوتلې لنډۍ لیک وه:

که په میوند کې شهید نه شوې؟
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه! ))

د جګړو په ترځ کې دا یادګاري څلی هم په غټو او وړو ګولیو ویشتل شوی او پر سینه پرېوتی، یوازې کمه برخه یې د زمکې پرمخ ښکاري، چې پر دې ځای د یو تېر شوي وحشت ښکارندویي کوي (۳۵) خو د وخت په تېرېدو سره دا څلی هم کېدی شي د محمودخان پُل د (ساعت برج) د منار په څېر پر سپین ډاګ بدل شي.

دغه راز د هېواد د ځینو ولایتونو په مرکزونو او نورو ځایونو کې چې کوم تاریخي منارونه، برجونه او ځلي د تاریخ په بېلابېلو وختونو کې جوړ شوي وو، هغه هم یا په بشپړ ډول او یا هم په نسبي ډول ویجاړ شوي دي.

لکه د پغمان په سیمه کې د خپلواکۍ ځلی (تاق ظفر) د لښکرګاه تاریخي دروازه، د هرات منارونه او د غور منار چې د اسلام د راتګ له لرغونو اثارو څخه شمېرل کېږي، (۲۸) متره لوړوالی لري او د یونسکو له خوا د نړۍ د مشهورو او نامتو تاریخي اثارو په لست کې شامل دی. (۳۲) او یو لړ نورو دې ډول اثارو ته ډېر زیانونه اوښتي او نور هم اوښتونکي دي.

((۱۲))

# تاریخي ودانۍ

د څلور کلنو جګړو په ترڅ کې هغو تاریخي او ښکلو ودانیو ته چې نه یوازې یې تاریخي ارزښت خورا زیات و، بلکې د جوړښت او انجنیري ساختمان له مخې هم په زیات مالي لګښت جوړې شوې وې، هم زیات زیان اړول شوی دی. اکثره دا ودانۍ نه یوازې مهم دولتي، سیاسي او اداري مرکزونه پاتې شوي دي، بلکې د یو زیات شمېر هېوادوالو او نورو سیلانیانو لپاره د سیل، تفریح، ښکلا او ننداري ځایونه هم وو.

په دې ښکلو او تاریخي ودانیو کې د دارالامان ښکلې او تاریخي ماڼۍ، چې په ډېر مستحکم ډول او ظرافت سره د الماني انجنیرانو له خوا طرح او ډیزاین شوې وه په تېرو شلو کلونو کې څو ځله د جګړو له امله تر ګوزارونو لاندې راغلې ده. پر (۱۳۶۸ل) کال کې په هغه جګړه کې چې (( د شهنواز تڼي کودتا)) په نامه مشهوره ده، سخته زیانمنه شوه. پر هغه وخت په دې ودانۍ کې د دفاع وزارت هم و او شهنواز تڼی هم د دفاع وزیر و، نو دا ودانۍ د جګړې د قوماندانۍ محل و. تر دې ودانۍ څخه لږ وړاندې مخ ښار پلو د (خاد پنځم ریاست) و او تر دې ودانۍ لږ شان پورته د تاج بېګ پر

غونډ یو نور پوځي قطعات وو، چې د دوکتور نجیب الله د حکومت ملاتړ یې کاوه. په جګړه کې دا ودانۍ له همدغو دوو لورو او ځینو نور خواوو څخه تر سخت اور لاندې ونیول شوه. په نتیجه کې په سلګونو لویې او په زرګونو وړې مرمۍ پر دې ودانۍ ولګېدې، چې ودانۍ ته یې بې شمېره درونـد مالي زیان واړوه. دغه راز کله چې دا ودانۍ د نجیب الله د پلوي ځواکونو، چې جلال رزمنده او بابه جان هم په کې شامل وو، ونیول شوه، دې ودانۍ کې اکثره دولتي شته لوټ او تالا شول.

تر دې جګړې وروسته د دوکتور نجیب الله د حاکمیت پر وخت د دې ودانۍ د بیا جوړونې لپاره پر هغه وخت په زرګونو ملیونه افغانۍ ولګول شوې، ودانۍ تقریباً له سره بیا ترمیم شوه. تر دې ودانۍ لر. شان پورته د تاج بیګ په تپه کې یو بل تاریخي قصر هم ودان و، چې هغه ته هم په همدې جګړه کې زیات زیان واړول شو.

کله چې د ۱۳۷۱ ل کال د ثور پر میاشت د مجاهدینو مختلفې ډلې کابل ته دننه شوې، نو ښار هم پر مختلفو ډلو ووېشل شو. ان د ارګ ودانۍ هم د څو بېلابېلو تنظیمونو لاسته ورغله. هر کله چې دا ودانۍ له یو تنظیم نه د بل لاس ته ورتلې، نو هر یوه د خپل ځواک او توان په اندازه د خپل قسمت مطابق د خپل چور برخه وړله. لنډه دا چې د جګړې په کلونو کې په ودانیو کې هېڅ شتمني پاتې نه شوه. د خونو کوم دېوالونه چې پاتې وو، هغه په مرمیو، توغندیو، چاودنو او هوایي بمباریو کې داسې وسوځول شول او ونړول شول، چې ځینې ودانۍ یې بیا بشپړې ودانۍ ته اړتیا لري او ځینې په

قسمي توګه بیا رغوني ته اړتیا لري. د دلکشا او ګلخانې ماڼۍ چې د یو وخت د افغانستان د واکمنو د اداري چارو او لیدنو کتنو ځایونه پاتې شوي وو، په خورا ظرافت او ښکلې معمارۍ سره جوړ شوي وو اوس د یو داسې لوی وحشت عکاسي کوي، چې د انسان د سر ویښتان ورته جګېږي. د ماڼیو دېوالونه په لویو او وړو مرمیو سوري سوري دي، د ماڼیو ټول متنونه چې په لوکسو غالیو پوښتل شوي وو اوس سپېره مېره معلومېږي. هغه غالۍ چې د ځمکې له متن سره سریښ شوې وې او د راټولېدو امکان یې نه و، په برچو سورۍ سورۍ شوي دي. په دې ودانیو کې د لرګیو داسې الماري په داسې ظرافت سره جوړې شوې وې، چې کېدی شي د خپل وخت د امکاناتو په پام کې نیولو سره یې په ټولو ګاونډیو هېوادو کې ساری نه درلود او په هرې الماری د افغانستان د دولت ښان او بیرغ انځور شوی و، اوس په برچو او ګولیو سورۍ سورۍ شوي او هنداري یې په ګولیو ویشتل شوې دي. هر چا چې پخوا د دې ودانیو شان او شوکت، ظرافت او ښکلا لیدلي وي او اوس یې په دې بڼه وګوري، نو چې د کاڼي او ډبرې زړه هم ولري له سترګو به یې اوښکې راشي، اوس د دې ودانیو پر الماریو، چې یو وخت به هلته ماشي هم په ادب تېرېده او غږېده، بېلابېلو ملېشو او جګړه مارو په تباشیر او نورو ډول ډول رنګونو خپل منفور یادګارونه لیکلي، چې د دې ښکارندویي او انځورنه کوي، چې څه ډول او د کوم فرهنګ درلودونکي اشخاص ددې جرم مرتکب شوي دي. د دې دوو ماڼیو او په ارګ کې دننه د ځینو نورو ودانیو د بیا

جوړښت لپاره د پیسو اټکل خورا ګران کار دی او زیاته څېړنه غواړي.

تر ارګه لږ لرې د څو کیلو مترو په واټن د چهلستون تاریخي ودانۍ او ښکلي باغ موقعیت درلود، چې د بهرنیو مېلمنو او د افغانستان د مهمو غونډو د جوړولو لپاره مناسب ځای و او د ځانګړې ښکلا لرونکې وه. د (۱۳۷۱ل) کال د ثور د میاشتې په هماغو لومړنیو جنګونو کې دا ودانۍ وسېزل شوه او ټول شته یې چور شول. تر دې ودانۍ څو کیلو متره مخ ښار پلو د خوشال بابا لېسه جوړه وه، چې ترڅنګ یې د بابرباغ، رستورانت او ودانۍ جوړ وو. دا سیمه ډېر وخت د جګړې لومړنۍ لیکه پاتې شوه او په زرګونو توغندي او درنې مرمۍ یې پر سینه ورتش شول او هر څه چې په کې وو، هغه له خاورو سره برابر شول. د جګړې اور یوازې په کابل کې پاتې نه شو، د کابل ښار په شمال کې د استالف کابو **۸۵** کلنه تاریخي ودانۍ موجوده وه، چې د استالف د تخت پر سر ودانه وه. دا ودانۍ هم د جګړې بلا تر ستوني تېره کړه، همدا ډول نورې په لسګونو تاریخي او ښکلې ودانۍ، چې د هېواد په مرکز او بېلابېلو ولایتونو کې له کلونو راهیسې ابادې وې، خو جګړو ونړولې.

«۱۳»

# بیهقي کتاب خپرولو موسسه

افغانستان د کتاب چاپولو او خپرولو له پلوه د نړۍ تر ډېرو هېوادونو شاته پاتې و، خو په تېره نیمه پېړۍ کې په افغانستان کې هم د کتاب د چاپ او خپرولو دود ورځ پر ورځ ګړندی کېده، د نوي عصري تعلیمي سیستم منځته راتګ، د ژوندانه ضرورتونو، د زده کړې قشر زیاتون او د نورې نړۍ اغېزو دلته هم د کتاب له چاپ او خپرولو سره مرسته وکړه، خو بیا هم د نورې دنیا په انډول او د ځینو نږدې او لرې هېوادونو په تناسب دلته لږ شمېر کتابونه چاپ او خپاره شوي دي. یو خو دا چې د افغانستان اکثریت ټولنه نالوستې وه، بل تنګو اقتصادي شرایطو او د کتاب پر چاپ او خپرولو باندې د وخت د حکومتونو حاکمیت هم څه ناڅه ددې کار مخه ونیوله، چې د کتاب بازار دې منځته راشي، بله وجه دا هم وه، چې د کتاب د خرڅلاو له لارې بېرته د کتاب لګښت لاسته نه راته.

کوم کتابونه چې د افغانستان په چاپخونو کې چاپ شوي له تعلیمي او څو عنوانو سیاسي کتابونو پرته، چې تیراژ یې لسګونو زرو ټوکو ته رسېده، د نورو ټولو کتابونو (د هر عنوان) شمېر (۵۰۰، ۱۰۰۰، ۲۰۰۰) او یا پنځه زرو ټوکو ته رسېده.

تعلیمي او څه نا څه سیاسي کتابونه په وړیا ډول د لوستونکو په واک کې ورکول کېدل او پاتې نور کتابونه هم په ځینو علمي غونډو او سیمینارونو کې د بېلابېلو مناسبوتونو تر عنوان لاندې په وړیا توګه وېشل کېدل. یو ټاکلی شمېر علمي او ادبي کتابونه تر تمام شوي قیمت نه په ډېره ټیټه بیه د دولت له خوا بازار ته وړاندې کېدل.

لنډه دا چې په افغانستان کې د کتاب د خرڅلاو د بازار په انډول د وړیا وېش دود ډېر ګرم و، خو له دې سره سره د لوستي قشر او د ولس د اقتصادي ستونزو په پام کې نیولو سره د کتاب د خرڅلاو او اخیستو بازار په تدریجي ډول او ګام پر ګام خپلې پوړۍ وهلې.

په افغانستان کې د کتاب خپرولو او پلورلو تر ټولو لویه موسسه (د بیهقي کتاب خپرولو موسسه) وه. نوموړې موسسه د یوې ځانګړې تصدۍ په توګه پر (۱۳۵۷ل) کال تاسیس شوه او تر دې دمخه یې د دولتي مطابعو د ریاست په چوکاټ کې (د بیهقي کتاب چاپولو موسسه) په نامه فعالیت کاوه.

څرنګه چې دا یوه تصدي وه، نو د کتاب چاپولو له ټولو کورنیو موسسو، منابعو او هم د پخواني شوروي اتحاد د کتاب چاپولو له ځینو سرچینو سره یې اړیکي درلودل؛ هغوی خپل کتابونه دوی ته رالېږل او دوی د یو ټاکلي کمېشن په مقابل کې هغه د خپلو کتاب پلورنځیو له لارې پلورل.

د بیهقي کتاب خپرولو موسسې تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه یوازې په کابل ښار کې (۲۵) ځانګې او تر هغه وروسته (۱۵) څانګې درلودې. همدارنګه دې موسسې د هېواد په ځینو ولایتونو کې (۱۸) نورې

ځانګې هم درلودې، چې ددې ځانګو له لارې یې لوستونکو ته هر ډول کتابونه وړاندې کول.

تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته د جګړو او ځینو نورو عواملو له کبله د ټول هېواد په سطح ددې تصدۍ یوازې (۳) ځانګې په کابل ښار کې پاتې شوې، چې هغه هم کېدی شي د ټاکلي وخت په تېرېدو سره له منځه لاړې شي.

د بیهقي کتاب خپرولو تصدي یو مرستیال ښاغلي شاه زمان ورېځ ستانیزي وویل: له ((۱۳۵۷ل کال راهیسې دې تصدۍ ته د (۲۵۰۰) عنوانو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه راوړل شوي دي. د (۱۳۷۱ل) کال پر لومړیو وختونو ددې تصدۍ په کتاب پلورنځیو کې د (۱۵۰۰) عنوانو په شاوخوا کې کتابونه موجود وو، چې عمومي شمېر یې تقریباً دوه ملیونه جلدو ته رسېده.

د (۱۳۷۱ل) کال د ثور میاشتې له (۸) تر (۱۰) نېټې پورې تقریباً یو ملیون ټوکه کتابونه د بیهقي تصدۍ له کتاب پلورنځیو څخه راټول او د سیاسي- کمونیستي کتابونو په نوم ورته اور واچول شو او ایره یې کړل. نور پاتې یو ملیون ټوکه کتابونه په راوروسته جګړو او چپاولونو کې چور او له منځه یوړل شول.

که په تقریبي او انډولیز ډول د پورتنیو دوو ملیونو ټوکو کتابونو مالي ارزښت وسنجوو، نو زموږ د ټولني لپاره به د معنوي زیان ترڅنګ یو دروند مالي زیان هم وګڼل شي. که په انډولیز ډول او متوسطه توګه د یو کتاب مالي ارزښت دوه امریکایي ډالره اټکل کړو، نو په مجموعي ډول به څلور ملیونه امریکایي ډالره شي،

معنـوي او پـوهنیز ارزښـت خـو یـې لاپرېـږده، چـې هغـه خـو پـه دې معیارونو او تلو هډو سنجېدی نه شي.

سربېره پر دې د بیهقي تصدۍ د کتـاب پلورنځیـو د ودانیـو فزیکـي جوړښت ته درانـه زیانونـه اړول شـوي او ځینـې خو ببخي لـه منځـه وړل شوي دي. مېزونه، څوکۍ، د کتاب ساتلو او پلورلـو وسـایل، اسناد او وسایط ټول تباه کړای شوي دي. د نوموړې تصدۍ د یـوه کـارکوونکي پـه قـول لـږ تـر لـږه دوه ملیونـه امریکـایي ډالـره پـه کـار دي، چـې د دې تصـدۍ کتـاب پلـورنځي پـرې لـه سـره جـوړ او د چـارو نـور تخنیکـي وسایل پوره شي. (۳۷)

## ((۱۴))

# عامه کتابتون

عامه کتابتون په افغانستان کې د ډېرو سترو کتابتونونو له جملې څخه و، تر (۱۳۴۵ل) کال پورې یې د ښوونې او روزنې وزارت په چوکاټ کې فعالیت کاوه، وروسته بیا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې وتړل شو. بیا یې په کابل ښار او ولسوالیو کې (۲۸) څانګې پرانستلې، چې ټول (۱۰۳۰۹۵) عنوانه کتابونه په کې خوندي وو. وروسته یې په ولایتونو کې (۵۱) بېلابېلې څانګې پرانستلې، چې (۱۰۴۹۷۱) عنوانه کتابونه په کې د مطالعې لپاره ایښودل شوي وو.

عامه کتابتون تر (۱۳۷۱ل) کال پورې په ټول افغانستان کې (۷۹) کتابتونونه درلودل، چې (۲۰۸۰۶۲) عنوانه کتابونه په کې خوندي وو.

پر (۱۳۷۱ل) کال د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو په شان عامه کتابتون ته هم درانه زیانونه واړول شول. تقریباً د عامه کتابتون ټولې څانګې له منځه یوړل شوې، اکثره کتابونه چور او غلا شول.

د مسـوليـنو پـه ويـنـا اوس د ټـول افغانسـتـان پـه سـطح د عـامـه کتابتون ۳ څانګې پاتې دي او نورې ټولې لـه منځه ورل شـوي دي، چې د دوی په قول اوس په کې (۸۹۰۴۹) عنوانه کتابونه پاتې دي.

د (BBC) راډيو د يو خبر ترمخه له عامه کتابتون څخه (۲۷) زره عنوانـه کتابونـه غـلا شـوي دي. (۳۸) خـو د عـامـه کتـابتـون د ځيـنـو مسوولينو د څرګندونو له مخې له عامه کتابتون څخه په مجموعي ډول تر يو سل زره عنوانو څخه زيات کتابونه غلا شوي دي. (۳۹)

د کتابونو تر چور او چپاول سربېره هغو ودانيو ته هم زيات زيـان اړول شوی، چې د هېـواد پـه بېلابېلو ځـايونو کې د کتـابتونو لپـاره جوړې شـوې وې. دا ودانـۍ يـا پـه بشـپړ او يـا هـم پـه قسـمي ډول لـه منځه وړل شوې دي.

پـه خپلـه د عـامـه کتـابتون مرکـزي ودانـۍ تـه هـم د توغنـديو د لګېـدو پـه وجـه زيـات زيـان اړول شـوی دی. دغـه راز ويـل کېـږي د مرکـزي کتـابتـون د مجلـو او اخبـارونو لـه څـانګې څخـه د مجلـو او اخبارونو ځيني کلکسيونونه هم ايستل شوي دي. د کتـابتـون د ټـول رسـېدلي زيـان د انـدازې ټاکـل خـورا ګـران کـار دی. د کتـابتـون مسـوولـين وايـي، چـې دې کتـابتـون تـه تـر زر مليـونـو افغـانيو زيـات مـالي زيان اوښتی دی، خو که موږ لـږ تـر لـږه د کتـابتون يـو سـل زره عنوانه کتابونه په پام کې ونيسو، سره له دې چې تر دې به هم زيـات وي او د هر کتـاب بيـه له اوسني نرخ سره سمه ۴ ډالره اټکل کړو، نـو يـوازې بـه د کتـابونو لـه درکه څلور سـوه زره ډالـره زيـان اوښـتی وي، که د کتـابتـون د وسـايلو، وسـايطو او خپلـه د ودانيـو رسـېدلی زيـان

په پام کې ونیسو، نو دا تر پنځه سوه زرو ډالرو هم اوړي، چې د اټکل له مخې کېدی شي لږ تر لږه ټول یو ملیون ډالره محاسبه شي، که چېرې دا په افغانیو واړوو، نو د ننني نرخ له مخې به څلېریشت زره ملیونه افغانۍ شي.

## د کابل پوهنتون، د طب او پولیتخنیک انستیتیوت او ځینې نور کتابتونونه:

لکه د کابل پوهنتون په بحث کې چې مو وویل، د کابل پوهنتون مرکزي کتابتون د هېواد له سترو کتابتونونو څخه و. دغه راز د کابل پوهنتون پر مرکزي کتابتون سربېره د نوموړي پوهنتون (۱۳) ګونو بېلابېلو پوهنځیو هم اکثرو ځانګړي کتابتونونه درلودل. ان تر دې چې د کابل پوهنتون (۵۲) بېلابېلو څانګو هم اکثرو کتابتونونه درلودل. ځینو استادانو د پوهنتون په ساحه کې د ځان لپاره واړه ځانګړي کتابتونونه جوړ کړي وو، خو دا اکثره له منځه یوړل شول. د دې ټولو کتابونو بشپړ او دقیق شمېر معلوم نه دی، خو په مجموعي ډول د ټولو شمېر تر دوو ملیونو ټوکو زیاتېږي.

د کابل طب انستیتیوت هم د ښه ورته کتابتونونه درلودل، چې یوازې له مرکزي کتابتون څخه یې (۵۰۰۰۰) زره عنوانه کتابونه وړل شوي او سېزل شوي دي. د طب پر مرکزي کتابتون سربېره په دې انستیتیوت کې د محصلینو د زده کړې هغه په زرګونو ټوکه بېلابېل کتابونه هم اکثراً تباه شوي، چې د محصلینو په درسي پروګرام کې شامل وو.

کابل پولیتخنیک هم پر همدې ډول برخلیک اخته شو. د پولیتخنیک په مرکزي کتابتون کې کتابونه اکثره چور او غلا شول. سربېره پر دې په ځینو وزارتونوکې هم یو لړ بډایه کتابتونونه موجود وو، چې پر کابل ښار باندې د جګړې د واکمنۍ پر کلونو یا په بشپړ ډول او یا هم په نسبي ډول زیانمن شوي دي. په دې کتابتونو کې د ښوونې او روزنې وزارت کتابتون او د سرحدونو چارو وزارت کتابتونونه هم شامل دي. د ښوونې او روزنې وزارت له کتابتون څخه یو ټاکلی شمېر کتابونه او د سرحدونو چارو وزارت له کتابتون څخه اکثره کتابونه غلا شوي دي.

دغه راز په نورو اکثرو وزارتونو او دولتي ادارو کې، چې هغوی د خپل کار او اړتیا مطابق کوم کتابتونونه جوړ کړي وو، هغه هم پر همدې برخلیک اخته شول.

پر وزارتونو او دولتي ادارو سربېره د هېواد په اکثرو ښوونځیو، روزنیزو، تعلیمي او تحصیلي موسسو کې هم د هغوی د سطحې او اړتیا وړ کتابتونونه موجود وو، چې د هغوی هم اکثره له منځه وړل شوي دي. ددې ټولو کتابونو دقیق شمېر ټاکل ناشونی دی، خو په تخمیني ډول تر ملیونونو ټوکو اوړي.

## د ارګ کتابتون:

د ارګ دننه د ښکلو ودانیو په منځ کې یو ډېر ښکلی او مجهز کتابتون موجود و، چې د ډېرو کلونو په موده کې د ګڼ شمېر علمي، ادبي او تاریخي کتابونو ترڅنګ په دې کتابتون کې یو زیات شمېر خطي نسخې، چې په پښتو او فارسي ژبو لیکل شوې

وې، هم موجودې وې. دې کې داسې خطي نسخې هم موجودې وې، چې تراوسه لاچاپ شوې نه وې او زموږ د ادب او فرهنګ لپاره ډېرې مهمې ګڼل کېدلې.

د (۱۳۷۱ل) کال د ثور میاشتې پر (۷، ۸، ۹) نېټه په ارګ کې درنې جګړې وشوې، دغه راز د ارګ ودانۍ داسې ملېشو ته په لاس ورغله، چې نه یوازې له فرهنګ سره یې مینه نه درلودله، بلکې په وحشت، دهشت، غلا، چور او چپاول کې یې ریکارډ ټینګ کړی و. دوی د ارګ د نورو شتمنیو د لوټ ترڅنګ د ارګ کتابتون ته هم لویه ضربه ورکړه. تر هغه وروسته پر ارګ باندې څو ځله بمباري وشوه، څو ځله په کې چاودنې وشوې او په زرګونو توغندي پرې وورول شول. اوس د ارګ اکثره ودانۍ یا په بشپړ ډول او یا هم په نیمه ډول زیانمنې شوې دي. د کتابتون هم هېڅ درک نه شته، یوازې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په کور، چې اوږدې پردې پرې راځړول شوې دي، په چوپه او غلې ژبه د یوې لویې تېرې شوې غمیزې بیان کوي، په خونه کې یو څه کتابونه خوندي پاتې دي. څرنګه چې پر دې وخت د ارګ د کتابتون هغه پخواني مسلکي مامورین دندو ته نه راځي، نو په دې وجه د کتابتون د غمیزې داستان او د ضایع شویو کتابونو او د کتابتون د چور او چپاول تول کیسه پوره بیان نه شوه، خو په غالب ګمان هر څومره چاپي کتابونه او خطي نسخې چې په دې کتابتون کې خوندي وو هغه ټول چور شوي دي. د ارګ کتابتون له دې پلوه هم د زیات ارزښت درلودونکی و، چې په ښه ظرافت او ښو امکاناتو سره جوړ شوی و

او بل دا د ټول هېواد په سطح هغه یوازینی کتابتون و، چې نه یوازې محققینو ترې ګټه اخیستله، بلکې د هېواد مخورو سیاسي اشخاصو او لومړۍ درجې واکوالو لپاره هم د مطالعې او ماخذ یوه منبع وه.

## (( د وطن ګوند )) کتابتون:

د وطن ګوند مرکزي کتابتون د هېواد له ډېرو سترو او لویو کتابتونونو څخه و. دا کتابتون چې د نوموړي ګوند په هڅو د څو کلونو په بهیر کې جوړ شوی و؛ زیات شمېر کتابونه او د بېلابېلو کورنیو او بهرنیو مجلو او اخبارونو کلکسیونونه په کې خوندي وو. سره له دې چې په دې کتابتون کې اکثره هغه کتابونه راټول شوي وو، چې د نوموړي ګوند له سیاسي تګلارې سره سم مطالب په کې چاپ شوي وو، خو بیا هم یو زیات شمېر علمي، ادبي، تاریخي او نور کتابونه په کې موجود وو، چې د هېواد علمي کړیو ورڅخه ګټه اخیستلای شوه. له فزیکي پلوه پر کتابتون خورا زیات لګښت شوی و او د یو عصري او مجهز کتابتون د بډایه کولو لپاره یې زیاتې هلې ځلې کړې وې. د دوی ځینې دا هڅې تر دې حده هم رسېدلې وې، چې له ځینو نورو مهمو کتابتونو، لکه عامه کتابتون او نورو څخه یې ځینې مهم کتابونه او د مجلو او اخبارونو کلکسیونونه په زور او یا د واک د نفوذ پر اساس، دې کتابتون ته راوړي وو. په همدې وجه د دوی په دې عمل په ځینو فرهنګي کړیو او اشخاصو کې انتقادي ګونګوسی راپورته شوی و.

دا کتابتون د (۱۳۷۱ل) کال د ثور پر (۷-۸) نېټه او وروسته تر هغې په ځو نورو جګړو کې له يوې مخې چور شو او هغه په زرګونو عنوانونه بېلابېل کتابونه، مجلې او د اخبارونو کلکسيونونه، چې په دې کتابتون کې موجود وو، ټول له سترګو پناه شول.

## ((د ځوانانو سازمان)) مرکزي کتابتون:

دا کتابتون چې د نوموړي سازمان له خوا جوړ شوی و او د هغه مال ګڼل کېده، د (۱۳۷۱ل) کال د ثور پر (۸-۹-۱۰) نېټو، چې د کابل ننداري، شاه شهيد او حضوري چمن په سيمه کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعيت او د دوستم د ملېشو ترمنځ کوم جنګونه پيل شول، ټول له يوې مخې چور شو. دا کتابتون سره له دې چې د وطن ګوند د کتابتون په پرتله بډايه نه و، خو بيا هم ډېر درونډ مالي لګښت پرې شوی و. د داخلي اخبارو، مجلو او کتابونو ترڅنګ يې يو شمېر هغه خپرونې هم درلودلې چې په پښتو او دري ژبو په ځينو نورو هېوادونو په ځانګړي ډول په شوروي اتحاد کې چاپ شوې وې. دا کتابتون د ((ځوانانو سازمان)) د خپل سياسي تګلوري له فکر سره سم ګڼ شمېر شوروي چاپ کتابونه هم درلودل، خو د دې ترڅنګ داسې ادبي، هنريي، ذوقي، علمي او نور کتابونه او اثار هم په کې موجود وو، چې ډېر ګټور او په زړه پورې وو.

## شخصي کتابتونونه:

کله چې جګړه له کلیو نه پر ښارونو راخوره شوه، نو د عامه دولتي فرهنګي شتمنۍ ترڅنګ هغه فرهنګي شتمنۍ هم له منځه یوړل شوې، چې په خپله په لیکوالو او پوهانو پورې یې اړه درلوده. په دې کې د لیکوالو هغه کتابتونونه شامل دي، چې دوی د خپل ټول عمر په اوږدو کې په ډېر زیات زیار او زحمت جوړ کړي وو. د دې ډول ځاني کتابتونونو شمېر خورا زیات دی. د افغانستان په ګوټ ګوټ په تېره بیا په مهمو ښارونو له هغې جملې څخه په کابل ښار کې ځینو لیکوالو او پوهانو ځانته شخصي کتابتونونه درلودل. دلته د ساري په توګه د څو لیکوالو د کتابتونونو نومونه اخلو:

## د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي کتابتون:

د کابل په جمال مېنه کې د لوی استاد کور واقع و. دې کور نه یوازې زموږ فرهنګي کړیو ته له دې پلوه زیات ارزښت درلود، چې د استاد ځینې کتابونه او ځینې خطي نسخې په کې خوندي وو، بلکې له دې پلوه هم د زیات ارزښت درلودونکی و، چې دا د افغاني د فرهنګ د یو ستر خدمتګار او پالونکي کور و. ډېرې شپې او ډېر وختونه دا کور د لیکوالو او فرهنګیانو د ناستې ځای پاتې شوی او ډېرو لیکوالو او د علم او پوهې لارویانو همدې کور ته د خپل علمي مشکل د حل لپاره د یوه ماخذ په توګه ځان رارسولای دی.

په همدې فرهنګي کور کې د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي بډایه علمي کتابتون هم موجود و (۴۰) په دې کتابتون کې ګڼ شمېر علمي، ادبي، تاریخي او سیاسي کتابونه او ډېرې زیاتې خطي نسخې خوندي وو. سره له دې چې ویل کېږي تر جګړې وړاندې موده کې د استاد له دې کتابتون څخه یو شمېر مهم کتابونه او خطي نسخې یو خوندي ځای ته انتقال شوي وو، خو بیا هم د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په قول د استاد علامه عبدالحی حبیبي په ځاني کتابتون کې ډېر زیات شمېر کتابونه او خطي نسخې خوندي وو، چې د زیات تاریخي او علمي ارزښت لرونکي وو.

د استاد کور په هغو جګړو کې له یوې مخې وسوځول شو او ړنګ بنګ شو، چې د نظار شورا او وحدت حزب ترمنځ پر بېلابېلو وختونو د کابل پوهنتون او د جمال مېنې په نورو برخو کې ترسره شوې. اوس د استاد په کور کې هېڅ شی پاتې نه دي، یوازې سوي اونیم ړنګ ولاړ دېوالونه پاتې دي، چې پر دې سیمه د یوې لویې خونړۍ او ورانوونکې تېرې شوې غمیزې انځورنه کوي.

د لوی استاد عبدالحی حبیبي تر کتابتون وروسته د استاد پوهاند صدیق الله رښتین پر کتابتون هم دا ناورین خور شوی. د استاد رښتین کتابتون هم د کابل ښار په غربي سیمه کې واقع و، دلته هم جګړې ورځ په ورځ زور اخیسته. د استاد رښتین کتابونه هم ټول چور او تالاشول. په دې کتابتون کې هم د افغاني ادب او فرهنګ ګڼ شمېر کتابونه او هم نور ډول ډول کتابونه او خطي

نسخې خوندي وو. د جګړې په شپو ورځو کې ډېر داسې کتابونه د کابل ښار په تړو کې له کتاب پلورونکو سره پيدا شول، چې د استاد پوهاند صديق الله رښتين د کتابتون نښه پرې لګېدلې وه.

د کابل د زړو مکروريانو په سيمه کې د هېواد نوميالي عالم کانديد اکاډميسين محمدصديق روهي کور واقع و. د استاد په کور کې د هغه له ځاني کتابتون څخه ګڼ شمېر کتابونه د نابودۍ کندې ته رسول شوي دي. همدا راز د کابل ښار د درېيم مکروريان په سيمه کې د هېواد بل عالم کانديد اکاډميسين محمدابراهيم عطايي کور او کتابتون واقع و. د استاد عطايي په کتابتون کې د ده په وينا (اوه زره) عنوانه بېلابېل علمي، ادبي او تاريخي کتابونه خوندي وو. دا کتابونه د يونسکو له خوا هم کتل شوي او ثبت شوي وو.

د (۱۳۷۲ل) کال د جدي د مياشتې د خونړيو جګړو له امله غلو او داړه مارو دې کتابتون ته هم مخه وکړه او ټول کتابونه يې غلا کړل. دې سره ورنږدې د هېواد د دوو تنو نورو نامتو ليکوالو استاد واصف باختري او رهنورد زرياب کورونه او کتابتونونه واقع وو. په دې کتابتونونو کې هم ډول ډول مهم او قيمتي کتابونه موجود وو. پر دې کتابتونونو هم ورته ناتار خپور شو.

د همدې مکروريانو په بله غاړه کې د نوميالي شاعر سليمان لايق ځاني کتابتون واقع و. هغه هم چور او چپاول شو، څو موده وروسته ډېر داسې کتابونه په بازار کې وموندل شول، چې د سليمان لايق د کتابتون ټاپه پرې لګېدلې وه.

په زړو مکروریانو کې د افغانستان د بل نومیالي لیکوال پوهاند دوکتور مجاوراحمدزیار کور او کتابتون واقع و. د استاد کتابونه او د کور نور لوازم هم د غلو او لوټمارو ښکار شول. د استاد زیار کتابتون هم له هغو کتابتونونو څخه و، چې د ډېر زیات ارزښت او اهمیتت درلودونکی و، د استاد د ټول عمر د زیار او ثمر نتیجه وه او ګڼ شمېر علمي، ژبني او نور ډول ډول اثار په کې خوندي وو.

د استاد زیار له کوره څو بلاکه وړاندې د علومو اکاډمۍ د یو بل غړي ښاغلي محمد ولي مندوزي کور موقعیت درلود، چې خپل ګڼ شمېر کتابونه یې په کې خوندي کړي وو. د مندوزي صیب ټول کتابونه د هغه د کور له اکثرو کالیو سره په همدې کور کې د توغندي د لګېدو له کبله پر ایرو بدل شول.

په همدې زړو مکروریانو کې د ښاغلي پوهنوال زېورالدین زېور او پوهندوی زرغونې زېور کور واقع و، د دوی کتابتون هم د دوی د کور له اکثرو کالیو سره له منځه یوړل شو.

د مکروریانو تر پخو او اوسپنیزو کورونو لږ څه وړاندې هلته د زمانخان کلا په خامه او خټینو کورونو کې د هېواد نامتو عاطفي شاعر اسحق ننګیال په یوه کرایي کور کې خپل نازولي ماشومان (کتابونه) خوندي کړي وو، د جګړې ډېرې شپې یې له همدې ببوزلو او بېکسه ماشومانو سره، چې په دې شپو او ورځو کې د شپې او تیارې بچي توره په لاس ورپسې ګرځېدل تېرې کړې، خو د ننګیال په شعر کې د ټول عمر رالویو شویو عاطفي لښکرو د دې

وس نه درلود، چې دا نازولي او بې ضرره ماشومان د مرګ د تورې بګوې له خولې راوژغوري، په پای کې هغه ټول د نورو همزولو غونډې د همدې وبا او همدې ښامار خولې ته وغورځېدل. تر ننګیاله څو کیلو متره لرې هلته د شاه شهید (رح) د زیارت په سیمه کې یو بل بېکسه او بېوسه شاعر اوسېده، د شمشاد د غره پر سر د خیال په وربښمو او عاطفي جاموکې ناست و، ډېرې چیغې وهي خو څوک یې اواز نه اوري. د ښاغلي نصرالله حافظ ختېنه کوډله همدلته ودانه وه. ده د خپلو دردونو د راز و نیاز ملګري له کلونو کلونو جرګو، مرکو او منډو تړړو وروسته همدلته راټول کړي وو او هره شپه چې به پرې د غم لښکرو زور راووړ، نو ده به خپلو همدې نږدې ملګرو (کتابونو) ته پناه وروړه او د غم بار یې ورسره وېشه. له حافظ صیب څخه یې خپل دا خواږه ملګري پر ډېر لنډ وخت داسې جلا کړل، چې بیا به یې په ټول عمر کې مخ هم ونه ګوري. حافظ صیب له خپله کوره لرې په تایمني کې مهاجر شو. یوه ورځ زه د هغه لیدو ته ورغلم، هغه په یوه سپېره خونه کې ناست و، نه یې څنګ ته کتاب و او نه د شاعرۍ هغه رباب و، چې حافظ صیب به د خپلې ځوانۍ ویر په کې کاوه.

پر شخصي کتابتونونو د راغلیو غمیزو په لړ کې د یوې بلې ستري او دردونکې غمیزې یادونه په ځانګړې توګه د یادونې وړ ده.

د افغاني فرهنګ لوی خدمتګار سرمحقق زلمی هېوادمل چې افغاني احساس او عاطفې یې د وجود ټول رګونه نیولي دي. پښتو

ادب ته یې نه یوازې تر دوو سوو ټوکو زیات کتابونه، چې یا د ده د قلم تر نوکې راوتلي او یا هم د ده د زیار په برکت چاپ او خپاره شوي، ورکړي، بلکې ټول ژوند یې هم له افغاني فرهنګ څخه لوګی کړی دی. استاد هېوادمل چې په افغانستان کې زموږ د یو لیکوال په قول ((د ژوندۍ اکاډمۍ)) حیثیت لري، تر هر چا زیات پر کتاب مین دی. د استاد هېوادمل ټول ژوند د کتابونو په پاڼو کې ډوب و. که سړی انصافاً دا خبره وکړي، چې ډېرو لږو کسانو به د پښتو ادب په خدمت کې د زلمي هېوادمل په اندازه خولې تویې کړې وي، نو له انصاف نه به لرې نه وي. دا خبره په دې مانا نه ده، چې تر هېوادمل صیب نه چا زیات خدمت نه دی کړی، بلکې مقصد مې له منډو ترړو، خولو تویولو او د ځاني ژوند له قربانۍ څخه دی. داسې ډېر کم خلک به پیدا شي، چې د ژوند خوږې ورځې یې د خپل فرهنګ لپاره پر ځان ترخې کړې وي او شپې یې هم رڼې سبا کړې وي. نه یوازې دا چې خپل فردي ژوند یې د قربانۍ په پوله ودرولای، بلکې خپله ټوله کورنۍ یې هم په دې قربانۍ کې شریکه کړې. زما خو هېڅ وخت داسې نه یادېږي، چې هېوادمل صیب دې ځان له فرهنګي کارونو څخه، لکه د نورو مامورینو په شان پر رسمي وخت خلاص کړی وي او کور ته دې د دمې او استراحت لپاره تللای وي، همېشه په ده شپه راغلې او په شپه کې یې کور ته مزل کړی او دا هم په همدې هیله چې یو روښانه فرهنګ ته لاره وکړي. دلته انصافاً او اخلاقاً د مرحوم روهي صیب او په خپله د هېوادمل صیب له درنې کورنۍ څخه مننه او قدرداني

په کار ده، چې د هېوادمل صیب د فرهنګي چارو لپاره یې په ډېره قربانۍ لاره اواره کړې ده، خو اوس راځو دېته، چې د هېواد مل صیب پر دې دومره قربانیو، ځګړې او ځګړه مارو د زړه رحم وکړ او که نه؟ په خواشینۍ سره باید ووایو، چې نه هېڅکله نه!

هېوادمل صیب پر کتاب پاللو او ساتلو دومره مین و، چې هر کتاب به په هر ځای کې نوی چاپ شو، نو له هغه سره به یې یو ټوک موجود و. په دې وجه کوم پښتو او دري کتابونه چې په افغانستان کې چاپ شوي د هغو ډېرې کمې بېلګې که هېوادمل صیب سره موجودې نه وي، نور اکثره کتابونه ورسره موجود وو. دغه راز هغه پښتو کتابونه، چې په کوزه پښتونخوا کې چاپ شوي وو، هم اکثره یې له هېوادمل صیب سره موجود وو. له چاپي کتابونو سربېره له هېواد مل صیب سره د پښتو ادب خطي نسخې او همدارنګه په فارسي ژبه ډېرې زیاتې خطي نسخې موجودې وې، چې تر دې وخته یې لاځینو چاپ ته لاره نه وه کړې. کله چې پر کابل ځګړه پیل شوه نو اورونه یې د هېوادمل صیب تر کتابونو هم ورورسېدل. زیات کتابونه یې تیت و پرک او ځینې یې چور شول. تر ټولو د غم خبره لادا وه، چې د هېوادمل صیب په لاس په ډېر زیار او زحمت راټولې شوې خطي نسخې هم چور او غلا شوې او څو میاشتې وروسته یې د پېښور په بازارونو کې سر راوېست. د ځوان لیکوال او پر خپل فرهنګ مین اورنګزېب افغان دې کور ودان وي؛ د همدې خطي نسخو پر یو شمېر ورپېښ شو، هغه یې په خپلو پیسو له بازاره واخیستې او بېرته یې هېوادمل صیب ته

ورحواله کړې، خو دا د ګوتو په شمار خطي نسخې وې اونور ګڼ شمېر کتابونه او خطي نسخې چې د هېوادمل صیب له کتابتون څخه چور شوي، بیا تر ننه چا ونه لېدلې.

د کابل ښار د درېیم مکروریانو په سیمه کې د هېواد د یو بل لیکوال محمد اکبر کرګر کتابتون هم موجود و، د نوموړي په خپلې وینا د ده کتابتون د یو منظم پلان له مخې چور شوی دی. په دې کتابتون کې (دوه زره عنوانه) بېلابېل علمي، تاریخي، فلسفي او نور کتابونه موجود وو او همدا راز د اخبارونو او مجلوګڼ شمېر کلکسینونه. دغه راز د هېواد یو بل ځوان او تکړه شاعر احمد تکل کتابتون هم د غلو ښکار شوی، د نوموړي په کتابتون کې ۷۰۰ عنوانه بېلابېل کتابونه موجود وو.

د پورتنیو یاد شویو لیکوالو پر کتابونو سربېره په هېواد کې د نورو لسګونو ان په سلګونو لیکوالو، پوهانو او د علم او پوهې د نورو خاوندانو نور ډېر لوی او واړه کتابتونونه موجود وو، چې د جګړې د همدې کلونو په بهیر کې له منځه یوړل شول، خو موږ دلته یوازې د بېلګې په توګه د څو لیکوالو د کتابتونونو د برخلیک یادونه وکړه.

## په مجموعي توګه له منځه وړل شوي کتابونه:

په افغانستان کې د وروستۍ غمیزې له کبله د له منځه وړل شویو کتابونو د ټول شمېر معلومول خورا ګران کار دی، خو د ځینو هغو موسسو، چې په ډله ییز ډول یې کتابونه او کتابتونونه له منځه وړل شوي دي، د هغو له اټکلیز مجموعي شمېر څخه د ټولو ضایع شویو کتابونو شمېر تر یو حده معلومېدی شي. د افغانستان په فرهنګي موسسو او فرهنګي علمي مرکزونو کې، چې

د کتابونو له پلوه ورته تر ټولو زیات زیان اړول شوی، هغه د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت دی، ځکه له یوې خوا د نوموړي وزارت له خوا د چاپ شویو کتابونو تیراژ ډېر زیات و، یانې د هر عنوان کتاب چاپي تیراژ تقریباً یو سل زرو ټوکو ته رسېده، نو که اوس موږ د نوموړي وزارت په چوکاټ کې د (۱۲) ګونو ټولګیو د لسګونو عنوانو همدا تیراژ په پام کې ونیسو، نو شمېر یې ملیونو ټوکو ته رسېږي. دغه راز په نوموړي وزارت کې د اکثرو ټولګیو کتابونه انبار شوي وو، همدارنګه د ښوونې او روزنې وزارت په کتاب ساتنځایونو او د اکثرو ښوونځیو په تحویلخانو کې په مجموعي ډول په ملیونونو ټوکه کتابونه خوندي وو، چې دا اکثره له منځه وړل شوي دي.

که د ښوونې او روزنې، د لوړو زده کړو نور مرکزونه، عامه کتابتون، د وطن ګوند او ځوانانو سازمان کتابتونونه، بیهقي کتاب خپرولو موسسه، د علومو اکاډمۍ او نور ګڼ شمېر علمي مرکزونه او د هغوی کتابتونونه او کتابونه په پام کې ونیسو، نو مجموعي ضایع شوي کتابونه به تر شلو ملیونو ټوکو څخه هم زیات اټکل شي.

د پرمختللو ټولنو په پرتله چې هلته د کتاب چاپ په ډېر لوړ تیراژ ترسره کېږي، دا دومره کتابونه نه دي، خو زموږ د خپل هېواد په سطح دا د دې هېواد د کتاب د چاپ له تاریخ څخه بیا تر دې وخته د ټول عمر پانګه او لاس لرلې فرهنګي شتمني وه، چې زموږ د ولس له لاسه وایستل شوه. د کتابونو د شمېر په پام کې نیولو سره د هغوی د معنوي زیان اټکل هم کېدی شي.

## ((۱۵))

# راډیو او ټلویزیون

(( سره لـه دې چې پـر (۱۳۰۲ل) کـال یـوې دسـتګاه پـر راډیـویي خپرونو پیل وکړ، خو ویل کېږي، د یوې نوې راډیـویي دسـتګاه پـه اخیسـتلو سره چې د هغې د مونتـاژ او تړلـو کـار پـر (۱۳۱۸ل) کـال پیل شو، د (۱۳۱۹ ل) کال په نیمایي کې راډیـو ازمېښـتي خپرونې پیـل کـړې او د (۱۳۲۰ل) کـال د وري پـر میاشـت د هغـه وخـت د صـدارت مرسـتیال مرحـوم سـردارمحمد نعـیم لــه خــوا رسـماً پرانیستل شوه)). (۴۱)

وروسته کلونو کې راډیو په کمي او کیفي ډول وده وکړه. د کابـل په ګډون د هېواد په اکثرو ولایتونو کـې محلي راډیـویي دسـتګاوې نصب او پر خپرونو یې پیل وکړ.

د سـردارمحمد داودخـان د جمهوریـت پـر وروسـتیو وختونـو ((لـه جاپان څخه د ټلویزیـون دسـتګاه او سـټوډیوګانې وپېـرودل شوې او پر همدې وخت ټلویزیـون پـر ازمېښـتي خپرونـو پیـل وکـړ)). (۴۲) د دسـتګاه د خدمتونو او تجهیزاتـو لپـاره د جاپـان لـه بـلا عوضـې مرسـتې څخـه (۹۵۰) ملیونـه ینـه، چـې دوه پـر درې ملیونـه ډالـره کېږي، لګښت شوی و. (۴۳) خو ټلویزیون د (۱۳۵۷ل) کال پر درېو

لومړنیو میاشتو په اساسي ډول خپروني پیل کړې. وروسته کلونو کې د راډیو ترڅنګ ټلویزیون هم په ځینو ولایتونو کې نورې دستګاوې جوړې او په نویو خپرونو یې پیل وکړ. پر (۱۳۶۱ ل) کال د افغانستان ټلویزیون د ((شمشاد)) دستګاه لرونکی شو، چې له بهرنۍ نړۍ سره یې مستقیماً د افغانستان د ټلویزیون اړیکي ټینګ کړل.

له ولایتونو پرته یوازې په کابل کې راډیو افغانستان پر شپه او ورځ (۲۴) ساعتو کې (۵۲) ساعته خپرونې کولې او مرکزي ټلویزیون هم تقریباً په هر (۲۴) ساعتونو کې (۶) ساعته خپرونې درلودې. (۱۵) محلي راډیوګانو په (۲۴) ساعتونو کې (۴۵) ساعته خپرونې کولې. (۴۴)

راډیو او ټلویزیون خپل دا وخت په بېلابېلو علمي، کلتوري او روزنیزو خپرونو ښکلی کړی و. په یوه اوونۍ کې راډیو (۹۵) بېلابېلې خپرونې درلودلې. (۴۵) البته په دې کې به یو شمېر داسې خپرونې هم وې، چې هغه له اسلامي ګروهې او زموږ له ملي کلتور سره په مغایر او یا هم متضاد لوري کې وې، خو په عمومي ډول راډیو او ټلویزیون د خپل کمي او کیفي پرمختګ پړاوونه وهل، تقریباً دولس سوه مسلکي، فني او نور کارکوونکي په کې پر کار مصروف وو.

خو کله چې پر (۱۳۷۱ل) کال د جګړې توپان پر ټول ښار خور شو، نو راډیو ټلویزیون او افغان فلم هم تربنه خوندي پاتې نه شول.

یـوازې پـه څـو ورځـو کـې راډیـو ټلویزیـون تـه پـه ملیونـو ډالـره زیـان واوښت.

پر (۱۳۷۱ل) کال د ثور پر میاشت د راډیو یو مسئول وویـل، چې راډیو ټلویزیون ته ((پنځه لس ملیونه)) ډالره زیـان اوښـتی دی. (**۴۲**) د جګـړې پــه تــرڅ کــې اســمايي غــره د ټلویزیــون د لېږدوونکــې دسـتګاه، د شمشـاد دسـتګاه او نـورو تجهیزاتـو تـه درانـه زیانونـه اړول شـوي دي. دغـه راز د یکـه تـوت پـه سـیمه کـې د راډیـو د لنډو څپـو لېږدوونکې دسـتګاه لـه منځـه وړل شـوې ده. همـدا شـان ویـل کېـږي، چـې د ټلویزیـون د آرشـیف اکثـره کیسـتونه غـلا شـوي او د راډیـو آرشـیف تـه هـم سـخت خطـر متوجـه دی، ځکـه چـې د راډیـو آرشـیف د سـاتنې لپـاره لـه (۱۸-۲۳) درجـو پـورې د هـوا د حـرارت درجه پـه کـار ده، خـو د برېښـنا د نشـتوالي پـه وجـه دا درجـه زیـات بدلون کوي، نو کېدی شي دا کیسـتونه هم ورو ورو خپل کیفیـت لـه لاسـه ورکـړي. د راډیـو او ټلویزیـون د ټولـو زیـانونو بشـپړه محاسـبه خـورا ګرانـه ده، خـو پـر (۱۳۷۳ل) کـال د راډیـو او ټلویزیـون رئـیس شمس الحق آریانفر یـوې غونـډې تـه د ټلویزیـون او راډیـو د خسـارو په باب ویلي دي:

((د مرکـز د ټلویزیــون د اورېــدنې او لیــدنې یــوازینۍ دســتګاه تخریب شوې او له منځه وړل شوې، چې تر لس ملیونـو ډالـرو زیـات زیـان دی. د راډیـو د لېږدونـې شـپږ دسـتګاوې کـاملاً لـه منځـه وړل شـوي، چــې دا تــر (۳۰) ملیونــو ډالــرو زیــات زیــان دی. پــه (۲۰)

ولایتونو او ولسوالیو کې محلي ټلویزیونونه موجود وو، چې دوه ثلثه یې له منځه وړل شوي او چور شوي دي.

په (۱۸) ولایتونو کې محلي راډیو ګانې موجودې وې، چې درې پر څلورمه (درې ربعې) یې تخریب او له منځه وړل شوي دي. په ټولو ولایتونو کې د راډیو د اخذې دستګاوې او په (۴۴) سیمو او ولایاتو کې ګرځنده سینمایي دستګاوې موجودې وې، چې اوس نه شته.)) (۴۷)

خو له دې سره سره ځینې کتونکي چې هغوی د راډیو او ټلویزیون دستګاوې، ستوډیوګانې، آرشیفونه، ودانۍ او نور وسایط اووسایل لیدلي، راډیو او ټلویزیون ته ټول رسېدلی زیان تر درې سوو ملیونو ډالرو څخه زیات محاسبه کوي.

پر (۱۳۷۲ل) کال د راډیو ټلویزیون مسئولینو د ولایتونو او سیمه ییزو راډیویي او ټلویزیوني مرکزو ته د وررسېدلي زیان جاج داسې اخیستی دی:

((په (۱۸) ولایتونو کې د راډیو اوټلویزیون محلي ستوډیوګانو د هغه له کم طاقته راډیویي او ټلویزیوني هستوونکو سره کار کاوه، چې په ځینو ولایتونو او سیمو، لکه کندهار، فراه، شینډنډ، کندوز، پکتیا، خوست، کونړونه، غزنې، نیمروز، هرات، ننګرهار، پروان، ارزګان، زابل، مقر او ځینو نورو برخو کې د راډیو ټلویزیون ټول تخنیکي امکانات یا په نیمه او یا په بشپړ ډول له منځه وړل شوي دي، چې دلته دا زیان په ارقامو کې ښودل کېږي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د غزني ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | ۵۰۰ زره ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۲ | د مقر د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۳ | د غزني ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو نیم ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۴ | دگردېز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۵ | د قلات ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۶ | د کندهار ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۷ | د هلمند ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یونیم ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۳۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۸ | د هرات ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | ۵۰۰ زره ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۹ | د فراه ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | ۵۰۰ زره ډالره د تجهیزاتو او ۳۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۱۰ | د نیمروز ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | ۵۰۰زره ډالره د تجهیزاتو او ۴۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | د ننګرهار ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | دوه ملیونه ډالره د تجهیزاتو او دوه سوه ملیونه افغانۍ د ودانیو په برخه کې. |

په نورو ولایتونو کې په ټولیز ډول دوه ملیونه ډالره او درې ملیارده افغانۍ زیان اړول شوی دی. په اداري او ترانسپورټي برخه کې راډیو ټلویزیون ته رسېدلي زیانونه درې ملیارده او (۵۰۰) ملیونه افغانۍ اټکل شوي دي.

دغه راز راډیو ته د نوي کمپلکس د نه اتمام او ټلویزیون ته د نویو سټوډیوګانو د جوړېدو د نه بشپړتیا په وجه په مجموعي ډول (۷) ملیونه ډالره زیان اړول شوی دی.

د شمشاد دستګاه، چې په (۱۰) ملیونه ډالره اخیستل شوې وه او له هغې څخه د هېواد د باندې ټلیفوني کټه هم پورته کېده او د ټلویزیون د هستوونکو خپرونو لپاره ترې ګټه اخیستل کېده. په جګړو کې په توغندیو ولګېده. لومړي توغندي د هغه ټلیفون او ټلویزیوني کانالیزاسیون فلج کړ، چې (۱۵۰) زره ډالره زیان یې واړاوه. یو کال وروسته یو بل توغندي د شمشاد ټلویزیوني هستوونکی سیستم، چې ولایاتو ته یې خپروني لېږدولې له منځه یووړ او د هغه له کبله د هغه دېش یاکاسه هم له منځه یوړل شوه، چې (۱۰۲) ملیونه ډالره زیان ورته واړول شو. په ټولیز (کلي) ډول (۲۵۲) ملیونه ډالره زیان ورته اړول شوی دی. (۴۸)

((۱۲))

# اخبارونه او مجلې

تر (۱۳۷۱ل) کال پورې په ټول هېواد په تېره بیا په کابل او د هېواد په لویو ښارونو کې ګڼ شمېر مجلې، جریدې، ورځپاڼې او نورې مهالنۍ خپرونې چاپ او خپرېدلې. د (۱۳۷۱ل) کال د ثور میاشتې پر شپږمه پر دې مطبوعاتو لوی تندر پرېووت، لومړی دا خپرونې بندې شوې او بیا یې د چاپ او خپرولو ټول وسایل او امکانات چور، چپاول او له منځه یوړل شول. د دې ټولو خپرونو د چاپ کلنی تیراژ او شمېر په لسګونو ملیونو ګڼو ته رسېده.

دلته به مور د دې ډول خپرونو نومونه او د ځینو د خپرېدو د کلني تیراژ یادونه وکړو:

| نوم | د خپرېدو وخت | کلنی تیراژ |
|---|---|---|
| ۱- هېواد | هره ورځ | |
| ۲- کابل ټایمز | هره ورځ | |
| ۳- انیس | هره ورځ | |
| ۴- پیام | هره ورځ | |
| ۵-حقیقت سرباز | په اوونۍ کې څلور ځله | ۱۱۸۵۰۰۰ |
| ۶- پامیر | اوونیز | ۵۲۰۰۰۰ |
| ۷- رسمي جریده | ناټاکلی | ۷۲۰۰۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸-درفش جوانان | اوونیز | ۱۲۲۴۰۰۰ |
| ۹-سره میاشت | میاشتنۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۱۰-رهنمای خانواده | . | . |
| ۱۱-افغان اعلانات | په اوونۍ کې درې ځله | ۱۲۴۸۰۰ |
| ۱۲-مجله جوانان | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۱۳-کار | . | . |
| ۱۴-اردو | . | . |
| ۱۵-ارشاد اسلام | پنځلس ورځینۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۱۶-سنګر | . | . |
| ۱۷-عدالت | میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰۰ |
| ۱۸- صدای وطن | پنځلس ورځینۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۱۹-پوهنتون | . | . |
| ۲۰-میهن | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۲۱- ملي جبهه | اوونیزه | ۲۶۰۰۰۰ |
| ۲۲-الاسلام | میاشتنۍ | . |
| ۲۳-پلوشه | پنځلس ورځینۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۲۴-احسم | میاشتنۍ | . |
| ۲۵-اخبار هفته | اوونیز | ۴۳۲۰۰۰ |
| ۲۶-ژوندون | میاشتنۍ | ۲۳۵۲۰ |
| ۲۷-اواز | میاشتنۍ | ۵۹۵۲۰ |
| ۲۸-هنر | . | . |
| ۲۹-اریانا | دوه میاشتنۍ | ۶۴۰۰ |
| ۳۰روغتیاطبي مجله | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۳۱- پیام حق | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۳۲- قضا | میاشتنۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۳۳-د کانو او صنایعو مجله | . | . |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۴-ثارندوی | میاشتنۍ | ۱۹۲۰۰۰ |
| ۳۵-صلح و سوسیالیزم | میاشتنۍ | . |
| ۳۶- باستان شناسی | . | . |
| ۳۷-تحقیقات کوشانی | . | . |
| ۳۸- کتاب | . | . |
| ۳۹- کابل | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۴۰-د افغانستان بانک | . | . |
| ۴۱- طفل و مادر | . | . |
| ۴۲- افغانستان | . | . |
| ۴۳- بررسیهای مالی | . | . |
| ۴۴- افغان طبي مجله | درې میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۴۵- قوای هوایی ومدافعه هوايي | . | . |
| ۴۶- محصل امروز | . | . |
| ۴۷- پیشاهنگ | . | ۸۴۰۰۰ |
| ۴۸- همبستگی | . | . |
| ۴۹- هرات باستان | . | . |
| ۵۰- دوستي | . | ۱۸۰۰۰ |
| ۵۱- ملیتهای برادر | دوه میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰ |
| ۵۲- جرگه | دوه میاشتنۍ | ۳۰۰۰۰ |
| ۵۳- بولتن | . | . |
| ۵۴- زنده گی حزبی | . | . |
| ۵۵- سباوون | میاشتنۍ | ۴۸۰۰۰۰ |
| ۵۶- مېرمن | دوه میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰ |
| ۵۷- صدای وطن | پنځلس ورځینۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۵۸- پښتو | ځلور میاشتنۍ | ۷۱۲۰ |
| ۵۹- صدای صلح | . | . |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۰- کودک | . | . |
| ۶۱- کرهنه | . | . |
| ۶۲- غرجستان | دوه میاشتنۍ | ۳۰۰۰۰ |
| ۶۳-خراسان | دوه میاشتنۍ | ۹۰۰۰ |
| ۶۴- سنا | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۶۵- فرهنگ مردم | میاشتنۍ | . |
| ۶۶- دهقان | . | . |
| ۶۷- باستان شناسی | . | . |
| ۶۸- ورزش | . | . |
| ۶۹- حقوق | . | . |
| ۷۰- ودانۍ | . | . |
| ۷۱- عرفان | . | . |

پر پورتنیو خپرونو سربېره د هېواد په ځینو ولایتونو کې هم یو شمېر مجلې او جریدې خپرېدلې، چې دلته به د خپرونو او د ولایت د نومونو یادونه وکړو:

| د خپرونې نوم | ولایت |
|---|---|
| ۱- اتفاق اسلام | هرات |
| ۲- طلوع افغان | کندهار |
| ۳- ننگرهار | ننگرهار |
| ۴- وړانگه | پکتیا |
| ۵- اتحاد | بغلان |
| ۶- سنایي | غزني |
| ۷- پروان | پروان |
| ۸- گوراش، جوزجان | جوزجان |

| | |
|---|---|
| ۹- فاریاب | فاریاب |
| ۱۰- بدخشان | بدخشان |
| ۱۱- کندوز | کندوز |
| ۱۲- هلمند | هلمند |
| ۱۳- سیستان | فراه |
| ۱۴- سمنګان | سمنګان |
| ۱۵- تخارستان | تخار |
| ۱۶- ارزګان | ارزګان |
| ۱۷- بامیان | بامیان |
| ۱۸- سوب | نیمروز |
| ۱۹- یلدوز | بلخ |
| ۲۰- لغمان | لغمان |
| ۲۱- کاپیسا | کاپیسا |
| ۲۲- کونړ | کونړ |

په تنظیمي جنجالیزې واکمنۍ کې نه یوازې دا مطبوعات اکثره له منځه یوړل شول، بلکې د چاپ او خپروني کوم وسایل چې په مرکز او ولایتونو کې موجود وو، هغه هم تباه کړای شول. د رباني د نیمواکې واکمنۍ پر وخت په کابل کې ځینې تنظیمي او ځینې دولتي خپروني کېدلې، چې نه یې کمیت او نه یې کیفیت د تېرو خپرونو په شان و. یو شمېر خپروني چې اصلاً د دولت له بودجې او د جمعیت ګوند تر فکري مسیر لاندې واقع وې د ازادو خپرونو نوم ورکړل شوی و، خو په حقیقت کې په ټول کابل کې هېڅ داسې کوم

یاد وړ اخبار اوجریده نه دي چاپ شوې، چې په هغو دې څوک پوره حساب وکړي. یوازې د شاه زمان وریځ ستانیزي په مدیریت د ((پلوشه)) جریدې یو څو ګڼې چاپ شوې، چې هغه هم پر دې وخت له انتقاد او نورو هغو مطالبو څخه تشې وې، چې د رباني او مسعود پر ضد تمامېدل. د رباني د وخت د زیاتو خپرونو ژبه فارسي وه او په ځینو کې داسې مسایلو ته لمن ووهل شوه، چې د هېواد د بېلابېلو قومونو ترمنځ د تفرقې، ملي نفاق او د واحد افغانستان د جغرافیې او سیاسي جوړښت پر ضد تمامېدل.

((۱۷))

# چاپخونې (مطبعې)

(( په افغانستان کې لومړۍ چاپخونه (مطبعه) پر (۱۸۷۰م) (۱۲۸۷ل) کال هېواد ته راوړل شوه)). (۴۹) د غازي امان الله خان د پاچاهۍ پر وخت نه یوازې په کابل کې نورې مطبعې جوړې شوې، بلکې د هېواد په ځینو ولایتونو کې هم یو شمېر چاپخونې جوړې شوې)). (۵۰)وروسته بیا د وخت له اړتیاوو سره سم ګڼ شمېر چاپخونې په مرکز او ولایتونو کې جوړې شوې دي.

تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه یوازې په کابل ښارکې پنځلس لویې چاپخونې موجودې وې (۵۱) چې په ټولو کې په سلګونو پایې لوی او واړه ماشینونه لګېدلي وو.

یوازې په (( دولتي مطبعه کې د حروفي طبعې، افیسټ، حرارتي طبعې سیستمونو (۲۱۰) پایې عصري ماشینونه موجود وو. د جنګونو په اثر دا ټول ماشین الات او طباعتي وسایل، ټول شاپونه او د کاغذونو زېرمې، کیمیاوي مواد او د هغو ځو کلنې پرزې ټول له منځه لاړل. د (۱۳۷۲ل) کال د جدي پر میاشت د مطبعې مرکز او د هغو ټولو مربوطو ودانیو او کارخانو زیات ضرر ولیده. د دې مطبعې د دویمې څانګې یانې په هودخېلو کې د کتابونو د چاپ مطبعې په ګډون د نوموړې تصدۍ ټولې تحویلخانې غلا شوې. د

(۱۳۷۳ل) کال د افغانۍ د ارزښت په پام کې نیولو سره دې تصدۍ ته تر (۵۰) زره ملیونو افغانیو زیات زیان اړول شوی دی. دغه راز دې تصدۍ د هېواد په نورو ولایتونو کې (۱۹) نمایندهګۍ درلودې، چې هغو ته رسېدلي خساره لا په دې کې شامله نه ده. په دې نمایندهګیو کې تر سلو زیات ماشینونه پر کار مصروف وو. که چېرې د دې ماشینونو مالي ارزښت هم محاسبه شي، نو د (۱۳۷۳ل) کال د افغانۍ د ارزښت له مخې به د دولتي مطبعې تصدۍ ته ټول رسېدلی زیان (۷۰) ملیارده افغانیو ته لوړ شي. په دې تصدۍ کې د چاپي کارونو لپاره (۱۳۴۲) تنه ماهر کارګران او مامورین پر کار مصروف وو)). (۵۲)

پر (۱۳۷۳ل) کال د دې چاپخونې رئیس وایي: ((لږ تر لږه لس ملیونه امریکایي ډالره په کار دي، چې بېرته پرې د مطبعې عصري ماشین الات واخیستل شي او د وخت اړتیا پوره کړي)). (۵۳)

د دولتي مطبعې په شان د کاناډا مطبعه هم په هېواد کې یوه ډېرهستره مطبعه وه. په لسګونو پایې لوی او واړه ماشینونه په کې وو. دا مطبعه له کاناډا څخه وپلورل شوه او د پلچرخي په صنعتي پارک کې نصب شوه. دا چاپخونه د کاناډا د هېواد د کارپوهانو په مرسته مونتاژ او فعاله شوې وه.)) (۵۴)

پر دې چاپخونې باندې د غلو یو منظم پړاو تېر شو، اکثره ماشینونه یې روغ رمټ خلاص او پر ګاونډي هېواد پاکستان وپلورل شول. همدارنګه د کاغذ هغه ذخیرې چې په دې چاپخونې کې موجودې وې، هم ټولې غلا او وپلورل شوې. د دې چاپخونې مالي زیان لسګونو ملیونو ډالرو ته رسېږي)). (۵۵)

ددې چاپخونې پر ماشینونو او ټنونو کاغذ سربېره ودانیو ته هم خورا زیات زیان اوښتی دی، یو شمېر توغندي د چاپخونې پر ځینو ودانیو لګېدلي او هغه یې تخریب کړي دي.

د پوهنې مطبعه چې د افغانستان په ښوونې او روزنې وزارت پورې تړلې چاپخونه ده، د دولتي مطبعې په شان د افغانستان له سترو چاپخونو څخه وه. ددې چاپخونې کارګرانو افغاني فرهنګ ته د هغو ملیونونو ټوکو تعلیمي کتابونو د چاپ له لارې ډېر زیات خدمتونه کړي دي، چې د ښوونې او روزنې وزارت بېلابېلو ښوونځیو ته یې چاپ کړي دي. دې مطبعې پر تعلیمي کتابونو سربېره نور علمي، سیاسي کتابونه او د دولت د اداري کارونو زیات کتابونه او پاڼې چاپ کړي دي، خو د هېواد د فرهنګ دښمنانو دا چاپخونه سره له دې چې تقریباً د ښار په زړه کې پرته ده، هم جوړه پرې نه ښوده. ((د (۱۳۷۱ل) کال په ثور کې د نوموړې مطبعې د رئیس عبدالرحمن زیارمل په وینا یوازې د هماغه کال د ثور د میاشتې پر (۸-۹-۱۰) نېټه په درېو ورځو کې دې چاپخونې ته یونیم زر ملیونه افغانۍ زیان وررسېدلی و. د هغه وخت د افغانیو د ارزښت د محاسبې له مخې په همدې درې ورځو کې دې چاپخونې ته د اړول شوي زیان په پیسو د افغانستان د هر فرد لپاره درې ټوکه کتابونه چاپېدلای شول)). (۵۲) دا د درې ورځو زیان خو د مطبعې هسې یوه سرسري خبره وه، په راوروسته ګرمو جګړو کې بیا په دې چاپخونې د غلو داسې منظمې او نامنظمې داړې پرېوتې، د کاغذو زیاتو زېرمو په ګډون یې د مطبعې ګڼ شمېر

ماشینونه غلا او ګڼ شمېر ته یې زیان واړاوه او هم له دې مطبعې څخه یې هغه مال او وسایل چې د غلا امکان یې موجود و ټول غلا کړل. همدارنګه ودانیو ته یې هم زیات تاوان واړاوه چې مجموعي زیان یې لسګونو ملیونو ډالرو ته رسېږي.

همدغه اور د لوړو زده کو چاپخونې ته هم ورسېد، هغه چاپخونه چې د کابل د څلورمې کارتې په سیمه کې د وزارت په مقر کې جوړه شوه، تر شلو پایو پورې ماشینونه یې لرل او په ګودامونو کې یې ډېر زیات کاغذ موجود و. دا مطبعه هم د جګړې له کبله له منځه یوړل شوه او ودانۍ یې هم تخریب شوه. د لوړو زده کړو د وزارت د یو کار کوونکي او د همدې مطبعې د یو سابقه لرونکي کارمند ښاغلي محمد فاروق په وینا: ((مونږ ته یوازې د ماشینونو له درکه یو ملیون ډالره زیان اوښتی دی)). (۵۷) په همدې تناسب د چاپخونې ودانۍ، د کاغذ زېرمتون او د مطبعې نور امکانات هم محاسبه کېدی شي.

د کابل پوهنتون پر مطبعه هم دا حال راغی. دې مطبعې ((یو وخت ۱۴ عنوانه بېلابېلې، مجلې چاپولې او تر ۱۳۷۱ل کال پورې د استادانو تر ۱۲۰ عنوانو څخه زیات، علمي، مسلکي او درسي کتابونه په همدې چاپخونه کې چاپ شوي دي)). (۵۸)

د کابل پوهنتون مطبعې د پوهنتون د خپل وخت ټول طباعتي ضرورتونه پوره کولای شول، خو اوس ډېرو زیاتو پیسو ته اړتیا ده چې دا مطبعه خپل پخواني حالت ته ورسوي.

د طب د انستیتیوت چاپخونې ته هم د اور لیکې ورسېدلې. د دې انستیتیوت چاپخونې هم د خپل علمي مرکز اکثره اړتیاوې رفع کولای شوې، د جګړو له امله دا چاپخونه په بشپړ ډول له منځه وړل شوې ده.

د صکوکو مطبعې ته زیانونه اړول شوي. د دفاع وزارت (اردو چاپخونه) سره له دې چې ډېر زیات زیان ورته اړول شوی دی، خو بیا هم د چوکاټ له مخې روغه برېښي او اوس یې هم له ځینو ماشینونو څخه ګټه اخیستل کېدی شي. د اریانا مطبعه هم پر همدې برخلیک اخته شوه.

په کابل ښار کې چې نورې چاپخونې موجودې وې، پر هغو هم ورته حالات راغلل. د ولایتونو چاپخونې چې په نسبي ډول یې د هغو ولایتونو اړتیاوې تر یوه حده پوره کولای شوې، هم ددې طاعون ښکار شوې. په لغمان، غزني، کندهار او ځینو نورو ولایتونو کې چې کومې مطبعې موجودې وې یا په نسبي او یا هم په بشپړ ډول له منځه یوړل شوې.

د دولتي چاپخونو د یو مسوول شخص په وینا: ((یوازې د کابل ښار پنځه لسګونو چاپخونو ته د سامان الاتو، ماشینونو او د کاغذ د زېرمو له کبله د لومړۍ سروې له مخې تقریباً زر ملیونه ډالره زیان اوښتی دی.))

# پایله (نتیجه)

لکه څنګه چې مو په سریزه کې یادونه وکړه، ددې رسالې اساسي هدف د هېواد فرهنګ ته د اوښتو زیانونو څرنګوالی، څومره والی او راتلونکو ته د فرهنګي زیان د جاج معلومول او هم د هغو د بیا رغونې لپاره د هېوادوالو د پام را اړول دي، لکه څنګه چې اکثره د خپل هېواد د فرهنګ په ویجاړېدو دردېدلي، ټولو ته باید ددغو زیانونو اندازه څه نا څه معلومه شي، سره له دې چې ددې کار لپاره چې څنګه دې د ټول هېواد فرهنګ ته اوښتي زیانونه معلوم شي؟ خورا زیات کار او ان ډله ییزې څېړنې ته اړتیا وه، خو څرنګه چې زه لکه د نورو هېوادوالو په شان د جګړې په ټولو کلونو کې په هېواد او په تېرو څلورو کلونو کې په کابل کې پاتې شوی یم، نو د ګڼ شمېر فرهنګي مرکزونو ړنګونه مې په خپلو سترګو لیدلې، همغه وخت مې ځینې یادښتونه اخیستي دي، خو دا باید په ډاګه کړم، چې دا یادښتونه په پوره ډول د هغې فرهنګي موسسې ټول څرنګوالی نه شي بیانولای. په کابل ښار کې داسې حالات هم پېښ شول، نه یوازې دا چې یو فرهنګي مرکز ړنګ شو، بلکې هغه بل لوړ فرهنګي ارګان، چې دا فرهنګي مرکز یې تر لاس لاندې و، هغه هم ړنګ شو، ځینو برخو کې هېڅ اسناد او اشخاص نه شته، چې سړی ترې بشپړ معلومات واخلي او که څوک هم د یوه فرهنګي

مرکز په باب بشپړ او پوره معلومات راټولوي، نو ډېر زيات وخت او امکاناتو ته اړتیا لري او په ځينو برخو کې هېڅ شوني نه دي.

په دې رساله کې علمي مرکزونو ته اوښتي زيانونه هم ځينې د اټکل له مخې بيان شوي او منځنی حد ټاکل شوی. اصلاً د فرهنگي څېړنې ترڅنګ اقتصادي کارپوهانو ته هم اړتيا ده، چې ددې مرکزونو اقتصادي زيان محاسبه کړي. دلته به هم لوستونکو ته يوه فرهنگي مرکز ته د اقتصادي زيان په اړه پوښتنې راولاړې شي، خو که خپله قلم او کاغذ راواخلي او د هر زيان اندازه ولګوي، نو ښه به ورته معلومه شي، چې د زيان د حد ټاکل خورا ګران کار دی.

په رساله کې د هېواد ټولو فرهنگي شتمنيو ته اوښتي زيانونه په پوره ډول نه دي بيان شوي، يوازې د هغو مهمو فرهنگي مرکزونو او شتمنيو د چور او تالان پېښې په کې په لنډيز سره بيان شوي، چې ډېر پرې سړی درد ېږي او تل د سړي سترګو ته ودرېږي. ددې ترڅنګ په رساله کې هغو فرهنگي شتمنيو او د هغو پر زيان باندې بحث نه دی شوی، چې هغه د علمي مرکز او جوړښت په شکل موجودې نه وې او يوازې د خلکو په روحياتو، دودونو او اعمالو کې ښکاره کېږي. ټولنيز ارزښتونه، چې د کلتور يوه برخه جوړوي د هغو څېړنه هم په کې نه ده راغلې. لنډه دا چې په دې رساله کې د هغو علمي، فرهنگي او هنري مرکزونو په باب په لنډيز سره د ځينو اسنادو، شواهدو او د سترګو ليدلي حال پر بنسټ ځينې معلومات راغلي، چې يو وخت د پوهې، ښکلا او تاريخي

برم مرکزونه وو او بیا وروسته وران کړای شول او پر وژنتونونو او وژنځایونو واړول شول. د یادونې وړ ده، چې په دې رساله کې یوازې د افغانستان فرهنگ ته اوښتو زیانونو ته اشاره شوې، د بیا رغونې لپاره څه وړاندیزونه په کې نه شته، خو په دې برخه کې «د بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان» په نوم د ښاغلي «شباهنگ» له خوا یو اثر لیکل شوی او د همدې موسسې «وفا» له خوا چاپ شوی دی.

دا حاضره رساله که له خپلو ټولو نیمگړتیاوو سره سره بیا هم د هېواد د فرهنگ د رنځونو، دردونو او ستونزو په انعکاس کې رول ولوبولای شي، نو ما به تر یوه حده خپله دنده سرته رسولې وي.

په درنښت

اسمعیل یون

# اخځلیکونه


۱- هیله مجله، ۱ګڼه، پېښور، ۱۳۵۷ل کال، ۳۴-۳۵ مخونه.
۲- وفا جریده، د ۱۳۷۲ل کال، کال ګڼه.
۳- شباهنګ، بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، پېښور، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا)، ۱۳۷۴، ۷مخ
۴- عزیز احمد اماج، په افغانستان کې د ښوونې او روزنې لنډه تاریخچه، ۱۳۷۰، ۹ مخ.
۵- ارمان جریده، پېښور، ۱۳۷۳ل کال، ۵ ګڼه، ۳مخ.
۶- تعاون مجله، پېښور، ۱۳۷۵ل کال، ۳ ګڼه، ۴مخ.
۷- BBC راډیو، پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال د ښوونې او روزنې وزارت د یو مسوول څرګندوني.
۸- شباهنګ، بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، ۱۳۷۴ ل کال، ۲ مخ.
۹- شباهنګ، بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، ۱۳۷۴ ل کال، ۵ مخ.
۱۰- شباهنګ، بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، ۱۳۷۴ ل کال، ۷ مخ.
۱۱- شباهنګ، بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، ۱۳۷۴ ل کال، ۸ مخ.

۱۲- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ گڼه.

۱۳- سـید امیـر شـاه حسـن یـار، پېښـور، وفـا، ۱۳۷۴ل کـال د غبرگولي د میاشتې گڼه، ۱مخ.

۱۴- ارمـان جریـده، پېښـور، ۱۳۷۴ل کـال د چنگـاښ د ۱۱ نېټې گڼه، ۷ مخ.

۱۵- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ گڼه، ۴۷مخ.

۱۶- ارمان جریده، ۱۳۷۳ل کال، ۱۲ گڼه، ۷ مخ.

۱۷- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۵ گڼه، ۳۹مخ.

۱۸- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۶ گڼه، ۴۳-۴۵مخونه.

۱۹- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۶ گڼه، ۴۸مخ.

۲۰- محمد رسول باوري، وفا، پېښور، ۱۳۷۴ل کـال، ۴۰ گڼـه، ۳ مخ.

۲۱- نانسـي دوپـرې: د ډاکتـر خوشـال روهـي ژبـاړه، وفـا، ۱۳۷۳ل کال، ۵۱-۵۲ گڼه.

۲۲- نانسـي دوپـرې: د ډاکتـر خوشـا روهـي ژبـاړه، وفـا، ۱۳۷۳ل کال، ۵۱-۵۲ گڼه، ۲ او ۱۱ مخونه.

۲۳- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ گڼه، ۴۵مخ.

۲۴- احمـد صـمیم، ارمـان جریـده، ۱۳۷۴ل کـال، د وري ۱۳مـې نېټې گڼه، ۵ مخ.

۲۵- گورگنج، دعوت، ناروې، د ۱۳۷۴ل کال د جدي گڼه، ۳مخ.

۲۶- دعوت، ناروې، ۱۳۷۴ل کال، ۵۶گڼه، ۲مخ.

۲۷- عبدالله پویان، د برهان الدین رباني په اداره کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر رئیس، ارمان جریده، پېښور، ۱۳۷۴ل کال، د حمل ۲۳نېټې ګڼه، ۲ مخ.
۲۸- هنداره، کابل، ۱۳۷۵ل کال، سنبله، ۲ ګڼه، ۲مخ.
۲۹- محمد رسول باوري، شمشاد، ۱۳۷۴ل کال، ۲ګڼه، ۱-۵۲ مخونه.
۳۰- افغانستان مجله، ۱۳۷۲ل کال، د ثور میاشت ګڼه، ۱۰-۱۱ مخونه.
شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۱۲۳-۱۲۴ مخونه.
۳۲- د BBC د یو رپوټ پر اساس، ۱۳۷۵ل کال، کب میاشت.
۳۳- وفا جریده، پېښور، ۱۳۷۴ل کال، ۳۹-۴۰ ګڼه، ۳مخ.
۳۴- تعاون مجله، ۱۳۷۵ل کال، اسد او سنبله، ۴۹ مخ.
۳۵- ارمان جریده، د ۱۳۷۴ل کال د جوزا د ۱۴مې نېټې ګڼه، ۲ مخ.
۳۶- عبدالصمد قادریان، برگ سبز، پېښور، ۱۹۹۷م کال، ۲ګڼه، ۲۷مخ.
۳۷- ارمان جریده، ۱۳۷۳ل کال.
۳۸- رزاق برق BBC، پښتو خپرونه، ۱۳۷۵ل کال.
۳۹- هیله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ ګڼه، ۴۷مخ.
۴۰- هنداره، کابل، ۱۳۷۵ل کال، ۱۰ ګڼه، ۱مخ.

۴۱- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲ ل کال، ۱۳۱- ۱۳۲ مخونه.

۴۲- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲ل کال، ۱۳۴ مخ.

۴۳- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو څرګندونې.

۴۴- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو څرګندونې.

۴۵- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسوولینو څرګندونې.

۴۶- BBC پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د راډیو ټلویزیون د یو مسوول څرګندونې.

۴۷- شمس الحق آریانفر، نقش وسایل ارتباط جمعي درجامعه امروز وفردا افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳۲مخ.

۴۸- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو تهیه شوی راپور.

۴۹- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۱، ۱۲۹ مخ.

۵۰- همدغه اثر، ۱۳۰ مخ.

۵۱- هیله، ۱ګڼه، ۱۳۷۲ل کال، ۴۸مخ.

۵۲- سید احمد رها، نقش وسایل ارتباط جمعی امروز و فردای افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۲۸-۲۹ مخونه.

۵۳- پورتنی اخځ، ۷۲مخ.

۵۴- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲، ۱۳۴ مخ.

**۵۵**- هیله مجله، ۱ ګڼه، **۱۳۷۲**ل کال، **۴۸**مخ.

**۵۶**- عبدالرحمن زیارمل، پر ۱۳۷۱ل کال د پوهنې د مطبعې رئیس، هیله، ۱ګڼه، **۴۸** مخ.

**۵۷**- هیله، ۱ګڼه، **۴۸** مخ.

**۵۸**- سیدامیرشاه حسن یار، وفا، پېښور، **۱۳۷۴**ل کال، د غبرګولي د میاشتې ګڼه، ۱ مخ.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
له افغانستانه
د مسلکي کادرونو
د فرار عوامل
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل

لیکوال

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل |
| ليکوال: | محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون کلتوري يون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۸ل کال |
| دويم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د ليکوال پرله پسې نومره: | (۱٦) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | ( ۱٦ ) |
| کمپوزر: | ضياءالرحمن ضياء |

# د دې اثر دویم چاپ

دا اثر ما د طالبانو د واکمنۍ د لومړیو کلونو په بهیر کې لیکلی و او پر (۱۳۷۸ل) کال، په پېښور کې د افغانستان د مطالعاتو مرکز له خوا چاپ شوی دی، نو ځکه خو تر (۱۳۷۸ل) کال پورې د طالبانو د واکمنۍ د بهیر څو لومړني کلونه هم رانغاړي. له (۱۳۵۷ل) کال څخه، د دې کتاب تر لیکلو (۱۳۷۸ل) کال پورې، د هر رژیم په واکمنۍ کې افغانستان، ګڼ شمېر علمي کادرونه له لاسه ورکړي دي.

زه چې د دې ټولې غمیزې په بهیر کې د خپل هېواد په غېږه کې اوسېدم، نو د هېواد د نورې ویجاړۍ ترڅنګ، علمي او فرهنګي




مرکزونو ته اوښتو زیانونو ډېر زیات ځورولم، نو ځکه مې د هېواد هر ګوټ کې، چې کوم علمي او کلتوري مرکز ته زیان رسېده، ما به یادښتاوه، زما دهمدغو یادښتونو د اوډنې په نتیجه کې، دا او یو بل ځېړنیز اثر (د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه) رامنځته شول.

حقیقت خو دادی، چې کله یوه ټولنه

له ذهني پلوه زيانمنه او وپاشل شي، د هغې بيارغونه ډېره مشکله وي، فزيکي ويجاړي بېرته په مغزو جوړېږي، خو د مغزونو ويجاړي په فزيکي رغونې نه جوړېږي. ((له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل)) اثر ما د همدغه خطر د احساس له امله ليکلی او همغه وخت او اوس هم، خپل هېواد ته دا خطر احساسوم، چې له هېواده (( د مغزونو فرار)) هېواد ته څومره رنځوونکې ناروغي ده.

د وروستيو څو کلونو په بهير کې، سره له دې چې اوس هم د هېواد په ګڼ شمېر سيمو کې تر (۲۲۵) زيات ښوونځي تړل شوي او سيزل شوي او لاهم دا لړۍ دوام لري، خو بيا هم د هيله مندۍ يوه خبره داده، چې په هېواد کې ښوونيز، روزنيز او د لوړو زده کړو مرکزونه زيات شوي او په مليونو افغانان پر زده -کړو بوخت دي. د دې ترڅنګ يو زيات شمېر بهر مېشتي تحصيل کړي، افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او دلته د خپل هېواد پر ابادۍ بوخت دي، په دې ډول هغه هيله، وړانديز او وړاندوينه، چې د دې اثر د ليکلو پر وخت، د دې اثر په وروستۍ برخه کې راغلې، يوه برخه يې هغه وخت يوازې يوه هيله وه، خو اوس عملي شوې ده. د طالبانو د حاکميت پر مهال د هغوی پر نيمګړتياوو څه ليکل، له خپل سر سره د لوبو په مانا وو. خو ما هغه وخت هم د هېواد علمي برخې او کادر ته رسېدلی زيان، تر خپله وسه بيان کړی دی.

دا چې دا کتاب تر هغې نېټې لس کاله وروسته یو ځل بیا چاپېږي، زه نه غواړم کوم خاص بدلون په کې راولم او د هغه وخت د سیاسي او ټولنیزو دردونو انځورونو ته نوی رنګ ورکړم، هره لیکنه د خپل وخت رنګ او خوند لري، پر تېر مهال، د اوسمهال رنګ ګډول، د لیکوال د هغې زماني رسالت او مسوولیت کمرنګوي، نو ځکه زه نه غواړم خپله کلتوري ماضي بل رنګ وښیم. په دې اثر کې مې یوازې چاپي او ځینې املايي- انشايي تېروتنې تر زیاته حده سمې کړي، د اثر په محتوا کې مې هېڅ ډول ګوتې نه دي وهلي، د دې اثر په باب قضاوت لوستونکو ته پرېږدم، چې ځنګه یې ارزوي. د اوسنۍ زمانې د حالاتو په اړه هم بې تفاوته نه یم، لوستونکي کولای شي د اوسمهالو پېښو انځورنې، زما په نورو کتابګوټو کې وګوري. لیکوال ته خپل اثار د خپلو اولادونو غوندې خواږه وي، خو هغه اولادونه، چې مورو پلار پرې ډېر تکلیف او ستونزې ګاللې وي، په ډېر زیار یې روزلي وي، نېک صالح هم وي او هېواد ته یې ګټه هم زیاته وي، طبعاً پر مور و پلار ډېر ګران وي. ما خپلې ټولې لیکنې د خپل زړه په وینو ټوکولي، خو ((د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه)) او بل همدا اثر، چې اوس ستاسو په لاس کې دی، پر ما ځکه ډېر ګران او ډېر راته خواږه دي،

چې دې کې زما د هېواد ټول غم او درد پروت دی، د هېواد د فکري شتمنۍ او معنوي پانګې اسکېرلی انځور مې همدلته خوندي دی.

چا مې له کلتور سره څه وکړل؟ چا مې کلتوري شتمنۍ لوټ کړه؟ څه مې لرل او څه اوس نه لرم؟ دې ډول پوښتنو ته مې تر خپله وسه همدې اثارو کې ځواب ویلی دی. په پای کې له خپلو ټولو هېوادوالو، د نن او له سبا چارواکو څخه، هیله کوم، چې د خپلې کلتوري شتمنۍ ساتنې، بډاینې او بیارغونې ته تر بل هر ډګره زیاته پاملرنه وکړي، همدا زموږ د خلکو د هوساینې او پرمختګ اساسي لاره چاره ده.

په همدې هیله

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

کابل- افغانستان

۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۲۴مه نېټه

# سریزه

(۱۳۵۷-۱۳۷۷ل) کلونه د افغانستان د ټول تاریخ په تېره بیا د معاصر تاریخ تر ټولو بد ، ستونزمن، کرکجن، تاوجن، غمجن، زړه بوږنوونکي او خواشینوونکي کلونه دي. پر همدې کلونو ډول ډول ناتارونو او غمیزو، د افغانانو د ژوند او د نوي عصري راټوکېدلي تمدن غوټۍ ومروړلې او د خوشالوونکو هیلو ستوني یې خپټه کړل. د (۱۳۵۷ل) کال د دویمې میاشتې لومړۍ لسیزه وه، چې پر افغان ولس یو نابېره ناتار راپرېوت. د (۱۳۵۸ل) کال د مرغومي پر شپږمه، په بهرني یرغل سره دا ناتار نوي او بشپړتیا یي پړاو ته ورسېد. د (۱۳۶۵ل) کال د غویي پر (۱۴) د ناورین په متن کې یو ډول ظاهري بدلون ته اړتیا پېښه شوه. د (۱۳۷۱ل) کال د غویي پر اتمې؛ د دې لویې غمیزې د پیل تر ورځې یوه ورځ وروسته په سپین رنګ کې یو بل تور ناتار زموږ پر اسکېرلي ولس وتپل شو. څلورنیم کاله دې غمیزې دوام وکړ او څه چې له تېرو غمیزو خوندي او جوړ پاتې وو، یو په بل پسې لوټ او تالاشول او هر څه یې د نېستۍ پر سیند لاهو کړل. دې پرله پسې غمیزو همداسې غزونې وکړې او هرې خواته یې د کرکې، ورانۍ او وحشت اورونه وشیندل.

افغانستان او افغان ولس د دې غمیزو او ناتارونو په بهیر کې دومره وکړېدل، چې ډېر څه یې له لاسه ورکړل. مادي شتمنۍ تباه

شوې، تر (۵۰۰) زیات پلونه تباه شول، په زرګونو کیلو متره پوخ سړک تباه شو، تر (۲۰۰۰) زیاتې لویې او وړې فابریکې له منځه لاړې، (۳۵۰۰) ښوونځي رنګ او وسېزل شول، د (۷) ملیونه خلکو د لوستوال کېدو مخه ونیول شوه، (۲) ملیونه کسان مهاجرت ته اړ شول، د مرکز په ګډون د هېواد تر (۳۰) زیات لوی ښارونه ځینې په نیمه او ځینې په بشپړ ډول تباه شول، یو نیم ملیون کسان ووژل شول، یونیم ملیون ټپي، معیوب او معلول شول، په لسګونو لوی، په سلګونو منځني او شخصي کتابتونونه تباه شول، شل ملیونه ټوکه کتابونه تباه او چور شول؛ یو ملي او څو سیمه ییز موزیمونه تباه شول؛ له (۱۲۰) زرو ټوټو څخه زیات تاریخي اثار له دې موزیمونو لوټ او تالا شول؛ تر (۲۰) زرو زیاتې علمي تاریخي او هنري خطي نسخې تباه شوې؛ په زرګونو هنري اثار او تابلو ګانې وسېزل شول، په ټنونو سره او سپین زر تر هېواده بهر کړای شول؛ په ملیونونو ټنه وسپنه او په لسګونو ټنه مس په ناڅیز قیمت پر ګاونډیانو وپلورل شول، یوه دوه سوه کلنه مجربه اردو رنګه کړای شوه، په لسګونو زره دولتي او شخصي ګاډي ویجاړ، چور او وسېزل شول، عقیده یي، سیاسي او سیمه ییزو، سمتي او ژبنیو رنځونو او اورونو ته لمن ووهل شوه، په هېواد کې د ملي انډول او قومي توازن د ګډوډولو لپاره هڅې وشوې؛ د سیاسي واک پر مصنوعي سرچینو ګوتې ووهل شوې. د لوړو زده کړو تر (۱۴) زیاتې موسسې د لږ او ډېر وخت لپاره له کاره ولوېدلې، د پوهې او پرمختګ مخې ته په قصدي او ناقصدي ډول خنډونه واچول شول،

د ټولنیزو او کلتوري ارزښتونو د سپکاوي او کمزورۍ لپاره هڅې وشوې. د هېواد نړیوال حیثیت ته ستر زیانونه ورواوښتل، د چاپ او خپرونو شل لوی مرکزونه تباه شول، تر شلو زیاتې راډیویي او (۷) ټلویزیوني دستګاوې په بشپړ او قسمي ډول ویجاړې شوې، د هېواد زیات او یا هم ټول وګړي له ډول ډول صحي او رواني ناروغیو، اقتصادي ستونزو او نورو ربړو سره مخامخ شول. لنډه دا چې داسې یوه غمیزه پر افغانانو راغله، چې نه یې د افغانانو په تېر تاریخ کې ساری موجود و او د نړۍ په تاریخ کې به یې هم کومه انډولیزه بېلګه پیدا نه شي.

لکه چې د دې جګړې د ناورین او غمیزې په بهیر کې د افغانستان زیاتره فرهنګي، علمي، اقتصادي مرکزونه ړنګ، ویجاړ او چور کړای شول، همداسې د هېواد پر علمي او فرهنګي کادرونو او د کار سړیو باندې هم د مرګ او درد شمال تېر شو. په زرګونو علمي کادرونه، زنداني، شکنجه او په بېلابېلو پړاوونو کې، په بېلابېلو پلمو له کاره ګوښه کړای شول او نور په لسګونو زره د خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شول. یو نه اټکلېدونکی شمېر تحصیل کړي افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول او هېواد یې له کار او علمي تجربو څخه بې برخې شو.

زه د هېواد د فرهنګ او ابادۍ د لېوال او مینه وال په توګه د خپل ژوند له پیله بیا تر دې دمه، د خپل هېواد په غېږ کې اوسېږم، د شلو کلونو د ډول ډول حکومتونو نادودې، د خپل ولس، په ځانګړي ډول د تحصیل کړو هېوادوالو پر وړاندې د هر پړاو هغه

ناوړه چلند مې په خپلو سترګو لیدلی، چې زموږ په لسګونو زره او ان په لکونو تحصیل کړي افغانان یې د هېواد پرېښودو ته اړ کړل. اوس هېواد د علمي او مسلکي کادرونو له پلوه له یوې لویې خلا سره مخ دی، هر هغه حکومت چې په راتلونکي کې د هېواد د بیا رغونې، د ژوند د خړوب او سوکالۍ لپاره څه نیتونه او هیلې لري، نو د علمي کادرونو د نشتوالي له کبله به له سختو ستونزو سره مخ شي.

په دې اثر کې تر ممکنه بریده، په لنډیز سره، په بېلابېلو پړاوونو کې د هېواد د مسلکي او علمي کادرونو، د فرار څرنګوالی او د هغو شومره والی څېړل شوی دی او د هغو د بېرته راتګ پر څرنګوالي بحث شوی او په دې اړه څو وړاندیزونه شوي دي.

د یادونې وړ بولم، چې د زړه درد او خپلې ملي ولولې د دې کتابګوټي لیکلو ته هڅولی یم. د افغانستان په اوسنیو تنګو شرایطو کې د یو پوره علمي او کره اثر لیکل ناشوني ځکه ښکاري، چې د پوره سرچینو او منابعو پیدا کول خورا ګران او ان ناشوني دي، ځکه چې په هېواد کې هر څه تباه شوي دي، کله چې د علمي کادرونو د فرار د څرنګوالي په باب بحث کېږي، نو سړی مجبور دی، چې د معلوماتو لپاره همغې موسسې یا سرچینې ته مراجعه وکړي، خو په هېواد کې دا هرڅه تر زیاته بریده تباه شوي دي. اوس نو چې څوک د افغانستان هرې برخې ته د ور اړول شوي زیان په اړه څېړنه او پلټنه کوي، نو له سختو ستونزو سره به مخامخ شي او په ډېرو تیارو کې تر مزله وروسته ایله که پر دې بریالی شي،

چې د یو څیز څرک پیدا کړي. زه هم له همدغې ستونزې سره مخ شوی یم، ما د هر رقم د پیداکولو لپاره څو ځله اړونده ادارو ته مراجعه کړې خو څرنګه چې زیات څه تباه شوي، د ډېرو ان د لاژمو او ضروري ارقامو او مدارکو په پیداکولو بریالی نه شوم، کوم څه چې ترلاسه شول د همغو په رڼا کې مې دغه څو پاڼې لیکلي، له دې څخه هم څه ناڅه څرک لګي چې د هېواد فرهنګ او په تېره بیا د علمي کادرونو په برخه کې څه تېر شوي او اوس څه پاتې دي؟ دلته به د ناتار او غمیزې په بهیر کې او د هغو تر پیل لر دمخه، د هېواد د علمي او مسلکي کادرونو پر ضایعاتو خبرې وکړو.

# تر غميزې دمخه څو کلونو په بهير کې ښوونيز او روزنيز بهير ته لنډه کتنه

د (۱۳۵۷ل) کال د غويي تر (۷) نېټې دمخه څو کلونو کې زموږ ټولنه په نسبي ډول باثباته وه، همدا ثبات د دې سبب شوی و، چې يو لړ ټولنيز، فرهنګي او د ژوند په نورو برخو کې يو لړ پرمختګونه او برياوې زموږ د خلکو په برخه شي. افغانستان د مخ پر ودې هېوادونو په ډله کې په چټکۍ سره د ودې او پرمختګ پړاوونه وهل. په نړيوال، سياسي ډګر کې د هېواد دريځ ځلنده او روښانه و. د وخت حکومت خپله زياته پاملرنه ټولنيز پرمختګ، د ښوونې او روزنې عامېدلو او ودې ته را اړولې وه.

(( کله چې پر (۱۳۵۲ل) کال جمهوريت اعلان شو، نو نوي نظام د معارف لپاره د نوي پروګرام او ريفورم جوړولو وعده ورکړه او کار پيل شو. د کميت پر ځای کيفيت ته توجه وشوه، له همدې کبله پر (۱۳۵۲ل) کال نوي ښوونځي جوړ نه شول، خو له زړو ښوونځيو نه په بشپړ ډول کار واخيستل شو او د (۱۳۵۱ل) کال د زده کوونکو شمېره چې (۱۴۷) زره تنه وه (۱۲۰) زرو تنو ته لوړه شوه.

د معارف نوی ريفورم د (۱۳۵۳ل) کال د مرغومي پر (۳۰مه) نېټه پيل شو، د دې ريفورم مهم ټکی د يو داسې پرمختللي معارف

منځته راوړل و، چې د وخت افغاني ټولنې غوښتنو ته ځواب ووايي او ځوانان په ښه ډول تنوير کړي.

د دې ريفورم لـه مخې لـومړنۍ زده کړې، چې وړيـا او اجبـاري وې، لـه شپږو کلونـو نـه اتـو کلونـو تـه لـوړې شـوې او منځنـۍ دوره تجزيه شوه، دوه ټولګي ابتدايي ته ورکړل شول، چې پـه دې ټولګيـو کـې د محيطـي معلومـاتو او د نظـري او عملـي حرفـو زده کـړه هـم شـامله وه. د اتـم ټـولګي فارغـان ثـانوي او مسـلکي زده کـړو تـه د کانکور له مخې نيول کېدل او يوځل په کانکور کې ناکامو شويو زده کوونکو ته، په يوه بل کانکور کې هم د ګډون حق ورکول کېده.

د نوي ريفورم پر اساس ثانوي دوره څلور کلنه شوه او نهم ټولګي سـاينس او اجتماعيـاتو تـه د چمتـوالي او مسـلک ټـاکلو لپـاره تخصـيص شـو. پـر خصوصـي لېسـو د يـو شـمېر عمـومي لېسـو د بدلولو اقدام وشو، وټېپيل شوه، چې ښوونکـــي دې لېسـانس او تر هغـــه نه لـــوړه زده کـــړې ولري او ټولې داسې موسسې بـه د دولت په لاس کې وي او د پوهنې وزارت به ټول روزنيز فعاليتونـه پرمخ بيايي.

ريفورم ژمنه کوله، چې دولت د ټولـو افغانـانو لپـاره د زده- کـړې د زمينې برابرولو مکلفيت لـري او د معـارف اداره بـه د مرکزيت پر اصـل ولاړه وي. پـر (۱۳۵۲ل) کـال (۹۰) کليـوالي او (۲۵) لـومړني ښوونځي نوي جوړ شول، (۱۱۲) يو معلمه ښوونځي دوه معلمه تـه، (۲۵) دوه معلمـــه ښـــوونځي درې معلمـــه تـــه او (۹۷) کليـــوالي

ښوونځي ابتدايي ته لوړ شول؛ د لويانو (۱۹۰) كورسونه په كابل، (۴۱) په بغلان كې او (۳۴) په كوهدامن كې جوړ شول.

پر (۱۳۵۴ل) كال د معارف د نوي ريفورم له مخې (۲۹۴) د شپږو ټولګيو لرونكي لومړني ښوونځي او (۳۳) كليوالي ښوونځي اته ټولګيز شول، (۹) منځني ښوونځي پر لومړيو ښوونځيو بدل شول، د يو شمېر ښوونځيو پر پروګرامونو باندې د نوي ريفورم له مخې نوى نظر وشو.

جمهوري دولت د روزنيزو چارو د تمويل لپاره په (۱۳۵۳-۱۳۵۵م) كلونو كې لاندې بوديجه وټاكله:

| كلونه/ د بوديجې ډول | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
|---|---|---|---|
| عادي | ۹۱۰/۷ | ۱۱۰۰/ | ۱۴۳۰/۰ |
| انكشافي | ۷۸/۱ | ۱۳۸/۸ | ۲۳۳/۲ |
| ټول | ۹۸۸/۸ | ۱۲۳۸/۸ | ۱۶۶۳/۲ |

په دې دوره كې د ښوونې او روزنې ځينې مهم شاخصونه دا دي:

| كلونه/شمېر | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
|---|---|---|---|
| ۱- زده كوونكي | ۸۲۱۲۰۶ | ۸۲۲۸۸۰ | ۹۲۸۰۲۲ |
| ۲-ښوونځي | ۴۰۸۵ | ۴۰۹۸ | ۴۰۰۶ |
| الف: كليوالي ښوونځي | ۱۹۰۵ | ۱۸۸۱ | ۱۷۳۵ |
| ب: لومړني ښوونځي | ۱۴۶۸ | ۱۸۲۲ | ۱۸۷۳ |
| ج: ثانوي ښوونځي | ۷۱۲ | ۳۹۲ | ۳۹۸ |
| ۳- د ښوونكو شمېر | ۲۴۷۴۵ | ۲۴۶۶۵ | ۲۶۶۷۸ |
| الف: د كليوالي ښوونځيو | ۲۷۴۲ | ۱۴۰۸ | ۲۴۲۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ب: د لومړنیو ښوونځیو | ۱۴۸۷۳ | ۱۵۸۳۲ | ۱۷۹۲۰ |
| ج: د ثانوي ښوونځیو | ۷۱۷۲ | ۷۴۲۵ | ۲۳۲۱ |
| ۴- پر یوه ښوونکي د زده کوونکو شمېر | ۳۳/۲۰ | ۳۵/۳۸ | ۳۵/۱۷ |
| ۵- له دولسمو ټولګیو څخه فارغان | ۱۲۸۴۸ | ۱۳۸۴۵ | ۱۴۵۲۲ |

د ثانوي ښوونځیو د شمېر په هکله د توضیح وړ ده، چې پر (۱۳۵۳ل) کال (۱۹۲)، پر (۱۳۵۴ل) کال (۱۹۷) او پر (۱۳۵۵ل) کال (۱۹۹) منځني ښوونځي لېسو ته لوړ شوي دي.[۱]

د (۱۹۷۵-۱۹۷۷م) کال د یوې احصائیې له مخې په افغانستان کې (۱۹۱۳) کلیوالي ښوونځي، (۱۵۱۷) لومړني ښوونځي، (۵۱۲) منځني ښوونځي، (۱۹۷) لېسې، (۱۷) مسلکي ښوونځي، (۱۰) دارالمعلمینه، (۱۹) دیني مدرسې او د لوړو زده کړو (۱۴) موسسې موجودې وې[۲] د یوې بلې احصائیې له مخې پر (۱۹۷۷م) کال یوازې د دارالمعلمینونو شمېر (۱۵) ته لوړ شو.

دجمهوریت په دوره کې د لوړو زده کړو وزارت بودیجه په لاندې ډول ټاکل شوې وه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلونه/ د بودجې ډول: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
| عادي : | ۲۱۰/۴ | ۲۱۲/۴ | ۲۴۹/۰ |

---

(۱) حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۱۰۸-۱۱۰ مخونه.

(۲) شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال، ۸، ۷ مخونه.

| | | | |
|---|---|---|---|
| انکشافي: | ۲/۵ | ۷۲/۸ | ۲۴۹/۷ |
| ټوله: | ۲۱۲/۸ | ۲۸۹/۱ | ۳۲۵/۷ ملیونه افغانۍ |

دویم پنځه کلن پلان، د پوهنتون او پولي تخنیک لپاره (۹۰۰) ملیونه افغانۍ ټاکلې وې.

پر (۱۳۵۳ل) کال د کابل پوهنتون ټول محصلین (۷۷۹۸) تنه وو، چې له دې جملې ځخه (۷۴۲) تنه نجونې وې او (۲۳۹) تنو استادانو درس ورکاوه.

په (۱۳۵۰-۱۳۵۲ل) کلونو کې د پوهنتونو د محصلینو شمېره:

| کلونه/څانګې: | ۱۳۵۰ | ۱۳۵۱ | ۱۳۵۲ |
|---|---|---|---|
| طب: | ۱۱۷۳ | ۱۲۰۵ | ۱۱۲۳ |
| کرنه: | ۵۵۳ | ۷۳۵ | ۶۳۵ |
| ساینس: | ۲۳۲۱ | ۲۵۹۱ | ۲۰۸۳ |
| اجتماعي علوم: | ۲۹۶۳ | ۳۳۲۴ | ۳۵۱۹ |
| دارالمعلمینونه: | ۱۴۰۵ | ۱۹۶۴ | ۱۸۱۵ |
| ټول: | ۸۴۱۵ | ۹۸۱۷ | ۹۱۷۵ |

همدا وخت په پوهنتون کې د کورنیو او بهرنیو استادانو شمېر په لاندې ډول و:

| کلونه/شمېر: | ۱۳۵۰ | ۱۳۵۱ | ۱۳۵۲ |
|---|---|---|---|
| کورني استادان: | ۹۱۰ | ۸۱۶ | ۷۲۰ |
| بهرني استادان: | ۱۹۸ | ۱۷۶ | ۱۷۱ |
| ټول: | ۱۱۰۸ | ۹۹۲ | ۸۹۶ |

پـــه دې شـــمېر کـــې ننګرهـــار پوهنتـــون، د صـــنعت د ادارې انستيتيوت، پوليتخنيک او عالي دارالمعلمين هم شامل دي.
د جمهوريت په دوره کې د پوهنتون د محصلينو شمېره په لاندې ډول ده:

پر زده کړو بوخت:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلونه/پوهنځي: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
| د کابل طب: | ۷۴۴ | ۸۳۰ | ۹۸۷ |
| حقوق: | ۵۲۵ | ۵۲۴ | ۴۴۷ |
| اقتصاد: | ۴۷۱ | ۵۹۵ | ۷۴۷ |
| ادبيات: | ۱۵۳۲ | ۱۰۲۰ | ۹۷۲ |
| شرعيات: | ۵۷۱ | ۲۷۲ | ۳۲۹ |
| انجنيري: | ۵۸۱ | ۲۸۱ | ۷۵۳ |
| کرنه: | ۲۸۲ | ۲۴۸ | ۷۵۲ |
| علوم: | ۹۴۵ | ۱۰۹۷ | ۱۱۰۱ |
| فارمسي: | ۲۲۳ | ۲۵۴ | ۲۸۸ |
| وترنري: | ۱۰۲ | ۱۹۸ | ۲۹۲ |
| پوليتخنيک: | ۱۱۱۷ | ۱۱۲۸ | ۱۱۵۸ |
| د ننګرهارطب: | ۴۴۳ | ۵۴۳ | ۲۰۱ |
| ټول: | ۷۲۸۰ | ۷۸۲۴ | ۸۴۵۲ |

فارغان:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلونه/شمېر: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
| دکابل طب: | ۸۰ | ۵۱ | ۵۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| حقوق: | ۱۷۱ | ۱۲۲ | ۵۵ |
| اقتصاد: | ۲۸ | ۲۷ | ۴۱ |
| ادبیات: | ۳۵۵ | ۲۹۷ | ۳۰۲ |
| شرعیات: | ۴۲ | ۲۸ | ۲۲ |
| انجنیري: | ۴۲ | ۲۸ | ۲۹ |
| کرنه: | ۹۱ | ۵۹ | ۸۵ |
| علوم: | ۲۲۰ | ۲۳۰ | ۱۷۸ |
| فارمسي: | ۰ | ۰ | ۰ |
| وترنري: | | | |
| پولیتخنیک: | ۱۰۹ | ۱۴۸ | ۱۹۳ |
| ننگرهارطب: | ۳۸ | ۵۹ | ۸۹ |
| ټول: | ۱۳۸۸ | ۱۱۵۷ | ۱۱۹۴[۱] |

تر (۱۳۵۷ ل) کال دمخه افغانستان په چټکۍ سره د علمي کادرونو له پلوه موجوده خلا ډکوله، ګڼ شمېر محصلین د لوړو زده کړو لپاره د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته لېږل شوي وو. افغانستان د نړۍ له ګڼو هېوادونو سره ډپلوماتیک اړیکي درلودل، نو ځکه خو د لوړو زده کړو په برخه کې هم د هغو هېوادونو مرسته او ملګرتوب څرګند بده. د هېواد د لوړو زده کړو موسسو په تېره بیا کابل پوهنتون د نړۍ د هېوادونو له ځینو نامتو پوهنتونونو سره علمي او د توامیت اړیکي درلودل، هر کال یې د

[۱] حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۱۱۲-۱۱۷مخونه.

پوهنتون استادان د نور لوړ تعلیم لپاره بهرنیو هېوادونو ته لېږل. د کابل پوهنتون د هغه وخت استادانو د تحصیل د درجې او ځای له څرنګوالي نه څرګندېږي، چې د پوهنتون د استادانو له سلو څخه تقریباً اتیا تنو له بهرنیو هېوادونو څخه خپلې ماسترۍ او دوکتوراوې راوړې دي او ځینو تر ماسترۍ ټیټ تحصیل هم په بهر کې کړی دی. هغه وخت په هېواد کې د ټولنیز ژوند کچه هم دومره لوړه وه، چې د نړۍ د یو شمېر هېوادونو په انډول زموږ هېواد د تحصیل کړو اشخاصو لپاره خپله ټولنه یوه نسبتاً سوکاله ټولنه ګڼل کېده. تعلیم او تحصیل خپل مادي ملاتړ او مادي ارزښت درلود، د هر چا ټولنیز موقف څرګند و، هر چا خپله ټولنه کې خپل ځان احساسولای شو، ځکه خو اکثرو او ان ټولو افغانانو، چې په دې موده کې په بهر کې لوړې زده کړې کړې وې څوک هم په هغو هېوادونو کې پاتې شوي نه دي او بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او پر دندو یې پیل کړی دی. هغه وخت د افغانستان اقتصادي کچه دومره وه، چې یو تحصیل کړي شخص او په تېره بیا د پوهنتون استاد پرې له هر پلوه خپل ژوند خړوب کړی وای. د کابل پوهنتون یو استاد د هغه وخت د استادانو اقتصادي حالت په باب وایي: ‹‹ هغه وخت کې یې موږ ته دومره معاش راکاوه او په افغانیو کې دومره قوت موجود و، چې ما د خپل معاش او حق الزحمو له پیسو نه دومره سپما وکړه، چې په پروان کارته کې مې پرې یو پوخ دوه منزله کور جوړ کړ››.

د علمي کادرونو د تقرر په برخه کې هم له انصافه کار اخیستل کېده، له ځینو مهمو حساسو سیاسي او اداري پوستونو پرته، په مسلکي، تخنیکي او علمي پوستونو کې اکثره د خپل مسلک خاوندان مقرر وو.

له هېواد څخه د مسلکي کادرونو فرار، هغه هم په ډله ییز ډول هېڅ په خوب او خیال کې هم نه راته. په ټولیز ډول دا دوره د افغانستان د علمي کادرونو د روزنې، پالنې او په خپلو ځانګو کې د ګومارنې ډېره ښه دوره ګڼل کېدی شي، ضایعات هېڅ نه وو او د نویو کادرونو د روزنې کار هم په چټکۍ سره روان و.

# د علمي کادرونو د فرار پړاوونه

## لومړی پړاو

## (۱۳۵۷ غویی- ۱۳۵۸ل مرغومی)

د افغانستان د اوسنۍ غمیزې د پیل لومړۍ ورځ د ۱۳۵۷ل کال د غویي ۷نېټه ده. پر همدې ورځ په افغانستان کې جمهوري نظام رنګ او پرځای یې د یو ګوند یانې د ((خلکو دموکراتیک ګوند)) واکمني رامنځته شوه. ځرنګه چې د واک بدلون د یو پوځي عمل په نتیجه کې ترسره شوی و، نو په همغه پیل کې یې وینه تویه شوه او نوي واکمن د نورو په وینو رنګ تورې سره ارګ ته ننوتل او د واک پر ګدۍ کېناستل. له دې سره جوخت لومړی ذهني او بیا وروسته، سیاسي پوځي ګډوډي جوړه شوه او ورو ورو یې د هېواد د سیاسي او ټولنیز ژوند ټول رګونه ونیول. دا موده په افغانستان کې د افکارو له مخې پر متضادو خواوو د ټولنې د وېشنې ښه ګرم او لومړی پړاو دی. نوي واکمن چې جوړ دولتي جوړښت او امکانات یې ترلاسه کړي وو، تر هر څه لومړی په دې لټه کې شول، چې خپل ذهني، سیاسي او د دوی په نومونه ((عقیده یي)) دښمنان وځپي، نو ځکه یې تر هر څه لومړی له خپلو ((مخالفینو)) څخه د دولتي دستګاه ((تصفیې)) ته ملا وتړله. هغه وخت داسې انګېرل کېدله، هر څوک چې د واکمن

ګوند غړيتوب ونه لري او يا د هغوی سياسي تګلار ونه مني هغه نو په اصطلاح ((انقلابي))، ((مترقي)) او ((هېوادپال)) نه دی او ((ارتجاعي)) خصلت لري. د دې بهير لومړی ګوزار په دولتي دستګاه کې همغو اشخاصو او يا هم علمي کادرونو ته متوجه و، چې په دولتي جوړښت کې يې کار کاوه، خو له واکمن ګوند سره يې ذهني او فکري تړاو نه درلود. واکمن ګوند همداسې کسانو پسې اور لړونی راواخيست، ګڼ شمېر يې زنداني کړل، ځينې يې له دولتي او مسلکي پوستونو څخه ګوښه کړل او ځينې يې مهاجرت او فرار ته اړ کړل. د دولتي دستګاه د ملکي برخې ترڅنګ يې په پوځ کې هم دې چار ته دوام ورکړ او د ((خلقي پوځ)) د جوړولو تر سرليک لاندې د پوځ بې شمېره روزل شوي، فني او مسلکي کادرونه، يا په مرګ محکوم شول، يا زندان ته واچول شول، يا فراري شول او يا هم له خپلو مناسبو پوستونو څخه ګوښه کړای شول. په دولت کې پر هغو علمي موسسو هم دا حال راغی، چې سياست سره يې چندان تړاو نه درلود؛ يوازې فرهنګي او علمي چارې يې سمبالولې.

په دې واټن کې د افغانستان ډېر نامتو علمي کادرونه او ليکوال تر خاورو لاندې شول. پخوانی صدراعظم موسی شفيق، يوسف مېرنی، سېلاب ساپی او نور يې په سلګونو بېلګې دي. د هغو زرګونو افغانانو لست، چې د (۱۳۵۸ل) کال د سنبلې تر (۲۵) نېټې وروسته خپور شو په هغه کې د وژل شويو او لادرکو کسانو له نومونو څخه څرګند ېږي چې ګڼ شمېر علمي کادرونه، پوځي تکړه

افسـران، د قـوم مخـور او نـور پـوه افغانـان، د ژونـد لـه نعمـت نـه محروم شوي دي.

همدې موده کې یوازې د کابل پوهنتون د (۲۰۰) تنو استادانو له جملې څخه (۲۵) تنه استادان تلف شوي دي، چې دا پر هغه مهال د پوهنتون د استادانو تقریباً (۱۱) فیصده کېږي. یوازې د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي څخه دوکتور شجاعي، محمد علم ، خانباز تڼیوال، امیرمحمد مومند او خان اباد وزیري، د واکمنو له خوا ونیول شول او لادرک شول.

څرنګه چې واکمن ګوند ته یو روغ دولت او حکومتي امکانات په لاس ورغلي وو، نو دوی کولای شول له هغو څخه د خپلو موخو، فکري او فزیکي زورواکۍ لپاره هر ډول ګټه پورته کړي. په دې پړاو کې فکري اختناق داسې پړاو ته رسېدلی و، چې هېچا د هېڅ خبرې او نظر څرګندولو حق نه درلود. هره سیاسي او ټولنیزه خبره په بل ډول تعبیرېدلای شوه او د یو شخص یا علمي کادر د زنداني کولو لپاره یوه وړه پلمه او خبره هم بس وه. په دې پړاو کې ښوونځي، پوهنځي، علمي، تولیدي او ټول دولتي مرکزونه د واکمن ګوند تر کنټرول لاندې وو او ټول هېواد لاد سراسري پاڅون پر اورني ډګر نه و بدل شوی. واکمنو کولای شول ان په کلیوالي سیمو او بانډو کې هم د خپل ځواک اسونه وځغلوي، له ملي شتمنیو او لاسته راوړنو څخه هم د خپل مقصد لپاره کار واخلي. د راوروسته کلونو په انډول په دې واټن کې دولتي جوړښت روغ او سلامت پاتې و، ځکه چې د کړکېچ د پیل کلونه وو. پر (۱۳۵۸ل) کال د هېواد ټول

استوګن نفوس (۱۳۰۵۱) زره تنه اټکل شوی دی. په دې کې هغه کسان چې د کار لپاره مستعد دي (۱۵-۵۹) کلن دي (۲۳۳۳)زره تنه ښودل شوي او د اقتصادي چارو او ګټې لپاره فعاله (بشري قوه) (۴۹۵۰) زره تنه اټکل شوي. په اقتصادي چارو کې د مصروفو فعالو کسانو شمېر (۴۵۹۱) زره تنه ښودل شوی، چې له دې جملې څخه په تولیدي برخه کې (۴۰۷۳) زره تنه او په ناتولیدي برخه کې (۵۱۸) زره تنه ښودل شوي دي.[۱]

دغه راز پر (۱۳۵۷ل) کال ملي ناخالص محصول، چې ګټه ورڅخه پورته شوې ده (۱۵۹،۱) ملیارده افغانۍ او تولید شوی داخلي ناخالص محصول (۱۴۲،۹) ملیارده افغانۍ و[۲] د یادونې وړ ده، چې پر دې وخت افغانۍ خپل ارزښت درلود او یو امریکایي ډالر تقریباً په (۵۰) افغانۍ تبادله کېده.

پر (۱۳۵۷ل) کال هغه ملي عاید چې ګټه ورڅخه پورته شوې (۱۱۱،۷) ملیارده افغانۍ، داخلي تولید شوی عاید (۹۵،۵) ملیارده افغانۍ و[۳] پر دې کال د مالدارۍ محصولات د غوښې له پلوه (۱۹۵) زره ټنه، د شیدو له پلوه (۷۹۲) زره ټنه، د وړیو له پلوه (۲۲،۷) زره ټنه و.[۴] پر دې کال د دولتي او مختلط سکتور د

---

[۱] ګزیدهٔ شاخصهای احصائیوی، د احصائیې وزارت د نشراتو ریاست، کابل ۱۳۷۰ل کال، ۸مخ.

[۲] همدا اثر ۹ مخ.

[۳] همدا اثر ۱۱ مخ

[۴] همدا اثر ۲۰ مخ.

صنایعو د تولیداتو ارزښت (۵، ۱۳۴۳۲) ملیونه افغانۍ و [۵].

د خصوصي سکتور د صنایعو د تولیداتو ارزښت مجموعاً (۰، ۴۱۴۴) ملیونه افغانۍ و. د ترانسپورټ په برخه کې باید سړی ووایي، چې (۱، ۲۲) زره عرادې لارۍ، (۳، ۱۲) زره بسونه، (۷، ۳۰) زره ګړندي ګاډي او (۵، ۹) زره ټکسي موټرونه موجود وو. [۱]

پر (۱۳۵۷ل) کال د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ حجم (۷۴۷) ملیونه ډالره و، له بهر څخه د راوړل شویو شیانو ارزښت (۴، ۲۸۱) ملیونه ډالره و. [۲] د نقدي وارداتو ارزښت (۴۲۰) ملیونه ډالره و. [۳]

د دې ارقامو له یادونې څخه مقصد دا و چې په (۱۳۵۷-۱۳۵۸) کلونو کې دولتي دستګاه جوړه پاتې وه او لاهم هېواد له نورې نړۍ څخه په بشپړ ډول بېل شوی نه و. له فکري اختناق، جبر او نورو ډول ډول ظلمونو سره سره د ژوند اقتصادي خوا ډېره کمزورې نه وه، خو ورو ورو د کمزورۍ خواته روانه وه. همدغو امکاناتو واکمنو ته د دې وس ورکړی و چې د هېواد په اکثرو سیمو کې د خپلو ذهني مخالفینو او یا هم د څنګزنو اشخاصو، په تېره بیا د تحصیل کړو او علمي کادرونو حرکتونه وڅاري، یا یې زنداني کړي او یا یې په مرګ محکوم کړي. د هغه وخت واکمنو

---

(۵) همدا اثر ۲۷ مخ.

(۱) ګزیدهٔ شاخصهای احصائیوی، ۳۰-۳۳ مخونه.

(۲) همدا اثر ۳۵-۳۲ مخونه.

(۳) همدا اثر ۴۰ مخ.

ښوونې او روزنې ته له خپل اندود سره سمه پاملرنه کوله. ځینې نوي ښوونځي او علمي مرکزونه هم جوړ شول، خو په ټولو کې د واکمن ګوند تګلاره عملي کېدله.

پر (۱۳۵۷ل) کال د ټول هېواد په کچه د ښوونځیو، د سواد د زده کړو او د لوړو زده کړو د موسسو شومره والی په لاندې ډول و:

| | |
|---|---|
| د ښوونځیوشمېر: | ۳۸۴۳ |
| له هغو څخه: | |
| لومړني ښوونځي | ۳۵۳۰ |
| منځني ښوونځي-لېسې | ۳۱۳ |
| د زده کوونکو شمېر | ۱۰۳۴ زره تنه |
| له دې څخه: | |
| په لومړنیو ښوونځیو کې | ۹۴۲زره تنه |
| منځینو ښوونځیو-لېسو کې | ۹۲زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۵۲،۳زره تنه |
| له دې څخه: | |
| لومړني ښوونځي: | ۳۹،۸ زره تنه |
| منځني ښوونځي-لېسې: | ۱۲،۵ زره تنه |
| د ښوونکو شمېر: | ۳۵،۰ زره تنه |
| په دې کې د ښځینه ښوونکو شمېر | ۵،۸ زره تنه |
| د سواد د زده کړې کورسونه | ۱۵،۷ زره |
| د کورسونو شاملین | ۵۲۲،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۷،۸ زره تنه |

| | |
|---|---|
| د ښوونکو او سوپروېزرانو شمېر | ۱۳،۸ زره تنه |

## د لوړو زده کړو ښومره والی:

| | |
|---|---|
| د لوړو زده کړو د موسسو شمېر | ۳ |
| د پوهنځیو شمېر | ۱۸ |
| د ټولو محصلینو شمېر | ۱۱،۳ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۴،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۵۳ |
| د ټولو استادانو شمېر | ۹۹۲ تنه |
| له دې جملې ښځه بهرنیان | ۱۷۵ تنه |
| د منځنیو مسلکي او حرفه یي ښوونځیو شمېر | ۴۴ |
| د محصلینو شمېر | ۱۲۰،۷ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۵،۴ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۹۵ تنه |
| د ښوونکو شمېر | ۹۹۸ تنه |
| له دې جملې ښځه بهرني ښوونکي | ۲۰ تنه |
| د تخنیکومونو شمېر | ۲ |
| د محصلینو شمېر | ۱۷۰۲ تنه |
| د لومړي کال محصلینو شمېر | ۴۵۳ تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۰۴ تنه |
| د استادانو شمېر | ۱۹۰ تنه |
| له دې جملې نه بهرنیان | ۸۵ تنه |
| د ښوونکي دروزنې د موسسو شمېر | ۱۴ |

| | |
|---|---|
| د ټول محصلینو شمېر | ۲،۴ زره تنه |
| د لومړي کال شاملان | ۲،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۴۶۱ تنه |
| د استادانو شمېر | ۳۷۰ تنه [۱] |

په دې واټن کې لکه دټولنې د نورو برخو په څېر په علمي او کلتوري مرکزونو کې هم سخت فکري اختناق او ایډیولوژیکه زورواکي موجوده وه. هغــه کسان چې دیو فکر او نظر په ځانګړي ډول د ملـــي او اسلامي اند څښتنان وو،تر بل هر چا یې د زیاتې وېرې احساس کاوه. هڅه وشوه چې په روزنیزو او تحصیلي موسسو کې په نصاب کې بدلون راوستل شي. د سیاست په نوم یو مضمون په درسي نصاب کې ځای کړای شو او لږ تر لږه دوه ورځې د یوه ساعت لپاره تر شپږمو پورته ټولګیو کې تدریسېده. د زده کوونکو او محصلینو د درسي پروګرام د یاد وړ برخه دې مضمون او د دې تر څنګ ګڼو مارشونو او سیاسي غونډو نیوله. په درسي چارو او نورو برخو کې د ګوندي لومړنیو سازمانونو لاسوهنه او ټولواکي هم د دې سبب شوه، چې واکمن ګوند او د علمي کادرونو ترمنځ د واټن، تضاد او دښمنۍ امکانات برابر شي. واکمنو هم د خپلې ایډیولوژۍ پر وړاندې هېڅوک او هېڅ شی نه شو زغملای، ځکه خو به یې غوڅ عمل ترسره کاوه.

---

[۱] ګزیده شاخصهای احصائیوي ۱۳۷۰ل کال، د احصائیې وزارت، کابل، ۵۵-۵۸ مخونه.

د همدې وژنو، ترټنو، زندۍ کولو او فکري بحران او فشار له امله ګڼ شمېر هېوادوال د خپل ټاټوبي پرېښودلو ته مجبور شول. یوازې د (۱۳۵۷ل) کال په بهیر کې د پاکستان د راډیو په وینا (۵۰) زره افغانان پاکستان ته مهاجر شوي وو. د (۱۳۵۸ل) کال تر مرغومي پورې په اټکلي ډول د دې کسانو شمېر تر (۱۴۰) زره تنو پورې ورسېده. په دې شمېر کې د عامو ولسي، مذهبي کسانو او د هغوی د کورنیو د ځینو غړو په ګډون د هېواد ګڼ شمېر علمي کادرونه او تحصیل کړي اشخاص هم شامل وو. د زیاتو علمي او پوهو کسانو اټکل ځکه کېدی شي، چې تر هر چا لومړی دوی ته زیان ګواښ او خطر متوجه و. که د افغانستان د لوستي قشر منځنی کچ په پام کې ونیول شي یانې په سلو کې (۵-۷) تنو پورې، نو په (۱۴۰) زرو تنو کې به اټکل لس زره تنه لوستي کسان په دې موده کې پاکستان ته ور اوښتي وي او که بیا له هرو لسو لوستو کسانو څخه یو تن د لوړو زده کړو خاوند وګڼل شي نو په دې بهیر کې به اټکل یوزر تنه د لوړو زده کړو څښتنان د هېواد پرېښودو ته اړ شوي وي. په پوځ کې د بغاوتونو، په دولتي دستګاه کې د نارضایتیو او په خپله د واکمنو د زورواکیو له امله به تر دې هم زیات تحصیل کړي اشخاص د هېواد په دننه کې، زنداني، وژل شوي او یا هم تري تم شوي وي. که د کابل پوهنتون د تلف شویو استادانو او علمي کادرونو احصائیه د یو منځني حد او معیار په توګه په پام کې ونیول شي، نو لږ تر لږه به هر علمي مرکز په سلو کې لسمه برخه علمي پرسونل له لاسه ورکړی وي. د دې ترڅنګ په

دولتـي جوړښت کـې لـه خپلـو مناسـبو پوسـتونو څخـه د مسـلکي کـادرونو ګوښـه کـول او یـا د هغـو دواک سـلبول او د هغـو پرځـای د نویـو کسـانو ټاکـل هغـه بـل نـاوړه عمـل و، چـې د هېـواد مسـلکي کادرونو ته يې د فرار لارې چارې برابرې کړې او ځینـې يـې لـه خپـل مسلک څخه لرې کړل.

کله چې د دې پېر د واکمنو پر وړاندې د مختلفـو مـذهبي ډلګـیو په مشرۍ وسلواله مبارزه پیل شوه، نو هغوی هم د علمي کـادرونو، پـه ځـانګړي ډول د ښـوونکو پـر وژلـو، سـپکولو او د ښـوونځیو پـر ړنګولو او سوځولو صرفه ونه کړه، ګڼ شـمېر ښـوونکي يـې ووژل او ځینې نور یې له کلیو نه ښارونو او یا هم بهر ته فرار کړل.

(۱۳۵۷-۱۳۵۸ل کلونـه) واټـن پـه هېـواد کـې د ډلـه ییـزو وژنـو، زنداني کولو او ((فکـري تصـفیې)) او پـه ډلـه ییـز ډول پـه هېـواد کـې دعلمي کادرونو د وژنې او فرار د پیل موده ده.

# دویم پړاو

## (۱۳۵۸ل مرغومی- ۱۳۶۵ل غویی)

د (۱۳۵۸ل) کال د مرغومي پر (۶) مه نېټه پر افغانستان باندې پیل شوې غمیزه د نویو واکمنو په نومونه: ((تکاملي او بشپړتیایي پړاو)) ته ورسېد. پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان مستقیم پوځي یرغل وکړ او خپل لاسپوځي یې د کابل پر واک واکمن کړل. له دې سره جوخت د پردیو او د هغو د کورنیو پلویانو پر وړاندې سراسري ملي او اسلامي پاخون پیل شو، ورسره له هېواده د ډله ییز مهاجرت لړۍ په ډېرې چټکۍ سره پیل شوه. روسانو پر لویو ښارونو خپل واک ټینګ کړ، خو پر کلیوالو سیمو لاسبري نه شول، ځکه نو په لومړي سر کې په کلیوالو سیمو، له ښار نه په لرې پرتو او غرنیو سیمو کې توده جګړه پیل شوه. د جګړې په ترځ کې بې شمېره کورونه وران او په لکونو افغانان مهاجرت او مبارزې ته اړ شول، هغه ښوونځي، روزنځي او د زده کړو نور مرکزونه چې له لویو ښارونو څخه بهر وو، یا د جګړو په ترځ کې تباه شول او یا هم د نویو واکمنو د مخالفینو له خوا د دولتي ملکیت تر پلمې لاندې رنګ، چور او وسېزل شول. نویو واکمنو د کورونو په رنګولو او

بمبارۍ او مخالفینو د ښوونځیو په ړنګولو کې خپل ټول وس چار پر کار واچوه.

د یوې احصائیې له مخې تر (۱۹۸۲م) کال پورې یوازې پاکستان او ایران ته په ترتیب سره (۲،۷۰۰،۰۰۰) او (۲،۰۰۰،۰۰۰) تنه افغانان مهاجر شوي دي.[1] او نور ځینو نورو هېوادونو ته تللي دي. دا تقریباً پنځه ملیونه افغانان دي. که چېرې په دې افغانانو کې مونږ د افغانستان د هغه وخت د لوستي قشر هغه ډېره کمه کچه هم په پام کې ونیسو نو لږ تر لږه به د پنځه ملیونو مهاجرو په منځ کې (۲۵۰۰۰۰) تنه لوستي افغانان شامل وي. له دې رقم څخه د لوړو زده کړو د خاوندانو شمېر هم په اټکلیز ډول څرګندېدی شي. پر دې وخت نه یوازې دا چې د پردیو او د هغو د ملګرو پر وړاندې په کلیوالي سیمو کې زیات غبرګون موجود و، بلکې د ښارونو په لویو فرهنګي او اکاډمیکو مرکزونو کې هم د هغو پر ضد څرګندې او ناڅرګندې هڅې موجودې وې. روڼ اندو او هېواد پالو تحصیل کړو افغانانو د پردیو سیاسي او پوځي واکمني نه شوه زغملای، نو ځکه خو یې د هغوی پر ضد یا له جهادي لیکو سره اړیکي ټینګول او یا خپلو ملي ولولو، په ځاني او ډله ییز ډول مبارزو ته هڅول. روسانو او نوو واکمنو هم په ډېر دقت سره د هغوی هر ډول عمل څاره او هغوی یې په ډېره زورواکۍ سره له منځه وړل. په دې پړاو کې هم د هېواد بې شمېره تحصیل کړي اشخاص د زندان تورو کوټو ته دننه کړای شول، ګڼ شمېر یې له

[1] Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, Febaruary ۱۹۹۹, Page ۱۳

خپلو مسلکي دندو څخه ګوښه شول او یو زیات شمېر یې مهاجرت ته اړ شول.

په دې دوره کې بل کار دا وشو، چې د هېواد تحصیل کړی قشر پر دوو متضادو لارو ووېشل شو، یو هغه چې د دولت په چوکاټ کې پاتې شو او له نوي نظام سره یې فکري او رواني اړخ ولګولای شو او بل هغه چې دا تګلاره یې غندله او د هغې پر ضد یې مبارزه کوله. پر دې وخت د افغانستان د تحصیل کړي قشر زیاته فکري انرژي په ګړني او لیکني ډول، د مخالفو فکري تګلورو په تبلیغ او ترویج کې مصرفېدله، په حقیقت کې سیاسي فضا پر مسلکي تشبث او پلټنو خپله خپسه کېنولې وه او د اکثرو مسلکي او علمي کادرونو انرژي له دغو دوو لورو نه، په یوه کې مصرفېدله. سره له دې چې په عام ډول ټول هېواد کې جګړه روانه وه، خو بیا هم واکمنو هڅه کوله، چې په ښارونو کې ژوند په نورماله بڼه دوام ومومي، ځکه خو یې اکثره ښوونځي، پوهنځي، روزنیز او علمي مرکزونه فعال ساتلي وو او په ځینو برخو کې یې د پراختیا هڅه کوله. په ښارونو کې د دولت دستګاه تقریباً روغه پاتې وه. پر ۱۳۶۰ل کال د ټول دولت په ملکي برخه کې د مامورینو شمېر (۸۰۹۸۰) تنو او د اجیرانو شمېر (۹۱۰۱۲) تنو ته رسېده[۱]. چې د

---

[۱] حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی درباره ء کابل، د احصائیې مرکزي اداره، ۱۳۶۲ل کال، ۹۳ مخ.

ملکي برخې د ټولو کارکوونکیو شمېر (۱۷۱۹۹۲) تنو ته رسېده.

پر (۱۳۲۱ل) کال یوازې د کابل ښار د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکیو شمېر (۱۷۷۷۷۳) تنه وو، چې د (۵۷۲۰) تنو ښوونکو له خوا ورته درس ورکول کېده. د منځنیو ښوونځیو د زده کوونکیو شمېر (۸۸۲۰۲) تنه وو، چې د درس چارې یې د (۳۱۱۲) تنو ښوونکو له خوا پرمخ وړل کېدې.[2]

په همدې کال یوازې دهېواد د سړو سیمو په ښوونځیو کې (۳۵۸۹۲) تنه زده کوونکي، لومړي ټولګي ته جذب شوي وو.[3]

پر (۱۳۵۹ل) کال د کابل پوهنتون د محصلینو شمېره (۸۸۴۲) تنه وه چې (۳۴۵۲) تنه نوي شامل شوي وو او (۱۹۸) تنه یې فارغان درلودل.

کابل پولیتخنیک ټول (۱۲۳۹) تنه محصلین درلودل، (۱۳۲۱) شاملین او (۲۳۲) تنه فارغان.

د طب د عالي زده کړو انستیتیوت، د کابل دطب انستیتیوټ په ګډون: (۱۹۰۵) تنه شاګردان، (۵۱۳) تنه شاملین او (۵۲) تنه فارغان درلودل.

پر (۱۳۶۰ل کال د کابل پوهنتون د ټولو محصلینو شمېر (۷۲۹۷) تنه، د نویو شاملینو (۲۰۵۵) تنه او د فارغانو شمېر

---

[2] همدا اثر، ۲۲-۲۳ مخونه.

[3] د افغانستان کالنۍ، ۱۳۲۱ل کال، ۲۱۲ مخ.

یې (۱۲۳۲) تنه وو، د کابل پولیتخنیک انستیټیوټ پر همدې کال، (۱۷۷۲) تنه شاګردان، (۴۰۱) تنه نوي شاملین او (۲۳۴) تنه فارغا درلودل. د طب د لوړو زده کړو او کابل طب انستیټیوټ (۲۰۶۲) تنه شاګردان درلودل، (۱۳۶۵) تنه یې نوي شاملین او (۸۱) تنه یې فارغان درلودل.[۱]

د یو بل رقم له مخې په مجموعي ډول پر (۱۳۶۱ل) کال د لوړو زده کړو د درېو موسسو (کابل پوهنتون، کابل پولیتخنیک او ننګرهار پوهنتون د ټولو محصلینو شمېر (۱۰۹۳۲) تنه چې له هغې جملې څخه (۴۱۴۵) تنه نوي محصلین وو. همدارنګه د لوړو زده کړو (د اداري او حسابدارۍ) او (کرنې) په موسسو کې (۷۵۲) تنه محصلین وو، چې له هغې جملې څخه (۲۴۹) تنه نوي شاملان وو. د تخنیکم د محصلینو شمېر (۱۰۳۲) تنه، چې له هغې جملې نه (۴۲۸) تنه نوي محصلین وو او همدارنګه د تخنیکي حرفه یي لومړي نمبر ښوونځي شاملان (۷۷) تنه وو.[۱]

(۱۳۵۸-۱۳۶۵ل) کلونو په هېواد کې له ګرمې جګړې سره سره، په ښارونو، په تېره بیا په لویو ښارونو کې د ښوونې او روزنې بهیر درول شوی نه و، البته پر ټولو فرهنګي، علمي او روزنیز مرکزونو، د واکمنو د فکري تګلارې سیوری خپور شوی و. د لوړو زده کړو

---

[۱] حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی دربارهء کابل، ۲۴ مخ.

[۱] د افغانستان کالنۍ، کابل ۱۳۶۱ل کال، ۳۷۰ مخ.

موسساتو په هر ټولګي کې د ټولنپوهنې په نامه يو مضمون جبري و، ګوندي سازمانونو د علمي مرکزونو په اداري او علمي چارو کې د لاسوهنې او د کارونو بدلون پوره واک درلود.

ګوندي غونډو، مارشونو او ميټينګونو، د روزنيزو، ښوونيزو او فرهنګي مرکزونو زيات وخت اخلالاوه، واکمن ګوند ته ژمن اشخاص، که څه هم پوره علمي واک يې نه درلود ،خو د علمي مرکزونو د اداري چارو لپاره ګومارل کېدل. د لوړو زده کړو، پوهنتونونو او بهر ته په تحصيلي بورسونو کې د تګ په مساله کې، واکمنې سره د تړاو او نږدېوالي معيار په پوره ډول په پام کې نيول کېده.

د ښوونې او روزنې وزارت د لوړ کچ د يو کارکوونکي د وينا له مخې د (۱۳۷۵-۱۳۵۷) کلونو په واټن کې تر (۴۵) زرو تنو زيات افغانان، د وخت له حکومت سره دوستو هېوادونو په ځانګړي ډول ((شوروي اتحاد)) ته تللي دي. د دې کسانو د ياد وړ شمېر تر تحصيل وروسته د څو کلونو په بهير کې بېرته هېواد ته راستون شو او ځينې يې لا په لوړو، مهمو او حساسو دولتي پوستونو کې وګومارل شول، خو په دې وخت کې هم يو شمېر هغه افغانان چې بهر ته د لوړو زده کړو لپاره تللي وو، بېرته راستانه نه شول.

له هېواد څخه د علمي کادرونو په مهاجرت کې کمی رانغی او لاهم په هېواد کې هغه لاملونه، چې د علمي کادرونو د فرار سبب

کېدل، پر ځای وو. د بهرنيو يرغلګرو مستقيم واک او فشار، سياسي او فکري اختناق، د ژوند نه تضمين، د مسلکي معيار بې ارزښتي، وژنه، ترور او زنداني کول هغه عوامل وو، چې له هېواده د مسلکي کادرونو د وتلو سبب ګرځېدل. په دې واټن کې د فرار ستر لاملونه سياسي، فکري او عقيده يي وو. اقتصادي ستونزو په کې دومره اغېز نه درلود.

په دې بهير کې دولت هر کال د لوړو زده کړو په برخه کې، په بهر کې د تحصيل کوونکو افغانانو پر شمېر سربېره په منځني ډول ۲۰۰ تنه فارغان ټولنې ته وړاندې کول. خو له هېواد څخه د تلونکو هغو افغانانو شمېر په دقيق ډول څرګند نه دی، چې لوړې زده کړې يې لرلې، يوازې د کابل پوهنتون ۱۰۰ تنو څخه زياتو استادانو، پر هغه وخت خپله دنده خوشې کړې ده.

پر دولتي اختناق، جبر او پردي ښکېلاک د دولت مخالفينو هم، په هېواد کې د علمي کادرونو، په ځانګړي ډول، د ښوونکيو پر وژنې صرفه ونه کړه.

«يوازې د معارف په برخه کې تر (۱۳۵۷-۱۳۶۲) پورې (۲۰۰۰) څخه زيات ښوونکي وژل شوي دي»[1] چې اکثره يې د مخالفو کسانو له خوا وژل شوي دي.

---

[1] پوهنمل دوکتور نجيب الله فايز، اجتماعی علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ل کال، ۱۹۱-۱۹۸ مخونه.

غوره بېلګه يې پر همدې وخت د لغمان ولايت د الينګار په ولسوالۍ کې د (۹) تنو ښوونکو ډله ييزه وژنه ده چې د يو جهادي تنظيم له خوا وشوه. دا ښوونکي په ډېر دردوونکي ډول، د غره په يوه سمڅه کې ووژل شول او تر درې مياشتو وروسته يې خپلوانو مړي پيدا کړل.

((همدا راز په همدې واټن کې (۱۸۵۰) ښوونځي ړنګ او د هغو دوه سوه زره مېزونه او څوکۍ سېزل شوي دي.

ښوونځيو کې دماشومانو د داخلولو په شمېر کې په سلو کې (۴۰) کمی راغلی دی. دغه راز پر همدې وخت (۱۱۴) روغتيايي مرکزونه او (۲۸) روغتونونه هم تخريب شوي دي)).[1]

---

[2] پوهنمل دوکتور نجيب الله فايز، اجتماعی علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۲۸ل کال، ۱۹۱-۱۹۸ مخونه.

# درېیم پړاو

## (۱۳۶۵ل غویی- ۱۳۷۱ل غویی)

پـر (۱۳۶۵ل) کـال، پـر افغانسـتان نړیوالـو فشـارونو او پـه افغانستان کې دننه ګرمو وسله والو جګړو، بهرني یرغلګر دې ته اړ کړل، چې د کابل رژیم په مشرتابه کې بدلون راولي او خپله ورو ورو لـه افغانسـتان څخـه پښـې سـپکې کـړي. د (۱۳۶۵ل) کـال د غـویي پر (۱۴) نېټه دا بدلون راوستل شو. لـه نـوي بدلون سره پـه دولتي ادارو او نورو علمي مرکزنو کې د هغه اختناق او فشار بار ورو ورو کم شو، چې لـه اتـو کلونـو راهیسې هلته واکمن و. د دې فشار د کمېدو یو اساسي علت دا و، چې بهرني یرغلګر او کورني واکمن لږ شان پر دې پوه شوي وو، چې یوازې د برچې په ځوکه د خلکو د افکارو، عقایدو او نظریو وژنه امکان نه لري. د حکومت زیاته پاملرنه د مخالفینو له خوا، فزیکي خطر او جګړې ته متوجه وه، د دولت پر ضد ګړني او ان لیکني تبلیغ تـه دومره پـه قهرجنه سترګه نـه کتـل کېدل. پـه ځانګړي ډول پـه وروستیو کلونو کې. د دولت فزیکي ځواک ورځ پـر ورځ کمزوری کېده. جګړه لـه کلیو، غرونو او بانډو څخه د لویو ښارونو ترڅنډو او پر هغو باندې د مستقیم فشار راوستلو تر بریده راورسېده او ان ځینې لوی ښارونه

هم د مخالفینو لاسته ورغلل، نو په دغسي یو حالت کې واکمن مجبور وو چې د یو ډول دموکراسۍ او ازادۍ تمثیل وکړي، ان تر دې چې ځینو ته د ربښتیني وګړواکۍ په بڼه ښکاربدله. د بیان او قلم ازادي په وروستیو وختونو کې زیاته شوه، هغه فشار چې پخوا د ښارنې، نیونې، وژنې او زنداني کولو په برخه کې موجود و، ورو ورو خپل زور او ځواک بایلود، خو بیا هم په دې پېر کې له هېواده د مسلکي کادرونو او نورو افغانانو د وتنې لړۍ بنده نه شوه. لویو ښارونو، لکه: جلال اباد، کندهار او نورو کې د درنو جګړو پیل او دوام او همدارنګه د دواړو غاړو له خوا، د ډېرو درنو، وژونکو او عصري وسلو استعمال، ګڼ شمېر افغانان مهاجرت ته اړ کړل. د دې پړاو په لومړنیو وختونو کې د سیاسي او عقیده یي اختناق له کبله یو شمېر علمي کادرونه یا ووژل شول، یا زنداني شول او یا هم فراري شول. په وروستیو وختونو کې د ښکاره وژنو او زنداني کولو شمېر لږ او وروسته بیا بېخي ناڅرګند شو، خو بیاهم د علمي او مسلکي کادرونو دمهاجرت لړۍ بنده نه شوه. د دې پېر په وروستیو څو کلونو (دربو کلونو) کې اکثره خلک پر دې باوري شول، چې د رژیم پښې د ټینګې نه دي، نو هر چا په ځانګړي ډول تحصیل کړو اشخاصو هڅه کوله، چې په یوه نه یو ډول ځان ته له هېواده د وتلو لار پیدا کړي. پر دې وخت ګڼ شمېر هغه کسان له هېواده ووتل، چې په لویدیزو هېوادو کې یې زده کړه کړې وه. له رواني، ذهني او مسلکي پلوه ورته ډاډه ښکاره کېده، چې که تر هېواده بهر ته لاړ شي، نو ژوند یې تضمین او خړوبېدی شي. د

مسلکي کادرونو د فرار بل اساسي لامل دا هم و، چې پر دې وخت د دولت اقتصاد ورځ پر ورځ کمزوری کېده، واکمنو زیات لګښت د جګړو په برخه کې کاوه.

د مسلکي او علمي کادرونو معاش د دې جوګه نه و، چې نور دې دوی د پخوا په شان له هغه څخه د خپل ژوند چارې سمبال او خروبې کړي. عمومي بې باوري هم بل لامل و. ان په واکمن ګوند او حکومت کې ډېر داسې مسلکي کادرونه او اشخاص وو، چې په همدې پېر کې یې خپلې کورنۍ هم بهر ته لېږدولې وې او په خپله هم د وتلو په حال کې وو. دا ډول اشخاصو ان د دولت له رسمي امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، ځانونه بهرنیو هېوادونو ته وایستل. ځینې هغه اشخاص، چې د دولت له خوا بهرنیو هېوادونو، په ځانګړي ډول پخواني شوروي اتحاد ته تللي وو، د تحصیل دوره یې پای ته رسېدلې وه، هغوی هم اکثرو هېواد ته له راتګ څخه ډډه وکړه او یو شمېر نورو چې هلته یې تحصیل کړی و، هغوی هم په دې لټه کې شول، چې له یوې لارې، بېرته ځان همغو ټولنو او هېوادونو ته ورسوي، نو په دې ډول پر دې وخت هم د عامو افغانانو او هم د تحصیل کړو افغانانو د فرار لړۍ کمزورې نه، بلکې لاګرمه شوه. د ملګرو ملتو د مهاجرینو د یوې رسمي شمېرنې له مخې پر (۱۳۶۵ل) = (۱۹۸۶م) کال د افغانستان د ټولو مهاجرینو شمېره (۴،۷۰۲،۰۰۰) تنه وه پر (۱۳۷۰ل) = (۱۹۹۱م) کال دا شمېره (۲،۱۹۷،۰۰۰) تنو ته ورسېده،[1] د مهاجرینو د

(1) Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, February ۱۹۹۹, Page ۱۳

ځومره والي په اړه به وروسته یو جدول وګورئ.

یوازې له کابل پوهنتون څخه په دې موده کې اټکل (۱۰۰) تنو په شاوخوا کې استادان مهاجر شوي دي. همدارنګه بل هر علمي او فرهنګي مرکز هم دومره ضایعات ورکړي دي.

د ځینو علمي کادرونو ځایونه نویو کادرونو ډک کړل، خو نه په هغه کیفیت او د ځینو لاځایونه هم تش پاتې شول. پر دې وخت په پوځ کې په زرګونو مسلکي کادرونه، د کودتاوو او اړو دوړو په نامه له دندو لرې کړای شوي دي، بې شمېره وژل شوي او ځینې یې فراري شوي دي، خو له دې ټولو بدمرغیو، فرارونو، جګړو، وژنو، تلفاتو او ورانیو سره سره بیا هم په ټولیز ډول د دولت اډانه او چوکاټ تر زیاته حده روغ پاتې و. هغه زېرمې چې پر دې وخت له حکومت سره پاتې وې، په ځانګړي ډول په پوځي برخه کې، که چېرې د یو رغنده ملي حکومت لاسته ورغلې وای، افغانستان به له پوځي پلوه ، که پر ځینو ګاونډیو برلاسی نه وای، نو کمزوری خو به ترې په هیڅ وجه نه وای. د شپږو لسیزو د بېلابېلو حکومتونو د ابادیو او لاسته راوړنو اکثره شتمني، په لویو ښارونو کې راټوله شوې وه، د دې وخت د حکومت ارقام او جوړښت ښیي چې پر هغه وخت افغانستان د ایډیالوژۍ له پلوه که د هر ډول حکومت درلودونکی و، خو یو ډول منظم تشکیل یې درلود.

(( پر (۱۳۶۸ل) کال پر پوځي تشکیلاتو سربېره د دولت د ټولو کارکوونکو شمېر (۹، ۱۷۸) زرو، پر (۱۳۶۹ل) کال (۹، ۱۸۸) زرو او پر (۱۳۷۰ل) کال (۱، ۱۹۲) زرو تنو ته رسېده. پر (۱۳۶۹ل) کال

هغـه ملـي ناخالصـه محصـول چـې ګټـه ورځخـه اخیسـتل شـوې (۱۵۲،۸) ملیارده افغانۍ او پر (۱۳۷۰ل) کـال (۱۴۴،۳) ملیـارده افغـانۍ ارزیـابي شـوی و. پـه همـدې دوو کلونـو کـې تولیـد شـوی داخلـي ناخالصـه محصـول پـه ترتیـب سـره (۱۱۴،۲) او (۱۱۴،۱) ملیارده افغانۍ ښودل شوی دی. پر (۱۳۶۹ل) کـال هغـه ملي عـایـد چـې ګټـه ورځخـه اخیسـتل شـوې (۱۱۲،۲) ملیـارده افغـانۍ ښـودل شـوی او پـه (۱۳۷۰ل) کـال کـې (۱۰۴،۱) ملیـارده افغـانۍ ښـودل شوی دی. تولید شوی داخلي عـایـد پر همدې دوو کلونـو پـه ترتیب سـره (۷۴،۵) او (۷۳،۹) ملیــارده افغــانۍ ښــودل شــوی دی. د بلاعوضـو مرسـتو لـه پلـوه د وارداتـو انـدازه پـر (۱۳۶۷ل) کـال (۲۰۹،۴) ملیونــه، پــر (۱۳۶۹ل) کــال (۲۰۴،۴) ملیونــه او پــر (۱۳۷۰ل) کـال (۸۷،۵) ملیونـه ډالـره ښـودل شـوی دی. د هېـواد پـه پرمختیـايي پـروژو کـې پانګـه اچونـه پـر (۱۳۶۹ل) کـال (۵۳۰) ملیارده افغـانۍ ښـودل شـوې او پر (۱۳۷۰) (۴۷۲) ارزیـابي شـوې ده. پـه (۱۳۶۹-۱۳۷۰) کلونـو کـې د دولتـي او مخـتلط سـکتور د فعالو تولیدي موسسو شمېر، پر (۲۹۴) ښودل شوی او پر (۱۳۷۰) کال (۷۱۷) ارزیابي شوی دی. د همدې سکتور د تولیداتو ارزښت پر (۱۳۶۹ل) کـال (۱۳۵۲۴،۵) ملیونـه افغـانۍ ښـودل شـوی او پر (۱۳۷۰ل) کال (۲۱۴۹،۳۱) ملیونه افغانۍ ارزیابي شوی دی.

د شــیانو د خــرڅلاو د دوران ارزښــت، پــر (۱۳۶۹ل) کــال (۵۸۴۳۳) ملیونه افغانۍ و او پر (۱۳۷۰ل) کال (۴۵۲۲۲) ملیونـه افغانۍ ښودل شوی دی.

پر (۱۳۶۸ل) کال د بهرنۍ سوداګرۍ حجم (۹۱۷) ملیونه او پر (۱۳۶۹ل) کال (۵۸۹) ملیونه ډالره ښودل شوی دی.

لـه بهـر څخـه د شـیانو د وارداتـو ارزښـت، پـر (۱۳۶۹ل) کـال (۹۲۲،۵) او پر (۱۳۷۰) (۷۴۲،۵) ملیونه ډالره ښودل شـوی دی. د هېواد د صادراتو ارزښت پر ۱۳۶۹ل کال (۲۱۱) ملیونه ډالره او پر (۱۳۷۰ل) کـال (۲۹۰،۵) ملیونـه ډالـره ګڼـل شـوی دی. د نغـدي وارداتـو ارزښـت پـر (۱۳۶۹ل) کـال (۲۴۸،۷) ملیونـه ډالـره او پـر ۱۳۷۰ (۲۵۲،۲) ملیونه ډالر ګڼل شوی دی.

پـر (۱۳۶۸-۱۳۶۹-۱۳۷۰) کلونـو، د یـو امریکـایي ډالـر پـه مقابل کې د افغانۍ رسمي او دولتي نرخ (۲،۵۰) افغـانۍ و، خـو د کابـل پـه ازاد بـازار کـې پـه ترتیـب سـره یـو امریکـایي ډالـر (۵۴۲،۲۳)، (۸۵۵،۸۳) او (۱۵۱۹،۷۲) افغانۍ تبادله کېده[1].

پر (۱۳۶۹ل) کـال دولـت (۱۴۴۳۲۱) تنـه نارینـه کـارکوونکي او (۴۴۴۹۱) تنه ښځینه کارکوونکي درلودل[2].

یو زیات شمېر کسان، چې د دولت اکثره کارکوونکي هـم پـه کـې شامل وو، په یوه اتحادیه کې، چې د (امکا) په نامه یادېدلـه شـامل شوي وو. دا شـمېر مجموعـاً (۳۰۰۰۰۰) تنو تـه رسـېده چې لـه دې جملـې څخـه (۹۲۷) تنـو د دوکتـورا، (۱۵۹۲) تنـه د ماسـټرۍ، (۱۲۷۹۵) تنـو د لیسـانس دیپلومونـه درلـودل، (۳۳۸۹۸) تنـه د

---

[1] ګزیده شاخصهای احصائیوی، د احصائیې وزارت، کابل، ۱۳۷۰ل کال، بېلابېل مخونه.

[2] سالنامهء احصاییوی، د احصائیې وزارت، کابل، ۱۳۶۹ل کال، ۱۷مخ.

ابتـــدایي (۳۴۲۷۴) تنـــه د خصوصـــي زده کـــړو خاونـــدان وو او (۱۳۵۷۱۲) تنه نالوستي وو.[۳]

((په فرهنګي برخه کې د دې پړاو، پر (۱۳۶۲ل) کال د سواد د زده کړې په برخه کې کورسونه فعال وو، چې د شاملانو شمېر یې (۴۵۳) زرو تنو ته رسېده او په منځنې ډول هر کال (۱۳۸) زره تنه ترې فارغېدل. پر همدې کال د ښوونځیو شمېر (۱۳۰۸) ته رسېده، په داسې حال چې پر (۱۳۵۷ل) کال ټول (۳۸۴۳) ښوونځي فعال وو. پر (۱۳۶۲ل) کال د عمومي زده کړو د ښوونځیو د زده کوونکیو شمېر د (۷۷۲) زرو تنو په شاوخوا کې وو، چې د (۱۳۵۷ل) کال په اندازه (۲۵۸) زره تنه او یا په سلو کې (۲۵) کموالی ښیي. پر (۱۳۶۲) (۲۹) حرفوي تخنیکي تعلیمي موسسې فعالې وې، چې د (۱۳۵۷ل) کال په پرتله په سلو کې (۲۳،۲) زیاتوالی دی. پر (۱۳۵۷ل) کال د روغتونونو د بستر شمېر (۴،۳) زرو بسترونو ته رسېده، خو پر ۱۳۶۱ کال (۹،۷) زرو بسترونو ته لوړ شو. پر ۱۳۵۷ل کال د هر لسو زرو تنو لپاره (۸، ۰) ډاکتر، خو پر (۱۳۶۲ل) کال د هر لسو زرو تنو لپاره (۱،۷) ډاکترانو ته لوړ شو، چې (۱ ،۲) زیاتوالی ښیي.))[۱]

---

[۳] همدا اثر ۲۴۵ مخ.

[۱] پوهنمل دوکتور نجیب الله فایز، اجتماعي علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ ل کال.

د دې پړاو په وروستيو کلونو کې د ښوونې او روزنې او همدارنګه د لوړو زده کړو شومره والی په لاندې ډول دی:

| | | |
|---|---|---|
| کلونه | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
| د ښوونځيو شمېر | ۱۴۰۱ | ۱۴۲۷ |
| لومړني ښوونځي | ۵۸۳ | ۵۹۴ |
| منځني ښوونځي | ۸۱۸ | ۴۹۱ |
| لېسې | ۸۱۸ | ۲۴۲ |
| د زده کوونکو شمېر | ۹۰۹،۹ زره تنه | ۹۱۱،۰ زره تنه |
| له دې جملې څخه: | | |
| لومړني ښوونځي | ۲۲۷،۹ زره تنه | ۲۲۸،۷ زره تنه |
| منځني ښوونځي | ۲۸۲،۵ زره تنه | ۱۸۰،۹ زره تنه |
| لېسې | – | ۱۰۱،۴ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۳۱،۲ زره تنه | ۱۱۳،۴ زره تنه |
| له دې جملې څخه | | |
| لومړني ښوونځي | ۲۵،۸زره تنه | ۷۲،۹ زره تنه |
| منځني ښوونځي | ۱۱۸،۸ زره تنه | ۴۰،۵ زره تنه |
| لېسې | – | – |
| د ښوونکو شمېر | ۲۳،۵ زره تنه | ۲۳،۱ زره تنه |
| له دې جملې څخه: ښځینه ښوونکي | ۱۲،۴ زره تنه | ۱۲،۳ زره تنه |
| د کورسونو شمېر | | |
| د سواد زده کړې | ۱۵،۲ زره | ۱۲،۰ زره |

| | | |
|---|---|---|
| شاملین یې | ۳۳۰،۵ زره تنه | ۳۳۲،۵ زره تنه |
| فارغان یې | ۶۹،۴ زره تنه | ۱۲۳،۰ زره تنه |
| د ښوونکو او سوپروایزرانو شمېر | ۳،۷ زره تنه | ۳،۷ زره تنه |

د لوړو زده کړو د موسسو او محصلینو ګومره والی په دې ډول دی:

| | | |
|---|---|---|
| د لوړو زده کړو د موسسو شمېر | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
| ټول | ۳ بابه | ۷ بابه |
| د پوهنځیو شمېر | ۳۷ | ۳۷ |
| دمحصلینو ټول شمېر | ۱۲،۵ زره تنه | ۱۸،۳ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۷،۲ زره تنه | ۷،۵ زره تنه |
| د فارغانو ټول شمېر | ۱۵۴۳ تنه | ۱۷۸۲ تنه |
| د استادانو ټول شمېر | ۱۴۲۷ تنه | ۸۸۶ تنه |
| د منځنیو مسلکي حرفه یي ښوونځیو شمېر | ۵۲ بابه | ۲۵ بابه |
| دمحصلینو ټول شمېر | ۸،۵ زره تنه | ۳،۷ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۳،۲ زره تنه | ۱،۲ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۱۷۲تنه | ۸۱۲ تنه |
| د ښوونکو شمېر | ۹۲۵ تنه | ۴۸۹ تنه |
| د تخنیکمونو شمېر | | |
| ټول | ۹ بابه | ۹ بابه |

| | | |
|---|---|---|
| د محصلینو شمېر | ۲۲۰۵ ته | ۳۷۲۴ تنه |
| د لومړي کال د محصلینو شمېر | ۱۸۸۵ تنه | ۱۰۲۵تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۰ تنه | ۵۷۲ تنه |
| د استادانو شمېر | ۵۰۲ تنه | ۵۱۵ تنه |
| د ښوونکو د روزنې موسسې | ۱۱ بابه | ۱۱ بابه |
| ټول محصلین | ۲،۲ زره تنه | ۲،۸ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۱،۰ زره تنه | ۱،۳ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۴۹ تنه | ۸۲۴ تنه |
| د استادانو شمېر | ۱۲۹ | ۵۱۸ |

د دې پړاو په وروستیو دریو کلونو کې د طبي برخې شومره والی په دې ډول وو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| د روغتونونو شمېر | ۱۳۶۸ | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
| ټول | ۱۰۴ بابه | ۱۱۱بابه | ۱۱۱بابه |
| د بسترونو شمېر | ۱۰،۵ زره بستره | ۱۰،۳ زره بستره | ۱۰،۴ زره بستره |
| د هرو لسو زرو تنو لپاره د بستر شمېر | ۲،۳ بستره | ۲،۴ بستره | ۲،۳بستره |
| د ډاکترانو شمېر | ۳۲۷۹ تنه | ۳۵۳۵ تنه | ۳۵۹۰ تنه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| دهرو لسو زرو تنو لپاره د ډاکترانو شمېر | ۱،۲ تنه | ۲،۲ تنه | ۲،۲ تنه |
| د منځنیو طبي زده کړو پرسونل | ۲۲۵۳ تنه | ۲۲۷۳ تنه | ۷۱۷۲تنه |
| اساسي صحي مرکزونه | ۷۵ بابه | ۱۰۳ بابه | ۷۵ بابه |
| د ایکسریزونو شمېر | ۱۱۴ | ۱۱۳ | ۱۱۳ |
| د درملتونونو شمېر | ۱۲۲۵ | ۱۷۳۷ | ۱۹۷۰ |
| د درمل جوړوونکو شمېر | ۷۲۲ تنه | ۸۵۸ تنه | ۱۹۹۸ تنه[۱] |

په ټولیز ډول د دې پړاو پر وروستیو دوو کلونو زیات شمېر علمي او مسلکي کادرونه له افغانستان نه ووتل. ورځ پر ورځ د دولتي نظام کمزوري، پر چارو نه واکمني، د نظام پر پایښت بې باوري، دجګړې ګوابنونه، زیاته اقتصادي تنګلاسي، د پوهې او علم د مادي ارزښت کمېدل او ځینې نور عوامل، د دې سبب شول، چې زیات شمېر تحصیل کړي اشخاص ،خپل ټاټوبی پرېږدي او پردیو هېوادونو ته پناه یوسي.

تر دې وخت پورې تر (۲) ملیونو زیاتو افغانانو په بهر کې استوګنه غوره کړې وه، چې هغه وخت تقریباً د هېواد د ټول نفوس (۳۷) فیصده وګړي جوړوي، نو که چېرې پر دې وخت د هېواد د ټولو تحصیل کړو اشخاصو مهاجره برخه معلوموو نو هلته هم کېدی شي، همدا سلنه په پام کې ونیول شي، یو اټکل هم کېدی شي، هغه دا چې تر (۱۳۷۰ل) کال پورې د ټول نفوس په حساب

---

[۱] ګزیده شاخصهای احصاییوي، ببلابېل مخونه.

(۳۷) فیصده افغانان مهاجر شوي وي، نو کېدی شي د تحصیل کړي اشخاصو شمېره دهغوی د سلنې (فیصدی) له مخې تر دې (۳۷) فیصدو څه ناڅه کمه ځکه وي، چې د افغانستان تحصیل کړي خلک اکثره په لویو ښارونو کې راټول شوي وو او تر دې وختـه لوی ښارونه او په تېره بیا مهم روزنیز تحصیلي او تعلیمي مرکزونه د واکمنو په لاس کې وو او د کلیوالي سیمو په اندول ډېر مصئون پاتې وو. په دې وخت د مهاجرو افغانانو ګڼ شمېر نالوستي کسان وو، چې د عقیده یي، فکري عواملو، د جګړې او مرګونو د پرله پسې خطرونو له امله مهاجر شوي وو. د ارقامو له مخې د همدې پړاو پر وروستیو کلونو ((د مجاهدینو د لنډمهالي حکومت د ښوونې او روزنې وزارت په (۱۲۰۸) ښوونځیو او مدرسو کې (۴۰۳۲۹) تنو افغانانو زده کړه کوله. په دې شمېره کې (۱۰۵۷) ښوونځي او مدرسې په سرحد صوبه، سند او اسلام اباد، (۲۰۲) په بلوچستان، (۸۹) په ایران او (۱۲۲) په هغو سیمو کې وو، چې په افغانستان کې د دوی لاسته ورغلي وې.

د دې ترڅنګ (۱۵) ښوونځي او مدرسې نورې هم وې، چې افغاني نجونو په کې زده کړه کوله.))[۱]

[۱] شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، ۱۳۷۲ل کال، ۳۶ مخ.

# څلورم پړاو

## (۱۳۷۱ل غویی- ۱۳۷۵ل تله)

(۱۳۷۱-۱۳۷۵) کلونه د افغاني ټولنې هغه دردونکي او کړوونکي کلونه دي، چې زموږ ټولنې د خپلې مادي او مانيزې شتمنۍ ډېره برخه په کې له لاسه ورکړه. د (۱۳۷۰ل) کال په وروستيو مياشتو کې د واک د نيولو لپاره ائتلافونه او سازشونه پيل شول، د همدې سازشونو په پايله کې يوه ډله تر نورو دمخه کابل ته دننه کړای شوه. هغه جګړه چې تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته د غرونو له سرونو پيل شوې وه، پر (۱۳۷۱ل) کال د ښارونو زړونو ته ورسېده. تر دې دمخه چې کومه مانيزه او عامه شتمني په کليوالو سيمو کې وه، هغه خو د پرله پسې جګړو، بمباريو او لوټنې له کبله له منځه وړل شوې وه. يوازې په لويو ښارونو کې ګڼ شمېر ښوونيز، روزنيز او فرهنګي مرکزونه او دغه راز اقتصادي تاسيسات پاتې وو، چې هم پرې د هېواد زيات شمېر علمي، مسلکي او فني کادرونه راټول وو او هم هغه عام ولس، چې په ښارونو کې مېشته و. سره له دې چې جګړې افغانستان ډېر زيات ځپلی و، خو بيا هم مختلف وسله وال تنظيمونه ښارونو ته، په ناکنټروله ډول ورننوتل، نه يوازې دا چې په ښارونو کې درنه جګړه پيل شوه، بلکې په

شعوري او نا شعوري، قصدي او نا قصدي ډول پر لوټ، تالان او رنګونې هم لاس پورې شو. علمي مرکزونو هم په دې لړ کې دومره زیانونه وزغمل، چې تصور یې هم نه کېده.

په لویو ښارونو کې له هغې جملې په کابل ښار کې، چې تر ټولو نه زیات د درنو جګړو مرکز و، د اکثرو ښوونځیو، روزنیزو او علمي مرکزونو شتمني لومړی لوټ او بیا څه چې پاتې وو وسېزل شول. ښوونه او روزنه په ډېرو ولایتونو کې پر ټپه ودرېده. هغه ولایتونه چې د کابل د چارواکو په واک کې نه وو، د هغو ښوونځیو او نورو روزنیزو مرکزونو ته څکه پیسې نه ورکول کېدې، چې د دوی په اند هغه د دوی د مخالفینو په لاس کې وو او مخالفینو خو څکه ځانته مسوولیت نه راجع کاوه، چې ځان یې د یو تنظیم په توګه مطرح کاوه او د کابل د چارواکو په شان یې پر ځان د «اسلامي دولت» ماسک نه و غوړولی، نو څکه خو یې د ښوونځیو تمویل د دولت کار او مسوولیت ګاڼه. په دې پېر کې هېواد ته اساسي او ستر ګوزار همغه په ښارونو کې د درنو جګړو پیل و. کله چې د (۱۳۷۱ل) کال د غویي پر میاشت مختلف تنظیمونه ښارونو ته ننوتل، نو په هېواد کې د پخواني سیاسي، فکري او ان فزیکي نظام ټوله بڼه بدله شوه. د جګړې شدت، فکري اختناق، ترور، وژنې، نا امنۍ، اونامسوولیتۍ، په ډله ییز ډول د ښارونو وګړي دې ته مجبور کړل، چې خپل کورونه او دندې پرېږدي او د مهاجرت لاره ونیسي.

په دې بهير کې تر ټولو زيات زيان تحصيل کړو اشخاصو ته ورواوښت. د (۱۳۷۱ل) کال د غويي تر پېښې وروسته، چې څومره تحصيل کړو اشخاصو خپل هېواد پرېښود، پر بل هېڅ وخت د دې مهال په انډول دومره تحصيل کړي کسان او هغه هم له ښارونو او علمي مرکزونو څخه بل وخت نه وو وتلي. د هغو احصائيو له مخې چې د غربي راډيوګانو له خوا خپرې شوي، په دې څلور کلن ناورين کې څه دپاسه اتيا زره بې ګناه کسان په کابل ښار کې وژل شوي دي. دا هغه شمېر دی چې نړيوال سره صليب او نورو خيريه موسسو هم نشر کړی دی».[1] دغه راز ويل کېږي، چې پر دې وخت يوازې په کابل ښار کې تر (۲۰) زرو څخه زيات کورونه ړنګ کړای شوي او په لکونو افغانان د هېواد په داخل کې بېځايه شوي او بهر ته مهاجر شوي دي. په همدې لړ کې د مهاجرينو ستر کمپونه، د ننګرهار په لويو دښتو کې جوړ شول او هم ګڼ شمېر کورنۍ پاکستان او ايران ته مهاجرې شوې.

د ملګرو ملتو د کابل د (UNHCR) د ادارې د (۱۹۹۵م) کال د جولای-نومبر د يوې سروې له مخې د کابل ښار په سلو کې (۳،۴۸) کورونه ويجاړ شوي دي، سره له دې چې په دې پېر کې له بهر نه، په ځانګړي ډول له پاکستان او ايران څخه د افغانستان بېلابېلو سيمو ته زيات مهاجرين بېرته ستانه شوي خو له ښارونو څخه د علمي او مسلکي کادرونو د فرار بهير تر بل هر وخت څخه زيات ګړندی و. په همدې پېر کې د افغانستان منظم وسله وال پوځ، چې

[1] پوهنيار محمد نبي فراهي، هيله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۲ ګڼه، ۲۲مخ.

په عصري او مجهزو وسلو سمبال او له پوځي پلوه يو غښتلی پوځ و، په لسګونو زره مسلکي او تخنيکي کارکوونکي، افسران او کارپوهان يې درلودل اکثره بې برخليکه او له دندې ګوښه کړای شول.

تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه د افغانستان وسله وال پوځ په تېره بيا د ملي دفاع وزارت د پوځيانو شمېر يو لک تنو څخه زياتېده او که د هغه وخت د وسلوال پوځ نورې څانګې، ملي امنيت او څارندوی په پام کې ونيول شي نو دا شمېر ان څو لکو وسلوالو ته رسېږي.

تحصيلي او رزنيزې ادارې پر دې وخت ټولې رنګې بنګې او د ځينو تشکيلاتي حضور هم ختم کړای شو. راډيو ټلويزيون، ښوونې او روزنې، د ليکوالو، هنرمندانو او ژورناليستانو ټولنې، تر زياته بريده له منځه لاړې، چې وروسته به يې په جلا څپرکي کې يادونه وشي.

د هېواد او په تېره بيا د کابل ښار د لوړو زده کړو زياتره مرکزونه تر ډېرې مودې تړلي او له فعاليت لوېدلي پاتې شول. په دې واټن کې کابل پوهنتون (۱۸) مياشتې تړلی و، چې ټول تلف شوی وخت يې (د محصلينو د شمېر په انډول) ۲۱ مليونو درسي ساعتونو ته رسېږي. د کابل طب انستيتيوت، کابل پوليتخنيک هم لږ تر لږه لس لس مليونه درسي ساعتونه ضايع کړي دي. همدارنګه هوايي او حربي پوهنتونونه، د علومو اکاډمۍ، د پوليسو اکاډمۍ، د کابل پيداګوژي او د ښوونکو د روزنې (۱۴) بېلابېلې موسسې، تخنيکمونه او نورو، هم کادري او هم علمي زيانونه زغملي دي. له

دې ټولو علمي موسسو څخه د کادرونو تېښتې دوام وموند، له کابل پوهنتون څخه تقریباً (۱۰۰) تنه استادان دندې پرېښودو او مهاجرت ته اړ شول. د علومو اکاډمۍ تقریباً په سلو کې د (۲۵) برخې په شمېر علمي کادرونه له لاسه ورکړل، د راډیو ټلویزیون د هنري، تخنیکي او علمي کادرونو ضایعات تر ټولو زیات دي او همدارنګه د نورو علمي مرکزونو.

په دې پړاو کې، چې د پخوانیو کادرونو پرځای کوم نوي کسان وګومارل شول، هغه په هېڅ ډول د هغو پخوانیو ځای نه شو ډکولای. هغه افغانان چې پخواني رژیم د زده کړو لپاره بهرنیو ملکونو ته لېږلي وو او شمېر یې سلګونو نه، بلکې زرګونو ته رسېده، د دې حالت په راتلو سره خپل هېواد ته د بېرته ستنېدلو ټول خوبونه، تدبیرونه او خیالونه له سره وایستل. ځینې په همغو هېوادو کې پاتې شول او ځینو هم خپل تحصیل نیمګړی پرېښود او له هغو هېوادو څخه هم نورو هوسا ټولنو ته دتګ په لټه کې شول.

د دې پړاو بل رنځوونکی ګوزار دا و، چې افغانستان کې د هرې خبرې حل، د برچې په څوکې پورې وتړل شو، د منطق او استدلال جنازه بار شوه، تعلیم او تحصیل نه یوازې خپل مانیز ارزښت بایلود، بلکې مادي ملاتړ یې هم له لاسه ورکړ. په دې پړاو کې دا خبره عملي کېږي، چې څنګه قلم د کلاشینکوف پر وړاندې د ډوډۍ ګټلو په لوبه کې ماته خوري او علمي اشخاص مجبورېږي، خپل مسلک خوشې او د یوې مړۍ ډوډۍ د پیداکولو لپاره دویم، یا دریم کار ته لاس واچوي. کله چې یو مسلکي شخص له خپل آر

(اصل) مسلک څخه د ژوند د خروب لپاره دویم یا درېیم کار ته لاس اچوي، نو تر هر څه لومړی له خپل مسلک او ځانګې سره د ده په ذهني تراو کې یوه پوله رامنځته کېږي، ورو ورو ددوی ترمنځ اړیکي شلېږي، خپل مسلک سره بې تفاوته کېږي، بیا لرې کېږي، یانې دمسلک د پرېښودلو سبب یې کېږي او په دې ډول د یو مسلک او پوهې خاوند د وخت په تېرېدو سره پر یوه عادي شخص اوړي. د مسلک پرېښودل او یا د هغه د پرېښودلو د زیانونو کچه خورا لوړه ده. کوم مسلکي او علمي کادرونه، چې په هېواد کې پاتې وو او بهر ته د تګ وسه یې نه درلوده، د هغو اکثره د مسلک د پرېښودلو له امله، د مسلکي کادرونو له لیکې ووتل. په تېرو نظامونو او یا هم په سیاسي جریانونو کې د ځینو علمي او مسلکي کادرونو، د ذهني او عملي برخې اخیستنې له امله هم ډېر مسلکي اشخاص یا مهاجر شول او یا هم له دندې ګوښه کړای شول.

اقتصادي ستونزو او د پیسو انفلاسیون هم د علمي کادرونو او ثابت عایده خلکو نقدي پانګه وترورله، هغوی یې د پولۍ تېک ته کېنول. واکمنو د خپلې بقا لپاره په دې پړاو کې دومره پیسې چاپ کړې، چې ساری به یې نه یوازې زموږ په تاریخ، بلکې د وخت د انډول له مخې ((د نړۍ په تاریخ کې هم نه وي. د ځینو ارقامو له مخې د دې پېر چارواکو په څلورو کلونو کې (۸۰۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ کړي، چې سریال نمبر یې په بانک کې شته، پردې سربېره د نورو چاپ شویو پیسو اندازه (۱۷) زره ملیاردو افغانیو

تـه رسـېږي.))[1] ((د دې پېـر د حکومـت د (۱۳۷۳ل) کـال بودیجـه (۲۳۵) ملیارده افغانۍ ټاکل شوې ده، خو دولت یـوازې (۸۰-۹۰) ملیارده افغانۍ عاید ترلاسه کړای شول تر (۵۰۰) ملیـارده افغـانیو ځخه زیات لګښت یې د بودجې د کسر یانې د نوټونو پـه چاپ پـوره کړ))[2] دې پېر کې پیسې په شمېر نه، بلکې په ټنونو چاپ شوې، د یـوې فرضي او اټکلیـزې شـمېرنې لـه مخې د دې دورې ټـولې چاپ شـوې پیسـې (تـر (۱۳۷۵ل) کـال تلـې پـورې) تـر سـل زره ملیـارده افغـانیو هـم زیـاتی کـوي، کـه دا پیسـې د افغانسـتان پـر ټول نفـوس وېشل شوې وای نـو هـر افغـان تـه بـه پـه لکونو افغـانۍ ور رسـېدلی وای، خـو د دې پیسـو زیاتـه برخـه د جګـړې د دوام او د ځـاني ګټـو لپاره وکارېدله او همدا راز یې د هېـواد د وګـړو پـه تېـره بیـا د ثابـت عـایده دولتي مامورینو او علمي کادرونو نقدي زېرمه هم لـه منځـه یوړه. په دې پېر کې انفلاسیون تقریباً په سلو کې (زرځله) اوچت شو خو د دولتي مامورینو او مسلکي اشخاصو معاش ایله پـه سـلو کـې (۳۰-۳۵) اوچت کړای شو.

دغسـې اقتصـادي تنګسـیا هـم د ډېـرو تحصـیل کـړو اشخاصـو ژوند خپېټه او تریخ کړ، یا د مسلک او یا هـم د هېـواد د پرېښـودلو ته اړ شول.

هغو تحصیل کـړو اشخاصـو، دپلوماتـانو، متخصصـینو او نـورو مسـلکي اشخاصـو چـې پـه تېـر پـړاو کـې یـې پـه بهرنیـو هېـوادو او

[1] ډاکتر محمد اکبر، هیله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ ګڼه، ۲۷-۲۸مخونه.

[2] دافغانستان د بهرنیو چارو وزارت یو ګزارش، کابل، ۱۳۷۷ل کال

ملګرو ملتو کې د افغانستان په سفارتونو او نماینده ګیو کې کار کاوه، د نوي پړاو په راتګ سره، یو هم بېرته خپل هېواد ته رانغی او تقریباً ټولو په بهرنیو هېوادونو کې سیاسي پناه واخیستله.

د (۱۳۶۵ - ۱۳۷۱)ل کلونو په بهیر کې افغانستان د بهرنیو هېوادونو په دې ښارونو کې سفارتونه او نماینده ګۍ درلودې:

| | |
|---|---|
| ۱ | لندن |
| ۲ | روم |
| ۳ | پاریس |
| ۴ | صوفیه |
| ۵ | برلین |
| ۶ | بوداپست |
| ۷ | وارسا |
| ۸ | بلګراد |
| ۹ | بن |
| ۱۰ | پراګ |
| ۱۱ | عدن |
| ۱۲ | مسکو |
| ۱۳ | هاوانا |
| ۱۴ | پیکنګ |
| ۱۵ | اولان باتور |
| ۱۶ | ادیسه بابا |
| ۱۷ | هانوی |

۱۸ ډهلي
۱۹ کویټ
۲۰ طرابلس
۲۱ قاهره
۲۲ دمشق
۲۳ جاکارتا
۲۴ ډاکه
۲۵ توکیو
۲۶ تهران
۲۷ انقره
۲۸ ویانا
۲۹ اسلام اباد
۳۰ پیونګیانګ
۳۱ هراري
۳۲ بغداد
۳۳ په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان نماینده ګي
۳۴ په ژنیو کې نماینده ګي
۳۵ په بمبیي کې د افغانستان جنرال قونسلي
۳۶ په تاشکند کې قونسلي
۳۷ په مشهد کې قونسلي
۳۸ په کراچۍ کې قونسلي

| | |
|---|---|
| ۳۹ | په پېښور کې قونسلي |
| ۴۰ | په کویټه کې قونسلي [1] |

له دغو نماینده ګیو او سفارتونو څخه سربېره اټکل کولای شي چې څومره مسلکي کادرونه او تحصیل کړي اشخاص به په کې مصروف وو، هغوی ټولو له دې نوي پړاو سره د ذهني، فکري مخالفت او په هېواد کې د ګرمې جګړې له امله نورو هېوادونو ته پناه یوړه او په دې ډول افغانستان د یو زیات شمېر هغو دپلوماتانو له لرلو څخه هم بې برخې شو، چې کلونه کلونه یې پرې لګښت کړی و او بیا یې په عملي کار کې یو څه تجربه هم ترلاسه کړې وه.

دغه راز په دې پېر کې له بهرنیو چارو وزارت څخه هم (۲۵) تنه کارکوونکي، چې د ماسترۍ او لېسانس تحصیلي درجې یې لرلې، له دندو څخه ګوښه شوي دي.

سیمه ییزو، ژبنیو، فرهنګي، مذهبي، تنظیمي، سیاسي او ځینو نورو کینه ییزو قصدي هڅو هم، په دې پړاو کې له هېواد نه د مسلکي کادرونو په ایستلو کې اغېز درلود. د کار د اهلو او پوهو کسانو پرځای، پر سیاسي، ژبنیو، توکمیزو او نورومعیارونو د نا اهله کسانو ګومارل، بل هغه لام و، چې ګڼ شمېر روڼ اندي او مسلکي کسان یې مهاجرت ته مجبور کړل.

---

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل ۱۳۶۲ل کال، (۲۸۱-۲۸۲) مخونه.

د دې پېر پر وروستیو دوو کلونو (۱۳۷۳-۱۳۷۴)واکمنو ته له مخالفینو څخه، د کابل ښار ځینې برخې په لاس ورغلې، چې په هغو کې د کابل پوهنتون او طب انستیتیوت هم شامل وو. کابل پوهنتون چې په همدې پړاو کې د کابل د مرکزي برخو د چارواکو او د هغو د مخالفینو له خوا وران او ویجاړ شوی و، یو ځل بیا د سیاسي هدفونو مرکز وګرځېد، واکمنو هڅه وکړه، د پوهنتون د بیا رغونې په برخه کې چې د جګړې په ترڅ کې ورته تر (۵۰) ملیونه ډالرو زیات زیان اوښتی و، یو څه لګښت وکړي. له ځینو پوهنځیو پرته چې ډېر دروند زیان ورته اوښتی و، د پوهنتون د فزیکي بیا رغونې کار تقریباً په سلو کې (۷۵) ترسره شو.

په همدې پړاو کې هڅه وشوه، چې یو شمېر نوي کسان هم د پوهنتون علمي کادر کې شامل شي. په مجموعي ډول په دې پړاو کې د هېواد د محصلینو او استادانو شمېر په دې ډول دی:

((پر (۱۳۷۱ل) کال کابل پوهنتون په خپل ورځني تایم کې (۹۷۷۵) تنه محصلین او مازیګرني تایم یا شپې پوهنځیو کې (۱۱۰۲) تنه درلودل، اسلامي پوهنتون (۹۰۸) تنه، ننګرهار پوهنتون (۱۵۱۴) تنه، بلخ پوهنتون، (۱۱۲۸) تنه ، هرات پوهنتون (۵۲۵) تنه او کابل پولیتخنیک (۲۸۷۹) تنه محصلین درلودل.

پر ۱۳۷۲ل کال د کابل پوهنتون ټولو محصلینو شمېر (۱۱۲۷۷) تنه، د ننګرهار پوهنتون (۷۴۷) تنه، د هرات پوهنتون

(۸۷۴) تنــه، د کابــل پولیتخنیــک (۱۲۱۳) تنــه د بلــخ پوهنتــون (۱۷۱۸) تنه و.

پر ۱۳۷۳ل کال دا شمېر کابل پوهنتون (۱۰۱۷۵) تنه، ننګرهار پوهنتــون (۹۸۲) تنــه، کابــل پولیتخنیــک (۱۲۵۲) تنــه او د بلــخ پوهنتون (۱۸۱۰) تنه و.))[1] د استادانو ټول شمېر (۷۳۱) تنه و.

پر (۱۳۷۴ل) کال کابل پوهنتون د محصلینو شمېر (۵۵۷۱) تنه (ورځ)، (۱۴۰۲) تنــه د شــپې پوهنځیــو، (۱۲۵۲) تنــه د ننګرهــار پوهنتــون، (۹۲۵) تنــه د هــرات پوهنتــون، (۲۹۲۰) تنــه د کابــل پولیتخنیــک، ۱۱۱۲ تنــه دکابــل پیــداګوژۍ د انســتیتیوت محصلین وو.

د هېواد له نورو علمي مرکزونو څخه کابل پوهنتون ته د واکمنو پاملرنه زیاته وه، کېدی شي سیاسي لامل په کې زیات اغېز ولري.

هغه پاملرنه چې کابل پوهنتون ته وه، بل هېڅ علمي او روزنیز مرکز ته نه وه، که په ټولیز ډول د دې دورې په باب خبره مطرح کېږي، نو سړی ویلای شي، چې د افغانستان په تاریخ کې نه یوازې له سیاسي، اخلاقي، اقتصادي او امنیتي پلوه دا دوره یو ډېره کرغېړنه دوره وه، له علمي پلوه هم د افغانستان د علمي کادرونو او علمي مرکزونو لپاره یوه تباه کوونکې او وژونکې دوره ګڼل کېږي.

---

[1] سالنامه احصائیوي، ۱۳۷۲-۱۳۷۳کلونه.

# پنځم پړاو

## (۱۳۷۵ل تله- ۱۳۷۸ل وری)

دا پړاو پر داسې وخت پیل شو، چې تر دې دمخه ځلورنیم کلنې انارشۍ د ټول هېواد د ژوند رګونه نیولي وو. کابل په وینو کې غوټې وهلې او نور ښارونه ورځ پر ورځ پر یوه مړاوي او مړژواندي برخلیک اخته کېدل. د ښارونو، کلیو او بانډو ټول اوسېدونکي، د لوټ، تالان، بدلمنۍ، جګړې، وژنې او ورانۍ له ګوزارونو څخه ستړي شوي او تر پوزې راغلي وو، ټول د یو ژغورندویه الهي ځواک په هیله وو. د ډېرو په سترګو یوازې تیاره ښکارېدله او د رڼا څرک نه لګېده. په پای کې داسې یو ځواک پیدا شو، چې پخواني ټوپکیان یې ټول له یوې مخې پسې په مخه کړل، له کلیو او ښارونو یې وشړل او وسلې یې ترې راټولې کړې. د (۱۳۷۵ل) کال د تلې پر (۵)مه نېټه دې ځواک د کابل پخوانۍ جنجالیزه اداره راوپرځوله او خپله د واک پر ګدۍ کېناست. خلک چې له جګړو بې حده زیات ستړي شوي وو، د نوي ځواک راتګ او بري ته یې هر کلی ووایه! نوي ځواک که هر څومره سوله او امن ټینګ کړل او خلک یې د

وېرې او ډار له څپو څخه ډاډمن او ارام حالت ته راوګرځول، خو دا ارامي له یو لړ داسې بندیزونو سره مله شوه، چې ورو ورو د ډېرو خلکو د ذهني ستړیا سبب شوه. له مذهب نه یو بل ډول ځانګړي تعبیر، د سیاسي افکارو څارنه، د ازاد فکر د وزرونو تړل، ډول ډول بندیزونه او نور فشارونه د دې سبب شول، چې د واکمنو او تر حکم لاندې اشخاصو، په تېره بیا د پخوانیو دولتي کارکوونکو ترمنځ یو ډول واټن څرګند شي. د دې پړاو په بهیر کې یو ځل بیا د ښار تحصیل کړي قشر یوه ډله مهاجرت ته اړ شوه او د ډول ډول بندیزونو تاب یې رانه وړای شو. په دې دوره کې پر ښځینه تحصیل کړي او تحصیل کوونکي قشر د لګول شوي بندیز له امله ډېرو خپله دنده له لاسه ورکړه او نورې یې له تحصیل څخه (پر دې مهال) بې برخې شوې، ویل کېږي چې تر دې دورې دمخه په ټول دولتي جوړښت کې د ښځینه کارکوونکو شمېر تر (۴۰) زرو تنو پورې رسېده. سره له دې چې دې ښځو ته هماغه پخوانی معاش ورکول کېږي، د دې کتاب د چاپ پر مهال معاش ورکول کېده خو وروسته بیا پرې دا معاش هم بند شو. خو د چټک انفلاسیون په وجه د هغو د معاش ارزښت په نشت حساب دی. هغه تحصیل کړې ښځې، چې د ازاد ښاري کلتور په رڼا کې یې خپل ژوند اوډلې او عیار کړی و، له دې نویو بندیزونو سره یې کلتوري او ذهني پیوستون رانغی او د هېواد پرېښودو ته اړې شوې. دغه راز په دې بهیر کې واکمنو په

پخوانیو دولتونو کې د ځینو مامورینو او دولتي کارکوونکو د دریغ پلټنه هم پیل کړه او هم یې د ځینو اشخاصو او مسلکي کادرونو فکري لوري او د تحصیل ځایونه وڅارل او په نښه کړل. د دې ترڅنګ چا چې په تېرو کمونیستي رژیمونو کې، په هر نامه کوم ستاینلیک یا مډال اخیستی و، د هغو څارنه هم وشوه، هغه شمېر تحصیل کړي اشخاص چې د تېرو نظامونو له خپو نه په یو نه یو ډول تر دې دمه په خپلو ځایونو کې پاتې وو، یو ځل بیا له ګواښ سره مخامخ شول. په دې ترڅ کې اکثره وزارتونه وپلټل شول او هغه کسان، چې له نویو وضع شویو مادو څخه په یوه هم برابر نه وو، د «نامطلوب» په نامه له خپلې دندې ګوښه شول، په اکثرو وزارتونو کې دا کار وشو، خو په لویه څارنوالۍ او عدلیه وزارت کې د دې تصفیې کچه ډېره زیاته وه. په بهرنیو چارو وزارت کې (۳۴) تنه کارکوونکي، چې دوکتورا، ماسټري او لیسانس ډپلومونه یې لرل، له خپلې دندې منفک شول. د لوړو زده کړو له وزارت څخه د لوړو زده کړو د موسسو (۱۱۷) تنه استادان نامطلوب وګڼل شول، چې په دې کې (۵۳) تنه د کابل پوهنتون استادان وو. وروسته بیا پر دې «نامطلوبو» کسانو یو ځل بیا غور وشو، چې د کابل پوهنتون له (۵۳) نامطلوبه کسانو څخه (۲۸) بېرته «مطلوب» او (۲۵) نامطلوب وګڼل شول او له دندې ګوښه کړای شول. په دې موده کې د کابل پوهنتون د محصلینو شمېر تقریباً (۳) زرو تنو ته رسېده. د

همدې پېر د دوو کلونو د فارغانو شمېر هر کال تقریباً (۴۰۰) تنو ته راتیتې شو. ځینو استادانو له سیاسي او فکري کیس پرته، خپله له پوهنتون سره علاقه وشلوله. پر دې کلونو په ځینو ولایتونو، لکه کندهار، ننګرهار، هرات او بلخ کې هم پوهنتونونه فعال وو. له طب او پیداګوژۍ پرته پر (۱۳۷۲ل) کال د ننګرهار پوهنتون استادانو، محصلینو او څانګو شمېر په لاندې ډول دی.

| ګڼه | پوهنځي | استادان | محصلین | څانګې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | انجنیري | ۱۵ تنه | ۲۰۰ تنه | ۳ |
| ۲ | کرنه | ۲۰ تنه | ۸۷ تنه | ۳ |
| ۳ | تعلیم او تربیه | ۱۸ تنه | ۲۷ تنه | ۳ |
| ۴ | ادبیات | ۱۴ تنه | ۲۸ تنه | ۳ |
| ۵ | اقتصاد | ۱۲ تنه | ۹۴ تنه | ۲ |
| ۶ | شرعیات | ۱۸ تنه | ۵۲ تنه | ۳ |
| ۷ | وترنري | ۳ تنه | ۷۲ تنه | ۱ |

((پر دې کال ننګرهار پوهنتون له طب او پیداګوژۍ پرته (۱۰۵) تنه استادان، ۲۲۲ تنه محصلین او ۲۱ څانګې لرلې او له ۱۳۵۷ل کال راپه دېخوا یې په ټولیز ډول (۲۳۲۲) تنه انجنیران،

متخصصین، ښوونکي او دیني عالمان ټولنې ته وړاندې کړي دي.))[1]

پر (۱۳۷۷ل) کال د ننګرهار پوهنتون دوه تنه استادان هم ووژل شول او له دې سره د پوهنتون د استادانو یوه ډله پېښور ته مهاجره شوه، چې ځینې یې بېرته ستانه شول او ځینې یې پاتې شول.

په دې پړاو کې د افغانستان په دولتي جوړښت کې یو چورلټ شکلي بدلون پېښ شو. مسلکي او حرفه یي زده کړې په دولتي جوړښت کې د ګومارنې او په تېره بیا په لوړو پوستونو کې د تقرر عامل ونه ګڼل شوې، بلکې په دولتي چارو کې د استخدام تګلوری او واک په یوه مشخص فکري ګروپ پورې وتړل شو. داسې ښکاري چې تر عمومي مدیریت پورې ټول لوړ پوستونه د همدې ځانګړې ډلې د غړو او یا هم د هغې د نږدې پلویانو لپاره مختص شوي دي. په یوه دولت کې د دوو ډولونو معاشونو دودېدل، چې د افغانستان په ټول دولتي جوړښت کې یې بېلګې نه شته، هم د عامو دولتي کارکوونکو، په تېره بیا د مسلکي کادرونو او واکمنو ترمنځ د زړونو او ذهنونو فاصله زیاته کړه. ذهني، ذوقي، سلیقه یي بندیزونه او دغه راز وچ حاکمیت هم په دې پړاو کې د مسلکي کادرونو د فرار بل عامل و.

[1] پوهاند غونچه ګل حبیب ساپی، ننګرهار مجله، ۱۳۷۷ل کال، ۴ګڼه، ۲۲ مخ.

د هېواد په داخل کې د مسلکي کادرونو فرار او تېښتې او نورو ډول ډول نیمګړتیاوو سره سره په دې پړاو کې اساسي او بنسټيز کار دا وشو، هغه سیمې چې د دې مشخص تحریک په لاس کې کېوتې، هلته بشپړ امن تامین شو او له امن سره په لومړي ګام کې په بشپړه توګه د هېواد د فزیکي ویجاړۍ مخه ونیول شوه او همدا راز د بیا رغونې او زرغونولو کار هم ورو ورو پیل شو. د (۱۳۷۱-۱۳۷۵) پړاو په بهیر کې په ټول هېواد کې داسې یو لوټ او تالان ګډ و، چې که تراوسه یې دوام موندلی وای، نو په ټول هېواد او په تېره بیا په کابل کې به هېڅ هم پاتې نه وو، خو د پنځم پړاو واکمنو ستر انساني او هېوادنی رسالت ترسره کړ، د هېواد د تجزیې خطر یې پر اوسمهال محوه او یا هم ډېر کمزوری کړ او په نیول شویو سیمو کې یې د نورې ورانۍ او ویجاړۍ مخه ونیوله. په همدې وجه د دې پېر په بهیر کې ګڼ شمېر افغان مهاجرین له پاکستان او ایران څخه بېرته خپل هېواد ته ستانه شول. په ستنو شویو افغانانو کې د تحصیل کړو افغانانو شمېر خورا لږ دی، اکثره لوستو افغانانو د خپل هېواد پرځای، نورو هېوادونو ته مخه کړه او په دې ډول د ټولې غمیزې په بهیر کې د نړۍ یو زیات شمېر هېوادونو کې مېشته شول. اوس به د نړۍ ډېر کم هېوادونه پیدا شي، چې هلته دې افغانانو د خپل ژوند د پاتې برخې د تېرولو لپاره سر نه وي ښکاره کړی، خو په ټولیز ډول له هغو هېوادونو څخه چې ګڼ شمېر افغانانو ورته پناه وروړې ده ددغو هېوادونو نومونه اخیستلای شو: پاکستان، ایران، هالند ،فرانسه، ډنمارک، استرالیا، ناروې،

سویډن، سویس، ایټالیا، بلجیم، هندوستان، کاناډا، امریکا ځینې عربي هېوادونه، ترکیه، چک، سلواک، نوی زیلانډ د پخواني شوروي ځینې جمهوریتونه او داسې نور هېوادونه. د یادونې وړ ده چې دې هېوادونو ته اکثره تحصیل کړو افغانانو پناه ور وړې ده او ځینو یې بیا خپلې کورنۍ هم له ځان سره وړې دي. د یو تحصیل کړي افغان عبدالمالک بېکسیار په وینا، چې په ډنمارک کې اوسېږي، لږ تر لږه ډنمارک ته تراوسه پورې (دوه زره) افغانانو پناه وروړې ده، په دې دوه زره کسانو کې د اټکل له مخې تر (۵۰۰) تنو پورې انجنیران، ډاکتران او په بېلو بېلو څانګو کې د لوړ تحصیل خاوندان دي.

د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې د غمیزې له پیل نه تراوسه پورې د مېشتو افغانانو د دقیق شمېر جاج معلوم شوی نه دی، ځکه چې لا اوس هم افغانان د ورتګ په حال کې دي او یا هم له یو هېواد څخه بل هېواد ته ځي او د تحول په حال کې دي، خو د ملګرو ملتو اداري (UNHCR) له (۱۹۸۰-۱۹۹۹) پورې په پاکستان، ایران، هند، روسیې او د منځنۍ اسیا په هېوادونو کې د افغان مهاجرینو هغه شمېر خپور کړی، چې له دوی سره په بېلابېلو وختونو کې ثبت شوي دي. د دې شمېر څرنګوالی په دې ډول دی:

| کال | پاکستان | ایران | هند | روسیه | قزاقستان | گرجستان | تاجکستان | ترکمنستان | ازبکستان | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۸۰ | ٤۰۰،۰۰۰ | ۲۰۰،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | - | ٦۰۰،۰۰۰ |
| ۱۹۸۱ | ۱،٤۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | - | ۱،۹۰۰،۰۰۰ |
| ۱۹۸۲ | ۳۷۵،۰۰۰ | ۸۰۰،۰۰۰ | ۳۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۳،۱۷۸،۰۰۰ |
| ۱۹۸۳ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ٤۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۳،۹۰٤،۰۰۰ |
| ۱۹۸٤ | ۲،۸۰۰،۰۰۰ | ۱،۵۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٤،۳۰۵،۰۰۰ |
| ۱۹۸۵ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۱،۸۰۰،۰۰۰ | ٦۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٤،۷۰٦،۰۰۰ |
| ۱۹۸٦ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۲،۰۰۰،۰۰۰ | ٦۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٤،۷۰٦،۰۰۰ |
| ۱۹۸۷ | ۲،۸۷۸،۰۰۰ | ۲،۲۲۱،۰۰۰ | ٦۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۵،۱۰۵،۰۰۰ |
| ۱۹۸۸ | ۳،۱۵٦،۰۰۰ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۵،۸٦۱،۰۰۰ |
| ۱۹۸۹ | ۳،۲۵۵،۰۰۰ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٦،۱٦۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹۰ | ۳،۲۷۲،۰۰۰ | ۲،۹٤۰،۰۰۰ | ۸۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٦،۲۲۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹۱ | ۳،۱۸۵،۰۰۰ | ۳،۰۰۰،۰۰۰ | ۱۲،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٦،۱۹۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۲ | ۳،۰۷۷،۰۰۰ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۱۰،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۵،۹۸۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۳ | ۱،٦۲۷،۰۰۰ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۱۱،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ٤،۳۵۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹٤ | ۱،٤۷۷،۰۰۰ | ۱،۸۵۰،۰۰۰ | ۲٤،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۳،۳٦۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۵ | ۱،۰۵۳،۰۰۰ | ۱،٦۲۳،۰۰۰ | ۲۲،۰۰۰ | - | - | - | - | - | - | ۲،۷۱۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹٦ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،٤۲۰،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲،٦۹۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۷ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،٤۰۰،۰۰۰ | ۱۹،۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲،٦۷۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۸ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،٤۰۰،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۳۰۰۰ | ۲،٦۷۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۹ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،٤۰۰،۰۰۰ | ۲٤،۰۰۰ | ٤۰۰ | ٦۰۰ | ٦۰۰ | ۳٦۰ | ۱۰۰ | ۳۷۰۰ | ۲،٦٤۹،۰۰۰ |

په روسیه کې (۱۲۰۰۰) تنه افغانانو یوازې سیاسي پناه غوښتې ده، خو اټکل (۱۵۹) زره تـه افغانـان د روسـیې پـه فیډریشـن کـې اوسېږي.[۱]

په ټولیز ډول د دې پړاو په باب سرې ویلی شي، چې دا دوره هم لکـه څنګـه چـې ځینـې تحصـیل کـړي او مسـلکي کادرونـه او فنـي کـارکوونکي پـه کـې ((نـامطلوب)) وګڼـل شـول، همداسـې د هېـواد تحصـیل لرونکـي قشـر تـه ((نامطلوبـه)) دوره وه. پـه دې دوره کـې د روزنیـزو، ښـوونځیو او نـورو کلتـوري مرکزونـو د ودانیـو فزیکـي اعمار ته زیان ونه رسېده او د هغـو د ساتنې هڅه وشوه، خو البتـه ځینـې ښـوونځي، روزنیـز او علمـي مرکزونـه لـه مشـخص مـرام، نصاب او تګلارې څخه واړول شول او د یو بـل ډول درسـي نصـاب تـابع شـول. د درسـي نصـاب ګـډوډول، یـوه هغـه سـتره روزنیـزه او ښوونیزه ستونزه ده چې پـه تېـرو کلونـو کـې زمـوږ د هېـواد تعلیمـي سیستم ورسره لاس او ګرېوان و او پـه نـږدې راتلـونکي کـې هـم د یـو واحـد معیـاري تحصـیلي او تعلیمـي نصـاب رامنځتـه کېـدل یـو ستونزمن کـار ښـکاري. (۱۳۷۵-۱۳۷۸) کلونـه د هېـواد د زیـاتې برخې لپاره د امن او سولې په برخه کې برياوې، خو د روزنیزو چـارو په برخه کې نیمګړتیاوې او ان پر شاتګونه لري.

[۱] Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, February ۱۹۹۹, Page ۱۳

# د ارزښتونو کمزوري کېدل او د فرار ګړندي کېدل

افغانستان ته د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې ډول ډول درانه زیانونه اړول شوي دي. د ټولنې کلتوري استحکام او ارزښتونو ته هم دومره زیانونه ور واړول شول، چې ډېرې برخې یې کمزورې شوې، ځینې یې کم ارزښته او ځینې یې وپاشل شوې. د غمیزې په لومړي پړاو کې د یو فکر او عقیده یي معیار له مخې دواړو غاړو جګړې ته ملا وتړله. ذهني جګړه په ګرمۍ پیل او ورپسې فزیکي جګړه توده شوه. په لومړي پړاو کې دواړو غاړو د خپل فکري ښوونځي تر سیوري لاندې ځان حق په جانب ګاڼه او تر یو ډول رواني ډاډ لاندې یې جګړې ته دوام ورکاوه. په دې پړاو کې چې څه تحصیل کړي اشخاص هېواد پرېښودلو ته اړ شوي وو، نو زیاتره په پاکستان او ایران کې مېشته وو، یو ډېر کم شمېر یې نورو هېوادونو ته پناه ور وړې وه. د شوروي په یرغل سره، چې څپې څپې افغانان او په هغو کې تحصیل کړي اشخاص پاکستان او ایران ته مهاجر شول، نو بیا هم د جګړې، قربانۍ او د هېواد د خپلواکۍ روحیه ډېره پیاوړې لاڅه چې اورنۍ شوه. خپل هېواد او اسلام سره مینه په څپو وه او هغو ته ټول په ډېر لوړ ارزښت یاني د ژوند د قربانۍ په بیه قایل وو، ځکه نو د پردیو پر وړاندې د افغانانو د

مبارزې مورچل له فکري، رواني او عقیده یي پلوه ډېر غښتلی و. په دې پېر کې هم، افغانان د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې خواره شول، د خورېدو یو علت یې هم دا و، چې اکثرو جهادي تنظیمونو هلته دفترونه پرانیستي وو او د شوروي پر ضد، د مبارزې لپاره د مرستو راټولولو په لټه کې وو. ډېر کم شمېر افغانان په دې نیت ورغلي وو، چې هلته دایمي پناه واخلي او د هغه ځای تابعیت ومني.

اکثرو افغانانو ته دا خبره بېخي شرم او ننګ ښکارېده چې څنګه خپل قومي او ملي هویت پرېږدي او د بل هېواد تابعیت ومني، سره له دې چې پر هغه وخت د زیاتو تحصیل کړو او ان عادي افغانانو لپاره د دې خبرې امکانات وو، چې دوی د همغو لویدیزو هېوادونو په لګښت هلته لاړ شي او بیا هلته ومنل شي. داسې انګېرل کېږي، چې لویدیزوالو دا ګڼله، چې د شوروي تر وتلو وروسته باید واک داسې یوې ډلې یا اشخاصو ته ولېږدول شي، چې د لویدیځ پلویان وي. نو له دې کبله یې زیات شمېر تحصیل کړو افغانانو ته خپله غېږه خلاصه کړې وه او د پناه امکانات یې ورته برابر کړي وو. هغوی غوښتل چې له همدغو افغانانو څخه په راتلونکي کې د حکومت جوړولو د عملي ځواک په توګه ګټه پورته کړي. هغه وخت دا فکر او اټکل نه کېده، چې شوروي اتحاد دې په دې بڼه وپاشل شي او بیا دې دومره ذلیل شي، چې د خپل ځان د راټولولو وس دې هم پیدا نه کړي او افغانستان دې خپل هغه پخوانۍ سیاسي او پوځي ارزښت بایلي.

سره له دې چې پر دې وخت د یاد وړ افغانان لویدیځ ته مهاجر شـول، خـو اکثـرو د خپـل هېـواد د ازادۍ لپـاره شـپې او ورځـې شمېرلې او له رواني او فکري پلوه په دې فکر کې نه وو، چې دوی به په لویدیځ کې پاتې کېږي او د هېواد راتلونکي شرایط به د دوی د راتګ مخه نیسي او یا به هم داسې حالت راځي، چې د دوی هغه پخوانۍ ولولې مړاوې او ځینې نور ارزښتونه کمزوري کړي.

په بل پړاو کې چې د شوروي لښکرې له افغانستان څخه وایستل شوې، د جګړې عقیده یي لوری هم ورو ورو بدلېده او هغه پخوانی ځواک او جوش یې ورو ورو له لاسه ورکاوه. خو دې پېر کې بیا هم لویدیځ ته د تحصیل کړو اشخاصو د بهیر لړۍ تمه نه شوه. پاکستان د دې ډول اشخاصو د تګ لپاره مناسب ځای و، له همدې ځایه اکثرو افغانانو غرب ته پناه یووړه، په دې پېر کې هم ځینو هغو روڼ اندو تحصیل کړو اشخاصو چې پخوا یې د ((کمونستي نظام)) پر ضد جګړه کوله، ورو ورو یې هغه پخوانۍ ولوله او رواني ډاډ کمزوري کېدل، نو ځکه خو له یو سترې ژوند څخه د یو ارام ژوند په لټه کې شول. د فزیکي ارامتیا لپاره ورته نو تر لویدیزو هېوادونو نوره غوره ټولنې په نظر نه ښکارېدې.

سره له دې چې عقیده یي او کلتوري جوړښت یې د هغو ټولنو تر وګړو هم افراطي بڼه لرله، چې دوی یې پرضد جګړه کوله. پر دې ټولنو واکمن فکري تګلوری او کلتوري فضا نه یوازې دا چې د افغاني ټولنې له عقیده یي جوړښت او کلتوري رغښت سره اړخ نه لګاوه، بلکې دواړه سره په رنګ او مانا کې تضاد هم لري. پر دې

وخت چې کومو سیاسي تحصیل کړو اشخاصو غرب ته پناه یوړه نو هغوی پر خپل ایډیال نظام او د هغه پر بري بې باوره شان ښکاریدل او یا هم کېدی شي وویل شي، چې د شعار او عمل ترمنځ یوه تېر ایستونکې پرده موجوده وه او د عام ولس د ذهن او سترګو لید تردې پردې اخوا د واقعیت د لیدلو ځواک نه درلود.

په څلورم پړاو کې چې د کابل د پخواني نظام د تخت تختـه واړول شوه، په اصطلاح نوی «اسلامي نظام» رامنځته شو، نو د دې نوي نظام د ناوړه کړنو په نتیجه کې ټولو هغو عقیده یي او ملي ارزښتونو ته زیان واوښت، چې (۱۴) کاله زموږ ولس د هغو د ګټنې لپاره جګړې او مبارزې ته هڅول شوی و.

د اسلام په نوم داسې اسلام ضد کارونه وشول، چې چا یې تصور هم نه کاوه، دې سره هم د جګړو له وېرې او هم د پخوانیو حسابونو د تصفیې له ډاره، د پخواني حکومت ګڼ شمېر کادرونه او نور علمي اشخاص، له افغانستان څخه ووتل او لویدیځ ته یې د پخواني حکومت د غړو او کار کوونکو په توګه پناه یوړه. تر دې دمخه چې به څوک لویدیځ ته تلل، نو د سیاسي کیس د منلو وجه به یې له کمونستي رژیم سره د مخالفت مساله وه، خو تر دې وروسته له بنسټپالو سره مخالفت او وېره د منلو عامل وګرځېد. کمونیزم پلوه اشخاصو کې داسې کسان هم شته، چې پر خپل وخت یې زموږ ډېر هېوادوال د «امپریالیزم» د ګوډاګیانو، زامنو او لاسپوڅو په نامه له دندو ګوښه کړي، زنداني کړي، توهین کړي او وژلي دي. تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته د جګړو پرله پسې دوام د

ښارونو لوټونه، ورانونه او عامه وژنه د دې سبب شول چې پخواني جهادي تنظيمونه هم خپل پخوانی حيثيت او ارزښت بايلي.

پر دې وخت ټول هغه ارزښتونه، چې په تېرې لسيزې کې زموږ د ولس دواړه خواوې د هغو د ساتنې او پالنې لپاره جګړې کې راښکېل شوي وې، له منځه لاړل، په دې پړاو کې نور په لويديځ کې د پخوانيو ((مجاهدينو)) په انډول دې نويو ((ملحدينو)) ته هلته د منلو شرايط اسانه وو.

د ژوند ستونزې هم ورځ پر ورځ دومره زياتېدې، چې ډېر کسان يې دېته مجبورول، چې لويديزو هېوادونو ته پناه يوسي. داسې کسان هم پر دې وخت لويديځ ته د تګ پر لاره ليدل شوي، چې پخوا يې تصور هم نه کاوه.

د دې پړاو په بهير کې په لکونو افغانان نورو هېوادونو ته مهاجر شول. وروسته وروسته چې شرايط نور هم سخت شول او په هېواد کې د خدمت ټول امکانات تر ډول ډول ګردونو لاندې راغلل او د محوه کېدو تر بريده ورسېدل، نو ډېرو افغانانو په ځانګړي ډول تحصيل کړو اشخاصو ته ښکاره ډاډ پاتې نه شو.

پر راوروستو وختونو لويديزو هېوادونو ته د تګ شرايط ډېر سخت شول، خو بيا هم ورتلونکو افغانانو ډول ډول ستونزې وزغملې او د خپلې شخصي پانګې او يا هم په لويديځ کې د خپلو دوستانو په مالي مرستې يې ځانونه هلته ورسول او دا لړۍ لا دوام لري. دا چې د دې افغانانو مهاجرت افغانستان ته څومره زيان دی

او که نه؟ ایا دا خلک به بېرته خپل هېواد ته راشي او که نه؟ په دې باب به وروسته یو اټکليز نظر وړاندې کړو.

دې پورتنیو ګڼو لاملونو زموږ د هېواد زیات تحصیل کړي اشخاص او علمي کادرونه مهاجرت ته اړ کړل، اوس د هېواد هر علمي، هنري، روزنيز او ښوونيز مرکز نه زیات شمېر علمي او خپل ضروري پرسونل کډه کړې ده. موږ به دلته د هېواد د دې ډول علمي، فرهنګي او هنري مرکزونو له جملې څخه پر یو یا څو مرکزونو او د تللو علمي کادرونو پر څومره والي لږه رڼا واچوو.

# د افغانستان راډیو ټلویزیون

د نـــورو فرهنګـــي، هنـــري او روزنیـــزو مرکزونـــو ترڅنـــګ د افغانستان راډیو او ټلویزیون ته هم ډېر زیانونه اړول شوي دي. له (۱۳۵۷ل) کال نه تر (۱۳۷۱ل) کال پورې د افغانستان د راډیو او ټلویزیـون پـه بېلابېلـو برخـو کـې زیـات پرمختګونـه او بدلونونـه رامنځتـه شـوي وو. پـه دې دوره کې راډیـو او ټلویزیـون څـه فزیکي زیانونه او د ویجاړۍ ګوزارونه نه وو لیدلي. پر کابـل سربېره پـه یـو شمېر ولایتونو کې هم راډیويي او ټلویزیوني دستګاوې فعـالې او د نصبېدو په حال کې وې، خو بیا هم د واکمن سیاسي فکر او د هغـو د ځینـو چلنـدونو لـه املـه راډیـو ټلویزیـون، خپـل ځینـې تخنیکـي پرسونل له لاسه ورکړ. پر (۱۳۷۱ل) کال، چې پر کابل او ټول هېـواد کومه وبا خپره شوه، نو د هغې په ترڅ کې راډیو ټلویزیـون هم بې شـمېره زیانونـه وزغمـل. پـه مجموعي ډول د راډیـو ټلویزیـون ټولـو برخـو او تاسیسـاتو د (۳۰۰) ملیونـو ډالـرو پـه شـاوخوا کـې زیـان زغملـی دی. د پرسـونل لـه مخـې هـم پـه دې دوره کـې د راډیـو ټلویزیـــون ګـــڼ شـــمېر وینـــدویان، ژورنالیســـتان، تخنیکـــي کارکوونکي، انجنیران او هنرمندان مهاجرت ته اړ شول، ورپسې د ۱۳۷۵ل کال د تلې د شپږمې نېټې بدلون راغی، دې سره ټلویزیـون چورلټ بند شو او پاتې پرسونل یې هم څـه منفـک او څـه هم مهـاجر شو. په دې دوره کې بیا هم راډیو ټلویزیـون د پرسـونل لـه مخـې ډېر

زیات زیانونه ځکه وزغمل چې نویو قوانینو کې هغو ته د فعالیت هېڅ ځای پاتې نه و، په ځانګړي ډول سندرغاړو او د ځینو برخو هنري پرسونل ته. د (۱۳۷۸ل) کال په پیل کې د راډیو ټلویزیون ځینو کارکوونکو په دې تېرو بېلابېلو دورو کې د پرسونل له پلوه د راډیو ټلویزیون د ضایعاتو فیصدي دا ډول ښودلې ده:

له (۱۳۵۷-۱۳۷۱ل) کال پورې، په راډیو او ټلویزیون کې (۷۰) په سلو کې ویندویان، (۷۰) په سلو کې د موسیقۍ هنرمندان، (۸۰%) ژورنالیستان، (۹۰ %) د تیاتر هنرمندان او (۹۰ %) تخنیکي پرسونل پاتې و او نور یا زنداني شوي، یا یې دنده خوشې کړې، یا مهاجرت ته اړ شوي او ځینې یې مړه شوي هم دي.

له (۱۳۷۱-۱۳۷۵) پورې (۱۰%) ویندویان، (۲۰%) تیاتر هنرمندان، (۱۰%) موسیقۍ هنرمندان، (۲۰%) ژورنالیستان او (۱۰%) تخنیکي پرسونل پاتې وو او نورو راډیو ټلویزیون کې دنده خوشې کړې وه.

له (۱۳۷۵ل) کال څخه تر (۱۳۷۸ل) کال پورې (۳٪) ویندویان، (۲٪) تیاتر هنرمندان، (۵٪) ژورنالیستان او (۳٪) تخنیکي پرسونل پاتې وو او نور ضایعات لري.

دلته به د راډیو ټلویزیون د تخنیکي، هنري او ژورنالیستیک پرسونل د ځینو مشهورو اشخاصو نومونه واخلو، چې په دې تېرو پړاوونو کې یا منفک شوي، یا یې راډیو تلویزیون پرې ایښی او یا مهاجر شوي دي.

# ویاندان (نطاقان)

۱ - سیف الرحمن ابراهیم خېل
۲ - غلام نبي پاکتین
۳ - سهیلا حسرت ناظیمي
۴ - ثریا خادم
۵ - تورپېکۍ خادم
۶ - رشاد بهیر
۷ - عبدالله شادان
۸ - سیما شادان
۹ - ډاکتر حیدر یوازې
۱۰ - فریده انوري
۱۱ - کریمه طهوري
۱۲ - ذکیه کهزاد
۱۳ - زیبا خادم
۱۴ - عبدالغفور ویاند
۱۵ - سیدافضل اکبر
۱۶ - ډاکتر حسن شینواری
۱۷ - محمدعارف همدم
۱۸ - عنایت شریف
۱۹ - عبدالهادي شکور
۲۰ - وکیل احمد ابوي
۲۱ - خطاب عمر
۲۲ - عبدالطیف ستانیکزی

۲۳ - محمداغا الکوزی
۲۴ - حسیب خاورې
۲۵ - لطیفه کبیر سراج
۲۶ - نفیسه محمود
۲۷ - شریفه شریف
۲۸ - مینه بکتاش
۲۹ - لطیفه قریشي
۳۰ - فریده پاکتین
۳۱ - ګل جان انند
۳۲ - انیسه لطیف
۳۳ - مستوره شال (په پېښور کې مړه شوه)
۳۴ - فریده هوډ
۳۵ - نصیر سهام
۳۶ - عبدالقدوس تندر (په جرمني کې مړ شو)
۳۷ - قمرسید
۳۸ - نجیبه حیدر
۳۹ - شریفه پاڅون
۴۰ - بصیر امین زاده
۴۱ - هاشم پکتیانی (په پېښور کې ووژل شو)
۴۲ - قاسم یوسفزاده
۴۳ - آمنه څیرک
۴۴ - قمرسید
۴۵ - نجیب جان نصیر

۴۷ - حامد نوري
۴۶ - نجیب یوسفزاده
۴۸ - علي محمد صادقیار
۴۹ - پروین ملال
۵۰ -پروین هاشم منصور
۵۱ - تاج محمداکبر
۵۲ - نبیله همایون

۵۳ - نیره
۵۴ - عبدالوهاب شادان
۵۵ - اقلیما مخفي
۵۶ - مقدسه مخفي
۵۷ - مسعود خلیلي
۵۸ - مسعود مجروح
۵۹ - لطیف جلالي
۶۰ - سلام جلالي
۶۱ - ظاهر توتاخېل

او ځیني نور

# سندرغاړي او هنرمندان

| | | |
|---|---|---|
| ظاهر هویدا | فرهاد دریا | وحید قاسمي |
| رحیم بخش | عبدالله شادکام | مهوش |
| هماهنګ | فیض کاریزي | سلما |
| احمدولي | سیف الدین | رحیم جهاني |
| هنګامه | شېرغزنوي | حیدرسلیم |
| رخشانه | اسد بدیع | حسین ارمان |
| ژیلا | جاوید الهي | قاسم لوګری |
| مېرمن پروین | رحیم مهریار | سلام لوګری |
| ژینوس | پرستو | ګلزمان |
| ایوب | مرجان | حکیم نور اکاخېل |
| نعمت الله | رعنا | سیدعلم |
| قمرګله | مرین | سحرګل |
| احمدشاکر | سیما ترانه | شاه ولي |
| عبدالله مقري | سلیم بخش | افسانه |
| منګل | قاسم بخش | الفت هروي |
| نغمه | وکیل روف | یونس |
| ځلاند | عبدالحمید کندهاری | وجیهه رستګار |
| سهیلا ځلاند | ظاهر چاریکاری | فرید رستګار |
| سارا ځلاند | مختار مجید | امیرجان صبوري |
| حامد شکران | وحیدصابري | ظاهر شباب |
| ګلشن | منور (په پېښور کې مړ | غوث زلمی |
| عزیزه افغان | شو) | ناصر طهوري |
| اسمعیل پیروز | خیرمحمد خندان | عبدالله غمخور |
| نورجهان | او ځیني نور... | پروین ملال |
| زمان شوقي | | شکریه رمل |

| | | |
|---|---|---|
| بېلتون | **نور کارکوونکي:** | شکريه عمر |
| ناشناس | غلام حسن نير | داود فاراني |
| الفت اهنګ | ضيا احمد جاهد | نورجهان فاراني |
| الطاف حسين | عبدالله افاقي | شفيقه بشارت |
| اکبر نېکزاد | عبدالغني مهم | پرتو نادري |
| استاد صابر | عزيز ايشانزاده | عبدالحی عابر |
| استاد شيدا | اصغر افضلي | نجيب الله ساکب |
| ميا شيدايي | نيازمحمد بنايي | حسين هدی |
| استاد موسی قاسمي | حبيب الله تخاري | غلام حسين فعال |
| حفيظ الله خيال | اسحق ايماقي | جلال نوراني |
| ريحان | عزيز اسوده | عرب شاه مموزی |
| خالو شوقي | وحيد صمدزی | لطيف ناظمي |
| رشيده ژاله | شهسوار سنګروال | فوزيه عظيمي |
| ناديه | ګل احمد ذهاب | عبدالوهاب مددي |
| ريتا ورمه | سيدجان ملال (په | نورمراد |
| شاه محمد کندهاری | پېښور کې مړ شو) | محمد انور وفا |
| سيد محمد کندهاری | زلمی بابا کوهي | نورمحمد صديقي |
| دين محمد | انجنير لطيف | اسدالله ساپی |
| مرتضی فرحتيار | لطيف بهاند | امين نوابي |
| عبدالاحد ميهن يار | اسمعيل فروغي | حميد پژمان |
| احد ژوند | محمد سرور انوري | ظاهر طنين |
| احد پيغام | عايشه جلالي | عبدالواحد نظري |
| شبراحمد پيغام | صديق توخی | اقا سعيد نسيان |
| عبدالغفور اميني | عزيز رؤف | او ځينې نور |
| محمد حسن ميرزی | | |

د دې ترڅنګ د ولايتي راډيوګانو او ټلويزيونونو ضايعات هم خورا زيات دي. پر سندرغاړو، نطاقانو او خبريالانو سربېره د راډيو ګڼ شمېر ممثلين، لکه حاجي محمد کامران، منان ملګری، ف. فضلي، ف عبادي، بايقرا او نور په لسګونو هم، فرار او هېواد پرېښودو ته اړ شوي دي. دغه راز د افغان فلم کارکوونکي او د سينما مشهور لوبغاړي او نور تخنيکي پرسونل د تېرو شلو کلونو، په تېره بيا د راوروسته (۱۳۷۱- ۱۳۷۲ل) کلونو په بهير کې مهاجرت ته اړ شوي دي. له دې کسانو څخه يو شمېر پر بېلابېلو وختونو يا په خپل مرګ مړه شوي دي، ځينې يې وژل شوي هم دي او نور اکثره يې په بهرنيو هېوادونو کې له خپل هېواده لرې ژوند کوي.

# ټولنیز - فرهنګي سازمانونه

## ۱ - د هنرمندنو اتحادیه:

د هنرمندانو اتحادیه، چې د افغانستان د هنر د پرمختیا او ودې لپاره او همدارنګه د هنري استعدادونو د غوړېدو، راټوکېدو او راټولونې لپاره جوړه شوې وه، «پر (۱۳۲۱ل) کال یې د نقاشۍ په برخه کې (۱۴۰)، د تیاتر په برخه کې (۱۰۲)، د موسیقۍ په برخه کې (۳۳۱)، د سینماتوګرافۍ په برخه کې (۲۵۰)، د مهندسۍ په برخه کې (۱۰۰) تنه غړي درلودل او دا ټول شمېر (۹۰۳) تنه کېږي. تر دې وخته په (۱۴) ولایتونو کې، د (۱۷۰۰) تنو په شاوخوا کې هنرمندانو، د ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی و.»[1]

تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه تقریباً د لسو کلونو په بهیر کې د هېواد یو شمېر هنرمندان، چې په هغو کې د پېر وتلي او نومیالي سندرغاړي هم شامل وو، له هېواده بهر شول. خو له (۱۳۷۱ل) کال څخه تر (۱۳۷۵ل) کاله پورې، چې ټول هېواد او په تېره بیا د کابل ښار یوې سراسري ګډوډۍ او انارشۍ نیولی و، د هنرمندانو زیاته برخه د جګړو له وېرې او د نورو تنګسیاوو له امله، له هېواده ووتله. په همدې پېر کې پر موسیقۍ او د هنر پر ځینو نورو برخو یو

---

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۲۱ل کال، ۴۸ ګڼه، ۹۵ مخ.

لړ بندیزونه هم ولګول شول، دا بندیزونه په پیل کې ډېر ټینګ وو، خو وروسته ورو سته دنرمۍ پر لوري روان شول او ان هغه چا چې لومړی یې پر دې ډول سختیو ټینګار کاوه، خپله د نرمښت خواته روان شول، خو په دې پېر کې د هېواد عمومي حالات داسې وو، چې د هېچا لپاره د ژوند او تنفس امکان نه و، نو ځکه خو د اکثرو تحصیل کړو افغانانو په ځېر د دې ډلې زیاته برخه هم هېواد پرېښودلو ته اړ شوه.

د (۱۳۷۵ل) کال له نوي بدلون سره د سندرغاړو پر سندریزو پروګرامونو، په ځانګړي ډول د موسیقۍ له وسایلو سره پر ساز او سرود ټینګ بندیز ولګول شو او د سرغړونې په صورت کې د درنې سزا اعلان هم وشو. دا وخت که کوم یو سندرغاړی په هېواد کې پاتې و او د موسیقۍ له لارې یې د خپل ژوند چارې خړوبولې، نو هغوی هم مجبور شول، چې هېواد پرېږدي. د (۱۳۷۱-۱۳۷۸ل) کلونو په بهیر، په ځانګړي ډول تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته واټن کې، تر بل هر ټولنیز قشر څخه دا برخه ډېره خواره او ناچله شوه.

## ۲- د ژورنالیستانو ټولنه:

((د (۱۳۵۹ل) کال د سنبلې میاشتې پر (۲۵)مه نېټه د خپلې لومړۍ کنګرې د جوړېدو په ترڅ کې، چې ۴۰۰ ژورنالیستانو په کې ګډون کړی و، جوړه شوه، پر همدې کال یې د غړو شمېر له (۳۷۰) څخه (۷۰۰) تنو ته لوړ شو))[1] ((تر (۱۳۶۲ل) کال پورې د

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۱ل کال، ۴۸ ګڼه، ۹۴۸مخ.

دې ټولنې دغړو شمېر (۱۹۵۱) تنو ته ورسېده، په کابل ولایت کې (۲۲) څانګې او په (۱۲) ولایتونو کې یې ولایتي شوراګانې درلودلې. د (۱۹۵۱) تنو ژورنالیستانو له جملې څخه (۱۳۹۳) تنه په کابل ښار کې وو، چې (۱۰۲۲) تنه یې نارینه او (۳۷۱) تنه یې ښځې وې.

د (۵۵۸) تنو له جملې څخه، چې په ولایتي شوراګانو کې تنظیم وو، (۵۰۲) تنه نارینه ژورنالیستان او (۵۶) تنه ښځینه ژورنالیستانې وې.

په همدې ډول د ټولنې له (۱۹۵۱) غړو څخه (۱۲) تنه ډاکتران، (۷۷) تنه ماستران، (۷۹۹) تنه لیسانس او نور تر لیسانس نه د ټیټ تعلیم څښتنان وو.))[1]

تر (۱۳۷۱ل) کال پورې د ژورنالیستانو د ټولنې کار او فعالیت د خپلو امکاناتو تر بریده پرمخ روان و، په دې واټن کې د ژورنالیستانو ټولنې د نړۍ د ځینو هېوادونو د ژورنالیستانو له ټولنو سره اړیکي ټینګ کړل. د ټولنې ځینو غړو په لسګونو نړیوالو غونډو کې برخه واخیسته او هم د دوی په بلنه له بهر نه ګڼ شمېر بهرني ژورنالیستان، د دوی غونډو ته وبلل شول. تر (۱۳۶۵ل) کال وروسته د ژورنالیستانو ټولنې له خوا د ((سباوون)) په نوم یوه ذوقي مجله هم خپرېدله.

د (۱۳۷۱ل) کال په بدلون سره د ژورنالیستانو ټولنه هم، لکه د نورو ټولنو په شان زیانمنه شوه، څو توغوندي د ټولنې پر ودانۍ

---

[1] د افغانستان کالنۍ، ۱۳۶۲ل کال، ۴۸ ګڼه، ۲۱۷ مخ.

ولګېدل او شتمني يې لوټ شوه، غړي يې پخوا په انفرادي توګه مهاجرت ته اړ شوي وو، خو تر دې وروسته يې په ډله ييز ډول د مهاجرت لاره ونیوه او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول. له (۱۳۷۱ ل) نه تر (۱۳۷۵ل) پورې تشکیلاتي جوړښت روغ و، خو یوازې تشریفاتي بڼه يې درلوده، په واقعیت کې يې نه ځومره والی او نه هم ځرنګوالی له پخوا سره د پرتلې وړ و. تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته يې هغه تشکیلاتي جوړښت هم رنګ شو او اوس په دې نامه هلته کومه ټولنه نه شته.

## ۳- د حقوقپوهانو ټولنه:

((د افغانستان د حقوقپوهانو ټولنه د خپل لومړني کنفرانس په ترځ کې، چې د (۱۳۲۴ل) کال د سلواغې میاشتې پر ۲مه نېټه په کابل ښار کې جوړ شوی و او (۵۰۰) تنو منتخبو حقوقپوهانو په کې برخه اخیستې وه، جوړه شوه.

تګلاره يې تصویب شوه او پر فعالیت يې پیل وکړ. وروسته د حقوقپوهانو ټولنې خپلې لیکې پراخې کړې او پر (۱۳۶۲ل) کال يې په تشکیلاتي برخه کې (۲۰۳) تنه حقوقپوهان جذب او د غړیتوب کارتونه يې ورته ورکړل. په مرکز کې يې په (۱۸) ارګانونو کې د حقوقو د ساتنې څانګې جوړې کړې او همدارنګه په (۷) ولایتونو کې د حقوقپوهانو ټولنې جوړې او پر فعالیت يې پیل وکړ.))[1]

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۲ل کال، ګڼه، ۲۳۸-۲۳۹ مخونه.

تر (۱۳۷۱ل) کاله پورې د حقوق پوهانو ټولنې په مرکز کې په لسګونو حقوقي مسایل څېړلي او د دولت په ځینو ارګانونو کې یې د حقوقي مسایلو او ستونزو د حل په اړه هغو ته مشورې او لارښوونې کړې دي.

دغه راز یې د بشر د مدني، تعلیمي او نورو حقوقو په اړه وخت پر وخت حکومت ته خپل غږ رسولی دی. کله چې پر بشري حقوقو د دولت له خوا تېری شوی او یا له نافذو قوانینو څخه سرغړاوی شوی، نو دوی پر هغو اعتراض کړی، دا چې دې نیوکو او اعتراضونو د هغه وخت پر حکومت څه اغېز شیندلی شو او که نه؟ په دې باب دومره ویل کېدی شي، چې څه ډېر ښکاره او ژور اغېز یې ځکه نه شو شیندلی، چې دا ټولنه خپله هم د دولت له خوا جوړه شوې وه، خو د یوې حقوقي سرچینې او ټولنې په توګه او یا دا چې د ګڼ شمېر حقوقپوهانو د یو مرکز په توګه یې اړتیا زیاته محسوسه وه، د څه ناڅه اجرایي ځواک له درلودلو سره سره یې مانیز او حقوقي ځواک هم درلود.

ټولنې تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته خپل تشکیلات وساتل، خو پر دې وخت یې هېڅ ډول اغېز پاتې نه و، ځکه چې په هېواد کې هېڅ ډول حقوقي نظام ټینګ نه و، د دې ټولنې دفتر هم په کابل ښار کې څو ځایو ته کډه وکړه او غړي یې هم اکثره خواره واره شول، زیات شمېر یې بهرنیو هېوادونو ته لاړل، تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته نه د دې ټولنې د جوړښت او نه یې د اغېز پته ولګېده.

## ۴- د لیکوالو ټولنه:

د افغانستان د لیکوالو ټولنه د (۱۳۵۹ل) کال د تلې پر (۱۲)مه نېټه په کابل ښار کې جوړه شوه. ټولنه د یوې ټګلارې او ځانګړو تشکیلاتو لرونکې وه، چې لاندې برخې یې درلودلې:

ـ د ځوانو لیکوالو انجمن، د بین المللي اړیکو څانګه، د تشکیلاتو څانګه، د پښتونخوا د ادبیاتو څانګه، د کره کتنې څانګه، د داستان څانګه، د شعر څانګه.

ټولنې د خپل فعالیت په بهیر کې تر (۱۴۵) عنوانو زیات علمي، ادبي او هنري کتابونه چاپ کړل، د ((ژوندون)) په نوم یې په دوو (پښتو او دري) په جلا جلا ډول ځانګړې ادبي، څېړنیزه مجله خپروله او هم یې د قلم په نوم یوه جریده درلوده. په مرکز کې یې د غړو شمېر سلګونو لیکوالو ته رسېده، دغه راز یې په ځینو ولایتونو کې د ټولنې ولایتي څانګې پرانیستې. د ځوانانو ادبي انجمن د کابل ښار په بېلابېلو لېسو او تعلیمي مرکزونو کې خپلې څانګې جوړې کړې وې چې ددوی شمېر هم سلګونو تنو ته رسېده.

د لیکوالو انجمن یوه مرکزي شورا لرله.

د لیکوالو ټولنې تر (۱۳۷۱ل) کال پورې د ګڼو کتابونو تر څنګ په لسګونو لویې او وړې غونډې، مشاعرې او سیمینارونه جوړ کړي دي. پر (۱۳۷۱ل) کال د لیکوالو پر انجمن هم ستر ناورین راغی، کتابتون او د کتاب ساتنې ځایونه لوټ شول او ګڼ شمېر غړي یې نورو هېوادونو ته مهاجر شول. ټولنې تر (۱۳۷۱-۱۳۷۵) کال پورې یوازې د ژوندون مجلې (۲) ګڼې او د قلم جریدې څو ګڼې

خپرې کړای شوې، یو څو ادبي غونډې يې جوړې کړې، د پخوانیو غړو کمښت او د پانګې نشتوالي، ټولنه ورځ پر ورځ کمزورې کړه تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته د ټولنې پخوانی تشکیل له منځه یوړل شو او پرځای يې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د شعر اوادب امریت په نامه یوه کوچنۍ نوې اداره جوړه شوه، دې ادارې په تشکیل کې یو تن د امر، یو تن د شعر، یو تن د کیسې او یو تن د کره کتنې، یو تن د ځوانو لیکوالو لپاره په پام کې نیول شوي وو، یو تن د جریدې د مدیر په حیث او یو تن د چاپ د امر په توګه په تشکیل کې نیول شوي وو. یاني ټول تشکیل يې په دې ډول دی:

((۱- رسمي مسلکي کارکوونکي ۷ تنه، شته کارکوونکي ۵ تنه.

۲- رسمي اداري کارکوونکي ۳ تنه، شته کارکوونکي ۲ تنه.

۳- مسلکي اجیر کارکوونکي ۴ تنه، شته کارکوونکي ۱ تن.

۴- نا مسلکي اجیر کارکوونکي ۵ تنه، شته کارکوونکي ۴تنه.))[1]

اوسنۍ اداره کې د غړو لیکوالو شمېر په رسمي ډول ثبت شوی نه دی، که د شعر او ادب اوسنۍ اداره د لیکوالو ټولنې له پخواني جوړښت سره پرتله کړو، نو په تشکیلاتي جوړښت کې په سلو کې تقریباً (۸۰) او په خپرنۍ برخه کې په سلو کې سل کموالی ښیي.

[1] د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداري یو راپور، کابل، ۱۳۷۸ل کال.

# کابل پوهنتون

کابل پوهنتون د هېواد تر ټولو ستر علمي مرکز دی، چې د خپل جوړښت له پیله یې تر دې وخته پورې هېواد ته ګڼ شمېر علمي او مسلکي کادرونه وړاندې کړي دي. له (۱۳۱۱ل) کال څخه تر (۱۳۶۲ل) کال پورې، کابل پوهنتون په ټولیز ډول (۴۰) زره فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، په بېلابېلو پړاوونو کې پر کابل پوهنتون سختې نادودې او تیارې راغلي او په سوونو استادان یې زنداني شوي، وژل شوي، له دندو ګوښه شوي اویا مهاجرت ته اړ شوي دي. تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته، چې پر کابل پوهنتون کوم ناورین راغی، هغه نو د پوهنتون په ټول تاریخ کې بې ساری دی.

د پوهنتون مرکزي کتابتون، یو موزیم، یوه ګالري او د څوارلس ګونو پوهنځیو کتابتونونه له منځه لاړل، نه یوازې د پوهنتون استادان فرار او مهاجرت ته اړ شول، بلکې خپله پوهنتون هم د کابل ښېرو بېلابېلو سیمو ته مهاجر شو، په یوه ځای کې به یې لا دمه جوړه کړې نه وه، چې بل ځای ته به لېږد ته اړ شو. د همدې اړو دوړ په نتیجه کې د کابل پوهنتون ځینې استادان له پوهنتون سره بې ارتباطه شول. د جګړو په ترڅ کې د پوهنتون څو تنه استادان د خپل ژوند له نعمت نه هم بې برخې شول. پوهنتون په ډېر چټک ډول استادان له لاسه ورکړل، د استادانو د وتلو هغه بهیر، چې له تېرې

لسیزې څخه پیل شوی و، په دې لسیزه کې لوړ کچ ته ورسېد. په ځانګړي ډول د هغو استادانو د مهاجرت شمېره خورا زیاته ده، چې په بهرنیو هېوادونو کې یې لوړې زده کړې کړې وې. د غمیزې تر پیل دمخه، کابل پوهنتون د نړۍ د یو شمېر هېوادونو له معتبرو پوهنتونونو سره اړیکي درلودل او د کابل پوهنتون اکثره استادان د ماسترۍ او دوکتورا لپاره هغو هېوادونو ته تلل او تر خپلو زده کړو وروسته بېرته راستنېدل. تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته دا بهیر څه ناڅه ټکنی شو، خو بیا هم په شپېتمو کلونو کې یو شمېر هغو هېوادونو ته د استادانو د لېږنې بهیر دوام درلود، چې د وخت له دولت سره یې اړیکي ښه وو. تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته د دنیا له ټولو پوهنتونو سره د کابل پوهنتون اړیکي پرې شول. پخواني استادان او یا هغه استادان، چې په بهرنیو هېوادونو کې یې لوړې زده کړې کړې وې، شمېر یې ورځ پر ورځ په کمېدو شو، نوي روزل شوي کادرونه نه د کمیت او نه هم د پوهې د څرنګوالي له پلوه دومره وو، چې د پخوانیو او تلونکو استادانو ځای ډک کړي. له دې امله په راوروسته کلونو کې د پوهنتون اصلي تشکیل، چې (۷۵۰) تنه استادان ګڼل کېدل، هېڅوخت هم پوره نه شو، ان چې نیمایي ته یې هم شمېر ونه رسېده.

له (۱۳۷۱ل) څخه تر (۱۳۷۵ ل) پورې د پوهنتون د ټولو استادانو شمېر (په دې پړاو کې له نویو کادرونو سره سره) تر (۳۰۰) تنو څخه لوړ نه شو. تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته، سره له دې چې بیا هم یو شمېر نوي استادان جذب شول، خو د انفکاک او

مهاجرت له امله دا شمېر (۲۷۰) تنو ته راټیټ شو، په دې تولو کړکېچونو او ستونزمنو شرایطو کې، کابل پوهنتون خپل ډېر تکړه استادان له لاسه ورکړل، چې عمومي شمېر یې سوونو ته رسېږي. په شپېتمو کلونو کې بیا هم په کابل پوهنتون کې د پخوانیو استادانو شمېر زیات و. دې استادانو اکثرو په بهرنیو هېوادونو، په ځانګړي ډول په لویدیزو هېوادونو کې لوړې زده کړې کړې وې. دساري په توګه به (۱۳۶۲-۱۳۶۳ل) کلونه په پام کې ونیسو، پر دې وخت د پوهنځیو په ترتیب د استادانو څومره والی او د رتبې څرنګوالی په لاندې ډول دی:

| پوهنځی | لیسانس | ماستر | ډاکټر | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | پوهیالی | بهرني استادان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حقوق | ۱۸ | ۷ | ۲ | ۰ | ۰ | ۴ | ۳ | ۳ | ۱۷ | ۳ |
| طبیعي علوم | ۲۲ | ۲۴ | ۱۲ | ۴ | ۱۰ | ۱۰ | ۸ | ۶ | ۲۰ | ۴ |
| ژبې او ادبیات | ۷۶ | ۳۵ | ۱۰ | ۵ | ۵ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۴ |
| شرعیات | ۹ | ۱۰ | ۰ | ۲ | ۴ | ۱ | ۳ | ۳ | ۶ | ۰ |
| انجنیري | | ۱۴ | ۴ | ۰ | ۳ | ۵ | ۸ | ۵ | ۱۰ | ۰ |
| زراعت | ۱۱ | ۲۵ | ۸ | ۹ | ۳ | ۱۳ | ۸ | ۲ | ۹ | ۲ |
| اقتصاد | ۱۰ | ۸ | ۸ | ۳ | ۲ | ۶ | ۴ | ۴ | ۷ | ۱۲ |
| فارسي | ۱۶ | ۰ | ۱۱ | ۳ | ۶ | ۲ | ۲ | ۳ | ۱۱ | ۰ |
| وترنري | ۱۴ | ۱۰ | ۷ | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ | ۸ | ۱۴ | ۴ |
| اجتماعي علوم | ۲۸ | ۱۱ | ۵ | ۵ | ۵ | ۵ | ۸ | ۵ | ۲۳ | ۹ |
| تعلیموتربیه | ۵ | ۱۵ | ۴ | ۱ | ۱ | ۸ | ۵ | ۷ | ۴ | ۲ |
| ځمکپوهنه | ۱۱ | ۱۲ | ۴ | ۳ | ۲ | ۷ | ۷ | ۳ | ۱۰ | ۰[1] |

[1] د کابل پوهنتون کتلاک، ۱۳۶۲-۱۳۶۳ل کال، ۱۲۴مخ.

ددغو استادانو له جملې څخه ډېر کم شمېر يې په خپل طبيعي مرګ او يا هم د تقاعد له امله پوهنتون څخه وتلي دي. هغه شمېر استادان چې لويديزو هېوادونو کې يې لوړې زده کړې کړې وې، د هغوی په سلو کې (۹۰) د وخت په تېرېدو او د فرصت په موندلو سره، لويديزو هېوادو ته پناه وړې ده.

هغو استادانو، چې په پخواني شوروي او يا هم د کمونيستي بلاک په ځينو نورو هېوادونو کې يې زده کړې کړې وې د هغوی زياته برخه هم يا همغو هېوادو، يا هم د هغو له لارې لويديزې نړۍ او يا هم نورو هېوادونو ته پناه وړې ده.

ـ هغه استادان چې په پورتني ليست کې پر ۱۳۶۳ل کال، په پوهنتون کې پر تدريس بوخت وو، د يوې لسيزې په ترڅ کې يې په سلو کې ۹۰ تنو کابل پوهنتون پرېښود. همداسې که په بېلابېلو پړاوونو کې وګورو، وژنې، نيونې، ترور، جبري انفکاک او نور په پام کې ونيول شي، نو په دوو لسيزو کې کابل پوهنتون د ټولو تلف شويو، مهاجر شويو استادانو شمېر له ۵۰۰-۷۰۰ تنو پورې اټکل کېږي.

# د افغانستان د علومو اکاډمۍ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د هېواد د ستر څېړنیز او علمي مرکز په توګه د خپل تاسیس له وختـه تر (۱۳۷۱ل) کال پورې د یادونې وړ علمي او فرهنګي خدمت کړی دی. پر دې کلونو په علومو اکاډمۍ کې په سوونو پوهانو او څېړونکو ګڼې علمي پروژې څېړلي او په سوونو عنوانه کتابونه یې چاپ کړي دي. دعلومو اکاډمۍ پر (۱۳۵۹ل) کال (۲۱۰) تنه علمي غړي درلودل. د وخت په تېرېدو سره لکه د نورو علمي مرکزونو په څېر دعلومو اکاډمۍ ضایعات په وروستیو لسیزو کې زیات وو. د اکاډمۍ کارکوونکو د یوې اټکلیزې احصائیې له مخې وایي، چې په کادري برخه کې اکاډمۍ له (۱۳۵۸-۱۳۶۵ل) کال پورې په سلو کې دوه، له (۱۳۶۵-۱۳۷۱) پورې په سلو کې اته، له (۱۳۷۱-۱۳۷۵ل) کلونو پورې په سلو کې (۳۵) تنه علمي غړي له لاسه ورکړي دي. دا غړي په دې پړاوونو کې یا مهاجر شوي او یا هم له دندې ګوښه شوي دي. تر (۱۳۷۵ل) کال وروسته په یو ځایي ډول د اکاډمۍ (۲۴) تنه علمي غړي منفک شوي دي. د (۱۳۷۸ل) کال په پیل کې په مجموعي ډول د علومو اکاډمۍ کې (۱۰۰) تنه غړي پاتې وو. په دې موده کې د علومو اکاډمۍ څو تنه اکاډمیسنان، کاندید اکاډمیسنان، تر (۱۵) تنو زیات ډاکتران، ګڼ ماستران او

پـه لسـګونو لېسانسـه، چـې بېلابېلـې علمـي رتبـې يـې درلـودلې، مهاجر شوي، تلف شوي او يا له دندو ګوښه شوي دي.

په دې موده کې یوازې دعلومـو اکـاډمي د ټولنيزو علومـو مرکز (۵۸) تنـه خپـل علمـي کادرونـه او څېړونکـي لـه لاسـه ورکـړي دي. د ژبو او ادبياتو مرکز او همدارنګه د پښتو څېړنو نړيوال مرکز هم، تر (۵۲) تنو څخه زيات کادرونه له لاسه ورکړي دي. په همـدې انـډول د علومــو اکــاډمۍ نــورو څــانګو لکــه د لرغونپــوهنې مرکــز، د ځمکپوهنې مرکز، د اسلامي علومو معاونيت هم، خپـل ګـڼ شـمېر کادرونه او څېړونکـي لـه لاسـه ورکـړي دي. ديـادونې وړ ده، چـې هـر کله نوي پړاو د زاړه پړاو ځای نیولی، نو له علومو اکاډمۍ څخـه يـو شـمېر علمـي کادرونـه تللـي دي، پرځـای يـې ورو ورو نـور کادرونـه مقرر شوي دي. که چېرې په تېرو شلو کلونـو کـې د علومـو اکـاډمۍ د ټولـو ضـايع شـويو او مهـاجر شـويو علمـي کـادرونو او څېړونکـو شمېر په پام کې ونیول شي، نو اټکليـز شـمېر بـه يـې (۵۰۰) تنـو تـه نږدې شي.

# پایله او څو وړاندیزونه

لکه څنګه چې د مخه مو، په بېلابېلو پړاوونو کې له هېواد څخه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل وڅېړل او همدارنګه مو په هېواد کې له اصلي دندو څخه د مسلکي کادرونو د لرې کېدو او د دندو پر پرېښودلو خبرې وکړې او هم مو د هغوی د ژوندانه ځینې ستونزې وڅېړلې، دغسې له هېواده بهر هم ډېر تحصیل کړي افغانان د ژوند او کار له سختو ستونزو سره مخامخ شوي دي. هر کله چې هر مسلکي شخص له هېواد څخه وتلی، نو په بل هېواد کې تر هرڅه لومړی، د ژوند له ستونزو سره مخامخ شوی دی.

پر دې وخت دې شخص ایله دومره فکر کولای شو، چې څنګه خپل ژوند له وژونکو ستونزو او ګواښونو څخه وژغوري. د مسلک او یا هم د مسلکي کار خبره خو ځکه ورسره دومره نه مطرح کېده، چې د ده مسلکي زده کړې د خپلې ټولنې د اړتیا لپاره وې، نه د نورو ټولنو لپاره. تر هغو پورې، چې دوی د نورو ټولنو دقانوني اتباعو په توګه منل کېدل او بیا د دوی د مسلک ارزونه کېدله، دې کې نو ډېر وخت تېرېده، دمسلکي کادر او د هغه د مسلک ترمنځ ډېر زیات ذهني واټن رامنځته کېده. ډېرو کمو مسلکي اشخاصو په پاکستان، ایران او ځینو نورو هېوادونو کې په هغو

خیریه موسسو کې، چې د افغانستان او افغانانو لپاره یې کار کاوه، خپل مسلکي او یا هم مسلک ته نږدې کارونه پیدا کړل. ځینو په همدې موسسو کې د خپل مسلک مخالف او مغایر کار هم له دې کبله مانه، چې ژوند یې له ورپېښو خطرونو څخه خوندي شي. د ژوند له ستونزو پرته تحصیل کړي افغانان د هجرت په چاپېریال کې له فکري، سیاسي او نورو ستونزو سره هم مخ وو. دا ستونزې په پاکستان او ایران کې تر نورو زیاتې محسوسې وې. په دې هېوادونو کې په تحصیل کړو افغانانو د ژوند ساحه ډېره تنګه وه، ان دا چې د دوی ژوند یې له سختو خطرونو او ګواښونو سره مخ کړی و. ځینو افغان پوهانو، چې د سیاسي، فکري او نورې بې عدالتۍ او د ګاونډیو د ناوړه نیتونو پر وړاندې څه غبرګون ښوده، نو د واکمنو او د هغو د اغېزمنو سیاسي او پوځي ډلو له خوا په چټکۍ سره وژل کېدل. د بښنې نړیوال سازمان د یو ګزارش له مخې په تېرو څو کلونو کې یوازې په پاکستان کې ۲۱ تنه افغان پوهان او تحصیل کړي اشخاص ترور شوي دي. پوهاند دوکتور بهاءالدین مجروح، دوکتور نسیم لودین، عزیزالرحمن الفت او نور یې څرګندې بېلګې دي. همدغه چار او لامل تحصیل کړي افغانان له هجرت نه بل هجرت ته مجبور کړل. ډېر افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول، هر چا چې هر هېواد ته پناه یوړه، نو خپل اصل مسلک ترې پاتې شو، هلته یې له سره نوی ژوند پیل کړ او د نوي کار او مسلک په لټه کې شول. په پرمختللو هېوادو کې ډېر کم شمېر هغو افغانانو له خپل مسلک سره سمه دنده پیدا کړه، چې په

همغو هېوادونو کې يې لوړې زده کړې ترسره کړې وي. لنډه دا چې، بېلابېل عوامل د دې سبب شول، چې ډېر تحصيل کړي افغانان لومړی د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شول او بيا په نورو ټولنو کې د خپل مسلک پرېښودو ته. اوس په هېواد کې د پخوا په انډول د لوستو کسانو شمېره ډېره راټيټه شوې ده.

د تحصيل کړو افغانانو شمېر خو بېخي ډېر راټيټ شوی دی. اوس په افغانستان کې د مسلکي کادرونو د نشتوالي او کموالي يوه لويه خلا احساسېږي، له کـــادري پلوه د ټولنې د اړتيا پوره کول به يوه هغــــه لويه ستونزه وي، چې راتلونکي حکومتونه به ورسره مخ وي، خو د هېواد د دې کادري ضايعې ترڅنګ يوه د خوشالۍ خبره داده، چې د جګړې په بهير کې چې کوم افغانان بهرنيو هېوادونو ته لاړل، د هغوی د ځوان پښت يوې برخې او نوي نسل په همغو ټولنو کې پر زده کړو پيل وکړ. د دې زده کړو ستندرډ او معيار تر هغو زده کړو هم پورته و، چې پر دې تېرو کلوو په جګړه ځپلي افغانستان کې روانې وې. افغانانو په دې ټولنو کې د وخت نوي او عصري علوم زده کړل او په بېلابېلو علمي ځانګو کې يې ځانونه ورسول، دا چې دا افغانان به بېرته خپل هېواد ته ستانه شي او که نه؟ هغه اساسي پوښتنه ده، چې سړی ورته د شک او ګومان په سترګه کتلای شي او د افغاني ټولنې د ژوند په ښېرازۍ او د چارو په سمون پورې تړلې ګڼل کېدی شي.

ځينې هغه افغانان، په ځانګړي ډول تحصيل کړي اشخاص، چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې استوګن شوي او د عمر زياته برخه

یې په خپل هېواد کې تېره کړې ده، هغوی سره له دې، چې په هغو ټولنو کې د ژوند د نورو اړتیاوو له پلوه سوکاله او بسیا دي، خو له رواني او ذهني پلوه خپل هېواد او ټولنې پسې ډېر ځورېږي. د دې ډول اشخاصو لپاره که په هېواد کې یو څه د تنفس ساحه برابره شي، نو زیات امکان شته، چې بېرته خپل هېواد ته راوګرځي، خو د دې ډول تحصیل کړو اشخاصو په باب باید وویل شي، چې دوی د ژوند او خپلو علمي تجربو یو اوږد پړاو تېر کړی او ازمویلی دی، دوی ته د فزیکي او ذهني کار ډېر کم وس او ځواک پاتې دی، دا کسان که خپل هېواد ته بېرته راهم شي، نو دوی به یوازې له رواني پلوه خپل ځانونه ډاډمن کړي، خو هېواد ته به ډېر کار ونه کړای شي. بل اټکل دا هم دی چې په نورو ټولنو کې د دوی د ژوند د هوساینې اقتصادي کچه تر هغه وخته هم زیاته اوچته شوه، چې دوی پخوا په خپله ټولنه کې درلوده، دا امکان هم لرې ښکاري، چې افغاني ټولنه دې له اقتصادي پلوه د دوی په عمر کې هغه کچ او معیار ته ور رسېږي، نو کېدی شي د اقتصادي کچې د ټیټوالي او د رواني ډاډ په یوه حایله فضا کې ژوند وکړي، د دې ټولو ستونزو د یادونې ترڅنګ اصلي خبره همغه د دوی د عمر خبره ده، چې د دوی عمر نور څومره اټکلېدی شي او انسان په څومره عمر کې د څومره کار کولو جوګه وي؟

دویمه ډله هغه افغانان دي، چې د خپل عمر په نیمایي برخه کې یې هېواد پرې ایښی دی. ځینو یې لوړ تحصیل کړی او له ځینو نیمګړی پاتې شوی، دا ډول اشخاص هم کېدی شي له خپل ولس او

هېواد سره خپله مینه وپالي او د حالاتو په رغون او سمون سره بېرته راتګ ته لېواله شي، خو دوی به هم په اسانۍ سره د هغو ټولنو نورمال او متمدن ژوند، چې اوس په کې اوسېږي، يوازې د خپل احساس قرباني نه کړي او ژر به هېواد ته ستانه نه شي، يوازې احساس نه شي کولای د ژوند چارې خړوبې کړي، تر هغه چې د ژوند رغنده توکي، د افغاني ټولنې ژوند سوکاله او هوسا نه کړي. ولولې، احساس او شعارونه به ډېر کار ورنه کړای شي.

دويمې ډلې ته له دې امله د راتګ هيله کېدی شي، چې دوی لا د عمر په نيمايي واټن کې دي. که چېرې په دې ترڅ کې لوی خدای(ج) زموږ پر ولس د رحمت باران وورويي او د سوکالۍ پرښتې په خپلو وزرونو زموږ ولس ته مينه او سوکاله ژوند ډالۍ کړي، نو بيا د دې اټکل کېدی شي، چې يو شمېر تللي افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شي.

درېيمه ډله هغه افغانان دي ، چې د ژوند لږه برخه يې په افغانستان کې تېره کړې او زياته برخه يې په نورو هېوادونو کې، د دې ډول افغانانو ملي احساس او ولوله د پورتنيو دوو ډلو په انډول لږ شان کمزوري ځکه برېښي، چې دوی د همغو ټولنو رنګ اخيستی او اخلي يې، زده کړې، کلتور، عادتونه او نور يې ضرور د همغو ټولنو اغېز زغمي. له خپلو افغان کورنيو سره د ژوند، تماس او اړيکو له امله به په کې يو څه افغاني ځانګړنې هم راوټوکېږي، خو نه د بشپړو افغانانو په شان.

په حقیقت کې د دې درې واړو کټګوریو افغانانو د تګ له امله افغاني ټولنې زیات زیان زغملی دی. د دې زیانونو ترڅنګ د دې اشخاصو تګ زموږ ټولنې ته یو څه ګټې هم رسولې او رسوي یې او د نورو ګټو اټکل هم کېدی شي.

هغه افغانان چې بهرنیو او پرمختلليو هېوادونو ته تللي او اقتصادي ژوند یې د افغانستان په اندول ډېر ښېرازه دی، هلته د کار او استوګنې له کبله زیاتې پیسې ترلاسه کوي، دا پیسې نه یوازې د خپل ژوند د خرڅولو لپاره لګوي، بلکې یوه یاد وړ برخه یې دلته خپلو کورنیو، خپلوانو او دوستانو ته هم رالېږي او په دې ډول د دوی د ژوند د ستونزو په اوارېدو کې برخه اخلي.

افغانان هره میاشت له لویدیزو هېوادونو څخه په اټکلیز ډول په ملیونونو ډالره رالېږي، چې په پېښور او د افغانستان کې پرې د ژوند چارې سمبالېږي. دژوند د چارو ترڅنګ په بهر کې مېشته افغانانو په علمي برخه کې هم زیات خدمتونه او هڅې ترسره کړې او تر سره کوي یې. دوی نه یوازې د پوهې او عصري علومو په نویو څانګو کې زده کړې کوي، بلکې دعلمي، ادبي او تاریخي کتابونو پر لیکلو او چاپ هم مصروف دي. دغه راز دهېواد د نورو پوهانو اولیکوالو د اثارو په چاپ کې هم زیاته ونډه اخلي. که یوازې په وروستیو پنځو کلونو کې د علمي، ادبي او تاریخي کتابونو د چاپ بهیر ته پام وکړو، نو په دې ترڅ کې د همدغو لویدیځ مېشتو افغانانو په مالي مرستو او هڅو په سلګونو عنوانه کتابونه، چې د چاپ شمېر یې لکونو ټوکو ته رسېږي، چاپ شوي دي. د اټکل له

مخې دا تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته د افغانستان د جنجالیزو حکومتونو د ټول فرهنګي کار څو برابره کار ګټل کېږي، یانې بهر مېشتو افغانانو د خپل هېواد فرهنګ ته تر وروستیو حکومتونو سلګونو ځله زیات ګټور کار کړی دی. که د حکومتونو له خوا د هېواد کلتور ته د ور اړول شوي زیان جاج په پام کې ونیسو، نو بیا خو د بهرمېشتو ګټور او د زورواکانو زیان رسوونکی کار هېڅ سره پرتله کېدلای نه شي.

دا افغانان هلته له نړیوال تمدن او پرمختګ سره زیات بلد شول او اوس عملاً خپله هم په کې برخه اخلي، نو که چېرې یو ملي حکومت جوړ شي او ټولنه د سوکالۍ پر لوري روانه شي او د دوی د راتګ امکانات برابر شي، نو دا به د افغانستان د یو ریزرف کادر په توګه کار ورکړي. اوس دا پوښتنه رامنځته کېږي چې ایا د دې امکانات به پیدا شي، چې دا افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شي؟ دا امکانات به کوم او په څه ډول وي؟ په دې باب سړی ویلای شي، چې که چېرې په افغانستان کې په رښتیا هم یو ملي او مترقي حکومت جوړ شي، چې اصلي موخه او هدف یې یوازې او یوازې د هېواد پرمختیا او د خلکو هوساینه وي، نو بیا خو کېدی شي، د هرې ستونزې حل ولټول شي. ملي حکومت باید تر هر څه دمخه ستونزه تشخیص او بیا یې د علاج په لټه کې شي.

که چېرې یو حکومت وغواړي، چې دا افغانان بېرته خپل هېواد ته ستانه شي، نو تر هر څه دمخه باید یوه سالمه ذهني فضا

رامنځته کړي، فکري اختناق، سیاسي زورواکي او نورې ربړې، چې د ټولنې د لوستي قشر د فرار سبب شوي، له منځه یوسي.

مسلکي او علمي معیار په پام کې ونیول شي (کار د کار اهل) ته خبره عملي شي، پوهنیز کار خپل مادي ملاتړ ترلاسه کړي او مانیز ارزښتونه بېرته پرځای شي. هغه افغانان، چې په نورو هېوادونو کې اوسېږي، هغو ته د افغانستان د نورو خلکو په شان د هېواد د برخلیک په ټاکلو کې برخه ورکړل شي او هغوی په هېوادنیو چارو کې برخمن وګڼل شي. دا کار به له خپل هېواد سره د هغوی په دایمي ذهني پیوستون کې لامرسته وکړي او د لرې والي احساس به یې له منځه لاړ شي.

بهر مېشته افغانانو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي، دوی وهڅول شي چې له خپلې خوښې سره سم، د هېواد په اقتصادي او فرهنګي رغونه کې برخه واخلي. هغو افغانانو، چې په بهر کې یې لوړې زده کړې کړي، د نویو عصري علومو په برکت کولای شي، چې د هېواد په فرهنګي او اقتصادي رغونه کې کارنده ونډه واخلي. هغه ذهني ستونزې او دېوالونه، چې پخوا د ټولنې د بېلابېلو قشرونو ترمنځ رامنځته شوي وو، هغه باید له منځه لاړ شي، یوه د مینې او صمیمیت فضا رامنځته شي.

هغه افغانان چې د بهرنیو هېوادونو تابعیت یې منلی، خپل هېواد کې باید ورته د موقتي او یا دایمي استوګنې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي.

که ملي حکومت له هغو هېوادونو سره، چې افغانان په کې مېشته دي، داسې يوه مفاهمه وکړای شي، چې کوم مادي امتیاز چې دغه هېوادونه يې اوس افغانانو ته ورکوي، که دا هغوی ته، افغانستان ته د بېرته ستنېدنې په حالت کې هم ورکړي، نو دا کار به هم د ځينو هېوادوالو په راستنېدنه کې اغېزناک واقع شي.

ورځ پر ورځ تخنيکي پرمختګونه زياتېږي، ملي حکومت کولای شي، د نويو تخنيکي وسايلو په واسطه په بهر کې مېشته افغانانو سره خپل تماس ټينګ کړي او له دې لارې د هغو راتګ او يا هم د مرستو د جلبولو زمينه برابره کړي.

ملي حکومت کولای شي، د افغانستان د سفارتونو لارې په هغو هېوادو کې، له مېشتو افغانانو سره همېشنی تماس ټينګ کړي، کلتوري غونډې جوړې او نورې ملي هڅې وکړي، دا به له خپل هېواد سره د هغو افغانانو په رواني پيوستون کې ډېره مرسته وکړي او د بېرته راستنېدو روحيه به په کې پياوړې کړي او داسې يو لړ نورې لارې چارې.

خو اوسمهال د دې ډول يادونو عملي کېدل ناشوني ښکاري، د ملي حکومت جوړېدو هيله لا ډېره ګړندۍ او ځلنده نه ښکاري، ټولنيز، اقتصادي او پوځي کړکېچ لا اوس هم دوام لري او اوس هم په زرګونو افغانان، لکه د سېلاب په شان، نورو هېوادونو ته د تلو په حال کې دي، چې ګڼ شمېر يې تحصيل کړي افغانان دي.

که دا لړۍ په همداسې چټکۍ سره دوام ومومي، نو په راتلونکو څو کلونو کې به د يوې ادارې پر سر يو د لوړو زده کړو خاوند هم

پاتې نه شي، نو که اوسني حکومتونه د نورو افغانانو د راتللو وس نه لري، نو دومره خو دې وکړي، چې د ولس د ژوند په ټولو برخو کې دې وچ ذهني اختناق ختم او یو څه نرمښت دې راولي، چې هر چاته یو څه د ژوند او تنفس ساحه برابره او پراخه شي او په دې ډول دې بهر ته دنورو تلونکو افغانانو مخه ونیول شي.

# اخځونه


۱- حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.

۲- شباهنگ، بازسازی نهاد های فرهنگی افغانستان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال.

۳- گزیدهٔ شاخصهای احصائیوی، د احصایې وزارت د نشراتو ریاست، کابل، ۱۳۷۰ل کال.

۴- Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, Februray, ۱۹۹۹.

۵- حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی دربارهٔ کابل، د احصایې مرکزي اداره، ۱۳۶۲ل کال.

۶- د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۱ل کال.

۷- پوهنمل دوکتور نجیب الله فایز، اجتماعي علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ل کال.

۸- سالنامهٔ احصائیوی، د احصایې وزارت، کابل، ۱۳۶۹ل کال.

۹- پوهنیار محمدنبي فراهي، هیله مجله (۲) ګڼه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال.

۱۰- ډاکتر محمد اکبر اکبر، هیله مجله (۱) ګڼه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال.

۱۱- د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یو ګزارش، کابل، ۱۳۷۷ل کال.

۱۲- د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۲ل کال.

۱۳- پوهاند غوټچه ګل حبیب ساپی، ننګرهار مجله، ۱۳۷۷ل کال.

۱۴- د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداري یو راپور، کابل، ۱۳۷۸ل کال.

۱۵- د کابل پوهنتون کتلاک، کابل، ۱۳۶۲-۱۳۶۳ کلونه.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
۱۳۸۷
مرکه او مرکې
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# مرکه

# او

# مرکې

## محمد اسمعیل یون

## ۱۳۸۷ لمریز کال

# بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: مرکه او مرکې
لیکوال: پوهیالی محمد اسمعیل یون
خپرندوی: یون کلتوري یون
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
لومړی چاپ: ۱۳۸۷ل کال
د لیکوال
پرله پسې نومره: (۲۵)
د خپرندوی
پرله پسې نومره: (۲۵)
کمپوزر: ضیاءالرحمن ضیاء

# پر دې اثر یو څو لنډې خبرې

یون صیب ته دې الله (ج) خیر ورکړي چې ددې کتاب د تنظیم له لارې یې پخوانۍ خاطرې بیا راژوندۍ کړې.

ددې مرکو زیاتره یې په هیله مجله کې خپرې شوې وې . (هیله) د هغه وخت په سختو شرایطو کې د ملي ګټو د ساتلو یو مورچـــل اود ملي ارمانونو یوه تر ټولو محبوبه خپرونه وه.

په دې کتاب کې د بېلابېلو هغو کسانو مرکې راغلي دي، چـــې پـــه خپلو مسلکونو او برخو کې د سر کسان دي. (یوازنی کس پکـــې زه یم چې د مرکې زیاته برخه مې تر خپل طبي مسلک ډېره پر ټولنیزو او ملي مسایلو متمرکزه ده.  خو د هغه وخت شرایط همداســـې وو، چې د هېواد د سرنوشت په باب له فکر کولواو څه ویلو نه څوک هم نه شو غافلېدای.)

په کتاب کې د نورو ښېګڼو تر څنګ یوه ډېره د ارزښت خبره دا ده چې د کتاب مرکې تنوع (رنګـــارنګي ) لـــري او د هـــر ذوق لرونکـــی لوستونکی پکې یو څه پیدا کولای شي.

د کتاب سریزه د مرکــه لیکنــې پــه برخــه کــې یــو ډېــر ښــه او مرستندویه بحث دی او د ځوانو لیکوالو او ژورنالستانو لپــاره د یــو ښه لارښود او مرستندوی حیثیت لرلای شي.

زه خپلې خبرې ځکه نه اوږدوم چې د کتاب خپلې خبرې زما تــر هغو ډېرې ارزښتمنې دي. له یون صــیب نــه تــر مننــې وروســته ستاسودرنو ورونو او خویندو نه هیله کوم چې دا کتاب د یو مهم اثر په توګه ولولئ او له نورو سره یې هم شریک کړئ.

په درنښت

ابراهیم شینواری

کابل،د (۱۳۸۷ل) کال د مرغومي (۲۲)مه

## سریزه:

# مرکه او مرکې

مرکه په عامه اصطلاح خبرو اترو ته وایي، د ژورنالیزم په نومونه هم خبرې اترې مرکه ګڼل کېږي، خو په ژورنالیزم کې هدفمنو خبرو اترو ته مرکه ویل کېږي. مخکې تر دې چې مرکه د ژورنالیزم د یوه ژانر په توګه مطرح شي، په پښتو ژبه او پښتني ولسي ژوند کې په همدې او یا دې ته نږدې مانا کارېدله. جرګه او مرکه زموږ د کلتور او ټولنیز دود یو مهم عنصر دی، ډېرې شخړې او ستونزې په همدې جرګو او مرکو حلېږي.

د جرګو او مرکو قوت په دې کې دی، چې هلته د خبرو اترو زمینه برابرېږي او له دې لارې د شخړې غوټه خلاصېږي. دواړه لوري یو بل ته خپل دلایل او منطق وایي او ددې دلایلو د انطباق په نتیجه کې د ستونزې حل راوځي. افغانان او په تېره بیا پښتانه افغانان د خپل نوي ژوندبرخلیک د همدې جرګې او مرکې له لارې پیلوي، کله چې یوه کورنۍ د خپل ځوان زوی د ژوند برخلیک ټاکي، نو لومړی فکر پر همدې کوي چې چاته، څه وخت او څرنګه مرکه ور ولېږي، پر مرکچي هم ډېر فکر کوي، داسې یو څوک انتخابوي، چې ډېر مخور، ژبور، تجربه کار او د منطق په وسله سمبال وي، لکه له یو مهم شخص یا چارواکي سره چې د یوې ممې مرکې لپاره یو ډېر پوخ، مسلکي او ژبور ژورنالیست ګومارل کېږي. د مرکچي له غوره والي څخه هدف دادی چې د مقابل لوري تمایل راخپل او په پای کې د هغه رضایت حاصل کړي. د سختو شخړو او

ستونزو د غوڅولو لپاره د جرګه وال او مرکچي غوراوي ته ډېره پاملرنه کېږي، ددې علت دا وي چې دواړو خواوو ته دقيق معلومـات وړانـدې کړي او د منطق په زور د شخړې حل راوباسي. له دې څرګندونو څخـه مې هدف دا و چې مرکې يا خبرې اترې په طبيعي ډول زموږ د ژوندانه په ټولنيز ډګر کې وې، خو کله چې ډله ييزې رسنۍ رامنځته شوې او هغو بيا پرمختګ وکړ، نو مرکه هم ورسره د ژورناليزم د يوه ژانـر پـه توګـه مطرح شوه او د ژورناليزم او د هغه د وسايلو د بنې پـه ودې او بـدلون سره مرکې هم بېلابېل اړخونه پيدا کړل، خو د مرکې اصلي محتوا چې د خبرو اترو له لارې د هدفمنو معلوماتو ترلاسه کول دي، پر خپل ځـای پاتې ده. مرکې ته په انګرېزۍ کې انټرويو (Interview) او په عربـۍ کـې (مصاحبه) ويل کېږي چې د ټولو محتوا همغه يوشان (خبرې اترې) دي. د ژورناليزم له نظره له مرکې څخه موخه دا ده چې هـم لوسـتونکو، اورېدونکو، ليدونکو او کتونکو ته د يوې پېښـې يـا مسـالې پـه اړه د معلوماتو او هم د پېښې د سپيناوي سبب شي. مرکه معمولاً د ټولنې د بېلابېلو ډګرونو له مهمو شخصيتونو سره کېږي، خو پر مهمو شخصيتونو سربېره د ټولنې له عادي اشخاصو او د پېښو له عيني شاهدانو سره هم مرکې کېږي او د هغوی مرکـې يـا څرګنـدونې د پېښـو د رڼـاوي او سپيناوي سبب کېږي. په يوه مهمه مسلکي، علمي، تخنيکي، سياسي او ټولنيزه موضوع کې طبعاً د همغې برخې له مطرح اشخاصو سره مرکې ترسره کېږي، ځکه چې همدا ډول اشخاص د موضوع د وضاحت ظرفيت لري، د ځينو ټولنيزو پېښو، اقتصادي پرمختګونو، جنګـي حوادثـو او طبيعي پېښو، د قربانيانو په اړه د عامو خلکو نظرونه او مرکې هم د زيات ارزښت وړ دي، په همدې خاطر مرکې د خپلې محتوا له مخې بېلابېلې بڼې غوره کوي، لکه خبري مرکه، تحليلي مرکه، علمي، سياسي، ادبي او نورې مرکې. د ژورناليزم د وسايلو د کارونې له امله هم د مرکـې بڼـې

توپير کوي، د بېلګې په توګه د اورېدنيو (راډيويي) رسنيو لپاره ګړنــۍ مرکه ډېر ارزښت لري، دا مرکه که د محتوا له پلوه هر ډول وي، خو بايد په ګړنۍ بڼه ځکه ترسره شي، چې د مرکوال شخص غږ ډېر ضروري وي. په دې حالت کې ژورناليست ته په کار دي چې په خپلې غږيزې وسيلې خپل ځان ښه ډاډمن کړي او مخکې تر دې چې مرکې ته لاړ شي، خپله غږ ثبتې وسيله ښه چک کړي، د مرکې پر مهال هم بايد خپل او د مقابل لوري غږ په لومړيو او وروستيو شېبو کې څو ځله چک کړي، چــې غــږ رښتيا هم ثبت شوی دی که نه او که ثبت دی نو څه ډول ثبــت شــوی دی؟ ښه به وي چې په دې برخه کې يو دوه خاطرې هم راوړم:

د بي بي سي يوه خبريال راته خپله کيسه کوله، ويل يې چې بي بــي سي راته دنده وسپارله چې پېښور ته سفر وکړم او د نشنل عوامي پارټۍ له مشر، خان عبدالولي خان سره مرکه وکړم، پېښور ته راغلم، له ولي خان څخه مې وخت واخيست، ښه په خوند مې ورسره مرکه وکــړه او بېرته لندن ته لاړم، کله چې کمپيوټر ته کېناستلم او غوښتل مې د ولي خان مرکه له ټايپ څخه کمپيوټر ته ولېږدوم، نو مرکه اصلاً ثبت شوې نه وه، دې خبريال وويل، دا زما د ژونداو مسلکي کار په تاريخ کې تر ټولــو بده خاطره وه. دی يو مسلکي او پياوړی ژورناليست و، پر خپل ځان او کار ډېر ډاډمن و، خو په ژورناليزم کې پر حافظې او پر تخنيکي وسيلې له چک پرته باور په کار نه دی او که څوک يې کوي دا ډول ستونزې به ورته راولاړوي.

زه خپله خاطره هم ليکم: د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته ما غوښتل په افغانستان کې د افغان هندوانو او سکانو د ټولنيز ژوندانه په اړه يــو راډيويي راپورتاژ جوړ کړم، له پېښــوره جــلال ابــاد تــه راغلــم او غــږ ثبتوونکې وسيله (ټيپ) مې هم له ځانه سره راوړ، په ننګرهار کې مې د

خپلو لیکوالو ملګرو په مرسته د ننګرهار مېشتوافغان هندوانو یو مشر پیدا کړ، په جلال اباد ښار د هندو د بزازۍ په دکان کې مې ورسره په ډېر خوند مرکه وکړه، هندو موږ ته د ګوړې ښه چـای راوړ او پـه ډېـر طبیعي ډول مو مرکه وکړه، د مرکې په پیل کې مې خپل او د هندو غـږ هم چک کړ بیا مو مرکه پیل کړه، د مرکې تر خلاصون وروسته مـو پـه مینه رخصت واخیست. د مرکې پر سهار مې پېښور ته د تګ پلان و، یو ځل مې زړه کې وګرځېدل چې راځه دا مرکه یو ځل بیا چک کړه، ټیپ مې چک کړ، نورې ټولې مرکې په کې راغلې وې، خو د هندو مرکه په کې نه وه، ډېر زیات خپه شوم، بیا له خپلو ملګرو سره د هندو دوکان ته لاړو او په بښنې سره مې بیا ترې د مرکې هیله وکړه، هندو زمـوږ غوښـتنه ومنله، خو دا ځل مرکه هغسې خوندوره او طبیعي رانغله لکه څنګه چې دمخه وه.

ددې دوو خاطرو له یادونې څخه مې مقصد دا و چې په ژورنالیزم کې له یوې خوا پر حافظې ډېر باور په کار نه دی، له بلې خوا پـر تخنیکـي وسیلې هم له چک پرته باور په کار نه دی. نو د اورېدنیو رسـنیو لپـاره غږیزه مرکه ضروري ده او د هغو ثبتوونکو وسایلو چک او دویـم ځلـي ازمېښت.

د چاپي رسنیو لپاره هم غږیزه مرکه تر یوه حده ضروري ده، خو ددې رسنیو لپاره اساسي ضرورت د مرکې لیکنۍ بڼه ده، غږیزه مرکـه هـم وروسته په لیکنۍ بڼه اوړي، ځکه اکثره وخت خبریالان د مرکې لپـاره ځان سره ټیپ وړي او بیا وروسته مرکه له غږه لیک ته اړوي، کله کلـه مرکوال ته مخکې تر مخکې لیکلې پوښتنې ورکوي او هغه یې په لیکنۍ بڼه ځوابوي، خو ددې ډول مرکې یوه ستونزه داده چې له پوښتنې بلـه

پوښتنه نه شي پیدا کولای، خبریال مجبور دی پر همغو پوښتنو بسنه وکړي، چې مخکې تر مخکې یې مرکوال ته ورکړي دي. لیکنۍ مرکې کله کله په دې ډول هم وي، چې خبریال له مقابل لوري پوښتنې کوي، هغه یې ځوابونه ورکوي او دی یې لیکي، په داسې حالت کې کله کله خبریال ټول ځوابونه نه شي لیکلای،ځینې مهم ټکي ترې پاتې کېدی شي او زړه کې وایي دا به د حافظې په قوت وروسته ولیکم، په دې ډول کله کله تر چاپ وروسته د مرکچي او مرکوال ترمنځ ناندرۍ رامنځته کېږي، په داسې حالت کې پر حافظې ډېر باور په کار نه دی. په هر ترتیب د چاپي رسنیو لپاره د مرکې لیکنۍ بڼه په کار ده.

په لیدنیو رسنیو کې چې هم اورېدل کېږي او هم لیدل کېږي، هلته د مرکوال تصویر او غږ دواړو ته جدي اړتیا ده، که یو له دې دوو برخو څخه کم وي، مرکه نیمګړې ده، لکه که غږ وي، خو ژوندی تصویر ورسره نه وي، نو د مرکې نیم ارزښت کم شو او یا تصویر وي خو د هغه خبرې د خبریال له خوا ویل کېږي او تصویر د هغه شخص ورسره ښکاره کېږي، دا مرکه هم نیمګړې ده، البته په لیدنیو رسنیو کې کله کله د مرکوال خبرې د ژباړې د ضرورت په حالت کې ژباړل کېږي او له تصویر سره یوځای کېږي، خو په نورو حالاتو کې طبعاً غږ او تصویر دواړو ته ډېر ضرورت دی.

په کتنیو رسنیو کې لکه بېلابېلو ویبپاڼو او د انټرنیټ نورو اسانتیاوو کې چې مرکه هم لیدل کېږي، هم لوستل کېږي، هم کتل کېږي او هم اورېدل کېږي، د مرکو له پورته ټولو ډولونو څخه کار اخیستل کېدی شي، خو ددې لپاره که څوک غواړي په انټرنیټ کې یوه مرکه په بشپړ ډول خپره کړي، نو هم باید غږیزه بڼه ولري، هم انځوریزه او هم لیکنۍ،

که څوک غواړي د یو چا د مرکې تصویري بڼه وګوري، هم کولای شـي، که اورېدنۍ یې اوري هم باید زمینه ورته برابره وي او که لیکنــۍ یــې لولي هم باید اسانتیا ورته موجوده وي. ځینو خبري اژانسونو، نړیوالـو راډیویي او تلویزیوني چینلونو له انټرنیټ څخه همدغه ګټه پورته کړې ده. د ساري په توګه د بي بي سي راډیو، خبرونه، تاسو د انټرنټ په مټ هم لوستلای، هم اورېدلای او هم لیدلای کتلای شئ، نـو پـه دې ډول انټرنیټ ټولې هغه اسانتیاوې لرلای شي، چې د رسنیو نورې برخې یې په ځانګړي ډول لري.

مرکه د ګډونوالو د شمېر له مخې هم توپیر کوي، یو په یو ( لـه یـوه شخص سره د یوه شخص مرکه)، له یوه شخص سره د څو کسانو مرکه ؛ لکه پریس کنفرانسونه او ځینې نورې خبرتیایي غونډې چې یو شخص معلومات ورکوي او نور پوښتنې کوي، له څو شخصـیتونو سـره د یـوه خبریال مرکه لکه ګردي مېزونه چې په هغو کې یـو خبریـال لـه څـو شخصیتونو سره مرکې کوي) او ځینې نورې مرکې.

خو مرکه که هر ډول وي هدف یې د معلوماتو زیـاتول او د موضــوع سپینول دي، په هر ډول مرکه کې ژورنالیست ته بویه چې تر هــر څــه دمخه پر موضوع حاکم وي او له هر هغه چا سره چې مرکه کــوي بایــد نوې خبره ترې راوباسي، د موضوع په اړه باید خپله هم معلومات ولري او د یوه مسلکي شخص په توګه له مرکوالو څخه پوښتنې وکــړي، کــه خپله ژورنالیست پر موضوع حاکم نه وي او د مرکوال پــر وړانــدې پــه کمزوري دریځ کې وي، نو دا مرکه ښه او مطلوبه نتیجه نه ورکوي.

په همدې خاطر اوس په نړۍ کې د اختصاصي ژورنالیزم موضوع ډېره مطرح ده، ډېر ځله مو له بي بي سي او نورو معتبــرو راډیوګــانو څخــه

اورېدلي چې د بي بي سي او یا...راډيو د اقتصادي، سیاسي، ټـولنيزو او سیاسي چارو خبریال، دا په دې مانا چـې ژورنالیسـت پـر ژورنـالیزم سربېره د علومو په یوه بله برخه کې هم تخصص لـري او کلـه چـې د داسې موضوعګانو په باب بحث مطرح کېږي، نو د همغې تخصصي برخې خبریال د مرکې لپاره ورځي. په افغانستان کې لا ژورنالیزم د ودې پـه حال کې دی او موږ ډېر کم داسې ژورنالیستان لرو، چـې د ژورنـالیزم ترڅنګ په یوه بله برخه کې هم تخصص ولري. البته اوس یو ګڼ شمېر لیکوالو او د نورو مسلکونو خاوندانو د ځینو اقتصادي ملاحظاتو له امله ژورنالیزم ته مخه کړې، خود افغانستان رسنۍ لا دې مرحلې ته نه دي رسېدلي، چې په هره څانګه کې خپل مسلکي ژورنالیست ولري او یا دې هغه د مسلک پر بنسټ همغې مسلې ته وړاندې کړي؛ له یوه ژورنالیست څخه د خبرو او مرکو د بېلابېلو ډولونو لپاره کار اخیستل کېږي.

د مسلکي تخصص ترڅنګ یو ژورنالیست ته د مرکې ځینې نور مهم ټکي هم په کار دي، چې باید په پام کې یې ونیسي، په مرکه کـې د تـر بحث لاندې موضوع ښه او هر اړخیزه شننه او له دې څخه مخکې تـر مخکې د ځان ښه خبرونه، مرکې ته پوره چمتوالی، دمرکوال پر فکري لیدلوري پوهېدل، د تخنیکي وسایلو ارزونه او ځینې نور مسایل ضروري دي. ددې ترڅنګ دمرکې پر مهال ژورنالیست ته په کـار دي چـې تـر ژورنالیستیکو اخلاقو پښه وانه ړوي، رهبرې شوې، لمسوونکې پوښتنې او په قصدي ډول د مقابل لوري تر اغېز لاندې راوستل، د ثبت ، برېښنا او تخنیکي وسایلو داسې کارونه چې د مرکې پر مهال د مرکوال ذهـن بلې خواته واړوي، د ژورنالیزم لـه اخلاقـو سـره سـمون نـه خـوري، ژورنالیست ته په کار دي چې خپل ناپېیلتوب وساتي او په داسې مهارت

له مرکوال څخه خپلې مطلوبې خبرې راوباسي چې هغه يې د اظهار پر وخت پر ځان د فشار احساس ونه کړي.

د علمي، تخنيکي او ځينو معلوماتي مرکو پوښتنې دومره جانبي عوارض نه لري، خو د سياسي، ټولنيزو، قومي او تاريخي مسايلو په اړه بحث او مرکې طبعاً ډېرې حساسې دي، هغه هم په داسې يو حالت کې چې يوه ګردي مېز ته د مختلفو نظرونو خاوندان راټول شوي وي، په دغسې ډله ييزه مرکه او بحث کې د ژورناليست ناپېيلتوب ډېر ضروري دی. په افغانستان کې اوسنۍ رسنۍ په تېره بيا تلويزيوني رسنۍ د ژورناليزم د ناپېيلتوب اصل ته ډېره پاملرنه نه کوي، موږ په تلويزيونو کې داسې مرکې ليدلي، اورېدلي او خپله هم ورسره مخامخ شوي يو، چې هلته ژورناليست يا د خپرونې جوړونکی خپله د يوه طرف په توګه مطرح وي. (اريانا) تلويزيون تر ډېره حده د ناپېيلتوب اصل مراعتوي. (لمر) او( شمشاد) تلويزيون هم دې ته ورته دريځ لري، خو څرنګه چې شمشاد او لمر تلويزيونونه تر ډېره بريده پښتو تلويزيونونه دي، نو پر شمشاد د پښتو پالنې تور پورې دی او لمر که څه هم پښتو تلويزيون دی، خو څرنګه چې دا تلويزيون هم د طلوع تلويزيون د چاروواکو له خوا سمبالېږي، نو ځکه خو پر لمر تلويزيون د طلوع د اثراتو تور پورې کېږي. شمشاد تلويزيون په مرکو کې په مشخص ډول ژورناليست د طلوع هغه په شان د کوم ډېر څرګند او مشخص دريځ خاوند نه برېښي او يا لږ تر لږه په مرکه کې ځان ډېر دريځوال نه ښيي. خو طلوع، نور، نورين، تمدن او فردا تلويزيونونه د طرف پر ناروغۍ اخته دي. نور، نورين، تمدن او فردا تلويزيونونه خو ځکه بې طرفه نه دي چې په مشخصو اشخاصو او تنظيمونو پورې تړلي دي او د همغو ډلو او اشخاصو د عمومي نظرياتو او

ليدلوريو څرګندونه کوي، خو طلوع تلويزيون چې ځان يوه ازاده رسنۍ ګڼي په واقعيت کې د ازادۍ اصل نه مراعتوي، اکثرو ليدونکو به د دوی خپروني په تېره بيا د ((ګفتمان)) خپرونه چې اکثره ګرمــو سياســي او نورو پارونکو مسايلو ته ځانګړې شوې، کتلې وي، په دې خپرونه کې له ورايه ښکاري چې د ناپېيلتوب اصل نه مراعتېږي، نه يوازې ژورناليست لوری نيسي، بلکې کوم کسان چې د بحث لپاره رابلل کېــږي د هغــوی غوراوی هم د ناپېيلتوب له مخې نه وي. اکثره وخت دوه درې، څلور او ان پنځه کسان له يوې خوا وي، يو يا دوه له بلې خوا او ژورناليست هم د همغې خوا پلوي کوي، چې دوی مخکې تر مخکې هماهنګ کــړي وي. ځينو کسانو ته مخکې تر مخکې د بحث موضوع ورکول کېږي او کېدی شي داسې هم شوي وي چې پوښتنې مخکې تر مخکې ورته ويل شوې وي او هغې خوا ښه تياری نيولای وي، خو دا بله خوا چې تلويزيون والا قصداً غواړي کمزورې وښودل شي، د موضوع په اړه معلومات هم مخکې تر مخکې نه ورکول کېږي او يا که ورکول کېږي نو وخت په کې کم وي، بله بې عدالتي دا وي چې د يوه لوري کسانو (د تلويزيون خوښي لوري کسانو) ته ډېر وخت ورکول کېږي او مقابل لوري ته کم، که وخت پر يو تن د عدالت له مخې په مساوي ډول ووېشي بيا هم هغه غرضي لــوری څو ځله زيات وخت اخلي، نو دلته د طلوع تلويزيون پــر ورانــدې څــو پوښتنې پيدا کېږي: که په يوه بحث کې درې څلور تنه حتمي د يوه نظر خاوندان وي، نو بيا ښه ده چې ددې کسانو له جملې څخــه يــو تــن را دعوت شي او يو تن هم له هغه بل لوري څخه، چې وخت پــر دواړو پــه مساويانه ووېشل شي او هر يو خپل دليل ووايي او که د يوه لوري، د ډېر

شمېر کسانو ګډون بیا هم حتمي وي، نو ښه بیا دا ده چې مقابل لوري ته دومره وخت ورکړل شي چې د ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړي.

زه او قدرمن استاد حبیب الله رفیع څو ځله له همداسې چلند ســره مخامخ شوي یو، یو د دریو او یا څلورو پر وړاندې، خو د لوی خدای(ج) په فضل څرنګه چې زموږ خبره حق وه، نو د منطق او عدالت له مخې مو ورته ماته ورکړې ده، هر وخت چې ما په طلوع تلویزیون کې مرکه کړې او لیدونکو لیدلې، نو په سلګونو تلېفونونه راته د منندې او کورودانې په خاطر راغلي دي، ددې علت دادی چــې زه د طلــوع تلویزیــون د بــې انصافۍ پر وړاندې ودرېدلای یم، ما څو ځله د طلوع چلوونکو ته ویلــې چې که موږ دې بحثونو ته راغواړۍ، نو یا باید د دواړو لورو مرکوالو شمېر مساوي وي او یا هم که له هغه بل لوري زیات کسان راځي نو مــوږ تــه دومره وخت راکړئ چې د هر یوه پوښتنو او نامشروع تردید ته ځــواب ورکړو. هر کله چې په دې بحثونو کې د افرادو او وخت تساوي په پام کې نیول شوي او ژورنالیست تر یوه بریده ناپېیلی پاتې شوی، نو هغه بحث اتومات زموږ په ګټه تمام شوی، حتی داسې بحثونه هم موږ ګټلي چې یو د څلورو پر وړاندې مطرح وو، دا ډول بحثونه بیا په ډېر زور د سانسور له زندۍ خلاص شوي. له دې څرګندونو څخه مې مقصد دا و؛ هغه رسنۍ چې زموږ په ټولنه کې د ازادو رسنیو په نامه فعالیت کوي، په واقعیــت کې هغه شان ازادې نه دي، چې ادعا یې کېږي.

په دې اثر کې چې تاسو ته د کومو مرکو د لوستلو بلنه درکوم، دا ما په تېرو لسو پنځه لسو کلونو کې له بېلابېلو شخصیتونو په تېــره بیــا لــه فرهنګي شخصیتونو سره کړي دي. دا مرکې اکثره د فرهنګي هدفونو او معلوماتو په باب شوي دي. سیاسي موخې نه لري او یــا هــم سیاســي

هدفونه يې ډېر کم دي، ما په دې مرکو کې د ژورنالیزم عامې ځانگړنې مراعت کړي خو د مرکې ټول تخنیکي اصول په کې ځکه نه دي مراعت شوي چې دا ما د خپلو ځانگړو فرهنگي ضرورتونو پر بنسټ کــړې وې، هغه وخت زما هدف دا هم نه و چې دا مرکې به زه د یوه ځانگړي اثر په توگه چاپوم، خو اوسمهال چې زه د خپل تېر کړي فرهنگي کار پــر بیــا ارزونې، اوډنې او راټولونې بوخت یم، پر دې مرکو مې چې کتنه وکړه، نو ډېرې په زړه پورې راته ښکاره شوې، ددې مرکو د چاپ ضرورت په دې کې نه دی چې دا مرکې ما کړي، بلکې مهمه اړتیا یې دا وه چې پــه دې مرکو کې ددې مرکوالو له خوا چې زموږ د هېواد مطرح فرهنگي څېرې گڼل کېږي، ډېر مهم مسایل بیان شوي دي. دا مسایل دومره ژور، مهم او په زړه پورې دي، چې نه یوازې اوسمهال زموږ د ځوان پښــت پــه درد لگي، بلکې راتلونکی پښت هم ترې ډېره گټه اخیستلای شي. زما لپاره ددې کار بل علت دا و چې زه غواړم د خپلو فرهنگیــالیو د فکــر هغــه مجموعه چې په دې مرکو کې خوندي شوې، لاپسې خوندي کړم، بــل هدف مې دا و چې دا مرکې لکه څنگه چې مې اشاره وکړه، ډېرې گټورې دي، نه غواړم زما تر مړینې وروسته، بل څوک اړ شــي د هغــو د بیــا د راټولونې سترړیا وگالي، پر ژوند هېڅ باور نه شته، هر لیکوال ته بویه خپل تېر هغه فرهنگي کار، چې په بیا چاپ ارزي په خپله ســره راټــول او د مجموعي چاپ له لارې یې له تیت وپرک حالته وژغوري او خوندي یې کړي، اوس خو دود دا دی؛ زموږ هر لیکوال چې له دې فاني نړۍ سترگې پټې کړي له همغې شېبې بیا تر کلونو کلونو زموږ نور لیکوال د هغــو د کړو کارونو پر بشپړولو مصروف وي او بیا یې هم نه شي بشپړولای او نه یې هم پوره خوندي کولای شي، نو هر لیکوال ته په کار دي چې لږ تر لږه

تر پنځه کلن فرهنګي کاري بهير وروسته خپل تېر کړی کار راټول، چاپ او خوندي کړي او د خپل کار، زيار راتلونکي نسل ته پرې نږدي.

دا مرکې چې تاسو ته وړاندې کوم اکثره يې له نن (۸-۱۲) کاله دمخه د هيلې مجلې په بېلابېلو ګڼو کې چاپ شوي او اکثره يې نږدې پر شلمه پوښتنه پای ته رسېږي، (شل) عدد ما قصداً د مرکو د پايته رسېدو لپاره ټاکلی، (شل) يوازې د رياضي يو عدد نه دی، (شل) په پښتو کې دکره او بشپړ کار مانا هم ورکوي، دا کار ما شل کړ، يا ما خو شل کړه، دا دنيا چا شل کړې نه ده او داسې نور، کله چې خپله ما دا مرکې راټولولې، نو خورا په تکليف يې کړم، ما فکر وکړ هغه مرکې چې ما خپله کړي او خپله مې په مجله کې چاپ کړي او مجله مې هم خپله چاپ کړې، نو د هغو بيـا راټولول ماته دومره ستونزمن شول، نو بـل چاتــه بــه دا کــار څــومره ستونزمن تمام شوی وای؟ له دې څخه مې دا نتيجه واخيسته؛ ښه بــه وي هر ليکوال خپل کړی کار خپله سره راټول کړي او هغــه ليکنـــې او فرهنګي کار چې پر بيا راټولولو او چاپ نه ارزي، ښه به وي چې ليکوال د خپل وصيت يا يادښت په ډول نورو ليکوالو ته ووايي چې زما دغه کار په بيا راټولولو نه ارزي، وخت پرې مه ضايع کوئ او که کوم داسې کــار چې پر راټولولو او بيا چاپ ارزي او ليکوال يې په خپله د بيــا چــاپ او راټولونې جوګه نه وي، هغه دې ځوانو ليکوالو ته وليکي، په دې ډول به زموږ راتلونکی نسل د چا د اثارو په راټولولو کې له ســتونزو ســره نــه مخامخېږي.

ما د خپل تېر کړي فرهنګي د انسجام لړۍ پيل کړې او غواړم له خپل تېر کار څخه ځان ښغمه کړم، په دې مرکو کې چې د تېر کړي کار يــوه برخه ده، ما هيڅ ډول لاس نه دی وهلای، يوازې کوم ځای کې چې کومه

چاپي او املايي تېروتنه وه، هغه مې سمه کړې ده، نور مې هر څــه پــر خپل شکل پرې ايښي او ددې مرکو اصــالت مــې ســاتلای دی، درانــه لوستونکي کولای شي چک يې کړي ما له ځينو نورو اشخاصو سره هم مرکې کړې وې، چې په نورو خپرونو کې په متفرقه توګه خپرې شوي ، خو اوس لاسته رانغلې، خو کومې چې مې ترلاســه کــړې، هغــه دادی ستاسو مخې ته ږدم، هيله ده زما دا وړانديز چې هر ليکوال دې خپل تېر کارونه خپله منظم او خوندي کړي، د نورو ليکوالو د هڅونې سبب شي او اوسني ليکوال د راتلونکو ليکوالو کارونه  زيات او درانه نه کړي.

د همدې ارمان د برې په ارمان

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعيل يون

ارګ،دجمهوري رياست ودانۍ،کابل– افغانستان

د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي (۳) مه

# زه د هېواد فرهنګ ته ډېرې زیاتې هیلې، امیدونه او انتظارونه لرم

**عبدالمالک بېکسیار د هېواد یو پیاوړی لیکوال او شاعر دی، کلونـه کېږي چې له هېواد لرې په ډنمـارک کــې د مهــاجرت ژوند تېــروي. عبــدالمالک بېکسیار د ژور ملي شعور او فکر خاوند دی. هیله مجله یې په همدې نیت پیل کړه چې د هېواد ملي فرهنــګ ته خدمت وکړي. دا مرکه د هیلې مجلې د لومړي کــال په دویمه ګڼه کې چې د ۱۳۷۶ل کال له غبرګولي- چنګاښ سره سمون خوري نشر شوې او د هغه وخت د حالاتو څرګندونه کوي:**



تر هر څه دمخه راته ددې مقولې له مخې چې (( چا ځان وپېژاند نو هغه خپل خدای(ج) وپېژاند)) لومړی ځان په څــو کرښــو کــې معرفي کړه او بیا به پر نورو خبرو بحث کوو؟

**نوم مې عبدالمالک بېکسیار، د برې پښتونخوا اوسېدونکی او په پښتو ژبه او ادب کې مې د لیسانس تر درجې پورې زده کړه کړې ده.**

د شاعرۍ له غم لړلې او فکر وړې دنیا سره دې له کومه وختــه راهیسې د ژوند مزي وتړل شول؟

**له (۱۳۵۹ل) کال راپه دېخوا په دې لټه کې یم چې شعر ولیکم او لــه (۱۳۶۲ل) کال راپه دېخوا مې د شعر په نامه پاړکي د هېواد په مطبوعاتو کې خواره شوي دي.**

تراوسه دې په دې برخه کې څومره بریالي ګامونه پورتــه کــړي دي، له خپلې شاعرۍ راضي یې؟

**د بریاوو خبره به لوستونکو ته پرېږدو چې هغــوی خپــل قضــاوت ور باندې وکړي او که ستا د پوښتنې موخه د کار کمیت وي نو د سوچونه او کړلېچونه تر نامه لاندې مې د شعرونو لومړۍ جونګ په همــدې شــپې ورځو کې په پېښور کې خور شو او که چېرې لوستونکو په خلاصه ټنډه ومانه نو د (سنځل ګل په شپو کې) بل د شعرونو جونګ راسره چاپ ته تیار پروت دی چې غواړم چاپ یې کړم او له شعر څخه د رضایت چــې کومه خبره ده هغه دا چې ته خپله هم شاعر یې او یو شاعر هم له خپله شعره راضي نه وي.**

د ځوانۍ په ښه ګرمه مرحله کې له هېواده په مهاجرت محکوم شوې او بیا دېرو لیرو وطنونو ته لاړې، دې اوږده ســفر ســتا پــه فکري ژوند کې څه ډول بدلون راووست؟

**د ګران هېواد له تودې غېږې څخه لرېوالي او بیا په بېلابېلو هېوادونو کې پردیس ژوند، له هېواد، خلکو او ولس سره زما مینه لا نوره ژوره او اورنۍ کړه او همدې لرېوالي او پردېسۍ زه د هېــواد، خلکــو، ازادۍ او نېکمرغۍ په اصلي مانو وپوهولم.**

هغه څوک چې په هېواد کې اوسېږي هغه له جګړې نه نیولې د نورو بېلابېلو عواملو له کبله خپل لړمون خوري او فریاد کـوي او هغه څوک چې غرب ته تللي، د هغـوی ځینـې کسـان هـم پـه اصطلاح یو ډول ناشکري څرګندوي، ستا په نظر د دغو متضـادو ټولنو ترمنځ د ژوند او فکر توپیرونه یو له بله څـومره بـېګنې او بدګنې لري؟

**ستا له دغې پوښتنې سره ماته د ( یو خوا پاڼ، بل خوا پړانګ) متل را یاد شي. زموږ هېوادوال څه د هېواد دننه او څه بهر د سولې او ارامۍ په ارمان دي او که خدای کول دغه ارمان ته به د طالبانو د اسلامي تحریک په رڼا کې رسو.**

هغه کسان چې په تېرو څو کلونو کې غرب ته په ډېـره سـختۍ لکه د صراط له پله نه چې تېرېږي ورتېر شوي او هلتـه اسـتوګن دي. څه فکر کوئ چې هغه به کله بېرته هېواد ته راستانه شي؟

**سره له دې چې دغه پوښتنه په بېل بېل کس پورې اړه لري مګر بیـا هم د هغې مینې، علاقې او همدردۍ له مخې چې افغانان یې له خپـل هېواد سره لري زه دا په ډاګه ویلای شـم چـې کـه پـه ګـران هېـواد افغانستان کې واقعي سوله، امن او ډیموکراسي تامین شي نو یوه زیاته برخه پردېس افغانان به د هېواد غېږې ته راستانه شي.**

په غرب کې مېشته افغانان په عمـومي ډول د خپـل هېـواد د فرهنګ د حال او راتلونکي په باب څه فکر کوي؟

**په غرب کې مېشته افغانان د ډېرو خلکو د غلطو ګومانونو پر خلاف د هېواد دفرهنګ د حال او راتلونکي په باب زیات اندېښمن دي.**

په غرب کې د افغانانو د فرهنګي فعالیتونو پــه بــاب لنــډه رڼــا واچوه!

**غرب ته د افغانانو د مهاجرت لومړۍ لسیزه یوه بې غږه، ځوړه لسیزه وه او که څه کېدل هم د شخص او یا ډلې په نامه وو، مګــر نــن ســبا د خدای(ج) په فضل افغانان لګیا دي په پردېسۍ کې د مېشته کامونو او ولسونو په منځ کې خپل مقام او لوری ټاکي، یو زیات شمېر فرهنګي او ټولنیز فعالیتونه روان دي او هره ورځ ددغو فعالیتونو لمن لا نوره هــم پسې پراخېږي.**

**دغه فعالیتونه د جرایدو، مجلو، اخبارونو، راډیوګانو، تلویزیونونو، ادبي او فرهنګي غونډو او نورو په بڼه ترسره کېږي.**

لکه څنګه چې درانه لوستونکي به هم خبر وي ستاسو په هلــو ځلو او مالي لګښت دلته په پېښور کې د ((هیله)) په نــوم مجلــه چاپ شوه چې لومړۍ ګڼه یې خلکو زیاته خوښه کړه، لکه څنګه چې زه خبر یم ددې مالي لګښت ستا له لوري پرې شوی، که هلته نور افغان فرهنګیان ستا اقتصادي متې در ټینګې نه کــړي نــو دا دومره مالي بار به ستا ځاني ژوند له مالي پلوه سترې نه کړي؟

**په دغه کار کې له ما سره په ډنمارک کې یو زیات شمېر فرهنګیــان، فرهنګپال او ملي شخصیتونه مرستندوی دي، دا چې د لــومړۍ ګڼــې مالي لګښت یې ما پر غاړه اخیستی وو زما د خپلې ځــاني علاقــې پــر اساس و او کېدی شي داسې هم وشي چې موږ هر یو په وار سره د یوې یوې ګڼې مالي لګښت پر غاړه واخلو، بله دا چې افغانان هېڅکله هــم خپل خدمتګاران بېنوا نه پرېږدي، زما په ګومان افغان ولس ته کار نــه**

**دی شوی تاسې وګورئ د تاريخ په اوږدو کې چې چا دغه ملت ته ان يو ګام هم پورته کړی، نو بيا يې تر پېړيو پېړيو قدرداني شوې او عزت يـې شوی او لا کېږي.**

په همدې اوسنۍ زماني مقطع کې د هېواد فرهنګ ته هيله من يې که نهيلی؟

**زه دهېواد فرهنګ ته ډېرې زياتې هيلې، اميدونه او انتظارونه لرم او دا کومه تصادفي خبره نه ده چې زموږ ددغه ناڅيزه فرهنګـي زيـار نـوم ((هيله)) شو.**

ځينې کسانو او ډلو غوښتل چې پښتني فرهنګ او پښتو ژبه د اور او نابودۍ په سيند لاهو کړي. تاسو ددې ډول اشخاصو او ډلو نيتونه او ناوړه هيلې څنګه ارزوئ؟

**تر کومه ځايه چې د پښتو ژبې خبره ده نو دا د يوه ژوندي څلوېښـت مليونيزه ملت ژبه ده چې د نابودۍ هيله يې د ځينو اشخاصـو سـوچه حماقت او لېونتوب بولم او بس.**

لکه څنګه چې څرګنده ده پښتنو په افغانستان کې په تېرو دوو سوو کالو کې په عين حاکميت کې محکوميت هم تېر کـړی دی، که څوک راباندې ډېر په قهر نه شي اکثره پښتانه واکمن چې پـه دې دورو کې تېر شوي هغه په خپله ژبه ګونګيان وو. په دې مانـا چې په دربار کې يې نه پښتو ويله، نه يې ليکله او نه يې کارولـه، البته ځينو پښتنو واکمنو چې په دې برخه کې د خپل زړه وينـې خوړلي د هغو درناوی او د کار د ارزښت احترام به هېڅکلـه هـم زموږ د ولس له زړه نه ونه وځي، تاسو څه فکر کوئ چې د پرديـو

ژبې او فرهنګي ښکېلاک او حاکمیت ته به څه وخت د پای ټکــی اېښودل کېږي؟

**د پردیو ژبو فرهنګي ښکېلاک او حاکمیت ته به هغه وخت د پای ټکی اېښودل کېږي، چې پښتو د کار وبار، ژوند، تعلیم او دربار ژبه شي، پــه دغه هکله د هیلې د لومړۍ ګڼې له یوې مقالې څخه دا جملې را اخلم: ((زه په دې نه یم چې پښتو (۵۰۰۰) کاله تاریخ لري او که ۵ ورځې، خــو زموږ ژبه ده پر موږ ګرانه ده او موږ یې په ارګ کې غواړو)) پاتې شــوه د تېرو چارواکو خبره چې دومره مې زړه ترې ویزاره دی چې نه غــواړم د هیلې پاڼې یې په نومونو او کړنو ولړم.**

د طالبانو اسلامي تحریک په اړه څه فکر کوئ، دوی افغانســتان له کومو لویو تراژیدیو څخه خلاص کړ او ددې په مقابل کې د دوی نیمګړتیاوې کومې دي؟

**د طالبانو اسلامي تحریک چې زه یې په ننګ او ناموس را اوچت شوی غورځنګ بولم، هېواد یې د غلو، داړه مارو، وطن پلورو او سمتي او ژبنیو جونونیانو له داسې یوه تاړاکه وژغوره چې تصور یې ان په انساني فکــر محال و او هغه کومې کوچنۍ نیمګړتیاوې چــې لا هــم موجــودې دي انشاءالله امو ته ددغه غورځنګ تر رسېدو به پای ته ورسېږي.**

که خدای مه کړه طالبان په اوسني وخت کــې د همــدې جــوړ شوي ملي ضد ائتلاف له خوا ماته وخوري نو د پښتنو ژوند ته بــه په افغانستان کې څه پېښ شي؟

**داسې به انشاء الله هېڅکله نه کېږي او که خدای مه کړه وشوه نو هغه د خوشال بابا خبره:**

**چا یې پلو له مخه پورته نه کړ**
**پــښتو لا هغسې بکره پرته ده**

**د هېواد په هره سیمه، دره او باندره کې په سلګونو نــور دغــه شــان غورځنګونه ویده دي.**

له طالبانو څخه د یو روښنفکره افغان پــه توګــه د ملــي ژبــې (پښتو) او افغاني فرهنګ د ودې لپاره څه هیلــې، وړاندیزونــه او غوښتنې لرې؟

**د روښنفکر له کلمې څخه په هغه اندول چې په افغانستان کې کارول کېږي زما کرکه ده، خو د یوه افغان په توګه له طالبانو څخه دا غوښتنې لرم:**

**چې حق باید حقدار ته وسپارل شــي او لکــه د تېــرو حکومتونــو د دروغجنې وروری او مساوات تر نامه لاندې د هېواد د مطلــق اکثریــت (پښتون) کام فرهنګي او ژبني امتیازات د بې تفاوتۍ په ډنډ لاهــو نــه کړي.**

**پښتو ژبې ته چې د پېړیو په اوږدو کې ورته څه التفات نه دی شــوی خپله خاصه پاملرنه وکړي او د یوه ژوندي څلوېښت ملیونیزه ټبر د ژبې او د ګران هېواد افغانستان د ملي ژبې په توګه یې درناوی پرځای کړي.**

**په دې هکله یوه خاطره را یاده شوه او هغه دا چې په جرمني کې مــې یوه سپین ږیري هېوادوال ته وویل چې کله به له خیره وطن ته ځو؟**

**نو په ځواب کې یې راته وویل:**

**کله چې نور راته د کابل په کوڅو کې څوک ((افغان غول)) نه وایي.**

اوس هم بېرته د ادب نړۍ ته! لکه څنګه چې ما ستا شعرونه لوستي اکثره په ملایمه، نرمه، پسته او خوږه شاعرانه ژبه لیکل شوي، په شعر کې له اغزنې او قهرجنې ژبې څخه کار نه دی اخیستل شوی، ستاسو ددې بري راز په څه کې دی؟

**زه نه پوهېږم چې دا بری دی او که ماته خو زه فکر کوم ددې وجه به دا وي چې زه په خپله همدغه شان یو انسان یم او زما په نظر شعر په خپله همدغه شان یو مولود دی او باید وي.**

**بله وجه یې کېدی شي دا هم وي چې زه د سکوت او زندان د زمانې شاعر یم او د هغې زمانې د شعرونو غټه تقاضا همدا وه ځکه چې له دې بغیر یې بیا د چارواکو له نازک خاطر سره ټکر کاوه او د دغه ټکر سزا بیا دا وه:**

**چا وې چې ډلګۍ د لېونو څه شوه**

**ځینې یې ړانده شوه ځینې ژبه پرې**

اوسنی ځوان ادبي بهیر څه ډول ارزوئ او د پرمختګ او نوښت لپاره یې څه وړاندیزونه لرئ؟

**اوسنی ځوان بهیر له هغو مشکلاتو او کړاوونو سره سره چې ورپېښ دي تر ډېره د انسان زړه ته ډاډ وربښي. خو باید له یاده ونه باسو چې سوچه ادب او نړه شعر ته زموږ واټن د پخوا په تناسب یو ګام هم نه دی رالنډ شوی، لیکوال او شاعران مو هماغه د پخوا په شان د شهرت او کتابونو چاپولو په مسابقه لګیا دي.**

د خپل شخصي ادبي ژوند یوه ترخه او یوه خوږه خاطره راته ووایه؟

**خوږه خاطره همدا اوس یاد ته نه راځي، ترخه خاطره دا چې تر ډېره عمره وروسته همدا تېر کال زه په دې وپوهېدم چې زما پلار محترم زما د شاعرۍ مخالف دی.**

د ازاد شعر په باب ستاسو خیال څه دی، پښتو کې د هغه حال او راتلونکی څه ډول ګورئ؟

**زه ازاد شعر ته خاص عقیدت لرم او په پښتنو کې ورته یوه ښېرازه راتلونکې وینم او هیله من یم ازاد شعر په پښتونخوا کې داسې ریښې وکړي لکه غزل.**

او وروستۍ او شلمه پوښتنه مې دا ده چې د خپل هېواد او ولس د ښېرازۍ لپاره دې کومې هیلې په زړه کې وي هغه راته په لنډیز سره څرګندې کړه؟

**زه هیله من یم چې ډېر ژر به مو ګران هېواد افغانستان د سولې او نېکمرغۍ په لمن کې سا واخلي، د بیا ودانۍ کار یې په ډېره چټکۍ پیل او په علمي، ادبي، سیاسي او فرهنګي ډګرونو کې له نړیوال کاروان سره همګام او پردېس افغانان بېرته خپل وطن ته راستانه شي او په لرې راتلونکې کې مې دا هیله ده چې افغانستان خپلې طبیعي پولې راخپلې او د یوه هوسا او سر لوړي افغانستان د جوړېدو پر لوري ټول افغانان لاسونه سره ورکړي.**

## نه بدلېږمه افغان یم څو چې یم
## زه د ګران افغانستان یم څو چې یم

استاد حبيب الله رفيع د افغانستان لوی ليکوال او څېړونکی دی. پــر( ۱۳۲۴ل) کــال د افغانســان د وردګو ولايت د سيداباد پــه ابــدره نومي ځای کې زېږېدلی دی. په ديني مدرسو کې تر زده کړو وروسته يــې په کابل کې د دارالتــاليف د تــاريخ ټولنې، فوکلور ټولنې، پښتو ټولنې د پښتو څېړنو او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي په توګه دنده ســرته رسولې ده. يو وخت يــې د ((پوهنــه)) ، ((اريانــا))، ((زېــری)) او ((فوکلور)) خپرونو کې د مهتمم، مرستيال او مدير په توګه هــم دنده اجرا کړې ده. تر مهاجرت وروسته يې په اسلام ابــاد کــې د افغانستان د جهاد ثقافتي شورا او په پېښور کې د افغانســتان د جهادي څېړنو د مرکز، د افغانستان د کلتوري ټولنې، د افغانستان د تاريخ ټولنې او د افغانستان د مرستو مرکز د غړي په توګه کــار کړی دی. دغه راز يې ((افغان جهــاد))، ((قلــم))، ((ســپېدې))، ((افغانستان))، ((تلوسې)) او ((تعاون)) په مجلو کې د ليکنې ډلې د غړي او مدير په توګه دنده ترسره کړې ده.



**استاد رفیع (۱۱۰) ټوکه منظوم، منثور، تخلیقي او څېړنیز اثار لري چې د بېلابېلو علمي موسسو له خوا چاپ شوي دي. او نور هم پر علمي او څېړنیزو کارونو بوخت دی. موږ دهیلې مجلې په دې (۱۳۷۸ل کال ۶) ګڼه کې له ښاغلي حبیب الله رفیع سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته را اړوو:**

اجازه راکړئ تر هر څه وړاندې ستاسو په ژوندون کې د نوي بدلون ( بهر ته تګ او بېرته راتګ) په اړه پوښتنه وکړم، ددې کار بنسټیز لامل څه و؟

**ماته په تېرو شلو کلونو کې بهر ته د تلو ګڼ چانسونه میسر وو، تر هر ځای وړاندې ناروې ته د تلو زمینه راته برابره وه، په ۱۳۶۵کال د مصر په راډیو کې د مصر د دولت له خوا رسماً د پښتو نطاق ټاکل شوی وم، خو تر دوو میاشتو وروسته بېرته راستون شوم، په ۱۳۶۸ کال امریکا ته یوه میاشت رسمي مېلمه وم او دوستانو راته ویل چې پاتې شه، زه بېرته راغلم، البته کاناډا ته مې د تلو توسن دا و چې په پېښور کې دوه درې کاله زما دوه زامن سره له دې چې لوړې نومرې یې درلودې د لوړو زده کړو له کولو نه بې برخې شول، زه د هغوی د زده کړو په خاطر ولاړم او د خپلو کارونو د کولو لپاره بېرته راغلم.**

په لویدیزه ټولنه کې دې ځان څنګه احساس کړ؟

**زما له نظره انسان هغه کب دی چې د خپل کلتور په سیند کې ژوند کوي، نو څوک چې د خپل کلتور له سیند نه ووزي له همداسې یوه حالت سره مخامخ کېږي، ما همداسې حالت درلود د پخوانو تجربو له مخې مې همداسې حالت ته د څه وخت لپاره ځان چمتو کړی و.**

سره له دې چې تاسو د خپلو څرګندونو له مخې په لویدیزه ټولنه کې خوښ نه وئ، نو بیا ولې مو هلته تګ غوره کړ؟

**فکر کوم ددې پوښتنې ځواب به دوو پورتنیو ځوابونو کړی وي.**

په لویدیځ کې مېشتېدنه او د هغه ځای تابعیت منل د خپلې ټولنې پر راتلونکي باندې د بې باورۍ او نهیلۍ په مانا نه دي؟

**یوه هېواد ته تلل او د یوه هېواد تابعیت منل دوې بېلې پوښتنې دي، ډېر داسې افغانان شته چې پنځلس شل کاله وړاندې بهر ته تللي، خو د بل هېواد تابعیت یې نه دی منلی او زه خو اصلاً ټول عمر دا تصور هم نه لرم، چې افغاني تابعیت پرېږدم.**

**نه بـدلېږمه افغان یم څو چې یم- زه د ګران افغانستان یم څو چې یم**

**د کاناډا په باب باید دا هم درته څرګنده کړم چې هغه هېواد د مهاجرو ټولنه ده او د حکومت او قانون جوړولو کار یې هم د مهاجرو په لاس کې دی، هغوی داسې قانون جوړ کړی چې هر کاناډا ته تللی کس کولای شي د خپل اصلي تابعیت په ساتلو سره کاناډایي تابعیت هم ولري. زه په مونټریال کې اوسېدم، دا د فرانسویانو سیمه ده او د کیوبک په ایالت کې لس ملیونه فرانسویان ژوند کوي تر دې چې دوی د خپل ایالت لپاره خپلواکۍ هم غواړي خو دوی ځان ته فرانسوي کاناډیز وایي او د خپل اصلي تابعیت له ساتلو سره کاناډایي شوي دي. دا یوه یادونه وه زه اصلاً ددې نیمه تابعیت ترلاسه کولو نیت هم نه لرم او له همدې امله په ټریول ډاکومنټ (سفري سند) مسافرت کوم.**

تاسو ته ښه څرګنده ده چې زمونږ په ټولنه کې اوس د پوهې او هنر خاوندان او یا قلموال د استهلاک، اختناق، سکوت، شاتګ او

د ډول، ډول فزیکي خطرونو له ګواښ سره مخامخ دي، خــو کــه لویدیځ ته لاړ شي مانیز او کلتوري ژوند یې مسخه کېــږي خــو د فزیکي ژوند د ښېرازۍ امکان یې شته، نو ستاسو په انــد پــه دې دواړو لارو کې باید کومه یوه غوره شي؟

**دا سمه ده خو اصلي خبره داده چې دا شل کلن ناورین خو عام ولس پر ځان نه دی نازل کړی ددې په راوستلو کې خو د همــدې لوســتو او روزل شویو کسانو لاس و چې عام ولس یې په سرو لنبو واړاوه، هره ډله خپله تجربه پرې کوي، بیا دوی تښتي او ولــس پــه اور کــې پرېــږدي، خلقیانو او پرچمیانو به چې د امپریالیزم جهانخوار په کلمو خوله شلوله نن د همغه امپریالیزم په غېږ کې خپل عیش او عشرت کوي، اخوانیان چې غربي ټولنه به یې د فساد ځاله بلله نن همهغې د فساد ځالې ته ور زغلي او داسې نور روښنفکران او روښنفکرنمایان هم. یاد مې دي لــه ارواښاد پوهاند ډاکټر سید بهاءالدین مجروح نه بي بي ســي پوښــتنه وکړه: ته چې په پېښور کې ژوند او کار کوې د خطر احساس درسره نــه شته؟ هغه په ځواب کې ورته وویل: زه ددې خوار ولس په پیســو روزل شوی یم که د مرګ خطر وي هم زه به د دوی په څنګ کې وم او ددوی لپاره به کار کوم، تاسو ولیدل چې همداسې وشول او د خپل ملت پــه څنګ کې یې قرباني ورکړه. ګڼ شمېر هغه افغانان چې ملي احساس یې ژوندی دی په خارج کې هم آرام نه دي او متاسفانه لــه راز راز روحــي فشارونو سره لاس او ګرېوان دي. زما نظر دادی چې زموږ ټولنه د بدلون او د وضعې د تغیر لپاره خپلو روزل شویو زامنو ته اړتیا لري نو بهر ته د تلو د هڅې پر ځای باید د حالاتو د بدلېدو لپاره هڅه وکړو:**

چې په لړه ګرمۍ شا کاندي و ګل ته
له دې بـــې وفا شبنمه ولې نه مرم؟

پورتنۍ پوښتنه عامه ده خو بې انصافي به وي که موږ د يو شمېر هغو لويديځمېشتو افغان فرهنګيانو او فرهنګپالو خدمتونه هېر کړو چې د څو کلونو په بهير کې يې ترسره کړي دي. دا ليکوال اصلاً د فکري بلوغ او پوخوالي په پړاو کې هلته لېږدېدلي نو ځکه خو يې ذهني مقاومــت زيات دی خو د دوی بل نسل ته د مسخه کېدو زيات ګواښونه شته.

تاسو د دوی او د دوی د راتلونکي پښت په باب څه نظر لرئ؟

زه په دې برخه کې ستاسو په شان خوشبين يم، دوی کار کړی خــو انفرادي اويستوی دی، له دوی نه هيلــه دا وه چــې يــو لــوی نړيــوال سياسي، کلتوري او اقتصادي بهير يې را روان کړی وای او د افغانستان د وضعې د بدلون لپاره يې د نړيوال فشار په توګه کار تــرې اخيســتی وای، خو متاسفانه د دوی اکثره فرهنګي کارونه په هېواد کې د تعصبونو د زياتولو او د ژبنيو، سيمه ييزو او نورو ناروغيو اور ته د پوکي وهلو په ستنيو ولاړ دي او اکثره يو له بل سره لاس او ګرېــوان دي. دوی زمــوږ رون ځواک دی او بايد د هېواد د نجات لپاره په ټوله نړۍ کې ارتبــاطي کړۍ جوړې کړي او دا لړۍ تر هېواده راوغځوي. پــاتې شــو راتلــونکی پښت، په دې باب ما يوه مفصله څېړنه کړې چې دلته يې نه تکراروم او په لنډيز وايم چې يوه پېړۍ د دريو نسلونو پلار، زوی او لمســي لپــاره ټاکل شوې، زموږ غمېزه اوس ۲۱ کلنه ده چې دولس کاله نور پرې تېــر شي د اوسنيو پلرونو نسل به خپل ځای کړوسيانو ته تش کړی وي او په بهر کې لوی شوي کړوسيان به يوازې دومره پوهېږي چې زما پلار افغان و او مسلمان و، بس.

اوس په پېښور او لویدیځ کې د یو شمېر افغان فرهنګیانو ترمنځ د فرهنګي ملګرتیا او کارونو لپاره د اړیکو یو هوايي پل جوړ شوی او د دوی په مالي مرسته دلته د یاد وړ کتابونه چاپېږي، که دا لړۍ همداسې دوام ومومي نو پښتو ادب او د هېواد فرهنګ ته به یې د ګټې څومره والی ځنګه وي؟ او بل کـه چېـرې د لویدیځمېشـتو مالي مرستې پر همغه مناسب ځای ونه لګول شي نو عواقب به یې څه وي؟

**په تېره تیاره کې یوه کمزورې رڼا هم د موخې مخه څرګنـدولی شـي. زموږ کلتور اوس په همداسې تیاره کې را ایسار دی نو دا ډېر ګټور کـار دی او زموږ د وران شوي او تالا شوي فرهنګ په سپېره شوې ورشو کې نوي بوټي دي چې پوره پاملرنه، څارنه او پالنه غواړي او که خدایه مـه کړې دا مرستې بې ځایه ولګولې شي او د شخصي دوستۍ او دښمنۍ او خویشخورۍ په چورلیز کې ولوېږي نو بیا به ډېر ژر دا نوي نیـالګي وچ شي او دا پل به ونړېږي.**

ډېره ښښنه غواړم. زموږ ځینې لیکوال د پردې تر شا پر تاسـو دا اعتراض او نیوکه کوي چې استاد حبیب الله رفیع د افغانستان یو ستر، هڅاند او زیار کښ لیکوال دی او موږ ترې د ډېـرو سـترو او لویو لویو کارونو هیله لرو چې تر ده پرته یې شاید د ګوتو په شمېر کسان تر سره کړای شي، خو په خواشینۍ سره چې استاد رفیـع پر ډېرو کوچنیو شیانو مصروف دی چې هغه ډېر عادي لیکوال او ناظمان هم تر سره کولای شي لکه د وربښمو هغه چینجي چې په

شمېر پوهېږي، تراني او نښاني، چرس، نسوارو، پوډر او نورو شیانو ته نظمونه او داسې نور... تاسو خپلو مینه والــو، لېوالــو، پرتاســو حسابوالو او انتقاد کوونکو ته څه ځواب لرئ؟

تاسو پوهېږئ چې پر هېواد یو ورانوونکی سېلاب او توپان راغی چې هر څه یې ولړزول او وران یې کړل، په دې لړ کې زه هم ددې توپــان د سرخسنی وم چې دا یوویشت کاله مې سرگردانه ساتي. ما په هېواد کې یو لوی کتابتون درلود چې په لسګونو زره کتابونه او مجلې او داسې آثار چې زما د څېړنو په درد یې خوړل په کې وو خو زه چې یوویشت کــال مخکې له هېواده راوتلم له دې ټولو آثارو نه مې یــوازې یــوه کــوچنۍ تذکره راسره وه چې په خپل جیب کې مې کېښېښوده او راووتلم نو ددې منظم کتابتون له لاسه وتلو سره زما د منظمو څېړنو لړۍ وشلېدله، دلته هم د روزۍ وسیله د کمشنرۍ په سپېشل الاونس ( ځانګړې تنخوا) او د تنظیمونو په نوکرۍ کې وه خو ما چې له خپلې خولې سره مسلات وکړ د یوه اجازه یې هم رانه کړه، د بازار مزدوري مې هم له لاسه نه کېده، خو د پېښور، د پښتو اکیډمۍ د هغه وخت مشر پروفیسور محمد نواز طاهر راته وویل: زموږ قلمي نسخې په دوړو او ګردونو کې پرتې دي، دا وګوره، کارډونه یې ولیکه، موږ به د خپلو محدودو امکاناتو په رڼا کې په کــارډ دوې روپۍ درکوو، زما لپاره دا کار د زړه د خوښې کار و او په دې توګــه مې د یوه محدود جیب خرڅ امکانات ترلاسه کړل او بیا په قلم، افغــان جهاد، سپېدې او تعاون مجلو کې د کار زمینه راته برابره شوه او د خپل ژوند ګاډی مې روان کړ. په دې ترتیب د ژوند سرګردانۍ او د کتابتون له لاسه وتلو د منظمو څېړنو زمینه رانه واخیستله خو بیا مې هم چې څه

**له لاسه کېدل هغه مې کول، ملي مفکوره د ښې او کيڼ افراط د فشار له امله تر سخت تهدید لاندې وه خو ما له تهدید سره سره دا لاره پالله او پالم به يې.**

**راغلو دې ته چې زه ولې ماشومانو ته کتابونه ليکم، زما له نظره وړو ته د کتابونو ليکل ووړ کار نه، بلکې ډېر لوی کار دی او دې ته زه هغه وخت متوجه شوم چې څلوېښت کاله وړاندې مې په کابل کې د مصر په ثقافتي مرکز کې درس وايه، هلته د ماشومانو لپاره، په لسګونو زره کتابونه، مجلې، فلمونه او نور تفریحي وسايل موجود وو خو زموږ ماشومان په مطلق ډول محروم وو او يوازې د کوچنيانو ږغ او د وړو انيس هغه وخت په کابل کې خپرېدل زه هم هغه وخت وهڅېدلم او د ماشومانو آثار به مې له عربي څخه ژباړل او په افغاني خپرونو کې خپرول او دا اوسني چاپ شوي آثار مې لکه تمه، وو نه وو، د وړو هېنداره او نور د هغه وخت دي او دا زه خپله دنده ګڼم چې موږ خپلو ماشومانو ته پر درسي کتابونو سربېره بايد نور بوختوونکي آثار هم ولرو نو څکه د ماشومانو لپاره د اثارو ليکل يوه لويه ملي اړتيا ګڼم او ان که ما له نورو کارونو نه باسي هم زه به دې کار ته ادامه ورکوم او هيله لرم داسې ورځ راشي چې زموږ محروم ماشومان په خپله ژبه کې له خپلې سويې سره سم خرواروڼه، خروارونه کتابونه ولري.**

همدې پورتنۍ پوښتنې ته ورڅېرمه يوه پوښتنه داده چې دا هم وخت نا وخت مطرح کېږي او د پرتلنې بڼه لري هغه دا چې ستاسو مينه وال او لېوال وايي چې موږ د څېړنې په برخه کې پر رفيع صاحب او هېوادمل صاحب زيات حساب کوو. هېوادمل

صاحب په پېښور کې د څو کلونو پــه بهیــر کــې د نــورو کــارونو ترڅنګ دوه ستر کارونه ترسره کړل؛ (( په هند کې د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه او د پښتو نثر اته سوه کاله)) اثار یې چاپ کړل، خو استاد رفیع دې ته ورته کارونه ونه کړل او یا یــې کــړي چاپ کړي یې نه دي، تاسو په دې باب څه نظر لرئ؟

د خپلو څېړنو د منظمې لړۍ د شلېدلو په بــاب مــې بــره معلومــات درکړل، خو زما او د ګران هېوادمل صاحب پر تلنه ناشونې ده، دی چې یو کار شروع کوي کلکه ملا ورته تړي او د کار تر پای ته رسولو پورې ملا نه پرانیزي خو زه بیا بوالهوس یم، یو کار شروع کړم هغه لا سر ته نه وي رسېدلی چې بیا بل  کار ته لاس وغځوم، په دې ترتیب ګڼ کارونه کوم خو ټول نیمګړي پراته وي، ډېر کارونه هېوادمل صاحب د لرګي پــه زور راباندې ترسره کړي دي خو بیا هم په تېرو شلو کلونو کې ښخي بې کاره نه وم یو شمېر کارونه مې کړي چې ځینې چاپ او ځینې ناچاپ دي. په متنونو کې مې د ((دبیر دانش)) په نامه د کلیلې د منې یوه پښتو ژباړه په دوولس سوه مخونو کې تهیه او پښتو اکیډمۍ خپره کړه چې پراخه مقدمه او ګڼ تعلیقات لري. د اخوند احمــد ((ورک زوی څنګــه پیــدا شو؟))، د خوشال بابا ((فالنامه)) او ((وصیت نامه)) هم هغه متنونه دي چې چاپ شوي. همدا راز د پښتو اکیډمۍ قلمي نسخې او دپښتونخوا او دنیا په کتابتونو کې پښتو قلمي نسخې دوه پېړ کتابونه دي چې چاپ ته چمتو دي، ((افغاني خپرونې)) یو بل تاریخي تحلیل دی چــې د چــاپ انتظار باسي او همدا راز په افغانستان کې د ښځو د زده کړو، د عصري زده کړو او لویې جرګې په باب مې داسې رسالې لیکلې چې هېوادمــل

**صاحب راته چاپ کړې دي د افغانستان لنډکی تاریخ پنځوس زره کاله په پنځوس پاڼو یو بل اثر دی چې ځوانانو ته لیکل شوی او همداســې د تمدن سوغات هم در واخلئ او نورې ګنې رسالې خو بیا هم لکه تاســو چې وویل د منظم څېړنیز کار لړۍ مې شلېدلې ده او د خپلــې ژبــې او فرهنګ لپاره لېونۍ تلوسه لرم چې ډېر کار وکړم خو:**

**کله زه، کله مې یار، کله ریبار سست**
**ځــکه شــو زما د مینې کاروبار سست**

لکه ښکه چې موږ او ځینو نورو لیکوالو ته څرګنده ده، تاسو د خپلو لیکنو او آثارو د خپراوي تر څنګ د ګڼ شمېر نورو لیکوالــو آثار هم خپاره کړي او خپروئ يې، ددې آثــارو ســمون، ایــډیټ، توري لوستنه او چاپ خورا زیات زحمت غواړي، زما په اند دا کــار یوه لیکوال ته ډېر زیان رسوي. تاسو تــه دې کــار څــومره زیــان اړولای او دا مسئله څنګه ارزوئ؟

**دا رښتیا هم ګران کار دی خو زما دوستان تر دې هم راباندې ګران او زورور دي، نه نه شم ورته ویلای ځکه دوی تــه څرګنــده ده چــې زه د کتاب د سمولو او چاپ په برخه کې نهایي احتیاط نه کار اخلم نو ځکه رانه غواړي چې کتابونه يې ورته چاپ کــړم او هــم د مــړو مشــرانو او استادانو پر ځان حق ګنم چې آثار يې چاپ او ټولنې ته وړاندې کړم، ته پوهېږې چې دمینې د نړۍ هر څه خوندور وي، دا زما مینه ده، ماته په خپله ژبه د یوه کتاب زیاتون که زما وي یا د بل چا یو ډول ارزښت لري نو ځکه زه دا ټول کار بولم او ځان ته يې زیان نه ګنم!**

اوس، اوس پر کومو فرهنګي کارونو بوخت یاست او راتلونکی فرهنګي پلان مو څه دی؟

**اوس مې د افغانستان د فرهنګي خدمتونو اداره فعاله کړې او هیله لرم له دې لارې خپل فرهنګ ته د خپلو او د نورو درنو لیکوالو د آثارو د خپرونې له لارې څه نا څه خدمت وکړم. زما په خپلو ځانګړیو کارونو کې د پښتو نه، لس تاریخي متنونه شامل دي چې چاپ ته یې له سریزو او نښلونو سره تیاروم چې په اکثرو کې یې نوي تاریخي حقایق او خبرې شته.**

یو لیکوال څنګه کولای شي د فرهنګي او اقتصادي لېوالتیا ترمنځ انډول وساتي، فرضاً که اقتصادي لېوالتیا زیاته شي د لیکوال فرهنګي کار او د هغه اخلاقي شخصیت به څومره زیانمن کړي؟

**دا په زړه پورې پوښتنه ده، یو لیکوال چې فرهنګي کار ته لاس اچوي لومړی هدف یې باید فرهنګي خدمت او د خپل فرهنګي کار ارزښت او د کیفیت لوړوالی وي، د پیسو ترلاسه کول یې باید ضمني اړخ وي او که فرهنګي کار د پیسو ترلاسه کولو لپاره کوي نو بیا ښه داده چې یوه بل مستقیم تجارتي کار ته لاس واچوي ځکه په دې صورت کې یې کار کیفي اړخ له لاسه ورکوي او اخلاقي شخصیت یې زیانمن کېږي.**

په فرهنګي کار کې صداقت او جرئت څنګه ارزوئ؟

**فرهنګي کارونه داسې کارونه دي چې تر پردې لاندې نه کېږي هر څوک چې هر څه کوي د ټولنې له سترګو نه پټېږي زما له نظره د صداقت او جرئت ترڅنګ لېونی مینه هم غواړي او ملي بصیرت هم.**

په ځینې ملي مسایلو او لیکنو کې له ډېر احتیاط نه کار اخلئ دا احتیاط د مضر احتیاط له کبله دی او که نه د یوه پـوخ سـنجول شوي فکر اوعقیدې له مخې؟

ستاسو پوښتنه ډېره واضحه نه ده خو څرنګه چې په دې برخه کې مو په خوله ډېر بحثونه سره کړي نو ځکه غواړم په ډېر وضـاحت ځـواب درکړم او هیله لرم چې په چاپ کې څه ترې کم نه شي.

یون صاحب ستاسو د ژوند لیک له مخې تاسو یو کلن واست چې ما د ملي سیاست او ملي ایډیالوژۍ په ډګر کې قدم ایښی او دادی پوره دوه دېرش کاله وتلي چې پردې لاره روان یم، په دې لاره کې نه زه ویرېدلی یم او نه مې مضر احتیاط کړی، ما په ۱۳۴۸ل کال کې دا ټوټه لیکې وه:

مـــنم وژلـی مـې شـې خـو چوپ کېدلی نـه شم
لـــه خـــپل مـــلي مـرامـه هـېڅ تېرېدلی نـه شم
د خپـــل مـــلت پـــه مـــخ کې قـرباني فـخر ګنم
سـر مـــې بخښلی شمـه، حـق مـې بخښلی نـه شـم

چې بیا څو ورځې وروسته بندي شوم، یو ځل بیا هم د زندان مېلمـه شوم، کمونستانو هم په همدې جرم(؟) زنداني کړم او دلته په پېښور کې مې هم دا شل کاله د همدې ملي مفکورې په درلودلو د ښیو افراطینو له خوا شپې ورځې ترخې وې او په هېواد کې ستمي حکومتونو هم په کاږه نظر راته کتل. زما له نظره افغانستان د ټولـو قومونـو ګـډ کـور دی، د افغانستان ملت له ټولو قومونو نه جوړ دی، زه هر هغـه څـوک چـې د افغانستان ملي ګټې، ملي خپلواکي او ملي وحدت ورته ګران وي افغان بولم، زه من حیث القوم د افغانستان یو قوم هم خاین او پردی نه بولم او من حیث الفرد هر څوک چې خیانت کوي که پښتون وي، تاجـک وي،

ترکمن وي، ازبک وي، هزاره وي يا بل څوک خاين دی. په تېرو کلونو کې چې چا د ژبني، سمتي او قومي انتساب په نامه انسان وژنې او جنايتونه کړي سره له دې چې دوی دا کارونه د يوه قوم د نمايندګۍ په نامه کړي خو زه دوی د قوم نماينده ګان نه ګڼم او نه د دوی جنايت يوه قوم تــه منسوبوم، زما له نظره پښتو د افغانستان ملي ژبه ده او زه يې د پښتو د يوه ليکوال په صفت خدمت کوم، همدا راز دري هم د هېواد يوه رسمي ژبه ده او زه هيله لرم چې دري ليکوالان يې خدمت وکړي، همدا راز زه د بشري حق له مخې غواړم چې د هېواد د نورو ګڼو ولسي ژبو ويونکي ماشومان په خپلو مورنيو ژبې خپلې لومړنۍ زده کړې وکړي او سيمه ييز راډيو، تلويزيون او اخبار د دوی په ژبــو خپرونــې ولــري. زه د پوهانــد سلطان شاه همام دا نظر هم غندم چې پښتانه افغانستان ته د هند له سيول نومي کلي نه راغلي او د تاجيکانو د وطن اشغالوونکي يې بولي او د ښاغلي سمسور افغان دا وړانديز هم ردوم چې تاجيکان د پښتنو په سيمو کې وېشل او د دوی ژبه ورکول غواړي، همداسې ډېرې تبعيضي نظر يې شته چې زه يې د ګران هېواد په زيان ګڼم او په واز کومي يــې ترديدوم زه مضر احتياط نه کوم، بلکې له افراط او په افغانستان کې له هر راز ويشاکي فکر سره مخالف يم او دا لاره ما په پاخه ســنجش او د مالي او ځاني قربانيو په بدل کې ځان ته ټاکلې او:

(( په دې لاره به روان يم څو چې يم!))

او په همدې ورځو کې مې ان شاء الله د (( ملي زاويه)) په نامه يو کتــاب راوتونکی دی چې دا مسايل په کې څېړل شوي او زما د ۳۲ کلونو وړاندې مقالې هم په کې شته.

په فرهنګي کار کې ستاسو د هڅونې او ملاتړ له پلوه له پښــتنو ځخه خوښ يې او که نا خوښ؟

**په دې لاره کې د افرادو له نظره له ورینو تندیو سره هم مخامخ شوی یم او له وړینو تندیو سره هم، د ځینې کسانو له خوا دښمنۍ هم راسره شوې، مخه مې هم نیول شوې. روا حقوق مې هم رانه تروړل شوي او د سیمه ییزو تعصبونو ښکار شوی هم یم، بالمقابل مهربانــه او زړه ســواند دوســتان او استادان مې هم درلودل چې هڅولی او نازولی یې یم او من حیث المجموع پښتنو او افغانانو زما کار ستایلی او زما عاجزانه او مخلصانه کار ته یې د قدر په سترګه کتلي دي.**

لویې فرهنګي او ملي هیلې دې کومې دي؟

**محرومیت او د نعمت زوال د سړي لوږه او تنده ډېره زیاتوي زما لویې ملي او فرهګي هیلې ډېرې زیاتې دي، لویه ارزو مې داده چې هېواد ارام او بشپړ امنیت په کې راشي او د وران وطن د ودانولو کار په بیړه او چټکتیـا پیــل شي، د پوهنې لمن په ټول هېواد کې خوره شي او د فرهنګ د ودې لپــاره لویې اداري په کار ولوېږي او ټول هېوادوال په داسې انــرژۍ او مینــه کــار وکړي چې د جګړې ناولې نخښې نښانې ډېر ژر له هېواد نه ورکې شــي او مورې هم په دې یوویشتمه پېړۍ کې د نړۍ د هېوادونو په نړۍ کې د سیالۍ ځای ولرو، داخو لویې ملي او فرهنګي هیلې دي خو وړې او عملي هیلــې مې دادي چې هر افغان له موجودو امکاناتو نه په اعظمي توګــه اســتفاده وکړي او د فرهنګ د ورانې شوې موسسې په دېوال کې که یوه وړه خښته ایښودلای شي هم، کېښېږدي.**

ښښنه غواړم یوه بله مسلک ډوله پوښتنه چې حل یې له تاسو نه هیله کېدی شي، په ټولیز ډول یوه لیکنه باید کــومې کچــې تــه ورسېږي چې د یو ((اثر)) په نوم یاده شي. ایا لس مخیزه، پنځلس مخیزه لیکنه او نور... په هره منځپانګه چې وي او په کتــابي بڼــه

چاپ شي نو اثر ورته ویلای شو او که نه د یو اثر یا کتاب لپاره کوم ځانګړی نورم په پام کې نیول کېږي؟

**هسې خو په لغوي لحاظ هره چاپي کتابچه اثر بلل کېږي او موږ او تاسو یې وینو چې په کتابښودونو کې راځي خو حقیقت دادی چې یو اثر باید تر لیکلو وړاندې د یوه مشخص هدف لپاره لیکل شوی وي، د ټولنې د ستونزو یوه غوټه پرانیستلی شي او په سلو مخونو کې لږ تر لږه پنځه مخه نوې خبرې ولري، که په یوه اثر کې د ټولنې اړتیاوې او خصوصاً نویوالی نه وي او تش تکرار وي تر مادي موجودیت پرته یې زما له نظره معنوي ارزښت نه شته، موږ ډېر وینو چې یوه ډېره لنډه مقاله تر ډېرو لویو او پنډو اثارو ارزښتمنه او ګټوره وي ځکه چې نوې خبرې، وړاندیزونه او بحثونه لري.**

روان فرهنګي بهیر څنګه ارزوئ؟

**روان فرهنګي بهیر زما له نظره ښه او ګړندی دی، ځکه شل کلن ناورین وژونکې فرهنګي تنده رامنځته کړې او په ځانګړي توګه بهر ته تللي فرهنګیان چې د خپلې استوګنې په هېوادونو کې فرهنګي چټک بهیرونه ویني هڅېږي چې د دوی ژبه او فرهنګ هم باید له سکون نه راووزي او یون وکړي نو ځکه دا یون ګړندی دی خو د فلټر کولو عملیه یې غړنده ده، دا کار هم باید له کلتوري هڅو سره عیار شي او د مسوولانه برخورد او فرهنګي ګډو هڅو له لارې دا بهیر پیاوړی، غښتلی او منلی شي.**

پښتو ژبې او ادب ته باید د چیغو او نارو سورو پرځای څه وشي؟

**نارې سورې ډېرې زیان اړونکي دي، ځکه نارې سورې د ژبې او ادب دښمنان راویښوي او د روانو عملي کارونو لپاره خنډ کېږي. یو څوک چې په پټه خوله ډېر لږ کار هم کولای شي تر له نارو سورو سره مله لوی کار نه لوی او ګټور دی.**

د ځوانو لیکوالو د سالم پرمختګ او هڅونې لپاره کومې لاربښوونې او وړاندیزونه لرئ؟

**ځوان لیکوال باید مطالعې او اورېدنو ته زیات ارزښت ورکړي، د لیکلو په رامنځته کولو باید ځان ته مغرور نه شي چې ګواکې ډیلی یې فتح کړی دی، تل باید هڅه وکړي او د خپل هر کار په باب داسې قضاوت وکړي چې کار مې نیمګړی دی او باید د بشپړتابه هڅه یې وکړم. د ملي اړتیاو، وړتیاو او ملي ګټو په رڼا کې لیکل وکړي او خپلو هېوادوالو ته داسې نسخې وړاندې کړي چې شته ټپونه پرې پټی شي نه دا چې نور ټپونه ترې وزېږي. زما له نظره ځوان نسل د انقلاب نسل دی چې له دې ډلې څخه ځوان لیکوالان هم دي، تېرو شلو کلونو دومره پېښې لیدلي چې تېرو زرو کلونو نه دي لیدلي، نو ځکه دوی په لږ عمر کې له ډېر څه سره اشنا شوي او باید له دې هر څه نه پند او عبرت واخلي او د خپلې ټولنې په ګټه یې د خپل لیک په لمنه کې راونغاړي.**

**په مینه او مننه**

# پوهاند زيار د پښتو ليکني او ژبني معيار مخکښ



دغه مرکه ما له نن څخــه نږدې شل کاله مخکې (هغه وخت چې زه د پوهنتــون د دريیم ټولګي محصل وم) له استاد زيار سره کړې وه او د همغــه وخــت د غوښــتنو اوظرفيتونـــو څرګندونـــه کوي. دا مرکه (استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوري) کتاب کې چې پر ۱۳۷۲ ل کال پــه لاهور کې چاپ شوی، خپره شوې ده. دا دی ددې مرکو په لړ کې دا هم خپروو:

۱– پوښتنه: ښاغلی استاد زيار! ما څو ځايه ستا د ژوند ليکونــو په ترڅ کې چې ستا د چاپ شويو کتابونو پر دوو تنو (پښتيو) او ژوندون مجلې د (۱۳۶۷ل) کال په (۴) ګڼه کې خپاره شوي دي، ستا د خپلواکو څېړنيزو،ژباړيزو او زېږندويزو(تخليقي) اثارو شمېر (۱۳۰) او ليکنو (مقالو) هغه (۱۱۰۰) ښوول شوي، خــو زمــا د لــړو ډېرې پلټنې له مخې لومړی شمېر تر ۱۳۰ ټوکو هم تېــری کــوي،

خو ستا دبېلابېلو لیکنو ټول شمېر مې د ورځپاڼو، جریدو او مجلو د کلکسیونونو د نشتوالي او نیمګړتیا له کبله پوره نه شو کړای په دغه برخه کې ستا غبرګون څه دی؟

ځواب: څنګه چې زما د بېلابېلو لیکنو(مقالو) شمېر هم زیاتره په ژورنالیستیک فعالیت پورې اړه لري او په تېره بیا دا چې له (۱۳۳۸ل) کال څخه مې تر (۱۳۴۵ ل) کال پورې د هېواد ورځپاڼې د خبریال په توګه زښتې ډېرې لیکنې خپرې شوي، نو دا کومه هېښنده خبره نه ده، چې د کلکسیونو نشتوالی او نیمګړوالی یې تا دغې پوښتنې ته اړ باسي. زه پوره باور لرم چې که دغه کلکسیونونه په لاس درغلي وای، هرو مرو دې زما ((شمېر)) ته د مننې سر خوځاوه. څکه ښه مې په یاد دي، چې د (۱۳۳۸ ل) کال له ژمي بیا د (۱۳۴۱ ل) کال تر پایه د هېواد ورځپاڼې یوه ګڼه هم بې زما له لیکنې خپره شوې نه ده. آن داسې وخت راغلی، چې په بېلابېلو پور نومو(لکه مزینه وال، اخترخېل...) مې پکې تر درو لیکنو هم خپرې شوي دي؛ یو راپورتاژ، یوه مرکه او یا هم ورزشي او هنري تبصره، که نه یو ښاري خبر خو به مې بې نومه هم پکې خپرېده. نو که په منځنۍ کچه مې یوازې په هېواد ورځپاڼه کې د کال ۳۰۰ لیکنې خپرې شوي وي، نو یوازې په نوموړو درو کلونو کې د ژورنالیستیکو لیکنو شمېر نهو سوو ته رسېږي او همزمان ورسره په نورو ورځپاڼو او مهالنیو کې هم لږ تر لږه ۵۰ لیکنې ورسر باری شوي دي او دغه راز ژورنالیستیک فعالیت مې لږو ډېر تر دې دمه را رسېږي.

زه دا باتې نه وهم چې ګوندې زما ټولې ۱۱۰۰ لیکنې دې یو مخیزه علمي او څېړنیزې وي، دغه راز په پورتني شمېر کې زما ځینو هغو

لیکنو هم غبرگون (دو بیلکیت) موندلی، چې په علمي سیمینارونو او غونډو کې مې اورولي او بیا وروسته په اړوندو غونډو ( مجموعو) کې چاپ شوي دي اویا لکه ژبني هغه چې یوه زیاته برخه یې په ((لیکلار)) او ((ویي پوهنه)) کې راغلې ده.

نو واړه واړه مطلبونه لکه سریزې، یادښتونه، کتنې، ارزونې یا تقریظونه هم په پورتني شمېر کې راځي، چې پر ځینو علمي تېزسونو او داستاني غونډونو مې کښلي دي او دا هم باید ووایم چې زما د لیکنو شمېر په دوه مخکې کلو اړه لري او نورې لیکنې مې همداسې روانې دي.

هرگوره، زما ادبي زېږندویی ( تخلیقات) تر نوموړي شمېر دباندې دي، چې تا هم ورته ځانته جلا څېرکی ورکړی دی.

۲- پوښتنه: ستا د((ملي ریکارډ)) خبره ښایي پر ځینو کسانو دومره ښه ونه لگي، په دغه باب موخه نظر دی؟

ځواب:((اختر څه پټ مېره نه دی)) ترځوچې پوهاند حبیبي ژوندی و،داحق مې ځانته نه ورکاوه،ځکه هغه دیوافغاني لیکوال او پوهاند په توگه په ټول افغاني فرهنگي تاریخ کې نه یوازې د مقالو او کتابونو د څومره والي له پلوه یو ملي ریکارډ ټینگ کړی و، بلکې په ځینو علمي څانگو ، لکه تاریخ لیکنه او متن پوهنه کې یې څرنگوالی ( کیفیت) هم په برخه و، خو تر ده وروسته په ټوله پازوالی (مسولیت)، په نورو مړو او ژوندیو لیکوالو او څېړنوالو کې په څه د پاسه ۱۳۰ خپلواکو اثارو او ۱۱۰۰ مقالوسره ځان د ((ملي ریکارډ)) څښتن بولم، که څوک یې نه مني، ((دا گز دا میدان!)) ، ((که شپه تیاره ده ، منې په شماردي)) په دې کې شک نه شته چې زما په خپلواکو ((کتابي)) اثارو کې ۱۰۴ توکه هغه ډگر

څېړنې (فیلډ ریسرچونه) هم راځي،چې د هېواد د ۱۰-۱۴ ژبو پــر ۱۰۴ ګړدودونو مې ترسره کړي دي او دچا خبره یوازې څېړنیزه او ډېتایي بڼه لري، همداسې مې څرمه ( ضمني) فولکورکې څېړنې هم در واخله! خو بیا هم دا په زغرده ویلای شم، چې ما د دغو اومو توکو د علمي اوډون په لومړني پړاو کې هغه مهال کارنده برخه اخیستې چې د برن پوهنتون د شپږ کلنې زده کړیزې استوګنې په ترڅ کــې مــې لــه خپــل اســتاد پروفیسور ژارژ ردار او دوکتور شارل کیفر سره یوځای کــړې ده او هــر توک به یې تر بشپړ اوډون وروسته زما په نامه لــه چاپــه راوځــي( د افغانستان د ژبپوهنې اتلس د پروژې په باب خو مې پر خپل ځای کــې څرګندونه کړې ده). له بلې خوا مې په خپلو ورځنیو لیکنو، څېړنو او کتابونو کې هم له پورتنیو ډېتاوو څخه تل ګټه اخیستې او زما د ژبنیو او فولکوریکو څېړنو یوه غوره سر چینه بلل کېږي.

که ځینې راسره رخه لري او د ((ملي ریکارډ)) خبره پرې بده لګي، نه یې ته خوله ترلای شې او نه زه. دغه رخه یوازې لــه دې ســرچینه نــه اخلي چې ګوندې د چا خبره اړوندو کسانو ته زور ورکوي، بلکې له هغه نا باندیوالي تومنه اخلي چې دوی یې زما لــه خــوا د ((پښــتو لیکنــې معیار)) او ((ازاد شعر)) له راپیل کړي غورځنګ او بیا نــه ایلېــدونکي انتقادي لوښي سره لري. له ارواښاد حبیبي سره زما د پرتلې په باب ستا بله پوښتنه هم دلته ځواب موندلای شي.

۳- پوښتنه: له ډېرو ښاغلو مې اورېدلي دي چې ته د ځــانګړې سیاسي او فرهنګي تګلارې له کبله تل ((چپي)) پاتې شوی یې او

همدا نا ړامه  او نه ایلېدونکی چپـــي دریـــځ  دې د لـــوړو دولتـــي څوکیو  لپاره خنډ گرځېدلی دی، ایا د ا خبره سمه ده؟

**ځواب: زه به دا هم  زیاته کړم ، کله چې  په ناڅاپي توگه یـــوې لـــوړې څوکۍ ته رسېدلی هم یم، د همدغه دریځ  له کبله  ترې نه یوازې بېرته ژر لرې شوی یم، بلکې جزا مې هم لیدلې ده، یا زندان ته تللی یم  او بهر ته. د خپلې گروهې او دریځ، یا په بله وینـــا  لـــه تـــاکلو ژونـــد آرونـــو ( پرنسیپونو) لپاره مې  د څوکۍ، بلکې د ژوند پروا هم ساتلې نه ده.**

**زه به هېڅکله داسې شرایطو ته سر ښکته نه کړم چې زما  د ځانگړې سیاسي او فرهنگي  تگلارې او ټاکلي دریځ په بیه پریوځي. ښایي ډېـــر فرهنگپالان لږو ډېر  دغه راز نه  ایلېدونکی دریځ ولري، مگر ما په کړن کې زباته کړې ده او چا ته مې شک او خوخشه پرې ایښې نه دي. له بلې خوا په ټوله مانا د ټولنې او ژوند درښتینې څېرې په ځلونه کې زما ناړامه او بې پروا ((زړورتیا، او ریښتینتابه) بس دي، چې  د وخـــت  واکمنـــان راباندې کومه پوړۍ او څوکۍ ونه لوروي.**

۴- پوښتنه: لکه څنگه چې تا ویلي دي (( لیکوالي زما د ژوند یو نه جلاکېدونکی ټوک دی)) همدا اوس زما د منگ په انډول ســـتا روغتیایي حالت ښه برېښي، ایا کېدی شي، دا خبره د عمر تر پایه پورې پر ځان ومنئ!؟

**ځواب: هسې خو هر څوک دا هیله لري، په پوره روغتیا سره یـــو اوږد ژوند په مخ کې ولري او خپلې نیمگړې هیلې او ارمانونه د بري تر بریده ورسوي، مگر له ما سره د روغتیا او ژوند اوږدتیا هیله د همـــدې لپـــاره ملگرې ده چې وکړای شم، د ژوند تر وروستۍ سا پورې لږ تر لږه نوموړی**

شمېر اثار په چاپ ورسوم او د خپل پښتني، افغاني او بيا يې د جهــاني فرهنګ تاريخ ته وسپارم.

هر ګوره، له دې سره به زما ټوله کارژمني خړوبتيا ونه مومي او غواړم ددغه اوډوني (تدويني) کار تر څنګه په درو ګونو (څېړنيزو، ژبــاړيزو او زېړندوييزو) ډګرونو کې هم خپل نه ستړی کېدونکی کارو زيار پــر مــخ يوسم. په ځانګړي ډول په ناپيلې (منثورې) زېړنديزې برخه کې همــدا اوس بې شمېره اډانې (طرحې) او يادښتونه له ځان سره کښلي لرم چې په کور ناستی سره ورته د لنډ، منځني او اوږد داستان (رومان) په بڼــه رښتيا ينه وبښم، هغه هم په دې آړ (شرط) چې تر هغې مې د ((پښــتو ليکني معيار)) او هم ((پښتو ازاد شعر)) غورځنګ يو غوڅ بشپړتيايي پړاو ته رسولی وي، دا اګاهانه او نا اګاهانه ((مخالفينو)) غوږونه دې کاڼه وي!.

۵- پوښتنه: ځينې کسان وايي: ((استاد زيار په خپلــه علمــي، ادبي او همدارنګه سياسي تګلاره کې له ښندې ( افراط) څخه کار اخلي)) ته په دې کې څه وايې؟

ځواب: په يوه وروسته پاتې ټولنه لکه افغاني او په تېره پښتني ټولنه کې هر نوی ټولنيز او فرهنګي بدلون او غورځنګ هرو مرو له نابانــدی سره مخامخېږي او ذهنيتونه راپاروي که به څه هم د دغې نابانــدی او پارونې آر لاملونه ( اصلي عوامل) ساده نالوستي پرګنې نه، بلکې تش په نامه ((روښاندان)) وي، چې د خپلو ارتجاعي ګټو په پار د دغو پرګنو له ساده ګی او نالوستی ناوړه ګټه اخلي. د ساري په توګه د ثور اوښــتون ضد پارونې له آره له همدغه راز شاتګ پالو او ځانساتو((روښــاندانو))

څخه سرچینه اخلي او فرهنګي بدلون یا اوښتون خــو چــې د ټــولنیز اوښتون یو نه جلا کېدونکی ټوک بلل کېږي، بیا په ځــانګړي او ســیده ډول د همدوی په خپل لاس له خنډ وځنډ سره مخامخېږي، لــه کلــو راهیسې چې ما د ((پښتو لیکني معیار)) د رامنځته کولو لپاره غږ پورته کړی او ټولې هاندو هڅې مې ورته را ګومارلې دي، د وخت پښتو ټولنې ټیکه والو راپسې د مخالفت بېرغ را پورته کړی او هماغومره پلویان یې د ځان ملګري کړي، لکه څومره چې ما د ځان ملګري کړي دي، نــودا څرګنده وه چې هغوی دغه غورځنګ د خپلې ټیکې لپاره خطر انګېره او څه یې چې له لاسه کېدل، ډډه یې ترې ونه کړه.

د دوی همدومره پروپاګند بس و، چې د ((ژبني معیار)) جاج له ((ژبني تصفیې(پیورېزم) )) سره په سپسته یې توګه ګډ کړي او د وخت واکمن ځواکونه او ځان ساتي توکونه اګاهانه یا نا اګاهانه زما او زما د لارو پر ضد راوپاروي. ( د دغې ربړې په باب زما اړوند لیکنې او کتابونه هم پــه پام کې ونیسئ، همداسې دنوي او ازادپښتو شعر هانــدوهڅې هــم در واخله چې په راورستو څو کلونو کې مې ورته اوږه ورته کړې ده او ته یې ګوره چې تر پایه پورې مې څومره ځوان استعدادونه ملګرتیا کــوي او یوازې څو زوړ خوښي مې مخې ته ودرېږي. دپښتو ټولنې د وخت ټیکه وال چې له لږو ډېر واک و ځواک سره د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته په میراث پاتې دي. سره له دې چې د شعر او شاعرۍ سره دومره سر و کار هم نه لري، خو بیا هم له دغو زوړ خوښیو سره خپل پخواني ګرومونــه (کمپلکسونه) ګډوي. نو ته سوچ وکړه چې کــه دغــه راز کســان راتــه ((افراطي)) ونه وایي، نور به راته څه ووایي. په سیاسي برخه کې هم د هر راز ((افراط)) تور بیا هم تر بل هر چا زیات له همدغو څخه آره اخلي

او تصادفي نه ده چې دوی بېلابېلې سیاسي ډلې ټپلې سره اچوي، ما له تا سره او تا له ماسره او خپله د ((اپولوتیستانو)) په توګه د خیر پر غوندۍ کېني. پاچا خان ( عبدالغفار خان) چې په خپل ژغورنده سیاسي غورځنګ کې د ((عدم تشدد)) لار نیولې وه، بیا هم ګوډاګیـانو ورتـه همدغه ټکی پلمه کاوه.

زه له دې هم منکر نه یم چې نژدې شل کاله ((د افغانستان د خلکـو دیموکراتیک ګوند)) غړی پاتې شوی یم او د دوران سازې ایډیولوژۍ یو سخت پلوی، مګر کله چې دغه ګوند دولتي ځواک په واک کې راوست، له لومړۍ ورځې یې په بېلاریو پیل وکړ او زه یې هم په زندان وسپارلم. تر شل میاشتني زندیو او زندانونو وروسته چې د ګونـد شـړل شـوې څانګه ((پرچم)) ډګر ته راغله او له ((خلق)) څانګې سره یې په سـمه سمیا ( فیفتي فیفتي) کې دربیم ځلې نیم بندیوالی وکړ، زما پر سترګو هم یو څه رڼا راغله او ازاده ساه مې واخیسته. د لومړي ځل لپاره مې د خپلو کتابونو په چاپولو لاس پورې کړ او (۳- ۴) کاله مـې یـوه نیمـه څوکۍ هم وچلوله. دلته پرچمیانو (( امینیانو- تره کیانو)) ضد سیاست د ټولو پښتنو پر وړاندې را واخیست او د انتي پشتونیزم او پرو تاجکیزم بازار یې تود کړ. ما ولیدل چې نورې دواړې ډلې راته د زغم وړې نه دي، (( نه آشه ښه ده نه ګله، دوی دې وخوري یو تر بله)) او په برلین کـې مې د استادۍ په پلمه خپله استوګنه غوره وګڼله. پر (۱۳۶۵ ل) کال مې له راستنېدو سره چې دوکتور نجیب الله د ګوند و دولت مشـرتابه تـه رسېدلی و، بیا هم په ګوند کې خپل غړیتوب وساته، خو کومه ورتـه څپه چې د مخه راپیل شوې وه، نوره هم پسې تونده شوه او ورسـره د شتو ټولونې سیالي دېډو او چور، غلا او خیانت، جاسوسی، هېواد پلورنې

اوپه پای کې د هېواد د ټوټه کېدو پلان پخپله د مشرتابه د غړو له خــوا شور وزور وموند، نور راته په گوند کې پاتې کېدل په همدغو جرمونو کې شریکېدل وبرېښېدل او دهمدغو لاسوندونو په راوړنه مې خپله استعفا وړاندې کړه.مگر د ((ایډیولوژۍ)) د مثبتو او انساني اړخونو پلوي به مې د ژوند تر پایه کومه وټه ونه مومي.

له دې کبله بې سیاسته ژوند، په ژوند کې نه شمېرم اوهنر او ادب هم د ژوند د یوه ټوک په توگه په سیاست پورې تړلی بولم.

۶ پوښتنه: پر تا باندې تل دا انتقاد هم دی، چې ستا لیکلار ډېره گرانه ده او په اسانه پرې څوک نه پوهېږي ایا دا انتقاد تــر کومــه ځایه سمون لري؟

ځواب: لکه پاس مې چې وویل، ما پخپلــه د (( یــوې، یــوازنۍ، نگــه، بشپړه، کره لیکنۍ پښتو)) یا لنډ ډول (( معیــاري پښــتو)) غورځنــگ راپیل کړی دی، نو باید زما لیکلار د همداسې پېښــو یــوه ځرگندویــه بېلگه وي او جوته ده چې زما لیکنۍ پښتو د نورو غوندې یــوه لنــډه تنگه سیمه ییزه پښتو نه ده، بلکې د ټولو سیمو، تاریخي متنونو او نویو رغاونو استازي کوي او یوازې په سلو کې پنځــه ویشــت پورورییونــه (دخیل لغات) را اخلي. ځکه دنورو سترو نړیوالو ژبو غونــدې معیــاري پښتو لیکلار هم باید په جوړښتي ( گرامري) یووالي او لغوي رنگارنگوالی ولاړ وي،دا هم باید ووایم چې ددغه انتقاد آره چېرې ده ((که ملحد یم د دښنه یم)) په ادبي زېږونو کې پر دغه ژبنۍ خــوا ســربېره فکــري او بدیعي پېچلتیا هم کېدای شي، د انتقاد لپاره پلمه شي، هم بــې ســرو بوله ده په دې چې هنر زېږونه له گزارش سره همدا توپیر لري.

۷- پوښتنه: د نوي ازاد شعر په باب ځینې پسې شـا او ځینــې مخامخ ستا هلې ځلې انتقادوي، ستا په نظر د دوی دغه کار زموږ ادب ته زیان نه رسوي؟

ځواب: لکه څنګه چې مې ستا د مخنۍ پوښتنې په غبرګون کې پـر دغه باب رڼا واچوله، له عیني پلوه هېڅ رښتینی پرمختللی غورځنــګ بې ګټې نه وي او جوته ده، چې هر راز نابانډۍ یې بې ځایه او بې ګټې وي. دلته له دې پرته چې دغه متل رایاد کړم، بل وړ ځــواب ورتــه نــه ګورم: (( کاروان به تېرېږي او سپي به غپېږي)) هیله ده چې زمـا دغــه غبرګون ته پخپله ((افراط)) ونه بولې.

۸ پوښتنه: ستاپه نظر د یوه لیکوال هغه هم ستا غوندې د یـوه سـتر لیکوال لپاره په سیاست کې سیده ګډون ښه برېښي او څه ډول؟

ځواب: که یو لیکوال اوبیا ادیب غواړي، پرګنو تــه لار پیــدا کــړي او ټولنیز ګرانښت او منښت یې په برخه شي، باید د خپلې ټولنې په پــر مختللې مبارزه کې کارنده ونډه ولري او لا هڅه یې تل داوي، چــې پــه مخکښانوکې ځای ونیسي. (( ادب د ادب لپاره)) نن ســبا هــډو هــېڅ ارزښت نه لري او (( له سیاست سره کار نه لــرو یــا مــو سیاســت نــه خوښېږي)) پخپله یوه سیاسي خبره ده. داسې کسان هم له سیاســي ګروهې ځان پاکولای نه شي، هرومرو یوه سیاسي لار او تګلار لري او په کړن کې لیدل شوي دي چې تل د پرمختللي سیاســت او مبــارزې پــه مخالف سنګر کې ټیکاو لري او د دې لپاره د خپل ارتجــاعي سیاســي دریځ د پټولو هڅه یې کړي وي، سیاست او ادب سره نه پخلا کېدونکی بولي او له دې انګروزې سره سوچ کوي، نور به وغولوي، له دې نــاخبره

چې خپل ځان غولوي. هره ادبي زېږنــده کــه شــعر دی یــا داســتان، ننداریک دی که فلملیک، هرومرو یو سیاسي، یا په بله وینا یو ټولنیز ارمان او پیغام لري، خو که دغه ارمان او پیغام یو خوا له هنــري ارمــان سره اخښلی را اخښلی وي او بل خوا د ټولنې له پرمختګ او پرمختیایي بهیر سره سمون ولري، داسې چې د اندو جاج (فکرو مفهوم) له پلــوه پوره ژور او د ژبنۍ او هنري جولې له پلوه لــه یــوه ښــکلاییز خونــد او راکښون څخه ډک وي او له دې سره سره یې د انساني ټولنې او ژوند په انځورنه او ځلونه کې پوره رښتینولي نغښتې وي، هغه زېږندی بــه پــه رښتیا سره منښت او ګرانښت ولري او له دې سره به یې زېږندوی هم له دغه ویاړ څخه برخمن وي.

د نړۍ نومیالي شاعران او لیکوال تل پرمختللي او جنګیالي وي. دلته د سیده او نا سیده پوښتنه سمه نه ده که ستا موخه ګوندي غړیتــوب وي، نو (( شنې په غلا نه چیچل کېږي))، د یــوه تــش ((اپولوتیســت)) لیکوال یا په بله وینا د یوه ارتجاعي دریځ لید توګې او نړۍ لید لرونکي لیکوال پرمخ د پرمختګ ورشو ډېره لنډه تنګه ده او کوم ارت او په زړه پورې څنډونه او لر لیدونه په مخ کې نه لري او د چــا خبــره ((د جــولا غوندې یې منډه تر مړوي پورې وي)) او بس.

۹- پوښتنه: ځینې کسان وایي چې (( د اســتاد زیــار د پښــتو پالنې روحیه د ده له سیاسي تګلارې سره ټکر خوري)) ستا په اند دا خبره سمه ده؟

ځواب: دا چې زما پښتو پالنه د ټولنې د کوم ناپښتون ملیت یا ډلــې ټپلې په تاوان نه ده، بلکې د افغان ولس د ټولنیز او فرهنګي پرمختګ

**په ګټه ده او له بلې خوا زما له سياسي تګلارې او اند پوهې سره پوره اړخ لګوي، نو ولې تر دا منځ ټکر پېښ شي او که کوم ټکر دلته ليدل کېږي، آره (منشا) يې له ما سره نه، بلکې له هماغو لنډ اندو پښتنو او نا پښتنو يا ګونديانو او ناګونديانو سره ده چې پښتنو ته د مشر ورور يا اکثريت په سترګه نه ګوري، کاشکې دوی له ما سره، نه يوازې د مارکسيستي- لينينيستي آرونو (اصولو) له مخې، بلکې لږ تر لږه د ټولمنليو نړيوالو آرونو پر بنسټ استدلال کولای، هسې بې آرو بې دليله ادعاوې ماته کوم ارزښت درلودای نه شي.**

۱۰- پوښتنه: لکه څنګه چې څرګنده ده، ته د نورو ټولو مخينه والو او ازمېښتکارو ليکوالو په انډول له ځوانو شاعرانو او ليکوالو سره زيات نږديوالی او لوربينه لرې او له همدې کبله در نه ډېر ګڼ شمېر تاو راتاو هم دي، علت څه دی؟

**ځواب: ما د ( د نوي- زوړ) د مبارزې سختې شېبې ليدلي او تر اوسه يې لا ګورم، له دې کبله زه نه غواړم زوړ خوښی پاتې شم او د ((زړو)) د خوشالونې په بيه ((ځوانان)) له ځانه بېزاره کړم. ما له هغو ((زړو)) څخه ستر لوست اخيستی چې تل يې پر خپلو ((زړو)) ټينګار کړی او د نوي پښت د نوښتونو پرضد درېدلي، يا په بله وينا د نوي او ځوان استعداد په غوړېدا کې خپله نيستي ويني. داسې زاړه خپل ځانونه په خپله منفوروي او کوم درناوی چې ځوانان يې ورته بايد وکړي، په لوی لاس له لاسه ورکوي. زه د همدغه رمز په پوهېدو سره دې پايلې ته رسېدلی يم چې نه يوازې ځوانانو ته په کمه سترګه ونه ګورم، بلکې د استعداد د غوړېدا او هڅونې مرسته يې وکړم. همدا سبب دی چې تر ((زړو)) مې له**

ځوانانو سره ناسته پاسته زیاته ده، لیکنې ورسموم او سمه لاربښوونه یې کوم، نو ښکاره ده چې تر بل هر چا پر ما ډېر تاو راتاو وي او همـاغومره پرې ګران یم، لکه څومره چې دوی پر ما ګران دي. زه که هرڅومره زوړ شم، فکرو خیال، هیله او ارمان به مې زړښت ته پرې نـږدي او پـه دې ډول به تر مرګه له ځوان پښت سره واټن ونه لرم. د نوي ازاد شعر لپاره زما هاند و هڅه د همدې لوښې ښکارندوی دي. زه د دې څه پـروا نـه ساتم چې زوړ خوښي زاړه دې رانه خوښ وي یا ناخوښ، ځکه بـې لـه هغې دوی د ګور پر څنډه ولاړ دي او له دې سره سره یې بې ګټې اندونه او ازمېښتونه هم یوځای ورسره له منځه تلونکي دي.

حال دا چې ځوانان یوه ویړه راتلونکې په مخ کې لري او زما د پښت د نورو لیکوالو او فرهنګیالانو ورمندون (قضاوت) او ارزونـه (ارزیـابي) د همدوی په لاس کې دي.

۱۱- پوښتنه: لکه څنګه چې ښکاره ده، اقتصادي حالت د ژونـد په ټولو برخو کې خپلې اغېزې ښندي، ستا اقتصادي اکر پـه اوس وخت کې څه ډول دی؟

ځواب: زما اقتصادي اکر سمدلاسه په دې بد نه دی چې کار ډېر کوم او له دې سره مې ورځنۍ اړتیاوې هم خړوبېږي. د زېرمې خیال دومره نه ساتم، تش همدومره یوبچت هومره په پام کې نیسم چې زمـا او زمـا د کورنۍ غړیو کومې نابېرې پېښې ته ځواب وویلای شي. زه په دې برخه کې د المانیانو نه، بلکې د فرانسیانو لیاره خوښـوم، لکـه چـې وایـي: ((المانیان د دې لپاره ژوند کوي چې کار وکړي او فرانسیان ددې لپاره کار کوي چې ژوند وکړي)).

۱۲- پوښتنه: لکه څنګه چې برېښي، ستا روغتیایي حالت ډېر ښه دی او لا تراوسه ځوان ښکارې او د همدغې روغتیا په برکت دې په ۳۵-۳۶ کلن لیکوالي ژوند کې دا دومره کار کړی دی، نو که همداسې روغ پاتې شې او یو اوږد ژوند ولرې، کله دې دا هیله هم په زړه کې غځونې کوي چې په لیکوالۍ کې پر ملي کچه سربېره نړیوال ریکارډ هم ټینګ کړای شې؟

**ځواب: لکه چې وايي: (( نړۍ په امید خوړل کېږي))، نو زه هم د خپلو ټاکلو ژوند آرونو (پرنسیپونو) د چوکاټ دننه له یوه امید سره ژوند کوم او هغه امید هم دا دی چې په خپل ژوند کې ستر فرهنګي برى او بریاوې ترلاسه کړم. لومړی مې په ملي او بیا په نړیواله کچه، یا مې لږ تر لږه د خپل ملي او بیا جهاني فرهنګ په تاریخ کې نوم په غټو تورو وکښل شي. زه په همدغه هیله او ارمان د یوه روغتیایي اوږده ژوند پلوی یم او له همدې لامله په پرتلیزه توګه تر ډېرو همزولو ځوان پاتې یم. زه د بې خرته دماغي کار ترڅنګه جسمي کار او ورزش، پلي ګرځېدل او هوساییز پروګرام او بیا سم او ارام خوب او وړنده خوراکي رژیم هم له یاده نه باسم د سویس شپږ کلنې تحصیلي استوګنې زما د مادي او مانیز ژوند کچې په لوړونه کې خورا ستر نقش لوبولی دی او همدغه شپږ کاله مې په خپل ژوند کې شمېرلي دي چې هغه هم د څرخي زندان یو کلن بند راته بېرته له صفر سره ضرب کړل، خو بیا هم د ناخوالو او بېلابېلو رواني فشارونو او اندېښنو زغم مې د رواني تلقین له لارې تل لوړ ساتلی او د ((خوږو)) پر پرتله ((ترخه)) ژر ژر هېروم. زما زیات شعرونه له همدغه**

**تلقین څخه رنګ اخلي، که نه هسې خو مې ژوند سر ترپایه رنځ او کړاو، درد او څړیکې دي او د چا خبره هسې ځان غولوم او زړه خوشالوم.**

**(( چې په ناز لوی شي په زیار زړېږي))**

**زه پـــه زیـار لـوی شوم، په ناز زړېږم!**

۱۳- پوښتنه: لکه څنګه چې وایې، د لـوړ اســتعداد او زکــاوت خاوندان، یا په بله وینا نابغه د ښکاره کړو وړو او ناستې پاستې له پلوه زیاتره نارمل نه وي، یا په ډاګه ووایم لــه نبــوغ ســره یــو راز لېونتوب هم ملګری وي، نو ته له دغه پلوه د خپل ځان په باره کې څه نظر لرې، ایا لومړی ستا دا دومره فرهنګي او علمي بریـاوې د همداسې لوړ استعداد یا ((نبوع)) ښکارندویي نه کوي او دویم دا چې که دا خبره سمه وي، نو ستا ځینې ناړامۍ او نه سازښتونه یو ډول ((لېونتوب)) نه ګڼل کېږي او بـاور لـرې چـې تـه هـېڅ راز جسمي او رواني یا دماغي ناروغي نه لرې؟

**ځواب: زه څنګه چې د لوړ استعداد، ذکاوت یا نبوغ دعوا نه لرم، نو د لېونتوب تور راباندې هم لګېدای نه شي. زه ګومان نه کوم، زما د ذکاوت کچ ومېچ یا (I.Q) دې دومره لوړه وي او دومره نومرې یوړلای شم چـې زما د فوق العاده ذکاوت یا نبوغ تر بریده ورسي. زه د نژدې دېرش کلنو رسمي او نارسمي زده کړو په اوږدو کې هماغه مهال د لوړې درجې یـا لومړۍ درجې په اخیستلو بریالی شوی یم چې زیاته خواري او زیار مې ګاللي دي، که نه کله کله د بې پروایۍ او ناغېړۍ له کبله مې نه یـوازې اول نمره ګي بایللې چې لا بېخي په منځنۍ او ټیټه درجه کامیاب شوی**

یم. زه د کرکټر لوژۍ د آرونو له مخې ((دماغي)) کرکټر ارزول شوی او ډلبندي شوی یم ( د پوهاند سید بهاوالدین مجروع د شننې له مخې )، او له همدې کبله چې له هرڅومره ګرانې او پېچلې علمـي موضـوع او مسالې سره مخامخ شوی یم، دپوهېدنې او شننې له توغه یې پوره وتلی یم، خو بیا هم د پرله پسې هاندو زیار په پایله (نتیجه) کې. زه همدومره پوهېږم چې دومره تېز هوشه نه یم او یو څه وخت ته اړتیا لرم چې یوه علمي یا فلسفي پوښتنه او مساله په هر اړخیزه توګه حل کړم او هرومرو پرې بریالی کېږم. زما پرتلیزه روغتیا زما د خپلې پاملرنې او اوډلي ژوند زېږنده ده. یوه نیمه روغتیایي ستونزه به هرومرو ولرم چې یا خو به مور زېږې وي او یا خو به مې د ژوند په لومړنیو پنځلسو کلونو کې راپېښـه شوې وي، ځکه دغه کلونه مې له سختې بېوزلۍ او بدویت سره ملګري وو. زه له څو کلو راهیسې پوه شوی یم چې ښی غوږ او کینه سترګه مې کمزوري دي او له دې سره متې پر دې هم ورسېدم چې دا دومره عمر او بیا د زده کړو په بهیر کې هرومرو زیانمن شوی یم او ډېر څه مې چې باید لاسته راوړی وای او ژر مې لاسته راوړی وای، له لاسه وتلي دي. حافظه مې هم دومره پیاوړې نه ده او د ټولو په پای کې له ارثي پلوه زما د پزې د څوکې یو څه کږوالی هم تل زما د ناپامۍ او نه ځیرتیا سبب شوی دی.

زما نه ژبورتیا هـم ښـایي د پاسـنیو طبیعـي او کسـبي روغتیـایي نیمګړتیاوو زېږنده وي او له همدې کبله مې د زده کړو په ګڼنیو ازموینو کې تل پوره نومورې نه دي اخیستې او په لیکنیو (تحریري) هغو کې مې

بیا پوره پوره وړې دي. اوس هم زه تر وینا په لیکنه کې ځان ډېر پیاوړی ننګیرم. که دا خبره سمه وي چې د هرچـا د اسـتعداد او ذکـاوت لـه لوړوالي سره هماغومره د لېونتوب لوړوالی هم وي، نو کېدای شي، دغه غبرګ ویاړ زه هم ولرم. خو رښتیا رښتیا داده چې زه ټول فرهنګــي او علمي برى او بریاوې د خپل لوړ استعداد زېږنده نه، بلکې تــر هــر څــه دمخه د خپلو هاندو هڅو او خولې تویونو ییبره بولم، زه دلته د نومیالي مخترع اډیسن د خبرې پخلی کوم چې د اختراعاتو په باب یې د یــوې پوښتنې په ځواب کې کړی وه: (( نبوغ په سلو کې ۹۹ په خولې تویېنه اړه لري او یوازې یو په الهام)).

# فرهنګیالی روغتیا پال

**ډاکتر محمد فرید بزګر د هېواد ځوان او تکړه لیکوال او روغتیا پال دی. لوی څښتن تعالی ورته په دواړو برخو کې ښه قلم او پوهه ورکړي دي. تراوسه پورې یې په طبي برخه کې خپل او د نورو لیکوالو تر لسو**



**عنوانونو زیات کتابونه او رسالې چاپ کړي او هم یې په ټولنیزه او ادبي برخه کې د ګڼو لیکوالو آثار خپاره کړي دي. دا مرکه یې د هیلې (۱۳۷۹ل) کال په لومړۍ ګڼه کې خپره شوې، چې دلته یې تاسو ته وړاندې کوو او ستاسو پام ورته را اړوو.**

دود خو داسې دی، څوک چې چا سره مرکه کوي نو لومړی ترې دا پوښتي تر هر څه وړاندې درنو لوستونکو ته خپل ځان وروپېژنه! زه به هم خپله لومړۍ پوښتنه له همدې دودیزې پوښتنې پیل کړم.

نوم مې محمد فرید بزګر د (۱۳۴۲المریز) کال د غبرګولي پر (۱۳مــه) دکونړ ولایت د نرنګ علاقه داری د چهارقلعه نومي کلي په یوه متدینه او علم دوسته کورنی کې زېږېدلای یم.

لومړنی زده کړه مې د نرنګ په لېسه کــې کــړې او تــر اووم ټــولګي وروسته د کابل په حبیبیه لېسه کې شامل او پر (۱۳۵۸ل) کال د دغې لېسې د ساینس له څانګې فارغ شوی یم. پر ۱۳۶۵ کال د عمومي طب په څانګه کې د کابل طب پوهنځي څخه فارغ شوم. څه موده مې د کابل د عدلي طب په ریاست کې کار وکړ او پر (۱۳۶۷ل) کال پېښور تــه لــه خپلې کورنی سره رامهاجر شوم.

د هجرت په چاپېریال کې مې په ګنو روغتونونو او کتنځیو کــې کــار کړی دی. اوس د ختیځ د بیا رغونې اداري (کور) مشــر یــم، د او.ار.ای. انټرنیشنل دخپرونو د څانګې مسوول یم، د افغان روغتیایي کارکوونکو لپاره د درې میاشتنی طبي مجلې (ســلامتی) دلیکوالــو د بــورډ او د لیکوالو دکمېټې غړی یم، د پاکستان دماشومانو د ډاکټرانو د اتحادیې (PPA) غړیتوب هم لرم.

له هېڅ سیاسي پرې سره اړیکې نه لرم، دخدای(ج) دمخلوق خدمت تر هر څه لوړ بولم، په رګ رګ کې مې د ګران هېواد مینه په ټوپونو ده او ویاړم چې افغان، پښتون او مسلمان یم.

له لیکوالی سره دې مینه او لېوالتیا څه وخت پیدا شــوه او بیــا څه وخت دې پر لیکوالی پیل وکړ؟

چاپېریال د انسان پر کړنه کې ستر رول لري. له ډېر کوچنیوالي څخه مې په خپل شاوخوا کې کتابونه لیدل، کله چې د لږو لوستو شوم، نو د ښوونځي دکتابونو ترڅنګ مې نور کتابونه لوستل. تــر شــپږم ټــولګي

پورې، ما د هغه وخت په پښتو ژبه چاپ شوي اکثر کتابونه لوستي وو، په کور کې مو یو کوچنی کتابتون درلود، چې د نورو کتابونو ترڅنګ په پېښور کې ډېر چاپ شوي کتابونه په کې وو، هغه وخت چې پلار مې په افغان قونسلګرۍ پېښور کې کار کاوه، راوړي وو. چې له هغې جملــې څخه د صاحبزاده محمد ادریس ښکلی ناول ((پېغله)) هم و. دغه کتاب به تر اتم ټولګي پورې ما تر شل ځله هم ډېر لوستی وي، نو له همدغــه وخته کېدی شي زما لیکوالۍ سره مینه پیداشوې وي. بله مسله په کې زما د پلار رول و، چې همېشه یې موږ ټول لوستلو او لیکلو ته هڅولو.

زما لومړۍ ژباړه د المپیک د لوبو په هکله چې له انګلیسي مې ژباړلې وه، پر (۱۳۵۷ل) کال په هېواد ورځپاڼه کې خپره شوه، هغه مهال زه په یوولسم ټولګي کې وم. کله چې له ښوونځي فارغ شوم، نو د کانکور تر ازموینې وروسته د جګو نومرو په ترلاسه کولو د ممتازو محصلینو په ډله کې یې د زده کړې لپاره بهر ته استوونکو محصلینو کې یې زما نوم هم لیکلی و. په لومړیو کې یې موږ ته ویلي وو، چې تاسې پولینډ یا هند ته د لوړو زده کړو لپاره استوو، خو کله چې موږ تګ ته چمتو شو، پاسپورټ، انګلیسي برۍ لیک مو تیار کړل، نو بیا موږ خبر شو، چــې دا بورســونه یوازې روسیې ته دي او دا هغه وخت و، چې دکمونستانو پر ضد د افغان مېړني ولس پاڅون په غښتلي کېدو و، نو د یو رښتیني افغان لپــاره دا ناشونی کار و، چې په دغسې شرایطو کې دې زه روس ته لاړشم او هلته دې د خپل هېواد پر ضد وروزل شم، نه زما زړه کېده او نه مې کورنۍ دا هیله درلوده. نو له تګ څخه مې ډډه وکړه، د وخت رژیم هم زه جزایي هغه کال پوهنتون ته پرې نښــودلم او زمــا د تبــدیلۍ مکتــوب یــې د راتلونکي کال لپاره راکړ، یانې په دې ډول یې غوښتل چې زما یو کــال

**ضایع شي. دغه مهال د افغانستان پیاوړي لیکــوال او شــاعر محتــرم عبدالله بختانی خدمتګار چې زما د پلار خورا نږدې دوست و، د هېــواد ورځپانې رئیس و، چې په خپل تشکیل کې یې څو مجلې هم درلودې، زه یې د ننګرهار په مجله کې دفني غړي په صفت مقرر کړم. که څه هم دغلته مې د کار موده کمه وه (۷- ۸ میاشتې) ځکه چې پوهنځی په پیل کېدو و، خو همدلته وه چې له لیکوالۍ سره مې مینه نور هم غښــتلې شوه، د لیکوالۍ یو نیم فن مې زده کړ او پښتو لیکل مې تر یوې اندازې اصلاح شول، ددغې مجلې لپاره به مې لیکنې او ژباړې کولې تر هغــې چې وتړل شوه.**

**کله چې پېښور ته رامهاجر شوم، نو په همــدغو ورځــو شــپو کــې د (دعوت) غوټۍ هم په غوړېدو وه، نو هغې ته به مې راپورونه او لیکنــې وراستولې، چې بیا مې همدلته د (IRC) د ژورنالیزم یو نیم کلن کورس ولوست، تر هغه وروسته مې غوښتل چې خپله زده کړه او تجربه د طبي لیکنو لپاره ډېره وقف کړم، ځکه چې په دې برخه کې موږ دومره څوک نه درلودل.**

په رسېدلو ټولنو کې هرڅوک چې د هــر مســلک خاونــد وي، لیکوالي یې ورسره زده وي او د لیکوالۍ په وسیله خپل مســلک ته وړ خدمتونه کوي، خو زموږ په ټولنه کې لیکوال تر ډېره حــده یوازې ادیب، شاعر او تاریخ لیکونکي ته ویــل کېــږي، پــه نــورو مسلکونو کې د ګوتو په شمېر لیکوال لرو، له نبکه مرغه چې تاسو هم لیکوال یې هم رنځپوه او روغتیاپال، څه فکر کوئ که زموږ په

ټولنه کې دهر مسلک خاوند د خپل مسلک تر څنگ پر لیکــوالۍ هم پوه وي، نو دا به زموږ ژبې او ولس ته څومره گټې ورسوي؟

ډېره مننه، د یوې ژبې د ژوندي ساتلو او له هغې نه د ضرورت دیــوې ژبې جوړولو کې باید ټول برخمن شي، هغه که په هر مسلک کې زده کړه ولري، باید دعلمي کارونو تر څنگ  د پوهنیزې لیکنې لپاره عملي کــار هم وکړي. دخپل مسلک په اړه کتابونه او مقالې ولیکي ویې ژباړي او په اړونده مسلک کې څېړنې وکړي. له بده مرغه رښتیا هم زموږ په ټولنه کې لیکوالي یوازې د شاعرانو او ادیبانو کــار دی، خــو دوی تــه بــه دا ناشوني وي چې یو غیر مسلکي کس په بله برخه کې یوازې په دې نوم چې شاعر یا ادیب دی، څه ولیکلای شي، ان ژباړل یې هم ساده کار نه دی، نو زه دې ته شدیده اړتیا احساسوم او زما په نظر دهمدې مسلکي خلکو پښتو ته نه پام ددې باعث شوی دی، چې پښتو له نظره پرېوزي او دې ژبې ته سیمه ییزه او نړیواله بې توجهي رامنځتــه شــي. مســلکي لیکنې کېدی شي په لومړیو کې ستونزمنې وي، خــو ورو ورو هــر څــه اصلاح کېږي. دمسلکي ژباړې یا لیکلو ښه والی دا دی، چــې مســلکي اصطلاحات په کې ډېر وي، نو که پښتو ژباړه یې سخته وي، کېدی شي اصطلاح پرته له ژباړې ولیکو، چې دا مسلکي ژباړه یا لیکنه نسبت ادبي لیکنې او ژباړې ته اسانوي، او بله ښېگڼه په مسلکي لیکنه یا ژباړه کې داده چې که د ادبیاتو له نظره کمزورې هم وي، زیات توپیر نــه کــوي، ځکه چې هدف یې د مقصد رسول دي. نو مسلکي لیکنه ساده او اسانه ده او په مسلک کې تکړه او وارد پښتانه د پښتو په علمي کولو او ژوندي ساتلو کې حیاتي رول لرلای شي.

پر دې مسایلو ډېر بحث شوی دی، چې که موږ غواړو خپله ژبــه بډایه کړو، نو د نورو کارو ترڅنګ باید د ژبې علمي کېدنې ته زیاته پاملرنه وکړو! تاسو د پښتو ژبې د یو علمي او عملي کارکوونکي او خدمتګار په توګه دا مسئله څنګه ارزوئ؟

**لکه مخکې چې مې وویل یوه ژبه یوازې د علمي پانګې پــه درلودلــو ژوندۍ پاتې کېږي او له نورو ژوندیو ژبو سره سیاله کېږي، نو پښتنو ته هم پکار دي چې د خپلې ژبې د ژغورلو، ژوندي ساتلو او د نړۍ دکره ژبو په کتار کې د ودرولو لپاره باید د پښتنو د علمي کولو لپار هڅه وکړي. له نېکه مرغه په پښتو کې ټولې هغه ښېګنې چې د یوې علمي ژبې لپاره په کار دي، شته دي او موږ کولای شو، چې د نړۍ ټول علوم پښتو کړو. دا د یو کس یا څو محدودو کسانو کار نه دی، باید ټول پــه ګــډه متــې راونغاړو او څه چې مو له لاسه کېږي په دې اړه وکړو. له نېکه مرغه اوس پښتانه د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلي، په مختلفو ساحو کې یې زده کړې کړي دي او ډېرې ژبې یې زده کړي دي، نو له دې موقع څخه پــه ګټــې باید د لویدیزې نړۍ علم پښتنو ته را انتقال شي.**

تاسو تراوسه پورې په پښتو ژبه څــومره علمــي (طبــي او نــور کتابونه) چاپ کړي دي؟

**دې پوښتنې ته به په څو برخو کې ځواب ورکړم:**

**د ختیځ د بیا رغونې ادارې (کور) له لارې مــوږ تراوســه ۲۱ کتابونــه خپاره کړي چې تقریباً اکثره یې علمي دي چې پــه دې ډلــه کــې درې فارسي، یو انګلیسي او پاتې اوولس یې پښتو دي. د پښتو مهم علمــي کتابونه چې د کور له لارې خپاره شوي عبارت دي له: د سینې ناروغي**

او توبرکلوز، تشخیصي راډیولوژي، د درملو د استعمال عملي لارښود، د کمپیوټر اساسات او ویندوز، د ارواپوهنې ښوونځي، د جزا قانون شرحه، افغانستان: فیډرالیزم، د خوب نړۍ، په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبــې د زده کړې لارښوونې او ستراتیژي او داسې نور.

د او. ار. ای. د خپرونو د څانګې له لارې موږ په لسګونو کوچنۍ علمي رسالې په پښتو خپرې کړي چې مهمې یې عبارت دي له: ایډز څه شی دی؟، د نشې زیانونه، د نشې زهر، په ختــیځ نورســتان کــې د اپینــو استعمال او نور. همدا راز ددې ادارې له خوا مختلف پامفیلټونــه لکــه ملاریا، کالدانه، ایډز او نور خپاره شوي دي. د ایډز فلیپ چارټ په څلورو ژبو ډېر ستر کار و چې د روغتیایي کارکوونکو لپــاره مــا جــوړ او د دې ادارې له خوا خپور شو، چې د نړۍ ډېرو هېوادونو یې نمونې وغوښتې او د پاکستان د مختلفو ادارو له خوا استعمالېږي.

ما ډېرې طبي رسالې او رغتیــایي چارټونــه د (AMI) پــه طبــي درې میاشتنۍ مجله (سلامتی) کې په پښتو خپاره کړي دي، چې هر یو یې د نړۍ د روغتیایي ادارې (WHO) او (UNICEF) له مهمو خپرونو څخه دي، چې مهم یې دا دي: په کوچنیانو کــې د ټــوخي او تنفســي ســتونزو د تشیخص او درملنې چارټ، سوزېدل، وچکۍ، د نسناســتې نــاروغۍ د اهتمام چارټ، کولرا، دغوږ انتانات، دغوږ د انتان دتشخیص او درملنې چارټ او داسې نور.

او په دې وروستیو کې مې د (ARIC) لپاره دوه کتابګوټي پــه پښــتو وژباړل چې کېدی شي تراوسه چاپ شوي وي، چې یو یې ډېر خوراکي او بل د پزې- غوږ- ستوني او سترګې ناروغۍ په نامه دي، همــدا راز د (SERVE) روغتیایي زده کړو لپاره مې څو طبي رسالې ایډیټ کړي دي.

لکه څنګه چې موږ ته څرګنده ده تاسو د چاپ په برخه کې د ادبي (شعري) کتابونو په اندول طبي او نورو علمي کتابونو چاپ ته زيات ارزښت ورکوئ، د دې علت څه دی؟

ښاغلی یون صاحب! د مچيو چک رابانديې مه راپاروه، د دې پوښتنې ځواب يو څه مخکې ویل شوی دی، خو دلته به پرې لږ څه زياتونه وکړم. په پښتو کې د علمي اثارو نه موجوديت د دې سبب شوی چې موږ علمي کتابونو ته ترجيح ورکړو. دا د ټولنې اړتيا ده او په دې ډول زموږ ټولنه مخکې تللای شي. که تاسې يو کتابپلورنځي ته ورشئ، په ډېره مشکله په کې پښتو کتاب پيدا کوئ او هغه به هم شعر وي او لنډې کيسې. په پښتو ژبه د شعر کتابونه خورا ډېر دي، شاعران د ټولنې ډېر حساس خلک دي، بايد قدر يې وشي، خو زما په اند يوازې شعر د ټولنې درد نه شي دوا کولای. شاعر يو ټولنيز درد د شعر په قالب کې بيانوي، هغه درد چې ټول ځوروي، موږ بايد د درد درمل ولټوو چې هغه علم دی، پوهه ده، نه دا چې د هغې د بيان لپاره مختلفې طريقې استعمال کړو، وزن او قافيې ورته ولټو. هيله ده زما درانه دوستان له ما څخه په دې ناراضه نه شي، دا يو تريخ حقيقت دی او له ستونزو تېښته ده. په رښتيا هر سړی شعر نه شي ويلای، شعر ځانګړې هوښيارتيا او سپېڅلی احساس غواړي، چې دا ګوهر په هر چا کې نشته، خو که موږ په اوسنيو شرايطو کې دا ګوهر د يو ښه کار لپاره استعمال کړو، بد کار به نه وي. همدغه شاعر د شعر پرځای کولای شي، يوه علمي څېړنه وکړي، د ټولنې د بيا ودانولو لپاره يو څه وليکي، يو څه وژباړي او که دا يې له لاسه نه کېږي، غلي دې کېني.

**هغه پیسې چې د شعر پر یو کتاب لګېږي په هغو کــولای شــو د یــو ښوونځي لپاره یو کتاب چاپ کړو، د روغتیا په هکله یو کتاب چاپ کړو، د ساینس او تکنیک په اړه یو څه چاپ کړو او داسې نور.**

کله کله داسې پېښېږي چې ګڼ مصروفیتونه او ګــڼ کارونــه د سړي کار او مسلک ته زیان اړوي، د ګڼو اثــارو خپــرول او نــورو خپرنیو بوختیاوو خو ستا آر مسلک (طبابت) ته څه زیان نــه دی اړولای؟

**یون صاحب، رښتیا هم کله داسې کېږي، چې سړی دومــره پــه کــار بوخت وي او یا پرې کارونه دومره ډېر وي چې لاره ورکه کړي. رښتیا هم زما مصروفیتونه خورا ډېر دي، اکثر دوستانو او زما د کورنۍ غړو ته هم دا پوښتنه پیداکېږي، چې ډاکټري یې پرېښې او لیکوالي یې راخیستې. کله کله مې راته پلار وایي چې تا هسې طب لوســتی، ادبیــات بــه دې لوستي وای. خو حقیقت دادی، چې زما بوختیا زیاتره په طبي برخه کې وي. په رښتیا هم کله په میاشتو میاشتو ستاټسکوب په لاس کــې نــه اخلم، خو د طبي خپرونو له لارې په سلګونو نــورو هــم مســلکانو تــه ورښیم چې څرنګه باید ستاټسکوب استعمال کړي، زما مقصد دادی که زه مستقیماً د ناروغ درملنه نه کوم، په نامستقیم ډول په سلګونو ان په زرګونو ناروغان د نورو روغتیایي کارکوونکو په واسطه معاینه کوم. که زه په کتنځي کې کېنم کېدی شي د ورځــې ۲۰- ۳۰ ناروغــان وګــورم او یوازې همدوی ته مې خیر ورسېږي، خو زمــا کتابونــه او خپرونــې پــه سلګونو ډاکټران او نور روغتیایي کارکوونکي لولي، نو په دې ډول مــې زرګونو وګړو ته نامستقیم خیر ورسېږي.**

**د یو څه لیکل باید د یو څه پر استناد وشي، لیکل سند دی، نو څــه چې زه د خپلو هېوادوالو لپاره لیکم، د یوڅه پر اساس یې لــیکم، او د همدې مجبوریت له مخې زه ډېرې نوې څېړنې مطالعه کوم، نوي کتابونه لولم، څېړنې کوم، د نړۍ له ډېرو معتبرو طبي منابعو سره په تماس کې یم، په نړیوالو کنفرانسونو او غونډو کې ګډون کوم او تر لاسه شوې پوهه خپلو هم مسلکانو او هېوادوالو ته د لیکلو او ژباړلو په وسیله انتقالوم. دا ټول له مسلک سره ارتباط دی، نو زه له مسلک څخه لرې نــه، بلکــې مسلک ته خورا نږدې شوی یم. په څنــګ کــې یــو نــیم نــا مســلکي مصروفیت هم شته خو دومره نه دی چې زما مسلک دې متاثر کړي.**

تاسو یو لیکوال ډاکټر یا ډاکټر لیکوال یــې، لــه دواړو خــواو د پښتنو ارواپوهنه ښه درمعلومه ده، څه فکر کوئ، چې په پښتــتني ټولنه کې د یو لیکوال لپاره د هیله مندۍ او نهیلۍ څومره اندول ساتل په کار دي او یو لیکوال باید په داسې یو ستونزمن چاپېریال کې خپل کار څه ډول پرمخ بوزي؟

**که موږ پښتني ټولنه په نظر کې ونیسو او د روښانفکره لیکوالو کــار دلته وڅېړو، ډېر د هیلې وړ نه دی. ددې علت زما په نظر په پښتنو کې د لوستو وګړو کموالی دی. زیاتره دینــي علــوم او دینــي لیکــوالان او عالمانو ته په ښه سترګه ګوري. که رښتیا را باندې وایې د ټولنې اړتیا نه احساسوي. فکر کوي چې کتاب لوستل د پیسو د لاس ته راوړلو لپــاره دي او یا ځینې منفي انګېرنې چې ګوندې سړی له دین څخه لرې کوي او داسې نور. خو له نېکه مرغه اوس په ځوان کول کــې لــه لوســت او**

ښوونځي سره ډېره مینه پیدا شوې چې دا لیکوال ته هیله پیــداکوي، چې امید دی راتلونکی نسل به د دوی قدر وکړي.

بله ستره ستونزه چې زموږ په ټولنه کې ده، دوی هرڅه د پیسو په تله تلي، په دې مانا چې که څوک شتمن و، هغه هر څه دی، خو که ډېر ستر لیکوال وي، خو جیب یې خالي و په پښتني ټولنه کې یې ځای نــه وي. څوک ورسره مرسته نه کوي، د قدر په سترګه ورته نه ګوري او تر ټولو مهمه دا چې کتابونه یې نه رانیسي.

بله ستونزه د تنظیمونو په وخت کې او یا د کمونستانو په وخت کې د خپلو ځانګړو اهدافو لپاره د کتابونو وړیا وېشل و، چې پښتانه د مفتــو کتابونو روږدي شوي دي، نو اوس پښتانه اکثرو کتابونو او لیکوالانو ته د شک په سترګه ګوري، فکر کوي چې لیکوال د دوی لپاره کومــه نــوې ستونزه زېږوي او ګرم هم نه دي.

ددې راز ستونزو د حل لپاره بنستیز کار په کار دی، منطقــي څېــړل غواړي، چې په ډېر احتیاط او ورو ورو دا ستونزه حل شــي، خلکــو تــه قناعت ورکړ شي، چې د ټولنې په پرمختګ کې د لیکوالو په رول پــوه شي، ملي پانګوال باید له لیکوالو سره مرسته وکــړي، ملــي ســوداګر وروزل شي، د ښوونې او روزنې سویه لوړه کړای شي، د لوستو شمېرنه لوړه کړای شي، هغه منفي انګېرنې چې په ټولنه کې دي له هغو ســره مقاومت وشي او خلک د پوهې په اهمیت پوه شي.

اوس اوس خو پښتو ژبې ته په هر ډګر کې خورا زیات کار کېږئ، تاسو دې کار ته څومره هیلې لرئ؟

که موږ په کیفیت پسې ونه ګرځو او یوازې کمیت په نظر کې ونیسو، خو ښه کار دی، خو زه ډارېږم، چې پښتانه ډېر احساساتي قوم دی، ډېر لنډ اندي دي، دکار همغه شېبې او سملاسي ګټې په نظر کې نیسي، هر اړخیزې اغېزې او عواقب یې نه سنجوي چې دا د پښتنو د ټولو اوسنیو او پخوانیو تاریخي ستونزو اساس دی. دوی په هر کار کې خورا له افراط نه کار اخلي، د کمونستانو په وخت کې یې په برېتونو خولې پټې کـړې وي او د هجرت په چاپېریال کې خو عرب د پښتنو مسلمانۍ ته ګوته په خولې پاتې وو. زه وایم چې داسې نه شي، چې زموږ لـه دې روشـنفکر قشر څخه هر څه پاتې وي او یوازې د کتاب پر چاپولو بوخت وي. مـوږ باید وڅېړو چې لوستونکي لري او که نه؟ د کتابونو لست کول یا کتارول نه دي په کار، د ټولنې او وګړو اړتیا، دځوان قشر غوښتنه باید په نظـر کې ونیول شي.

بله مسله د کتاب کره والی دی، نه دا چې رنګین پوښ ورکړه، تکـرار تکرار مطالب راغونډ کړه او په الماری کې یې کتار کړه.

د افغانستان دننه د تعلیمي نظام ګډوډېدل، د هجرت په چاپېریال کې د پښتنو ښوونځیو نشتوالی، هغه ستونزې دي چې ژور فکر غواړي. ایا دومره کتابونه چې چاپېږي، دوه درې کاله وروسته به لوستونکي ولري؟ لومړی باید په ځوان کول او کوچنیانو کې د مطالعې شـوق پیداشـي، دهغوی له خپلې ژبې سره مینه پیداشي، هغوی په خپله ژبه زده کـړه وکړي. دوی له خپلې ژبې ښخي پردي دي او لا پـردي کېـږي. افغـان ځوانان په پردیو ښوونځیو (سکولونو) کې دي، ان د پښتو یـوه کرښـه لوستی یا لیکلای نه شي، نو دومره کتابونه چې چاپېږي لږ ترلږه خو ۵۰٪ لوستونکي ولري.

**کتاب هر څوک اخلي. موږ باید په پښتنو کې د وړیا کتــاب لاس تــه راوړلو ناولی کلچر پای ته ورسوو، زما مقصد دا نه دی، چې تجارتي اړخ ته یې باید ډېر پام وشي، مقصد مې دادی چې ټولنه او وګړي ورته اړتیا ولري او د اړتیا له مخې لوستونکي پیدا کړي او خلک یې واخلي.**

کله کله په ځینو ادبي کړیو کې دا خبرې راپورتــه کېــږي، چــې پېښور مېشو، هېواد مېشتو او لودیدیځمېشتو افغانــانو تــرمنځ د فرهنګي او علمي کار لپاره ملګرتوب ډېر ښه اړیکي ټینګ شــوي دي، دا باید وپالل شي او د ملي ارمان لپاره ترې کــار واخیســتل شي، که څوک د ځاني ګټو او یا نورو تمــایلاتو لپــاره دا امکانــات وکاروي، نو دا اوسنی بهیر به ټکنی کړي او ستونزې به رامنځتــه شي، ستاسو په نظر باید په دې برخه کې څه وشي چې دا کارونه نور هم ښه شي؟

**رښتیا هم په دې وروستیو وختو کې پېښور مېشتو، هېواد مېشتو او لویدیځمېشتو افغانانو ترمنځ د خپل فرهنګ د ودې لپاره خورا مثبــت بدلون رامنځ ته شوی او ددغې لړۍ له برکته خورا مهم اثار چاپ شوي او د پښتو ډېرو لېوالانو ته د لوست مواد برابر شوي دي. دا ډېر د قدر او درناوي کار دی، ټول افغانان یې باید مننه او درناوی وکړي. په لویــدیځ کې په ډېره مشکله پیسې لاس ته راځي او اکثره وګړي دومره بوخــت وي، چې خپلې کورنۍ ته هم په مشکل رسېږي، نو په دغسې ټولنه کې که داسې زمري راپیدا کېږي، چې خپل هېواد او فرهنګ ته یې پام وي، دا ډېره ستره خبره ده. نو زما په نظر ددغــو درنــو هېوادوالــو پــاک او سپېڅلي احساسات باید ټکني نه شي، بلکې نور هم قوي او غښــتلي**

**شي، له هغوی سره باید مرسته وشي، چې هغه مالي امکانـات چـې د هغوی په وسیله برابرېږي، په ښو لارو کـې ولګـول شـي. کـه خـدای ناخواسته څوک له دغو سپېڅلو احساساتو څخه بده ګټه اخلي او هغه لکه د تنظیمي غنیمتونو په شان د خپلو چارو لپاره اسـتعمالوي، دا زه خورا ستر او نه بښونکی خیانت ګڼم. ځکه چې بیا به د دې چـوپړ پـر رښتینو خدمتګارانو هم څوک باور نه کوي. زما په اند ښه به دا وي، چې دغه مالي مرستې باید د یو شخص په وسیله نه، بلکې د یوې جرګې له لارې ولګول شي، د لګولو لارې یې دقیقې وي او مرسته کوونکو ته باید بېرته رښتینی راپور ورکړ شي.**

**که یو وارې دغه بې اعتباري رامنځته شوه، نه جبیره کېدونکې پایلې به ولري، نو هیله ده چې دواړه خواوې هغوی چې مرسته کوي او هغوی چې له مرستې ګټه اخلي ، باید صادق او موخه یې افغانستان او افغانانو ته خدمت وي، باید هېڅ ډول شخصي اغراض په هغې کې ذیدخل نـه کړي.**

تاسې په راتلونکي کې د طبي خبرنو او چاپ په برخه کــې څـه پلان لرئ؟

**څرنګه چې موږ کومه خاصه مالي منبع نه لرو، چې کلنۍ بودجه مـو معلومه وي، نو له همدې کبله کوم ځانګړی پلان هم نه لرو، د (کور) له خوا دماشومانو د طبابت عملي لارښود کتاب تر ژباړې لاندې دی چــې IAM له خوا تمویلېږي، د او. ار. ای. له خوا د جنسي مقاربـت لــه لارې خورېدونکې ناروغۍ او ایډز یو کتاب هم په نظر کې دی چې زه باید پرې کار وکړم. هیله لرم چې ټول طبي کتابونه د یوې مرجعې له لارې خپاره شي چې په دې ډول د ممکنه غلطیو مخه ونیول شــي، او طبــي کــره**

**اصطلاحات استعمال شي، که کومه تکنیکي نیمگړتیا په کې وي هغه لرې شي.**

په علمي، فرهنگي او په نورو هېوادنیو چارو کې ستړیا او ستونزې ګالل د انسان د روحي ارامتیا په برخه کې څومره اغېزمن دي؟

**د هېواد مینه، ملي احساس او مسوولیت، روانه غمیزه، د افغانانو معصومیت او بېوزلي، د هجرت ناخوالې او په لسگونو نور عوامل انسان دې ته هڅوي چې څه یې له لاسه کېږي خپل هېواد او هېوادوالو ته وکړي. زه د هر کار په ترسره کولو د لوی څښتن شکر او مننه پرځای کوم چې د یو څه کولو توان یې راکړی. ښکاره ده چې د هر کار ښه پایله سړي ته روحي ارامتیا ور په برخه کوي، خو له بده مرغه په افغانستان کې گډوډ حالات او بې ثباتي او د هجرت په چاپېریال کې د هېڅ ډول حقوقو نشتوالی ځینې وخت د روحي ارامتیا پر ځای روحي ستونزې سړي ته راولاړوي. ته به یو کار په خورا زحمت او زیار سر ته ورسوې او له نورو به ددې توقع کوې، چې ستا د کار درناوی به وکړي او یا به په کې یو څه برخه واخلي خو ځینې وخت داسې پېښېږي چې یو کار سړي ته ستونزه شي. د بېلگې په ډول د محترم ډاکتر صاحب ناصر شینواري کتاب چې هغوی پرې ډېر تکلیف ایستلی و او تر خورا زحمت او زیار وروسته مونږ چاپ کړ، له هغې څخه مو ۴۷۰ ټوکه د ننگرهار د طب پوهنځي ته تقریباً یو نیم کال مخکې واستول، خو یو ټوک یې هم د طب زده کوونکیو ته تراوسه نه دی ورکړ شوی، چې زما احساس یې خورا ژوبل کړ او فکر کوم چې پوهاند صاحب به هم روحاً ډېر ځورېدلای وي،**

همدا راز ځینې وختونه سړی ډول ډول خبرې اوري چې روحاً نا ارامه کېږي، خو په هر صورت، زه د خپل هېواد او هېوادوالو لپاره یو څه کوم روحاً ارام او ځان سوکاله احساسوم.

ښه به وي چې تاسو د خپلو کارونو د ښه اوډن او سمبالښت لپاره د پښتنو لیکوالو، ډاکټرانو یوه جرګه جوړه کړئ چې کارونه مو له انفرادي حالت نه ډله ییز حالته واوړي؟

رښتیا هم له یوه سر څخه دوه او له دوو درې ښه دي. زه چې هر کار کوم له مسلکي خلکو سره پرې خبرې کوم، خو رښتیا هم داسې جرګه ګۍ لا تراوسه موږ نه لرو، چې په ګډه تصمیم ونیسو، زه د داسې همفکرو او سپېڅلو هم مسلکانو په لټه کې یم چې هدف یې یوازې او یوازې انسانیت، افغانیت او اسلام ته خدمت وي، هر څوک چې دغه احساس ولري، زموږ د زړه دروازې ورته پرانیستې دي.

دخپل دردېدلي ولس او هېواد لپاره څه هیلې لرې؟

دخپل دردېدلي ولس او هېواد لپاره زما هیله لکه د نورو ځورېدلو کړېدلو، مهاجرو افغانانو په څېره ده، یو هوسا، یوموټی، پرمختللای او سوکاله افغانستان چې ټول افغانان په کې پرته له کومې ستونزې، تبعیض او جګړې ژوند وکړای شي، بشپړه فردي خپلواکي په کې وي، ګاونډیان مو په حسرت راته وګوري او له لویدیزې نړۍ خلک د کار او علم د ترلاسه کولو لپاره زموږ هېواد ته راشي. ټولو پښتنو ته په خپله ژبه هرڅه موجود وي، خپل کورګی مو جوړ وي او چاته محتاج نه یو. نورې نړۍ سره انساني او له اسلامي هېوادونو سره د وروری له مخې مرسته وکړو. غښتلی او قوي حکومت ولرو، چې په هرځای کې د افغان

پوښتنه وکړي. نړیوال د افغان نوم په قدر او عزت یاد کړي، او ګاونډیان مو ویاړ وکړي چې زموږ په ګاونډ کې دي، نړیوال مارکېټونه له افغـاني موادو ډک وي.

د بېلابېلو مسلکونو خاوندان په لیکنۍ پښتو کې یو څه ستونزې لري، لیکنۍ ژبه کره او سمه نه کاروي، خو ځینې لیکوال بیـا پــه قصدي ډول د کره، نږه او معیاري پښتو له کارولو ډډه کــوي، خــو تاسو په ژبنۍ او لیکنۍ برخه کې ښه کره او معیاري ژبــه کــاروئ، ښه به نه وي چې د بېلابېلو مسلکونو خاوندان او بېلابېل لیکوال په ژبنۍ او لیکنۍ برخه کې د ژبپوهانو لاره تعقیب کــړي، چــې د ګډوډۍ مخه ونیول شي؟

**هر څه چې کره او ستنډرډ وي، ډېر وګړي ترې مستفید کېـدلای شــي، دناکره ژبې استعمال لوستونکو ته ستونزې راولاړوي، یو ځای به یو څه یــو ډول لیکل شوي وي او بل ځای به بل ډول. نو دا په ځانګړي ډول هغوی ته چې له ژبې سره دومره بلد نه وي، مشکل پیداکوي، نو ددې ستونزې د له منځه وړلو لپاره باید هڅه وشي، چې یو او کره لیکدود مروج او ټول د قلم خاوندان یې مراعت کړي. هغوی چې کره لیکدود له نــاخبرۍ څخــه نــه کاروي، ورو ورو اصلاح کېږي، خو هغوی چې ښه پوهېږي، سم کار پرېږدي او ناسمه لیکنه کوي بیاخو جرم دی او له خپلې ژبې سره خیانت. ددغسو لیکنو باید تر خپله وسه مخه ونیول شي او له لیکوالو سره یې خبرې وشي چې ولې دا کار کوي. د موضوع علت باید څرګند او په حل کې یې کوښښ وشي، ژبه د یو سړي نه ده، ژبه په ولس پورې اړه لري، نو د ولس په سترګو کې خاورې شیندل او ناکره ژبه استعمالول نه ښبنونکی عمل دی.**

پاتې شوه د نرۍ پښتو خبره، دا هم سپېڅلی کار دی، خو دومره ضرور نه دی چې پرته له هغې دې لیکل ناشوني وي او یا باید حتماً نرۍ ژبه وکــارول شي. زما په اند په اوسنیو شرایطو کې چې پښتانه ټلویزیون نه لري، راډیو نه لري، اخبار نه لري، چې نرۍ ژبه عامه کړای شي، نو ځینې وخت نرۍ ژبــه د ګټې پرځای تاوان کوي، ځکه لوستونکی له ډېــرو نــا اشــنا لغتونــو ســره مخامخېږي، نو که په یوه جمله کې دغه نوي او نا اشنا لغتونــه ډېــر شــي، لوستونکی ترې بیا مفهوم نه شي اخیستلای. ځینې درانه لیکوالان چې د نرۍ ژبې پلوي کوي، هڅې یې د ستایلو وړ دي. خو کله کله داسې هم کېږي، چې د دغو درنو لیکوالانو یوازې د کتاب په پښتې نوم کافي دی، چې څوک کتاب ته دګوتو وروړلو جرئت ونه کړي. زه د نرۍ ژبې سر سخت پلوي یم، خو نه په اوسنیو شرایطو کې، هر څه باید د وخت دغوښتنو او شرایطو په نظر کې نیولو سره پرمخ یوړل شي. لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، موږ کومې داسې تلویزیوني او یا راډیویي خپرونې نه لرو چې د هغې په وسیله په یــو وخت یو نوی جوړ شوی لغت یا یوه نوې اصطلاح ټولو پښتنو ته پر یو وخت ورسېږي ، نو دا نرۍ پښتو به د یوې لهجې په څېر منزوي پاتې شي، پــه ورو ورو هر څه کېدونکي دي، په دایره المعارفونو، ډیکشنریو کې دې اوس ځای پرځای شي، بیا به ورو ورو میدان ته راوځي او خلک به ورسره بلدېږي، زه خو د محترم ګوهر رحمن ګوهر د کتاب یو مخ هم نه شــم لوســتلای، پــه داسې حال کې چې هغه کتاب د دې لپاره لیکلای، چې ولوســتل شــي او داسې نور.

د پښتو ژبې د پرمختګ او هغې ته دکار کولو د څرنګوالي په باب څه نظر لرئ؟

**زما په نظر باید اساسات غښتلي شي، د پښتنو کوچنیانو لپاره بایـد پـه خپله ژبه وړکتونونه، ښوونځي او پښتون چاپېریال وي، د ځوانانو لپاره باید پښتون چاپېریال، پښتو ښوونځي او پـوهنځي او د اړتیـا وړ پښـتو راز راز خپرونې او کتابونه موجود وي. د ملي پانګوالو پام باید دې ټکي ته راواړول شي، له یو څه مرستې څخه چې د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره یې مینه وال ورکوي باید ښه، سمه او په صداقت ګټه پورته شي.**

**لویان ځوانانو ته او ځوانان لویانو ته غوږ کېږدي، احساسات او شخصـي اغراض یو خوا پرېښودل شي او په صداقت سره خدمت ته ملا وتړل شـي. صداقت، رښتینولي او د زړه له کومې مینه هغه اساسي توکي دي، چـې د هر څه لپاره لار پرانیزي.**

لکه څنګه چې موږ خبر یو تاسو د یوې پښتو طبي ډیکشنرۍ د جوړولو کار پیل کړی و، دا کار کوم حد ته رسېدلای دی؟

**رښتیا هم ما له ډېر پخوا د پښتو طبي ډیکشنرۍ کار پیل کړی دی او زما د ژوند ستر هدف همدغه دی، خو دا ډېر مشکل کار دی، ارام چاپېریال او صادق ملګري غواړي، ما تر ډېرې اندازې مواد برابر کړي دي، خو نور کارونه راباندې دومره ډېر شوي، چې دا کار تقریباً اوس په ټپه ولاړ دی. منتظر یم چې د پښتو سټنډرډ کمپیوټري پروګرام رامنځته شي، ځکه چې بیا به پـه اسانۍ په کمپیوټر کې ترې هم ګټه اخیستل کېږي. تر اوسه ما تقریباً د ۳۰ په شاوخوا کې د مختلفو ژبو طبي او غیر طبي ډکشنرۍ او قاموسونه، له ۱۵ زیات په CD کې طبي ډیکشنرۍ او قاموسونه او د پښتو ډېر چـاپ شـوي طبي مواد راپیدا کړي دي، چې له دې ټولو څخه په ګټې او د لوی رب پـه مرسته زه هیله لرم چې وکولای شم، د ژوند دا ستر هدف پوره کړم.**

# (( ژوندۍ اکاډمۍ )) هم مهاجره شوه

سرمحقق زلمی هېوادمل د افغانستان یو ستر لیکوال او څېړونکی دی، چې د خپل دېرشکلن فرهنګي ژوند په بهیر کې یې په خپلوهڅو د ډېرې ستاینې او یادونې وړ کارونه تر سره کړي دي.



سر څېړونکي زلمي هېوادمل تراوسه پورې یوازې په کابل کې خپل او د نورو لیکوالو (۲۵۰) عنوانه اثار چاپ کړي دي.

په پېښور کې یې د خپل اته کلن ژوند په بهیر کې هم خپل او د نورو افغان لیکوالو تر (۱۰۰) عنوانو زیات پوهنیز څېړنیز، ادبي او تاریخي اثار چاپ کړي دي. که د هېوادمل صاحب ورځینی ژوند محاسبه کړو، نو دوه پر درې برخې یې پر څېړنیز کار تېرې شوې دي. د هېواد دا نومیالی لیکوال په دې وروستیو وختونو کې یو ځل بیا له مهاجرت نه هېواد ته اړ شو، د یوه اوږده سفر لمن یې ونیوله. د سفر تر پیل دمخه مونږ له وخت نه ګټه واخیسته او یوه مرکه مو ورسره وکړه چې دلته یې درنو لوستونکو ته وړاندې کوو، دا مرکه د هیلې مجلې د (۱۳۷۸ل) کال په څلورمه ګڼه کې خپره شوې ده.

لکه څنګه چې موږ ته څرګنده ده تاسې په دې ورځو کې د یوه اوږده سفر لمن نیولې. څه ډول احساس کوئ چې دا سفر بــه لــه عاطفي پلوه درته څومره ګران پرېوزي؟

**ګران یون صاحب! ستا دلومړنۍ پوښتنې په غبرګون کې که زه څــه ووایم، نو ضرور به کلیشه یي، تصنعي او متحد المالې خبرې وي، چې هر غرب ته روان افغان یې وایي، خو چې کله یې د هغو ځایو خواږه تر خوله شي. نو نه بیا هغه خبرې وي او نه یې له هېــواد او خلکــو ســره هغــه تعهدونه، نو ځکه زه د دې پوښتنې ځواب مسکوت پرېږدم.**

له کابله پېښور ته مهاجرت او له پېښوره بیا جرمني ته مهاجرت ترمنځ درته تفاوت ښکاري؟

**له کابله پېښور ته راتګ هم راته لومړی ګران و، خو چې کله راغلم، ما لپاره هېڅ شی هم بېګانه نه و، لکه د یوې ځمکې له یوې برخــې چــې سړی بلې هغې ته لاړ شي. یا په بله وینا د پښتنو له یوې فرهنګي حوزې څخه بلې ته ورتګ سړي ته ګران نه پرېوزي.**

**په دې کې شک نه شته چې د پېښور د استوګنې په لومړیو کلونو کې مو کابل او د هېواد نورو برخو ته د تګ ډېره تلوسه وه، خو د ټوپکیانو له وېرې نه شو تللای، په وروستیو کلونو کې دا مشکل هــم حــل شــو. د افغانستان بېلابېلو برخو ته د تګ راتګ مشکل هم رفــع شــو. پــر دې اساس نو په پېښور کې د استوګنې په دوران کې ما له وطنه د بېلتــون احساس نه دی کړی، خو جرمني ته تګ او هلته اوسېدنه له اصل نه د سړي د جلا کولو مانا لري.**

زه پر (۱۹۹۱م/ ۱۳۷۰هـ ل) کال د افغانستان د حکومت په لګښت په رسمي ډول جرمني تـه تللـی وم، پـه رښـتیا چـې جرمنـي زمـوږ د زیارصاحب په وینا دومره پاک و، لکه چې یې څټلی وي. دوه اوونۍ مې پکې تېرې کړې، د پاتې کېدو بلنې هم له حده زیاتې وې او د پاتې کېدو لپاره هېڅ خنډ هم نه و، خو که رښتیا درته ووایم، چې زه یې جذب نه شوم کړای او تر دوو هفتو بېرته افغانستان ته لاړم. دا چـې اوس څـه پېښ دي چې له خپله اصله ځان بېلوم او په ډېر ګرانو لارو هماغه هېواد ته ځم؟ په دې ته او ستاسو د مجلې اکثره لوستونکي پوهېږي.

څومره چې موږ ته معلومه ده، ستاسې شخصیت، انـد، ژونـد د افغاني مینې او د افغاني ټولنې له ځـانګړنو څخـه جـوړ دی. لـه لوېدیزې ټولنې سره به څومره توافق وکړای شئ؟

زما په پوهه هر افغان چې سن یې له پنځۀ دېرشو او یا څلوېښتو لوړ وي، که هغه غرب ته ځي په هغو ټولنو کې یې د جذب شرایط ډېر لږ دي. ښایي له ځینو استثناوو پرته د دغو سنونو لرونکي افغانان د غربي ټولنو ټول کړه وړه خپل نه کړای شي. زما سن اوس د جذب له شرایطو وتـی دی او د توافق په اړه باید درته ووایم چې څو کاله دمخه زه لـه خپلـې کورنۍ سره هندوستان ته لاړم. په ډهلي پوهنتـون کـې مـې د لـوړو تحصیلاتو لپاره داخله هم واخیسته، له ما سره یـې د ال انـډیا راډیـو ډهلي په پښتو څانګه کې د مقررۍ وعده هم کړې وه او ماشومانو ته مې د ملګرو ملتونو د مهاجرو د ادارې له خوا د مهاجرت د منل کېدو شرایط هم اماده شوي وو، مګر توافق مې ونه کړای شو په دوو میاشتو کې بېرته کابل ته راغلو هر څه مو پرېښودل. دا چې ما په هندي شرقي ټولنه کې

**توافق ونه کړای شو، نو له غربي ټولنې سره توافق راته ګران ایسي، خو کله کله د ژوند اړتیاوې سړی د زهرو ګوټ ته هم اړ کاندي.**

په کابل کې ستاسو فرهنګي هڅـو او څېړنیـزو خـدمتونو یـو تثبیت شوی مقام درلود او ټولنې ته یې ګټه خورا څرګنده وه، نو ځکه زموږ ځینو لیکوالو تاسې ته د انصاف له مخـې د (( ژونـدۍ اکاډمۍ)) لقب درکړی و، په پېښور کې هم ستاسې هڅـو د یـوې ژوندۍ اکاډمۍ حیثیت درلود، څه فکر کوئ په جرمني کې به هم ستاسې فرهنګي خدمتونه په همدې ډول وي؟

**ګران یون صاحب! شرایط به هر څه روښانه کړي. دا به مخکې له وخته وي که زه ووایم چې جرمني ته ورسېږم، نو زه به دا کوم. ښایي د کار ښه شرایط راته برابر شي، چې له کابل او پېښوره هلته ډېر او ښه کار وکړم او دا هم له امکانه لیرې نه ده، چې شرایط مې د یوې کوټې په کونج کې کښېنوي او د هیڅ کار او فعالیت مجال رانه کړي، له کابله راسره ځینې پروژې وې، چې څه مې په پېښور کې دلوی خدای(ج) په فضل بشپړې کړې او دوه یې پاتې دي.**

**په دې دوو پروژو کې یو د پښتو نظم داستان دی (البتـه نظـم د پېښوریو ورونو په اصطلاح نه، بلکې د شـرقي فرهنـګ لـه معمـولې اصطلاح سره سم) او بل د فرهنګ ادبیات پښـتو څلـورم ټـوک. ددې دواړو کتابونو لپاره ما څه مواد ټول کړي دي. هیله ده چې د اروپـا پـه کتابتونو کې د مطالعې له زمینو سره سم دا دواړه کتابونه هم بشپړ کړای شم.**

د فرهنګ ادبيات پښتو د څلورم ټوک اصلي موضوع د پښـــتو پوهـــو ختيځپوهانو پېژندنه او د دوی دکارونو معرفي ده او په پای کـــې يـــې د دريو چاپ شويو ټوکونو بشپړوونکې برخې راځي.

پر دې سربېره مې د مرکزي اسيا له ولسونو سره دپښتنو دفرهنګـــي روابطو د څېړلو پر موضوع هم څه اسناد راټـــول کـــړي دي، کـــه لـــوی خدای(ج) توفيق راکړ ښايي دا پروژه هم بشپړه کړم.

په ټوليز (عمومي) ډول تاسې له هېواده د مســـلکي کـــادرونو د وتلو بهير څنګه ارزوئ؟

زما په پوهه پر مسلکي کادرونو سربېره له هېواده دعادي اوسېدونکيو له وتلو سره زموږ ټولنه خپل کفايتونه له لاسه ورکوي. په ټولنه کـــې د فقر، بدبختۍ، بېکارۍ او بېروزګارۍ خپرېدو ته زمينه مســـاعدېږي. دا چې مسلکي کادرونه له هېواده وځي، ورسره د هېواد ټول اقتصـــادي، اجتماعي، فرهنګي او نور بنسټونه يا له رکود سره مخ کېږي او که بشپړ رکود نه وي. له موثريته لوېږي. له هېواده د خلکو وتل نن زموږ د هېواد لپاره يوه ستره غميزه ده. د دې وتليو خلکو ډېر لږ تعداد ښايي بېرتـــه راشي. هغه هم د کورنيو مشران. هغه ځوانان چې په غـــرب کـــې ســـتر شوي دي. روزنه يې غربي ده. د هغوی راتګ ستونزمن څه چې ناممکن برېښي.

پر دې سربېره د هېواد دننه او له هېواده باندې د افغانستان لپـــاره د کادرونو روزل دېخوا په څېر نه دي، د هېواد دننه پوهنتونونو څخه چې هم ځوانان فارغېږي، د سند په ترلاسه کولو سره يا نورو هېوادو ته ځي او که هلته لاړ نه شي د هېواد دننه په دولتي ادارو کې کـــار نـــه کـــوي، بلکې زيار باسي چې په پېښور او کوټه کې په افغاني او بين المللي غير

دولتي موسسو کې ځانته کارونه ولټوي او که نــه نــو د هېــواد دننــه انجیوګانو (غیر دولتي موسسو) کې په کار پسې ګرځي.

زما په پوهه غیر دولتي موسسو هم له کادرونو نه د افغانستان دولتي ښوونکي، انجینران او نور فرهنګي کسان چې په دغو بــین المللــي او افغاني غیر دولتي موسسو کې په ډېرو ښو معاشونو کار کوي، تر هغــه وخته به بېرته افغاني دولتي موسسو ته راونه ګرځي، تر هغــې چــې دا موسسې فعالې وي.

ښه مې په یاد دي؛ د ۱۹۹۳م کال په اکتوبر کې یو تنظیمــي مشــر د کابل پوهنتون یو استاد ته وویل: (( دوکتور صاحب که د افغانستان په خارجه وزارت کې کار کوې، نو د یوې سیاسي څانګې مــدیریت بــه در کړو. تا په امریکا کې تحصیل کړی دی. انګرېزي دې ښه زده ده، تا تــه خارجه وزارت ډېر ضرورت لري.))

استاد له تنظیمي مشر نه لومړی پوښتنه وکړه چې معاش یې څومره دی؟

تنظیمي مشر بیا ورته وویل: (( د افغانستان معاشونه دي. څه چې ټول اخلي ته به یې هم اخلې؟؛ استاد بیا ورته وویل: (( صاحب! ما ته په فلانی غیر دولتي موسسه کې د میاشتې پېنځلس زره کالدارې راکوي، چې د افغانستان د خارجه وزارت د سیاسي مدیریت د یو کال معــاش دومره نه کېږي، نو زه څنګه کولای شم دا معاش پرېږدم او په جنګونــو کې کابل ته لاړ شم.))

د تنظیمي مشر او د پوهنتون د استاد له دې خبرو دې نتیجــې تــه ورسېدم، چې د غیر دولتي موسسو په ډېلو معاشــونو اموختــه شــوي

**افغانان خپلو پخوانیو کارونو او یا دهېواد نورو موسسو تــه بېرتــه نــه ګرځي.**

ځینې کسان په دې نظر دي چې که ځینې لیکوال بهر ته هم لاړ شي، د فرهنګي خدمت وړتیا له لاسه نه ورکوي، غوره بېلګې یې په جرمني کې زرین انځور او په ډنمارک کې عبدالمالک بېکسیار او ځینې نور په نورو هېوادونو کې دي چې په کم وخت کې یې ډېر فرهنګي خدمتونه وکړل، ستاسې په نظر دا مسئله څنګه ده؟

**فرهنګي کار چې د هر چا له خوا په هرځای کې وشي، په زیاتــه پــه اوسنیو شرایطو کې هغه د ډېرې یادونې او زیاتې مننــې وړ دی. ځکــه زموږ فرهنګ تر هر بل وخته اوس زیات کار ته اړتیا لري. هغه افغانــان چې په اروپا کې ناست دي، خپله هم کار کوي او نور افغانان هم هڅوي چې په فرهنګي کار کې برخه واخلي، افغانان باید د دغو کسانو ډېر ډېر درناوی وکړي. ښاغلیو انځور، بېکسیار، جمال رحمن، خلیــل الــرحمن رسولي، اجمل روهي، خوشال روهي، امام الدین ساپي، په لنــدن کــې ایمل پسرلي، په هالینډ کې ښاغلیو حمیــدي، ټکــور، پــه هنــد کــې پوهندوی عبدالخالق رشید او په مسکو کې اســتاد نومیــالي، ارمــان، دوکتور لطیف بهاند، عارف خزان او نورو ښاغلیو چې کوم کارونه کړي دي او یا یې کوي دا ټول زموږ د فرهنګ په وده کې اغېزمن دي. د دې کارونو پایښت به زموږ د فرهنګ په بډاینه کې خپل ځانګړی مقام ولري.**

زموږ ځینې لیکوال او تحصیل کړي اشخاص چې په تېرو اوو اتو کلونو کې په هېواد کې پاتې شول، هم له ذهني او فزیکــي پلــوه استهلاک شول، خو یو شمېر چې نورو ټولنو ته لاړل هلتــه حــل

شول، ستاسې په اند په دغو دوو لارو او حالاتو کې باید کومه لاره انتخاب شي؟

هغه ښاغلي چې په نورو هېوادونو کې حل شوي، بیا یې غـړ نــه دی اوربېدل شوی او هغه ښاغلي چــې پــه هېــواد کــې پــاتې دي او ټــول استعدادونه او فزیکي قوه یې د یــوې مــړې ډوډۍ د پیــداکولو لپــاره استهلاکېږي. دواړه حالته یې زموږ لپاره زیانمن دي. دا اوســني نــاوړه شرایط چې زموږ پر خلکو تحمیل شــوي. د دې ســبب شــول چــې د فرهنګ د موسسې دېر کار کوونکي د هېواد دننه او تر هېواد د بانــدې خپله اصلي پېشه پرېږدي او کورنۍ ته د ډوډۍ د پیداکولو لپاره پر نورو کارونو اخته شي.

په دې دوران کې زموږ ډېرو فرهنګیالیو خپل صلاحیتونه لــه لاســه ورکړل. د فرهنګ د موسسې د بېلابېلو څانګو هغه کارکوونکي چــې لا تراوسه د هېواد دننه پاتې دي. زما په پوهه د ډېرې ستاینې او شاباسۍ وړ دي. دوی که اوس د خپلو کورنیو د خېټې مړولو لپاره نورو کارونو ته لاس اچوي، د نور کار ترڅنګه له خپلو موسسو سره هم تړاو لري، اړیکې یې ترې نه دي پرې شوي. که یو ځل د لوی خدای(ج) په فضل دنیا رڼــا شوه او د هېواد دننه د فرهنګي موسسو بیا رغونــه پیــل شــوه او پــه بنسټیز ډول دا موسسې بېرته فعالې شوې، نو د هېواد دننه فرهنګیان به ځانونه بېرته ډېر ژر عیار کړای شي. اما هغه فرهنګیان چې له هېواده بهر له خپلې پېشې لرې په نورو چارو بوخت دي، له خپلو اصلي کارونو سره د دوی بېرته پیوستون یو څه ستونزمن کار دی.

لکه څنګه چې موږ ته معلومه ده، د اولادونو عاطفي فشار او ان د ځینو دوستانو ټینګار تاسې دې ته مجبــور کــړي یاســت چــې جرمني ته سفر وکړئ، د بېرته راتګ په باب دې په ذهن کې کــوم پلان جوړ کړی دی؟

**اروابناد استاد روهي به تل له جرمني نه ماته او خپلو نورو دوستانو ته په لیکنو کې لیکل چې کله په هېواد کې انساني کرامت تــه د درنــاوي فضا پیدا شي، نو بیا دې ته نه ګورو چې په کابل کې څــوک پــر تخــت ناست دی، سملاسي را روانېږو او شپه هم هلته نه کوو. خو موږ ولیدل چې د هغوی د ژوند تر پایه داسې فضا په هېواد کې مساعده نه شوه او استاد په لرېتوب کې د هېواد په ارمان هلته په جرمني کې ساه ورکړه.**

**زه هم دا درته وایم چې لوی خدای(ج) دې زما له تګ سره ســم پــه هېواد کې د سولې، امنیت او د ټولو افغانانو لپاره د ژوند فضــا راپیــدا کړي. میاشت به هم تېره نه کړو او بېرته به له کورنۍ سره راشو.**

**اما که شرایط همداسې دوام وکړي او موږ د بچیانو د روزنې او نــورو اړتیاوو پر بنا هلته پاتې شو، نو په هغه صورت کې د بېرته راتګ مساله د سفر له اسنادو سره اړه پیداکوي، اوس دا نه ده معلومه چې موږ تــه د المان حکومت کله په افغاني پاسپورټ ویزه راکوي؟ البته که دغســې اسناد ترلاسه کړم، او په اقتصادي لحاظ د سفر وړتیا ولرم، نو ضرور به په خیر بېرته راځم.**

په پېښور او ان کابل کــې دې ګــڼ شــمېر لیکــوال او د کتــاب مینوال په وړیا کتابونو رووړدي کــړي وو او ((جاریــه صــدقه)) دې

ورکوله، هلته خو به دومره کتابونه نه وي، لاسونه به دې خارښت ونه کړي؟

**ګران یون صاحب! ډېره ښه پوښتنه دې کړې ده. په کابل او په پېښور کې چې ما د کتابونو د وړیا وېش لپاره کومه هڅه کوله، هدف مې دا و، چې زموږ زیاتره لیکوال او شاعران د کتابونو د اخیستو وس نه لري. که زه وکولای شم، دوی ته وړیا کتابونه برابر کړم، نو به مې دوی تـه څـه خدمت کړی وي. په دې لړ کې به له لیکوالو پرتـه ځینـو نـورو کتـاب لوستونکیو ته هم وړیا کتابونه رسېدل.**

**زه خپله هم دا فکر کوم، چې په جرمني کې به څنګه کوم، تـه دعـا کوه، چې هلته هم داسې شرایط برابر شي، چې زه خلکو ته وړیا کتابونه ورکړای شم.**

په ملي مسایلو کې خو دې په کابل او پېښور کې له ډېـر زیـات احتیاط نه کار اخیست، په جرمني او ټوله اروپا کې خو دا مســایل اوج ته رسېدلي دي، هلته به هم ستاسې پالیسي پر همدې بنسټ ولاړه وي؟

**ګرانه! په ملي مسایلو کې له احتیاطه کار اخیستل زما په ختـه کــې اخښل شوي دي. دا کار زه له ډاره او یا له مضره احتیاطه  نه کوم، بلکې زما دا عقیده ده چې په دې مسله کې افراطي عمل د هېواد او خلکو په ګټه کار نه دی. دا کار که هر څوک له هرې خوا کوي، زما په عقیده سم کار نه دی.**

**زه به په خیر په جرمني کې هم دا پالیسي تعقیبوم، نور چې څوک څه کوي خپله خوښه یې ده.**

په پېښور کې دې د نورو ګڼو کارونو ترڅنګ څو درانــه څېړنیــز کارونه ترسره کړل چې په دې کې (د پښتو نثر اته ســوه کالــه) او (په هند کې د پښتو ادبیاتو د ودې او ایجاد پړاوونه) مغتنم کتابونه هم شامل وو، د پښتو نظم د تاریخ لیکنې پــروژه بــه دې څنګــه شي؟

**ما دمخه د یوې پوښتنې په ځواب کې هم درته لیکلي دي، چې زما په لومړنیو کارونو کې د پښتو نظم تاریخ لیکل شامل دي. زه له لویه خدایه توفیق غواړم، چې دا کار وکړای شم.**

په جرمني او ځینې نورو اروپایي هېوادونو کې د پښتو د ځینــو خطي نسخو څرک شته او له خطي نسخو سره خو ستاسې مینه هر چا ته څرګنده ده، د دې نسخو لټون لپاره دې هم کومه خیالي نقشه جوړه کړې ده او که نه؟

**د اروپا په ډېرو هېوادونو کې لکه: روسیه، المان، فرانسه او جرمني کې پښتو نسخې معلومې دي، چې ځینې یې فهرست شــوې هــم دي. لــه امکانه لرې نه ده، چې د ځینو نورو هېوادونو د ختیځپوهنو په څــانګو کې هم پښتو نسخې وي. که ماته شرایط مساعد شــول، زمــا لــومړنۍ وظیفه به دا وي چې زه دغه نسخې وګورم. فهرست یې کړم. په دې باب زما پروګرام شته.**

د پېښور په اته کلن مهاجر ژوند کې دې خوږې او ترخې خاطرې کومې دي؟

**د پېښور اته کلن ژوندکې خوږې او ترخې خاطرې ټولو لیکل ځانتــه رساله کېږي، خو له ډېرو خاطرو به دوه درته ولیکم:**

**الف - د ۱۹۹۲م کال د جون ۲۴مه نېټه وه، چې وفا کې زما د مقـرري پر ځلورمه ورځ زه د ناصر باغ کمپ ته تللم. په بورډ کې مې وليدل چې پوليسو افغان ترکاري پلورونکيو ته ډېر بد او سپک ښکنځل کول، پـه ځاپېړو يې وهل او ترکاري يې ورته نهر ته ارتولې. دې وضعې دومره بد تاثير راباندې وکړ، چې هغه شپه مې ډوډۍ ونه خوړه.**

**ب - بله ترخه خاطره مې دا ده چې زه تېر ژمی له جلال اباده پېښور ته راتلم، له اوسنۍ پولې چې واوښتم، سـرحدي موظيفينـو، واړه افغـان ماشومان درولي وو او تېرېدو ته يې نه پرېښودل. له دغو افغان ماشومانو سره يو ګلن تېل، له چا سره من اوړه، نيم من بوره او څه وو، يو ماشوم لړ ځان وښوراوه، يو ملېشه دومره وواهه چې له خولې يې وينـې روانـې شوې، هغه ورځ باران هم شوی و، ماشوم يې دومره په خټو کې ورغړاوه، چې کالي يې ټول په خټو ککړ شول. خو ماشوم په دې حال کې هـم د تېلو ګلنه په غېږ کې کلکه نيولې وه.**

خپل تېر ادبي او علمي ژوند څنګه ارزوئ، له خپـل کـړي کـار څخه راضي ياست؟

**ګران يون صاحب! زه نه پوهېږم چې زه په څه ډول رواني رنځ اختـه يم، خپل کړي کارونه مې هېڅ نه خوښېږي.**

په بهر کې مېشتو افغان ليکوالو او نـورو د واک او امکانـاتو لـه خاوندانو څخه څه هيله لرې چې پـه افغانسـتان کـې د اوسـنۍ فرهنګي خصوصاً خپرنيزې خلا د ډکولو لپاره څه وکړي؟

**ټول هغه افغانان چې په غرب کې اوسېږي، که هغـه فرهنګـي کـار کوونکي دي او که نه دي د افغاني فرهنګ د بيا تاند ساتلو لپاره بايد په**

**یو ډول نه یو ډول د فرهنګ له موسسې سره مرسته وکړي. په افغـاني مجلو کې باید اشتراک وکړي، چاپ شوي کتابونه راونیسي، له فرهنګي موسسو سره مرسته وکړي.**

لکه څنګه چې څرګنده ده پښتني فرهنګ ته کار زیاته قربـاني غواړي، ستاسې قرباني او زیار ټولو ته څرګند دی، خو ټول عمر بې امتیازه قرباني هم دوام نه شي موندلای او انسان اخر د ژوند چارو ته هم اړتیا لري، ستا په نظر داسې یوه لاره شته چــې نــه ســیخ وسوزي او نه کباب، یانې هم ژبې ته خدمت وشي او هم د لیکوال ژوند یو څه خړوب شي؟

**زما خپله تجربه دا ده چې له فرهنګي کار سره مینه سړی لــه نــورو کارونو پاته کوي. د دې مینې مهارول او بلې خواته توجه ښایي ډېر زور وغواړي، چې زما په وس نه ده پوره. زه تل په کورني ژوند کې بریالی نه یم. زما د کور زیاتره مکلفیتونه، اروابښاد استاد روهــي، زمــا محترمــې خواښې او ګرانو خوشال روهي او اجمل روهي سرته رسولي او ما خپل عمر په مطبعو کې تېر کړی دی.**

په ټولیز ډول د پښتو اوسنی ادبي بهیــر ( شــعر، کــره کتنــه او څېړنه) څنګه ارزوئ؟

**په اوسني دوران کې خو زموږ په فرهنګي کړیو کې کره کتنه ګرد سره نه شته او که وي په معیارونو، ادابو او شرایطو برابره نه ده. د څېړنې کار خو اوس په ټپه ولاړ دی، یوه نیمه څېړنه چې کېږي هغه هم په معیار نه ده برابره.**

د خپل هېواد او فرهنګ راتلونکي ته څه هیلې لرئ؟

هېواد لپاره د نورو ټولو افغانانو په څېر زما دا هیله ده، چې لوی خدای پکې سوله او امنیت راولي، چې ترېنه ټول تللي بچي یې بېرتــه تــودې غېږې ته ستانه شي.

زموږ فرهنګ ډېر کار ته اړتیا لري، لوی خدای دې لکه تا غوندې څــو نور ځوانان هم ورپیدا کاندي چې د تاند ساتلو لپاره یې په لېونۍ مینــه کار وکړي.

دا چې د سفر په ګڼو مصروفیتونو کې دې زموږ ګڼو پوښتنو تــه ځوابونه راکړل، ډېره مننه درځخه کوو، کــور دې ودان او بچیــان دې سوکاله.

تاسې نه هم ډېره مننه، په فرهنګي چارو کې درته زیات بریــالیتوب غواړم.

# په کاڼو کې غمی

یوه یوه نیمه لسیزه وړاندې پښتو یوه داسې ژبه وه چې لـه نویـو برېښناییزو پرمختیاوو او کمپیوټري خوړلنیو څخه بې برخــې وه، خــو ځینو ځوانو افغان کمپیوټرپوهانو او په



تېره بیا ځوان او تکړه کمپیــوټر پــوه ښاغلي نــورالرحمن لېــوال د خپلــو زرګونو ساعتونو ذهني او فزیکي کار په پایله کې پښتو له کمپیــوټر ســره داسې غاړه غړۍ کړه چې ان تصور یې هــم نــه شــو کېــدی. اوس د دوی د کمپیوټري پروګرامونو له مخې پښتو ژبې ته اکثره هغه اسانتیاوې شته چې د نړۍ دېرې وتلې او بډایه ژبې یې لري. د همدغو اسانتیاوو له کبله اوس په پښتو ژبه ګڼ شمېر مجلې، کتابونه او نورې خپرونې چاپېږي. پښــتو ژبې او افغان ولس ته دا اسانتیاوې او برې په وړیا ډول ترلاسه شوي نه دي، بلکې د څو تنو د زیات زیار او کړاو پایله ده. ښاغلی نورالرحمن لېوال له دغو هڅندویانو، مخکښانو او سرغندویانو څخه دی.

ښاغلی لېوال یو سمونپال، ټولنیز، سمونچار، سوله پال، فرهنګپــال او پرمخیال شخص دی، د خپلې ټولنې په هر دردوغم دردمن او خوږن دی، کله چې له لېوال صیب سره څوک پر ټولنیزو مسایلو ګړېږي، نو فکر کوي

**چې لېوال صیب یو کمپیوټر پوه نه، بلکې یو ټولنپوه دی. د ټولنې لپاره د دوی هر علمي کار ډېر ګټور دی. د ټولنې په هر ډګر کې که د لېوال صیب په شان نور لېوالان پیدا شي، نو بې له کوم شکه به د ټولنې هـره برخـه ډېرې بریاوې ترلاسه کړي.**

**څرنګه چې لېوال په ډېر کم عمر کې د ټولنې دخدمت لپاره ډېرو سترو کارونو ته اوږه ورکړې، نو د زیاتې ستاینې او یادونې وړ دی. د هیلې مجلې په دې (۱۳۷۹ل) کال دویمه ګڼه کې مو ښاغلی لېوال ګړولای او دلته یې مرکه په ګډه لولو:**

لېوال صیب هیله ده تر هرڅه لومړی درنو لوستونکو تـه خپـل ځان وروپېژنئ؟

**زه د افغانستان د لوګر ولایت اوسېدونکی یم او تېر ۱۷ کالـه مـې پـه پېښور کې د نورو هېوادوالو په څېر په هجرت کې تېر کړي، ډېرې سـړې تودې مې لیدلي، د هجرت په لومړیو کلونو کې مې څو کاله د مجاهدینو په څو دفترونو کې کله یو او کله بل کې وړې دندې درلودې، وروسته مې بیا دملګرو ملتو د روغتیا له نړیوالې ادارې سره او په پای کـې د خپـل کاروبار تر پیله وړاندې دملګرو ملتو له پرمختیایي ادارې سره کار کاوه. په دغه لړ کې مې د افغان معیوبینو ټـولنې او یـو څـه نـورو افغـاني غیردولتي ادارو سره همکاري کړې ده، دخپل کار په اوږدو کې مې ډېرو غونډو، سیمینارونو او نندارتونو کې برخه اخیستې. اسـترالیا، کانـاډا، انګلستان، مراکش، سینګاپور، دوبۍ، تایلنډ او ایران ته مې لنډ سفرونه هم ورسره کړي، ډېرې ښې او بدې خاطرې ورڅخه لرم، له ښو څخه یې د نومووړو هېوادونو پرمختګ او ښکلا ده او له بدو څخه یـې زمـوږ لـه هېوادوالو سره د ډېرو هېوادونو زورزیاتی دی.**

څنګه دې وکولای شول دکمپیوټر پېچلې او پرمختللې نړۍ تــه لار پیدا کړې؟

**زما نوښتګر کسان او د هغوی نوښتونه تل خوښ وي او د هغو څېړنه او معلومات راته تل په زړه پورې وي، دغه مې یوه مشغولا هــم ده. مــا لومړۍ ټایپستي زده کړې وه، د دې لپاره چې ماموریت پیدا کړم، د دفتر لپاره ماته د ټایپستي زده کول غوره په نظر راغلل، هغه و چې مــا پــه ایران کې د ټایپستي یو کورس په داسې وخت کې ووایه چې د ورځې به مې مزدوري کوله او ماښام به کورس ته تلم، ستر کړاو په کې دا و چې د ایران حکومت افغانان په تعلیمي، صحي، خوراکي او دولتي ادارو کې له کار او ګډون څخه بېخي منع کړي وو، او که څوک به په دغو ادارو کــې ګیر شول د اسلام کلا له لارې به یې روسانو ته ورسپارل.**

**هغه وخت به خلکو ویل او ما به په ځینو خپرونو کې لوستل چې نــن سبا کمپیوټر د ټایپ لپاره کارېږي چې ډېر دقیق او ډېر ګړندی دی، هغه و چې زه په دې لټه کې شوم چې کمپیوټر زده کړم، بیا مې په اسلام اباد کې دعربانو ورونو په مرسته یو درې میاشتنی کورس ولوست او دا لــه نورو څخه د کمپیوټر په برخه کې زما لومړنۍ او وروستۍ زده کــړه ده. یون صیب! کمپیوټر سره له دې چې ماشین دی یو ښوونکی هم دی، له کمپیوټر او د هغه له هر پروګرام سره ډېر بشپړ کتابونه او مرســتندویه اسانتیاوې وي چې د کمپیوټر او د هغه پروګرام په زده کړه کې بشــپړه مرسته کوي او که هر څوک له دغو کتابونو او مرستندویه پروګرامونــو څخه کار واخلي، نو استاد ته ډېره کمه اړتیا پېښېږي. ما چې هــر څــه کړي هغه مې له کتابونو او کمپیوټر څخه په خپله زده کړي، هر څــوک**

چې کمپیوټر زده کوي، زما لارښوونه ورته دا ده چې لومړی دې ځان ته کمپیوټر واخلي او بیا هر پروګرام چې زده کوي د هغه له کتــابونو او د کمپیوټر له مرستې څخه دې کار واخلي.

یوازې مینې دې کار ته راکاږلی یې او که استعداد دې هــم پــه همدې برخه کې درسره ملګرتیا کړې ده؟

زما په اند هر کار له یوې غوښتنې څخه پیلېږي چې مینه، رښتینولي او اخلاص ورسره مل شي، نو بریالیتوب یې مقدر شي، او که الله تعــالی چاته غوره استعداد هم ورکړی وي نو بیا خو یې بریالیتوبونه په انتظــار وي، زه له خدای پاک څخه ډېر شکر ادا کوم چې پر ما یې ډېره لورونــه کړې ده، خو زما په اند که هر کار په مینه، رښتینولي او بیــا بیــا هڅــه ترسره شي، نو د ډېرو دنیاوي کارونو ترسره کول هېڅ ګران نــه دي. دا زما تګلار ده چې زه د خپلې ټولنې د ربړو په کمولو کــې خپلــه ونــډه واخلم، له کمپیوټر او عصري تکنالوژۍ سره زما مینه نه شته، خو زمــا مینه دخپلو هېوادوالو له خوشحالۍ، سوکالۍ او د هېواد له ابادۍ سره ده، نو لکه څنګه چې کمپیوټر د وخت او زموږ د ټولنې مهمــه اړتیــا او غوښتنه وه، نو دغې غوښتنې زه دې ته وهڅولم چې کمپیــوټر پښــتو کړم، او خدای پاک(ج) دې موږ ته وس راکړي چې خپلې ټولې ستونزې اوارې کړو.

کله چې له نن نه یوه لسیزه مخکې به مې د کمپیوټر خپلو هممسلکو سره دا خبره شریکوله چې کمپیوټر ته باید پښتو پروګرامونه جوړ کړو. هغوی به ویل: په امریکا کې په زرګونو خلک پر یوه پروګرام کار کوي، په ملیونونو ډالر لګوي، او تاسې یې یوازې کوئ، او په خندا به یې وویل دا

ناشونې ده لکه څنگه چې ما مخکې وویل که هــر څــوک پــه خپلــه غوښتنه کې رښتینی وي او په مینه کار وکړي نو ډېر ناشــوني کارونــه ترسره کولای شي.

## تراوسه پورې دې څومره او کــوم کــوم پروگرامونــه پښتو کړي دي؟

ما له (۱۹۸۹) کال نه راپه دېخوا د کمپیوټر د پښتو کولو هلې ځلې پیل کړې. پر ۱۹۹۳ کال مو په لومړي ځل په نړۍ کې د هغه وخت تــر ټولــو غوره پروگرام ورډپرفیکټ ۵،۱ پښتو ته واړاوه او پښتو لیکل په کې تــر انگرېزۍ هم ښه وشول. ځکه چې دغه پروگرام په انگرېزۍ کې په اکثره چاپندیو (پرنټرو) په بېلابېلو اندازو چاپ نه شو کولای، خو پښتو په هر چاپندي تر یو زر پاینټه پورې اپ وکړ، یانې د پښتو یو خط په یو زر اندازو کې چاپ شو او دغې یوې اندازې په اته ډوله ښه بدلوله چې هر خط اته زره خطه شو. په دې ډول (۱۸) خطونه (۱۸۰۰۰) ډولونه راکړل. بیا مو د خدای تعالی په مرسته له څلورو کلونو خواریو وروســته وینــډوز (۹۵) پښتو ته واړوله. د یادونې وړ ده چې وینډوز (۹۵) د ټولې نړۍ په ســلو کې (۹۰) کمپیوټروالا کاروي او بیا مو پرله پسې وینډوز (۹۸) پښتو کړه او د خدای تعالی ډېر ډېر شکر دی چې سږ کال مو له انگرېزي وینــډوز سره یو ځای وینډوز (۲) زره هم جوړه کړه، د دې مطلب دادی چې پــه دغه کار کې موږ له امریکایانو سره یوشان شولو. همدارنگه مو د پښتو ځینو نورو پروگرامونو لکه یونیورس او یونیورسلورډ ته هم پښتو خطونه جوړ کړي دي.

د پښتو پروګرامونو په جوړولو کې موږ له پښتو معیـارونو او نړیوالـو کمپیوټري معیارونو یا سټنډرډونو نه لکه (( یونیکوډ))، چې په کمپیوټر کې د ژبو معیار دی کار اخیستی. همدارنګه موږ د افغان معیاري (پښتو/ دري) لیکمن یا کیبورډ معیار، د پښتو تورو د جوړولو معیار او نور ورته کارونه کړي، هیله ده چې نور افغان کمپیوټر پوهان ورڅخه کار واخلي.

دخدای تعالی(ج) شکر دی اوس پښتو په هغو پروګرامونو لیکل کېږي، طرح کېږي او څېړل کېږي چې د نړۍ عصري ژبې لکه انګرېزي وربانديې لیکل کېږي. اوس کمپیوټر ته پښتو او انګرېزي هېڅ توپیر نه لري، هـر سړی چې په پښتو پوهېږي، نو ان شاالله چې هغه ته به په کمپیـوټر د پښتو لیکلو ربړه نوره نه وي او بله دا چې پښتو په کمپیوټر کې اوس د سیمې له نورو ژبو نه ډېره مخکې ده نورې ژبې یوازې په کمپیوټر لیکل کېږي او پښتو کې ټول هغه څه کېږي چـې خلکـو بـه انګرېـزي تـه اختصاصول.

د څښتن تعالی په برکت اوس زموږ پروګرامونه په هېواد کـې او لـه هېواد څخه بهر په ټوله نړۍ کـې د پښـتو، دري او اردو لیکلـو لپـاره کارېږي، چې په هر برخه کې خلک ترې کار اخیستلای شي، زموږ پښتو وینډوز سیسټم له وینډوز سره سره افیس (۴،۳) افـیس (۹۵، ۹۷) او (۲۰۰۰) پروګرامونه لکه ورډ، ایکسل، پاورپواینټ، اکسـیس، کورلـډرا، اوټلوک ایکسپریس او داسې نور ډېر پروګرامونه پښتو ته اړوي. تر ټولو غوره خبره داده چې له مایکروسافت کمپنۍ سره موږ د عربي وینـډوز (۲۰۰۰)، افیس (۲۰۰۰) او انټرنټ ایکسپلورر (۵) کې ډېره مرسته کړې وه چې هغوی ډېره ستایلې او د مایکروسافت په ویبپاڼه کې له موږ څخـه مننه هم شوې. دغه شان د ایران او پاکستان کمپیوټر پوهانو هم زموږ

کارونه ستایلي. پر (۱۹۹۰ل) کال د پاکستان ساینس فاونډیشن او د ملګرو ملتو د یوې پروژې له خوا په پېښور کې د کمپیوټر او د هغه د پروګرامونو په ننداړتون کې موږ ته لومړۍ جایزه راکړل شوه.

تاسو چې په پښتو ژبه دکمپیوټر د پروګرامونو را اړول پیل کړل، تر تاسو دمخه بهیر یا هغه کار چې په دې برخه کې شوی څنګه ارزوئ؟

ما له (۱۹۸۹ل) میلادي کال څخه، چې د ځانګړي کمپیوټر (یا پرسونل کمپیوټر) لسیزه ورته وایي راپه دېخوا د کمپیوټر د پښتو کولو هلې ځلې پیل کړي او زما یقین دی چې نورو ډېرو پښتنو به ډېرې هلې ځلې کړې وي او ډېرو نورو ته سخته اړتیا ده، خو تر ما دمخه په خپرونو کې چې د کومو هېوادوالو یادونه شوې، هغه ډاکټر عبدالقادر ودان دی چې د ټول پښتون مجلې د (۱۹۹۰ل) کال په دویمه ګڼه کې ورسره مرکه شوې، د پښتو پر کمپیوټري کولو یې پیل کړی و، خو څه پیداوار یې بازار ته نه دي راویستي، ما ورته دوه درې ځله لیک استولی خو ځواب یې نه دی راکړی چې ده څه کړي دي. همدارنګه ګاما کمپنۍ په (اپریټینګ سیسټم) پروګرامونه، برېښنالیک او ویبپاڼو یا (ایمېل او ویبپېج) پروګرامونه، جالیز یا ((نیټورک اینګ)) پروګرامونه پښتو شول.

خو لکه څنګه چې ما مخکې وویل موږ ته ډېر نور کار کول په کار دي، زه هیله کوم چې زما نور پښتانه وروڼه به زموږ کارونه یو ځل بیا له سره نه کوي او پر هغو به دعوه هم نه کوي او نوي پروګرامونه به جوړ کړي. اوس موږ په ای بي ایم کمپیوټر کې په وینډوز (۹۸) او (۲) زره کې پښتو په بشپړ ډول دننه کړې او چې کومې نیمګړتیاوې لري هغه وخت پر

وخت سموو زما هیله ده چې زما پښتانه هممسلکي به زموږ له کړي کار څخه کار واخلي او لاندې کارونه به وربانديې وکړي:

پښتو لوستل په کمپیوټر یانې دا چې کمپیوټر پښتو ولولي.

پښتو سکېن کول یا لیکل شوی متن له ټایپ کولو څخه پرته کمپیوټر ته ورل.

پښتو ویبپانې جوړول.

د ټولو پښتو پروګرامونو ترمنځ د لیکل شوي متن وړل او راوړل، یانې زموږ د پروګرامونو، ایملس، یونیورس، یونیورسل ورډ، یوني ټایپ، ګلوبل رایټر، انپېج او داسې نورو پروګرامونو ترمنځ د لیکل شـوي مـتن وړل راوړل.

په جاوا کې پښتو لیکل

په یونېکس کې پښتو لیکل او لوستل.

همدارنګه موږ او بي بي سي میکنتاش ته هم یو څه کار کړی او نور کار ته ډېره اړتیا ده.

د خوشحالۍ ځای دادی چې زموږ د پروګرامونو په مرسـته زمـوږ د کمپیوټر ژبې لکه (( ویژول بیسیک، او (( ویـژول ســي)) کــې پښــتو پروګرامونه په داسې اسانۍ جوړېدی شي لکه څنګه چې انګرېـزي تــه جوړېږي.

دا ستاسو یو شعار دی ((هېڅ شی باید وړیا ورنــه کــړای شــي، ځکه چې ارزښت یې کمېږي)) په تجارتي برخه کې خو ستا شعار سم دی، خو فرهنګي کار یو څه قرباني هم غواړي ما نا دا چــې د

ولس دهځوني او ویښتیا لپاره باید یو څه مالي او مـانیزه قربـاني هم ورکړو، تاسو تر کومه بریده قربانۍ ته حاضر یئ؟

(( هېڅ شی باید وړیا ورنه کړای شي)) څخه زما مقصد دا نه دی چې موږ ټول عمر یوازې په ګټې پسې وګرځو، بلکې مقصد مې دادی چې موږ پر خپل ځان متکي شو، نه د نورو په مرستو، که زه خپل پروګرامونه وړیا ورکړم، نو زما په خیال زه به یې یوازې زرو پښتنو ته ورسوم او کـه زرو پښتنو زما پروګرامونه واخیستل نو زه به یې نورو یو ملیون پښتنو ته د رسولو جوګه شم؟ د رحمان بابا څه خوندور شعر دی:

د دلـبرو صدقې لـره یې غـــواړم

هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم

امریکا کې د ((املس)) پروګرام چې د پښتو ترڅنـګ دېـرې نـورې نړیوالې ژبې په کې وې د ۱۹۹۰ کال په شاوخوا کې راوویست، چې د یوه ساده لیک لیکلو لپاره و، همدارنګه په دغو وختو کې د ((یوني ورسـل ورډ)) پروګرام هم بلې امریکایي کمپنۍ راوویست، چې املس ته ورتـه دی. دغه د (( ډاس)) زمانه وه، خو چې کله مایکروسافت وینډوز راغله او کمپیوټرونه تېز شول نو د ډاس په پروګرامونو د کمپیوټر د کارکوونکو مینه نه ماتېده، بیا دوه درې کاله وروسته ګاما کمپنۍ د یونیورس په نوم پروګرام راوویست، چې په وینډوز( ۳،۱) کې کار کوي، موږ دغه پروګرام ته هم د پښتو څو نوې لیکبڼې ( فنټونه) ور جوړې کړې، همدارنګه پـه جرمني کې چا ورته یو څـو پښـتو لیکبڼـې جـوړې کـړې دي، دغـو پروګرامونو د پښتو لیکنو اړتیاوې نه شوې پوره کولای، نو موږ په دغـه وخت کې ورډ پرفیکټ ۵،۱ پښتو ته واړاوه، چې څه ناڅه له وینډوز نـه کم نه دی. او د هغه وخت غوښتنې یې پوره کړې. د یادونې وړ ده چــې

ځینو وړو کمپیوټرچیانو زموږ د پښتو ورډپرفیکټ او په جرمنـــي کـــې جوړوشویو لیکبڼو په باب وخت پر وخت د ځان ښودنې لپـاره ځینــو خلکو ته ویلي چې دا پروګرام موږ پښتو کړی دی.

د وینډوز په راتلو سره ټولو کمپنیــو منــډه پیــل کــړه چــې داســې پروګرامونه جوړ کړي چې ټوله وینډوز په یوه او بلــه ژبــه کــار وکــړي، مایکروسافت خپله وینډوز ټولو اروپایي ژبو ته واړوله او بیا یې عربي هم راوویستله او نورې هغه ژبې یې چې د بازار له مخې لـږ ګټــې وې پــه وینډوز کې ورګډې نه کړې.

د ډاس لپاره ډېر پروګرامونه جوړ شول چې د ژوند په هر اړخ کې یې مرسته کوله، خو کمپیوټر پر یو وخت یوازې یو پروګرام چلولای شو اوله یوه پروګرام څخه بل ته د کار شویو موادو وړل راوړل ډېر ګران کار و، نو وینډوز پر یوه وخت په ډېــرو پروګرامونــو کــې کــار وکــړای شــو او د پروګرامونو ترمنځ دشوي کار وړل راوړل اسانه شول. نو په دغه وخــت کې ګاما کمپنۍ ((یوني ټایپ)) پروګرام راوویست، دوی هڅه کوله چې ټولې هغه ژبې چې د مایکروسافت کمپنۍ پروګرامونه یې نــه لیکــي د دوی یوني ټایپ یې په وینډوز کې ولیکي، چې اصلي متن به په یــوني ټایپ کې ټایپېده او د وینډوز په بل پرګرام کې به اچول کېده، که څه هم د دوی هڅې د ځینو اروپایي ژبو لپاره بریالۍ وې، خو په پښتو کې یــې ستر کړاو دا و چې یو لین به په یوه ځل لیکل کېده، سمونه، لوېېدل او کوچني کېدل به په کې نه کېدل. نو دا هغه وخــت دی چــې مــوږ (( د اسیاسافت پښتو سیســتم د وینــډوز (۳،۱) او وینــډوز (۹۵) لپــاره)) راوویست. چې وینډوز (۹۵) او دهغې یو زیات شمېر پروګرامونه یې په بشپړ ډول پښتو کړل.

د کمپیوټر پروګرامونه هم پر ډولونو وېشل شــوي، دمثــال پــه ډول ((ورډ)) د لیکلو لپاره یو پروګرام دی او (ایکسل)) دشمېر یــا حســاب کتاب لپاره دی. زموږ د هلو ځلو په لــړ کــې بنســتیز یــا ((ډیټــابیز)) پروګرامونه؛ خپریز یا (( ورډ پروسیسنګ)) پروګرامونه، یا چلیز. یــون صیب! په نړۍ کې چې کومو ولسونو وده کړې هغه یې په دې نه ده کړې چې ګنې یو لېوال او یا کوم بل ... صیب په کې پیدا شوی، چا پروګرامونه جوړ کړي، وړیا یې ورکړي او چا ((هیله)) غوندې مجله د زړه په وینــو لیکلې او بیا یې دهغې د چاپ لپاره لګښت او د نورو چارو په لټون پسې لالهانده شوی دی. که هر څوک هر چاته هر څومره شیان وړیا ورکــړي بیا به هم هغه موږ نه شي. یو شعر دی:

نه په عمر مــړېده شته نه په مــال

نه په مینه څوک مړېږي نه په سوال

پرمختللیو ولسونو ګډه ملګرتیا او راکړه ورکړه کړې، دغه راکړه ورکړه د دوه اړخیز درناوي سبب شوې، یو کار یو کړی یو بل کړی، هغه یــې د سوداګریزو اصلو پر بنا سره شریک کړي او سترې سترې کمپنۍ تــرې جوړې شوي چې نن سبا نړۍ چلوي. تاسو به هرومرو د ((سترې لوبې)) په باره کې لوستلي وي، نن سبا هغه پنځه سوه کمپنۍ نړۍ چلوي، چې پیداوار یې د نړۍ په هر هېواد کې خرڅېږي، د امریکا مشر کلنټن یوازې خبرې کوي، خو کار د امریکا کمپنۍ کوي، چې د خپلو ځانګړو ګټو لپاره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ډول ډول ستونزې راولاړوي.

نو مطلب دا که چېرې موږ خپله هره لاسته راوړنه چې په ډېره قربانۍ او زیار مو لاسته راوړې وي په وړیا ډول د یوه ځل لپاره ټولنې ته وړاندې کړو، نو که دغه اړتیا موږ ته بیا بیا راپېښه شي بیا بــه څــه کــوو؟ زه دا

قضاوت لوستونکو ته پرېږدم چې موږ ته څه په کار دي. د ساري په توګه زما تل ستاسې او ځینو نورو لیکوالو سره همدا بحث وي چې یاره دا مجلې او کتابونه وړیا مه ورکوئ ځکه چې که وړیا ورکړای شي، کېدی شي بې قدره خلکو ته هم په لاس ورشي، نو هغوی یې په قدر نه پوهېږي، ځکه چې د زرو په قدر زرګر پوهېږي، خو که زرګر پیدا شي نو خدای پاک خپله ورته زر پیدا کوي.

که موږ سوکال او خوشحال ژوند او ښېرازه هېواد غواړو، نو ټول راز مو پرځان باندې په متکي کېدو کې پټ دی، نه په وړیا وېشلو او وړیا ترلاسه کولو کې!

خپله فکر وکړئ تر څو پورې به یو څو تنه قرباني ورکوي او تاسې ته به د کارونو لپاره پیسې رالېږي، فرض کړه که هغوی پیسې راونه لېږي نو دلته به د خپرونو بهیر سقوط شي، ښه داده چې موږ د ګټې او لګښت ترمنځ یو انډول وساتو، خیر دی هغه څوک چې اقتصاد یې ډېر کمزوری وي، هغو ته دې په ټیټ قیمت وړاندې شي خو د وړیا ورکړې مخالف یم. تر کومه ځایه چې دقربانۍ خبره ده، ښه داده چې موږ زیات زیار وباسو ټولنې ته په مناسبه بیه او ښه کیفیت د ټولنې د اړتیا وړ اسانتیاوې وړاندې کړو، همدا خپله یوه نسبي قرباني ده او که موږ خپل هر څه قرباني کړو، په راتلونکي کې به مو هر څه له لاسه ورکړي وي او هېڅ به نه لرو چې ټولنې ته یې وړاندې کړو. او بل دا چې موږ خو د خلکو مرستو ودان کړي یو. زما خو اوس له وړیا ورکولو او مرستو نه دومره کرکه ده چې دغه مرستې د هېواد د ورانۍ اصلي لامل بولم وګوره روسانو او امریکایانو له موږ سره مرسته کوله او د نورو نړۍ هېوادونه هم تل

مرستې کوي او راروانې دي. دا چې ټول مرستې کوي پوښتنه داده چې زموږ هېوادوال ولې وژل کېږي او هېواد مو ولې ورانېږي.

له طالبانو سره خو دې هم څه ناڅه منډې ووهلې، په افغانستان کې ستاسو کار تر کومه بریده ګټور و او دی؟

لکه څنګه چې تاسو ټولو ته څرګنده ده چې زموږ ګران هېـواد وران ویجاړ دی، هر څه وران شوي دي، موږ تل غواړو چې د هېواد په ابادۍ کې له خپلو نورو هېوادوالو سره اوږه پر اوږه خپله ونډه ولرو، کمپیـوټر چې د هېواد په ابادۍ کې څه مرسته کولای شي له هغې مو چـارواکي خبر کړي او تر خپله وسه مو هڅه کړې چې هغوی ته داسـې مشـوره ورکړو چې د هېواد په ګټه وي، اوس د هېواد په زیات شمېر ادارو کـې زموږ پروګرامونه کارېږي.

کمپیوټر، برېښنالیک یا ایمېل او انټرنټ زموږ له وران هېواد سره ډېره مرسته کولای شي، خو دا هله چې دکارولو لپاره یې کارکوونکي وروزل شي او هغوی ته دنده وروسپارل شي. پر ۱۹۹۷م کال مـوږ د مخـابراتو وزارت ته یوه پروژه وړاندې کړه چې د هېواد لوی ښارونه د برېښنالیک د شبکې په واسطه له نړۍ سره وتړو، تر څلور کلنو خبرو اترو وروسته دمخابراتو وزارت زموږ پروژه د وزیرانو شورا ته واستوله او په هغه شورا کې ځینو چارواکو هغه ناروا وګڼله همدارنګه موږ غوښتل چې هېواد ته د انټرنټ له لارې ټلیفون راولو په دغه کار کې هم موږ ته اجـازه رانـه کړای شوه.

دغه راز موږ په کابل کې خپل دفتر جوړ کړ، خو بیا به هم ډېر زیـات کسان پېښور ته راتلل نور خو پرېږده کمپیوټرونه به یې په پېښور کـې زموږ له دفتر څخه اخیستل؛ بل دا چې په کابل کې له خپل دفتر سـره

**زموږ د اړیکو ټینګولو ستونزې وې، همدارنګه چارواکو زموږ پروژې ونه منلې، له همدې کبله موږ دهغه دفتر ساتل غوره ونه ګڼل او بند مو کړ موږ په دغه چلند ډېر خپه یو، له هېوادوالو او چارواکو نه داهیله کـوو چې په هېواد کې دننه کاروبار ته د ودې ورکولو لپاره له هغو شخصـي ادارو سره چې په هېواد کې کار کوي همکاري وکړي.**

سره له دې چې اکثره پښتانه ستاسو کار ته پـه درنـه سـترګه ګوري او په غیاب کې مو ډېره ستاینه کوي، خـو ځینـې کسـان وایي: ((یاره لېوال صیب ټول شیان په خپل نامه پورې تړي، تر ده وړاندې هم ډېرو خلکو پروګرامونه جوړ کړي خو دومـره شـهرت خوښي نه دي)) تاسو په دې باب څه وایئ؟

**لومړی خو دا چې د ځینو نورو په شان موږ هم څه ډېره غته توره نـه ده کړې، زه په ډېره خواشینۍ سره دا وایم زموږ کارونه چې زموږ ولس ته ستر برېښي، په دې هم زه خپه یم، ځکه ولې دوی ته دا واړه کـاروه دومره ستر دي، خلک له ستورو سره خبرې کوي، موږ لا په ځمکه سره نه جوړېږو، یو بل نه شو زغملی، روا او ناروا مو لا نه دي پېژندلي.**

**ما د خپل ځان ستاینه نه ده کړې، خو یو څه به مـې کـړې وي چـې خلک مې پېژني، په کتوه کې که څه نه وي په ځمځۍ کې څه نه راپورته کېږي! دومره ستونزمن کار چې زه کوم که نور ترې خبر شي نو بیا به پوه شي چې دا هر څه په وړیا ډول نه رامنځته کېږي، همدې مینې او زیات کار زه یو ځای او بل ځای ښه او بد یاد کړی یم. په حقیقت کـې زمـا د شهرت وسیله زما خپل کار دی او بس، خوشال بابا څه ښه فرمایي:**

**عشقه ته تر اورنگزېب پاچا بهتر یې**
**چې خوشال دې مشهور کړ په عالـم**

تر ما دمخه چې چا څومره کار کړی هغه به د هغو په نامه پورې تړلی وي. څوک د چا کار نه هېرولای او نه غلا کولای شي. زه ټولو هغو کسانو ته چې تر ما یې دمخه کار کړی هم په درنه سترگه گـورم او اوس چـې څوک کار کوي هغو ته هم په درنه سترگه گورم او هیله لرم چې نور به ترما ډېر څه وکړي خو ما او نورو کې توپیر دادی: زه چې څه کوم هغه په رښتینولۍ، مینه او بیا بیا هڅه کوم او کوم ملگري چې گیلـه مـن دي دهغوی مثال د هغو زرکو دی چې سر په واورو ومنډي او وایي چـې زه نړۍ نه وینم نو نړۍ ما هم نه ویني، له گیلو نه څه نه جوړېږي، ما مخکې تاسو ته وویل چې نور د څه کار ترسره کولو په کار دي هغه باید وکړو.

او بله دا چې که دغو گیله منو څه کړي وي او په هغو یې موږ او ولس نه یو خبر کړي، نو زه دوی بخیلان بولم چې یوازې د ځان لپاره یې کار کړی دی خو زه د ځان لپاره نه، بلکې د ټولنې لپاره کار کوم.

یو بل انتقاد چې پر تاسو کېږي البته د پردې تر شا ((هغه دادی: ځینې کسان وایي چې لېوال صیب تجارتي اخلاق یا چلند د هغه پر فرهنگي هغو ډېر زورور ښکاري)) مانا دا چې لېوال لـه آره یـو گټیالی شخص دی نه فرهنگیالی، تاسو په دې باب څه وایئ؟

ځینې کسان منفي نظر لري، د هر څیز دمنفي اړخونـو څېړنـه یـې خوښه وي، له خبرې خبره پیداکوي، ځینې کسان چې په اصـطلاح د فرهنگپالنې لاپې شاپې وهي، را دې شي او خپل کړی کار دې له مـوږ سره د انصاف له مخې پرتله کړي. موږ لاپې نه وهـو خـو کـار کـوو، د

فرهنګپالنې او ګټنې خبره موږ په دې ډول ارزوو چې کار کول خپله د فرهنګپالنې په مانا دی، او بل دا چې موږ کوم کار کوو هغه ته د ټولنې اړتیاوې، د اړتیاوو د پوره کولو او د اسانتیاوو په رامنځته کولو ســره د مشکلاتو له منځه وړل غواړو.

موږ تخنیکپوهنه مجله خپروو؛ په کتابي او کمپیوټري ډول دپښتو زده کړې مواد برابروو، همدارنګه پښتو ته مو د چاپي چارو ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي او برابروو یې. زموږ پروګرامونو چې پښــتو تــه د چــاپ او خپرونې کومې اسانتیاوې اوس برابرې کړي او د نن اکثره معتبره پښتو خپرونې ترې ګټه اخلي ایا دا فرهنګپالنــه او دفرهنګــي بهیــر د ودې ګړندي کول نه دي؟ که ځینې خلک داسې فکر کوي چې خپــل ټــول وسایل په څو ورځو کې پر فرهنګ ولګوو نو بیا به فرهنګپال شــم نــه ګټیالی، نو دا خو ځکه امکان نه لري چې هر څه به همدلته سقوط شي. بیا هم زه قضاوت درنو لوستونکو ته پرېږدم.

دا نیوکې چې ما یې یادونه وکړه دا خو به غالباً تر تاســو نــه وې رارسېدلې خو اوس دا راته ووایه چې د پښتنو او ناپښتنو له خوا د دومره زیاتو خدمتونو او هڅو له امله کله ستایل شوی هم یــې او که نه؟

زه پر خپله مسلمانۍ، پښتو، پښتونولۍ او د خپلو خلکو پــر کارنــامو ویاړم چې تل یې دنړۍ توله برابره ساتلې ده، تاریخ لیکلي چې سکندر له یونان نه راپاڅېده، چنګېز له منګولیا راولاړ شو، انګرېــز لــه لندنــه راپاڅېده او بیا لنډ روس ته ګوره چې:

**لا تراوسه یې ماغزه په قــرار نه دي**
**چاچې ماسره وهلی سر په ځنګ دی**

دوی ټولو غوښتل چې د نړۍ انډول خراب کړي او پر کمزورو هېوادونو خېټه واچوي همدا زموږ باتوران وو چې مات یې کړل او د کش شوي ربړ په شان بېرته پر خپل خپل ځای کېناستل، نو یون صیب! ته دا وایه چې د چا به زړه نه غواړي چــې د داســې یــوې غیرتــي او مېړنــۍ تــولنې خواخوږی او خدمتګار نه وي. سره له دې چې زموږ هېوادوال له ډېــرو ستونزو څخه ستړي او ستومانه دي، بیا هم زه له دوی څخه ډېر زیــات خوښ یم، ماته یې ډېر څه راکړي او راکوي یې، ډېر مې ستایي او زه لــه ټولو څخه د زړه له کومې مننه کوم. زما یو ارمان دی چې زه دوی تــول سوکاله او خوشحاله ووینم دوی چې خوشحاله وي نو موږ به خوشحاله یو موږ ته دهېواد پوهنتون، او داسې نورو غیردولتي ادارو او اشخاصــو ډېر ستاینلیکونه رالېږلي چې د قدر وړ دي، د هېوادوالو ټولو خپرونــو زموږ سره ډېره همکاي کړې او کوي یې چې د منني وړ دي.

د ناپېښتنو په حساب په غټو کمپنیو کې د مایکروســافټ کمپنــۍ، د اډوب کمنپۍ، د ملګرو ملتو دمعیارونو ادارې ( ای اس او) یوني کوډ او داسې نورو ادارو زموږ کارونه ستایلي. همدارنګه په ګاونډیو هېوادو کې د پاکستان ساینس فاونډیشن موږ ته پر ۱۹۹۹ کال جــایزه راکــړه، پــر انترنټ ډېرو هېوادوالو او بهرنیانو زموږ ستاینه کړې چې د ایران تــایم ویبپاڼه هم په کې شامله ده.

زه خو چې کله تاسو ګورم هر وخت د کمپیوټر مخې ته ناست یې هغه د چا خبره (( نږدې دی چې په کمپیوټر کې ننوزې)) دا راته ووایه چې په شپه او ورځ کې څو ساعته کار کوې؟

**زه د کال ټولې ورځې کار کوم له خوب نه پرته ټول ساعتونه د خپل کار، خپل ژوند او د هېواد د ډېرو ستونزو د حل په لټه کې یم. زما د بریالیتوب راز هم دا ډېر کار او زغم دی چې د ناپیلون دغه نکل یې ډېر ښه تمثیلوي: د ناپیلون د شان او شوکت په زمانه کې دده دماشومتوب د وخت یو ملګری چې پر ده باندې په ورکوټوالي کې زورور و په ډېره حیرانتیا له ده څخه پوښتنه وکړه چې زه خو تا پېژنم چې نه زما په شان زورور او نه له ما نه هوښیار وې، خو نن دې نه پرېږدم چې دا راز راته ونه وایې چې څنګه ناپیلون شوې؟**

**وایي چې ناپیلون ورته ویل: پرېږده دا ستا د وسې کار نه دی! تر ډېر ټینګار نه وروسته ناپیلون وویل چې خوله پرانیزه، خپله ګوته یې د هغه په خوله کې ورکړه او هغه ته یې ویل چې خپله ګوته د ده په خوله کې کېږدي، بیا یې غږ وکړ چې په غاښ یې کړه، ناپیلون دملګري او ملګري د هغه پر ګوتې باندې زور راوړ، خو له څو شېبو وروسته یې ملګري وویل، پرېږده، پرېږده! د ناپیلون ګوته یې پرېښوده، خو ناپیلون لا هغه شان ګوته نیولې وه او نور زور یې ورکاوه، کله چې هغه ډېرې چغې ووهلې نو یې پرېښود، ورته یې وویل چې پوه شوې؟ ویې نه!**

**ورته یې وویل چې زما ګوتې هم ستا د ګوتې په شان درد کاوه، خو تا څو شېبو درد ته غاړه کېنښوده او زما ګوته دې پرېښوده، دغه زما د بریالیتوب راز دی.**

**وايي:**

**بـــې زحمته راحت نه شته زما وروره**
**که راحت غواړې زحمت در لره بويه**

## دومره ذهني بوختيا دې روغتيا ته زيان نه رسوي؟

**زما په اند روغتيا هله خرابېږي، چې کله انسان قناعــت ونــه کــړي، دخدای پاک پر ورکړل شويو نعمتونو چې ژوند، روغه ستېه، شــتمني او نور وسايل دي قناعت ونه کړي، نېستی، رنځوری او ربړو ته يې له صبر سره سره دهغو د ښه کولو په لار کې همت او غيرت ونه کړي، نــو بيــا ناروغ خو پرېږده روغه ستېه هم ناروغه شي، او ل دا چې خــدای پــاک انسان د ښېګنې او عباداتو لپاره پيداکړی دی، نو هر څوک چې قانع او هڅاند وي هومره د هغه روغتيا هم ښه وي. زه چې کله کار ونه کړم نو بيا ورو ورو راته احساسېږي چې د لټی خواته روان يم او دردونو ته مې خيال شي.**

څومره کسان دې تراوسه پوې روزلي او په راتلونکي کې د کــوم روزنيز مرکز د جوړولو نيت لرې او که نه؟ او کــه لــرې يــې دا بــه څنګه او چېرته وي؟

**زه خپله پر زده کړه، څېړنه او جوړونه دومره بوخت يم چــې ځــان د ښوولو جوګه نه بولم، که ژوند و او خدای پاک راسره مل و او د هېــواد پوهنتونونو د کمپيوټر د زده کړې په څانګه کې څه ګامونه پورته کړل، او چارواکو راسره همکاري وکړه نو په هېواد کې به دکمپيوټر د پروګرامونو د جوړولو يوه داسې اداره جوړوم چې نــه يــوازې دهېــواد کمپيــوټري ستونزې حل کړي، بلکې له نورې نړۍ سره مرسته او کاروبار هم وکړو.**

خو په بنستیز ډول زه دې څلورو کارونو ته د سوداګریزې بڼې ورکولو کلک مخالف یم. لومړی مذهب، دویم مشرتوب او حکومت، درېیم زده کړه او څلورم روغتیاپالنه او رنځپوهنه. باید ټولنــه او حکومــت دغــو څلورو مسلکوالو ته د ژوند ټولې اسانتیاوې برابــرې کــړي، چــې دوی دخپلې خېټې او کورنۍ د خړوب لپاره د نورو ژوند ته خطر نه شي.

که څه هم موږ د روزنې مرکز نه لــرو، خــو چــې څــوک هــم زمــوږ پروګرامونه زده کوي هغوی ته یې په خپل دفتــر کــې وړیــا ورښــیو او تراوسه موږ په دغه طریقه په لسګونو کسان روزلي چې اوس په دولتي او غیردولتي ادارو کې کار کوي.

اوس پر کومو نوښتګرو هڅو بوخت یې یانې کوم نوي پروګرامونه دې ترلاس لاندې دي؟

اوس پر دې لګیا یم چې کمپیوټر څنګه کره او سمه پښتو ولیکي، نو د دې لپاره پښتو کمپیوټري قاموس جوړول په کار دي، دا قــاموس اوس زموږ تر کار لاندې دی، ددغه قاموس دجوړونې طریقه داده چــې مــوږ اوس ټول پښتو قاموسونه چې تراوسه په پښتو کې شته هغه کمپیوټر ته وراچوو او بیا هغه د پښتنو د شپږو غټو لهجو په پښتو پوهانو ګورو چې د هغه کره پښتو ټکي په صحیح املا کمپیوټري قاموس کې ځای پر ځای شي.

همدارنګه لاندې کارونو باندې کار کوم:

دکمپیوټر په واسطه پښتو لوستل، دلوست کمپیوتري پروګرام؛ پښتو سکېن کول یا لیکل شوي متن له ټایپ کولو څخه پرته کمپیوټر ته وړل، پښتو ویبانې جوړول؛ د ټولو پښتو پروګرامونو ترمنځ د لیکل شوي متن

وړل او راوړل؛ په جاوا کې پښتو لیکل؛ په یونیکس کې پښتو لیکــل او لوستل؛ همدارنګه د یودوه کتابونو پر لیکلو او د کمپیوټري اصطلاحاتو پر ډیکشنرۍ اخته یم.

څو ځله دې لیکوالو ته په ډېر ټینګار سره ویلي چــې کمپیــوټر زده کړي، دا د وخت غوښتنه ده، ستاسو په نظر که هــر پښــتون لیکوال کمپیوټر زده کړي، د لیکــوال پــه کــار کــې بــه څــومره اسانتیاوې راشي او پښتو ژبې ته به یې ګټه څومره وي؟

زما په خیال په دې یوه لسیزه کې کمپیــوټر پــه خــاص ډول پښــتو کمپیوټر د پښتو اثارو چاپ ته سرعت ورکړ. پخوا به که یو اثر چاپېده نو مخکې تر مخکې به یوه خطاط ته سپارل کېده. میاشتې میاشتې به پرې اوښتې او تر ډېر شواخون وروسته به لوستونکو ته رسېده، خو اوس په اوونۍ کې د یو څو تازه کتابونو او مجلو د چاپ شاهدان یــو، نــن ســبا دکتابونو دچاپ بازار ګرم دی او دفرهنګــي ارزښــتونو ترڅنــګ دغــه کتابونه لیکوالو ته اقتصادي ارزښت هم لري، مانا دا چې په یوه ژبه کې څومره ډېر اثار خپاره شي دومره لوستونکي هم پیداکوي.

هرې ژبې چې ډېر لوستونکي پیدا کړل داسې یې وبوله چې دغه ژبه د اوج خواته روانه ده. همدارنګه د ژبې پرمختیا د لیکوال لپاره اقتصادي پرمختیا ده، ښه لیکنه ښه اقتصــادي ګټــه هــم لاســته راوړی شــي، همدارنګه د لیکنو اقتصادي بازار چې څومره ګرم وي هومره د لیکنــو معنوي ځلا هم لوړېږي او دغه شان یو شهکار بل ته لار پرانیزي، یوه ژبه او دهغې ژبې ادب په همدې ډول افاقي حیثیت پیداکوي.

که پښتو ژبه له دوو لسيزو مخکې وختونو سره پرتله کړو يــو کيفــي بدلون په کې راغلی دی، دا بدلون که له يوې خوا د ليکوالو په هنري او تخليقي لوړتيا پورې تړو، له بله پلوه د کمپيوټر او چــاپ لــه تخنيکــي اسانتياوو څخه هم انکار نه شو کولای. په عاجزۍ به درته ووايم چې د کمپيوټر په برخه کې همدا زموږ پښتو پروګرامونو او هلو ځلو ډېر داسې کسان دې ته هڅولي چې کتابونه ليکل ورته اسان کار ښــکاري او بــل داسې کسان مو روزلي چې د پښتو ليکنو په کمپوزولو کې ډېر ماهر دي. زموږ له کمپوزرانو څخه نن يو شمېر ليکوال دي چې د قلــم زور يــې د کمپيوټر په ملګرتيا ورته ډېرې دروازې پرانيستي او نن سبا يو کس او يو کمپيوټر پوره يوه مجله چې پخوا په کې د لسګونو کسانو اړتيــا وه پــه يوازې ځان راوباسي.

له تخنيکي او طباعتي پلوه اوس پښتو ژبه د نړۍ له نورو يــادو ژبو سره سيالي کولای شي؟

په تخنيکي چارو کې اوس پښتو له انګرېزۍ سره خوا په خوا تلــلای شي، څکه چې اوس په امريکا کې هم خلک د انګرېزي ليکنو لپاره دغه وينډوز ۹۵، وينډوز ۹۸، وينډوز ۲ زره او د وينډوز پروګرامونه کاروي او دلته هم کارېږي. همدارنګه په طباعت او طراحۍ کې ((کورلډرا)) په ټوله نړۍ کې کارول کېږي چې اوس پښتو هم د انګرېزي په څېــر پــه کــې کارېدی شي، زموږ پښتو شوي پروګرامونه نن سبا د دولتي او شخصــي ادارو او عامو هېوادوالو هره کمپيوټري اړتيا پوره کوي او هغوی ترې کار اخيستلای شي.

لکه څنګه چې ماته معلومه ده تاسې بهر ته ډېر ځله تللي یاست او بیا هم تللای شئ او هم هلته پاتې کېدو امکانات درته ډېر زیات دي، ولې مو دا ځای غوره کړی دی؟

**دلته زما د پاتې کېدو اصلي وجه داده چې د درېیمې نړۍ خلکو او په ځانګړې ډول زموږ له هېوادوالو سره دا مفکوره ده چې موږ د پرمختللو هېوادونو د اوسېدونکو په څېر کار نه شو کولای، دهغو په شان وسیلې زموږ سره نه شته، خو له کومې ورځې چې زه پر ښو او بدو پوهېدلی یم، د دوی له دغې مفکورې څخه خپه یم او په دې هڅه کې یم، هغه کارونه وکړم چې دوی یې ناشوني بولي. نو د کمپیوټر پروګرامونه پښتو ته اړول هم ددغې لړۍ یوه کړۍ ده. که موږ کار وکړو له هغو خلکو څخه موږ ډېر تکړه او غښتلي یو، په دې کې شک نه شته چې ډېر پرمختللي هېوادونه ښې زرخېزه ځمکې او ښه اقلیم لري چې دوی په خپټه ماړه ساتي.**

**او د نورو اسانتیاوو د برابرولو لپاره هڅې کوي. زموږ هېواد هم یو ښه زراعتي هېواد دی، خو که موږ د نورو د ملامتولو پرځای متې راونغښتې او د جګړو، تربګنیو پرځای مو کار وکړ او د یو بل د پرځولو پرځای مو له یو بل سره مرسته وکړه، نو د نورې نړۍ په څېر که موږ کار وکړو له هغو خلکو څخه موږ ډېر تکړه او غښتلي یو، تر دوی به ډېر پرمختګ وکړو او ټول به خوشحاله او سوکاله شو.**

تاسو د یو افغان کمپیوټر پوه په توګه د تخنیکي پرمختګونو لــه پلوه د پښتو ژبې او پښتنو راتلونکی څنګه ارزوئ؟

**پښتو ژبه به هله د نړۍ له نورو ژبو سره سیالي کــوي چــې پښــتانه سیالۍ ته چمتو او له دغو ستونزو څخه فارغ شي چې اوس زمــوږ پــه**

هېواد کې رواني دي. پښتو تر هغه پرمختګ نه شي کولای چې پښتانه مخکې شوي نه وي، پښتانه او پښتو باید یوشان پرمختګ وکړي، اوس ربړه داده چې ځینو پښتنو دومره پرمختګ وکړ چې له پښتو څخه ووتل او په ځینو خپرونو کې پښتو دومره پرمختګ وکړ چې پښتانه پرې نــه پوهېږي.

خو بیا هم اوس پښتو کال پر کال د پرمختللو ژبو پړاو ته ځان نــږدې کوي، خو پښتنو ته د پښتو لیکنو پر کیفیت ډېر ټینګار په کار دی، پــه پښتو کې علمي او مذهبي لیکنې ډېرول او ښه کول د وخت اړتیــا ده، مطلب دا چې پښتو دحکومت، سوداګرۍ او د علم ژبه کول په کار دي. پښتو اوس یوازې زموږ د پښتو ادب غیرتمندو په خپلو بېشانه خواریو راټینګه کړې ده، نورو تخنیکي او علمي کارونو په کې چنداني پرمختګ نه دی کړی.

د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره د تخنیکــي چــارو د مــاهرینو او لیکوالو ګډو هڅو او هلو ځلو ته اړتیا شته او که نه؟

وایي چې ( کوم کار په سلا وي هغه بې بلاوي)، د ژوند په هر یو ډګــر کې ګډ کار ته اړتیا شته، په ګډه کار کولو کې برکت وي، په ګډ کار کــې زده کړه هم کېږي، وخت هم نه ضایع کېږي او سرچینې هم نه خرابېږي. زه خو چې هر وړوکی او لوی کار کوم، په هغه کې لومړی له هغه چا څخه مشوره اخلم چې په هغه کې ډېره ښه پوهه لري او بیا له هغــو کســانو سره خپله مفکوره شریکوم چې څه پروګرام ورته جوړوم یا څه کار ورته کوم.

د مثال په ډول کمپیوټر ته د پښتو تورو اچولو نه مخکې ما له هر پښتو پوه او لیکوال سره مشوره کړې. همدارنګه اوس موږ د ماشومانو لپاره د پښتو زده کړې یو پروګرام جوړوو چې پر یو یو ټکي یې ما له پوهانو څخه مشوره اخیستې او بیا مې کار کړی چې یو پړاو یې جوړ شي پــر خپلــو ماشومانو یې په بشپړ ډول څو څو ځله ازمویم.

خدای پاک دې هغه ورځ راولي چې زموږ چارواکي هم دغه چلند خپل کړي او کله چې یو کار کوي، په هغه کې د خپل ولس له پوهانو او بیــا خپله له ولس څخه مشوره وغواړي او هر کار په خپل سر ونه کړي، که نه نو د دوی وړه تېروتنه به د ملیونونو وګړو ژوند ته ګواښ وي، او دوی به خپله هم په کې راګیر وي.

هیله لرم یوه لویه او کوچنۍ هیله دې هم بیان کړې؟

زما هیله او غوښتنه له خپلو هېوادوالو او د درېیمې نړۍ له خلکو نه دا ده چې دا مفکوره له خپلو مغزو نه وباسي چې موږ له چانه کم یو او د بل چا په شان کارونه نه شو کولای، زه وینم چې دوی له نورو څخه ډېر تکړه دي خو که لږ زیار وباسي، نو ډېر برې به ترلاسه کړي، زه دوی ته دا هم په ډاګه وایم چې استعمار ګر له بېلابېلو لارو هڅه کوي چې تاسې داسې وپوهوي چې ګواکې تاسې څه نه شئ کولای!

له خپلو سیاسي ورونړو څخه په ځانګړي ډول د خــدای(ج) لپــاره هیله کوم چې کله قدرت ته ورسېږي، له ټولــواکۍ څخــه دې لاس واخلي، نن سبا په نړۍ کې هر یو مسلک ډېر زیات اختصاصي شوی او هر سړی هر څه نه شي کولای، پر خپلو خلکو دې اعتماد وکړي، څه دې خپله وکړي او څه دې نورو ته پرېږدي او چې کوم کار خپله نه شي کولی هغه دې ضرور نورو ته پرېږدي. دولتي انحصــارات دې

پایته ورسوي، خپلو خلکو ته دې پر بهرنیو کمپنیو ترجیح ورکــړي، حکومت او سیاست دې یوازې لارښوونې، څارنې یا کنټرول او ساتنې ته متوجه کړي.

د صنعت، سوداګرۍ، تجارت او نورو اســانتیاووو برابــرول دې دې خلکو ته پرېږدي او د حکومت د چلښت لپاره دې مالیه زیاته کړي، حکومت دې خپله تجارت نه کوي، څوک یې چې ښه او بد مخالفت کوي، هغه دې نه ځوروي، هر مخالف دښمن نه وي، نو هله به دوی او نورو هېوادوالو ته په هېواد کې د سولییز ژوند لار برابره شي. خدای دې هغه ورځ راولي چې ټول هېوادوال د ورونو په شان یو له بل سره (( تېر په هېر)) معامله کړي او په راتلونکي کې ټول د نېکو کــارونو ژمنه وکړي، زما هیله همدا ده.

# د پښتو ژبې د غوړېدو په تحریک کې باید منفي او افراطي ذهنیتونه ځای ونه لري

**ښاغلی عبدالوکیل شینواری د هېواد یو ځوان، تکـړه او پیـاوړی لیکوال دی. په لنډه کیسه او نورو ټـولنیزو، سیاســي، پـوهنیزو او تحلیلي لیکنو کې لـوی لاس**



**لـري، تراوســه یــې پــه ګنـو خپرونو کې یو شــمېر پــه زړه پورې لنډې کیســې او نــورې پوهنیزې او څېړنیزې لیکنــې خپرې شوې دي. ســربېره پـر دې یې یــو شــمېر فرهنګــي خدمتونه هم ترسره کړي دي، دا مرکه یې د هیلې مجلــې د (۱۳۷۹ل) کال په څلورمه ګڼه کې شوې ده، چې ستاسو پام ورته را اړوو:**

خپل ځان او د خپل فرهنګي ژوند څومره والی او څرنګوالی راته په لنډه توګه راوپېژنئ؟

**له ډېر خام عمر نه مې له ادب سره پــه زړه کــې د مینــې ګــلان راټوکېدلي او لکه د هېواد د ډېرو نورو لیکوالو په څېــر زمــا ادبــي خوځون هم پر شعر پیل شوی دی. په څلورم ټولګي کې وم چې شعر مې ولیکه دا چې څنګه شعر و، ښه مې په یاد کې نه دي پــاتې خــو ډېره کلیوالي بڼه یې درلوده، دویم شعر مې پسرلی نومېده، پر دغه**

**وخت په شپږم ټولګي کې وم. خدای ښښلي سیدمحمد طاهر بینا ډېرې کمونې او سمونې په کې راوستې. دا زما لومړنی شعر و چې په ننګرهار ورځپاڼه کې خپور شو. وروسته مې د شعرونو ترڅنګ د ادبي ټوټو پـر کښلو هم لاس پورې کړ، چې زیاتې یې په ننګرهار ورځپاڼه او مجله کې خپرې شوې دي، پر (۱۳۵۷ل) کال کې مې لومړنی لنـډ داسـتان د: (( هغه وړی و)) تر سرلیک لاندې وکښه چې سملاسي په انیس ورځپاڼـه کې خپور شو. که رښتیا ووایم داستان ته نه پاتې کېده، خـو دا چــې د وخت حاکمې سلطې پر مزاج برابر و او څه به زما د هڅونې موخه هم په کې مله وه راته خپور یې کړ.**

**د شعرونو، ادبي ټوټو او داستانونو ترڅنګ مې وروسته د ډرامو لیکلو ته مخه شوه، که رښتیا راباندې وایې، زما له ډرامې او تمثیل نړۍ سـره لېونی مینه وه، لا ډېر کوچنی وم، چې د راډیو افغانستان پرلــه پســې راډیویي ډرامې مې یوه هم نه قضا کوله او له اورېدو نه مې ډېـر خونـد اخیسته. پر (۱۳۵۸ل) کال مې د لومړي ځل لپاره راډیویي پرلــه پســې ډرامه (( د غڃ اور)) ولیکه، پر دغه وخت په لسم ټولګي کې پر زده کړو بوخت وم. دا ډرامه ډېر ژر له دغې راډیو څنې خپره شوه، تر دې وروسته مې پر بل کال بل نکل (( هغه څنګه لېونی شــو)) هــم خپــور شــو. د ښوونځي د زده کړو په بهیر کې مې د ښوونځي زده کوونکو ته ځینــې ستېج ډرامې لیکلې، په خپله مې هم د لوبغاړي په توګه په کې برخــه اخیسته.**

**د ډرامو تر لیکلو وروسته ورو، ورو له شعره لرې کېدم او داســې یــو وخت راورسېد چې ما نوره له شعر لیکلو سره ښېخي مخه ښه وکړه، ما نه یوازې د ډرامو پر لیکلو ګوتې پورې کړې، بلکې د ډرامې په باب مــې لیکل او لوستل هم پیل کړل.**

پر (۱۳۶۲ل) کال د پنځو کلونو لپاره د لوړو زده کړو په موخه ( بېلا روسيې) جمهوريت ته لاړم، په دغه موده کې ما هېڅ ونه ليکل خو کله چې راوګرځېدم بېرته مې ادبي هستونې وکړې، تر دې وروسته مې د ليکنې تر څنګ ژباړه هم پيل کړه، خو له بده مرغه زما د ژباړې تر ادبي برخې نورې متفرقې ژباړې درنې دي او زه پر دې کار ډېر پښېمانه يم.

په دغو کلونو کې مې سينما ته هم مخه شوه او څه ليکنې مې د سينما د هنر په هکله هم وليکلې، سره له دې چې ما د سينما او ډرامې له هنر سره خورا کمه بلدتيا لرله او په دې برخه کې مې هېڅ ډول زده کړه نه وه کړې، خو دا چې د پښتني هنر دا برخه خورا ډېره کمزورې وه، د يو رسالت له مخې مې دا کار وکړ، په دغو کلونو کې مې يوه نيمه تمثيلي ډرامه هم وليکله چې د راډيو تلويزيون له لارې خپرې شوې دي.

پر (۱۳۷۱ل) کال مې يوې ډرامې (څوکۍ) د افغانستان د هنرمندانو د اتحاديې له خوا نقدي جايزه واخيسته.

کله چې په افغانستان کې وم، د ادبي هستونو زياته برخه مې ژباړې او د ډرامې په باب ليکنو جوړوله، خو پر (۱۹۹۳م) کال کله چې پېښور ته راکډه شوم ټوله مخه مې لنډو کيسو ته شوه، خو بيا مې هم ډېرې کيسې ونه ليکلې، خو هغه څه چې مې وليکل، زما له پخوانيو کيسو سره يې ډېر توپير درلود، دا چې دا کيسې مې د کيسو پر معيار سره برابرې دي که نه؟ پرې نه غږېږم، خو يوه خبره چې بايد ويې کړم په دې لار کې ماته ډېر نږدې دوستان ګران هېوادمل صاحب، کاروان صاحب، اسدجان غضنفر، نثار، سالک، عابد... او نور زما ډېر هڅوونکي دي، د دوی داډ زما د کيسه ليکنې په روزنه او هڅونه کې لوی ځای لري.

**له بده مرغه چې زه د خپل تخلیق او ژباړې هېڅ جونګ نه لـرم او دا هر څه خواره واره دي، خدای تعالی(ج) دې بری راکړي، چې که نور نه وي د خپلو کیسو یو جونګ خو په خیر خپور کړم.**

د چاپېریال بدلون د یو لیکوال پر هنري زېږونو څه اغېز لـري او تاسې خپل مثال هم وړاندې کړئ؟

**څرګنده خبره ده چې د چاپېریال بدلون د یوه لیکوال پر هنري زېږونو خورا اغېزناک دی. په نوي چاپېریال کې لیکوال نـوی انسـان، د هغـه غوښتنې، هیلې او ...ویني او له نورو اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري اړیکو سره اشنا کېږي او طبیعي ده چې په نوي چاپېریال کې به د هغه تخلیق ارو مرو له دغو مناسباتو نه اغېزمن وي، خو یوه خبره چې روښانه او د لیکوال د بري رمز دی، په نوي چاپېریال کې د هغـه د خپـل وطـن د انساني ارمانونو انځور دی. زما په اند که مورږ یا د بـل هېـواد لیکـوال وغواړي په دې چاپېریال کې د پردي انسان په انځورونه یـې د خپلـې ټولنې انسان هېر کړي، اثر به یې ډېر بې خونده پنځولی وي نن د نـړۍ ډېر شاهکارونه شته چې لیکوالو یې په پردېسۍ کې لیکلـي دي، خـو کیسې یې د خپل وطن او خپلو انسانانو دي.**

**له ښه مرغه زمونږ ځینې پردېس لیکوال په دغه برخه کې ډېر بریالي دي ښه بېلګه یې د شپون صاحب ګټیالی نومې ناول دی. پردېسۍ زما پر هستونو هم خپل اغېز ښندلی درې څلور کیسې مـې د پردېسـۍ د چاپېریال کیسې دي. له بده مرغه د پردېسۍ په دغه ټوله موده کې مې یوازې همدومره ولیکلای شول.**

تاسو خو د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې وګرځېدلئ، په ټولیز ډول د نړۍ په ادبي بهیر کې کوم مسایل زیات مطرح دي؟

**سره له دې چې اوسنۍ صنعتي نړۍ د خپل پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلې او دغه پرمختګ د هرې ورځې په تېرېدو سره چټکېږي، خو دغو پرمختګونو ډېرې ستونزې هم رامنځته کړي، د چاپېریال ککړتیا، د ذروي وسلو مسابقې، ماشیني ژوند، کلتوري انحطاط او نوره... دغه نړۍ له جدي ګواښ سره مخامخ کړې ده. د صنعتي نړۍ د ننني آثارو ګڼ موضوعات همدغه ستونزې جوړوي. نني صنعتي پرمختګونه نه یوازې د آثارو پر مضمون خورا اغېزناک دي، بلکې تر ډېره یې د آثارو کلاسیکو بڼو ته هم بدلون ورکړی دی.**

ځینې وخت ځینې ادبي پنځونې د خوشحالۍ او غم د اوج لـه کبله راټوکېږي تاسو دا مسئله څنګه ارزوئ؟

**خوښي او غم، عواطف او احساسات زېږوي، چې د یوه هنـري اثـر د هستونې د خوځون اصلي محرک دی او د هرې خوشحالۍ او غم تر شا بیا ځانګړې پېښې او شېبې پټې وي. د نړۍ زیات ادبـي شـاهکارونه د ځانګړو تاریخي پېښو محصول دي، ښه بېلګه یې د الکسي تولسـتوي ((سوله او جګړه)) ده چې له ناپلیون سـره د روسـانو د (۱۸۱۲-۱۸۱۴) کلونو د جګړې نادودې بیانوي او یا هم د ارنسټ همینګوی ( له ټوپک سره مخه ښه) چې د لومړۍ نړیوالې جګړې د بدمرغیو انځور کاږي.**

**زموږ ډېر آثار هم زموږ د کورنۍ جګړې د بدمرغیو انځورونه دي، خو خدای تعالی(ج) دې وکړي چې زموږ لیکوال زموږ د کړېـدلي ولـس د خوښۍ او هوساینې د شېبو انځورونه هم په خپلو تخلیقاتو کې وکاږي.**

مورِ بهر ته ستاسو تر تګ وړاندې ستاسو یو شمېر لنډې کیسې لوستې دي، خو اوس دې د لنډو کیسو څرک نــه لیــدل کېــږي، علت یې څه دی؟

**تاسو پوهېږئ، بهر ته تګ دومره اسانه خبره نه ده، زه چې کله کډوال شوم، پوره یو کال د یو ګونګ او نامعلوم برخلیک په لومو کې ښکېل وم او که رښتیا درته ووایم، نه یوازې دا چې لیکلو ته مې تابیا نه جوړېدله، بلکې د لوستلو پر وخت به هم تل په ډېرو نورو چرتونو کــې لاهــو وم، وروسته کله چې مې برخلیک معلوم او دعا مې قبوله شوه او د سیاسي کډوال په توګه ومنل شوم په دغه هېواد کې چې اوسېږم پوره ډېر وخت مې د کار روزګار لټون ونیوه بیا راباندې د کارونو او بوختیاوو بوج شو.**

**بل علت یې د فرهنګي دوستانو لرېوالی هم و، زه چې په کې استوګن یم دا هېواد د جرمني، انګلستان، امریکا، کاناډا، روسیې، هالینډ او نورو په څېر له لیکوالو او فرهنګي کړیو نــه ډک نــه دی، چــې ســړی اړ او وهڅول شي او زه ځینې ملامتیاوې پر خپل ځان هم اچوم. که رښــتیا راباندې وایې مورِ ټولو لیکوالو او فرهنګیانو هومره چې مو په خپل وطن کې په خوند او مزې لیکنې کولې، دلته یې نه شو کولای.**

زمورِ ځینې لیکوال وایي: هغه افغان لیکوال چې پــه بهــر کــې اوسي، طبعاً یې یوه بهرنۍ ژبه زده ده، کــه چېــرې د دوی لپــاره زیات وخت د څېړنیز او تخلیقي کار امکانات نه وي، نــو ښــه لاره داده چې دوی د ژباړې له لارې فرهنګي خدمت وکــړي، ستاســو هم بهرنۍ ژبې زده دي، نو بیا ولې ژباړې نه کوئ؟

**دا ښه خبره ده، ډېرو لیکوالو تر ډېره حده دا کار کړی دی، دا چې زه ولې تر نورو ډېر وروسته پاتې یم، دوه علته لري، یو دا چې له دغې ژبې سره هومره اشنا نه یم چې ښه ژباړه پرې وکړم او بله دا چې دغه هېواد لکه د دې سیمې د نورو هېوادونو په څېر دومره وتلي لیکوال او آثار نه لري.**

په بهر کې د مېشتو افغان فرهنګیانو د فرهنګي کار د سمون او خوځون لپاره څه وړاندیزونه لرئ؟

**له بده مرغه په بهر کې د افغانانو د سیاسي اتحادیو او جریانونو په څېر د هغوی فرهنګي ټولنې هم ډېرې متفرقې دي او د کار او فعالیت ډېره برخه یې له یوه بل سره دښمني جوړوي، چې دا یوه لویه بدمرغي ده، زما له نظره به ښه وي، که دغه فرهنګي حلقې په یوه واحد مرکز کې راټـولې وي زه د دغو ټولنو د ډېروالي مخالف نه یم خو دوی باید د خپلو ځانګړو غوښـــتنو ترڅنګ یو واحد هدف تعقیب کړي.**

**زما په اند به ډېر ښه وي، که په اروپا او امریکا کې بېلابېلې لویې فرهنګي ټولنې جوړې شي او بیا د دغو ټولنو د کار اساسي مرکــز زمــوږ هېــواد یــا پېښور ښار وټاکل شي او دلته پر یوه معین، هدفمند او پراخ فرهنګي کــار پیل وشي دا کار څه ستونزې لري خو ناشونی نه دی.**

اوس، اوس بهر ته د افغانانو د تګ لړۍ په ډېر شدت سره روانــه ده، که دا لړۍ همداسې روانه وي نو په هېواد کې به پر څــه پــوه خلک پاتې نه شي، دا کار څه ډول ارزوئ؟

**دا زموږ د وطن د کورنۍ جګړې په څېر یوه تراژیدي او یوه لویه بدمرغي ده که دا لړۍ په همدغه قوت روانه وي، ددې پایلې خورا ډېرې خرابې وینم.**

**دا سمه ده، هلته د ژوند شرايط خورا ښه دي، خو هلته هم زموږ پر وګړو د بې شمېره غمونو پېټي پرېوزي د نـورو تـرلاس لانـدې هـر ډول کارونـه، ماشيني ژوند، پردېسي، حقارت... او ډېر داسې نور چې په رښتيا سړی ډېر ځوروي. تر هر څه زيات زموږ د کوچنيانو د ملي هويـت او غـرور روزنـې مسئله د اندېښنې وړ ده، اوس خو ډېرو کورنيو ته دا ساده برېښي، خو ډېر ژر به يې سرونه له دې کبله څرېکې پيل کړي او د ډېرې زياتې خواشـينۍ ځای دی، چې په بهر کې مېشت افغانان د دغې ستونزې د حل پـه هکلـه ډېر کم په خپلو منځو کې د يو عملي مېکانيزم په باب غږېدلي دي.**

په هېواد کې د لنډۍ کيسې د څرنګوالي په باب څه نظر لرئ؟

**هسې چې د لنډې کيسې عمر د ادبياتو په تاريخ کـې کـم دی، زمـوږ د ليکوالو تجربې هم ډېرې اوسنۍ دي. سره له دې چې پر پښتو لنډې کيسې له پيله پوره شپږ اوه لسيزې تېرېږي خو ايله وروستنۍ دوه، درې لسيزې د لنډو کيسو ډګر لږ تود کړی دی، په دغه موده کې تر ډېره حده پر معيارونو برابرې کيسې کښل شوي، خو له بده مرغه زموږ کيسه زموږ د شعر په څېر لا نه ده پخه شوې او لا هم زموږ کيسه ليکونکو ته په دې ډګـر کـې ډېـر مزلونه پاتې دي.**

لکه څنګه چې ماته معلومه ده، په جرمني کـې د افغانســتان د کلتوري ودې ټولنې پټېيلې چې هـر کـال پـه څېړنيـز، ادبـي او پوهنيز ډګر کې افغان ليکوالو ته جايزې او ستاينليکونه ورکـړي، ددې کار مالي لګښت تاسو پر غاړه اخيسـتی، ددې کـار اصـلي موخه مو څه ده؟ ايا نور کسان هم بايد په دې لړۍ کې شامل شي که نه؟

**ددې کار موخې دوه دي: یو دا چې نور مې د داسې ورته ګامونو اوچتولو ته هڅولي وي او بل مې خپل فرهنګیان د ښو او نایابو اثارو کښلو ته هڅولي وي.**

په اوسنیو وختونو کې د هېواد لپاره په کم کیفیت ډېرې خپرونې ښې دي او که په ښه کیفیت کمې خپرونې؟

**زما په اند په اوسنیو وختونو کې په ښه کیفیت کمې خپرونې ښې دي، اوس خو که رښتیا ووایو، د خپرونو ډېرو شمېرو د خپرونو ارزښت ډېر کم کړی. بې کیفیته خپرونې نه یوازې دا چې د وخت او پیسو بې ځایه لګښت دی، بلکې تر ډېره حده زموږ په چاپېریال کې د لوستلو خوند هم له منځه وړي.**

بهر ته تګ او هلته استوګنه یا ژوند کول مو په هېواد کې له استوګنې سره څه ډول پرتله کوئ؟ مانا دا چې څه دې له لاسه ورکړي او څه دې ترلاسه کړي دي؟

**په بهرني ژوند کې خو مې ارومرو څه ګټه کړې: یوه مې بهرنۍ ژبه زده کړه، له نوي اقتصادي او کلتوري مناسباتو سره بلد شوم، اقتصادي برلاسی مې ترلاسه کړ، ... خو ډېر څه مې له لاسه هم ورکړي، پردېسي، ددې هېواد د ځینو وګړو کرکجن توپیري نژادي چلند، د خپلو خلکو، کور، وطن، خپلوانو او دوستانو څنې لرېوالی... هغه څه دي چې سړی خورا ځوروي، تر ټولو غټه خبره د هغه اشتیاق او مینې مړینه ده چې د هغو له مخې مې پرله پسې لیکنې کولې.**

د خپل شخصي او فرهنګي ژوند کومه خوږه او ترخه خاطره که راته ووایې؟

**له شخصي ژونده به یې راواخلم دا زما د پردېسۍ یوه خاطره ده: کله چې په هنګري کې وم او سلواک ته مې د تېښتې لار لټوله، د ژمي میاشــت وه، موږ باید په یوه لویه ویاله پورې وتي وای او په سلواک کې مو ځان د دغــه هېواد مرکز پراستلاو ته ور رسولی وای، خو دا راته ډېره سخته وه، ځکه نه خو مې لامبو زده وه او نه مې هم سلواک لیدلی و. درې حملو ګواښ راتــه کاوه: د ژمي سختو سړو، په ویاله کې ډوبېدل او په لار کې ورکېدل، خو پر دغو ټولو مې سترګې پټې کړې، ځان مې اوبو ته واچاوه، نېغ راپورې وتم او په ډېر ښه شان خپل منزل ته راورسېدم. دویمه فرهنګي خــاطره مــې دا ((زنګونه، اټکلونه)) لنډ داستان دی.**

ستاسو په نظر پښتو ژبې ته اوسنی فرهنګي کار د هیلــو وړ دی که د نهیلیو؟

**زما له نظره پښتو ژبې ته اوسنی کار ښه دی، خو دا کــار بایــد لــږ څــه سیستیماتیکه بڼه ونیسي، لا د پښتو ژبې عملي رسمي کولو او عامولو تــه ډېره لار پاتې ده.**

**یو شی چې زه یې ډېر مخالف یم، هغه دادی چې پښتو ژبې د غوړېدو په تحریک کې باید منفي او افراطي ذهنیتونه ځای ونه لري.**

پــه غــرونــو کــې نښتر وي او په کلي کې چنار
پـــه زړه کې مگر څانگې څانگې وغزېږي یار

# د چنارونو او نښترو شاعر

پیرمحمد کاروان د هېواد پیاوړی او نومیالی شاعر دی، د عمر د ځوانۍ په شپېو کې یې د شعر دمینــې خوږې وږمې پر ټول هېواد خورې ورې شوې. مینه، عاطفــه، لــوړ انساني ارزښتونه، هېواد پالنه او رنگینه ښکلا د ده په شعر کې په څپو دي. کاروان تراوسه پــورې ((له ماښــامه تــر ماښــامه)) او ((چنار خبرې کوي)) په نومونو د شعرونو دوه ټــولگې او ((لــه نرگسه تر نرگسه)) د لنډو کیسو



یوه ټولگه خپرې کړې دي. زموږ د وخت د یوه افغان کــره کتــونکي او لیکوال په وینا که پښتانه یوویشتمې پېړۍ ته له شلمې پېړۍ نه کومه ډالۍ لري، نو یوه به پکې (( چنار خبرې کوي))، د کاروان ښکلې شعري

ټولګه وي. د هیلې مجلې د (۱۳۷۸ل) کال په درېیمه ګڼه کې د کاروان صاحب دا مرکه چاپ شوې، چې تاسې یې لوستلو ته رابولو:

له څه وخت راهیسې دې شاعري پیل کړې ده؟

که له شاعرۍ نه دې مطلب د شعر په نامه د کتابونو خپرول، په غونډو کې شعر اورول، په مجلو، راډیو او ورځپاڼو کې د شعر په نامه د یو څه خپرول وي، نو زیات و کم پنځلس شپاړس کاله به کېږي.

ستا د شاعرۍ اساسي لاملونه څه دي او هم په عام ډول ولې یو سړی شاعرۍ ته مخه کوي؟

سل په سلو کې په خدای که به پوهېږم چې زما د شاعرۍ اساسي لاملونه به څه وي؟ هو دومره مې اورېدلي دي چې شاعري د خدای ورکړه ده. هغه د خوشال بابا خبره چې:

شیخ دې لمونځ روژه کړي زه به ډکې پیالې اخلم
هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه

که موږ یو ګل په پام کې ونیسو چې څنګه وده کوي؟ څنګه راوټوکېږي، ځانګې، څانګې وغځېږي، غوټۍ یې وسپړېږي او ګل ګل شي؟ ددې عملیې لپاره تر ټولو دمخه د ګل تخم باید وي. بیا په خپل وار سره مناسبه ځمکه، په مناسبه اندازه اوبه، شبنم، لمر، د ګل پالنه او څارنه او نور طبیعي عوامل په کار دي.

شاعري هم داسې درواخله، تر ټولو دمخه د شاعرۍ فطري تومنې لپاره شاعرانه جذبه، تخیل، شاعرانه فکر، سندریزه ژبه، شاعرانه پېښې، شاعرانه اتوموسفیر، هنري منطق او ریاضیت دا ټول په کار دي. شاعري

په غم او ښادۍ کې زما ډېره خوږه ملګرې ده. شاعري د محرومیتونو پر وړاندې یو ښکلی تسلیت دی. له بل هر څه نه مې زیات له شاعرۍ سره زړه تړلی دی. لکه سیوری یوه بل پسې روان یو. کله دا مخکې زه ورپسې، کله زه مخکې دا راپسې. که د خپل ژوند شېبې د شاتو مچۍ وبولم، نو شاعري مې ملکه ده. زه فکر کوم چې د انسان په فطرت کې یوه داسې پټه غوټه ده چې هنرمندان یې په خپلو هنرونو کې پرانیزي. یا لږ تر لږه د پرانیستو ریاضت یې جاري ساتي او تسلي پرې کوي. د نورو کارونو مینه وال یې په هغو کارونو کې د پرانیستو هڅه کوي چې له نور هر څه نه زیات یې زړونه ورسره تړلي دي.

هو، پاتې شوه ستا دهمدې سوال بله برخه چې ویلې دې وو: (( په عام ډول ولې یو سړی شاعرۍ ته مخه کوي؟))

یون صیب که ګستاخي نه کېږي، زه ستا سوال داسې اړوم، چې په خاص ډول ولې یو سړی شاعرۍ طرف ته مخه کوي؟ یا شعر ولې د شاعر په زړه اخته شي؟ فکر کوم د دې برخې ځواب هم په پورتنیو خبرو کې شوی دی.

شاعري د نورمال فکر زېږنده ده که د ټکان خوړلي؟

د دواړو، د نورمال فکر شاعري نورماله شاعري ده او د ټکان خوړلي فکر ټکان خوړلې. هو، یوه خبره شته هغه دا چې ټکان باید روښانه شي چې ښکلی ټکان یې خوړلی دی او که بدرنګ، که فکر ښکلی ټکان خوړلی و، نو طبعاً انعکاس به یې ښکلی وي او که بدرنګ ټکان یې خوړلی و، نو هسې په اوتو بوتو به سر وي.

که یو مهین جام راوغورځي، نو یو مترنمه شرنګ به شي او که د خامو خاورو لوښی راوغورځي د ماتېدو اواز به یې نامترنم وي.

د بې فکره هنري شعر او د فکري بې هنره يا بــې تخيلــه شــعر (نظم) په باب ستاسې نظر څه دی؟ کوم يو ستاسې د تائيد وړ دی او که نه د دواړو ترمنځ د فکري هنري شعر تائيد کوئ؟

په شعر او بل هر هنر کې اساسي ټکی ښکلا ده. په شعر کې چې هــر څه راځي، بايد شعر شي او بايد ښکلا شي، که فکر وي، که تخيــل وي، که ارمان وي او که پيغام وي. دا ټول بايد سره غاړه غړی شي او يوه ګډه مناسبه شعري ښکلا راوپنځوي.

هغه شاعر يا د شعر په نامه ليکنه چې هنر او تخيل ونه لري نه ورتــه شعر وايم او نه هم د شعر کيفيت او خوند ترې اخيستی شم. هو که يو شعر فکر هم نه لري او نورې ښکلاوې ولري خوښېږي مې او قبول مــې دی. که بيا يو شعر د تخيل، جذبې، شاعرانه او سندريز انځورونو ترڅنګ فکر او پيغام هم ولري، بيا خو نو نور علی نور، بس پر شيدو باندې چې هر څومره غوړي تويوې خوند يې زياتېږي او له نعمــت نــه نعمــت الله جوړېږي. په شعر کې تخيل جذبه او نورې هنري ښکلاوې داسې دي لکه د يوه ګل رنګ او وږمې او که بيا له همدې ګل نه ګل قند او د روغتيــا درمان هم جوړېدی شول دا يې د فکر او پيغــام برخــه ده چــې د ګــل ارزښت يې نور هم زيات کړی دی. په شعر کــې هــم د نــورو ښــکلاوو ترڅنګ پيغام او فکر ښکلاييز ذوق هغه وخت د منلو وړ دي چې د شعر پر مناسبه ښکلا باندې بې ځايه بار نه شي. فکر او پيغام بايد په شعر کې داسې حل شي لکه په ګل کې د رنګ او خوشبو ترڅنګ د ګل قنــد او درمان جوړېدلو تومنه، يا لکه په خوړو کې مالګه.

کينه د شعر په ټوکولو کې زيات رول لري که عاطفه او که دواړه؟

**د شعر او بل هر هنر په تار وپود کې مینه، ښکلا او عاطفه غځېدلې په نظر راځي. دا چې انسان مینه کوي مانا دا چې کرکه هم کوي. کــه یــو څوک له یوه څه سره مینه ولري د هغه څه (معشوق) له دښمن سره به خامخا کرکه لري. خو اصله خبره داده چې په هنري پنځونو کې کرکــه هم باید په ښایست بدله شي او عاطفې ترڅنګه یو مناسب رنګ ځان ته غوره کړي. داسې نه شي لکه شال او شړۍ دې چې سره پیوند کړي وي. ځکه خو ویلای شم چې عاطفه او کرکه پر خپل خپل ځای پــه هنــري پنځونو کې ځانګړې ارزښت لري. هنرمند تل له ښکلا سره مینه کوي او له بدرنګیو کرکه. خو مقصد دادی چې د مینې او کرکې له کش مکش نه چې کوم عمل منځته راځي هغه باید جوړوونکی وي. یو شاعر په خپل شعر کې د یوې شل کلنې افغانې نجلۍ داسې انځور راوړی چې پر تنده یې شل مېخونه ټک وهل شوي دي. که دلته د شاعر عاطفه راپارېدلې نو د هغو لاسونو پر وړاندې یې کرکه هم راپارېدلې ده چې د نجلۍ پر تندي یې مېخونه ټک وهلي دي.**

د شاعر او د هغه د شعر ترمنځ روحي او اخلاقي اړیکې څنګــه ارزوئ؟

**تر ډېر ځایه شعر او هنر د انسان د باطني او ظاهري کیفیاتو انځورول دي، تر یوه ځایه روحي کیفیت او اخلاق د شاعر پر شعر سیوری کوي، خو په شعر او هنر کې ښایست باید د سوي لاس په څېر وساتل شــي. هغه د چا خبره چې د ښو غوښو ښه ښــوروا وي. همداســې د ښــکلیو رواني او اخلاقي کیفیاتو او ښکلي ضمیر انعکاس به په شعر کــې هــم ښکلی راځي. که دلته د اخلاقو په باب وغږېږو خبرې به ډېــرې شــي. همدومره وایم چې په بشري ټولنو کې اخلاقي معیارونه هم یو لــه بلــه**

**سره توپير لري. زه خو وايم چې شعر د ښايست د اظهار لپاره يوه صادقانه او صميمانه غږ دی، چې په ښکليو ارواوو او ښکليو زړونو کې سندريزه وده مومي.**

**داهم وايم چې که شاعر فنافي الشعر شي نو هنر به يې د نورو نيمګړتياوو پرده پوښ شي او يا به لږ تر لږه له ډېرو بديو واوړي. دا ځکه چې ښکلا او نېکي ډېر سره لرې نه دي.**

کوم شاعر د چاپېريال د پېښو ښه انځورونه کولای شي؟

**دا پوښتنه په کلي ډول دوه ځوابونه لرلای شي:**

**۱- هغه شاعر چې شاعرانه نبوغ ولري.**

**۲- چې د پېښو خوند يې څکلی او پېښې يې لمس کړې دي.**

ايا شاعر بايد ټول عمر مين وي؟

**هوکې يون صيب، بختور به وي چې ټول عمر مين وي. خو مينه هم کله داسې شي چې هر څومره ورپسې ګرځې، په لاس به نه درځي، کله بيا د ښکار غوندې پر سرې ورپېښه شي. هغه د خوشال بابا خبره ده چې وايي:**

**خدايه ته په زړه کې اچوې دا مينې**
**چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې وينې**

تاسې پوهېږئ چې شاعر يو عاطفي موجود دی او کله چې د پېښو تر اغېزو لاندې راځي، نو د شعر غېږې ته پناه وړي او خپل ځان تسکينوي. که يو شاعر د عواطفو د توپاني حالت په پايله کې د شعر له غېږې پرته ناوړه ځنباک او څکاک ته پناه يوسي، نو دا

به د ده پر شعر ناوړه اغېز ونه کړي؟ له هغه سره به يې واټن زيات نه کړي او د خپل شعر د بې باورۍ په مانا به يې نه وي؟

د ماشوم لپاره مهربانه غېږه د مور غېږه ده او د شاعر لپاره ښکلې او مهربانه غېږه د شعر غېږه ده. بختور دی هغه شاعر چې تل يې د شعر په غېږ کې سر ايښی دی. د کندهاريانو په اصطلاح د مور شيدې دې يې شي. اوس به راشو دې نورو غېړو ته ستاسو په اصطلاح د ناوړه څښاک او څکاک غېړو ته. په دې هکله دومره ويلای شم چې ښه شعر له تصنع نه پاک وي. د څښاک او څکاک په غېږ کې د تصنع خوا ته لاره غځېدلې ده. دا غېږې دومره ډېر طبيعي سکون نه لري. ددې غېړو خوبونه مصنوعي دي. په طبيعي خوبونو کې الهامي خوبونه هم ليدلی شو. بيا هم زه قاطع حکم نه شم کولای چې هر نارووړدی به له روږدي ښه هنر وپنځوي. په يوه کتاب کې مې لوستي وو: ((چېرته چې ښه شعر شته شرابو ته حاجت نه شته.))

اويا که بيا څوک دې لنډۍ د څښاک خواته څکولي وي چې وايي:

ما د چلم نرۍ لوګی کړې
چې د جانان له لړمانه راتاوه شمه

نو زموږ توصيه ورته داده چې د شعر په غېږ کې دې سرونه کېږدي او لاهوتي للو للو ته دې غوږ غوږ شي.

د شعر د انځورونو په باب ستاسې نظر څه دی؟ عيني انځورونه زيات وکارول شي که ذهني؟ ځينې وايي چې عيني انځورونه د چاپېريال عکاسي کوي. لوستونکي او اورېدونکي ترې ژر خوند

اخیستلای شي، خو ځینې نور فکر کوي چې له عیني انځورونو نه ژر خوند اخیستل کېږي او مانا يې ترلاسه کېږي. په شــعر کــې د ذهني انځورونو کارونه ضرور ده ځکه چې د لوستونکي د ذهنـــي ځواک د ودې او په کار اچولو سبب کېـــږي او تـــر يـــوې تحليلـــي عملیې وروسته لوستونکی د خوند او مانا حد ته رسېږي. نو ددې لپاره چې شاعر د لوستونکي ذهني ځواک په کار اچولی وي، باید ذهني انځورونو ته زیاته پاملرنه وشي. تاســې د دواړو پــه هکلــه خپل نظر څرګند کړئ؟

د شعر انځورونه باید ښکلي روښانه او طبيعي وي. کــه ځــای ځــای پېچلي هم وي، باید شاعرانه ښکلا او هنري منطق ولري. که په شعر کې عيني انځورونه راغلي وي او که ذهني شعریت به یې په دې کې وي چې د ذوق خاوند ترې ښکلاییز کیفیت واخیستلای شي. که د انځورونو لاره په مارپېچي ډول تاوه راتاوه هم وي، خو باید سهي او ســلامته دنګــې ښکلا ته ورسېږي. دا لاره که ډېره ګرانه او مشکله هم وي، خو ښــکلې باید وي. روښانه باید وي او د تصنع له غبار نه لرې باید وي.

یون صیب! تاسې لیکلي دي چې له عیني انځورونو ژر خوند اخیستل کېږي او له ذهني په ځنډ سره خوند اخیستل کېږي. زه خو وایم چې که چېرې انځورونه شاعرانه، مناسب او طبیعي وکارول شي که ذهني وي که عيني خوند به ترې ژر واخیستل شي. شعر باید له اورېدلو او لوستلو سره جوخت هم خوند او ښکلاییز کیفیت ولري او له پای ته رسېدو سره یې د یوه بل خوند پیدا کول هم کمال دی. د شعر هره مسره او بند د یوه ټال د ټالۍ په څېر باید وي، چې له هرې ټالۍ نه سملاسي خوند واخلو.

**ښه شعر خو د ډول او اتڼ په څېر سملاسي هنګامه جوړوي، نه داسې چې (( اتڼ سوړ شو او موزی اوس تود شو.)) زما مطلب دادی چې په شعر کې هر ډول انځورونه وي، باید شاعرانه وي، شاعر چې په هره لار ځي، باید د ښکلا مکې ته ځان ورسوي، خو شته ډېر داسې ښاغلي چې د مکې په نیت راوتي وي، لاره ترې نه ورکه شي او ترکستان ته ورسېږي.**

په اوسني وخت کې پښتو شاعري او په ټولیز ډول ادبي بهیر ته هیله من یې که نهیلی؟

**نهیلي ګناه ده. خدای شته ډېر هیله من یم، دا زړه مې داسې راته وایي چې د ډېرې سترې ښکلا د پنځونې وخت رارسېدلی دی.**

( له نرګسه تر نرګسه) په نوم ستا د لنډو کیسو یوه ټولګه خپره شوې ده. د لوستونکو د ارزونې له مخې د لنډو کیسو په اندول ستاسې شاعري لوړه ارزول شوې، تاسې دا خبره څنګه ارزوئ؟

**له لوستونکیو نه دنیا دنیا مننه چې زما شعر او نثر یې دواړه لوستي. نه پوهېږم چې کومې لېونۍ مینې له شعر او نثر نه معشوقه راته جوړه کړې ده. معشوقه یوه ده، خو خبره په لباس کې ده. دا چې دا معشوقه د شعر په رنګینو جامو کې ښه ښکاري خدای دې وکړي چې د نثر په ساده جامو کې یې هم ښه وښکاروم.**

ستاسې په نثري لیکنو ان په ځینو سریزو او کره کتنو کې د لیکنې ژبه هنري او له تخیله ډکه برېښي، په پوهنیزو او تحلیلي لیکنو کې دې ډول ژبې ته اړتیا شته؟

**ما تل پر شعر او نورو هنري مسایلو یو څه لیکنې کړې دي. پـر شـعر باندې لیکنې باید د شعر سکنۍ خوینديې وي. خربوزه خربوزې ته ګوري رنګ اخلي. لیکوال باید له موضوع سره برابره ژبه او لهجه وکاروي، که د علمي او تخنیکي مسایلو په هکله لیکنه وي، نو ژبه باید ساده او علمي وي. که د هنري مسایلو په هکله لیکنه وي نو ژبه باید یو څه هنري وي. د غلبېل سیوری سوری سوری وي. د شعر او هنر په هکله خبرې هـم باید شعر او هنر ته ورته وي.**

زموږ په ټولنه کې ولې د نثر په انډول شعر (نظم) ته زیاته پاملرنه کېږي؟

**پښتو د څپو او سېلابونو ژبه ده او په اسانۍ سره د موسیقۍ او تـرنم زړې په کې زرغونېدی شي. ډېر ښه مثال یې پښـتو ټپـه ده. د پښـتو متلونه هم تر ډېره حده موزون دي. د اتڼ نارې، د ماشـوم للـو للـو، د کیسو او نکلونو غاړې، حتی ځینې کیسۍ ( چیستانونه) موزنې راغلې دي. موږ چې ماشومان وو، نو موزونې کیسۍ به مو یو بل ته اورولې او د مقابل طرف له بې ځوابۍ به مو خوند اخیست. د سېلاب لپاره یـو یـو موزونه کیسۍ وه چې له غورځنګه ډک وزن لري:**

**(( له بره بابا راغی بابا تل وهي ډولونه)).**

**همداسې ویرنې او حماسې در واخله. یانې ټول د کار شیان په پښـتو کې موزون راغلي دي. ځکه خو شعر ته تر نثر زیاته پاملرنه شوې ده. که د پښتو فوکلوریکو افسانو او نکلونو ته پام وکړو په منځ منځ کـې یـې موزونې نارې ویل کېږي. دا نارې په هره برخه کې ډېرې ښکلې راغلـې دي.**

تراوسه پورې (وزن) د شعري فورمونو ان ازاد شعري فـورم یـو اساسي توکی ګڼل کېږي، تاسې د منثور شعر او ددې نومونې پـه باب څه نظر لرئ؟

**په دې هکله به درته لنډې خبرې وکړم:**

**منثور شعر هغه معشوقه ده چې خپل مطلب په خبرو کـې بیـانوي. موزون شعر هغه معشوقه ده چې خپل مطلب په سندره کې بیانوي او له ښکلي سُر او تال سره مهینه نڅا هم کوي. په شـعر کـې وزن د نـورو ښکلاوو ترڅنګ یوه ښکلا ده. که شعر یو باز وبولو نو بڼکې یـې نـورې شعري ښکلاوې دي. همدارنګه وزن هم ددې باز یوه بڼکه ده. که د بـاز یوه بڼکه هم ماته وي خریدار ورته ګوته نیسي. زه په خپـل وار منثـور شعر ته هم شعر وایم خو چې له ځینو شعري ښکلاوو څخه برخمن وي.**

ځینې په دې نظر دي چې شاعر باید په شاعرۍ کې یو سپېڅلی معشوق ولري چې له هغه سره مینه ولري، ستاسې معشوق څـه شی دی؟

**شاعر او بل هر هنرمند باید له خپل هنر سره د عبادت تـر سـرحده مینه ولري. بې له مینې یو هنر هم هنر کېدی نه شي. له شـعر او هنـر سره دومره زړه تړل په کار دي لکه یو ژوندی یې چې د ژوند کولـو لـه ارمان سره لري. هر ارمان چې ترسره شي ډېر عادي ښکاري. خو شعر او هنر هغه ښکلي ارمانونه دي چې له ترسره کېدو سره سره ښکلي پاتې کېږي. دوی هېڅکله د نورو ارمانونو په څېر د عادي کېدو درجې ته نه راټیټېږي. زما په نظر شعر د هغې سترې ښکلا د یـو څـو تصـویرونو د حضور هنداره ده. په شعر کې د یوې نه پیداکېـدونکې ورکـې د پېښـو**

**خوږه ښکالو اوړېدل کېږي. ستاسې د پوښتنې د دویمې برخې په باره کې باید ووایم چې: زما ایډیال او معشوقه یوه ښکلې او ورکه شاعره ده چې زه یې تل په لټه کې یم، خو په انساني څېرو کې مې لا نه ده لیدلې. یا د شمس تبریزي په قول: د هغې همزولې ښاپېرۍ پــه لټــه چــې لــه شاعرانو سره له ازله همزولې راځي.**

تر (چنار خبرې کوي) وروسته دې نوې پنځونې څومره دي؟

**یون صیب! که په څومره والي یې ووایم ډېرې دي، خو خبره داده چې په ډېرو لږو مې زړه اوبه ځښلای شي. که د غزلونو په هکله ووایم زه فکر کوم، ډېر لږ غزل به مې داسې وي چې د چنار خبــرې کــوي د غزلونــو سیال یې وبولم. هو یو څو اوږدې منظومې مې لیکلې دي چې یو وړوکی کتابګی ترې برابرېږي. خدای شته ډېر ورته زړه نا زړه یم او وېرېږم چې هسې نه له (چنار خبرې کوي) نه ډېرې رالوېدلې نه وي. ځینې دوستان یې د خپرولو ډاډ راکوي. په هر صورت که خیــر و ان شــاء الله پــه دې وختونو کې به یې خپرې کړم.**

**که تر چاپ وروسته پرې ډاډمن نه شوم، نو اضطراب خو رانه چا وړی نه دی. ګوندې دا اضطراب مې په راتلونکو پنځونو کې برکت او ښایست واچوي.**

کله چې یو شاعر یا هنرمند اوج ته ورسېږي. نو ببرتــه د نــزول خواته روان شي. ستاسې په نظر ستاســې شــاعري اوس اوج تــه رسېدلې، یانې تاسې خپل زړه او اند تش کړی او کــه نــه دواړه د خوځون په حال کې دي او له ناویلو خبرو ډک دي؟

شعر او نور انساني هنرونه هېڅکله هم اوج ته نه شي رسېدی. دا منم چې شاعران او هنرمندان په خپلو هنرونو کې تل په یوه حـال نــه وي. ټيټ و پاس په کې خامخا راځي. ځينې د ځوانۍ په شېبو کې ښه شــعر تخليق کړي خو وروسته ترې خرابه شي. ځينې په اول سر کې ښه نــه وي ورو ورو پسې ښه شي. ځينې په اول کې هم ښه وي او تر پايه ښــه پاتې شي. ځينې نه په اول کې ښه وي نه په منځ کې او نه په پای کــې. کله کله شاعرانه پېښې او شاعرانه اتومو سفير هم پر شاعر اغېز کوي، د نويو او ښکليو پنځونو دروازې ورته پرانيزي. پــه نــړۍ کــې د داســې شاعرانو او هنرمندانو مثالونه شته چې تر شپږويشت کلنۍ، شپږ دېرش کلنۍ او څلوېښت کلنۍ يې ژوند کړی او شهکارونه يــې پنځــولي دي. ځينې بيا شته چې د ژوند په وروستۍ برخه کې يې شهکارونه پنځولي دي. د مولوي جلال الدين بلخي په هکله ويل کېږي چې دی عادي ملا او تر اته دېرش کلنۍ پورې يې طالبانو ته درس ورکاوه، ناڅاپه شــمس تبريزي ورباندې پېښ شو او د مولانا په زړه کې يې د مستانه شعر سوز و ګداز واچاوه. نن مولانا په نړۍ کې له لويو شاعرانو څخه يو دی.

د خپل ځان په هکله يوه خبره په ډېرې عاجزۍ خو په دعــوې ســره کوم هغه دا چې د ښو شعرونو د لوستلو يو لېونی مينه وال يم. پاتې شو خپل شعر مې، له خپلو ويل شويو شعرونو نه په خدای که دومــره ډېــر راضي يم. په زړه کې مې ډېر نا ويل شوي شعرونه ګرځــي. کــه د لــوی خدای رضا وه او دا نا ويل شوي شعرونه يې راباندې ولورول نو ايله بــه مې روح په ارام شي.

په ادبي نړۍ کې دې کومه خوږه یا ترخه خاطره په زړه ده؟

**یون صیب! په ادبي نړۍ کې مې زښتې زیاتې خوږې او ترخې خاطرې په یاد دي. پر ګلپاڼو شبنم څومره ښکلی ښکاري؟ لـه ښــکلیو سـره موسکا څومره ښکلې ښکاري. همداسې خاطرات دي چــې د شــاعر او هنرمند زړه ته یوه دنیا ښکلا راوړي. د شاعر او هنرمند خاطرات د ده په راتلونکو هنري پنځونو کې غځېږي او را ژوندۍ کېږي. کــه پــر خپلــو خاطراتو لیکنه وکړم، کېدی شي خبره له کتاب نه هم پسې واوړي. دلته به صرف دوه ورې خاطرې سره غوټه کړم، چې کېدی شي هــم ترخــه ولري او هم خواږه:**

**څو کاله وړاندې مې یو چاته زښت زیات عقیدت درلود یــو وخــت د همدې عقیدت وړ بنیادم زما زړه مات کړ. ډېره موده ډېر وکړېدم. ومې نه کړای شول چې همدغه درد په شعر کې راونغاړم، څه موده وروسته مې کلی را په یاد شو ماشومتوب مې راپه یاد شو او د کلي د ګودر په خوا کې هغه چنار رایاد شو، چې موږ به یې تر څانګو لاندې پر توره تخته الف و ب لوستل. زما په زړه کې یوه نغمه په غرېدو غوندې وه په دې وخــت کې مې د ((چنار خبرې کوي)) منظومه ولیکله.**

**څو ورځې وروسته په اردو ساینس بورډ کې د افغان ادبي بهیر لومړنۍ غونډه وه، غونډه او مشاعره روانه وه، له ما سره چنار خبرې کوي شعر و. خدای شته زه چې هر نوی شعر اوروم وېرېږم، ځکه په پښتو کې به ازاد شعرونه ډېر لږ داسې وي چې له پښتو غزل سره ســیالي وکــړي. بــاور وکړئ له پسرلي صیب نه لا ډېر وېرېدم ځکه چې د پسرلي صــیب ذوق ډېر لوړ دی او د شعر ښکلاییز کیفیت ته ډېر ژر رسېږي، خــو پــه هــر**

صورت کله چې زما د شعر وار راغی نو ((چنار خبرې کوي)) مې په ډار ډار ولوست.

مشاعره پای ته ورسېده پسرلی صیب ستېج ته ولاړ او ویې ویل چې تاسې کینئ زه یو څو خبرې کوم. موږ ټول غوږ غوږ شو، پسرلي صـیب خپلې خبرې داسې پیل کړې:

((زه نه سلطان محمود غزنوي یم او نه کوم بل پاچا، ګنې کاروان بـه مې د ده د شعر له وجې په طلاوو نمانځلی وای خو زه کاروان ته یو قلم ډالۍ کوم، پسرلي صیب ماته په ډېره مینه قلم راکړ. د پسرلي صـیب د مینې او لورېينې هغه کیفیت مې اوس هم په زړه کې پټ ساتلی دی او کله کله ځان رایادوي.

د هېواد لپاره دې په تخیل کې کومې هیلې روزلې دي؟

د یوه داسې صوفیانه نظام په تمه یمه چې هر دویم تن یې منصور وي او دار هېڅ نه لري.

# عبدالباري جهاني له ((ورکې مېنې)) تر ((شيش محله))

عبدالباري جهاني د هېواد نوماند، غښتلی او پياوړی شاعر دی.

د جهاني شعر له دوو لسيزو راهيسې زموږ د خلکو په زړونو او ذهنونو کې لکه د يوې خوږې وږمې په څېر چلېږي او هغو ته ښکلا، ارام او تودوخه ببښي.



دده په شعر کې، مستي، مايوسي، بغاوت، درد، سوز، اوښکې، مې، بزم او رزم، اهونه او ګلونه ټول ځلېدلي او ځلېږي. (( ورکه مېنه)) د جهاني د شعرونو لومړنۍ چاپي ټولګه ده، ((پايکوب)) يې د شعرونو دويم چاپي غونډ دی او ((شيش محل)) يې د شعرونو اوسنی شعري غونډ دی چې د چاپېدو په درشل کې دی.

دا چې شاعر به په خپله ((ورکه مېنه)) کې ارام، سوزمن او ډاډمن ښکاري او که په ((شيش محل) کې او يا دا چې د کومې شعري جونګړې شعرونو به يې د خپل سوي لوي هېواد د اوښکو او اوسپليو ښکلې انځور

ګري کړې وي دا به د ((شیش محــل)) تــر چــاپ او پرتلنــې وروســته څرګندېږي، خو د شاعر هغې ګړنۍ مرکې ته چې ما (یــون) ورســره (د طالبانو د واکمنۍ پرمهال) په پېښور کې کړې وه او پورتنۍ عبارت هم پر همغه وخت لیکل شوی و، ستاسې پام را اړوو. دا یوه ګړنۍ مرکه ده چې له راډیو کسټ څخه د کاغذ پر مخ پلې شوې ده او همغه مهال د هیلې مجلې د (۱۳۷۷ل) کال په لومړۍ ګڼه کې خپره شوې ده.

تر هر څه لومړی که د خپل شعري ژوند د پیــل پــه اړه خبــرې وکړې خوښ به شو؟

د شعر د پیل په باب باید ووایم چې چندان د پیل وخت یې ځکه راته معلوم نه دی چې له ډېر کوچنیوالي مې پر شعر لیکلو پیــل کــړی دی، تقریباً له اووم ټولګي څخه مې شعر پیل کړ، دا چې شعري کیفیت یــې څنګه و او اوس د شعري ارزښتونو له مخې ورته شعر ویلی شو او که نه؟ دا نو بېله خبره ده. څرنګه چې هیڅ مشوق مې په کور او چاپېریال کې نه درلود، نو څوک راڅخه خبر هم نه شول، چې زه لا شعر لیکم، نو په شعر ویلو مې  پیل وکړ، تقریباً یوه کتابچه مې له شعرونو ډکه کړه، هغه بیا راڅخه پاتې شول، اوس مې په لاس کې نه شته. په پوهنځي کې مې د ملګرو په زیاته هڅونه بیا د شعر نړۍ ته مخه کړه، شعرونه مې لیکل، خو جمع کول مې نه، لنډه دا چې هغه وخت چې زه متوجه شوی یم او یا متوجه کړای شوی یم چې شعر لیکلی شم او شعر کې مې یو څه شته نو هغه مې د پوهنځي دوران دی. تر دې وروسته باید دا حقیقت ووایم چې زما د شعر په تشویق، روزنه، هڅونه او پالنه کې په سلو کې پنځوس زما خپل فطري استعداد او زما کورنۍ رول درلود، نو په سلو کې پنځوس

**اغېز د محمد صدیق روهي و، زه هغه شاعرۍ تــه تشــویق کــړی یــم، سیمینارونو او غونډو ته یې بللی یم. هغه زه په دې وپوهولم چې زه شعر لیکلی شم او د شعر استعداد لرم.**

د یو شخص شاعر کېدل یا د فردي او یا هم د ټولنیز درد زېږنده ګڼل کېږي، ستاسې د شاعرۍ علت څه دی؟

**ما له کوچنیوالي څخه له موسیقۍ سره مینه لرله. زما د شاعرۍ یــو اساسي علت په کوچنیوالي کې همدا موسیقي وه. زه له موسیقۍ سره سخته مینه لرم او اوس هم دا مینه لرم، په کندهار کې داسې دود و چې چا به کوم غزل یا شعر لیکلی و، هغه به یې پټ په کتابچه کې ځان سره لیکلی و، بل چاته به یې نه ورکاوه، که ورکاوه یې هم نو غلط نقل، دغه بیتونه چې د کندهار شاعران یې لیکي، زه هم کولای شم سره پیونــد کړم، نو ما به د هغو پر طرز باندې شعر جوړ کړ او بیا به مې خپله وایه او یا به مې د کوڅو هلکانو ته ورکول، هغو به ځان سره په ترنم کې ویــل، خو که شعر د شعر په مانا او یا هم د یوې اجتماع لپاره وقف شوی وي او یا شعر د خلکو لپاره وي چې زه خپله هم ځان همداسې یو ژمن شاعر بولم او خلک باید زما په شعر پوه شي، نو هغه وخت د پوهنتون وخــت دی. خیانت، رشوت، ظلم، فساد، شاته پاتې والی، مفاهیم په مظــاهرو، جریدو، مجلسونو، مجلو او هر ځای کې یادېدل، نو طبیعي خبره ده چې شعرونه هم دغه مسیر ته سوق شوي دي. نو زما شعر هم له دغه مسیر څخه مستثنی کېدی نه شوای، نو ما هم په دغه ترڅ کې شعرونه ویل او د هغه وخت استبداد ته به مې ګوته نیوله، نو انګېزه به یې د هغه وخت ټولنیزې نیمګړتیاوې وي. وروسته خو بیا تاسې ته معلومه ده چې زمــا**

شعر د وخت په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېل رنګونه اخيستي دي. هر وخت چې زه شعرونه ليکم نو ملګرو ته وايم چې له ما نه مه خپه کېږئ، زما شعرونه د پردېسۍ رنګ لري او که اوس د پردېسۍ رنګ ونه لري نو د څه شي رنګ به ولري؟

هغه ما یا تشويقوي او يا د شعر په اصطلاح اغېزمنوي، نو هر وخت که زما د شعر چينه وچېدله يو علت به يې دا وي چې زه د شعر لپاره هېڅ ډول چاپېريال نه لرم.

د شعر د انځورونو په باب ستاسې نظر څه دی؟ په شعر کې بايد کوم ډول انځورونه زيات وي، عيني، ذهني؟ که ددې دواړو انډول وي؟

زما په نظر دې که د انډول خبره چندان مطرح کېدی نه شي، فکر کوم دا د شاعر خپل خيال دی، کله کله شاعر په خپل خيال کې دومره ډوب شي چې د واقعيتونو له پولو ووځي، د تخيل دنيا ته ځي او هغه دنيا بيا د ده په الفاظو او ترکيباتو پورې اړه لري. کله کله داسې الفاظ او ترکيبونه استعمال کړي چې هغه د تخيل نړۍ دومره درته رانږدې کړي چې دده خپله فکر نه وي چې دومره به يې ښه مجسمه کړی شم. نو په خپله ځينې مجسمه شي او کله کله شاعر بيا په خپله دا تصميم نيولی وي چې يوه منظره، يوه تابلو، د يو غريب سړي کور، استبداد او يا هر شی چې وي، هغه ته د واقعيت جامه واغوندي، تصوير او انځور يې کړي. زه په دې مسئله کې شاعر مختار بولم، يوازنی شی چې زه فکر کوم کله کله د انځور مخه نيسي هغه د غزل چوکاټ دی، د غزل په چوکاټ کې زياتره ښکلي ترکيبونه او احساسات ښه رسېدلی شي، نسبت دې ته

**چې انځور دې ورسېږي، انځور د خپل ځان لپاره لږ شان پراخه چوکاټ ته ضرورت لري، چې هغه ازاد نظمونه او یا د اوس په اصطلاح چې دا زما لپاره نوې ده او ( پېیلي نظمونه) ورته وایي، هغه د انځور د ترسیم لپاره ډېره زمینه لري.**

ځینې کسان یا شاعران د هنري او ژور تخیلي شعر په نامه تکلفي او تصنعي نظمونه وړاندې کوي او ان کېدی شي لوستونکي هم ذهناً تېر باسي، په دې باب ستاسې نظر څه دی؟

**په دې باب زه وایم چې کله شاعر شعر لیکي باید خپل لوستونکي په پام کې ونیسي، چې دغه شعر چاته لیکم؟ که ماته څوک دغسې یو شعر وړاندې کړي، زه پرې پوهېږم او که نه؟ زه سره له دې چې زه ځان شاعر نه بولم، خو زه چې څه لیکم، زما تعهد له خلکو سره دادی چې زما پر ژبه باید خلک پوه شي، البته سل په سلو کې د خلکو پوهېدل امکان نه لري، شعر څوک دومره راکښته کولی نه شي چې پر هغه باندې ټول بېسواده خلک پوه شي، شعر د یو ډول خلکو لپاره ویل کېږي چې شعر ورباندې درک کړي، نو که چېرې داسې شعرونه ولیکل شي چې دا ډول خلک دې هم پرې پوه نه شي، نو زه خو شاعر ته فرمایش ورکولای نه شم چې دغه راز شعرونه ولیکي، خو زه خپله ورسره یو څه مخالف یم.**

د پښتو اوسني شعر په باب هیله من ښکارې که نهیلی؟

**نه یوازې دا چې هیله من یم، بلکې زما تر توقع بېخي لوړ دی، خصوصاً د ځوانو شاعرانو شعرونه زما تر توقع ډېر لوړ دي. باور وکړئ چې ماته لږ رخه هم راشي، چې بیا وګورم اکثره ځوان شاعران زما د زامنو په سن**

**دي، ماته داسې ښکاري لکه زما زامنو چې شعر ویلی وي او یا لکه مـا چې په خپله ویلی وي. پښتو زه خپل مال بولم، د پرمختګ په باب یې که له ما څخه څوک پوښتنه وکړي نو زه وایم چې د پښتو شعر او نثـر هېڅوخت د نن ورځې په شان پرمختګ نه و کړی، زه پوهېږم چې پـه دې حالت هم دا شعرونه نه پاتې کېږي، په ډېر سرعت باندې دغه حالت ته راغلي او دغه حالت چې زه ګورم نو په هره برخه کـې یـې متــوازن پرمختګ او وده کړې ده، نو زه په سلو کې زر هیله من یم.**

ستاسې: (( دا د مستو پسرلی دی)) خصوصاً (( زموږ کښتۍ یې ډوبوله خپل دریاب یې توپاني شو)) شعر ډېـر عــام مقبولیــت او منښت پیدا کړی دی، ستاسې په شعرونو کې نور داسې شــعرونه ستاسې په نظر کوم دي چې دې پوړۍ ته رسېدلي وي؟

**زه د دې شعر په مقبولیت نه یم خبر، دا مې ستاسې له خولې واورېده، کېدی شي دا د لوستونکو او اورېدونکو ځاني نظر وي، چې زما د دغــه شعر په باب یې لري، تاسې ته مې مخکې هم وویل کله چــې زه شــعر لیکم، نو ورته ژاړم، نو ما یو شعر لیکلی دی ((ځوانه دا څوک یې چــې ګولۍ اوروې، - د خپل نیکه او د ابا پر کلي)) فکر کوم دا شعر هم ډېرو خلکو اورېدلی او هلته په امریکا کې یې ډېر خلک خوښوي او د کندهار خلک معمولاً (( زما کندهاره د زمرو وطنه!)) دا هغه وخت ویل شوی دی چې روسان کندهار ته راغلل او کندهار کې قیام شروع شو، څلور پینځه ورځې وروسته دا شعر لیکلی شوی دی، د کندهار خلک دغه شعر ډېر خوښوي، دغه دوه شعرونه زه یادولی شم.**

له خپل اصلي چاپېریال څخه د شاعر لــرې کېــدل د هغــه پــر شعري ژوند څه اغېز لري؟

**د بل چا پر ژوند څه نه شم ویلی خو زما پر شعري ژوند یې پوره اندازه اغېز کړی، زما شعر یې د مایوسۍ خواته کش کړی دی، زه ځینو شاعرانو لکه په دې پېښور کې ځینو شاعرانو ته حیران یم، ځکه چــې دوی پــه شعر کې ډېره ښه مستي لري، په اصطلاح نغمې یې ناڅي، بیتونــه یــې ناڅي، خو زما په شعر کې له کلو کلو راهیسې مستي نه شته، نڅا پکې نه شته، زما هر شعر چې در واخلې، غزل وي که ازاد، ما په دې نیت نه دی لیکلی چې هغه دې د پردېسۍ رنګ ولري، مګر زه چې هر څــومره ځان ترې ګوښه کوم، نه کېږي یو بیت یا نیم غزل یا به ټول شعر خامخا دغسې وي چې هغه دې د پردېسۍ رنګ لري. له خپل محیط لرې کېدلو زما پر شعر دغه تاثیر کړی چې د مایوسۍ خواته یې کش کــړی دی. زه کله کله بېرېږم چې هغه ستاسې په اصطلاح د شعر چینه مې وچه نــه شي.**

تاسې نړیواله شاعري مطالعه کوئ، په دې باب په ټولیز ډول څه فکر کوئ چې کوم مسایل په کې زیات مطرح دي او کوم لــور تــه روانه ده؟

**تاسې خپله د یو شاعر او محقق په توګه دې ته اشاره وکــړه چــې د شاعر شعر له خپل چاپېریال څخه متاثر وي، د نورې نــړۍ خصوصــاً د امریکا یا د غرب ادبیات چې مونږ ته رارسېږي او لولو یې، د هغو شاعري هم له خپل محیط څخه متاثره ده، هغه انعکاسات چې تاسې یــې پــه پښتو شعر کې وینئ دا تمه مه کوئ چې هغه دې د غرب په ادبیاتو کې**

**وويئ، البته د غرب ادبيات ځانته خپله خوږلني او شريني لري، خپل ترسيمونه او انځورونه لري او شرقي ادبيات ځانته جلا رنګ لــري او دا رنګ يې له ډېره وخت څخه جلا و. که پښتو ادبيات په پام کې ونيسو، نو د پښتو اوسني ادبيات د داسې خاصو شرايطو محصول دي چې هغه د هېچا له شرايطو سره د مقايسې وړ نه دي. د غرب شــرايط او د پښـــتو شرايط بېخي سره بېل دي، نو شعر يې هم سره بېل دی.**

په پښتو شاعرۍ کې ستاسې په نظر داسې شعرونه شـــته چـــې هغه د نړۍ په نورو ژبو واړول شي او هغوی ترې خوند واخلي؟

**غربيان له شرقي شاعرۍ سره هېڅ وخت نابلده نــه وو، لــه فارســي شاعرۍ سره بلد دي، هلته يې پر دې شاعرۍ ډاکتــرۍ اخيســتې دي، دغه راز له پښتو ادبياتو سره، د خوشال، رحمان بابا، هجري، کاظم خان شيدا، له شاعرۍ او ادبياتو سره خلک بېخي ډېر بلد وو، پر هغوی يــې ډاکترۍ اخيستي، خصوصاً په روسيه او انګلستان کې د پښتو ادبياتو په باب ډېرې څېړنې شوې دي او اوس هم خلک ورسره بلد دي، خــو کــه چېرې له ما څخه د پښتو د اوسنۍ شاعرۍ په باب پوښتنه کوې، نو زموږ شاعرۍ په هېڅ صورت شاته پاتې نه ده او که چېرې ترجمه شي، نو زه پر دې يقين لرم چې هلته به هم خلک ترې ښه خوند واخلي او هم بــه سبا ورځ پرې ماسترۍ واخلي.**

زيات تخنيکي او ان فزيکي کار د شاعر پر شعري زېږېدنې څــه اغېز لري؟

**د بل چا د ژوند په باب څه نه شم ويلی، خو زه يې ډېر متاثر کړی يم، ډېر يې له کاره ويستلی او ستړی کړی يم، ځکه چې له سهاره تر ماښامه**

یا ژباړه کوم یا میک ته ناست یم، چې دا دواړه زما کارونــه نــه وو، پــه افغانستان کې زما ډېر ښه او خوږ محیط پښتو ټولنه او د علومو اکاډمۍ وه. ما د ژوند خوږې ورځې هلته تېرې کړي، ځکه چې امضا به مې وکړه، نو بیا به مې هغه کار کاوه چې زما زړه غوښته او پر هغه به حکومت ماته معاش راکاوه. ما به کله کله ملګرو سره ټوکې کولې چې دا څومره عادل حکومت دی چې موږ خپل کتاب لولو او دوی موږ ته پیسې راکوي. هغه کار چې د سړي له مسلک سره جوړ وي نو بیا لویه نېکمرغــي ده، خــو اوس مې په اوونۍ کې پینځه ورځې ټولې په ډېر غیر مسلکي کار باندې چې زه ورسره هېڅ ډول علاقه نه لرم، مصرفېږي او دا یوازې د ډوډۍ د برابرولو لپاره دي. یوازې په کور کې شعر لیکم او تاریخ مطالعه کوم چې هغه بیا زما له کار سره اړیکې نه لري. زه فکر کوم ورځینۍ چارې سړی ډېر متاثر کوي.

سره له دې چې تاسې په نسبتاً خوشاله او سوکاله ټولنــه کــې اوسېږئ او ظاهري صورت مو هم ګلاب رنګــه معلــومېږي، خــوپر شعرونو مو یو ډول نهیلۍ سیوری کوي، دا له مهاجرت پرته کــوم بل علت هم لري؟

له مهاجرت پرته بل عامل نه لري، زه د خدای(ج) په فضل په کــورني ژوند کې له خپلې مېرمنې او اولادونو سره پوره صــمیمي ژونــد لــرم، یوازینی علت یې له هېواده لرېوالی دی. زما هېواد یادېږي، ما همېشــه خلکو ته ویلي، چې زما لپاره په دنیا کې جومات، جنــت او کعبــه اول کندهار دی او دویم پېښور. نه پوهېږم چې دغه دوه ښارونه مې ولې په نړۍ کې ډېر خوښ دي. زه په دې دوو ښارونو پسې هر وخت خپه کېږم،

**خاصتاً چې د ځوانو شاعرانو شعرونه لولم، زړه مې غواړي چې هره جمعه د دوی په منځ کې ناست وای، سړی یو شعر دوه شعره تصنعي ویـلای شي، ټول نه شي ویلای، نو ځکه زما په شعرونو کې د نهیلۍ رنګ دی.**

ستاسې په نظر د یو ښه او اوچت شعر ځانګړنې کومې دي؟

**د شعر کمال د شعر موسیقیت او د شعر شعریت دی، سړی چې خپله شعر وګوري بیا پرې قضاوت کولای شي، چې قوي دی، که ضعیف، خو یوازې دا وایم چې شعر باید دومره قوي نه شي چې د هغـو خلکـو لـه ذهني سطحې هم اوچت شي چې همېشه شعر لولي. د ښه شـعر بیـا چندان تعریف ځکه نه شم کولای چې د هر چا په نظر بېل تعریف لري.**

په تېرو شلو کلونو کې پښتو شعر د څومره والي او څرنګوالي له پلوه څنګه ارزوئ؟

**پښتو شعر ته اوس زیاتې هیلې شته، له پخوا څخه یې زیـات تـوپیر کړی دی، که روسانو افغانستان وران کړ، خو د دې ورانۍ ګټه بیا ادبیاتو ته ورسېدله. یو وخت چا داسې تصور نه کاوه چې پښتو کې به په دومره زیات شمېر ښایسته شعرونه وویل شي. په پښتو کې پخوا ښه شعرونه موجود وو، خوپه اوسني مقدار نه وو، اوس چې هر غزل او یا ازاد شـعر راواخلې تر هغه بل ښه خوند کوي.**

د شاعرۍ ترڅنګ دې نور کوم اثار لیکلي او یا هم ترلاس لاندې دي؟

**اوس خو مې یو تاریخ لیکلی چې په دې نږدې وختونو کې باید چاپ شي، دا کتاب (( د هرات پښتانه او ستره لوبه)) نومېږي. په دې اثر کې د ایران او برتانیې ترمنځ رقابت څېړل شوی دی، ایران غواړي د روسیې په**

**مرسته هرات د ځان کړي او برتانیه غواړي چې هرات د هغوی لاسته ور شي، دا په بېلابېلو پړاوونو کې د هرات تاریخ دی. نورې پروژې مې دادي: پښتانه په ۱۸مه پېړۍ کې، پښتانه په ۱۹مه پېړۍ کې او پښتانه په ۲۰مه پېړۍ کې. دا هر یو ځانته جلا جلا اثر دی.**

د پښتو په اوسنۍ شاعرۍ کې دې د چا شعرونه ډېر خوښ دي؟

**شاعران زما په خیال داسې دي لکه ګلان، هر یو ځانته بېل رنــګ او بېل بوی لري او بېل ښایست، زما لپاره هر شاعر جلا جلا ګل دی، جــلا رنګ لري او جلا خوند، ماته د هر شاعر کلام خصوصاً د ځوانو شاعرانو شعرونه ډېر خوند راکوي.**

د موسیقۍ او شعر ترمنځ اړیکي څنګه څېړې؟

**موسیقي شعر د ټولو خصوصاً د بېسوادو خلکو غوږو ته رسوي، هغوی کتابونه نه شي لوستلای، نو که یو سندرغاړی یو شعر په خپل اواز کې د خلکو غوږو ته ورسوي، نو قوت یې څو چنده زیاتېږي، خو کــه چېــرې شعر موسیقۍ ته وقف شي، نو په دغه وخت کې د ابتذال خواته ځي.**

وروستۍ پوښتنه مې سیاسي غوندې ده: تاسې د یو مهم هېواد په سیاسي - تبلیغاتي دستګاه کې کار کوئ، دلتــه داســې اټکــل کېږي چې تاسې به له حالاتو ژر خبرېږئ! ایا په نــړدې راتلــونکي کې داسې هیله شته چې د افغانستان دا غمیــزه نــوره پــای تــه ورسېږي؟

هېڅ ولس له داسې ستونزې سره نه دی مخامخ شوی، چې ســـړی د هغې ستونزې حل ناممکن وبولي، افغانستان پخوا هم له سختو ستونزو سره مخامخ شوی، یو وخت په افغانستان کې اتیا کاله پرله پسې ګډوډي راغلې، خو افغانستان د هغه اغتشاش له دورې څخه هم ووتــه، ســـړی ورته هیله کوی شي، دا چې څه وخت دا ستونزه حلېږي، نــو ســـړی د وخت دقیق اټکل نه شي کولای، خو که څوک له ما څخه وپوښتي چې دا ستونزه به حل شي، نو ورته وبه وایم چې زه په دې ایمان لرم چې حل کېږي.

# ترڅو چې په افغانستان کې قانون حاکم نه شي د مطبوعاتو ازادي ممکنه نه ده

ښاغلی حاجي سیدداود د هېواد له ډېرو تکړه ژورنالېستانو او د ژورنالېزم له لویو خدمتګارانوڅخه دی، ده دجهاد په کلونو کې په



ډېرو سختو حالاتو کې افغان نشراتي مرکز فعال کړ او له دې لارې یې ټولې نړۍ ته د افغانانو اوازونه او فریادونه ورسول، دغه راز یې په سلګونو ژورنالېستان وروزل او ټولنې ته یې وړاندې کړل، حاجي سیدداود پر ژورنالېستکو خدمتونو سربېره هېواد ته یو لړ نور یاد وړ ټولنیز خدمتونه هم وکړل او په سیاسي ډګر کې یې هم د ملي ارمانونو د بري لپاره ډېرې هلې ځلې او ستاینې وړ مبارزه وکړه، دی اوس هم خپلو دې ډول ملي او فرهنګي هڅو او فعالیتونو دوام ورکوي. دا مرکه یې له پورتنی متن سره یوځای د طالبانو نظام تر ړنګېدو نږدې اته میاشتې وروسته هیلې د (۱۳۸۱ل) کال (۳)مه ګڼه کې خپره شوې ده چې دلته یې تاسو لوستو ته رابولو:

**که تر هرڅه دمخه د افغان نشراتي مرکز یا میډیا سنټر د فعالیتونو نچوړ راته ووایئ ډېره مهرباني به مو وي؟**

افغان نشراتي مرکز له پنځلسو کلونو را په دېخوا د پاکستان په صوبه سرحد کې د ویدیو، عکاسۍ او د خبرونو د ټولولو په برخه او همدارنګه دیو شمېر لنډې مودې کورسونو او راډیو ټلویزیون د انستیتیوت په دایرولو کې خپل فعالیتونه ترسره کوي، په دې موده کې مو تقریباً درې زره ساعته ویدیویي مطالب د افغانستان له (۲۹) ولایتونو نه راټول کړي دي، دغه ویدیویي مطالب یوازې په جګړې یا مهاجرت پورې اړه نه لري، موږ هغه موضوعات چې په افغانستان کې منځته راغلي لکه ښوونه او روزنه، کرکیله، روغتیا، عادي ژوند او همدا ډول د خلکو مهاجرتونه، جرګې او ځیني نور په دغه ارتباط باندې موږ ویدیویي مواد د افغانستان له (۲۲۶) ولسوالیو نه راټول کړي دي.

د عکاسۍ په برخه کې مو تقریباً یولکو پنځوس زره رنګه، تور اوسپین عکسونه، اولترایکسایلډیدرز او همدا ډول (۲۰۰۰) ساعته راډیویي مطالب په خپل ارشیف کې ساتلي او همداسې مو نورو راډیو ګانو ته ورکړي دي. زموږ د لنډې مودې په کورسونو کې تقریباً درې سوه شپېته کسه خبریالان، درې سوه شپېته کسه کمره مینان روزل شوي، چې ځیني یې اوس عملاً د افغانستان راډیو ټلویزیون سره کار کوي او یو شمېر یې په غیر دولتي موسسو کې کار کوي، د افغانستان د راډیویي تعلیماتو انستیتیوت چې تقریباً په (۱۹۹۰_ ۱۹۹۱م) کلونو کې یې دوه درې دورې شاګردان فارغ کړي، چې ددوی شمېر هم (۴۰)

تخنیکګرانــو او څلوېښتــو پروډیوســرانو تــه رســېږي، ددغــه انستیتیوت موده یو کلنه ده چې زیاتره هغه استادان چې په کابل کې د ژورنالېزم په څانګه کې تدریس کوي، له موږ سره همکاري لـري. دلتـه تقریبـاً هـر کـال (۲۰) کسـه پروډیوسـران، شـل کسـه تخنیکګران روزل شوي دي.

تـر دې وروسـته کلـه چـې پـه افغانسـتان کـې د طالبـانودوره وه زیـاتره مـو د عکاسـۍ، ویـدیویي فعالیتونـه نـه درلـودل، د افغـان نشراتي مرکز یو شمېر نوري پروژې لکه دمیډیا یانې د ډلـه ییـزو رسـنیو سـروې کـول، پـه افغانسـتان کـې دا معلومـول چـې د افغانستان خلك کومې راډیوګانې اوري او خپل ورځني معلومات لـه کومـو منـابعو څخـه لاسـته راوړي. مـوږ تقریبـاً درې ځلـي پـر (۱۹۹۰ پـر ۲۰۰۰م) کـال او اوس درې میاشـتې مخکـې تقریبـاً دوه زره غوښتنلیکونه چې د افغانستان خلك ورځني معلومات لـه کومو منابعو نه ترلاسه کوي، ترتیب کړي، بیا په دغو منابعو کې کومه سرچینه زیاته اوري، کوم اخبار زیات لوستل کېږي، کومـه مجله په خلکو کې محبوبیت لري، لـه دې سروې سره مـوږ دعامـه افکـارو سروې پـه افغانسـتان کـې کـوو، چـې پـر (۲۰۰۰ م) کـال تقریبـاً شـپږزره غوښتنلیکونـه مـوږ د افغانسـتان د راتلونکـو حـالاتو، ښـوونې او روزنـې لپـاره ترتیـب کـړي پـه تېـره بیـا پـه دې سروې کې مـوږ جوتـه کـړه چـې د افغانسـتان خلك د ښځـو لـه کـار سره څومره علاقه لـري، یـانې واقعـاً دوی غـواړي چـې ددوی لـوڼې ښوونځي ته ولاړې شي، ددوی لوڼې په دفاترو کې کار وکړي.

دغه سروې ګانې چې موږ سره پرتې دي له دې سره موږ یو شمېر ګردي مېزونه چې تقریباً له څو کلونو را په دېخوا په نړیوالو راډیو ګانو په تېره بیا بي بي سي، امریکا غږ همدا اوس د ازادۍ راډیو، دغه کسان چې راډیوګانې اوري له دغو راډیو ګانو نه څه ترلاسه کوي، ددغوراډیو ګانو ګټې څه دي، یانې دغه راډیو ګانې څه شباهتونه او توپیرونه سره لري. په دې اړه مو یو شمېر ګردي مېزونه دایر کړي او بیا یې نړیوالو منابعو ته ورکوو چې په افغانستان کې میډیا څومره رول لوبولای دی.

دغو اثارو خو هغه وخت هم تاریخي ارزښت درلود، خو د وخت په تېرېدو سره به نور ارزښت هم پیدا کړي، ددې اثارو دساتنې او پالنې لپاره څه ترتیبات شته؟

هو! دا ډېره ښه پوښتنه ده، موږ ددې لپاره چې له دغو موادو نه د افغانستان ځوان کهول او هم هغه څېړونکي چې غواړي د افغانستان په تېر شل کلن، څلریشت کلن تاریخ ځان خبر کړي، موږ د امریکې د ویلیمزکالج سره قرارداد کړی هغوی موږ ته یو شمېر وسایل رالېږلي، موږ دا غواړو چې څه مواد چې په ارشیف کې لرو هغه درې کاپي کړو، یوه کاپي خپل دفتر کې وساتو، یوه کاپي کابل پوهنتون یا د افغانستان راډیو ټلویزیون په ارشیف کې وساتو، یوه کاپي باید په خارج کې و اوسي او دا مو له مخکې نه هم ورکړېدي، چې موږ دغه مواد لرو، دغه ویډیوګانې دي چې هم په افغانستان کې افغانان او هم په بهر کې خلک ترې ګټه اخلي.

**دې څو کلونو کې چې تقریباً تر لسیزې نه زیاته موده وشوه، کومو نړیوالو اژانسونو ستاسو له موادو نه ډېره ګټه اخیستې ده؟**

موږ په شروع کې درې ځانګې درلودې، یانې پر (۱۹۸۶م) کال کله چې موږ دا دفتر پرانیست پر (**۱۳۶۵**ل) کال کې موږ ډېرې هلې ځلې وکړې چې زموږ خبرونه، عکسونه، ویډیویي مطالب، نړیوال د خپلو رسنیو له لارې نشر کړي، په هغه وخت کې دا باور چا نه کاوه، د هغه وخت مشکل دا و چې تنظیمونه وو، دوی خبري اژانسونه درلودل، دوی فرهنګي کمېټې درلودې، دوی به مبالغه کوله، یو ټانک به یې سل ټانکه ښودل، یا دوی به مثلاً په یو جنګ کې ګډ وو، کله چې موږ په مسلکي معیار کار شروع کړ، نو موږ د یوې حادثې عکس، د حادثې ویډیویي فلم او دحادثې رپورټ درې واړه یوځای اژانس ته ورکول، یانې هغه څه چې په فلم کې و، هغه څه چې په عکس او خط کې و ټولو به له یو بل سره اړخ لګاوه. نو تر دې شپږو میاشتو وروسته زموږ خبرونه پرانس پریس، نیوزلینډ، اسوشیسټ پریس ته ورسېدل او ځینو نورو نړیوالو اژانسونو له موږ سره قراردادونه وکړل او هغوی زموږ خبرونه نشرول.

زموږ زیات ویډیویي مطالب په لندن کې د (I–T–M) ټلویزیون له لارې او (W–I–M) له لارې خپرېدل، پخوا ویزنیوز و، اوس رویټرنیوز دی، هغوی سره موږ قرارداد کاوه، د (۱۹۸۸ل) کلونو په شاوخوا کې کله چې (CNN) ډګر ته راووت، د اول ځل لپاره په

دغه سیمه کې موږ (CNN) سره هره اوونۍ درې دقیقې دنړیوالو ساعتونو په نامه یو پروګرام کې قرارداد وکړ چې د افغانستان په باره کې به یې هره اوونۍ درې دقیقې زموږ خلاصه خبرونه د خپل ټلویزیون له لارې نشرول، زیاتره زموږ عکسونه د (سیلما) چې د عکاسۍ نړیواله ایجنسي ده او په فرانسه کې ده، بلې (کمره کیس) په نامه چې په نیویارك کې ده دوی زموږ عکسونه اخیستل او زموږ ویډیویي مطالب زیاتره د ایران، چین، جاپان ټلویزیونونو او ددغو هېوادونو له ورځپاڼو څخه نشرېدل، خو زیاتره په دې وخت کې د امریکې غږ او بي بي سي له لارې خپرېدل.

**له نوي تحول سره زیاتره موسسې داخل ته انتقال شوي ددې مرکز د انتقال په باب ستاسې نظر څه دی؟**

له نېکه مرغه موږ هم د ۱۳۸۰ل کال په وروستیو شپو ورځو کې هغه مهال چې زه کابل ته ولاړم هلته ما سروې وکړه، چې موږ څنګه کولای شو خپل فرهنګي فعالیتونه له خپلو افغانانو ورونو سره اوږه پر اوږه په تېره بیا په ولایاتو ، ولسوالیو او علاقه داریو کې سرته ورسوو، بالاخره موږ پر دې باندې وتوانېدو چې د اسد په میاشت کې د افغان نشراتي مرکز اوونیزه (اراده) کابل ته انتقال کړو، اوس زموږ خپرونه (اراده) په کابل ښار کې چاپېږي او هلته وېشل کېږي او له هغه ځایه ننګرهار، لغمان، کونړ، میدان، هرات، کندهار او ځینو نورو ولایتونو ته لېږدول کېږي او په راتلونکي کې افغان نشراتي مرکز هیله لري چې په راتلونکي

نږدې وخت کې يو چاپخۍ هلته فعال کړي او خپله ورځپاڼه به تقریباً د کابل له ښار نه د هېواد ځينو ولايتونو ته ووېشي، کله چې مو چاپخۍ فعال کړ، نو موږ يو بل پروګرام هم لرو او هغه دا چې موږ څنګه کولای شو چې محلي راډيوګانې فعالې کړو، يانې اوس خو ډېرې راډيوګانې بي بي سي، امريکې غږ، ازادۍ راډيو او سهار په خير اوربدل کېږي، تقريباً زياتې راډيو ګانې شته خو موږ کوشش کوو که موږ وکړای شو افغاني پروډيوسران افغاني تخنيککران وروزو، د افغانانو په مرسته افغاني ستېشنونه جوړ کړو، که سبا ته دغه نړيوالې راډيوګانې ځي چې زموږ په ملك کې حد اقل دومره راډيوګانې خو وي چې خلك يې واوري او خلك د راډيو له خبرونو نه محروم نه شي.

## په افغانستان کې د مطبوعاتو له ازادۍ نه څومره ډاډمن ياست؟

زه دا عرض کولای شم، کله چې په يو ملك کې سېستم نه وي، کله چې په يو هېواد کې نظام نه وي، کله چې په يو ملك کې پر ټوپك باندې اتکا وشي، هلته هېڅ ډول ازادي نه شته. متاسفانه چې په افغانستان کې څلريشت کلنې جګړې زموږ دغه ټول بنيادونه نړولي دي او موږ ته په ميراث کې يو ويجاړ افغانستان، په اقتصادي، سياسي او فرهنګي لحاظ کمزوری افغانستان راپاتې دی، اوس موږ د نړيوالې ټولنې په مرسته هڅه کوو چې موږ د مطبوعاتو د ازادۍ پر لوري ګام واخلو، تر هغې چې د مطبوعاتو او نشراتو د ازادۍ په رڼا کې افغانستان يو سېستم

پیدا کړي او په افغانستان کې قانون حاکم شي او تر هغې پورې چې په افغانستان کې قانون حاکم نه وي افغانستان کې سېستم رامنځته نه شي تاسو په دې برخه کې ښه پوهېږئ دا مشکله ده چې موږ ووایو هلته د مطبوعاتو او نشراتو ازادي تظمینېدلای شي.

**تاسو دلته ډېر کار کړی، ډېره شتمني مو خوندي کړې که دفتر ټول کابل ته انتقال کړئ او خدای مه کړه کومه پېښه رامنځته شي دا به ډېره غټه ضایعه نه وي؟**

اوس له نېکه مرغه د افغانستان راتلونکې دنړۍ له راتلونکې سره غوټه شوې ده، که چېرې نړیوال بیا افغانستان له یاده وباسي او افغانستان ته شا کړي لکه څنګه چې په تېرو لسو کلونو کې یې کړې وه، هر ملك، ګاونډیو هېوادونو، او نړیوالو له افغانستانه صدمه ولیده، زه هیله مند یم چې اول به ګاونډیو هېوادونو په افغانستان کې له مداخلو او لاسوهنو څخه، له بربادیو او تباهیو څخه یو څه پند اخیستی وي، نړیوالو په تېره بیا امریکا هم پر دې باندې معتقد شوې ده چې په افغانستان کې سوله دمنطقې سوله ده، په افغانستان کې سوله د نړۍ سوله ده، نو ددغې خوشبینیو په رڼا کې موږ وایو که چېرې له یوې خوا موږ هغه افغانان چې دغه وطن ته غواړي یو څه کار وکړي او له بلې خوا ګاونډیان زموږ په کورنیو کې چارو کې لاسوهنه ونه کړي، نړیواله ټولنه له موږ سره مرسته وکړي، هیله ده چې هلته په تدریج سره یو باثباته هېواد رامنځته شي او هلته دغه فعالیتونه

لکه څنګه چې تاسو اشاره ورته وکړه، کوم چې موږ دلته کړي چې دا په خپل وطن کې، په خپل نظام کې د خپلو خلکو په منځ کې ترسره کړو، زه فکر کوم دا به په راتلونکي کې زموږ تاریخ روښانه ساتي.

**اوس به راشو سیاسي ډګر ته! تاسو پر هغه وخت چې دلویې جرګې خبره چا نه شوه کولای، د افغانستان د ملي زعامت د ټاکلو لپاره د لویې جرګې غوښتنه کوله، خو په بېړنۍ لویه جرګه کې چې د افغانستان ملي زعامت ټاکل کېده، تاسو حاضر نه وئ، ایا له لویې جرګې څخه مطمین نه وئ او که کومه بله ستونزه وه؟**

متاسفانه موږ لکه څنګه چې تاسو اشاره وکړه، ددغې لویې جرګې د کمیسیون له اعلان سره سم د خلکو په منځ کې یو ډول ناامیدي رامنځته شوه، که څه هم کوم کسان چې دغه کمیسیون ته پیشنهاد شوي وو، موږ یو بل سره ښه پېژندل، دوی دلویې جرګې له نوم سره حساسیت درلود، دوی له دموکراسۍ سره حساسیت درلود، نو دغه کسان چې کله انتخاب شول، په خلکو کې ددې کار عکس العمل ډېر منفي و او ما هم شخصاً په دغه ارتباط تر کومه چې زما له لاسه کېدل یو شمېر ورځپاڼو او نړیوالو اژانسونو سره خبرې وکړې، خو بدبختانه نړیوالې ټولنې او هغو هېوادونو چې غوښتل یې په افغانستان کې سوله راشي، هغوی ته داسې ویل شوي وو، چې په دغو شرایطو کې تر دې

زیات ښه کمیسیون نه جوړېږي او تر دې قابل خلك په افغانستان کې نه شته، یانې نړیوالې ټولنې په تېره امریکایانو پر ډېرو غلطو معلوماتو باندې اتکا وکړه او اوس هم دوی پر غلطو معلوماتو اتکا کوي، له دې پرته یو شمېر خلك دي چې دا وضعه امریکایانو ته بل ډول ښیي، یانې په دې مانا چې د خپل اقتدار د دوام په خاطر دا هلې ځلې کوي چې امریکایانو، غربیانو او نړیوالو ته ووایي چې په دغو شرایطو کې واقعي لویه جرګه نه کېږي، په دغو شرایطو کې هغه افغانان چې غواړي واقعاً افغانستان ته خدمت وکړي بېرته نه راځي، په دغو شرایطو کې د افغانستان بیا جوړول اسانه کار نه دی، موږ باید دغو قوماندانانو او ټوپکسالارانو ته موقع ورکړو او همدغه کسان چې دلته اوسېدلي او له تنظیمونو او جنګي ډلو سره تړاو لري دغه کسان ښه دي، نظر هغو کسانو ته چې هغوی سولې، دموکراسۍ او ثبات ته کار کوي، نو کله چې دغه ډول معلومات ملګرو ملتونو، امریکایانو او یو شمېر نورو اژانسونو ته ورکړل شول، ما له دغه نظر سره مخالفت وښوده او اوس هم زه په دې باور یم چې افغانستان ډېر رسېدلي کسان لري، هغه تعلیم یافته چې په داخل کې دي او زده کړي او مسلکي خلك چې په ایران، پاکستان او اروپا کې دي، دوی ټول غواړي چې په دې هېواد کې و اوسي او خپل هېواد ته خدمت وکړي، یانې هېڅوك نه غواړي چې افغانستان دې دیوې سیمې او یو ګروپ په کنټرول کې وي، افغانستان دې له یو قوم سره وي، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ

کور دی. نو که پر دغه اساس هر قدم پورته کېږي زه ورسره یم ، زه ددوی په خدمت کې یم زه په سر او مال، په وینو حاضریم خو که چیرې دغه ټول امکانات یانې زموږ ملي منافعې دځینو ډلو او اشخاصو د شخصي منافعو په خدمت کې وي، زه هېڅکله دغسې لویې جرګې، دغسې سیستم او ادارې سره کار هم نه شم کولای او توافق هم ورسره نه لرم، خو یو شی دی دا وطن پر ما حق لري زه ځان ددې وطن بچی ګڼم څه چې زما له لاسه کېږي هغه به کوم.

تاسو اشاره وکړه په لویه جرګه کې هغو خلکو ګډون کړی و چې د لویې جرګې له اصل سره یې مخالفت درلود ، نو ځینې خلك بیا دا خپله یو بری بولي ځکه هغه کسان چې د لویې جرګې له نامه سره یې حساسیت درلود هغوی هم په دې قانع شول چې لویه جرګه د افغانستان د سیاسي مسایلو یوه اساسي حل لاره ده، همدا پرمختګ بس دی چې اصل ومنل شو په بله لویه جرګه کې کېدی شي یو څه زیات پرمختګ وشي، تاسو څه نظر لرئ چې بېړنۍ لویه جرګه تر کومه حده مثبته وه او د راتلونکي لویې جرګې لپاره مو وړاندیزونه څه دي چې کیفیت یې اوچت شي؟

زه غواړم دومره عرض تاسو ته وکړم چې پر ۲۰۰۱م کال موږ شپږ زره مرکې د افغانستان په دننه کې وکړې، په شپږ زره مرکو

کې (۴۸۰۰) افغانانو یانې قاطع اکثریت د لویې جرګې پلوي کړې وه، په هغه وخت کې لا طالبان موجود وو، پاتې دوه درې سوه کسانو به د اسلامي شورا او ځینو هم نظر نه و ورکړی، خو (۴۸۰۰) تر (۵۰۰۰) پورې افغانانو د هېواد په ګوټ ګوټ کې یانې هغو افغانانو چې ددوی اواز چا نه و اورېدلای، هغو افغانان چې په سیاست کې ښکېل خلك نه وو، دا هغه افغانان وو چې په ۲۳کلونو کې یې د هر چا له لاسه ازار لیدلای و، خو کله چې دې پوښتنې سره مخ شول چې له کومې لارې غواړې د افغانستان مسئله حل شي، هغوی ټولو دلویې جرګې لاره غوره بللې وه، نو دغه لویه جرګه چې دایره شوه موږ غوښتل هغه عظمت چې لویې جرګې درلود او هغه مینه چې له لویې جرګې سره افغانانو درلوده، باید د هغه عظمت او هغې مینې پر بنیاد دا لویه جرګه جوړه شوې وای، نه دا چې موږ ته غربیان د لویې جرګې د جوړولو دستور راکړي، په دې چې لویه جرګه زموږ عنعنه وه هغه د امریکایانو عنعنه نه وه، امریکایان پر دې باندې نه پوهېدل، ملګري ملتونه پر دې نه پوهېدل، دا دملت غوښتنه وه ما په خپله دغه غوښتنه کړې وه، افغان نشراتي مرکز دا سروې د امریکا بهرنیو چارو وزارت، د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ته هم وړاندې کړې وه، موږ نه غوښتل چې د خلکو له ارزوګانو او هیلو سره دې لوبې وشي، له بده مرغه د داسې کمیسیون ټاکل او یا لویې جرګې ته د هغو کسانو رابلل چې هغوی په دې جرګه کې د ګډون مستحق نه وو، یا په لویه جرګه کې ځینو خلکو ته دا حق نه

ورکول چې هغوی د خپل راتلونکي او د خپل ملت د زعامت په اړه فکر وکړي، دغه ټول دلويې جرګې له عمليې سره مخالفتونه وو، دغو شيانو د لويې جرګې اهميت ته صدمه ورسوله، همدغه کسان چې اوس په کابل کې ناست دي، دوی د ډاکټر نجيب الله پرلويې جرګې ريشخند واهه، دوی د ببرك کارمل پر لويې جرګې ملنډې وهلې، اوس خلك وايي چې دغه لويه جرګه د هغوی د لويې جرګې نه هم کمزورې وه. زه په دې خفه يم چې لويه جرګه خپله ګناهکاره نه ده، لويه جرګه خپله هم محبوبيت لري او هم سپېڅلتيا، دا چې د خلکو غوښتنه عملي نه شوه په دې موږ خفه وو. خو بيا هم نظر جنګ ته، نظر تجزيې ته دا حالت ښه دی چې حد اقل دنيا توجه کوي، هلته سوله ساتی ځواك دی، هلته ديو شمېر سړکونو او ښوونځيو دبيارغونې خبره ده او نورې پروژې دي، اميد دی چې په راتلونکو انتخاباتو کې دغه ازادي افغانانو ته ورکړل شي او واقعاً هر هغه څه چې خلك وغواړي هغو ته د عمل جامه واغوستل شي، نه دا چې امريکا خپل فرمايش ورکړي، نه دا چې يو ګروپ د پيسو په زور په دې کې رامنځته شي، دا اوس زموږ او ستاسو او دفرهنګيانو وظيفه ده چې موږ بايد مخکې تر مخکې خلك پوه کړو، چې خپل اينده زعامت څنګه د ازادو انتخاباتو له لارې ټاکلای شي، نو زه فکر کوم چې بيا هم مخکې لوی پړاو دی او دا ډېر کار غواړي او دا څه چې شوي ياني نظر جګړې او تجزيې ته، دې لويې جرګې ته موږ ترجيح ورکوو او دا چې اوس موږ په داخل کې يو هلته کار کوو،

هلته فعالیت کوو دا هم یو مثبت ټکی دی او د اینده په خاطر باید کار وکړو، خو ځیني مسایل دي چې هغه موږ افغانانو ته د زیات احترام وړ دي چې له هغې جملې نه لویه جرګه ده، یانې موږ نه غوښتل چې دلویې جرګې تر نامه لاندې دې یوه فرمایشي جرګه جوړه شي، موږ غوښتل واقعي لویه جرګه جوړه شي، لکه څنګه چې خلکو د طالبانو تر حکومت لاندې ځایونو کې هم د لویې جرګې غوښتنه کوله او په هغه وخت کې چې نن د لویې جرګې نوم هم چا نه شو اخیستی، موږ داسې خلك لیدلي چې د طالبانو کوتك یې مانه خو د لویې جرګې نوم یې اخیسته، خو هیله ده چې په اینده کې اصلاحات رامنځته شي.

**تاسو ته خو ترټولو ښه تجربه ده چې په افغانستان کې په شلو پنځه ویشتو کلونو کې غټ جنجال دا و چې هر ګوند او تنظیم انحصار کاوه او د انحصار په نتیجه کې افغانستان ډېر تباه شو اوس هم په دولتي چوکاټ کې زیات انحصار موجود دی، ددې انحصار دله منځه وړلو حل لارې څه دي؟**

خبره دا ده چې په دغو ډلو ډلبازیو کې افغانستان هیڅ ګټه نه شي کولای، موږ که داسې لږ سره مخکې لاړ شو، کله چې شهید داود خان کودتا وکړه او هغوی هم کوشش کاوه چې یو شمېر باوري خلك رامخته کړي، یانې هغه کسان چې ده پېژندل هغه رامخته کړي او هغه کسان چې ده نه پېژندل که څه هم مسلکي

وو، خو دده له حکومت نه د باندې پاتې شول، چې نتیجه یې موږ ولیده، کله چې د خلق دموکراتیک ګوند راغی، دوی هم له نورو ګروپونو سره پراخه ملي جبهه رد کړه، ان نور خلك یې په راز راز نومونو له منځه یوړل، اوس هم په افغانستان کې په هېڅ صورت سره یوه ډله پرته‌ول افغانستان باندې حکومت نه شي کولای، یانې خلك دا حق نه ورکوي، خلك وایي چې په افغانستان کې د مسلکي کسانو یانې هغه کسان چې مسلکي پوهه ولري، هغه کسان باید دحکومت چارې په لاس کې واخلي، که دا مسلکي شخص هزاره وي، که دا پښتون وي، که تاجك وي او که ترکمن وي، دا که هرڅوك وي پر دې باندې د افغانستان خلك باور کولای شي، نظر دې ته چې یوې خواته یو ګروپ، یوه ډله رامنځته شي او بیا دې په دې ډله کې مسلکي پوهه هم نه وي، نو زه فکر کوم ددې نتیجه به لکه دخلق دموکراتیك ګوند، لکه دغو تنظیمونو چې د جهاد په دوران کې یا له (۷۱) نه تر (۷۵) پورې په کابل کې وو د ددوی ترمنځ خو هېڅ نوعه اختلاف نه و.

اختلاف خو په دې کې نه و چې موږ داسې دموکراسي غواړو، یا دا غواړو یا هغه، اختلاف یوازې په دې کې و چې دوی هر یو انحصار غوښته. نو زما په نظر یوې ډلې ته په افغانستان کې حکومت کول دا ډېره ګرانه خبره ده، ښه خبره به دا وي چې خلکو ته مراجعه وشي او له خلکو هغه کسان چې هغوی کولای شي

وطن اباد کړي، هغه کسانو ته په دولتي چارو کې، په حکومتي پوستونو کې ځای ورکړل شي، دغه یوازینۍ لاره ده، دغه مسئله چې خلك وايي پراخ بنسټه حکومت، د پراخ بنسټه حکومت اصطلاح باندې تقریباً ۱۴ کاله مخکې موږ کار کړی دی، دا اصطلاح په هغه وخت کې رامنځته شوې، چې تنظیمونو ویلې هغه څوك چې جهاد یې نه وي کړی، باید حکومت کې نه وي، هغه چا چې ټوپك یې نه وي ګرځولای باید حکومت کې رانه شي، موږ خلکو دا هلې ځلې پیل کړې چې نه جهاد یوازې ټوپك ګرځول نه دي، ډېر کسان دي چې هغوی مسلمانان دي، هغو کې عقیده شته، هغوی افغانستان باندې دردېږي او دا اوس هم خدمت کوي، هغوی د کاندیدو حق لري، هغوی د رايې ورکولو حق لري، دغه حق ترې ځینو تنظیمونو اخیسته او موږ د هغو تنظیمونو په مقابل کې وویل چې دې کې باید ټول افغانان سهم واخلي، خو اوس وخت د پراخ بنسټه حکومت نه دی چې موږ ووایو دا ددې او د هغه قوم حق دی. طبعاً هغه مسلکي سړی چې هغه پوهه لري، د کارتجربه لري، هغه پر دې پوهېږي چې د قومونو ترمنځ ملي یووالی، ملي وحدت او ملي ثبات څنګه راولو، نو دا خو په تنظیمي یا په منطقه یي خبرو پورې هېڅ تړاو نه لري او په اوس وخت کې زه فکر کوم د پراخ بنسټه اصطلاح هم نه په کارېږي، یوازینۍ اصطلاح چې اوس په افغانستان کې ورته باید احترام وشي هغه د کدرونو ده، هغه د

مسلکي کسانو ده، دغه کسان باید رامنځته شي، له هرې خوا نه چې وي هرڅوك چې وي، پر دوی باید اعتماد وشي، دغو خلکو ته باید د حکومت چارې وسپارل شي، زه فکر کوم دا مشکل به تر یوه حده حل شي.

## د افغانستان د ټولو کورنیو او بهرنیو ستونزو په نظر کې نیولو سره ددې هېواد راتلونکې ځنګه ارزوئ؟

تاسو پر دې پوهېږئ د افغانستان خلك له جنګ نه ستړي شوي دي، هېڅ شریف افغان جنګ نه غواړي، هېڅ شریف افغان بې ثباتي نه غواړي، دویمه خبره داده چې په سیمه کې هم اوضاع فرق کوي، یانې په دې مانا چې ګاونډیو هېوادونو په نوبت سره په افغانستان کې جګړو ته لمن ووهله، خو تاسو د ټولو عواقب ولیدل، شوروي اتحاد مو ولیده، ایران تاسو ولیده، پاکستان مو دسپتمبر تر حادثې وروسته ولیده او همدا ډول خپله امریکا او غرب د مخدره موادو مارکیټونه او بازارونه، دغه د افغانستان د جنګ عوامل او د هغه اغېزې وې چې پر هغوی باندې پرېوتې وې، خو زه فکر کوم له یوې خوا افغانان سوله غواړي له بلې خوا نه د سیمې په هېوادونو کې یو تغیر راغلی دی او هم نړیوال مجبور دي، یانې هغه شعار چې نن یې ورکوي چې په نړۍ کې جګړه نه غواړو، تروریزم نه غواړو، مخدره مواد نه غواړو، ددغو شیانو تقریباً په دغو لسو کلونو او یا په یوه حساب په درویشتو کلونو کې مرکزیت افغانستان و، اوس نو

نړیوال مجبور دي چې خپل شعار ته د عمل جامه ور واغوندي او دا کار لومړی له افغانستان نه شروع کړي، افغانان هم له دوی سره مرسته کوي، سمه ده په دې کې شك نه شته چې د ګوتو په شمېر افغانان په دغو جګړو، تروریزم او مخدره موادو کې ککړ دي، خو تر (۹۹) سلنه زیات خلك سولې، ثبات او ملي مرکزي دولت ته، ملي وحدت او دخاورې بشپړتیا ته لېواله دي.

ښاغلی حاجي صیب داود ستاسې د مفصلې او معلوماتي مرکې له امله ستاسو څخه ډېره مننه کوو.

تاسو نه هم مننه.

# زه جل وهلی یم باران ته اړ یم

دا مرکه ما له خدای بښلي ننګیال صاحب سره د (۱۳۷۳ل) کال په وروستیو ورځو کې کړې وه او د (۱۳۷٤ل) کال د وري پر لومړۍ نېټه، له پېښوره خپرېدونکې ارمان جریدې په لومړۍ ګڼه کې خپره شوې ده. دا دی دلته یې قدرمنو لوستونکو ته په خپل آر متن وړاندې کوم.

اسحق ننګیال زموږ د هېواد پیاوړی او نومیالی شاعر دی، د ده په شعرونو کې ښکلا، مینه، عاطفه، تفکر او د شعر نورې ښکلاوې له ورایه ځلېږي. ننګیال تراوسه پورې د شعرونو څلور مجموعې (ډالۍ، سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي، هغه شپېې هغه کلونه او ځاځکي ځاکي) خپرې کړې دي، د شعرونو دوه مجموعې یې اوس چاپ ته تیارې دي. موږ په دې ګڼه کې له ښاغلي



**اسحق ننگیال سره لنډه مرکه کړې چې په ګډه یې لولو.**

پوښتنه: څرنګه چې ماته معلومه ده ستاسو په شــعرونو کــې د نورو هنري ښېګڼو ترڅنګ، عاطفه ډېره زیاته ځلا او جلا مــومي، ان کله کله د شعر پر فکري اړخ عاطفي خوا ډېره درنه وي، کېدی شي د دې خبرې لامل را په ګوته کړئ؟

**ځواب: ښایي ژوند مې پر همدغو ســتنو ولاړ وي، ښــایي ژونــد مــې همداسې وي او عاطفه مې په وینو کې ګډه شوې وي او هغه چــې ډېــر عاطفي نه وي زما په اند نه شي کېدی چې ډېر ښه شاعر شي. یوازې اند شعر نه دی، یوازې عاطفه او په همدې توګه له اند او عاطفې پرته تخیل او تخییل هم شعر نه دی، دا ټول باید لاسونه سره یو کړي څو چې ښه شعر ترې جوړ شي.  خو دا چې ستاسو په اند زما په شعر کــې عــاطفي برخه زوروره ده، هم تصادفي خبره نه ده، د خپل ژوند یوه کیسه درتــه کوم:**

**د اوړي یوه تاوده ورځ وه، په دېره کې ناست وم، یوازې او تنها له خپلــو سوچونو سره لوبېدم، چې یوه ماشوم چې په یوه لاس کې یې مړ ژواندی چرګ او په بل لاس کې یې تېره چاړه وه راته راغی، چې چرګ یې حلال کړم، نه مې غوښتل چې خپل لاسونه په وینو ســره کــړم، خــو چــرګ ناروغه و، مړ کېده او هلک نارې راته کولې، چرګ مې حلال کړ خو اوس اوس چې له هغې ورځې نه درې کاله تېر دي، هغه چرګ مې خوب تــه راځي. وسله وال وي په ټوپک مې ولي، چاړه ورسره وي حلالوي مې. په اوونۍ کې یو ځل داسې خوب وینم.**

پوښتنه: ځینې شاعران تر یو ټاکلي وخت پورې په ډېر ســرعت سره وده کوي خو بیا ورو ورو د نزول خواته درومي پــه دې بــاب تاسو څه وایئ او علت به یې څه وي؟

**ځواب: څو کاله دمخه د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې د پښتو ژبې یوه سپین ږیري او نامتو شاعر خپل شعرونه لوستل او موږ کره کتنه پرې کوله، همدغه پوښتنه مې له هغه نه هم وکړه او ورته مې وویــل: چــې پخواني شعرونه یې شــعرونه دي او د وروســتیو کلونــو شــعرونه یــې ببولالې، هغه راته وویل: هغه وخت یوه ځوانه او سمسوره ونه وم، چــې ډېرې او خوږې مېوې مې راوړلې، خو اوس هغه زړه ونه یم چې مېوې مې اومې، بدرنګې او ترخې دي. هغه په دې باور و چې شعریت او هنریت د شاعر په ځوانۍ کې وي، خو کله چې زوړ او کمزوری شي، شعر یې هــم ورسره زوړ او کمزوری شي. خو زه په دې ټکو باور نه لرم. شاعر چې زوړ شي، د ژوند د هرې ورځې په نوې کېدو سره یې باید شعر نوی شــي او کله چې مړ شي باید شعر یې هم د کلیمې په رښتینې مانا تکمیل شي، خو د ژړا خبره داده، چې خبره یوازې په سپین ږیرو کې نه ده، زموږ ډېر زلمي او ځوان شاعران د یو څه مودې لپاره داسې راوټوکېدل چې زموږ د سبا هیلې یې هم له ځانه سره وټوکولې، خو هغوی ډېر ژر د شــهرت، شعریت او هنریت له اسمانونو راولوېدل او ډېر ژر یې ببرته په خــاپوړو پیل وکړ.**

**سوچ کوم چې یو علت دغو ځوانو شاعرانو ته به بېځایه لاس پړه کونــو کې نغښتی دی او زموږ یو شمېر نامتو شاعران همدا چې د شهرت پوړیو**

**ته ورسېږي سوچ کوي، چې منزلونه او سفرونه تمام شول. تنبل شي او غلي شي.**

پوښتنه: تاسو ولې ازاد شعرونه زیات لیکئ او غزل کم؟

**ځواب: کله چې الهام ذهن، زړه، لاسونه او پښې رانه واخلي او ویلو ته مې وهڅوي او قلم پورته کړم، په هغو شېبو کې زه ددې فرصت نه شم موندلی، چې د شعر په فورم سوچ وکړم، په هغو شېبو کې زه د شعر په سوچ کې یم، په هغو شېبو کې د فورم د ټاکنې واک له ماسره نه وي. ز جل وهلی یم باران ته اړ یم او ماته دا مهمه نه ده چې باران په دښتو کې راباندې واوري او که په کوڅو کې.**

پوښتنه: ځینې شاعران د هنري شعر په نوم تکلفي او تصـنعي نظمونه وړاندې کوي او ځینې نور د فکر او محتوا د ښه بیـان پـه پلمه د شعر د لفظي ښکلا او هنري تلازماتو له راوړلـو څخـه ډډه کوي او یا کېدی شي له وسه یې پوره نه وي، ستاسو نظر پـه دې باب څه دی؟

**ځواب: زموږ د پښتو نننی شعر تر ټولو لویه سـتونزه همـدا ده. یـوه ځیرې او زړه لمن مو مخې ته پرته ده. یوه خوا یې ګنډو، بله خوا یې رانه ځیرې شي. ددې لپاره چې د شاعرانو په منځ کې ځان مهم، هوښیار او نوښتګر وښیو، تصنع ته لاس اچوو او کله هم چې وغواړو د تعهد نغاره سینې پورې وتړو هنریت او شعریت رانه هیر شي. خو اصـلي سـتونزه داده چې موږ تراوسه شعر نه دی پېژندلی، مـوږ اکثـره پـه دې هکلـه ((بېسوادان)) یو. یوازې لیکلو ته مو ملا تړلې، لوستلو ته ړانده یو.**

پوښتنه: د خپلو شعرونو د ودې له بهیر څخه راضي یې؟

**ځواب: نه، هېڅکله هم نه. زه چې ځان ته ګورم او خپلو هستونو تـه ګورم سوچ کوم، چې هېڅکله به شاعر نه شم، زه لا تراوسه شاعر نه یم شاعر ګوتی یم.**

پوښتنه: کېدی شي د خپل شاعرانه ژوند یوه خوږه او یوه ترخه خاطره راته بیان کړئ؟

**ځواب: خواږه خو مې په ژوند کې نشته، زه یې له ترخو هست کړی یم یوه خوږه کلیمه هم زما د ژوند په کتاب کې نشي لوستلی. خو زه چې د ترخو درمند یم کومه ترخه دانه به دې مخې ته کېدم؟ خــو اوس اوس کومه خبره چې ځوروي مې او موسکاوې مې راته وژني دا دی چې زه په خونړي کابل کې د شعر اورېدونکی نه لرم، لکه دمخه مې چې وویل: زما د شعر اورېدونکي دېوالونه دي. زه مې شعرونه دېوالونو ته اوروم. ماته به له دې نه بله ترخه خاطره څه وي؟**

پوښتنه: د لغمان د شاعرانه سیمې په باب چې تاسو پکې رالوی شوي یې او هم په دې سیمه کې د ډېرو شاعرانو د ټوکېدو علــت او د خلک د شعر خوښوونې او ادبپالنې په باب غواړم ستاسو لــه نظر څخه خبر شم.

**ځواب: رښتیا خبره داده چې که زه شاعر یم، نو لغمان شاعر کړی یم. دا ځکه چې لغمان شاعر دی، لغمان ښکلا ده او لغمان په خپله د شــعر الهه ده. د هغه ځای غرونه شاعران دي، سیندونه یــې شــاعران دي او پولې، لښتي یې شاعران دي، خلک یې خو پرېږده، او که شعر، ښــکلا،**

**ادب او ادب پالنه له لغمانه واخلې، خو په یوه توت هم نه ارزي ؛په لغمان کې له دو پرته نور څه دي؟**

پوښتنه: د یوه شــاعر او لیکــوال د ادبــي شخصــیت او ځــاني شخصیت په باب ستاسو نظر څه دی؟

**ځواب: دا ډېره ستونزمنه پوښتنه ده چې ځواب ورکــول ورتــه یــو خروار کاغذ غواړي. خو همدا شېبه زما ځواب دادی، چې زموږ خوږې، سرې او ښکلې منې په کار دي، زه به هېڅکله د منو د باغ د عــرض او طول او د منو د باغوان د نامه او کورنۍ پوښتنه ونه کړم. زما منې خوښې دي، نه باغوانان، باغوان هرڅوک چې وي، وي دې، زما پرې څه؟**

# افغانستان یوې ملي ستراتیژۍ ته اړتیا لري

**ښاغلی ډاکټر محمد ابراهیم شینواری د افغانستان یو ځوان لیکوال او د طب څانګې یو دقیق ډاکټر دی. تراوسه یې په طبي او ټولنیزه برخه کې څو عنوانه کتابونه چاپ شوي او په لسګونو علمي لیکنې یې خپرې شوې دي.**



**د هیلې مجلې له پیله بیا تر دې دمه یې د هیلې په زیاتو ګڼو کې مقالې خپرې شوې دي. دا مرکه یې هم د هیلې د پرله پسې شپږم کال (۱۳۸۱ل) کال په څلورمه ګڼه کې خپره شوې ده، چې تاسې یې لوستو ته رابولو:**

له دود سره سم که د هیلې درنو لوستونکو ته خپل ځان ور وپېژنئ خوښ به شو؟

**تر ټولو دمخه د هیلې درنو لوستونکو ته سلامونه وړاندې کوم. د پېژندنې په باب باید ووایم چې زه محمدم ابراهیم شینواری د کونړ ولایت د شیګل په شینکوړک کې زېږېدلی یم. لومړنۍ زده کړې مې په کونړ، جلال اباد او سروبي کې کړې دي. لېسه مې هم په سروبي کې**

**لوستې ده او بیا له کابل طب څخه فارغ شوی یم. دا شپږ کاله کېږي چې د عامې روغتیا په برخه کې کار کوم.**

لیکوالي دې له کوم وخت څخه پیل کړه او اساسي علت یې څه و؟

**ما لیکوالي د ښوونځي له شپږم ټولګي څخه پیل کړې وه، خو چې پر ۱۳۶۷ل کال پوهنتون ته ولاړم، له نورو لیکوالو سره د راشه درشـــې او ملګرتوب له امله مې په کې یو څه پرمختګ وکړ، علت یې دا و چې زما پلار به لا هغه وخت چې زه د ښوونځي په لومړي او دویم ټولګي کې وم، کور ته مجلې او کتابونه راوړل او د لیکوالانو نوم به یې ډېر دروند یاداوه، نو ما له هماغه وخته له کتاب، لیکوال او مطالعې سره شـــوق درلـــود او لیکوالان مې د ټولنې تر ټولو شعوري خلک او لیکوالي مې انســـانانو او هېوادونو ته د خدمت تر ټولو غوره لار بلله.**

په پیل کې دې شعرونه هم لیکل، خو دا ډېره موده کېږي چې په مطبوعاتو کې دې شعرونه نه خپرېږي، شاعري دې پرې ایښې که څنګه او که پرې ایښې دې وي علت یې څه دی؟

**هو! ما څه شعرونه لیکلي دي، زه چې کله پوهنتون ته لاړم، هلته زما ډېر نږدې ملګري اسمعیل یون صیب، ممتاز ارمان صیب، لال پاچا ازمون صیب، تکل صیب او دغه نور ځوان شاعران وو، موږ همدا راز د اســـحق ننګیال صیب، عارف خزان صیب او نورو شاعرانو ملګـــرو ســـره راشـــه درشه درلوده، نو دغه وخت له دوی سره په مباحثو او د شعر پـــه بـــاب مطالعې زه پر دې پوه کړم چې شعر په پوره مانا یو ګران کار دی. شـــعر**

چې هنر، شعریت، پیغام، ښکلا ولري باید په ډېر زیار ولیکل شي، د شعر لپاره باید ریاضت او د نفس د پاکۍ مجاهده وشي. د فکري تمرکز تمرین وشي، د عاطفې او احساس جذبه په ځان کې پیاوړې شي او پر ژبــه او الفاظو حاکمیت پیدا شي. که څه هم ګرانو مشرانو استاد خالق رشید او استاد هېوادمل صیب او زما پورتنیو یادو شویو ملګرو او نورو دوستانو زه هڅولم چې باید شعر ویلو ته دوام ورکړم او یو ځل خو لا مــا د ځوانــو لیکوالانو د کلنیو جایزو په لړ کې جایزه هم واخیسته، خو ما دا یقیني کړه چې زه د شعر لپاره دغومره اړین ریاضت ته وخت نه لــرم. ماتــه دا غوره وبرېښېده چې خپلو خلکو او هېواد ته له علمي لارو چارو خدمت وکړم. د شعر اغېزه دایمي او تل پاتې هــم ده او ژوره هــم ده خــو زمــا تصمیم داسې شو چې نور دوام ور نه کړم.

ستاسو د لیکنو زیاته برخه د ټولنیزو- سیاسي مسایلو پر محور راڅرخي، ددې علت څه دی؟

زما د کتابونو موضوعات سیاسي نه بلکې طبي او ټولنیز دي او د مقالو ډیره برخه د ټولنیزو- سیاسي مسایلو پر محور راڅرخي . باید ووایم چې که څه هم زه د کوم سیاسي ګوند غړی نه وم او نه یــم او د زده کــړې څانګه مې هم طب دی، خو په تېرو دوه نیمو لســیزو کــې ټــولنیزو او سیاسي مسایلو دومره د افغان ولس پر ژوند محسوس او ملمــوس اثــر کړی دی چې هر څوک په دغه باب فکر کوي، بحث کوي او ځان په کې دخیل ګني. د ارستو په وینا انسان یو سیاسي حیوان دی او هر انسان

**حق لري چې د خپل ژوند او سرنوشت د کلیدي مسایلو په باب خپـــل فکر وکړي او نظر څرګند کړي.**

په طبي برخه کې ستاسو یو لړ لیکنـــې او همـــدا راز د کتـــابونو سمون یو غوره کار ګڼل کېږي، تراوســـه دې پـــه دې برخـــه کـــې څومره کار کړی دی او د نور کار تکل هم لرې او که نه؟

**دا زما یوه پخوانۍ هیله ده، چې ټول افغانان په خپلو برخو کې د لیکنو او ژباړو له لارې د هېواد د علمي، فرهنګي پانګې په شتمنۍ کې برخـــه واخلي، موږ ته دا موقع هله په لاس راغله چې زموږ ملګرو د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جوړه کړه ( البته دا کار موږ د خوشحال فرهنګي ټولنې له جوړېدو سره سم پلان کړی و.) ما له همدغو امکاناتو څخه په ګټه پورته کولو په خپله دوه طبي کتابونه تالیف او چاپ کړل او د طب د پوهنځي د استادانو او ځینو نورو ورونو (۷) عنوانه طبي کتابونـــه مـــې اډیټ او چاپ کړل.**

**البته ما یو دوه نور غیر طبي کتابونه هم وژباړل چې د ملګرو په مرسته چاپ شوي دي. د دوام ورکولو په برخه کې باید ووایم چې غواړم دغـــه کار ته دوام ورکړم او له نورو ملګرو سره هم تر خپله وسه مرسته وکړم.**

ستاسو په نظر د پښتو ژبې علمي کېدنې ته څه کول په کار دي؟

**د پښتو ژبې علمي کېدنې بهیر باید د پښتو ژبې د پرمختیا له عمومي بهیر سره یوځای پرمخ لاړ شي. زما په اند باید دا بهیر په لاندې برخو کې پیاوړی شي:**

## ۱- په دولتي چارو کې:

❋ په اساسي قانون کې د ژبې روا او معقول حق تسجیل شي.

❋ په دولتي ادارو او چارو کې شامله شي.

❋ په ښوونځیو او پوهنځیو کې د زده کړې او تدریس ژبه شي (البته په هغو سیمو کې چې پښتانه اکثریت جوړوي او کابل کې دې دواړه ژبې پښتو او دري د زده کړې ژبې وي).

❋ په راډیو تلویزیون، خپرونو او مطبوعاتو کې دې خپل متناسب ځای ونیسي.

## ۲- په نا دولتي چارو کې:

❋ ازادې فرهنګي ټولني دې، دې کار ته ملا وتړي.

❋ فرهنګپال سوداګر دې ددې خدمت لپاره مرستې وکړي.

❋ شخصي فرهنګي موسسې دې په دې باب نوښتګر کارونه ترسره کړي.

تاسو د هېواد له سیاسي او ټولنیزو حالاتو خبر یاست، د افغانستان راتلونکی درته څنګه ښکاري؟

دا ډېره عامه او ګرانه پوښتنه ده، دا چې حالات کوم لوري ته ځي او څه منځته راځي په دقیق ډول یې ویل ګران دي، خو عامې نښې نښانې داسې دي، چې افغانستان اوس عملاً د یوې ډلې په انحصار کې دی او په راتلونکي کې به انحصار ونه چلېږي، نو طبیعي ده چې د یوې مدني ټولنې پر لور ګامونه واخیستل شي.

انحصار ځکه نه چلېږي چې موږ ته تجربه شوه، د خلقیانو حاکمیت دومره انحصاري و، چې د ((انقلابي شورا له رئیس)) څخه تر ((علاقه دار)) پورې د دوی ((ملګري)) ټاکل شوي وو. ملت بې وسلې و، بهرنۍ مداخله ډاګیزه نه وه او ملت هم ویده و. ترې راوروسته د روسي لښکرو او برچو په زور ببرک کارمل هم ددغه انحصار د ټینګښت لپاره هڅې وکړې، خو نتیجه یې ورنه کړه، دوی مجبور شول چې د ګورباچوف د ((نوی سیاسي تفکر)) په تقلید ملي روغه جوړه اعلان کړي او لږ تر لږه په نظریاتي ډول له انحصار ګرۍ څخه تېرشي. بیادمجاهدینو یوې ډلې اوترې راوروسته طالبانو هم د انحصار هڅې وکړې، خو تجربې ناکامې وختې نو اوس هم نتیجه نه ورکوي او دا په دې دلیلونو چې:

ــ سره له دې چې امریکایان او نړیوال سوله ساتي په افغانستان کې فعال حضور لري، د هېواد په ډېرو سیمو کې د مرکزي حکومت او شمال ائتلاف امر نه چلېږي.

ــ شمال ائتلاف په خپله پر څو غیر متجانسو ګروپونو وېشل شوی دی.

ــ د دوی په منځ کې د نظار شورا ظاهراً متحده ډله هم د رهبرۍ په فقدان اخته ده او تر مسعود وروسته د یو وړ رهبر د نشتوالي له امله دوی د یو موټي سازمان په توګه کار نه شي کولی.

ــ ملت د انحصار ګرو ډلو له اعمالو ډېر ستړی شوی دی او ذهناً دې ته تیار دی چې د انحصار ګرۍ پر خلاف له هغو ملي او ولسي حرکتونو سره مل شي چې د اسلامي ارزښتونه او د افغانستان ملي ګټو ساتنه یې د کار په محور کې وي.

ـ نړيواله ټولنه هم وجداني مسئوليت لري او هم د خپلو ويناوو او ژمنو پر اساس مجبورېږي، چې د ډيموکراسۍ، قانونيت او پلوراليزم پر لوري د افغانانو د روا هڅو ملاتړ وکړي.

ـ بهرني هېوادونه (ايران، روسيه، عربــي هېوادونــه، پاکســتان) پــه افغانستان کې متضادې ګټې لري او انحصار ګري نه غواړي، ځکه ورتــه مخالفين پيدا کوي چې دا بيا د هېواد په ضرر ده او د تباهۍ پر لور يــې بيايي.

نو په لنډيز سره به ووايو د افغانستان راتلونکي کې د يوې مدني، ملي ټولنې د جوړېدو امکانات ډېر دي، خو په دې شرط چې ملي اشخاص او ځواکونه يو مدبرانه، له جرئت ډک سنجول شوی او منسجم خوځښت پيل کړي، دوام ورکړي او تر بري يې ورسوي.

په افغانستان کې د سياسي انحصار د مخنيوي لپاره څه کول په کار دي؟

د سياسي انحصار د مخنيوي لپاره په کار ده چې تر ټولو لومړی افغانان د انحصار غوښتنې پر ځای پر يو ملي - اسلامي ، غيــر انحصــار طلبــه ولسواک بديل فکر وکړي، اقدام ته راودانګي او منسجم او هدفمند کار ترسره کړي. دويم دا چې ملي اردو او ملي پوليس د يوې ډلې له اختياره ووځي.

له بلې خوا نړيوال پر دې قانع کړل شي چې انحصــار غوښــتونکي د دوی د اوږدې مودې ملګرتيا نه شي کولای او د ملت له نارضايتۍ سره دمخامخ کېدو په صورت کې له ستونزو سره مخ کېدونکي دي.

ځینې کسان د افغانستان د بحران د اوږدوالي یو علت د یــوې ملي ستراتیژۍ نشتوالی ګڼي، ستاسو په نظــر اوس یــوې اوږدې ملي ستراتیژۍ ته اړتیا شته او که نه؟

**دا ډېره مهمه خبره ده که افغانستان پیاوړې ملي ستراتیژي درلودلای له دومره ستونزو سره نه مخ کېده. دا ســمه ده چــې زمــوږ سیاســي، جغرافیاوي موقعیت داسې دی چې د هر فاتح او زورور د هدف وړ ګرځو او باید له دې لارې خپلې نظر وړ سیمې ته ځان ورســوي، خــو د یــوې روښانه ملي ستراتیژۍ نشتوالی د بهرنیانو له بدو نیتونو سره مرســته کړې ده چې په اسانۍ په افغانستان کې نفوذ وکړي.**

**د افغانستان تېر حکومتونه په دې نه دي توانېدلي چې د افغانستان د ملي هویت، په ملي هویت کې د مرکزي ټکیو، ملي ژبې، ملــي تــاریخ، ملي ګټو، د نړیوالو ګټو او ملي ګټو ترمنځ د توازن، د اسلام د اساساتو د رول (نقش)، د اسلامي او ملي ګټو ترمنځ د توافق او توازن، فــردي او ټولنیزو حقوقو او د پرمختیا او سولې او ملي ټولنې لپاره د شــعارونو او ستراتیژیو په باب یو واحد فورمول وړاندې او د ټول ملت توافــق پــرې واخلي.**

**افغانان تر دې وروستنیو ناتارونو وروسته باید پر دې خبرو پوهېــدلي وي:**

**ـ ګاونډیان زموږ له ملي عظمت سره لېوال نه دي او له مــوږ ســره د خپلو ګټو د لومړي ګڼلو په صورت کې معامله کوي.**

ــ افغانستان بل بديل نه لري او د هر افغان ابرو يوازې په خپل کور کې خوندي ده. اوس نو ددې وخت دی چې افغانان پر يوې ملي ستراتيژۍ باندې فکر وکړي او د داسې شرايطو د رامنځته کولو لپاره هڅې وکړي چې ټول افغانان وکړای شي پرې توافق وکړي او د عملي کولو تعهد يې وکړي.

افغانان بايد د اوږدې مودې تاريخي او ټولنيزو واقعيتونو پــه دقيــق تحليل سره د راتلونکي په باب پوخ فکر وکړي او پخه، اوږده، متوازنــه ملي ستراتيژي جوړه کړي، چې له نړيوالو بهيرونو سره هم موازي وي.

په افغانستان کــې د ملــي غورځنګونــو د نــه پرمختيــا او نــه برياليتوب علتونه څه دي؟

زما په نظر په دې کې څو خبرې مهمې دي:

ــ د اعليحضرت محمدظاهرشاه په دوران کــې حکومــت يــوه ملــي پاليسي درلوده او کوم ګوندونه چې يې په مقابل کې جوړ شول، د هغوی اکثريت له بهرنيو منابعو پياوړي کېدل او طبعاً پر غير ملي ايــډيالوژيو سمبال او عملاً د ملت پر خلاف ولاړ وو.

ــ دولت نه په خپله کوم ملي ګوند او منسجم سازمان جوړ کړ او نه يې ملي سازمانونه حمايه کړل.

ــ بهرنۍ مداخله ډېره زياته وه او له ملي ضد ګوندونو ســره يــې بــې دريغه مرستې وکړې.

ــ د روسانو تر بربنډ تېري وروسته ټول ملي قوتونــه مجبــور شــول پاکستان او ایران ته پناه یوسي، هلته هم د پاکستان حکومت او هــم د ایران اخوندانو د ملي قوتونو په ځپلو کې خپل رول ادا کړ.

ــ ملي غورځنګونو خپل ولس ته نفوذ ونه کړای شو او د روښانفکرانو په وړو دایرو کې منحصر پاتې شول او ولس ته یې د خپل اسلامي هویت داډ ور نه کړ، له بلې خواځینو جهادي ډلو هم د ملت په منځ کې دوی د اسلام پر ضد او یا لږ تر لږه د اسلام پر وړاندې په بې تفاوته دریځ تــورن کړل.

ــ ملي غورځنګونو د کمونیستي او جهادي ګوندونو په شان منظمــه سازماندهي هم نه درلوده، نو دغه ټــول ددې ســبب شــول چــې پــه افغانستان کې ملي قوتونه ونه ځلېدل او بریالي نه شول.

ایا اوس یوه پراخ ملي ګوند تــه چــې د ټــولنې اکثــره خــواوې رانغاړي اړتیا شته او که نه؟

اوس ډېره اړتیا ده چې یو پراخ ملي- افغاني تحریک جوړ شي چې د ټول هېواد د بقا لپاره یوه اساسي فورموله ولري او د مشخص پروګرام او کړنلارې له لارې له تېرو تجربو څخه په استفادې د روښــانه راتلــونکي لپاره لاره خلاصه کړي.

دغسې یو پراخ تحریک ته اړتیا ډېره ده، خو له لاندې چلنجونو سره به مخ وي:

۱- ایا ټول ملي او دموکرات قوتونه چې واحد افغانستان او د اســلام دین ته وفادار وي، تر یوه چتر لاندې راټولولای شي که نه؟

- دا چې اوس عملاً د افغانستان د اقلیت قومونو په منځ کې د دوی د حقوقو د (دروغجنو) مدعیانو له خوا ګوندونه موجــود دي، دا ملي پراخ تحریک به له ټولو قومونو باکفایته، بادرکه او پر هېــواد مین خلک راټول کړای شي که نه؟

۳- که دغه پورته کارونه وشي ایا پر یو ښه رهبر او با کفایته مشرۍ به سره متفق شي او که نه؟

- دوی به د خپل پروګرام د حقانیت او جامعیت په باب بادرده او زده کړو افغانانو ته قناعت ورکړی شي  شي او که نه؟
- او که دا هم وشي ایا وبه کړای شي له روښانفکرې دایرې د ولس د پراخو پرګنو، او  ولسي او روحاني مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي او که نه؟

۶- ایا دوی به نړۍ پر دې قانع کړای شي چې د داسې مسایلو اړتیا او هم امکان اوس تر هر وخت زیات دی او دا کار هم د افغانستان او هم د نړۍ په ګټه دی.

نو د اړتیا خبره خو حل ده، خو د امکاناتو پر خبره بایــد پــوره بحــث وشي. دقیق فکر، قوي او متین ګامونه ورته واخیستل شي. داسې چې د افغانستان د تاریخي او ټولنیزو واقعیتونو ټول اړخونه دقیق تحلیل شي. دقیق او ستراتیژیک پروګرام جوړ شي او په پوره تدبیر، حوصله، عزم، پوهه او جدیت دا کار پرمخ ولاړ  شي.

د راتلونکي اساسي قانون په باب ستاسو نظر څه دی، چې څــه ډول قانون باید وي؟

**د راتلونکي اساسي قانون په باب خو زموږ نظر په عام ډول دادی چې باید د افغانستان خپلواکی، ملي هویت، ملي ګټې، د اسلام د سپېڅلي دین اساسات، د ترقۍ او دموکراسۍ لپاره تکل، د بشري حقوقو موازین، ټولنیز عدلت، اقتصادي پرمختیا، ملي یووالي او وروري، ټولنیزه پرمختیا، ملي ښوونه او روزنه، د حقوقي نظام اساسات او ټول لوړ ارمانونه په کې تضمین او تسجیل شي. دا قانون باید د ټولو تېرو قوانینو د یوې بشپړوونکې نسخې په حیث وي او د تېرو قوانینو کمۍ پوره کړي او نوې ستونزې ونه زېږوي.**

ځینې کسان غواړي چې په اساسي قانون کې د فیډرېشن موضوع راپورته کړي، ستاسو په نظر په افغانستان کې فیډرېشن د افغانستان یووالي ته څومره زیان اړولای شي؟

**موږ باید فدرېشن مسئله په کلکه و غندو. دا د افغانستان او افغانانو پر خلاف د روسانو د وحشي ظلمونو او تېریو یو دوام و بولو او د افغانستان د ټولو خلکو په تاوان یې وګڼو.**

**زموږ خلک لا د افغان واحد ملت په یوه ملي لوښي کې پوره حل شوي نه دي او په دې نومونو د ملي نفاق او قومي او سیمه ییزو لانجو زړي له سره زرغونېدای شي. افغانستان واحد هېواد دی او باید یو پیاوړی مرکزي دولت ولري چې پر ټولو ولایتونو پوره کنټرول ولري. د افغانستان د خلکو ډېره لوړه فیصدي د زده کړې له نعمت څخه بې برخې ده، په تېرو جګړو کې ډېرې کینې او کرکې پیدا شوې دي او سره له دې چې تر افغانستان ښه بدیل د هیڅ قام او وګړي له پاره نشته، خود فدرالیزم دا**

**ناوړه نظریه د مضر میکروب په توګه زموږ ملـــي وحـــدت او د خـــاورې یووالي له ګواښ سره مخ کولای شي، نو ځکه یې زه غندم او بایـــد پـــه اساسي قانون کې رد شي.**

د ملي ژبې مسئله په اساسي قانون کې څنګه حلېدی شي؟

**زموږ وړاندیز دادی چې د (۱۳۴۳ل) کال د اساسي قانون په شان دې پښتو د افغانستان ملي ژبه اوپښتو او دري دې د افغانستان رسمي ژبې وي، موږ غواړو په دې باب جنجال زېږوونکې تبصرې او مباحثې ونه شي او ګوندونه په دې باب د ملت له احساساتو سو استفاده ونه کړي، بلکې د ټولې نړۍ په شان په اصولي، معقول، متوازن او بـــې جنجالـــه ډول د (۱۳۴۳ل) کال د اساسي قانون په شان عمل وکړي. ځکه هغه قانون د یوې ارامې فضا او پیاوړو اشخاصو د کار محصول و.**

د رسمي مذهب مسئله باید څنګه حل شي؟

**د رسمي مذهب په باب باید موږ پر دې توافق وکړو چې حنفي فقه دې د افغانستان رسمي مذهب ومنل شي، ددې لپاره ډېر دلایل شته:**

**ـ یو د افغانستان د خلکو قاطع اکثریت د حنفي مذهب پیروان دي.**

**ـ بل حنفي مذهب په اسلامي نړۍ کې د حاکمیـــت اوږده او روښـــانه تاریخ لري او ډېر جامع دی. (حتی په ځینـــو اســـلامي هېوادونـــو لکـــه: سوډان کې سره له دې چې د حنفي مذهب پیروان اکثریت نه دي، خو د دوی دولتي چارې په حنفي مذهب چلېږي او علت یې همدغه د حنفي مذهب جامعیت دی.)**

ـ په دې ډول به د مذهبي اختلافاتو مخنیوی هم وشي، ځکه که دویم مذهب په قانون کې شامل شو، نو بیا به د ټولو مذاهبو پیروان دغسې غوښتنه کوي.

ـ تراوسه د افغانستان خلکو د حنفي مذهب حاکمیت منلی و او څه ستونزه نه وه موجوده.

ـ خو باید مذهبي ازادي د هر چا لپاره موجوده وي او په قانون کې تضمین شي.

زموږ په هېواد کې د مطبوعاتو ازادۍ ته څومره اړتیا ده؟

ازاد مطبوعات داسې دي لکه څوک چې په خپله خوله خپلې خبرې کوي او دا هر څوک غواړي، هېڅوک نه غواړي او نه شي کولای چې خپلې خبرې ونه کړي. د مطبوعاتو ازادي په هېواد کې د دموکراسۍ او مدني ټولنې له جوړېدو سره اساسي مرسته کولای شي او باید ټول افغانان ددې لپاره مبارزه وکړي، خو ازاد مطبوعات باید یوه قید ته راضي وي او هغه دا چې د افغانستان او اسلام پر ضد به خپرونې نه کوي.

پر اوسنیو مطبوعاتو څومره د ازادو مطبوعاتو اطلاق کېدی شي؟

اوسني مطبوعات دوه ډوله دي: یو هغه چې په هېواد کې دننه خپرېږي: دا زیاتره د یوې ډلې او یوه شخص صفت کوي، رښتیا نه وایي، یا یې کم وایي، یا یې له ویلو څخه وېرېږي او یا هم وېرول کېږي، خو

اوس نوي نوي د یو بغاوت نښې ښکاري او سړي ته دا ډاډ پیدا کوي چې مطبوعات د ازادۍ پر لوري درومي.

بل هغه دي چې له هېواده بهر چاپېږي او خپرېږي: هغه بیا پــه پــوره ډول ازاد دي او هر څوک کولی شي د خپل زړه خبره پــه ښــکاره ډول وکړي. په دغه دویم ډول کې باید یوازې یو ټکي ته متوجه شــو چــې د افغانستان او د اسلام پر ضد باید نه وي، ځکه بیا به د ازادو مطبوعــاتو نوم بد کړي.

اوس د چاپ او خپرونو د اسانتیاوو او کمپیوټري وسایلو د عاموالي له امله خپرونې ډېرې اسانې او ارزانې شوې دي او هر څوک کولای شي د ازادو مطبوعاتو په وده او ترویج کې فعاله برخه واخلي او باید وایې خلي.

ډاکټر صیب ستاسو له مرکې نه ډېره مننه.

ستاسو نه هم ډېره مننه.


Yoon Cultural Foundation
١٣ ٨٧
يون کولتوري يون
کلتوري
يـون
محمد اسمعیل یون
١٣٨٧ل

# کلتوري یون

## ( د ادبي او کلتوري لیکنو ټولګه)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

# بسم الله الرحمن الرحيم

## كتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| كتاب نوم: | کلتوري يون |
| ليكوال: | محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون كلتوري يون |
| چاپكال: | ۱۳۸۷ل |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوكه |
| د ليكوال | |
| پرله پسې نومره: | (۲۳) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۲۳) |
| کمپوزر: | ضياالرحمن ضيا |

## سریزه:

# یون له یو بل ((کلتوري یون)) سره

په وروستیو کلونو کې د افغان کلتوري یون د بېلابېلو اړخونو په اړه څېړنه او ارزونه، موږ ته له څو خواوو مهمه ده. په داسې څېړنه او ارزونه کې موږ د افغان کلتور د ودې پر لاره له پرتو ستونزو او خنډونو هم خبرېږو، د ودې لارې چارې هم په کې لټولای او ځان ته معلومولای شو. ددې په څنګ کې موږ ته ملي ارزښت هم لري او دا ځکه چې دا ډول ارزونې د ملي کلتور د مطالعې په عمومي چوکاټ کې راځي.

د ښاغلي پوهندوی محمد اسمعیل یون د کلتوري-ادبي لیکنو او مقالو دغه ټولګه همداسې یوه ځانګړنه لري. په دې ټولګه کې موږ د داسې یو لیکوال لیکنې لولو، چې په وروستیو شلو کلونو کې د افغان ملي کلتور د مورچل د یوځوان، خو پیاوړي مدافع لیکوال په توګه، د همدغه سنګر په منځ کې پاتې شوی، هلې ځلې او مبارزې یې کړي او ټولې ناخوالې یې لیدلي او ددغو ناخوالو پر وړاندې درېدلی دی.

د مقالو په دغه ټولګه کې د افغاني کلتور او ادب د بېلابېلو اړخونو په باب ارزونې، معلومات او تر ټولو غوره دا چې د ودې لپاره یې وړاندیزونه تر سترګو کېږي. په ټولګه کې د پښتو ګرامر د ځینو خواوو په اړه څو

څرګندونې وينو او هم د ځينو ادبي څېړو پر ادبي كار خبرې شوې دي، خو په عمومي توګه د افغانستان د كلتوري مسايلو په هكله عمده موضوعګانې په كې په جلا جلا ليكنو كې څېړل شوې دي. د افغان كلتور په دغو عامو موضوعګانو كې، زموږ د كلتوري يون يو شمېر داسې ټكي راغلي او مطرح شوي دي، چې زموږ د ډېرو ليكوالو، فرهنګيانو او فرهنګپالو لپاره په زړه پورې دي.

ګران پوهندوی محمداسمعيل يون له دې كبله هم د ستاينې وړ دی، چې په خپله يې ددغو بېلابېلو مقالو او ليكنو ټولګه راټوله او چاپ ته چمتو كړې ده او نور كسان يې له راتلونكي لټون څخه تر ډېره بې غمه كړي دي.

له ښاغلي يون څخه له دې امله هم مننه كوم چې زما د وړانديز له مخې يې پر دغه ټولګه د ((كلتوري يون)) نوم كېښود. هغه ته د لازياتو كلتوري برياوو هيله كوم.

په درنښت

زرين انځور

كابل، د ۱۳۸۷ل كال د مرغومي ۲۳مه

د سریزې په ډول:

## لیکنې د وختونو خاطرې له مرگه ژغوري

زه د خوشال خان لېسې په (۹) ټولگي کې وم، چې لومړنی شعر مې چاپ شو، بیا چې کله لسم، یوولسم ټولگي ته ورسېدم، نو دا مهال مې څو شعرونه چاپ شوي وو، په یوولسم ټولگي کې وم، چې په خوشال خان لېسه کې د ځوانو لیکوالو او شاعرانو ادبي انجمن جوړ شو. دا انجمن د افغانستان د ځوانو لیکوالو او شاعرانو د کانون یا ټولنې یوه څانگه وه، چې دا مهال دا څانگې د کابل په څو لېسو او له هغې جملې څخه په خوشال خان لېسه کې جوړې شوې وې. د یوه کال (۱۳٦٥) په بهیر کې، د خوشال خان لېسې په لسگونو ځوان شاعران او لیکوال ددې ټولنې غړي شول او د شاعرۍ او لیکوالۍ یوه گرمه څپه په لېسه کې راپورته شوه، د دې یوه کال په بهیر کې زموږ دې ادبي انجمن تر لسو زیاتې ادبي غونډې او مشاعرې جوړې کړې او هم مو په نورو لسگونو غونډو او مشاعرو کې گډون وکړ، (۱۳٦٦لمریز) کال هم په همداسې ادبي څپو کې تېر شو. دا مهال ما له ((قبایلي زلمیان)) او ((درفش جوانان)) جریدو سره قلمي ملگرتیا پیدا کړه او ځینې شعرونه او لیکنې مې په کې خپرېدلې. پر (۱۳٦۷ل) کال بیا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانگه کې محصل شوم، له اخبارونو، جریدو، مجلو او راډیو تلویزیون سره مې اړیکي نور هم زیات شول، د څلورو کلونو په بهیر کې مې گڼ شمېر لیکنې او شعرونه د کابل د هغه وخت په خپرونو کې خپاره شول، د پوهنتون تر فراغت وروسته بېرته په پوهنتون کې د کدر غړی شوم، د

تحصیل په دوره کې مې دري عنوانه کتابونه چاپ کړل. پر (۱۳۷۱ل) کال په کابل کې تنظیمي جګړه پیل شوه، زه بیا کله په کابل، کله په لغمان او کله هم پېښور کې وم، تر خپله وسه مو فرهنګي کارونه کول، د تنظیمواکۍ په بهیر کې مې هم یو شمېر سیاسي او ادبي لیکنې وکړې او اکثره په پېښور چاپ خپرونو کې خپرې شوې، دا لیکنې چې دلته یې تاسې ګورئ، دا اکثره همغه ادبي او کلتوري لیکنې دي، چې د تنظیمواکۍ تر پیل وروسته بیا تر دې دمه پر بېلابېلو وختونو، په پښتونخوا او هېواد مېشتو ادبي او کلتوري چاپي خپرونو کې خپرې شوي دي.

په دې کې ټولې هغه ادبي لیکنې شاملې نه دي، چې ما په تېرو شلو کلونو کې کړي دي، هغه لیکنې چې ډېرې ابتدایي وې او ځینې هغه لیکنې چې بیا چاپ یې ماته مناسب ښکاره نه شو، هغه مې په دې لیکنو کې شاملې نه کړې، خو یو شمېر داسې لیکنې هم پاتې شوي، چې باید په دې کې راغلې وای، مګر تر دې مهاله یې زه په پیداکولو بریالی نه شوم، خو دا په بیا چاپ ارزې لیکنې هم دومره زیاتې نه دي، اکثره هغه لیکنې چې زما پر نظر یې راټولېدنه او بیا چاپ ضروري وو، هغه همدا لیکنې دي، چې په دې ټولګه کې خوندي دي. ادبي او کلتوري لیکنې د سیاسي هغو په شان نه دي، چې څوک یې پر بیا چاپ ټکنی شي او یا یې هم بیا چاپ لیکوال ته څه ستونزه پېښه کړي او یا د هغه شخصیت ته زیان ورسوي. خو که په ځینو کلتوري لیکنو کې هم، ډېرې کمزورې لیکنې ټولنې ته وړاندې شي، ټولنې ته به یې ګټه ونه رسي. په همدې خاطر یو لیکوال ته په کار دي، چې د هغو ادبي لیکنو ټولګې، ټولنې ته وړاندې کړي، چې له فکري او هنري پلوه څه نا څه د پوخوالي دایرې ته ورداخل شوې وي. زما دا لیکنې چې دي، زه یې له هر پلوه د پوخوالي په تله نه تلم او نه به ددې جوګه وي چې د یوې ښې لیکنې ټول معیارونه پوره کړي، خو

ځرنګه چې دا زما د خپلو تجربو یو نچوړ دی او زه د تېرو شلو کلونو په بهیر کې عملاً له داسې ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شوی یم او بیا مې پرې لیکنه کړې، نو اټکل کوم چې اوسنی او راتلونکی نسل به هم له دا ډول ستونزو سره مخامخېږي، خو مخکې تر دې چې په ادبي مبارزه کې له کړاوونو سره مخ شي، ښه ده چې د ستونزو حل لارې هم ورته معلومې وي او په فرهنګي چارو کې یې ځان ته مخکې تر مخکې یو روحي ډاډ جوړ کړی وي. دا لیکنې اکثره د هغو مسایلو په اړه لیکل شوي، چې که لیکوال په خپل ورځیني ژوند کې وغواړي که ونه غواړي، ورسره مخامخېږي. دا که په لیکنه کې ګرامري ستونزې دي، که اغزن کلتوري چاپېریال دی، که د چاپ ستونزې دي، که د کتابونو د وېش مساله ده، که د لیکوال ځاني ستونزې دي، که خپلمنځي اختلافات دي او که نورې ګڼې ستونزې، ټول هغه مسایل دي چې د لیکوال پر چاپېریال راڅرخي. په دې لیکنو کې مې هم لکه د نورو لیکنو په شان څه خاص تغیرات نه دي راوستي، یوازې املایي او انشایي تېروتنې مې تر خپله وسه سمې کړې دي. د دې لیکنو له بیا چاپ څخه مې هدف دا هم دی چې یو خو به تېرې خاطرې او خپل تېر کړی کار خوندي کړم، بل به نور ځوان لیکوال هم له هغې ستړیا بې غمه کړم، چې کېدی شي یو نیم په کې زموږ تر مړینې وروسته دا هیله ولري، چې دا لیکنې راټولې او چاپ کړي، د هغوی د وخت د ضایع کېدو مخنیوی مې هم وکړ. له دې ټولګې څخه به نه یوازې زموږ فرهنګي بهیر ته، بلکې خپله ماته هم پته ولګي چې موږ چېرته وو؟ چېرته یو؟ او چېرته باید لاړ شو؟ که موږ خپلې ماضي ته کتنه ونه وکړو، نو خپل حال او راتلونکی سم نه شو سنجولای.

نو ددې لیکنو بیا چاپ مې د خپل فرهنګي ژوندانه د ماضي، حال او که خدای(ج) کول د راتلونکي لپاره د یو تسلسل او پُل په توګه ضرور وګاڼه. له

نورو لیکوالو مې هم هیله ده، چې خپلې لیکنې راټولې او د مرګ له خطره وژغوري، هره لیکنه د لیکوال د زړه په وینو لیکل کېږي او د یو مشخص مهال د حالاتو انځورنه کوي، موږ باید مشخصې شېبې او مشخص وختونه د لیکنو په وسیله خوندي کړو او د وخت یادګارونه د وخت په څپو، بل وخت ته ور انتقال کړو.

د همداسې یوې هیلې د بري په هیله چې زموږ فرهنګي اثار او ارزښتونه د زمانې له ناخوالو او توپانونو خوندي پاتې شي، خپله دا لیکنه همدلته پایته رسوم.

په ډېره فرهنګي مینه او ولوله

پوهندوی محمد اسمعیل یون،

ارګ،د جمهوري ریاست ودانۍ، کابل- افغانستان

د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۲۳مه

# په شعر کې تکلف

دا لیکنه د وفا جریدې، چې له پېښوره خپرېدله، د پنځم کال په (۴۳-۴۴)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال د لیندۍ پر (۱۰)مه نېټه چاپ شوې، خپره شوې ده.

**تکلف، تصنع، ځان ښودنه او د اخلاقي او ټولنیزو چلندونو مصنوعي کول او ښودل هغه کړنې دي، چې نه یوازې په عام ټولنیز ژوند کې د منني او ستاینې وړ نه ګرځي، بلکې د لید د څښتنانو په زړونو کې د هغو د کرکټرونو پرضد یو عکس العمل هم راولاړېږي. همدارنګه په عامو لیکنو او په ځانګړي ډول د انسان تر ټولو شفاف او ظریف هنر (شعر) کې ددې ناروغۍ ځایول او لاره موندل، د شعر پر طبیعي او رنګینې ښکلا د بې ضرورته او زیان رسوونکو ځیزونو زیاتول دي.**

**د پښتو ادبیاتو د لرغونې، کلاسیکې او بیا د معاصرې دورې شعرونو ته په ځغلند نظر سره ویلای شو، چې ددې ناروغۍ ګرد پرې پرېوتی نه دی.**

**تېرو لسو کلونو راهیسې چې په افغانستان کې د (شعار) او (شعر) ترمنځ پولې په څرګند ډول بېلېدلې، یو ډول اشخاصو ته دا لاره اواره شوه، چې د ((هنري شعر) په پلمه د تکلف او تصنع په ځواک خپل معنوي فقر پټ کړي، خو یو شمېر شاعرانو په رښتیا سره هم د شعر د**

هنریت عفت وساته او هر تکلف او تصنع یې د شعر هنري جامې ونه ګڼلې. ځینې نورو شاعرانو له دې وېرې چې کره کتونکي یې شعر د شعار په نوم ونه نوموي، په مصنوعي ډول خپل اند ته د وزن په چوکاټ کې د کلمو دومره پوښو نه ورکړل چې بیا یې د مانا روښانولو او څرګندولو لپاره خپله هم حیران وو. یو شمېر نورو بیا د تکلف یو څه اغېز ومانه او ځینې بیا د ((تکلفي شعر)) او ((هنري شعر)) د پولو بېلولو او پېژندلو ته حیران شول. ربښتیا هم متکلفینو د ((هنري شعر)) په نامه دومره کار وکړ چې له ډېرو یې ددې برید د پېژندلو لاره ورکه کړه.

متکلفین به کله د مانا د مرغلرې لپاره ((د اسمان خیالونو)) ته وختل او هلته به یې ((د لمر ابۍ)) سره کیسې پیل کړې او کله به هم بیا د ځمکې په تل کې ((... د لونګو د ښایست په بڼ کې، د پېغلتوب تنکي ګلان، د خزانې متروکو...)) په لټه کې شول. ځینې به بې له کومې لارې او وسیلې د زړه د خیال (( د بحرونو تل)) ته ورننوتل، خو بیا به یې هم کومه مرغلره لاسته رانه وړه. اسمان ته د دوی ختل او د ځمکې تل ته د دوی ننوتل، د الفت صاحب د ((لوړو خیالونو او ژورو فکرونو)) په شان نه دي ((هغه څه چې په لوړو وریځو کې شته په کښته ځاګانو کې هم شته)) (( د لوړ خیال او ژور فکر نتیجه یوه ده)) خو دوی مصنوعي او تکلفي فکر کاوه، لکه اروا پوهان یې چې د یو رواني ناروغ د ذهن د تداعي لپاره هغه ته مصنوعي خوب ورکوي. د تکلف او تصنع غندل په دې مانا نه دي چې شاعر دې ګنې د خپل اند، احساس او درد مرغلره د خوږو کلمو په ورېښمین شال کې تاوه نه کړي. کلمې د شعر جامه ده او هر څومره چې دا لباس ښکلی جوړ شي، هماغومره ښکلی ښکاري او لکه یو سړی چې په ښکلي او قیمتي لباس کې ښکلی ښکاري، خو (مانا) د شعر روح دی، که د شعر د کلمو

رگونو ته د مانا روح نه وي پوشوی، نو هغه تش مړی او بې روحه کلمې دي.

لکه یو سړي ته چې هر څومره ښکلې جامې واغوندو، خو چې ((سړیتوب)) ونه لري د چا په زړه کې به ځای نه شي. د استاد روهي په وینا ((د شعر شعریت همداسې دی لکه د سړي سړیتوب)).

کله کله ځینې اشخاص وایي: (( شعر باید ساده نه وي، د عام ولس تر سطحې اوچت وي. ابهام ولري او مغلق وي)) د دوی موخه داده چې د لوستونکي د ذهني سطحې د لوړتیا لپاره پېچلی شعر په کار دی. دلته هم لږ غور په کار دی، ځینې شاعران د شعر ابهام له تکلف سره مغالطه کوي. د حمید بابا شعرونه چې د پښتو هنري شعر ښې بېلگې دي، له ابهام او له مانیزو غوټو ډک دي، خو تکلفي او تصنعي نه دي. د تکلفي ((شعر)) څو ځانگړنې په دې ډول په گوته کولای شو:

ـ په تکلفي ((شعر)) کې د احساس، عاطفې او درد څرکونه، نه وي، که وي هم ډېر کم به وي، یانې دا چې شعر د کوم درد او احساس له مخې راپارېدلی نه دی، بلکې شاعر په خپله په نورمال ډول پر ((شعر)) لیکلو پیل کړی دی.

ـ په دې ډول ((شعر)) کې د شعر تخنیکي اړخ ته پاملرنه کېږي، خو مانیز اړخ یې ډېر کمزوری وي.

ـ د ((ذهني انځور)) په نوم متکلف له فکري بحران سره مخ وي او هېڅ داسې ټولیزه پایله ترې لاسته نه راځي، چې د انځور د مانا غوټه ترې جوړه شي.

ـ متکلف خپل ټول عیب د استاد الفت په خبره ((معنوي فقر د الفاظو په برق او ذلق کې پټوي)).

**ـ تکلفي ((شعر )) د استاد حمزه په وینا د ((امد)) شعر نه دی، بلکې د ((اورد)) شعر دی. یانې دا چې پر شاعر باندې د شعر ښاپېرۍ خپل وزرونه نه دي غوړولي، بلکې ده خپله ځان مجبور کړی چې هغه ځانته راولي.**

**ـ د تخنیکي وزن کارول او له ښکلو کلمو سره بې مانا لوبې کول د تکلفي ((شعر)) بله ځانګړنه ده.**

**ـ یوه کلمه په بلې کې پېچل او بله په بله کې، هم ددې ډول نظم ځانګړتیا ده.**

**ـ ځان ښودنه، ځان لوړ ګڼل، نورو ته فریب ورکول هم د تکلفي (شعر)) د ((شاعر)) مانیزه نیمګړتیا ده.**

**د پایلې یا نتیجې په توګه ویلای شو چې تکلفي ((شعر)) شعر نه دی خو بې مانا او یا هم د سستي مانا لرونکی او د کلمو له پلوه ((رنګین نظم )) ورته ویلای شو.**

**د شکل له مخې، هنري شعر، تکلفي شعر ته، له ظاهري پلوه ورته برېښي، دواړه ښکلو مڼو ته ورته وي. خو یوه مڼه داسې ده چې هم ظاهراً ډېره ښکلې، پاکه او پخه ده او هم یې منځ پاک او ستره دی او کوم چینجي ورته لاره نه ده کړې او د خوراک پر وخت یې سړی په خوند نه مړېږي او د روغتیا لپاره ګټور مواد لري او بله هم ظاهراً ډېره ښکلې او پخه ښکاري، خو کله چې هغه سپینه او ټوټې کړې، نو منځ به یې سوری سوری او د چینجیو ځاله وي، بیا نو که چینجی، ترخه برخه او پوټکی یې یوې خواته کړو، نو په پاتې مڼه کې څه نه پاتې کېږي، لکه څنګه چې په بازار کې هر اخیستونکی ددې دواړو مڼو پر توپیر نه پوهېږي. همدارنګه په شعر کې هم په لومړي وار لوستلو او اورېدلو د یو ښه هنري شعر او تکلفي شعر یا نظم توپیرول، ځینو ته ګران کار**

دی، خو دواړو ته په کره نظر کتلو او په څو ځله لوستلو او د شعر تر شننې وروسته سړي ته، لکه د منو په شان پوره پوره څرګندېدی شي.

ځينې متکلف شاعران له آره متکلف نه وو. هغوی د خپلې ژبې او ځينو نورو ژبو د لوړو شاعرانو ډېره ښکلي هنري شعرونه چې د مانا او احساس له مرغلرو يې د شعر وزرونه ډک وو، ولوستل، نو د هغوی د تقليد لپاره يې ځانونه چمتو کړل. څرنګه چې د لوړو شاعرانو په شعرونو کې ((لوړ خيالونه او ژور فکرونه)) وي او لوړ خيال او ژور فکر خو تر ډېرې لوستنې، ليد او ځيرتيا وروسته منځته راځي او د فطرت د سخاوت او لوريېنې اغېز هم په کې له نظره غورځېدی نه شي، نو دوی د شعر په لفظي اړخ کې ځان هغوی ته ورنږدې کړ، خو په مانا کې پاتې راغلل.

په پښتو اوسني شعر کې په ځانګړي ډول په تېر لس کلن بهير کې ددې ډول شعرونو يو لړ بېلګې شته، چې د اوس لپاره يې د پوره بېلګو له راوړلو څخه ډډه کوو، ځکه چې د هغوی ځينې ((شاعران)) هم له دې ډول نظمونو څخه ستړي شوي، تر څو پورې به په چا کې د بل چا د ذهني تېرايستلو وس جاري وي، ناستړي به يې هم اخر ستړي شي، ((تر څو به په چل ول باندې قدم راسره ږدې)).

# فرهنگي او ټولنيز ارزښتونه

دا ليکنه د وفا جريدې د شپږم کال په (۱-۲)مه گڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال مرغومي له (۲٦)مې سره سمون خوري، خپره شوې

په هره ټولنه کې يو لړ داسې منل شوي فرهنگي او ټولنيز ارزښتونه وي، چې د هغو په رڼا کې د هغې وگړي د خپل ژوند چارې پر مخ بيايي، يو لړ داسې ارزښتونه هم موجود وي چې هغه د انساني ژوند ډېرو سترو او فطري غوښتنو ته ځواب وايي او له يوې ټولنې نه بلې ته دومره توپير نه لري.

افغاني ټولنه هم د ځانگړو کلتوري او ټولنيزو ارزښتونو درلودونکې وه، خو ايا دا ارزښتونه ثابت پاتې شول که بدلون يې وموند او که بدل کړای شول؟ دا څرگنده خبره ده ځينې ارزښتونه چې د انساني ژوند غوښتنو ته پوره او مثبت ځواب نه شي ورکولای، په طبيعي ډول د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي، خو دلته زموږ اندېښنه د دې ډول ارزښتونو په باب نه ده، بلکې د هغو ارزښتونو او نورمونو په باب ده، چې زموږ په ټولنه کې جبراً او قصداً محوه شوي او محوه کېږي.

د شل کلنې جگړې په ترڅ کې چې د افغاني ټولنې د وجود د بېلابېلو رگونو وينه وزبېښل شوه، نو په دې کې فرهنگي او ټولنيزو ارزښتونو او اخلاقو زيات ټپونه وزغمل. يو شمېر هغه منوراو نامنور اشخاص چې له لومړي سياسي جريان سره په تصادم کې واقع شول، يا خو د ژوند له نعمت نه محروم کړای شول او يا هم په نورو ټولنو کې په ژوند محکوم

شول. د هغوی فکر، گروهه او هغه مثبت ارزښتونه چې دوی په خپله ټولنه کې منل او پر نورو یې منل، په نورو ټولنو کې یا کمزوري شول او یا سوچ بېخي له منځه لاړل، له هغوی نه بل جوړ شوی او رالوی شوی نسل خو بېخي په نورو کلتوري او فکري جريانونو کې رالوی شو. کله چې په هېواد کې د لومړي سیاسي کړکېچ په اصطلاح ((بشپړتیایي پړاو)) راورسېد، نو بیا خو بېخي خبره بل شان شوه. دا وار ته هم د هېواد د ولس زیاته برخه د ټاکلو او منلو کلتوري او عقیده یي ارزښتونو په رڼا کې د مخالفت ډګر ته راووتله، چا چې د جنګ وس درلود په جنګ کې له خپلو هیلو سره یوځای خاورې پر سر شول او څوک چې نورو هېوادونو ته لاړل، نو د هغو د کلتور تابع شول. د جګړې هغه اړخ چې حکومتي چارې یې په لاس کې وې، د افغاني فرهنګ د بې ارزښته کولو او د ځینو معنوي او قومي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره یې په شعوري ډول هلې ځلې پیل کړې. دغه راز د جګړې دې غاړې هم د مذهب او عقیدې تر سیوري لاندې په شعوري او نا شعوري ډول د هېواد د ملي او ټولنیزو ارزښتونو د محوه کولو په لار کې ګامونه پورته کړل.

تقریباً (۳۵۰۰) ښوونځي یې ړنګ او د هېواد یو شمېر فرهنګي مرکزونه یې په دې نامه چې حکومتي ملکیت دی، له منځه یوړل. پایله دا شوه چې دواړې غاړې د ولس د ځینو ارزښتونو پر له منځه وړلو بوختې شوې. کومې سیمې چې د چارواکو تر واک لاندې وې، هغه د مخالفینو او کومې چې د مخالفینو تر واک لاندې وې، هغه د چارواکو تر بریدونو لاندې راغلې. د همدې څو کلني بېلتون په ترخ کې پر هېواد دوه ډوله متضاد عقیده یي او لږ تر لږه کلتوري شرایط حاکم شول. د ساري په توګه هغه سیمه چې د چارواکو تر واک لاندې وه په هغې کې موسیقي او ځینې نور ((هنري)) فعالیتونه د افغاني کلتور جز ګڼل کېدل او د پراختیا لپاره یې

هلې ځلې هم کېدې او د موسيقۍ نه منونکي ((بې فرهنګه)) ګڼل کېدل، خو مقابله سيمه او طرف کې بيا خبره بل ډول وه.

کله چې پر (۱۳۷۱لمريز) کال د مخالفينو يوه ډله د يو ناوړه سازش له لارې قدرت ته ورسول شوه، نو خبره تر بدو بتره شوه. دوی د هغه فکر، ګروهې او ارزښت په سپکولو کې تر ټولو اوچت ګامونه واخيستل، چې د هغو د تطبيق بيرغ يې اوچت کړی و. ددې نوي بدلون په پايله کې د هغو سيمو او ښارونو اکثره تحصيل کړي اشخاص د بېلابېلو عواملو له کبله د هېواد پرېښودو ته مجبور شول. دوی هم په نورو ټولنو کې حل شول او يا حلېدونکي دي.

اوس نو په تېرو شلو کلونو کې په افغانسان کې د هر سياسي بدلون په راتلو سره، تر هرڅا دمخه فرهنګي اشخاص او فرهنګي بنسټونه له منځه ځي. ځينې وختونه خو يوازې او يوازې د ذوق او لنډ فکرۍ پر اساس هم ځينې فرهنګي بنسټونه له منځه وړل شوي دي. په دې ډول په شلکلن واټن کې د ((مغزونو فرار)) په متواتر ډول دوام پيدا کړ او هېواد له مفکرينو او روڼ اندو څخه تش شو. په همدې زماني واټن کې يو بل نسل رالوی شو، چې د جګړې له فرهنګ سره لوبېدلی نسل دی. هغه د هغو ارزښتونو نه چندان پروا ساتي او نه پرې پوهېږي، چې زموږ د ټولنې رغنده فرهنګي او اخلاقي عناصر يې جوړول.

د جګړې بدمرغۍ، ناخوالو او اقتصادي ستونزو هم د افغانانو د ځينو مثبتو کلتوري ارزښتونو په له منځه وړلو کې خپل لوی اغېز وشينده.

د مثال په توګه مينه، عاطفه، غيرت او مېلمه پالنه، د افغاني ټولنې هغه ارزښتونه دي، چې په سلګونو کلونه يې زموږ د ټولنې د خلکو پر زړونو حکومت کړی دی، خو اوس د افغانانو په وس کې د مېلمه پالنې هغه تاب پاتې نه دی، چې تر جګړې دمخه کلونو کې و. په کابل کې مې يو له

زیات شمېر اشخاصو څخه دا اورېدلي، چې ((ډېر مې زړه کېږي چې پلانی مېلمه کړم او د خپل زړه غمونه ورسره تش کړم، خو اقتصادي حالات مې ډېر خراب دي))، اوس اکثره افغانان خپل مېلمه ته د پخوا په شان په خلاص مټ ست او بلنه نه شي ورکولای، که څه هم په زړه کې یې دا هیله غځونې کوي. د عملي وس او امکاناتو د نشت په وجه کېدی شي دا عنعنه ورو ورو د هېرېدو خواته لاړه شي او همدارنګه زموږ د ټولنې نور فرهنګي او ټولنیز ارزښتونه.

# (په) او (پر) دوه مترادفې کلمې دي که مخالفې؟

**دا لیکنه هغه وخت وشوه چې لیکوال د هیلې مجلې د لیکنو د سمون په کار کې عملاً له دې ډول ستونزو سره مخامخ شو. دا لیکنه بیا د هیلې مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوه.**

کله کله موږ په ګړنۍ او ان په لیکنۍ ژبه کې دوه یا څو داسې کلمې یوه د بلې پرځای کاروو، چې دمانا له مخې سره څه نا څه ورته وي، خو دبڼې یا شکل له مخې سره بېلې وي. داسې کلمې هم شته چې دشکل له مخې سره ورته یا یو شان وي، خو د مانا له مخې سره مخالفې وي.

هغه کلمې چې دشکل له مخې سره بېلې وي او مانا یې سره ورته او نږدې وي، هغو ته هم مانیزې یا مترادفې کلمې وایي لکه لوی، غټ، ستر او نورې او هغه کلمې چې دشکل له مخې سره ورته وي، خو مانا یې بدله وي هغو ته په اصطلاح همشکله مختلف المعنی کلمې وایي. لکه

لور (طرف، خوا) لور (داس، رېبونکې اله) او داسې نور...

خو اوس راځو دې ته چې ایا په ژبه کې حقیقي مترادفې او هم مانیزې کلمې شته اوکه نه؟ کله چې موږ له مترادفې کلمې سره د

(حقیقي) لفظ راوړو، نو مقصد مو دادی چې دا همماني‌زوالی باید بشپړ حقیقت ولري، یانې سل په سلو کې یوه کلمه دبلې مانا ورکړي او دهغې پر ځای وکارول شي، اوس موږ غواړو دهمداسې یو حقیقت په لټه کې شو، چې ایا په رښتیا هم په یوه ژبه کې دوه حقیقي مترادفې کلمې پیدا کېدی شي او که نه؟

ژبپوهان وایي، چې یوه ژبه کې قطعاً دوه حقیقي مترادفې کلمې نه شته، خو مترادفې هغه شته. د(حقیقي مترادفو) او (مترادفو) کلمو ترمنځ هم یو مانیز تضاد پروت دی، چې د عامو لوستو خلکو سر پرې نه خلاصېږي، خو ژبپوهان او نور متخصصین یې پر تضاد او توپیر پوهېږي.

د(حقیقي مترادفو) او (مترادفو) کلمو ترمنځ اصلي تضاد او توپیر دادی چې په حقیقي مترادفو کې باید دیوې کلمې مانا سل په سلو کې دبلې کلمې ځای ډك کړي او دهغې پر ځای وکارول شي، چې دا په یوه ژبه کې هیڅ شونې نه ده. خو مترادفې بیا هغه کلمې دي چې دعاجلې اړتیا او یا دکلمو دتکرار دمخنیوي لپاره یوه دبلې پرځای کارېږي، خو کله که دهغې کلمې دکارونې دقیق ځای راشي، نو بیا یې موږ له ورایه پر توپیر پوهېږو، چې دا مو درسته کارولې که نا درسته؟ لکه په عامه ګړنۍ او ان په لیکنۍ ژبه کې موږ د(لوی، ستر، غټ) درې واړه ستاینومونه (صفتونه) په یوه مانا کاروو او کوم خاص توپیر په کې نه کوو، لکه احمد ډېر غټ سړی شو، احمد ډېر ستر سړی شو، احمد ډېر لوی سړی شو.

دلته موږ د احمد لپاره دا درېواړه صفتونه په یوه مانا وکارول او ډېر زیات مانیز توپیر او تضاد مو هم تر نظره رانغی، خو که همدغه صفتونه بیا بل چېرې پر خپل خپل ځای استعمالوو، نو اوچت توپیر په کې لېدل کېږي. لکه احمد ستر جنرال شو، دا ډول ویلای شو، خو دا ډول هېڅکله نه شو ویلای چې: احمد لوی جنرال یا غټ جنرال شو. دا هم ویلای شو چې: د افغانستان ستره محکمه، خو دانه شو ویلای چې: دافغانستان غټه محکمه. دا هم ویلای شو، دا ډېر سخت کار دی، دا ډېر مشکل کار دی، خو همدا (سخت) او (مشکل) (سره له دې چې د دوو بېلابېلو ژبو کلمې دي خو (مشکل) هم زموږ په ژبه کې دود دی) بیا به بل ځای کې په یوه مانا نه کارول کېږي، لکه (احمد ډېر سخت سړی دی) ویلای شو، خو (احمد ډېر مشکل سړی دی) نه شو ویلای، له دې څخه ښکاري، چې یوه کلمه په پوره ډول او سل په سلو کې په هرځای کې دبلې کلمې ځای نه شي نیولای.

ددې خبرې ډاګیزول هم په کار دي، چې کله په یوه ژبه کې دحقیقي مترادفو کلمو دنشتوالي خبره مطرح کېږي، نو له دې څخه موخه د همغې ژبې خپلې کلمې دي، نه له نورو ژبو څخه را اوښتې او راغلې کلمې. هغه کلمې چې له نورو ژبو څخه راغلې وي کېدی شي، ځینې داسې کلمې په کې پیدا شي، چې دهمدې ژبې دنورو کلمو ځای ونیسي. یانې دخپلې ژبې ےړه کلمه استعمال نه شي، بلکې له بلې ژبې څخه راغلې، دهغې هممانیزه کلمه استعمال شي.

لکه (ښوونځی او مکتب) چې ښوونځی پښتو او مکتب عربي لفظ دی، په پښتو کې یو دبل پر ځای استعمالېدی شي. خو په پښتو کې بیا دښوونځي ځای نیوونکې بله پوره پښتو کلمه نه شته.

ددې خبرې علت دادی چې کله دیوې ژبې وګړي دیو قرارداد یا تړون په ډول دیو څیز لپاره یو واحد نوم ږدي، نو همغه نوم بیا دودېږي. یانې پر یوه وخت دیوه څیز یاشي لپاره دوه نومونه نه اېښودل کېږي، البته کېدی شي دیوې ژبې په بېلابېلو ګړدودونو کې دیو څیز لپاره څو نومونه وي، خو په ټولیز ډول یوه معیاري ژبه په پام کې نیول کېږي، نو دیو واحد څیز لپاره دوه بېلابېل نومونه نه اېښودل کېږي اونه ورته اړتیا وي.

له دې سریزې او څرګندونو څخه زموږ موخه داده چې په ژبه کې حقیقي مترادفې کلمې نه شته، نو چې نه شته، باید (په) او (پر) هم دوه حقیقي مترادفې کلمې نه وي، ان مترادفې نه وي، بلکې له مانیز پلوه مختلفې دي او مانیز تضاد په کې پروت دی، نو چې دا دواړه کلمې مخالفې او متضادې دي، نو بیا ولې دواړه په یوه مانا او یوه دبلې پرځای کاروو؟ ددې علت څه دی؟ موږ دا کار په شعوري ډول کوو که ناشعوري؟ او که له کوم ډول ابهام او تېروتنې سره مخ یو؟

زموږ په اند ځینې لیکوال په شعوري، ځینې په ناشعوري، ځینې د ابهام له مخې دا کار کوي او ځینې بیا لا دا هم په کې

وواييي چې (پـه) او (پـر) دواړه يـوه مانـا وركـوي، دا يـوازې د لهجو اختلاف دى اوبس.

د ډېر غور او سپړنې وړ خبـره همدا ده چـې (پـر) او (پـه) لهجـوي اختلاف ګڼي، نه ګرامري، خو اساسي خبره داده چې (پـر) او (پـه) د لهجـوي تـوپير خبـره نـه ده، بلكـې پـه دې دوو كلمـو كـې ګرامـري توپير او مانيز تضاد پروت دى، په لهجوي تـوپير كـې د كلمـې مانـا نه بدلېږي، كېدى شي شكل او تلفظ يې بدل شي، خو پـه ګرامـري جوړښت كې د كلمې مانا بدلېږي، نو كله چې ددوو كلمو مانا سره توپير ولري، دا د ژبې دجوړښت لـه مخـې د ددوو بېلابېلو مانـاوو لپاره ګومارل شوي دي، نـه د واحد مفهوم لپـاره، نـو كلـه چـې پـه كلمـو كـې مـانيز تضـاد پـروت وي، بايـد هـره يـوه پـر خپـل ځـاى وكارول شي، نه يوه دبلې پرځاى، ځكه چې دجملې او تركيب مانـا ته بدلون وركوي.

ځينې ليكوال چې په شعوري ډول دا دواړه ناخپلواكه كلمې يـوه دبلې پرځاى كاروي، دا كار كېـدى شـي ديـوې عقـدې او ځېـل لـه مخـې وي، چـې پـه دې ډول ګرامـري يـو والـي او د ژبـې اصـلي جوړښت تـه زيـان رسـېږي. ځيـنې يـې پـه ناشـعوري ډول كـاروي، دهغو خو ګناه ځكه نه ده چې پوهېږي پرې نه او ځينو خلكو تـه بيـا پـه كـې يـو ډول ابهـام وي، ددې پرځـاى چـې درست يـې استعمال كړي، په غلطه بڼه يې كاروي، لازمه ده چې دلتـه ددغـو دوو كلمـو د كارونې پر څرنګوالي بحث وكړو:

(پـه) او (پـر): دواړه ناخپلواکـه کـلمې دي. نـاخپلواکې کلمې هغو تـه وايـي چې لـه يـو ځـو غـړونو څخـه رغېـدلي وي، خـو کومـه بشپړه او تامه مانا نه لري، مانـايې دجملې او ترکيـب پـه جوړښت کـې څرګنـدېږي. لکـه همـدا (پـه) او (پـر) . دې کلمـو تـه پـه ګرامـري ژبه وييکي وايي چې په عربي ژبه کې يې (ادوات) بـولي، وييکـي هغه کلمې دي چې خپلواکه مانـا نـه لـري، بلکـي مانـا يـې دجملې دجوړښـت لـه مخـې څرګنـدېږي او هـم دجملـې د مانـا دترښـت او جوړښت سبببږي.

## د (په) او (پر) داستعمال ځايونه:

**الف ـ** (په): دمکاني حالت لپاره راځي او زيـاتره وخت ورسره (کې) اوستربل ملګرى وي، لکـه پـه کـور کـې يـم. پـه جـام کـې اوبـه شته، په غرو کې ونې وي، په ځنګله کې ځناور وي.

خپله (په) کومه مستقله مانا نه لـري، خـو پـه جملـه کـې يـې مانـا څرګندېږي او هم دجملې دمانـا دترښت او جوړښت سبب ګرځي، لکه چې پورته جملو کې د يو مکاني حالت څرګندونه کوي.

د(په) او (کې) ترمنځ ضرور يو څه وي لکه په پورته جملو کې چې د (پـه) او (کـې) تـرمنځ (کـور، جـام، غـرو او ځنګلـه) راغلي او ديـو مکاني حالت څرګندونه کوي.

له مکاني حالت پرتـه (پـه) پـه يـوه جملـه کـې دفـاعلي حالـت څرګندونه هم کوي، لکه (دا کار زه په خپله نـه کـوم خـو پـه تـا بـه يـې وکـړم.) ددې جملې مانـا داده چې زه ددې کـار وس نـه

لرم یا یې نه کوم خو په تا به یې وکړم،نو ته یې ترسره کړه، مانا دویم شخص دکار اجرا کوونکی یانې فاعل شو.

دوسیله ییز حالت یاد دویم فاعل لپاره هم (په) کارول کېږي، په بېل کار کوم، په تبر لرګي ماتوم، په توپك نښه ولم، دلته لومړی فاعل خپله شخص او دویم فاعل یا وسیله بېل، تبر او توپك دی.

ب : (پر): هم د (په) په شان نا خپلواکه کلمه او وییکی دی، چې زیاتره په جمله کې د مفعولي حالت، یانې دهغه حالت چې یو کار پرې اجرا کېږي، څرګندونه کوي او اکثره ورسره (باندې) اوستربل راځي: پر مېز باندې کار کوم، پرځمکه باندې کار کوم، پر اسلامي پوهانو باندې لیکنه کوم، خو کله کله (باندې) اوستربل غورځېدلی هم شي لکه پر څوکۍ کار کوم، پر احمد سیاسي کارکوم، مانا سیاسي سړی ورڅخه جوړوم.

د(باندې) ترڅنګ (سربېره) او (دې) سره هم (پر) راځي، سربېره پردې یا پردې سربېره. لنډه دا چې (په) دفاعلي او (پر) دمفعولي حالت څرګندونه کوي. زیاتره خلك دا دواړه یو بل سره مغالطه کوي او دیو بل پرځای یې کاروي.

ځینې د (په) پرځای (پر) استعمالوي لکه پر کور کې یم. یو کتاب کې داسې هم راغلي وو: دجرمني هیئت پرخپل لاس دخپل حکومت مکتوب امیر عبدالرحمن خان ته ورکړ. دلته (پر) غلط د (په) پرځای استعمال شوی دی،دا داسې مانا ورکوي چې هغه هیئت پر خپل لاس مکتوب لیکلی یانې لیکل یې په لاس کې کړي، نه په ځانګړي مکتوب کې، خو که د (پر) پرځای یې (په)

کـارولای وای نـو مانـا بـه یـې همغـه شـان پـوره شـوې وای چـې دلیکوال په زړه کې ګرځېدله.

پـه مـذهبي، سیاسـي او حقـوقي لیکنـو کـې ددې ډول وییکـو دقیقـه کارونـه ډېـره ضروري ده، ځکـه چې د مـتن مانـا بـدلوي او سرچپه کوي.

دغو جملوته هم پام وکړئ:

په پښتو ژبه مقاله لیکم: مانا دلیکنې ژبه مې پښتو ده.

پر پښتو ژبه مقاله لیکم: مانا دپښتو ژبې په باب لیکنه کوم.

که چېرې موږ د (په) او (پر) دقیقې کارونې ته پام ونه کړو، نو ددغو دووجملو مانیز توپیر به راته ځرګند نه شي.

# فرهنگي کار قرباني غواړي

دا لیکنه د هیلې مجلې د( ۱۳۷٦ ل) کال پـه( ٦)مـه گڼـه کـې خپره شوې ده.

**زموږ په ټولنه کې د هر هغه کار چې د ټولنیزو گټو په اړوند یې ځاني گټه کمه وي، تر سره کول گران دي، خو څوک چې د دې ډول هڅو بري ته اوړه ورکوي، نو ځان یې باید د زغم او یو ډول بلهارۍ (قربانۍ) په وسیله سمبال کړی وي.**

**ددې ډول هڅو او کارونو په منځ کې یو هم فرهنگي او یا پوهنیز کار دی، چې تر اوسه پورې لا زموږ په ټولنه کې د ژوند د خروب او هوسایني پر لومړنۍ وسیلې نه دی اوښتی. بېلابېل لاملونه ددې سبب شوي چې د فرهنگي کار، د فرهنگیانو د هڅو او د پوهنیزو چارو د ارزښت د لوړاوي مخه ډب کړي. په دې تر څ کې نو بیا د پښتو فرهنگ او پښتنو فرهنگیانو برخه ډېره خواره ده. له ځینو استثنایي حالاتو پرته داسې کمې بېلگې به پیدا شي، چې کوم ټولواک، نیمواک او هم چارواکي د کوم پښتون لیکوال او قلموال ملا د شاباس او آفرین په لاس ټېولې وي او د ژوند ناوخوالې او د زمانې گردونه یې ترې څنډلي وي. بلکې زموږ فرهنگي برخلیک همداسې راغلی، چې د چا له هڅونې او پالنې پرته به خپل فرهنگي یون په خپله پر مخ بیایو، خپله به خوله تویوو او خپله به یې وچوو، خو کاشکې چې یوازې همداسې وای او زموږ**

لیکوالو د چا له منڼې او ستاینې پرته د فرهنګي ارمان پر لوري یون کولای، خو خبره داسې نه ده. دلته زموږ فرهنګیان خپل فرهنګ ته د خپل ځاني زیار، مینې او ولولې په نوم دډېرو جرمونو او تورونو په جېل کې راښکېل کېږي او کله لا خبره دې ته هم ورسېږي چې ستر الهي نعمت (ژوند) یې هم د زورواکو د برچې له اور سره مخامخ شي. زموږ قلموال پر یوه وخت په دوو جبهو کې د مبارزې له چلېنج سره مخامخ دي: یوه هغه جبهه ده چې لیکوال او فرهنګي د خپل هېوادني فرهنګ او ژبې د پرمختګ لپاره د خپلې ولولې او مینې په ځواک جوړه کړې او له کومې مادي ګټې پرته د خپل ژوند خواږه په همدې لاره کې بلهاري کوي او دویم د مقابل لوري هغه یرغلیزه جبهه ده چې ډېر مادي او مانیز ملاتړ یې تر شا ولاړ دی او د فرهنګي ښکېلاک او زبېښاک په زرګونو چلونه او توطیې ور سره مل دي. دوی له خپلو ټولو وسایلو سره زموږ د فرهنګیانو د قلم او فکر د خولو پر جوړو شویو ماڼیو یرغل کوي او کله چې یې زموږ فرهنګیان د ژوند له ساز و سامان پرته د مینې او قلم په ولوله او دقربانۍ په جذبه د مقابلې میدان ته ور ودانګي بیا نو پر ډول ډول تورونو تورنېږي. له بده مرغه چې زموږ د ولس ذهني کچه هم تر ډېره حده داسې ساتل شوې، چې پر ژوند یې ترې د خپلو مینه وړو قدر اخیستل شوی دی، ځکه خو علامه سید جما ل الدین افغان زموږ ټولنه د هغو ټولنو په منځ کې ودرولې چې لیکوال یې پر ژوند مړ او پر مړینې ژوندی دی. زموږ په ټولنه کې ډېرې داسې پېښې شوي او کېږي چې د نړۍ په فرهنګي تاریخ کې داسې بېلګې ډېرې کمې دي. محمد ګل نوري د پښتو د ولسي ادبیاتو او پښتني فلکور یو لوی خدمتګار دی، یو

وخت د ژوند ناخوالو دومره تنګ کړ چې د کندهار په ښار کې د یوې کټوې مستو خرځون ته کېناست، خو د هغه تر مړینې وروسته د هغه په یاد غونډې وشوې. د مرحو م استاد بېنوا مړی ځکه مساپر شو، چې د هغه وخت حکومت هغې الوتکې ته اجازه ورنه کړه، چې د هغه مړی کابل ته یوسي، خو څو کاله وروسته یې د هغه په باب یو ډېر شانداره سیمینار جوړ کړ. له دې څخه ښکاري چې زموږ ټولنه او چارواکي د فرهنګیانو د پوهنیز کار له ارزښته وروسته خبرېږي. دا خبره په دې مانا نه ده چې زموږ ولس له خپلو فرهنګیانو سره مینه او خواخوږي نه لري، بلکې خبره داده چې تر ډېره بریده هڅه شوې، چې زموږ پر ولس د نالوستۍ داسې سیوری خور شي، چې د ولس د ذهن او لید سترګو نه تورې تیارې تاوې شي، نه یوازې دا چې خپل خدمتګاران ونه پیژني، بلکې خپل ځان هم ونه پیژني او د ذهن زیاته برخه یې هغه چا ته متوجه وي، چې د دوی د ذهني ښکېلاک هیله لري او د استاد الفت په وینا دې ته ورسي چې رښتیا هم (( موږ خپل خدمتګاران نه پېژنو خو باداران ښه پېژنو)) همدغه ستونزې دي چې زموږ فرهنګي بهیر یې وخت پر وخت ټکنی کړی دی. یو زیات شمېر تکړه لیکوالو او فرهنګیانو ښه په زغرده تر یوه بریده په ډېره ګرمه ولوله فرهنګي هڅې او خدمتونه کړي، خو بیا د زمانې ناخوالو او یادو لاملونو داسې ځپلي چې نه یوازې یې فرهنګي کار سست شوی، بلکې په ټپه ودرېدلای هم دی او لیکوال هم د نهیلیو او د ژوند له سترِیاوو سره مخامخ شوی دی. کله کله لا داسې هم شوي چې لیکوال پر خپل تېر فرهنګي او علمي کار پښېماني ښکاره کړې او دایې ویلي چې کاش له دې څخه خو مې یو بل کار کړی وای، ژوند خو به مې جوړ

شوی و. همدغو ترخو ناخوالو زموږ د یو زیات شمېر فرهنگیانو ژوند له رواني ناروغیو او مایوسیو سره مخامخ کړی دی. د پورتنیو ټکو له یادون څخه زما موخه همدا ده، چې پښتني فرهنگ ته کار کول دا ټولې ستونزې او کړاوونه لري. هغه ځوان لیکوال او فرهنگیان چې په گرمه ولوله د خپل فرهنگ د خدمت لپاره د مبارزې ډگر ته را دانگي که داسې فکر وکړي چې هلته د هېڅ ډول گټو، امتیاز او نورو هوساینو د شتوالي تصور موجود نه دی او یوازې د قربانۍ په روحیه یې ذهن، قلم او روح وینځلی وي، نو بیا که زموږ فرهنگیان له هرځومره ستونزو سره مخامخ شي، نه یوازې دا چې فریاد به نه کوي، روحي ستونزې به نه لري، بلکې د خپل فرهنگ د خدمت په لاره کې به له ځورېدلو او کړېدلو هم خوند اخلي.

# دخدای پامانۍ ګیله

دا لیکنه د مرحوم ننګیال د مړینې د خبر له اورېدو سره ســم لیکل شوې وه او همغه مهال په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

ته بیا تر موږ دمخه شوې، تا بیا د ژوند دبدرنګۍ پرمخ څپېړه ورکړه، ته بیا له خپل هنر سره د وړانګو ښار ته لاړې، ته لکه چې له تیارو څخه ډېر په تنګ شوې، که څنګه؟ ته خو له هرې تیــارې ســره عــادت وې، ډول ډول تیارې دې لیدلې وې، سرې، شنې، تورې او ســپینې تیــارې. هرې یوې ستا د زړه د هنر د ملکې وزرونــه تــړل، خــو تــه همغســې سرزورې وې، له هرې یوې سره دې د خپل هنر الهه جنګوله، ځان دې د اورونو په بټۍ کې کړاوه، خو سر دې نه ټیټاوه، ته هماغــه ((پښــتون وې چې سرټیټی دې... ته هم نه و زده.))

خو ته په یوه پټ راز پوه وې، همدا یوه خبره دې له موږه پټه کړې وه، همدغه یو راز دې موږ ته ناویلی پرېښوده، تا ژوند پېژندلی و، خو مــوږ ته دې نه وو ویلي، ځکه دې نو د سترګو په رپ کې د ابدیت جام پر سر واړوه، او موږ دې د بد رنګ ژوند د دېوال تر شا پرېښودو، خو موږ هــم یوه ګیله لرو، هغه دا چې تا خدای پاماني ونه کــړه او لاړې، ځکــه هــر

ځوک چې له یوې ډلې بېلېږي، نو خدای پاماني اخلي او بیا ځي. که ستا دا کار په دې نیت وي چې ته تل له مور سره حاضر یې او زمور پر ذهن پاچاهي کوې، نو بیا خو درسته ده، خو که داسې وي، چې تا هلته د نور او ښکلا سمندر ته ځان ورسوه او د خپلو هغو دوو ملیونو ستورو په کتار کې ودرېدې چې د ببلابېلو تیارو ښامارانو یې د ژوند د ښکلا دېوالونه رنګ کړي دي، نو بیا خو مور هم ځانته د ګیلو او مانو حق ورکوو.

ته خو په هره خبره کې د غیرت پر سپین آس سور وې او د هر امتیاز پر وخت دې بل ځوک تر ځان دمخه کاوه، نو دا ځل ولې؟ لکه چې ابدي سفر ډېر خوندور دی، که څنګه چې یوازې د خپلو ارمانونو پر دلدل سور او پرمخ لاړې؟

دلته خو اوس هم ډېرې لوبې رواني دي، ایا له دې لوبو نه ستړی شوې؟ که زړه دې تنګ شو او که نور دې د خپل شعر په رڼه هنداره کې د هغو انځورونه د خپل احساس او عاطفې کړېدنه ګنله؟ ته خو حساس وې، ستا پوټکی خو ډېر نازک و او چېرته لرې به چې ستا د وطن د غرونو په ځوکه کې هم پر کومه خېړۍ اور ولګېد، نو دلته به ستا له ګوګله دودونه پورته شول او کله چې به ستا لیلی (پښتو) ته چا تروې وکتل، نو څنګه به درباندې تبه راغله، څنګه به دې لاسونه

وربېږدېدل، څنګه به تک سور شوې، څنګه بــه دې ژر قلــم پــر کاغــذ کېښود او د احساس او ولولو مرغلرې به دې وشیندلې.

دا ټولې خبرې به پر ځای پرېږدو، زه اوس خپل غم ژاړم، تا تــه چــې څومره کوز ګوری یم، هغه لا څه کوې، اوس به زه لغمان تــه پــه کومــو سترګو ځم؟ زموږ د کور لاره خو ستاسو پر کور تېرېږي، مخکې خو زه د موټر ښي خوا ته کېناستلم، چې ستاسو د کور د شنو ونو نندراه وکړم، او ستا په شتوالي زړه ډاډه کړم، اوس به نو زه لــه شــرمه هــم د مــوټر کینې خواته کېنم، او له شرمه به ستا له کوره مخ اړوم، ما خــو تــا تــه ویلي وو، چې زه او ته نږدې سیمه وال یو، زما جنازه به ستا پــر اوږو او ستا به زما پر اوږو کلي ته ځي، اوس نو کومه ده؟ ما خو ستا جنازې ته اوږه ور نه کړه، موږ اوس هم خپل وطن کې مسافر او خپل وطن کې بې وطنــه یو، ستا په زړه کې به هم دا خبره تېرېږي، چې زه ډېر دروغجن یم او ماتاته دروغ ویلي وو، کېدی شي ددې غچ رانه هغه وخت واخلې، چې زه هم څو ورځې وروسته ستاسو نوي او لوی کلي ته درشم او هلته رانه مخ واړوې او راته ووایې چې هلته دې را سره څه وکړل چې اوس لا دلته راپسې راغلې! خو زه ګوره هم چوپه خوله پاتې کېدی نه شم، که نور څه ونــه وایــم، نــو دومره خو وایم چې ته خو ښه وې، ځان دې له غمونو بې غمه کړ، تــا خــو ماته ویلي وو، چې دلته به ټول غمونه سره وېشو، تا نو ولــې ټــول غمونــه یوازې ماته پرېښودل او ځانله دې ابدي سفر غوره کړ.

ته خو پر هره خبره ټینــګ ولاړ وې، نــه دې د سیاســي تربــور ځــواب پرېښوده، نه دې د فرهنګي او نه دې د کورني او کلیوال.

یاد خو به دې وي، چې هغه ورځ موږ څو تنــه ستاســو د کــور ترځنــګ تېرېدو او تا په وچ زور خپل کور ته ستانه کړو. زموږ په ډېر ټینګار سره دې تربور راته بانه کړ، چې د یو پښتون له کوره مېلمه تېرېدل پوهېږې څه مانا لري؟ زه به خپل تربور ته څه وایم؟ موږ خو هغه شپه تا سره پــاتې شــوو او ستا شمله نوره هم په تربورانو کې لوړه شوه. خــو تــه ګــوره بیــا غلــی او موسکی شوې او له همغې ورځې دې ځان غلی او د یوه اوږده ســفر تکــل دې پیل کړ. ته خو ښه پوه وې، چې ستا د ژبې او وطن څومره تربوران ستا د شعر الهې ترور ته کابو ناست دي، نــو مــوږ دې، دې لېوانــو تــه یــوازې پرېښودو؟ ایا هغه ته نه وې چې د اور او وینو په څلور نیمو کلونو کې دې د زخمي کابل په زړه کې د فرهنګي مینې د رباب تارونه ترنګول، کلــه چــې همدې رباب ته موږ خپلې څنې غوږې کړې، په ولولو او شور راغلو، بیا نو تا خپل سفر پیل کړ. دامنم چې تا ډېرې فرهنګي تورې وهلي چې ځلا یې تر ډېره وخته ستا فرهنګي ویاړونه ژوندي ساتلای شي، خــو مــوږ د خپلــې مینې د هغې ماتې ببږی په غم کې یو، چې تا غوندې یو ماڼو یې ساحل تــه د رسولو جوګه و.

ته کېدی شي بیا له ځان سره موسکی شې او ووایې چــې دوی ژونــدي مړي دي، هسې د ژوند په یوه لوی زندان کې ګرځي، څېرې یې د مړو دي، خو خبرې د ژوندیو کوي، خو له دې نه خبر نه دي چې ژوند چېرته دی؟

ته خو زموږ د ژوند په رنګ ښه خبر یې، نو ځکه به مو ډېر نه ګرموې، خو زه بیا خپله ګیله راغبرګوم، ته نو ولې له موږه پټ او بې له خــدای پامــانۍ لاړې؟ ته کېدی شي بیا موسکی شې او ووایې چې ته لا تر اوســه د مــرګ په خوند خبر نه یې، د مرګ پرښتې د باد په شان دي، هغه خو څه رنګ نه

لري، چې څوک یې ویني او چاته خبر ورکړي، دا دوه ملیونو نورو دې کله خدای پاماني واخیسته چې ما اخیستې وای؟ خو په دې خبرو لــه مــا نــه ځان خلاصولای نه شې، زه خو پوهېږم چې ته څوک وې او څــه شـــی دې لیدلای شول او څه نه؟ ایاته همغه څوک نه وې چې د ((مرغانو پــه هګیــو کې دې د هغو پروازونه لیدل)) ایا ته همغه څوک نه وې چې لــه هیلیــو، څېړیو او نښترو سره دې خبرې کولې، تا خو دمرګ پرښــتو ســره دمخــه دمینې او پیوستون تار تړلی و، خو دا راز دې مور ته نه وایــه، نــو ځکــه زه ګیله من یم، که ته هر څه ووایې، چې نه داسې نه ده، زه یې ناڅاپي بلــلای یم، او ما دخدای پاماني وخت پیدا نه کړ، نو زه بیا وایم چې دا خبــره نــو د چا ده:؟

یــو بـــاد را لګېدلی ما له ځانه سره وړي

د زړه آس مې له باره له ارمانه سره وړي.

# په پښتو کې د (یاګانو) سمه کارونه او اړتیا

د پښتو (یاګانو) د سمې کارونې په اړه زما دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۷۶ل) کال په (۴) ګڼه کې چاپ شوې ده، وروسته مې په دې لیکنه کې څه نورې زیاتونې هم وکړې، چې دادی دلته یې تاسو ته وړاندې کوم.

**په پښتو ژبه کې (ی) ګانې د شکل یا بڼې له پلوه پر پنځــه ډولــه دي چې پخوا د پښتو ژبپوهانو او لیکپوهانو له خوا دا شکلونه غوره شوي او که په اوپایمو کلونو کې د باره ګلی د سیمینار پرېکړه ورسره یوځای کړو، نو دا شمېر اوس شپږو شکلونو ته رسېږي، دا پنځه یا شپږ شکلونه پــه حقیقت کې د څلورو بېلابېلو اوازونو ښکارندویي یا استازي کوي، چــې دوه یې خپلواک غږونه یا واولونه دي او نــور یــې د ژبپــوهنې د یــوې دودیزې نومونې یا اصطلاح له مخې غبرګغږونه یا دیفتونګونه دي .**

**دپښتو (ی) ګانو دا څلور اوازونه په حقیقت کې څلور مختلف غږونــه دي، چې د پنځو نږدې همشکله ګرافیمونو په بڼه افاده کېږي، له همدې کبله دا مختلف او بېلابېل اوازونه په دودیز ډول د یوه ګرافیم (ی ګانو) په نامه یادېږي، که په پیل کې دپښتو غږونو لپاره دلیکنښو یا ګرافیمونو د ایښودلو پرمهال دې څلورو بېلابېلو اوازونو ته بېل بېل شکلونه غوره شوي وای، نو نن به د پښتو (یاګانو) په لیکنې او ګړنې برخه کــې هغــه**

ستونزه او ناسم پوهاوی نه رامنځته کېده، چې اوس کله کلــه پــه دې برخه کې پېښېږي، خو له دې سره سره پښتو ژبپوهــانو او لیکپوهــانو هڅه کړې، چې د ټکو او ځینو نښو په زیاتون سره ددې اوازونو د افادې په بڼه کې اسانتیا راولي او دپښتو لیک لوستنه اسانه کړي .

د یادونې وړ ده چې د پښتو (۸) واولونو له جملې څخه دوه یې همدا یاګانې دي، چې دکارونې خورا زیات ځایونه او اړخونه لري. له واول پرته طبعاً کلمه هډو جوړېدی نه شي، نو ځکه که موږ دا دوه واولونه (ي = i) او (ې = e) محاسبه کړو، نو دپښتو کلمو په سلو کې تر پنځه ویشتو زیاته برخه جوړوي، ددې واولونو ارزښت په دې کې دی چې نه یوازې د نوم یا فعل په اصلي بڼه کې راځي، بلکې په مغیره حالت کــې هــم راځــي او دپښتو ژبې دګرامر یوه ځانګړتیا یا د ژبني سکښت یو خصوصیت دادی چې فعل، نوم، صفت یا قید پر خپل اصلي حالت سربېره دویم یا مغیره حالت هم لري او د جمعې هم، نو دا دوه واولونه یا (ی ګانې) دکلمو پــه دغسې اوښتون کې اساسي نقش لري. سربېره پر دې زورکــي والــه او همزه واله یا (ۍ = ئ) او نرمه یا نرینه (ی) هم دپښتو کلمو په جوړونــه کې ډېر نقش لري، نو دا ټول چې سره یوځای شي دا د پښتو کلمو یــوه ډېره درنه او غوښنه برخه جوړوي. که چېرې دهغو د ټاکل شویو شکلونو په واسطه دهغو د اوازونو سمه افاده او لیکنۍ بڼه ترسره نه شي او یا یوه د بلې پرځای وکارول شي، نو یقیني خبره ده، چې دپښتو متن په افاده او لوستنه کې به ډېرې ستونزې رامنځته شي .

زه دلته غواړم لومړی دپښتو دمروجو پنځه واړو یاګانو دسمې کارونې ځایونه په ګوته کړم او بیا وروسته د (ی ګانو) په اړه خپــل یــو نظــر او وړاندیز راوړم .

**۱– نرمه، زورواله یا نرینه (ی = ay) :**

دې (ی) ته نرمه، لنډه، زورواله یا نرینه (ی) وایي او د ژبپوهنې له معمول تعریف سره سم یو غبرګغږ یا دیفتونګ ګڼل کېږي، چې له یو خپلواک اواز (a) او یو نیمه خپلواک غږ (y) څخه رغېدلی دی. سره له دې چې یو شمېر اوسني ژبپوهان د دیفتونګ له معمول تعریف سره موافق نه دي او هر یو، یو بېل اواز ګڼي، په هر ترتیب نرمه یا نرینه (ی) له همدغو دوو اوازونو څخه رغېدلې ده او دیوې څپې په شان یو ځل له خولې څخه راوځي. ددې (ی) دکارونې ځایونه په دې ډول دي :

الف - دمفردو مذکرو نومونو په پای کې راځي لکه :

سړی، منګی، لرګی، زمری، ډانګی، فرنګی او داسې نور...

کېدی شي دا نومونه حقیقي مذکر وي یا لفظي .

ب - په ځینو نسبتي صفتونو یا ستاینومونو کې هم راځي لکه:

توریالی، ننګیالی، زمریالی، بریالی او نور...

ج - په هغو فعلونو کې هم راځي، چې دمفرد مذکر نوم لپاره ګردان شوي یا اوښتي وي .

لکه: احمد ډېر ځورېدلی دی، محمود ډېر کړېدلی دی، لاس مې سوزېدلی دی .

د - د ځینو امکاني فعلونو په پای کې هم راځي. لکه :

زړه مې په ښو خبرو رغېدلای شي، استاد د زده کوونکو په ښو اخلاقو خوشالېدلای شي .

وطن په کارونو ابادېدلای شي، ځمکه د بزګر په هڅو زرغونېدلای شي .

۲- څرګنده یا معروفه (ي = i) :

دا (ي) په پښتو کې یو خپلواک غږ (واول) دی، چې په پښتو متن کې ډېره زیاته کارول کېږي، د کارونې ځینې مهم ځایونه یې په دې ډول دي :

الف - دهغو مفردو مذکرو یا نارینه نومونو دجمعې لپاره راځي چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه :

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| سړی | سړي |
| زمری | زمري |
| غویی | غویي |
| منګی | منګي |
| لرګی | لرګي |

او داسې نور...

ب - دهغو مفردو مذکرو نومونو دمغیره یا دویم حالت لپاره راځي چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي لکه :

| ( اصلي حالت) | (مغیره یا دویم حالت) |
| --- | --- |
| (سړی) کار کوي | (سړي) کار وکړ |
| (بریالی) درس لولي | (بریالي) درس ولوست |
| (زمری) د ځنګله پاچا دی | له (زمري) څخه نور حیوانات وېرېږي. |

ج - د نسبتي صفتونو یا نسبتي نومونو په پای کې هم راځي، لکه:

| | | | |
| --- | --- | --- | --- |
| خوشال | خوشالي | رحیم | رحیمي |
| خوښ | خوښي | کریم | کریمي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| سوکال | سوکالي | ابراهیم | ابراهیمي |
| هوسا | هوسایي | | |

اونور...

د - په یو شمېر کسبي نومونو کې چې دیوې پېشې یا کسب ښکارندویي کوي، هم کارول کېږي، لکه:

ډولچي، سورنچي، توپچي، موچي، دوبي، جارچي او نور...

هـ - په یو شمېر فعلونو، په تېره بیا د حال زمانې په فعلونو کې هم استعمالېږي.

لکه: ځي، راځي، خوري، کړي، ځښي، وړي، لولي، ناځي، پاځي او نور...

۳- اوږده، مجهوله یا ښځینه (ې = e):

دا (ې) هم یو خپلواک اواز (واول) دی، چې په پښتو کلمو په تېره بیا په ښځینه نومونو کې زیاته کارول کېږي. دکارونې ځینې مهم ځایونه به یې دلته په ګوته کړو:

الف - دا ښځینه (ې) دهغو مفردو مونثو نومونو دجمعې لپاره کارول کېږي، چې په ګرده (ه) یا زور (a) پای ته رسېدلي وي. لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ډیوه | ډیوې |
| ښځه | ښځې |
| پاڼه | پاڼې |

منه منې

زرکه زرکې او داسې نور...

ب - دهغو مفردو مونثو نومونو دمغیره یا دویم حالت لپاره راځي چې په همدې ګرده (ه) یا زور (a) پایته رسېدلي وي. لکه :

| اصلي حالت | مغیره حالت |
|---|---|
| (ډیوه) رڼا کوي | د (ډیوې) رڼا تته ده. |
| (ښځۀ) د ژوند نیمه برخه ده. | بې له (ښځې) ژوندون ګران دی. |
| (پانه) ورژېده | د توت (پانې) رنګ مې خوښېږي. |
| (پلوشه) درس لولي | (پلوشې) درس ولوست. |

ج - دهغو ښځینه صفتونو دجمعې او مغیره حالت لپاره هم راځي چې په ګرده (ه) یا زور (a) پایته رسېدلي وي. لکه :

| مفرد او اصلي حالت | مغیر او د جمعې حالت |
|---|---|
| (ښه ښځه) | (ښې ښځې) |
| (ښه ښځه) ښه خوی لري | (د ښې ښځې) به ښه خوی وي |
| (سره ډیوه) | (سرې ډیوې) |

د - په هغو نسبتي صفتونو او فعلونو کې هم کـاروـل کېـږي، چــې د ښځینه نومونو لپاره کارول شوي او یا ګردان شوي وي،لکه :

| | |
|---|---|
| له (بدې ورځې) ژاړم | ( د ښې ورځې) خاوند شه |
| (نجونې ژړېدلې) | (خویندې خندېدلې) |
| (تورې نځېدلې) | (وراوې تېرېدلې او داسې نور... |

هـ - په ښځینه ضمیرونو او مفردو حقیقي مونثو نومونو کې هم کارول کېږي لکه:

دې، هغې، ناوې، ادې، خوابښې او نور...

ددې (ې) یو بله ښه ځانگړنه په دې کې ده، چې دکلمو په منځ کې هم خپل هویت ساتلای شي او ان که څوک وغـواړي پـه دقیـق ډول یـې استعمال کړي، دکلمې په سر کې هم خپل هویت ساتلای شي لکه:

(تېر) دپخوا تېر شوی او (تیر) د دستک او لرگي په مانا

(پېر) دمهال په مانا او (پیر) دلارښود یا مرشد په مانا.

۴- زورکي واله (ۍ =y ə )

زورکۍ واله (ۍ = y ə) د ژبپوهنې دهمغو معمولو تعریفونو له مخې یو غبرگغږ دی، یانې له دوو اوازونو څخه رغېدلې ده، چې یو زورکـی (ə ) دی او بل (y) دی چې یو یې خپلواک (ə) دی او بل یې (y) نیمه خپلواک یا سیمي واول. په پښتو اوسنۍ الفبې کې د زورکي (ə) او زور (a) تفاوت نه لیدل کېږي او دواړه په دې بڼه (ه) لیکي، خو فکر د بـاړه گلـۍ پـه سیمینار کې د زور او زورکي لپاره (ه او ۀ) نښې منل شوي دي او دا یـو ښه وړاندیز دی. او بل یې (y) نیمه خپلواک غږ دی، د استعمال ځایونه یې په دې ډول دي :

الف - په پښتو مفردو مونثو نومونو کې راځي، کېدی شي دا نومونه یا حقیقي مونث وي یا نا حقیقي، خو په لفظي ډول پرې دمونـث اطـلاق کېږي. لکه :

ځولۍ ، زمرۍ ، نړۍ ، گلالۍ ، ډوډۍ ، څوکۍ ، او داسې نور...

ب - د ځینو هغو نسبتي صفتونو دجمعې او مغیره حالت لپاره راځي، چې په ځرګنده (ي) پایته رسېدلي وي. لکه :

| اصلي حالت | جمع یا مفرد |
|---|---|
| خوښي | خوښۍ |
| تربګني | تربګنۍ |
| دوستي | دوستۍ |
| خوشالي | خوشالۍ |

دا به په یوه مثال کې هم واضح کړو :

| (اصلي حالت) | (مغیره حالت) |
|---|---|
| د احمد او محمود ترمنځ دوستي ده . | د احمد او محمود د دوستۍ مزه نه شته . |
| مفرد | جمع |
| نن دې په کاله کې خوشالي ده | خدای(ج) دې دې وطن ته ډېرې خوشالۍ راولي. |

۵- همزه واله ئ( əy) :

دا هم یو غبرګغږ دی او له زورکي والې (ۍ) سره یې په سکښت، جوړښت او تلفظ کې هېڅ تفاوت نه شته، یانې دا غږونه په حقیقت کې دیوې ځپې په شان یو ځل له خولې څخه راوځي. پښتو لیکپوهانو د زورکي والې (ۍ) او همزه والې (ئ) د بېلتون نښه او ضرورت همدا ګڼلی چې یوه په نومونو او بله په فعلونو کې راځي. زه به دلته د پښتو لیکپوهانو له خوا د همزه واله (ئ) د اوسني دودیز استعمال ځایونه په ګوته کړم:

الف - همزه واله (ئ) اکثره د امر او نهې فعلونو په پای کې راځي لکه: کېنئ، پاڅئ، وخورئ، مه خورئ، لاړشئ، مه ځئ او نور...

ب - د ځینو سوالیه جملو په پای کې هم راځي البته دلته هم فعلــي حالت څرګندوي لکه: تاسو ټولګي ته راځئ، تاسو درس لولئ، په علمي غونډو کې برخه اخلئ او داسې نور...

د یادونې وړ ده چې همزه واله (ئ)، زورکي واله (ۍ) او نرمه یا نرینــه (ی) دکلمو په منځ کې خپل هویت ســاتلای نــه شــي او ځــای یــې د څرګندې (ي) شکل نیسي، یوازې دکلمو په پــای کــې دا (ی) ګــانې د شکل له پلوه خپل هویت ساتلی شي .

لکه: نرۍ + وال = نریوال     یا کلی + وال  = کلیوال

اوس دپښتو (ی) ګانو په اړه خپل نظر او وړاندیز وړاندې کوم :

**لومړی دنومونو په اړه:** پښتو (ی) ګانې طبعاً د بېلابېلــو اوازونــو ښکارندویي کوي، لکه څنګه چې هر اواز خپل یو بېل او واحد نوم لري، نو په کار ده چې دهغه ګرافیم یا شکل هم یو واحد او له اواز سره منطبق یو نوم ولري، لکه څنګه چې موږ په خپله نوره ابېڅې ( الفبې) کې دهر اواز لپاره دګرافیم یو مشخص نوم لرو او هېڅ ستونزه په کې نه وینو، نو دلته هم باید دنومونو د یو والي له لارې دا ستونزه حل شي. په دې برخه کې زما مشخص وړاندیز دادی چې :

( ی = ay) ته دې نرینه (ی) وویل شي، ځکه چې دا د هغې دکارونې له ځایونو او مانا سره پوره پوره مطابقت کوي، په هر ځای کې چې دا (ی) کارول کېږي، فعل وي که صفت او یا که نوم وي، دهغو ټولو خصلت بــه نارینه وي یا به لفظاً او یا به هم دمانا له پلوه دنارینــه ځانګړتیــا تــرې

څرګنده شي، نو د (لنډې) یا (نرمې) (ی) دوه نور نومونه دې ترې حذف شي، ځکه چې له مانا سره یې اړخ نه لګوي، زور واله (ی) یې هم له نامه سره مانیز اړخ لګوي، ځکه چې له زور (a) او سیمي واول (y) څخه جوړه شوې ده . خو نرینه (ی) ورسره تر ټولو زیات اړخ لګوي .

(ې = e): لکه څنګه چې (ی= ay) د نارینه نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي، دغسې ( ې = e) دمونثو نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي، نو په کار ده چې ښځینه (ې) ورته وویل شي، چې له مانا سره یې مطابقت پیدا شي. دمجهولې یا اوږدې (ې) اصطلاحګانې ځکه سمې نه برېښي، چې د (مجهولې) اصطلاح موږ ته مجهوله نه ده او کېدی شي دعربي ژبې او دري ژبې ویونکو ته دا (ې) مجهوله وي او همغه تعبیر دلته سرایت کړی وي، نو کوم شی چې موږ ته مجهول نه وي، ولې د مجهول نوم پرې کېږدو؟

د یوه واول اوږد او لنډ تلفظ کول په مانا کې کوم تغیر نه راولي نو ځکه دا اصطلاح یا نوم هم له مانا سره اړخ نه لګوي، نو که دې (ې) ته همغه (ښځینه ې) نوم ورکړل شي دا کار به د هغې له مانا سره مطابقت پیدا کړي .

د څرګندې یا معروفې ( ي = i) نومونه دومره بده نه برېښي، ځکه پښتنو او نا پښتنو ټولو ته څرګنده ده او نور نومونه هم نه لري، نو ځکه که همدا نوم غوره شي، څه ستونزه نه شي راولاړولای.

د زورکي والې او همزه والې ( ۍ، ئ) په باب زما نظر دادی چې دا دواړه په حقیقت کې یو اواز دی او یا د یوه غږ دوه شکلونه دي. موږ په نورو ځایونو کې دپښتو الفبې په برخه کې په واقعیت کې د اوازونو لپاره شکلونه نه لرو او موږ د اوازونو باقي یا پوروړي یو، لکه د زورکي (ə )

لپاره هم تراوسه پورې د (ه) شکل او د زور (a) لپاره هــم دا (ه) شــکل کاروو، سره له دې چې د باره ګلۍ سیمینار د زورکي لپــاره (ۀ) شــکل غوره کړ، خو تراوسه لا پوره دود شوی نــه دی او هــم د (u) او (ه) دوو اوازونو لپاره یو شکل ( و) لرو، خو دلته بیا د یــوه اواز (əy) لپــاره دوه شکله لرو: (ۍ = ئ). ژبپوهانو او لیکپوهانو دهمزه والې (ئ) د ضرورت وجه (فعلي افاده) ګڼلې، نو که د فعل، نوم او صفت د تثبیت لپاره موږ د اوازونو شکلونه بدلوو، نو بیا خو هغه نورې (ی) ګانې هــم پــه فعلونــو، صفتونو او نومونو کې راځي، نو هغو ته مو ولې بېلابېل شکلونه غوره نه کړل له :

ی = سړی (نوم)، بریالی (ستاینوم)، کړېدلی دی (فعل)

ي = سړي (نوم)، ننګیالي (توصیفي یا ستاینوم)، خوري، ځي (فعل)

ې = ناوې (نوم) تودې/ سړې (صفت)، خندېدلې، ګرځېــدلې (فعل)

نو دلته ولې دا (ی) ګانې دمحتوا له مخې پر نورو شکلونو ونه وېشــل شوې؟ زورکي واله او همزه والــه (ۍ،ئ) پــه حقیقــت کــې د یــوه اواز ښکارندویي کوي او د یوه اواز د تثبیت لپاره یوازې یوه ګرافیم یا توري ته اړتیا ده او بس. د یوه غږ لپاره د بېلابېلو تورو شتوالی دا مانا ورکوي، چې موږ د یوې ژبې لپاره په یوه واحد لیکدود کې څو الفبېوې ولرو او دا کا ر د ژبې زده کړه او دتدریس چارې سختوي. نو زما وړاندیز دادی، چې همزه والې (ئ) ته هېڅ اړتیا نه شته او دا پر ژبه یو زیاتي بار دی او ګټه نه لري، باید له پښتو الفبې څخه حذف شي .

د باړه ګلۍ په سیمینار کې چې یوه بله ی (ے) شکل په اختیاري ډول منل شوی، هغې ته هم هېڅ اړتیا نه شته او دا پر پښتو ژبه د اردو ژبې د اغېز ښکارندویي کوي او د استعمال ځایونه یې په نورو (یا) ګانو افــاده کېدی شي .

پښتو لوستونکو ته مې د یاګانو دزده کړې په برخه کې وړاندیز دادی، چې د یاګانو دنومونو د زده کړې پرځــای د یاګــانو دتلفــظ او دهغــو د استعمال ځایونو ته زیاته پاملرنه وکړي، نومونه (اصطلاح) کېدی شـــي دسړي له یاده ووځي، خو د یاګانو دقیق تلفظ او په حافظه کې دهغو د شکل ساتنه د یاګانو له دقیقې کــارونې ســره مرســته کــولای شــي. لوستونکي کولای شي، لاندې شعار د یاګــانو د اســتعمال د یــوه لنــډ فورمول په توګه په پام کې ونیسي او په هره کلمه کې چې ( یــا ګــانې) کارول شوې وي، د همدې فورمول له مخې یې دتلفظ په پام کې نیولــو سره وکاروي: دا فورمول دادی :

تل دې وي سوله په ټوله نړۍ کې - سره یو شئ دا مو شعار دی.

پورتني فورمول کې د هرې (ی) شکل او تلفظ په پام کې ونیسئ او په هره کلمه کې چې (ی) کارېدلې وي هغه له دې تلفــظ او شــکل ســره منطبق کړئ، نو کېدی شي په سم ډول یې وکاروئ .

# په لیکوالۍ کې احتیاط

**دا لیکنه هم د هیلې مجلې په پاڼو کې خوندي شوې ده.**

دژوند په ټولو چارو کې پام او احتیاط ته ډېره اړتیا ده، د ورځني ژوند له ترافیکي پېښو نیولې بیا تر سترو سیاسي پېښو پورې هرې یوې کې احتیاط ډېر ضروري دی. که په ځاني ژوند کې احتیاط ونه شي نو فردي ژوند به تباه شي او که چېرې په ټولنیز او سیاسي ژوند کې احتیاط ونه شي، نو ټولنه او هېواد به له سترو ناورینونو او غمیزو سره مخ شي، په همدې وجه اسلام، نورو اسماني دینونو او ټولنیزو مفکرینو انسان ته د ژوند په ټولو چارو کې د احتیاط سپارښتنه کړې ده.

زموږ دهېواد په سیاسي او ټولنیز ژوندانه کې د بې احتیاطۍ، بې غورۍ، افراط او بې تفاوتۍ نتیجه موږ په خپلو سترګو ولیدله او لا یې ګورو. خو اوس راځو دې ته چې په لیکوالۍ کې احتیاط څه ارزښت، رول او اغېز لري؟

لیکوالي د ټولنیزو چارو دلارښوونې، څلونې او پرمختیون یوه غوره وسیله ده او لیکوال دټولنې داسې یو اندیال (مفکر) شخص دی چې دټولنې دنورو عادي وګړو په انډول یې د فکراو خیال، احساس، عاطفې او ولولې کچه ډېره اوچته ده، همدارنګه

لیکوال دټولنې یو حساس موجود دی، چې په ټولنه کې دهرډول مثبتې او منفي پېښې پر وړاندې چټك غبرګون ښيي. ځینې وایي چې دلیکوال د وجود پوټکی ډېر نری او نازك دی، نو ځکه خو دهرعمل پر وړاندې ډېر ژر عکس العمل ښيي، دا خبره په دې مانا نه ده چې لیکوال دټولنیزو پېښو او ناورینونو پر وړاندې دمقاومت تاب نه لري، بلکې خبره دحساسیت او ادراك په ځواك کې ده چې په لیکوال کې دا ځواك ترنورو پیاوړی دی. خو کله کله داسې هم پېښېږي، چې لیکوال دخپلو شفافو ولولو او چټك غبرګون تر اغېزو لاندې د افراط او تفریط داسې پړاو ته ورسېږي چې په دواړو حالتونو کې یې د تعادل پولې نړولي او د بیا را ګرځېدنې چانس یې له منځه وړی وي.

دلیکوال خبره دعادي وګړو په څېر نه ده چې تر خولې ووځي او بیا د باد په څپو کې ورکه شي. دلیکوال خبره نه یوازې دیوې ټولنې دپېښو هنداره ده، بلکې دده خپله تذکره هم ده. لکه څنګه چې دیو شخص دهویت په تذکره کې دده اکثره ځانګړنې په ګوته کېږي. دغسې دلیکوال له لیکوالۍ څخه هم دهغه دټولنیز، سیاسي، اخلاقي شخصیت او ټولنیز تفکر ټوله مجموعه راڅرګندېږي او د هغه باطني او ظاهري هویت ورڅخه ښکاري. نو لیکوال ته په کار دي چې خبرې یې په تول تللې وي. په کتابي او مطبوعاتي بڼه دلیکوال د اند او نظر خپرېدل (توکړو لاړو ) ته ورته وي، چې بېرته نه راپورته کېږي، نو ځکه خو په کې تر حده زیات احتیاط په کار دی.

په ادبي او څېړنیزو لیکنو کې دلیکوال تېروتنه دویم ځل خپله لیکوال او د نورو لیکوالو له خوا سمېدی شي، خو په سیاسي لیکنو، د ژوندیو شخصیتونو او دسیاسي ډلو دتائید او تردید په باب لیکنې دلیکوال خپل فردي مسوولیت دی او بل څوك یې دسمون مسوولیت پر غاړه نه شي اخیستلای.

یو لیکوال دوست مې یوه ورځ ( د طالبانو د واکمنۍ پر مهال) له بهر څخه ماته ټلیفون وکړ، راته یې وویل، چې د طالبانو په باب راته خپل نظر څرګند کړه چې څومره یې وستایو؟ البته دا لیکوال دطالبانو یو اورنی پلوی و، ما ورته وویل: دومره ستاینه یې وکړه چې سبا پښېمانه نه شې، مانا دا چې دتائید او تردید، ستاینې او غندنې ترمنځ تعادل ته دې باید پام وي، داسې نه چې په ستاینه کې دومره وړاندې تللای یې چې دبېرته راګرځېدو پر وخت دې دتردید او غندنې ټول پلونه نړولي وي.

په سیاسي او ټولنیزې لیکوالۍ کې باید لیکوال ځان ته د بېرته راګرځېدو یوه خوندي او ساتندویه لاره او کوڅه هم پرېږدي، چې دخپلې تېرې تائیدونې او ستاینې د پښېمانۍ پر وخت له هغې څخه ګټه پورته کړي، خو که دا لاره نه وي، دلیکوال راتلونکی کار ټکنی کېږي او هم دلیکوال فکري او اخلاقي شخصیت ته زیان رسي. دی بیا ټولنې ته دکوم کار او پېښې دتائیدونې او ردونې لارښوونې نه شي کولای، ځکه چې خلك ورته وایي چې ستا تېرې ستاینې، تائیدونې او یاهم ردونې ناسمې وختلې نو راتلونکې هم همداسې در وبوله.

زما هغه لیکوال ملګری چې مانه یې د طالبانو دستاینې په باب خپل نظر غوښتی و، تقریباً یو کال وروسته یوځل بیا ماته ټلیفون وکړ او ویې ویل چې ستا مشوره ماته ډېره ګټوره تمامه شوه، ځکه چې ما هغه وخت غوښتل چې ددوی په ستاینه کې ډېر مطالب چاپ کړم او اوس زما نظر ددوی بشپړ مخالف دی او غواړم چې ددوی په غندنه کې یو څو لیکنې خپرې کړم، ما ورته بیا وویل: ګوره په غندنه کې هم افراط ونه کړې، د افراطي غندنې او افراطي ستاینې دواړو نتیجه پښېماني ده، ښه داده چې پر احساساتو واکمن شې؛ ښو ته ښه او بدو ته بد ووایې. بله خبره داده چې پر سیاسي ډلو او ژوندیو سیاسي شخصیتونو ډېر باور په کار نه دی، ځکه چې هغوی خوځنده او متحول دي، ناست نه وي او کار یې لا ختم شوی نه وي، کله چې یو سیاسي ګوند او شخصیت په بشپړ ډول د فعالیت او ازمون له ډګره ووځي بیا دهغو ټول کارونه ارزول کېدی شي. دا په دې مانا نه ده چې څوک دې د واکمن بهیر پر وړاندې غلی کېني او هېڅ دې نه لیکي، لیکوال که ددې پېښو پر وړاندې بې توپیره پاتې شي، نو ټولنې سره به یې غټ خیانت کړی وي، اصلي خبره داده چې د واکمن جریان دمثبتو او منفي پېښو پر وړاندې مثبت او منفي غبرګون ښودل او د نیمګړتیاوو په ګوته کول دلیکوال حق دی که چېرې لیکوال د واکمنو جریانونو د واکمنۍ پر مهال هغو ته خپلې نیمګړتیاوې او دحل لارې په ګوته نه کړي، ولس راویښ نه کړي، نو بیا خو یې خپل مسوولیت نه دی ترسره کړی، کله چې یو

واكمـن بهيـر لـه منځـه لاړ، ترهغـه وروسـته خـو بيـا ورتـه نصيحت كول بې ګټې دي، بيا نو يوازې د هغو دکړنو ارزونه مطرح كېږي. خـو دلتـه زمـوږ موخـه داده چـې د واكمـن جريـان پـر وخـت بايـد ليكوال د مثبتـو كـارونو سـتاينه او د منفـي هڅـو غندنـه وكړي او كه چېرې جريان داسې وي چې ټول مثبت او يـا ټـول منفـي وي، نـو بيا خو يې ستاينه او غندنه هم د همدې معيـار او كچـې لـه مخـې ده.

په افغانستان كې دمجاهدينو (مختلفو تنظيمونو) د واكمنۍ پـر مهال يو ليكوال چې نـه غـواړم دلتـه يـې نـوم يـاد كـړم راتـه وويـل، چې له (....)  شخه چې هغه هم ليكـوال و او هـم يـې يـو كمپيـوټر لاره او كتابونـه بـه يـې كمپـوزول، سـخته ګيلـه وكـړه، دې ليكـوال وويل چې زه له هغه شخه سخت خوابدی يم، مـا هغـه تـه د كمپـوز لپـاره دخپلـو شـعرونو مجموعـه وركـړه، هغـه خـو اول زمـا شـعري ټولګه ډېره وځنډوله او تر ډېر ځنډ وروسـته يـې رانـه ډېـرې پيسـې وغوښتې چې د بـازار تـر نرخـه هـم ډېـرې زيـاتې دي، مـا همـدومره پيسې لرلې چې هغه تـه مـې دكمپـوز لګښـت كـې وركـړې او چـاپ ته څه پاتې نه شوې، نـو ځكـه دادی زمـا مجموعـه وځنډېدلـه. كلـه چې طالبان واك ته ورسېدل ترهغه وروسته مې دا شاعر او ليكـوال بيا مخـې تـه راغـی، مـا تـرې دشـعري مجمـوعې پوښتنـه وكـړه، ده راته وويل كور دې دهغه ليكوال كمپوزر ملګري ودان وي، چې لـه ما څخه يې ډېرې پيسـې واخيسـتې او چـاپ تـه راسـره څـه پـاتې نـه شول كه زما هغه مجموعه چاپ شوې وای، نو اوس بـه طالبـانو لـه

پوزې ځوړند کړی وم، ما ویل ولې دطالبانو نو ستا پر شعري ټولګې څه کار دی؟ ده وویل: ته خو خبر نه یې هغې کې ټول داسې شعرونه وو چې ما د مجاهدینو او پاټکیانو په ستاینه کې ویلي وو. ما ورته وویل ته خو نو د ډاکټر نجیب او تر هغه دمخه دکارمل په حکومت کې غټ سړی وې، نو تا مجاهدین څه کول؟ هغه راته وویل مجاهدین لا څه کوې، چې ترهغو مخکنیو ته مې هم ډېر شعرونه ویلي، خو هغه مې دمجاهدینو په وخت کې پټ کړل او له دې مجموعې مې وکښل.

دطالبانو د واکمنۍ څلور کاله تېر وو، چې همدا شاعر مې یو ځل بیا مخې ته راغی او ویې ویل چې یون صیب دشعرونو یوه مجموعه مې تیاره کړې، که راته ویې ګورې او څه پرې ولیکې نو ډېر به خوښ شم. ما ورته وویل چې همغه جهادي شعرونه دي که څنګه؟ دی له خندا شین شو نه بابا اوس کله دهغو وخت دی، اوس خو وخت بدل دی. ما چې په څو مشاعرو کې د طالبانو په افراطي ستاینه کې ددې شاعر څو شعرونه اورېدلي وو. نو په زړه کې راتېر شول چې دا ځل به یې ټول شعرونه د طالبانو په ستاینه کې وي، ده ته مې وویل، چې پر یو شرط درڅخه مجموعه اخلم چې دطالب په ستاینه کې به یو شعر هم په کې نه پرېږدم، دی یو ځل بیا له خندا شین شو او راته یې وویل چې تاته خو یې دهمدې لپاره درکوم چې زه پرځان نه پوهېږم او ډېره ستاینه رانه کېږي، تاته یې ځکه درکوم هسې نه چې غرق نه شم هغه بل ځل خو خدای بچ کړم هغه .. بچ کړم دا ځل مې ټول امید تاته دی.

پورتنی مثال مې ځکه راوړ چې کېدی شي، زموږ پر یو شمېر نورو لیکوالو هم همدا حال تېر شوی وي او یا پرې تېر شي. داسې ډېر لیکوال شته چې دیوه سیاسي ګوند د واکمنۍ پرمهال خپل چاپ شوی هنري اثر په بله واکمنۍ کې چاته نه شي ښودلای ځکه چې له ده څخه بې ځایه ستاینه شوې وي، دلته هغه لیکوال نه یادوم چې یو سیاسي جریان ته ژمن و او دهغو په ګټه یې سیاسي لیکنې کړي دي، هغه خو دخپلې ژمنتیا له مخې اړ و چې دا ډول لیکنې وکړي او یا یې په اصطلاح حق و، خو زما مقصد هغه لیکوال دي، چې نه په کوم سیاسي بهیر پورې تړلي وو او نه سیاسي خلك وو، خو خپل هنر یې دهغو دخدمت او افراطي ستاینې لپاره په دې کچه ګومارلی و، چې دهمغو سیاسي بهیرونو اصلي غړي او لوبغاړي هم ورته حیران وو او دي.

دطالبانو د واکمنۍ پر دربیم کال دهېواد ورځپاڼې ریس ښاغلي ملا عبدالحنان همت ماته وویل: یون صیب والله دغه د ورځپاڼو کلکسیونونه مو لټولي وای او هغه شاعران او لیکوال مو په ګوته کړي وای چې دې پخوانیو کمونیستانو ته یې لیکنې کړي او شعرونه یې ویلي دي. ما ورته وویل، چې لست ته یې هېڅ ضرورت نه شته، ده وویل ولې؟ ما ویل دغه څه شاعران چې اوس ستاسې ستاینه کوي، همدغه تېول دي، په مشاعره کې کېنه هرچاچې ستاسې ستاینه کوله، جلا کوه یې او حساب ورسره کوه، دهغو لسو تنو نومونه مې ورته واخیستل، چې په تېرو نظامونو کې یې هم ستاینې کولې او اوس یې هم کوي، ما ورته

وویل چې همدغه دي، دا په هر نظام کې همداسې دي، دا به په سباني نظام کې هم همداسې وي او هغه څوك چې اوس ستاسو ستاینه نه کوي، دوی دېروني نظام هم نه ده کړې او د سباني به هم ونه کړي. همت صاحب ماته وویل دا خو ډېرښه خلك دي، زموږ هره خبره مني، زما چې دکومې موضوع په اړه کوم شعر او لیکنه په کار شي نو عاجل دوی ته ټلفون وکړم، دوی بیا ډېر ژر دهمغې موضوع په اړه شعر او یا مقاله لیکلې وي. ما ورته وویل چې دا ډول خلک د هر نظام په کارېږي، تر تاسو وروسته به هم په کار شي، خو د ولس نه په کارېږي.

زموږ یو بل لیکوال بیا یو وخت پر طالبانو دومره مین و، چې په افراطي ستاینه کې یې ډوب و، یو وخت بیا داسې راغی، چې دومره افراطي غندنه یې پیل کړه چې تر تصور نه پورته وه، یوه ورځ یې یو عادي طالب سره دخبرو په ترځ کې طالبان په داسې افراطي بڼه وغندل چې ان دېښوریانو خبره له الفاظو سره یې هم انصاف ونه کړ، خو طالب ورته په مقابل کې وویل: والله نو موږ خو ساده خلك وو همدا تا او ځینې نورو موږ دومره وستایلو چې موږ اخر دغرور وزرونه وکړل، موږ ویلې چې موږ په رښتیا هم همدومره اوچت خلك یو، که تا دومره ستاینه نه وای کړې، کېدی شي موږ دې افراط ته نه وای رسېدلي. دطالبانو دغرور او نورو بدګڼو عامل چې هرڅه وو پر هغو دلته بحث نه کوو، خو زموږ له لیکوال سره دطالب په فردي منطق کې سخت قوت پروت و. پر دې وخت ما هم ددوی په خبرو کې ځان په دې ډول ورشریك کړ

چې لیکوال ته مې وویل: دا طالبان په پیل کې هم دومره ښه خلك نه وو، چې سل په سلو کې دې دهغو ستاینه وشي او دهېڅ (خو) ځای دې ونه لري او اوس هم دومره بدخلك نه دي، چې هېڅ ښه دې ونه لري او ټول دې بد وي، لکه څنګه چې له تا څخه پخوا په افراطي ستاینه کې تېروتنه شوې، اوس درنه همداسې په افراطي غندنه کې هم تېروتنه کېږي. لیکوال سره له دې چې طالب سره یې ډېر دلایل وویل، خو ماته پرې دهغه منطق قوي ځکه ښکاره شو چې لیکوال خو له اوله طالب هم نه و، نو بیا ولې یې دطالبانو په ستاینه کې تر طالبانو زیات افراط کاوه او هغه هم له همدغې خوږې ګوتې نیولی و.

ما داسې لیکوال هم لیدلي، چې یو وخت یې د یو سیاسي شخصیت پر ضد ګڼې لیکنې خپرې کړي وي او بل وخت یې بیا دهغه دتائیدونې او ستاینې لپاره قلم راپورته کړی دی. چې یوه بله ژوندۍ بېلګه به هم وړاندې کړم.

د (۱۳۵۸ل) کال د مرغومي تر(۶) مې نېټې دمخه یو لیکوال سره له دې چې دخلکیانو دګوند رسمي غړی نه و، خو دهغوی دخوشالۍ لپاره یې دببرك کارمل پر ضد داسې تونډې او تېزې لیکنې وکړې او مطبوعاتو کې یې خپرې کړې، چې خلکیان هم ورته حیران وو، کله چې کارمل د واك پر ګدۍ کېنول شو، نو دا لیکوال ډېر وارخطا شو، دمشورې لپاره دخدای بښلي استاد عبدالروف بېنوا کورته لاړ او ورته یې وویل: هله لار راښیه چې څه وکړم؟ استاد بېنوا ته چې دلیکوال اخلاقي ضعف له پخوا نه هم

معلوم و، له ډېره سُخره یې ورته وویل: ((هېڅ خبره نه ده، پوستین پردې بل مخ واغوندە)) مانا یې دا وه چې ته خو هسې هم په ستاینو او غندنو بلد یې، دکارمل ستاینه پیل کړه. لیکوال هم همدا نصیحت په دواړو غوږو واورېده او هغه یې په ښه پوره صداقت عملي کړ، څه موده وروسته یې دکارمل دربار ته هم لاره پیدا کړه او د ډاکټر نجیب پر وخت یې لا نوره وده هم وکړه. له دې پورته یادونو څخه مې مقصد دا دی، چې بې ځایه ستاینې او غندنې په کار نه دي، کله کله به څوك یو مقام ته ورسوي، خو هېڅکله هم دخپل وجدان په ماڼیو کې ارامه ساه نه شي اخیستلای، نو لیکوال ته په کار ده، چې په خپلو لیکنو کې ډېر احتیاط وکړي، خپله لیکوالي د افراط او تفریط په سیند لاهو نه کړي، ځکه چې جبران یې بیا ډېر سخت دی، دلیکوال چاپي او خپرنۍ لیکنه توکړي لاړې دي، چې بېرته نه پورته کېږي.

# ازاد  او تړلي مطبوعات

**دا لیکنه د طالبانو د حاکمیت د اوج پرمهال لیکل شوې وه او همغه مهال د هیلې مجلې د (۱۳۷۹ل) کال په (۶)مه گڼه کې چاپ شوې ده.**

په هره ټولنه او هېواد کې چې دولتي جوړښت ولري او واکمنه اداره یې د ددولت تمثیل وکړای شي، نو د واك همدا جوړښت پر درېیو لویو څانگو وېشل کېږي، چې قضایه، مقننه او اجرائیه ځواك یې بولي. په حقیقت کې همدغه درې څانگې او ځواکونه د دولت اډانه جوړوي. د دولت د رغښت نورې څانگې بیا له همدغو څانگو څخه رابېلېږي او هره یوه د ټولنې یوه اړتیا وړ برخه خړوبوي.



د بشري نړۍ په پرمختگ سره یوه بله څانگه هم د دولت په اغېزمنۍ او پرمختیا کې اغېزناکه وگڼل شوه، دا د مطبوعاتو څانگه ده، چې د دولت د څلورم ځواك په نامه یادېږي، مطبوعاتو ته دټولنې اعصاب هم وایي، ځکه چې دنړۍ اکثره فکري بدلونونه او نورې پرمختیاوې د همدې خپرونو له لومړني شکل الهام اخلي او د پرمختللي نړۍ فکري جریانونه د همدې مطبوعاتو زېږنده گڼل کېږي. هره ټولنه او دولت د خپل ځان،

ټولنې او ولس لـه اړتیـا سـره سـمې خپـرونې (مطبوعـات) لـري. داخپـرونې بیـا دجـولیز او مـانیز ځرنګـوالي لـه پلـوه پـر لسـګونو ډولونو وېشل کېږي. له یوې دېوالي جریدې او شپېپاڼې رانیـولې تر ټلویزیون او د اوسنې پرمختللې انټرنټ تر عصري شبکې پورې ټولې خپـرونې (رسنۍ) ګڼل کېږي. خو لـه فکري پلوه تـر هرڅـه لومړۍ، خپـرونې یـا مطبوعـات پـر دوو برخـو وېشـل کېـږي: ازاد مطبوعات او تړلې مطبوعات. موږ بـه دلتـه هڅـه وکړو، چې ددې دوه ډولو خپرونو د مانیزځرنګوالي، ګټو، اړتیـاوو او ضـررونو پـه باب یوڅه رڼاواچوو:

## ۱-تړلې مطبوعات یا خپرونې:

تړلې یا رسمي خپرونې هغه دي، چې په ټولنه کې د دولـت او یـا واکمن سیاسي جریان له خوا خپرېږي اوتـر زیاتـه بریـده د هغـوی د خیال اواند ښکارندویي کوي. تـړلې مطبوعـات د خپلـو ښېګڼو او ګټو ترڅنګ یو شمېر نیمګړتیاوې او زیانونه هم لري،چې دلتـه بـه ورته اشاره وکړو:

## نیمګړتیاوې:

په تړلو او رسمي خپرونو کې د انتقاد او نیوکې روحیـه کمزورې وي، د ذوق، شوق او پراخ انـدو وانـد(فکر و خیـال) وزرونـه پـه کـې تړلي وي، د ټولنې د سمون او رغون لپاره د افکارو تبادلـه پـه کـې یا ناممکنه او یا ناسمه وي.

د ټـولنې دټولـو اړخونـو او پـاړکو ذوقونـه او اړتیـاوې نـه شـي خړوبـولای. د واکمـن جریـان د هـر عمـل او چلنـد سـتاینه کـوي،

پرنیمګړتیاوو اود هغو دحل په باب کم بحث کوي، دناخوالو په انعکاس کې پوره ونډه نه شي اخیستلای. په رسمي خپرونو کې یوازې د هغو استعدادونو د غوړېدو لپاره لاره اوارېږي، چې له واکمن بهیر سره فکري خواخوږي ولري او له هغه سره تړلي وي، شخصي تشبث او ځاني استعداد په کې کمه وده کوي. رسمي مطبوعات خبرتیایي سرچینې ګڼل کېږي، خو د ولس او دولت ترمنځ د روحي پیوستون او فکري یووالي دټینګښت څرګندوی او عامل نه وي، په عمومي ډول رسمي خپروني د ودې عمودي حرکت تعقیبوي، یانې دا چې درسمي مطبوعاتو د لوستونکو د مطالعې لوری مخ پورته او مستقیم دی؛ کیڼ او ښي لوري ته کتلای نه شي، لوستونکي ته لکه د ګاډۍ اس غوندې د فکري او ذوقي سانسور داسې سترګۍ (عینکې) پر سترګو کوي، چې نېغه اوښودل شوې لار به ګوري، اخوا دېخوا نه شي کتلای. د رسمي خپرونو پرمختیایي تګلوری کولای شو په دې جوله کې افاده کړو:




پیل ټکی

دلتـه لوسـتنه یـوازې لـه یـوې ټـاکلې نقطې څخـه پیلېـږي او مـخ پورته حرکت کوي، بلې خوا ته یـې د غوړېدو او حرکت امکـان نـه شته.

د رسمي خپرونو لوستونکو یوه غټه ستونزه دا وي چې څه یې خپله لوستلي وي همغه دکانې کرښه ګڼي، ځکه چې د هغوی ذهني وده په ټولو برخو او خواوو کې انډولیزه اومتوازنه نه وي، د واکمن جریان یوه موخه همدا وي چې خلك په داسې روحیه وروزي چې دوی یې غـواړي. مبتـذل، کلیشـه یـي او تکـراري مطالـب درسمي خپرونـو بلـه نیمګړتیـا او سـتونزه ده چې د لوسـتونکو د ذهني ستړیا سبب ګرځي او لوستونکي د مطالعې پرېښودلو ته اړباسي. لـه رسمي خپرونـو څخـه نیـولې بیـا تـر رسمي ښوونې او روزنې پورې ټول روزنیز بهیر لـه یـو ډول مسـتقیم فشـار سره مـل وي، مسـتقیم فشـار چې هـر ډول وي، پـر پلـي کېـدونکي سـخت پرېوزي او د ستړیا سبب یې ګرځي.

خو له دې ټولو نیمګړتیاوو سره سره رسمي خپرونې یو لړ داسې سترې او اساسي ښېګڼې او ګټې لـري، چې هغـه د یـو ملـت پـه ذهنـي وده او پـرمختګ، د ذوقونـو پـه خـړوب او نـورو اړتیـاوو پـه پوره کولو کې کارنده ونډه لري، چې بل هېڅ کار یې ځای نه شي ډکولای، دلته به د رسمي مطبوعاتو ځینو سترو ګټواو ښېګڼو ته هم اشاره وکړو:

## درسمي یا تړلو خپرونو ګټې:

درسمي یا تړلو خپرونوګټه دا ده چې د ټولنې ټول وګړي په یوه روحیه او مفکوره روزي او د ذهني انارشۍ مخه نیسي، که چېرې په ټولنه کې داسې یو سیاسي نظام واکمن وي، چې دخپل ملت لپاره یوه ملي او پرمختیایي ستراتیژي ولري، نو له رسمي خپرونو څخه د ټول ولس د ذهني تمرکز او فکري یووالي لپاره غټه ګټه پورته کولای شي.

که رسمي مطبوعات په ملي روحیه سمبال شي، نو په ملت کې به د ملي شعور او ملي پیوستون روحیه پیاوړې کړي، د واحد دښمن پروړاندې به یې رواني ځواك غښتلی کړي اوپه ملت کې د درز اچونې او منفي لېوالتیاوو مخه به ونیول شي.د رسمي مطبوعاتو بله ښېګڼه دا ده، چې له یوه واحد مرکزه کنټرولېږي، ټولنې ته د متضادو افکارو د رادننه ایستلو او بیا پرهغو باندې د ټولنې د وېش مخنیوی کوي. په رسمي مطبوعاتو کې د اخلاقي انحرافیو مخه هم نیول کېدی شي، یا لږترلږه داسې مسایل نه خپروي، چې اخلاقي نیمګړتیاوې ولري او یا ولولې راوپاروي.

رسمي مطبوعاتو کې دمتوازن وېش امکان ډېر زیات دی، د ټولنې هر اړوند پاړکي ته وررسېدی شي او دولت د مالي زیان یا سپسیدۍ په زغملو سره هر هغه چا ته چې اړتیا ورته ولري، خپرونه ور رسولای شي.

په رسمي خپرونو کې بله ښېګڼه دا ده چې اکثره خپرونې د یوې ټاکلې پوهنیزې جرګه ګۍ له خوا خپرېږي، معیاري ژبه، معیاري

لیکدود او نور ملي ارزښتونه تعقیبوي، د چا د شخصي توهین،سپکاوي او یا شرمونې امکان په کې ډېر کم وي، که رسمي خپرونې له مانیز پلوه پر بېلابېلو خپرونو وېشل شوې وي او بیا هره خپرونه خپله یوه موضوع تعقیب کړي، نو د ټولنې ټولې خواووې به په متوازنه توګه ورسره وده وکړي، طبعاً د دولت امکانات تر اشخاصو زیات وي، که دولت په رښتیا هم غواړي د خپرونو له لارې خپل ولس ته خدمت وکړي، نو په دې برخه کې رسمي خپرونو ته ډېر امکانات برابرولای شي او رسمي خپرونې د خپلې همدې برلاسۍ له مخې کولای شي، لوستونکو ته ډېر نوي معلومات وړاندې کړي.

## ۲- ازادې خپرونې:

لکه څنګه چې مو پورته د رسمي خپرونو نیمګړتیاوو ته اشاره وکړه، نو کله چې په یوه ټولنه کې رسمي خپرونې د ټولنې د اړتیاوو په خروب کې پاتې راشي، نو ازادو خپرونو ته اړتیا پیداکېږي.

ازادې خپرونې هم د رسمي هغو په شان زیاتې ګټې او یو شمېر زیانونه لري، چې دلته به یې د دواړو یادونه وکړو:

## د ازادو خپرونو ګټې:

ازادې خپرونې په ټولنه کې د سالم انتقاد روحیه رامنځته کوي، د سالم انتقاد په نتیجه کې په ټولنه کې د زغم کلتور پیدا کېږي، د زغم کلتور د ټوکېدو له کبله د ټولنې سیاستوال د برچې او تورې پرځای د قلم او خبرو له لارې خپل مسایل حلوي.

ازاد مطبوعـات د درغلیـو، تګیـو، برګیـو، رشـوتونواو نـورو ټولنیزو فسادونو په رسوا کولو کې کارنده ونډه اخلي، نو ځکه خو ددې کارونو عاملین هڅه کوي، چې دخپرونو د پردې پر مخ ځرګند نه شي او له خپل پلان کړي جنایت څخه تېر شي.

ازاد مطبوعات د ټولنې واکمنو ته لاره ښيي، نیمګړتیاوې ورته بیانوي او دا ځرګندوي چې که شپه تیاره ده منې په شمار دي؟ د ټولنې د برخلیك په ټاکلو او د هغې په وده او پرمختیا کې د ټولنې وګړي متوازنه او انډولیزه ونډه لري.

ازاد مطبوعات له رسمي هغو سره د مثبت رقابت او سیالۍ له لارې د ټولنې وګړو ته نوي او رنګارنګ مطالب برابروي، چې ټولنه پرې خپل ذوق خړوب کړي.

په ازادو خپرونو کې ډېر هغه استعدادونه غوړېدلای شي، چې په رسمي خپرونو کې ورته چانس نه وي، په ازادو خپرونو کې روزنیزه برخه له کوم مستقیم فشار پرته عملي کېږي. د ازادو خپرونو پرمختیایي تګلوری افقي دی، کین او ښي لوري ته وده کوي، له یوې واحدې نقطې پیلېږي او دواړو خواوو ته غځېږي. لوستونکي یې هم دواړو خواوو ته وده کوي او خپل ذوق خړوبوي، پر لوستونکي کوم فشار نه شته، هرې خوا ته چې غواړي حرکت کولای شي، لکه په دې لاندې شکل کې:

پیل ټکی

ښي لوري لوستونکی　　　　کیڼ لوري لوستونکی

په دې ډول په ازادو مطبوعاتو کې د لوستونکي د استعداد د غوړېدنې امکانات زيات دي.

د ښوونې او روزنې د اصولو له مخې نامستقیه ښوونه او روزنه تر فشاري هغې ښه ځکه ده، چې پر لوستونکي باندې له کومې ذهني سترتیا، ناارامۍ او احساس پرته عملي کېږي او د هغه د مینې اولیوالتیا کچه اوچتوي.

د ازادو مطبوعاتو له لارې کېدی شي، د ټولنې د یوشمېر وګړو ژوند هم خړوب شي او پانګه هم لاسته ورشي، د ازادو خپرونو له دومره ښېګڼو او ګټو سره سره یو شمېر نیمګړتیاوې او زیانونه هم لري، چې دلته به د ځینو یادونه وکړو:

## نیمګړتیاوې اوزیانونه:

هغه ټولنې چې ملي پیوستون او یووالی یې ښه کوشېر شوی نه وي، ازاد مطبوعات کولای شي، په داسې ټولنو کې ذهني انارشي رامنځته کړي، هغه یووالی چې د کلونو په اوږدو کې یا د زورواکۍ او یا هم د نورو عواملو له کبله رامنځته شوی، متضرر کړي او په پای کې فزیکي ټکر ته لاره اواره کړي.

که ازاد مطبوعات دخپلې ټولنې ملي ګټې په پام کې ونه نیسي، نو ټولنه انحرافي لوري ته کشولای شي.

کـه چېـرې ازاد مطبوعـات د اقتصـادي ګټـې لـه درکـه دورانـي حرکت ونه لري، ياني خپل لګښـت بېرتـه پـوره نـه کـړي او ورځنـۍ پانګه يې زياته نه شي، نوچلوونکي يې مجبور دي لـه کورنيـو او بهرنيـو نامشـروعو سـرچينو سـره اړيکـي ونيسـي او خپلـه بقـا تضـمين کـړي، ازاد مطبوعـات د خپلـو شخصـي ګټـو او شـهرت لپاره کله کله داسې شيـان خپـروي چې ټولنـه او پـه تېـره بيـاځوان پښت اخلاقي انحراف ته راکاږي.

کله کله ازاد مطبوعات تر دې حده هم لاس غځوي چې د خلکـو پـه شخصـي ژونـد کـې مداخلـه کـوي، يـا لـه ځينـو اشخاصـو حـق السکوت اخلي او يا ورځخه د خپلو تبليغاتي امکانـاتو پـه واسطه د بـاد بنـکـه جـوړوي، پـه دې ډول پـه ټولنـه کـې دسـالم شخصـيت د پاتې کېدنې شونتيا کمزورې کـوي. کـه پـر ازادو خپرونـو چالاکـه، درغلن او فاسق اشخاص حـاکم شـول، نـو ټولنـه لـه ډېـرو بـدمرغيو سره مخـامخولاۍ شـي. هغـو ټولنـو کـې چـې ګـڼ قـوميزه دي او د ملي ستراتيژۍ بنسټ په کې د کوم قـوي واکمـن جريـان لـه خـوا نـه ملاتړېږي، نو ازاد مطبوعات کولاۍ شي، د قـومي او سـيمه ييـزې تفرقې اورته لمن ووهي.

لنډه دا چې که ازاد مطبوعات بيا هـم د يـوې ملـي سـتراتيژۍ لـه مخې کنټـرول نـه شـي، نـو ډېـر زيانونـه راولاړولاۍ شـي، پـه هغـو ټولنـو کـې چـې ازادو مطبوعـاتو وده کـړې او بيـا ټولنـو د هغـو پـه واسـطه دوه اړخيـز پـرمختګ کـړی، هلتـه د رسـمي او نارسـمي خپرونو چلوونکي پر ځو اساسي موضوعـاتو سره متفق وو، لکـه

هېواد، ملي ژبه، دين، ملت د ولس ښېرازي اوځينې نور اساسي توکي، هريوه پورتنيو ارزښتونو ته خدمت خپله دنده ګڼله، خو زموږ په شان وروسته پاتې ساتل شوې ټولنې کې چې د ازادو خپرونو ډېره کمه تجربه او مزه يې ليدلې، حالات بل ډول دي، دلته د لوستي قشر کچه دومره نه ده، چې ازاد مطبوعات دې ښېرته دوراني حرکت وکړي او خپل لګښت دې پوره کړي او نه د واکمنو کلتوري زغم دومره دی چې رښتيا دې هم يوه ازاده خپرونه ومني او وزغمي، خير نو زموږ ټولنه ازادو خپرونو ته اړتيا لري او که نه؟ غواړو ددې پوښتنې په باب څه څرګندونې وکړو:

## زموږ په ټولنه کې د ازادو خپرونو اړتيا:

زموږ ټولنه هم لکه د نورو ټولنو په شان ازادو خپرونو ته اړتيا لري، ځکه چې اوسنۍ رسمي خپرونې نه د شمېر او نه هم دڅرنګوالي له پلوه دملت اړتياوې خړوبولای شي. ان دواکمن جريان غوښتنې هم نه شي پوره کولای. د اوسنيو رسمي خپرونو اساسي نيمګړتيا دا ده چې له دې مطبوعاتو څخه د خپرونو ډېرې ژوندۍ، متحرکې او اساسي برخې لکه ټلويزيون اوانټرنټ منفي شوي، راډيويي خپرونې کمې شوي او يوازې په سپوره تبليغاتو او د مستقيم فشار پر تبليغاتي وسيلو اوښتي دي. پاتې خپرونې هم د وخت په عصري تخنيکي وسايلو سمبالې نه دي، وچ انحصار پرې حاکم دی او زيروح تصوير چې د چاپي خپرونو اساسي برخه ده، ترې لرې شوی دی. دا چې زيروح تصوير د

واکمنو په تعبیر له شریعت سره ټکر خوري او ناروا ګڼل کېږي دا نو د هغوی خپل اندود دی، خو که څوك مطبوعات غواړي او بیا د هغو اغېز، نو بیا خو تصویر د مطبوعاتو یوه اساسي برخه ده او هغو ته روح ورکوي، بې تصویره مطبوعات، بې روحیه مطبوعات ګڼل کېږي او ډېره سپېره ښکاري. کله چې څوك یوه خپرونه راواخلي، نو لومړی یې تصویر، بیا عنوان او بیا متن ته پام کوي، واکمن وغواړي که ونه غواړي د ډله ییزو رسنیو یوه داسې څپه روانه ده، چې ولس مجبور دی هغو ته مخه وکړي، په نننۍ عصري نړۍ کې د انټرنټ په ناپایه سمندر کې د هېڅ شي کمی نه شته او نه پرې د چا مطلق سانسور څه اغېز کوي. هلته به هرڅوك هرڅه چې غواړي لاسته راوړي، نو بیا به د ازادو خپرونو مخالفین څه کوي؟ ښه به دا وي مخکې تر دې چې د نورې نړۍ فرهنګي یرغل زموږ د ولس پر ذهن خپله څپه خوره کړي، موږ باید خپل مطبوعات ورته قوي کړو. افغانستان کې د ګوتو په شمار څو مجلې او اخبارونه خپرېږي او په پېښور کې یو څو عنوانه ازادې افغاني خپرونې فعالیت کوي، چې دا ټولې زموږ د ملت په سلو کې د (۲) برخې وګړو اړتیا هم نه شي پوره کولای، د خپرونو ډېرول زموږ دملي شعور دبیدارۍ نښه ګڼل کېږي او د لوستونکو د شمېر زیاتون څرګندوي، دامریکا متحده ایالتونه به یې د بېلګې په توګه وړاندې کړو: په دې هېواد کې له سلګونو ټلویزیوني چاینلونو او د انټرنټ پر بېشانه نړۍ سربېره له ورځپاڼې نیولې تر اوونیزې، میاشتنۍ او کالنۍ پورې ټولې

(۱۱زره) عنوانه خپرونې کېږي، چې کلنۍ تیراژ یې د انسان تر تصوره هم اوچتېږي. په دې کې داسې خپرونې هم شته چې هره ورځ په لسګونو ملیونو ټوکه خپرېږي او داسې کتابونه هم شته، چې تیراژ یې(۵۰) ملیونو ټوکو ته رسېږي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې له تعلیمي کتابونو پرته، د امیر شېرعلیخان له وختـه تـردې دمـه پـورې د ټولـو چـاپ شـویو کتـابونو عمـومي شمېر(۵۰)ملیونـو ټوکـو تـه نـه رسېږي. تېر کـال پـه پېښـور کـې د ازادو لیکوالو له خوا تر (۲۰۰) عنوانـو زیات پښتوکتابونـه چـاپ شوي وو او دا زموږ په خپرنیز تاریخ کې یو بېساری ریکارډ و. خو د واکمنو لـه خـوا پـه ټول افغانسـتان کـې د ټولـو چـاپ شـویو کتـابونو شـمېر لـس عنوانـو تـه نـه رسـېده، تـر دې یـو کـال دمخـه یوازې په لندن کې ټول (۶۰) زره عنوانـه کتابونـه چـاپ شـوي وو، چې عمومي تیراژ یې ملیاردونو ملیاردونو ټوکو ته رسېده. لـه دې پـرتلنې څخـه زمـوږ مقصـد دا نـه دی چـې زمـوږ هېـواد دې لـه دې پرمختللې نړۍ سره پرتله شي او څه شی چې هغوی لـري بایـد مـوږ یې هم همدا اوس ولرو، بلکې هدف دا دی چې مـوږ تـه یـوه ذهنـي رڼایي وي. په پرمختللو ټولنو کې هم یوازې دولتونو دا کار نـه دی کـړی، بلکـې هغـوی دومـره کـړي چـې لـه خلکـو څخـه یـې د ذهنـي سانسور او اختناق وېره او پـرده لـرې کـړې ده. کـه چېـرې زمـوږ پـه خپـل هېـواد کـې د خپرونـو ازادي وای، نـو دا (۲۰۰) عنوانـه کتابونه ولې هلته نه چاپېدل، هغه په ملیونونوکلدارې چې لـه دې

درکه د پاکستان د پانګې برخه شوې، ولې زموږ هېواد ته نه پاتې کېدلې.

ددې خبرې یادون هم ضروري دی، چې زموږ ټولنه له کلتوري، مذهبي او ذهني پلوه دې حالت نه ده رسېدلې،چې د نورو ټولنو په شان دې هرڅه وزغمي او یا دې هرڅه پرې وزغمل شي او هر ډول خپرونوته دې اجازه ورکړل شي، که څو اساسي اصول او آرونه، په پام کې ونیول شي، نو د ستونزې حل راوتی شي.

## اسلام:

ټولې خپرونې باید اسلامي اصول په پام کې ونیسي، یانې داسلام خلاف باید نه وي.

## افغانستان:

هېڅ خپرونه باید د افغانستان د خاورې بشپړتیا متضرره نه کړي.

## ملت:

هېڅ خپرونه بایدملت ضد لیکنې ونه لري، بلکې ټولې خپرونې دې هڅه وکړي، چې د پورتنیو درېیو سترو ارزښتونو د پاللو او ساتلو لپاره هاند و هڅه وکړي.

کــه چېــرې ازادې خپــرونې د یــوې دقــیقې، ملــي- اســلامي ستراتیژۍ له مخې کنټرول نه شي، نو زموږ خو بیا یوه شاته پاتې ساتل شوې ټولنه ده . دې کې ډېره ازادي د ډېرې انارشۍ په مانا ده. هرڅوك چې هرڅه غواړي هغه به خپروي، ټولنه به بیا له

ذهني، قومي، سیمه ییز او مذهبي پلوه ووېشل شي او د هېواد تجزیې ته به لاره اواره کړي. زموږ په ټولنه کې د ازادو مطبوعاتو چلوونکي هم باید د خپلو مالي سرچینو خبره سپینه کړي. ځکه چې دلته هېڅ خپرونه که څه هم ډېره ښه، هم وي ببرته خپل لګښت نه شي پوره کولای، ددې لپاره چې د ولس، حاکمیت او ازادو خپرونو د چلوونکو ترمنځ پوره باور ټینګ وي، باید مالي سرچینې ښرګندې وي.

په اوس حالت کې که زموږ په ټولنه کې د ازادو خپرونو لپاره دغه لارې په پام کې ونیول شي، بې ګټې به نه وي: تر ټولو لومړی باید خپله دولتي مطبوعات ازاد شي، که دولتي مطبوعات رښتیا هم ازاد شي او د ټولنې غوښتنې پوره کړي، نو خو بیا نورو خپرونو ته اړتیا نه احساسېږي، پر اوسنیو دولتي خپرونو واکمن وچ سانسور، د تصویرونو او ژوندیو موجوداتو د تصویرونو نه خپرول، خپله ددې سبب شوي، چې دولتي خپرونې بې ارزښته او یوازې د واکمن جریان د ګټو ښکارندویې وکړي، که واکمن غواړي چې په رسنیز او خبري ډګر کې له نورې نړۍ سره سیال شي، نو د هغو دخپرونو پروړاندې باید یو خپرنی دفاعي او تعرضي سیستم ولري، که غواړې د انټرنټ په ناپایه سمندر کې دخپل ځان پرضد د زهرجنو تبلیغاتو له توپاني څپې څخه بچ شي، نو انټرنټ کې باید خپله صفحه او ونډه ولري، که غواړي چې د نړۍ د سلګونو ټلویزیوني چاینلونو ژوندي تبلیغات خنثی کړي، نو باید دولتي ټلویزیوني چاینل ورته ولري، مانا دا چې انټرنټ

ته انټرنټ، ټلويزيون ته ټلويزيون ، راډيو ته راډيو، ورځپاڼې ته ورځپاڼه او نورو خپرونوته بايد نورې خپرونې ولري.

که چېرې دولتي مطبوعات همداسې پر يوه اړخيز واټ او سړك روان وي، نو بيا خو دې هغو خپرونو ته اجازه ورکړي، چې د يادو شويو اصولو خلاف نه وي، مالي سرچينې يې هم معلومې وي او له هر پلوه تر دولتي خپرونو څخه ښې دي، دا خپرونې به تريوه حده د ولس هيلې خړوب کړي.

که چېرې په دې ټولو لارو کې يوه هم نه منل کېږي، نو دا به دا مانا ولري چې زموږ ټولنه له خپلو ډېرو حقوقو، له هغې جملې څخه د بيان له ازادۍ څخه چې خپله يو اسلامي اصل هم ګڼل کېږي، بې برخې ده.

# د فرهنګي کار وېش

**دا لیکنه زما په مدیریت، د شمشاد مجلې په وروستۍ ګڼه کې د سریزې په توګه راغلې ده.**

په هره ټولنه کې چې د هغو د وګړو ترمنځ د کار وېش رامنځته شي، نو هم ورسره د ټولنې پرمختګ ته لاره اوارېږي، هم کار په ښه ډول ترسره کېږي او هم د کار پر اجرا کوونکو باندې فشار کمېږي. د اوسنۍ نړۍ او د پرمختللو ټولنو د پرمختګ یو اساسي علت همدا دی چې کارونه یې تخصصي او ځانګړي کړي دي، هر څوک چې په کوم کار کې مهارت لري، همغه ورته سپارل کېږي او ترسره کوي یې.

له نن نه لس کاله وړاندې ( د (۱۳۶۹ل) کال د لړم پر ۲۵ مه نېټه) په کابل کې (خوشال فرهنګي ټولنه) جوړه شوه، ددې ټولنې د جوړېدو اساسي هدف دا و چې افغاني ملي فرهنګ او د هېواد ملي ژبې ته زیات او وړ خدمتونه وکړي.

ټولنې دخپل ښه انسجام، اوډون او پرمختګ په هیله د خپلې کړنلارې، تګلارې او د ارمان پلي کېدو لپاره په خپل تشکیلاتي جوړښت کې تر (۱۵) زیاتې بېلابېلې څانګې جوړې کړې، لکه د شعر څانګه، د داستان څانګه، تیاتر او موسیقۍ څانګه، د کره کتنې، څېړنې، ځوانانو او نړیوالو اړیکو څانګې او داسې نورې...

ددې څانګو لپاره داسې کسان دمسولينو په توګه وټاکل شول، چې هم يې مسلکي مهارت درلود، هم يې واک و ځواک او هم يې خپله له همدې کار سره مينه او لېوالتيا وه، نو ځکه خو ټولنې د يو کال په بهير کې وکړای شول، تر لسو زياتې علمي او ادبي غونډې جوړې کړي او څلور عنوانه کتابونه خپاره کړي. ددې کار د پرمختګ اساسي علت دا و چې کار اهل کار ته ورسپارل شوی و. که چېرې پر هېواد باندې د ناورين له پاسه بل ناورين نه وای راغلی، نو زيات اټکل او باور و چې دې ټولنې به ډېر زيات فرهنګي کار کړی وای.

زه (يون) پر هغه وخت د خوشال فرهنګي ټولنې په چوکاټ کې د ځوانانو د ادبي انجمن (څانګې) مسول ټاکل شوی وم.

کله چې د (۱۳۷۱ل) کال په پيل کې په افغانستان کې دولتي او سياسي نظام سره وپاشل شو، نو د خوشال فرهنګي ټولنې اکثره غړي په تېره بيا د لارښودې شورا غړي، مهاجر او د نړۍ په يو شمېر هېوادونو کې خواره شول، د ټولنې دفتر لوټ او فرهنګي کار هم تر يوه وخته پورې پر ټپه ودرېد، څو موده وروسته په کابل کې د خوشال فرهنګي ټولنې لارښودې شورا او اجرائيه هئيت يو شمېر غړي سره جرګه شول او پرېکړه يې وکړه چې د حالاتو له پېچلتيا سره سره هم بايد موږ خپل فرهنګي کار ته دوام ورکړو. څرنګه چې هغه وخت د زيات فرهنګي کار لپاره حالات پوره مساعد نه وو، د اکثرو مشوره او پرېکړه دا وه چې موږ به په اوس وخت کې يوازې د شمشاد مجلې او ځينو نورو کتابونو د چاپ او خپراوي په واسطه دخوشال فرهنګي ټولنې نوم ژوندی ساتو او کله چې بيا حالات ښه شول، نو پر هر اړخيزو فرهنګي کارونو به لاس پورې کړو.

د شمشاد مجلې لومړۍ ګڼه د (۱۳۷۰ل) کال په بهیر کې د خوشـال فرهنګي ټولنې د لارښودې شورا د څو تنو غړو په علمـي او تخنیکـي هلو ځلو، د پوهنمل بریالي باجوړي پــه مــدیرت او د احمــد تکــل پــه مرستیالۍ خپره شوه.

د (۱۳۷۱ل) کال د ناوړو حالاتو له امله استاد باجوړی هم د ټـولنې د یو شمېر نورو غړو په څېر پېښور تــه راغــی، پــه کابـل کــې د ټـولنې لارښودې شورا او اجرائیه هیت پاتې غړو د شمشاد مجلې مدیریت زما او مرستیالي یې دلال پاچا ازمون پر غاړه کړه.

تر ۱۳۷۲ل کال وروسته له لومړۍ ګڼې پرته دادی تر دې ګڼې پـورې موږ (۱۲) پرله پسې ګڼې په ټکني او ځنډني ډول خپرې کړې، دمجلــې ټکني کېدل او ځنډېدل، له دې امله وو، چې مجلــې هــېڅ ډول مــالي پانګه نه لرله، یوازې د ځینو فرهنګیــانو او فرهنګپــالو پــر مرســته او بسپنویې ډډه لګوله. د ټولنې د اصلي غړو تیت وپرک کېدل بله ربــړه وه چې د مجلې پر وخت چاپول یې ناشــوني کــړي وو او همدارنګــه د ځای او چاپېریال بدلون بل عامل و چې موږ یې بېوسه کړي وو، خو لــه دې ټولو ستونزو سره سره موږ یوازې دومره وکړای شول چې مجله نیم ژواندې وساتو.

د یادولو وړ بله خبره داده، چې د شمشــاد مجلــې د ټولــو ګڼــو پــه خپراوي او د لیکنو او چاپ لګښت په برابرولــو کــې دهېــواد د تکــړه لیکوال سرمحقق زلمي هېوادمل مرسته او لاسنیوی ډېــر اغېزنــاک او مثمر و، که چېرې د هېوادمل صاحب مرسته، منډې تــرړې، هڅونــه او هر اړخیزې مرستې نه وای، نو (شمشاد) بــه دربیمــې ګڼــې تــه هــم رسېدلې نه وای.

کله چې موږ په پېښور او کابل کې د یو شمېر نورو نویــو او اغېزنــاکو فرهنګي فعالیتونو لپاره هلې ځلې پیل کړې او په دې دواړو ځایونو کې مو مسولیتونه او کارونه ډېر زیات او درانه شول، نو شمشاد نــوره هــم پسې ټکنۍ شوه او کله چې بیا هېوادمل صاحب له پېښور نه جرمنــي ته لاړ، نو د مجلې په چاپولو کې نور ځنډ هم پېښ شو.

له ډېره وخته راهیسې زه په دې فکر کې وم، چې د شمشــاد مجلــې پازوالي (مسولیت) خپله هېوادمل صــاحب تــه وســپارو، ځکــه چــې شمشاد یوه علمي او اکاډمیکه مجله ده او د هېوادمــل صــاحب لــه آر مسلک سره ښه اړخ لګوي او هم یــې دی پــه ښــه څرنګــوالي ســره ترتیبولای او چاپولای شي، خو بیا به مې ځکه جرئت مړاوی شو چــې ما ویل نه چې د هېواد مل صاحب په زړه کې څه ونه ګرځي، چې زه له کاره اوږه تشوم او دده پر ګټو بوختیاوو سربېره ددې کار ټول بارهم ده ته ورسپارم.

خو کله چې هېوادمل صاحب جرمني ته لاړ، نو مــوږ ټولــو تــه خــو څرګنده وه، چې هغه د فرهنګي کار و زیــار دومــره مېړنــی دی، چــې هېڅکله هم وزګار کېناستل خوند نه ورکوي، ضرور به یوه مجله او یــا خپرونه راوباسي، نو چې بله نوې خپرونه پیلوي، ښــه بــه دا وي هغــه خپرونې چې د له منځه تلو په حالت کې دي او یا ځنډنۍ دي، هغه لــه مرګ او ځنډه راوژغوري. په همدې فکر کې وم چې د هېــواد پیــاوړی لیکوال (زرین انځور) له جرمني څخه پېښور ته راغــی او د هېوادمــل صاحب د اوسنیو فرهنګي بوختیاوو او پلانونو په باب یې راسره خبرې وکړې، انځور صاحب وویل چې ما په زړه او ذهن کې یوه نقشــه جــوړه کړې چې که چېرې تاسې ورسره موافق یئ نو بیا کېدی شي چــې پــر

هېوادمل صاحب فشار راوړو او دا خبره پرې ومنو. البتــه دا خبــره مــا تراوسه له هېواد مل صاحب سره شریکه کړې نه ده، خــو کــه تاســې موافق یاست او بیا موړ او تاسو ټول له هېواد مل څخه هیله وکــړو، نــو زما باور دی چې وبه یې مني.

انځور صاحب وویل: زما طرحه داده چې پر تاسې باندې هــم کارونــه تر حده زیات شوي او ښه زیــات مصــروفیت یــې، د شمشــاد مجلــې مسولیت هم ستاسو پرغاړه دی، مجله ډېره ځنــډنۍ شــوې کــه ددې مجلې مسولیت هېوادمل صاحب ته وسپارو یو خو به مو دا مجلــه لــه ځنډني حالت نه را ایستې وي او بله به مو د همــدې مجلــې لــه لارې خوشال فرهنګي ټولنه هم له هېرېدو څخه ژغورلې وي.

ما چې د انځور صاحب دا نظر واورېد، نو لکه یو درونډ بار مې چې لــه اوږو لرې شوی وي، ورته مې وویل چې ما خو له شرمه غږ نه کاوه، تر یو کاله زیات وخت وشو، چې په همدې فکر کې یم، دا خو داسې کــار دی چې هم ثواب دی هم خرما؛ هم به مجله چاپ شي هــم بــه ټولنــه لــه هېرېدو څخه وژغورل شي او هم به د هېوادمل صاحب په شتوالي کــې د مجلې پوهنیز او اکاډمیک څرنګوالي او څومره والي تــه زیــات کــار وشي. دا خو نور اعلی نور شو.

څو ورځې وروسته مو په پېښور کې د خوشــال فرهنګــي ټــولنې د لارښودې شورا غړو یوه غونډه جوړه کړه او په هغې کې مو همدا خبره مطرح کړه، هغو ټولو همدا نظر معقول وګاڼه او ویې منانه، بیا مو هېــواد مل صاحب ته د ټولنې د لارښودې شورا دغړو وړاندیز وروليږه او هغــه ومانه.

په دې ډول مور د شمشاد مجلې دژغورنې لپاره یـوه ګټـوره هڅـه وکړه، زه باور لرم چــې د هېوادمــل صــاحب پــه هڅــه، کاروزیــار بــه (شمشاد) ربښتیا هم (شمشاد) شي، پښتو ادب او هېواد تــه بــه غــوره خدمتونه وکړي.

زه په داسې حال کې چې هېواد مل صاحب ته مبارکي وایم او د هــر راز فرهنګي کار او همکارۍ ژمنه ورسره کوم، له درنو لوستونکو څخــه د مجلې د چلوونکي له دریځه خدای پاماني اخلم، خو دې ســره ســره ددې خبرې یادول هم ضرور بولم، چې له مجلې سره به هر ډول لیکنۍ او نوره تخنیکي همکاري کوم.

په توله فرهنګي مینه

محمد اسمعیل یون

# ګران خوشال روهي ته داوښکو مړاوی ليک

**دا ليکنه ما د خدای بښلي استاد روهي د مړينې د خبر په اورېدو سره چې پر همغه شپه له بي بي سي راډيو څخه خپور شو، کړې وه. دا ليکنه بيا په شمشاد مجله، د استاد روهي ياد، اثر او ځينو نورو خپرونو کې خپره شوې ده.**

ته يوازې وې ؟ تادخپل پلارجنازه يوازې پورته کړه ؟ همغه خودعلم اوپوهې يوغرو . تادهغۀ روح ته څنګه اوږه ورکړه ؟ تاپه کوم زور هغه له ځمکې پورته کړ؟ ايانهيلی نه شوې ؟ شاو خوا دې ونه کتل؟ کتلي به دې وي ! څومره به نهيلی شوی يې ! هېڅوک به نه وو ، ته به يوازې وې ! ګڼ شمېرخپلوان به دې سترګوته ودرېدلي وي ، وطن به دې يادشوی وي ، کلی به دې ياد شوی وي ، خپله هديره بــه دې يــاده شــوې وي ! اوکه يوازې په غمونوکې به ډوب وې اودمينې دغــره جنــازه دې وړلــه ؟اوايه (( اجمل )) هم درسره و اوکه نه؟ کــټ خوځلوربازوګــان لــري اوتاسوخودوه وروڼه وئ . ووايه نوربازوګــان چــانيولي وو؟ خپلــو کــه پرديو؟ اجمل خوبه تــل دګــل پــه شــان غوړېــدلی و، ووايــه دخپــل پلاردعاطفي مينې د برجونو نړېدو د هغه ګل ځواني دملاتيرکوړکړکه نه

؟ مورړ ډېرلرې وو، ډېربې وسه ، خوتاسې به ډېرډېربې وسه وئ . ضروربه مودخپل وطن هربوټی ، هره تړه اوهرسړی سترګوته ودرېدلي وي !

روهي صاحب خو له خپل هېوادسره ډېره مینه درلودله . وايــي چــې دمسافروپه پردي وطن کې څنګدن ډېرســخت وي ، خپــل وطــن یــې سترګوته ودرېږي . ووايه دروهي صاحب څنګدن څنګه و؟ خپل وطــن یې سترګوکې ډېرګرځيده که څنګه ؟ ایادڅنکدن په وخت کې مودهغه مخ دوطن قبلې ته راړولی وکه نه ؟ اوکه دا ارمان موهم ورته پــوره نــه کړ؟

له مانه خوبه ډېرګیلــه مــن وې، ځکــه زمااوســتاخودزړه یــاري وه، کاشکې خدای پاک پر مینې نه وای مین کړی، که نــه نــواوس خــویې بایدوزرونه راکړي وای چې دخپلې مینې دڅنکدن وروستي ســلام تــه خوورغلی وای . زه زړه چاته تش کړم . تــه خوښــه وې لــه نــږدې دې دعواطفواو مینې دکوه طورجنازه ولیدله اوتنده به دې ښه ماتــه کــړې وي، خوکاشکې یوځل یوبل سره مخ شواوخپل زړونــه یودبــل پــر زړه کېږدو او وګورو چې دچاپه زړه کې داورغرونه زیاتې زلزلې کوي .

روهي صیب په پردېسی کې د ابدي سفر لمــن ونیــوه، ګــورئ چــې امانتي یې ګور کې کېږدئ، که بیا مورړ کې متره پیدا شوه، نو هڅ به یــې خپل هېواد ته راوړو. د پښتنو د یو بل پوهاند په شان یې پر قبر ولیکئ چې: ((دا د پردېس محمد صدیق روهي قبر دی که پښــتنو زلمــو کــې

چېرې متره پیداشوه، نوهڅوکي دې خپل وطن تــه یوســـي )) بیانوکــه یووخت زمونږ دکړېدلي اومړاوي ملت روح وغوړېده، نو بیابه یې دهېواد په مینه کې سترې هڅوکي، خپل وطن ته راوړي او زمــونږ ددې مســـافر پوهاندټکلی روح به ارام شي .

په تېپي مینه

ستابېوسه یون

۲۹-۲-۱۳۷۵

کابل-افغانستان

# اوسني استوګن ادبي بهیر ته یوه لنډه کتنه

> دا لیکنه د باختر مجلې د (۱۳۷۸ل) کال په لومړۍ ګڼه کې چاپ شوې ده، په دې لیکنه کې د طالبانو د واکمنۍ تر پیل وروسته دوه-درې کلن ادبي بهیر څېړل شوی دی.

په هره ټولنه کې سیاسي، پوځي او ټولنیز شرایط د هغې ټولنې د ژوند په بدلون او اوښتون کې زیات اغېز لري.
ادبیات د ټولنې د عواطفو او اخلاقو هنداره ګڼل کېږي، د ټولنې ښېګنې، بدګنې، دردونه، غمونه، خوښي او سوکالي ټول په ادبیاتو کې خوندي او له یوه پښت نه بل ته لېږدي. له همدې کبله خو وایي چې ((ادبیات د ټولنې وجدان دی)). د جګړه ییزو شېبو ادبیات طبعاً د جګړې رنګ لري، ضرور به د غم، درد، وینو او مرګونو انځورونه پکې وي. اوس چې مونږ د هېواد په داخل کې خپل ادبي بهیر ته ګورو، نو د واکمنو شرایطو څرګند او نیمه څرګند انځورونه مو تر سترګو کېږي. له څو کالو راهیسې چې زمونږ ټولنه د پرمختګ پرځای د شاتګ پر لوري روانه ده او د ژوندانه بېلابېلو خواوو ته درانه زیانونه اړول شوي، ادبیات او ادبي بهیرونه هم زیانمن شوي دي. خو که د ټولنې د نورو خواوو په اندول د ادبیاتو زیانمني، ټکني کېدل او پرشاتګ په پام کې ونیول شي، نو ادبیات او ادبي بهیرونه هغومره نه دي زیانمن شوي لکه څنګه چې د ټولنې د ژوند نورې خواوې ټکېدلي او زیانمنې شوې دي. ددې

یو علت به هم دا وي چې ادبیات د یو فزیکي موجود په توګه د یو اثــر تر چاپ وروسته مطرح کېږي، د جګړې ځــانګړنې دادي چــې لــومړۍ فزیکي ودانۍ ړنګې کړي او بیا ذهني او مانیزه شتمنې.

د افغانستان د تېر شل کلن ناورین په بهیر کې هر سیاســي پــړاو او پوځي بدلون پر ادبیاتو خپل اغېز شیندلای دی. سره له دې چې ددې شل کلن ناتار اورنیو شېبو زموږ له ادبیاتو، سره لیکه  راوتاوه کــړې ده خو دې سره سره په هر سیاسي او پوځي پېر کې ادبیاتو او ادبي بهیر د خپلو ځینو ځانګړنو له مخې له یوه پړاو څخه بل ته توپیر موندلای دی.

زه غواړم د (۱۳۷۵ل) کال د تلې میاشتې تر پنځمې نېټــې وروســته چې په هېواد کې یو بل سیاسي، پوځي او ان فزیکي بدلون راغــی، پــر ادبي بهیر یو څه رڼا واچوم:

له (۱۳۷۵ل) کال راهیسې د هېواد په اســتوګن ادبــي بهیــر کــې د ادبیاتو د نورو برخو په انډول شعر یا نظم، زیات مطرح شو. ددې وجــه داده چې له نظم څخه د سیاسي موخو لپــاره ګټــه واخیســتل شــوه. څرنګه چې په افغانستان کې مطبوعات د نورې نړۍ په انــډول زیــات شاته پاتې دي او هم د ټولنې اکثریت برخه نالوســتې ده، نــو لــه دوی سره د ذهني اړیکو د ټینګولو او پر دوی اغېز شیندلو لپاره شعر یا نظم تر ټولو ښه وسیله شوه. پر موسیقي، سینما، تمثیلي ټوټو او ځینو نورو تفریحي پروګرامونو ټینګ او سست بندیز هم (نظم) ته ددې لاره اواره کړه، چې ځینې خلک ترې د (ترنم) پــه بڼــه د موســیقي خونــد هــم واخلي.

تر ۱۳۷۵ل کال وروسته په کابل او ننګرهــار کــې څــو ځلــه لــویې مشاعرې وشوې چې په لسګونو، نه، بلکــې پــه ســلګونو شــاعرانو او

ناظمانو پکې ګډون وکړ ، ځینو ته د خپل کلام د اورولو نوبت هـم ونـه رسېده، خو په همدې بهیر کې د ځـو علمـي او ادبـي سـیمینارونو د جوړولو هڅه هم وشوه او ځینې جوړ هم شول، خو په ډېرې سـختۍ د سیمینارونو لپاره په ټاکلې برخه کې لیکنې برابرې شوې. له شـعر یـا نظم سره د هر یو لوستي او نالوستي مینه ځکه ده چې یو خو د لوستو پر وخت ډېر وخت نه غواړي او بل هغه څوک چې نالوستي دي، هغو ته خو د (ترانو) په بڼه له راډیو څخه وړاندې کېـږي او د هغـوی د ذوق د خړوبېدو سبب کېږي. له همدې کبله خو په راډیو کې هغه (وخت) چې پخوا به موسیقۍ ته ورکول کېده، اوس ترانو ته وقـف شـوی دی. پـه راډیو کې داسې نظمونه هم خپرېږي چې ان د سیاسـي تبصـرو ځـای نیسي او د حکومت د رسمي نظر ښکارندویي کوي.(!)

په هرات، کندهار، غزني، کابل او ننګرهار کې چـې کـومې خپرونـې کېږي په هغو کې نظم ته ځانګړی ځای ورکړی شوی دی.

نظم ته د ځانګړې پاملرنې له کبله خو د (( اسلامي امارت)) په نوښت د شعرونو دوه کتابونه: ( پګړۍ کې کم نه یې له کاکله ګله) او (اهاړ) هم چاپ شوي دي. په داسې حال کې چې په نورو برخو کې کوم کتاب نـه دی چاپ شوی، یوازې په فرهنګي برخه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د افغانستان د فرهنګ د بیـا رغـونې پـه بـاب د جـوړ شـوي سیمینار د مقالو مجموعه چاپ شوې او په سیاسي برخه کې د اسـامه بن لادن په باب د شوي سیمینار دمقالو مجموعه چاپ شوې ده.

هغه شاعران چې په هېواد کې استوګن دي هغوی هم د خپلو نـورو لیکنو په انډول شعري مجموعې زیاتې چاپ کړې دي. په همدې دریـو کلونو کې یوازې ځوان شاعر عبدالغفور لېوال د شعرونو درې ټـولګې،

ځوان شاعر قاضي محمد حسن حقيار د شعرونو يوه ټولگـــه، د ځـــوان شاعرانو عبدالعزيز غيرت، اجمل اند، صديق الله بدر او نورمحمد لاهو د شعرونو يوه يوه مجموعه چاپ شوې دي. په ننگرهار کـــې د څـــو تنـــو ځوانو شاعرانو گډ شوي جونگ ( په سيله کې گلابونه) هم چاپ شوی دی، له دې څخه دا خبره څرگندېږي چې په هېواد کې د ادبياتو د نورو برخو په اندول شعر يا نظم ته پاملرنه زياته ده. په همدې بهيـــر کـــې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د ادارې په چوکاټ کې په ځينو سيمو کې د ليکوالو ټولنې هم جوړې شوې، چې کولای شو د (( الينگار فرهنگي يون)) او د ((خوست ادبي ټولنه)) د بېلگې په توگه ياد کړو.

ددې دواړو ټولنو د هرې يوې غړي له پنځوسو څخه تر سلو تنو پورې رسېږي. ددې دواړو ټولنو اکثره غړي شاعران دي او ځينې يـــې بيـــا د ادب په نورو څانگو کې هم ليکنې کوي. پخپله په کابل کې د اطلاعـــاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداره هم په منظم ډول په هـــرو پـــنځلس ورځو کې يو ځل د کره کتنې غونډه کوي او هغې کې د ځوانو شاعرانو او ليکوالو شعرونه او لنډې کيسې ارزول کېږي.

که په ټولنيز ډول د هېواد اوسني ادبي بهير ارزول کېږي، نـــو ســـړی ويلای شي، چې د شعر او نظم برخه يې زياته گړندۍ او غوښـــنه ده، د ادب بله هېڅ څانگه ورســـره د پرتلـــې وړ نـــه ده، پـــه ځـــانگړي ډول د څومره والي له پلوه.

د څرنگوالي له پلوه هم سړی د هېواد اوسني شعر ته ډېـــرې هيلـــې لرلای شي. له منظومو ترانو او شعاري نظمونـــو پرتـــه چـــې د وخـــت د غوښتنو پر بنسټ رامنځته شوي او موسمي عمر او بڼه لري، نـــور گـــڼ شمېر داسې شاعران هم شته چې شعرونه يې له هنري ارزښتونو څخه

ډک دي، د ټولنې ډېره ښکلې انځورګري يې کړې ده او شعر تــه يــې د تلپاتې او یاهم د ډېر عمر جامه جوړه کړې ده. که د ننګرهار، خلافــت، کندهار او کتاب مجلې، د هېواد، انیس او ننګرهار ورځپاڼې وکتل شي، نو د شعر په پاڼو کې يې یو شمېر ښکلي شعرونه موندلای شو، چــې د بشپړو هنري ښکلاوو لرونکي دي. همدارنګه د راډیو له څپو څخه هــم کله کله ځینې شعرونه خپرېږي چې د خواږه ترنم ترڅنګ يې شــعري جوهر هم ډېر ښکلی او ځلنده دی. داسې ښکاري چې په هېواد کــې د شعار مزي ورو ورو سستيږي او بازار يې سړېږي. پــه هېــواد کــې ددې ادبي بهير په پیل کې ځینې داسې ناظمان، چې زیات مطرح ښکارېدل، اوس ورو ورور خپل ارزښت بایلي او ځای يې شاعران نیسي، لــه تشــو شعارونو، سپوره نظمونو او کلیشه يي خبرو څخه اخیر د انسان ذهــن ستړی کېږي او هر وخت د سړي زړه کېږي چې ښکلو شعرونو ته د زړه رازونه او غمونه وسپړي او رازونیاز ورسره وکړي. په هېواد کې د شعر د بریمن یون له هیلو سره سره د ادبیاتو په نورو څانګو کــې د تخلیقــي اثارو کمی احساسېږي. که څه هم اوس په استوګن ادبي بهیــر کــې د شعر ترڅنګ لنډې کیسې ته هم څه نا څه پاملرنــه کېــږي. د شــعر او ادب په اداره کې کله کله پر لنډو کیسو کره کتنه کېږي. ددې لیکوالــو په کیسو کې ځینې داسې لنډې کیسې هم شته چې د پوره او بشپړې لنډې کیسې په تول پوره خېږي او د لوســتونکي هنــري تونــده پــرې ماتېږي. ځینې ښکلې لنډې کیسي په هېواد، انیس او ننګرهار ورځپاڼو او همدارنګه په کندهار، ننګرهار، کتاب او خلافت مجلو کې هم خپرې شوې دي، خو په ځانګړي او مستقل ډول دننه په هېواد کــې د لنــډو کیسو کومه ټولګه چاپ شوې نه ده.

پر اوسني وخت په چاپي بڼه په هېواد کې د منځـــي داســـتان او اوږد داستان کومه چاپي ببلګه لیدل شوې نه ده، البته ځینې لیکــوال پــه خصوصي ډول یادونه کوي، چې منځني داستانونه او ناولونه یې لیکلي دي.

که په ټولیز ډول د هېواد اوسنی ادبي بهیر ارزول کېــږي، نــو ســړی ویلای شي چې زموږ اوسنی ادبي برخه کې د شعر یا نظــم تلــه خــورا درنه ده. په دویمه کټګورۍ کې لنډه کیســـه او ځینــې هنــري نثرونــه راځي. د منځني داستان او ناول برخه مو زیاته خواره ده او همدارنګه د نورو ادبي ژانرونو.

# په لیکوالۍ کې د حقارت عقده

**دا لیکنه هم د هیلې مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.**

هر انسان چې په ټولنه کې د حقارت پر عقده اخته وي، د ژوند لارې او ډګرونه پرې ورو – ورو راتنګېږي، د دې پرځای چې په ژوند کې پرمختګ وکړي، شاتګ کوي او په ټولنه کې د نورو وګړو په انډول د ژوند له کاروانه شاته پاتې کېږي.

عقده من او کینه ګر شخص په حقیقت کې د خپل ځان دښمن دی، د دې پرځای چې پر خپل ځان کار وکړي، د نورو ژوند او کارونو ته متوجه وي، دا ډول اشخاص ټول عمر تر نورو خپل ځانونه ټیټ ګڼي او همدغه حقارت ورو – ورو د دوی پر ذهني او روحي عقدو بدلېږي او دا بیا د دوی د ذهن او روان د ځپنې لامل ګرځي او په نتیجه کې دا شخص هم له فکري پلوه او هم له جسمي پلوه ډېر کمزوری کېږي.

اروا پوهان وایي: په ټولو ژوندیو موجوداتو کې د زهرو ماده د همغه ژوندي موجود له قهر او غوسې څخه جوړېږي، همدا قهر او غوسه د وخت په تېرېدو سره په زهرو بدلېږي. دوی د بېلګې په توګه د (مار) یادونه کوي. اروا پوهان وایي: مار چې په ژوندانه کې له ګرمۍ، یخنۍ او یا له کوم بل ناعادي حالت سره مخامخ شي، نو په غوسه کېږي او قهر ورځي، د همدغه فشار له امله یو ډول مایع مواد تولیدوي، دا مایع مواد بیا د مار خولې ته راځي او

هلته بیا په یوه ځانګړې کڅوړه کې راټولېږي، د همدې کڅوړې او د مار په خوله کې د غاښونو ترمنځ یوه لاره ده، د مار په غاښونو کې بیا ډېر نري – نري سوري دي، کله چې انسان یا بل کوم ژوندی موجود وچیچي، د همدې غاښونو له لارې همدا مایع مواد د هغه وجود ته انتقالوي او هغه له نورمال حالت څخه وباسي. ارواپوهان وایي چې همدغه ډول زهر د انسان په وجود کې هم شته، چې د قهر او غوسې پر وخت تولیدېږي، خو انسان بیا ورته د مار په شان ځانګړې کڅوړه او د راټولولو ځای نه لري. نو کله چې په قهر شي، غوسه ورشي، نو له همدغه قهر څخه راپیدا شوی تاو یې ټول وجود ته تیت شي، نو ځکه یې ټول وجود کمزوری شي، دا ډول اشخاص له ذهني او جسمي پلوه چندان ځواکمن نه وي. زغم، صبر او اوسېله یې کمه وي او د هرې پېښې پروړاندې ډېر ژر او چټك عکس العمل ښیي.

عقده او حقارت د ژوند په هر ډګر کې له یوې مخې منفي پایلې هم نه لري، کله – کله معکوسه (مثبته) نتیجه هم ورکوي، مانا دا چې د منفي عقدې او کینې له امله مثبت کارونه رامنځته کېږي. د نړۍ یو شمېر لوی شخصیتونه د کینې، عقدې او پېغور له امله د ستروالي پوړۍ ته رسېدلي دي، د بېلګې په توګه یو عادي پېغور د دې سبب شو چې ستر نومیالي افغان شاعر امیرحمزه بابا پښتو شاعرۍ ته مخ راواړوه. د افغانستان د معاصر تاریخ د ډېرې درنې ستېې (محمد ګل خان مومند بابا) په باب هم ویل کېږي چې یو عادي پېغور د دې سبب شو، چې د ده ټول وجود او ذهن پښتوپالنې ته واړوي، همداراز د نړۍ نورې ګڼې مثبتې

پېښــې د همـدې کینـو، عقـدو او پېغورونـو لـه غبرګونونـو څخـه رامنځته شوي دي او شخصـیتونه یـې ښـه ځلېـدلي دي، خو د دې ډول پېغور، کینو او عقدو لوری مثبتې خوا ته و.

خـو راځـو دېتـه چـې عقـده، کینـه او رخـه پـه لیکوالـۍ کـې د لیکوال پر کار او فرهنګي هڅو څه اغېز لـري؟ لکه څنګه چې مـو پورتـه اشـاره وکـړه، کـه چېـرې څـوك د یـو مثبـت ارمـان او یـا هـم ستري هېوادنۍ او ملي هیلې د بـري لپـاره پـه ځـان کـې کـوم تـاو، کینه او یا هم عقده راټول کړي او هغـه ټـول د همـدې ارمـان د بـري لپاره وکاروي، نو بیا خو کېدی شي سـترې بریـاوې ترلاسـه کـړي، خو که چېرې کوم شخص بې ارمانه عقده من وي، یا یې هم عقـده او کینه فردي وي، نو هغه بیا د خپل ځان دښمـن دی، پرتـه لـه دې چې خپل ځان وځوروي او وکړوي، نور څه یې لاسـته نـه ورځـي، د دې ډول عقــدو د حــل لاره یــوازې دا ده چــې د ده مقابــل ســیال شخص په هر ډګر کې تر ده وروسـته پـاتې شـي، سـره لـه دې چـې د هغه ژوند بېل وي او د ده بېـل، خـو دا ډول اشـخاص د خپـل ژونـد سوکالي او بدمرغي د نـورو د ژونـد لـه سـوکالۍ او بدمرغـۍ سـره پرتلـه کـوي، کـه د هغـو ژونـد ښـه او ځلنـد و، نـو د ده ژونـد خـراب دی، کـه د هغـه خـراب و، نـو د ده بیـا ښـه دی. سـره لـه دې چـې د دوی دواړو د ژوند تـرمنځ هېـڅ ډول فزیکـي، اقتصـادي او یـا کـوم بل ډول مستقیم تړاو نه شته، اسـتاد الفـت پـه خپـل یـوه نثـر کـې د دې ډول اشخاصو یو ښه مثال وړاندې کوي، هغه وایي:

"زما یو دوست دی، خدای(ج) هرڅه ورکړي، یو کور یې دلته، بل یې په کابل کې، بل یې یو بل ځای کې، غواوې لري، موټر لـري،

هستي لري، ښه د متهو او سرو خاوند دی، مانا دا چې شتمني يې ښه پرېمانه ده او ته به فکر کوې چې دی د دنيا له غمو بېغمه دی، خو دی هم کله – کله ځورېږي، کړېږي او خپه وي.
خپه په دې وي، چې زما يو بل دوست دی، هغه تر ده هم زياته هستي او شتمني لري، د ده د ځورېدلو علت دا دی چې هغه بل ولې تر ده زياته شتمني لري".
د دې خبرې مانا دا ده چې ځينې خلك د خپل ژوند سوكالي، غم، خپګان د نورو د سوكالۍ او بدمرغۍ په كچې پورې تړي.
له بده مرغه چې زموږ يو شمېر ليكوال هم پر همدغې ناروغۍ اخته دي، دوی هم د دې پرځای چې فرهنګي كار وكړي او له خپل كار او هنره خوند واخلي، د نورو كار ته متوجه وي، چې نور څه كوي؟ زيات كار كوي كه كم؟ څنګه يې كوي؟ سرچينې او منابع يې له كومه ځايه دي؟ دا هر كار چې كوي په دې كې به د ده شخصي ګټه څومره خوندي وي؟ د مياشتې عايدات به يې څومره وي؟ همداسې نورې په لسګونو "ولې" او "څنګه" (د دې ډول اشخاصو په ذهنونو كې تاوېږي او له خپل اساسي كار او ژونده يې كږوي، يوشمېر تصنعي، تكلفي او هغو ليكوالو ته چې پر فكري خلا اخته دي، ښځې يوه رواني عقده او رنځ پيدا شوی) چې ولې داسې كېږي (دا نور ليكوال ولې كار كوي؟). د دې ډول په اصطلاح ليكوالو د دې رنځ او عقدې يو بل اساسي علت دا دی چې دوی د خپل استعداد په اندول ځان ته د زيات څه تمه لري، خو د دوی كړی كار او استعداد هغه هيلې نه شي پوره

کولای، نو ځکه خو یې د نورو بریاوو ته پام شي او هغه بیا د خپلو ماتو د علت په توګه ګڼي.

یوشمېر خو بیا داسې هم دي، چې نوره لیکوالي یې په سلو کې شل برخې ده، خو انتقادي لیکنې یې په سلو کې اتیا برخو ته ختلې دي، هغو خپل ذهن داسې روزلی چې په هرڅه کې باید اول له خپل نظره، منفي شیان او یا هم نیمګړتیاوې رابرسېره کړي، د هغو په ذره بین کې هېڅکله هم مثبت کارونه او ښېګڼې نه لیدل کېږي، ځکه دوی چې له سره قلم را پورته کوي او ذهن لیکلو ته تیاروي، نو ذهنیت یې منفي وي او لیکنه هم له همدې لیدلوري کوي، دا ډول کسان په حقیقت کې د دري ژبې په اصطلاح (منفي بافان) دي. د روزنې په پرتله یې د غندنې او د سمون پرځای یې د کار ورانۍ تله درنه ده. دا ډول په اصطلاح کره کتونکي غواړي له ځوانو لیکوالو لار ورکه کړي، لکه څنګه چې له دوی څخه ورکه ده.

دوی بیا دا فکري ځواک هم نه لري، چې د ښه کار او کره لیکوالۍ معیارونه مشخص کړي، چې نور لیکوال بیا همغه لاره تعقیب کړي او دوی بیا په کې څه ونه وایي.

دوی په ټولنه کې هېڅ وګړي او هېڅ لیکوال ته له مثبت لیدلوري نه ګوري او په هر چا کې کې به یوه (خو) راباسي. له دې ډول لیکوالو ایډیال ورك دی، سړی نه پوهېږي چې څه غواړي، وروستی هدف او موخه یې څه دي؟ چې ورته ووایې: ستاسو په نظر په ټولنه کې ښه سړی او لیکوال څوك دی او باید یو شخص یا لیکوال کوم معیارونه پوره کړي او کومو پوړیو ته ورسېږي چې

تاسو ته د منلو وړ وي؟ نو په ځواب کې به درته ووایي چې والله نو دې سره یې زموږ کار نه شته، زموږ کار یوازې د نیمګړتیاوو په ګوته کول دي، ښېګڼې خو هسې هم شته. که بیا ورځخه وپوښتې چې یوازې د چا نیمګړتیاوې بیانول او پر ښېګڼو یې غلې پاتې کېدل به د کره کتونکي نیاو (انصاف) تر پوښتنې لاندې را نه ولي او مقابل لوری به خپه او خواشینی نه کړي؟ بیا به نو درته ووایي چې نه نو ستاینه خو زموږ کار نه دی او که ورته ووایې څه کېږي هغه کارونه چې نورو نه یې دکره تر سره کولو هیله لرئ، خپله متې را بډوهئ او تر سره یې کړئ! نو بیا به درته ووایي چې دا خو زموږ کار نه دی دا د هغوی کار دی باید له کومې نیمګړتیا پرته یې تر سره کړي.

دا ډول کره کتونکي یوازې ثمر او تیارې مېوې ته په تمه دي، دا چې دا مېوه په څومره تکلیف تر لاسه کېږي او څومره خولې پرې تویېږي، دا زیار او زحمت نه محاسبه کوي او نه د خپلې ټولنې او کار وسایلو ته ګوري، نه د لیکوال چاپېریال او امکاناتو ته! بس یوازې هغې مېوې ته منتظر دي چې یوازې دده په ذوق برابره وي.

یو څوتنه بیا داسې دي، چې هغوی د فکري خلا تر څنګ پر اقتصادي عقدې هم اخته دي، مانا دا چې هر مثبت او کړی کار له اقتصادي لیدلوري ګوري. زموږ یو لیکوال ملګري د یو ادبي کتاب د چاپولو تکل کړی و، د چاپ لګښت د پوره کولو لپاره یې یوشمېر هغو افغانانو ته لیکونه ولېږل، چې له ده سره یې د پېژندګلوۍ نږدې اړیکي وو، هغوی تر خپله وسه د دې کتاب لپاره بسپنه ورکړه، له ۵۰۰ پاکستانۍ کلدارو نیولې تر درې څلورو

زرو پاکستانۍ روپیو پورې، هر یو مرسته وکړه. په ټولیز ډول شپږ – اووه تنه په دې مرسته کې راټول شوي وو. کله چې لیکوال دا ټولې بسپنې راجمع کړې، نو د کتاب د چاپ لګښت یې پوره کړ، خو د کمپوز او ایډیټ لپاره یې لا پیسې پوره نه شوې، لیکوال له دود سره سم د ټولو مرستندویانو نومونه ولیکل او مننه یې ورڅخه وکړه. د هر یو د پیسو اندازه یې بېلابېله ځکه ونه لیکله، چې د ځینو پیسې لږ وې او د ځینو بیا د هغوی په انډول زیاتې. ده فکر وکړ، هسې نه چې پر ځینو باندې د پیسو یاد شوی مقدار ښه ونه لګېږي او په زړه کې ورته ځان کم ښکاره شي. نو له ټولو څخه یې عامه مننه وکړه، کله چې کتاب چاپ شو، نو د نورو لیکنو ته د منتظرو کره کتونکو(!!) له جملې څخه د یوه لاسته ورغی، پر کتاب یې یوه اوږده لیکنه وکړه، چې ځای– ځای ترې د کینې، تمسخر او ناوړه تعبیرونو بوی راته، د دې کره کتونکي د لیکنې مرکزي ټکی دا و چې د کتاب لیکوال له ډېرو خلکو څخه بسپنې راټولې کړې، ځکه چې د مرستندویانو نومونه زیات وو. د هغو د مرستو په یوې برخې یې دا کتاب چاپ کړی او نورې یې ځان ته خوندي کړې دي!؟ د کره کتونکي له لیکنې څخه داسې ښکارېدله چې ددې کتاب په باب یې څو ځله ځان سره (سوی تبسم) کړی او غوښتي یې دي نور هم (سوی تبسم) ته وهڅوي.

زه خپله د دې کتاب د لیکوال او کره کتونکي ترمنځ په داسې یو منځني دریځ کې وم، چې د دواړو حالات راته ښه معلوم وو، ځکه زه خبر وم چې د کتاب لیکوال په ډېر زړه چاودون او دوه کلنو منډو ترړو ایله په دې بریالی شو، چې هم دا کتاب ترتیب کړي او هم

بهرمېشتي افغانان وهڅوي، چې د دغه کتاب د چاپ لګښت پرې کړي، خو ښاغلي کره کتونکي د لیکوال هغه دوه کلنې منډې تړړې او ستر فرهنګي ارمان هېڅ په پام کې نه و نیولی، یوازې پر همدې ټکي یې زور راوړی و، چې لیکوال له ډېرو خلکو پیسې اخیستي ، خو کتاب یې پرې یوازې همدا یو چاپ کړی دی. داسې ښکارېدله چې د کره کتونکي فکر د یوه اقتصادي محرومیت په دایره کې راګیر و، ځکه خو یې د کتاب د مانیز ارزښت پر ځای د اقتصادي ګټې او هغه هم د شکمنې اټکلیزې ګټې لوري ته زیاته لېوالتیا درلوده، دلته معلومېږي چې د لومړي لیکوال اصلي غایه فرهنګي کار و، چې ویې کړ او عملي بېلګه یې خلکو ته وړاندې کړه، خو د کره کتونکي لیکنه بیا د هغه د خپل هغه اقتصادي محرومیت انعکاس و، چې دده په لاشعور کې پروت دی او دی د نورو کړی کار د همدې لامل نتیجه ګڼي. که داسې وګڼو چې لیکوال د کتاب د چاپ له پلوه اقتصادي ګټه هم کړې وي، نو بیا خو هم بده خبره نه ده، کاشکې زموږ په ژبې او زموږ په ولس کې کلتوري کار د دې جوګه شي، چې لیکوال ورڅخه تغذیه شي او بل کار ته اړ نه شي، بله خبره داده که کره کتونکي ته په دې ډول هڅو کې اقتصادي ګټه متصوره وي، نو ښه به دا وي چې دی خپله هم دې کار ته راودانګي، چې هم فرهنګي کار وکړي او هم پیسې وګټي، یانې دا چې هم یې خرما نصیب شي او هم ثواب. څومره به ښه و، چې زموږ په هېواد کې په کلتوري او علمي کار کې پیسې وای، چې ټولو خلکو همدې کار ته ملا تړلې وای او د جنګ پرځای مو د فرهنګ لاره خپله کړې وای.

یوازې ځینې په اصطلاح کره کتونکي نه دي، چې پر دې ناروغۍ اخته دي، بلکې یو شمېر نور لیکوال هم شته چې زیاته انرژي یې د خپلو همځنګو لیکوالو د شخصیت پر تخریب او سپکاوي لګېږي او ټوله ورځ په ګړني تبلیغ تېروي، هغه د چا خبره خپله درنه او د بل سپکه وایي او په دې ډول غواړي د خپل حقارت عقده آواره کړي. خو د کره کتونکو (!) د زغم جام بیا تر دوی ډېر ډك دی، نو ځکه خو د نورو د کړي کار پروړاندې ژر تر مورګو ډك شي او نتیجه یې یوشمېر هغه لیکنې شي، چې د ودانۍ پرځای یې د ورانۍ او د ستاینې پر ځای یې د غندنې تله درنوي.

ددې ډول لیکوالو یا کره کتونکو په باب به په پای کې وروستۍ خبره دا وکړو؛ دا هغه ډول لیکوال دي چې د نورو ثمر ته منتظر وي، که اصلي لیکوال څه شی تولید نه کړي یا کره یا نیمګړی، نو دې دویم لاس لیکوالو ته بیا کار هم نه پیدا کېږي، ځکه چې دوی خو اصلاً د بل چا کار ته منتظر وي، چې هغه د خپل کار ثمره او بېلګه ټولنې ته وړاندې کړي او دوی بیا هغه وڅکي چې په ذوق یې برابره ده او که نه؟ کله چې یې په ذوق برابره نه شي نو بیا د عیبونو لرلید یا زره بین ورته اړم کړي او په لسګونو عیبونه په کې پیدا کړي. دا ډول لیکوال په حقیقت کې په ټولنه کې دویم لاس لیکوال دي، چې د لومړي لاس لیکوالو (تولیدوونکو) ثمر ته منتظر دي، ډېرې هغه لیکنې چې دې ښاغلو کره کتونکو کړي، په حقیقت کې د هغو لیکنو زېږنده دي چې تر دوی دمخه شوي او دوی بیا د هغوی په باب دا لیکنې کړي، که چېرې هغو لیکوالو دا لیکنې نه وای کړي، نو ددوی لیکنې به هم هېڅ نه وې، دا خبرې په دې مانا

نه دي، چې په لیکوالۍ کې دې هم هرې ګډوډۍ ته لاره اواره شي او هرڅوك چې هر څه یې زړه غواړي هغه دې ولیکي، د هرکار لپاره یو لړ معیارونه وي، چې د هغو له مخې د یو کار ښېګڼې او بدګڼې تلل کېدی او ا رزول کېدی شي، دې کې شك نه شته چې کره کتونکی دلیکوال استاد دی، یانې په دې مانا چې د کره کتونکي علمي کچه باید تر لیکوال لوړه وي، چې هغه ته سمه لاره وښيي او که چېرې کره کتونکي سره دعلمي استدلال او منطق توره نه وي او بیا هم سپوره انتقادي لیکنو ته دوام ورکوي، نو دګټې پرځای به یې تاوان زیات وي. کره کتونکی باید د ا ټکی هم په پام کې ونیسي، چې د وینا او عمل تر منځ واټن وي، هغه څه چې موږ یې له نورو د عملي کولو هیله لرو، ښه به دا وي چې موږ خپله اول ځان دهغه کار دعملي کولو په دایره کې انځور کړو، چې که چېرې هغه کار راته شونی ښکاره شو، نو بیا به یې بل ته هم دعملي کولو لارښوونه وکړو او که نه خو د شاعر دهغې خبرې مخ به خپله موږ ته راواوړي چې ویلي یې دي:

دا وینـــا دې وکـــړه ځان ته زمـریالــیه
عمل ګران ګفتار اسان دی که پوهېږې.

# د مونوگراف ليکنې گټې او اړتياوې

دا ليکنه د (کابل پوهنتون) د علمي مجلې د (۱۳۷۸ل) کال په (۲-۳)مه گڼه کې خپره شوې ده.

د پوهنتوني او پوهنيزو آرونو (اصولو) له مخې د نړۍ په گڼ شمېر پوهنتونو کې د بېلابېلو څانگو فارغان پر دې مکلف دي، چې د فراغت پر وخت دخپلې تحصيل کړې څانگې د يوې موضوع په باب، يو څېړنيز او تحليلي اثر وليکي. دا کار دنړۍ په زياترو پوهنتونونو کې دود دی، خو ځينې پوهنتونونه په ځينو ځانگړو څانگو کې د مونوگراف يا د ليکنې پر ځای (دولتي ازموينه) اخلي. دولتي ازموينه داسې بڼه لري چې د همغې څانگې واکمن استادان او د اړوندې اکاډيميکې موسسې نور مخور چارواکي، په يو ځای (علمي کنفرانس خونه او يا کوم بل ځای) کې سره راټولېږي، فارغ التحصيل ته وخت ورکوي، چې د يوې ټاکلې موضوع په باب لکچر ورکړي، نور استادان له ده څخه د همدې ټاکلې موضوع او هم د تحصيل په بهير کې د نورو موضوعگانو په باب پوښتنې کوي، هر ښوونکی د خپلې کړې پوښتنې د ځواب په باب نومرې ورکوي، په پای کې دا ټولې نومرې راټولوي، که د برياليتوب نومره يې گټلې وه، نو بريالی گڼل کېږي. دولتي ازموينه کله کله ليکنۍ بڼه هم لري او فارغان ټاکلو پوښتنو ته يوه ټاکلې ورځ او پر ټاکلي وخت ليکلي

ځوابونه ورکوي. کابل پوهنتون هم دنړۍ د نورو پوهنتونونو په شان د پوهنیزو اصولو له مخې له ځینو ځانګړو څانګو پرته، خپل فارغان پر دې مکلف کړي، چې د فراغت پر وخت خپل پایلیک (مونوګراف) ولیکي.

د مونوګراف لیکلو اصول دادي، چې کله یو محصل د خپل فراغت وروستي سمستر ته داخل شي او یا تر هغه دمخه نو د خپلې څانګې یو استاد سره د یوې موضوع په باب مشوره کوي. لارښــود اســتاد محصل ته داسې یــوه موضــوع ټــاکي، چــې د څېړنــې وړ وي او د اخځونو پیداکېدل او د څېړنې کار یې شونی وي. کله چې د لارښود استاد له خولې محصل ته موضوع وټاکل شوه، نو هغــه پــر عملــي څېړنه او پلټنه پیل کوي، هر کله چې د مونوګراف کومه برخه بشپړه وي، نو لارښود استاد سره مشوره کوي، لارښود اســتاد د ســمون، زیاتون او صیقل تر لارښوونې وروسته بېرته هغه برخه محصــل تــه سپاري او هغه په کې هغه سمون راوړي، همداسې د پایلیک نــورې برخې هم لیکي، پایله دا شي، چې د څو میاشــتو پــه بهیــر کــې د محصل مونوګراف بشپړ شي.

د یادونې وړ ده چې د موګراف موضوع تر ټاکلو دمخه لا محصل د مونوګراف لیکنې له اصولو سره اشنا ځکه وي، چې په ټولګي کې د تدریس په بهیر کې د یو تدریسي مضمون په توګه تشریح شوي او د مونوګراف لیکنې اصول په ګوته شوي وي.

په مونوګراف لیکنه کې د موضوع ارزښت او د لیکنې کمیت ضرور په پام کې نیول کېږي. یو پایلیک باید لږ تر لږه له (۳۰-۳۵) مخونو څخه کم نه وي، یانې کم حد یې همدغه دی، نور که تر دې زیات وي

هغه نو خپله د لیکوال په کار او زغم پورې اړه لري، چې ټاکلې موضوع څومره په ښه ډول شنلای او څېړلای شي.

کابل پوهنتون تقریباً د اوو لسیزو فعالیت په بهیر کې تر څلوېښت زرو نه زیات فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. په دې کې ګڼ شمېرو یې خپل مونوګرافونه لیکلي دي. تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه د کابل پوهنتون په کتابتون کې تر (۶۰۰۰) ټوکو زیات مونوګرافونه خوندي وو. د پوهنتون د محصلینو د ټولو لیکلو پایلیکونو شمېر کېدی شي، تر دې زیات ځکه وي چې د مونوګراف یو ټوک (کاپي) په خپله څانګه کې خوندي کېږي او دویمه کاپي یې د یو مکتوب په واسطه مرکزي کتابتون ته لېږل کېږي، څومره چې په څانګه کې د مونوګراف خوندي کېدل حتمي وو، په مرکزي کتابتون کې نه وو. اداري بیروکراسي هم کېدی شي بل عامل وي، چې مرکزي کتابتون ته یې د مونوګرافونو د لېږلو منظمه لړۍ ټکنۍ کړې وي، خو په هر ډول همدا شپږ زره عنوانه پایلیکونه هم د دې ښکارندويي، کوي چې زموږ په هېواد کې یوازې د کابل پوهنتون (محصلینو- فارغانو) شپږ زره بېلابېل علمي، تاریخي، هنري او کلتوري موضوعګانې څېړلي او کوچ یې ترې راکښلي دي. دا په خپله د یو هېواد د ټولیز فرهنګ د غنا لپاره یو ستر ګام دی.

د مونوګراف لیکنې له کبله یو محصل د لیکوالۍ پر فن پوهېدی شي او هغه کولای شي چې د همدې فن په واسطه په راتلونکي کې په خپله څانګه کې نورې لیکنې او پلټنې وکړي او په ټولنه کې د خپلې څانګې د یو مسلکي غړي په توګه ځان زبات کړي.

د پایلیک بله ګڼه داده؛ تر هغه پورې چې د پوهنتون یو فارغ خپل پایلیک نه وي لیکلی او ارزونې ته یې نه وي وړاندې کړی، نو که دی په هر دولتي مقام کې مقرر شوی وي، ده تــه د تحصــیل امتیــازي معاش نه ورکول کېږي. دغه راز د ډیپلوم له سند نه محرومېږي. نو که یو څوک غواړي له خپلو بشپړ تحصیلي حقوقــو څخــه بــرخمن شي، باید د خپل پایلیک بشپړاوي ته ډېر زیات پام وکــړي او هغــه ولیکي.

د کابل پوهنتون په مونوګرافونو کې ځینې داسې هــم وو، چــې د ځانګړو او مستقلو اثارو په توګه چاپ شوي، خیــر یــې نــه یــوازې لیکوال، بلکې ټولې ټولنې ته هم رسېدلی دی. یو لړ مونوګرافونــو د همغو څانګو د مضمونونو د مرستندویو توکو په توګه هم کار کــړی دی. په ګانده (اینده) کې هم د دې اټکل شته چې داسې نور ښه ښه پایلیکونه ولیکل شي، چې نه یوازې یوه څېړنیزه موضــوع وي او د فارغ التحصیل د پایلیک کار ورکړي، بلکې دا مرســتندویو درســي موادو په توګه هم وکارول شي او تر چاپ وروسته یې ګټه عامه شي.

د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کــې همــدا اوس (۲۰۰) عنوانــه پایلیکونه خوندي دي، چې ۲۰۰ بېلابېلې کلتوري موضوعګانې یــې څېړلې دي. دا په خپله په کلتوري برخه کې یو ډېر لوی بــری دی او زموږ د ټولنې د کلتوري څېړنې په برخــه کــې یــو بــې ســاری او د ستاینې وړ ګام دی. ددې مونوګرافونو نوملیک خپور شوی، نو که په راتلونکي کې د پښتو څانګې کوم محصل ته موضوع ورکول کېــږي هغه باید له دې موضوعګانو بېله وي او بایــد نــوې موضــوع وي. د پښتو څانګې له مونوګرافونو څخه د ګوتو پــه شــمېر مونوګرافونــه

چاپ شوي ، خو ځینې داسې مونوګرافونه په یاد شوي شــمېر کــې شته چې چاپ یې ډېر اړین برېښي.

د مونوګراف لیکنې بله ګټه داده، چې دلته لــه فــارغ التحصــیل څخه یو لاسته راوړنه ( یو اثر) پاتې کېږي او بل محصــل دې تــه اړ کېږي، چې په علمي څېړنه او پلټنه کې برخــه واخلــي. لارښــود او مرستندوی استاد هم د درسي مکلفیت له مخــې ورســره مرســته کوي. دلته چې څوک عملي څېړنه او پلټنه ونه کړي نو بیا به یې څه وخت کوي؟ تر دې وروسته خو د شخص ټولنیز او رسمي مکلفیتونه زیاتېږي او نه ورته بیا داسې یو لارښود استاد پیداکېږي، چــې هــم دې وخت ولري او هم دې وړیا ورسره کار وکړي.

که په لنډ ډول خپل نظر راټول کړو، د پورتنیو دلایلــو لــه مخــې ویلای شو چې مونوګراف لیکنه هــم د محصــل د عملــي تجربــې د پخولو لپاره یو ښه کار دی او هم د علمي ګټې له املــه، ځکــه نــه یوازې ځانګړې څانګې، بلکې ټولې ټولنې تــه یــې ګټــه رســېږي. د دولتي ازموینې په اندول یې ګټه داده چې ازموینــه تېــره او هېــره شي، خو مونوګراف لیکنه لږ تر لږه د یو اثر په توګه اړونده څانګې او ټولنې ته وړاندې کېږي او پاتې کېږي.

# لیکوال، کتونکی او لوستونکی

**دا لیکنه ما هغه وخت وکړه، چې له یو عملـي مشـکل سـره مخامخ شوم او یو لیکوال له ما څخه ډېر زیات خواشـیني شـو، ځکه چې ما یې په لیکنه کې ژبنی او انشایي سمون راوستی و. دا لیکنه هم همغه وخت په هیله مجله کې چاپ شوې ده.**

اوس اوس دلـوی خـدای(ج) پـه فضـل او د افغانـانو پـه همت ګـڼ شـمېر مجلـې او کتابونـه چاپېـږي. ددې مجلـو او کتـابونو مـانیزځرنګوالی چـې هـر ډول وي پـر هغـو دلتـه بحـث نـه کـوو. خوغـواړو ددې خپرونـو پـر لیکنـي ځرنګـوالي، سمون (ایـډیټ) او چاپچـارو وغږېـږو او بیـا پـر هغـو مسـایلو بحـث وکـړو، چـې د لیکـوال، کتـونکي (ایـډیټر) او د لوسـتونکي تـر مـنځ شـته او کلـه کلـه د نـاوړه پوهاوي،خوابدیو، او د یـوې خـوا (ایـډیټر ) دذهنـي ځـواك د قربانـۍ سـببېږي، لیکـوال هـم پـرې یوځـه نارضـایتي ځرګندوي اولوستونکي هم دنورو غوښتنو هیله کوي.

۱ - *لیکوال:* لیکوال هغه شـخص دی چـې لیـک کـوي او یـوې چـاپي یـابلې خپـروني تـه خپلـه لیکنـه د خپـرېدو لپـاره ورلېـږي. ځرنګه چې لیکنه دلیکوال د خپل فکر وخیال، کاراو زیـار زېږنـده وي ، د ستر کړاو پـه نتیجـه کـې یـې رامنځتـه کـړې وي او هغـه تـه

دخپل اولاد په شان خوږه وي، نو هغه هیله لري چې لیکنه یې کټ مټ او له لاسوهنې پر ته خپره شي. لیکوال کله کله د خپل روحي او فکري فشار په خولو کې دومره ډوب وي، چې د خپلې لیکنې یو شمېر نیمګړتیاوو ته یې پام نه کېږي،د مانیزې نیمګړتیا تر څنګ په لیکنۍ برخه کې هم یو شمېر ځرګندې تېروتنې لري او که چېرې دالیکنه د یو واکمن ایډیټر له ژورلیدو تېره نه شي، نو هم د لیکوال شخصیت او علمي حیثیت ته زیان رسوي او هم د خپرونې باور او حیثیت ته! ددې تر څنګ لیکوال هیله لري چې لیکنه یې له چاپي تېروتنو پرته په پوره سمون سره چاپ او خپره شي.

د یاد وړ بله خبره داده چې له لیکوال او دخپرونې له چلوونکي سره د لیکنې معیار په باب یو ډول فکر نه وي . یانې داچې لیکوال خپله لیکنه له مانیز او لیکني پلوه پوره او کره ګڼي، او که کره یې ونه ګڼي، نو بیا خو یې ګرد سره خپرونې ته رالېږي نه.

د دې خبرې نچوړ دادی چې لیکوال دخپلې لیکنې پر کره والي، درستوالي او سموالي باوري دی او پر همغه ډول یې د چاپ او خپرېدو غوښتنه کوي.

## ۲- کتونکی (ایډیټر) یا د خپرونې چلوونکی:

چاپي خپرونو کې تر ټولو ستونزمن، چینجن او سخت کار د همدې کتونکي پر غاړه دی.کتونکی یا ایډیټر هغه قرباني شوی او قرباني کېدونکی شخص یا لیکوال دی، چې د لیکنې د کره والي ټول امتیاز یې لیکوال ته ځي خو د چاپي تېروتنو یاپه اصلي

بڼه کې د راغلیو املایي او انشایي تېروتنو ټول مسولیت او تر یوه حده د لیکنې مانیز څرنګوالی د کتونکي غاړې ته لوېږي، دلیکوالو دکمزورو لیکنو د خپرېدو له امله د خپرونو دکیفیت راټیټېدل، بلـه هغـه ستونزه ده چې دخپرونې ژوند او حیثیت ورپورې تړلی دی. د هېواد د یونامتو لیکوال حبیب الله رفیع په وینا: (( دکتنې او ایډیټرۍ کار د اشپزۍ مثال لري، که یو اشپز له وریجو څخه په سلګونو شګې اونورې بلاوې ټولې کړي او کومه یوه شګه که د هغه له ذره بین څخه پاتې شوه او هغه بیا د خوراك پر وخت د خوړونکي تر غاښ لاندې شوه، نو د اشپز ټوله خواري په اوبو لاهو شوه."

دیوې لیکنې په خپرولو کې هم دکتونکي مثال همداشان دی. که یو کتونکی په سلګونو ځایه دلیکوال املایي، انشایي او نورې ژبنۍ تېروتنې اصلاح کړي، خوکه تصادفاً کوم ځای انشایي، املایي او یا طباعتي تېروتنه پاتې شوه، نوبیا خو ژرترژره دکتونکي پر وړاندې د لوستونکي او په خپله د لیکوال تریخ غبرګون څرګند یږي.

**۳_لوستونکی:** لوستونکی هغه پاړکی دی چې هغه دلیکوال له ذهن او د کتونکي له پالونکو ګوتو راوتلې ثمر ته ناست دی. هغه د لیکنې له لیکنې زحمت او بیادکتونکي له خوا د هغې د بیابیاکتنې له دوراني حرکت نه خبرنه دی، دهغه کار له تیارې او خوندورې مړۍ سره دی او باید وي هم، ځکه چې هغه دوه تېرې دندې خو اصلاً په دوی پورې هېڅ اړه نه لري ، نو که

چېرې یوه مېوه په ډېر زحمت هم لاس ته راغلې وي، خو چې دده د ذایقې احساس پوره خړوب نه کړي یا لږ شان تروه او پیکه وي د لیکوال تر څنګ یې کتونکی هم تر ملامتۍ لاندې راولي، چې ولې یې دومره نیمګړې، پیکه او کمزورې لیکنه خپره کړې ده؟ ولې په کې دا او دا تېروتنه شوې ده؟ خوکه چېرې همدا لیکنه د لوستونکي ذهن او ذوق په ښه ډول خړوب کړي، بیا نو د لیکنې کتونکي اوسموونکي ته چې د لیکنې په سموالي کې څرګند اغېز لري هېڅ ډول امتیاز او شاباسی نه شته، لوستونکی نېغ په نېغه له لیکوال سره خپل ذهني، روحي او قلمي اړیکي ټینګوي او د امتیاز ثمر لیکوال ته لېږي . ښه به وي چې دلته یو ځل بیا د پورتنیو دریې ډولواشخاصوچې په یوه موضوع کې سره راټاله دي، پر ستونزو او نیمګړتیاوو وغږېږو:

## ۱ ـ د لیکوال ستونزې او نیمګړتیاوې:

زموږ په ژبه کې زموږ دملت دارتیاوو اوشمېرپه اندول فني اومسلکي لیکوال کم دي . دژبني معیاراولیکنې په برخه کې هم یولړستونزې شته یاپه بله وینا دکره لیکنېٔ پښتو بهیرلاپوره واکمن شوی نه دی. دبېلابېلومسلکونولیکوال هم په پوره ډول له پښتوژبني اولیکنې معیار سره بلدنه دي اویوشمېرلیکوال لاداسې هم دي، چې په شعوري اوناشعوري ډول کره لیکنې پښتو دغه یا هغه ژبپوهاند ته منسوبوي اوله هغه سره بیادخپلې سلیقې له مخې ځان دهغې پرمنلو مکلف نه بولي ، دهمدغولاملونوله کبله زیات شمېر لیکوال له املایي اوانشایي

پلوه یوله بله متفاوته لیکنه کوي . یوازې د ېرکم شمېر لیکوال دي چې پر پښتو لیکنې معیارپوهېږي اوده‌مدغو اصولوله مخې له لیکنې پلوه ښې اوکره لیکنې کوي.

اوس که مورږ دیوې خپرونې، دبېلګې په توګه دیوې مجلې دیوې ګڼې دلیکوالوشمېرسل تنه اټکل کړو، نوپه دې سلو تنوکې به ایله شلوتنو د املایي ،انشایي اولیکنې معیارله مخې مجلې ته کره لیکنې رالېږلې وي ، دپاتې اتیاوو تنو د لیکنوپه واحده کلمه، واحدترکیب یا عبارت کې به له املایي اوانشایي پلوه توپیرونه اوتېروتنې وي ، یوواحدلیکنې معیارته ددې (۸۰) تنولیکوالو د لیکنو برابرول، هغه زړه چاودونی کار دی چې دمجلې کتونکي ته ورترغاړه دی اوکه چېرې هغه، دالیکنې یو واحد معیار ته داخلې نه کړي، نو بیا خو یوه سخته لیکنۍ انارشي رامنځته کېږي اودوخت په تېرېدو سره به یوه ژبه په سلو بڼو ولیکل شي. دازړه چاودون هغه وخت لاپسې سختېږي چې د ټولې مجلې کتونکی یوتن وي. په اوسنۍ کره لیکنۍ پښتوکې د زیاترو لیکوالو نیمګړتیاوې په دې برخه کې دي .

## *الف – د (ی) ګانوپه استعمال کې:*

په پښتوکې (ی) ګانې دشکل له مخې پر پنځه اوداوازونوله پلوه پرڅلوروډوله دي . که هره (ی) دبلې پرځای وکارو، دکلمې اوجملې ماناته بدلون ورکوي ، نوځکه یې دقیق استعمال ضروري دی . که چېرې دمجلوکتونکی هم دلیکوال دا(ی) ګانې سمې نه کړي، نود مجلې په سلوکې (۲۵) برخې به ناسمې ولوستل شي اودیوه

متن دويم ځل لوستلوته به اړتيا پېښه شي.ليكوال بايدد (كړې، كړې ، كړي، كړئ، كړې) ترمنځ توپير وكړي.

۱_ ده داكاركړې

۲_ ته داكاركړې

۳_ هغه داكاركړي

۴_ تاسوداكاركړئ؟

**۵_** هغه كړۍ (حلقه) ده. دزياتومعلوماتولپاره د هيلي مجلې په پرله پسې (۴) ګڼه كې [دپښتو(ی) ګانوداستعمال ځايونه] ليكنه ولولئ.

*ب_ دسربلواواوستربلونوناسمه كارونه :* سربلونه او اوستربلونه هغه وييكي يا ادوات دي، چې خپله كومه خپلواكه مانا نه لري، خوپه جمله كې يې ماناڅرګندېږي اوهم دجملې دماناد‌ترښت اورامنځته كېدوسبببږي. وييكي داسې مثال لري لكه دګېډې لپاره پړی، چې پرته له هغه ګېډه ی نه تړل كېږي اونه اوډل كېږي . زياتره ليكوال دا وييكي پرخپل ځای نه كاروي، ځكه نو د جملې د مانادبدلون لامل ګرځي، دلته به يې ځينې بېلګې وړاندې كړو:

*ج_ (د) او(له ) ناسمه كارونه :* (د) دملكيت او(له) دبېلتون اوپيوستون لپاره راځي، خوځيني ليكوال يې يودبل پرځای كاروي.

لكه . په يوه مجله كې يې ليكلي دي:

۱_ درفيع صاحب سره مركه:

۲ــ دیون صاحب سره مرکه:

دلته دلیکوال موخه داده چې (له رفیع صاحب سره یې مرکه کړې ده) خو دده د لیکلې جملې داوسنۍ بڼې ماناداسې ده چې دوی له رفیع صاحب سره مرکه نه ده کړې، بلکې درفیع یایون له (صاحب) سره یې مرکه کړې. د (یون صاحب، یا د رفیع صاحب) په ترکیب کې (د) د یون او صاحب تر منځ دملکیت اړیکې ټینګوي . لکه دکورصاحب ، دښځې خاوندااونور.. خوکه دوی داجمله داسې لیکلې وای : (له رفیع صاحب سره مرکه) نوبیابه یې هغه ماناورکړې وای چې ددوی په کار وه.

***د: په ــ پر ـــ :*** دوه مختلفې کلمې دي، چې هم دمانالـه مخې توپیرلري اوهم دبڼې او تلفظ له پلوه. ځینې خلك داسې فکرکوي چې دادواړه یوه مانالري، خوداسې نـه ده.(پـه) د فاعلي حالت او (پر) دمفعولي حالت څرګندونه کوي ، که یو د بل پر ځای وکارول شي دجملې مانا بدلوي. په لاندې جملو کې یې مانا وګورئ!

په پښتو ژبه مقاله لیکم، مانا زما د مقالې ژبه پښتو ده. پرپښتو ژبه مقاله لیکم.مانا دا چې دپښتو ژبې د جوړښت په باب لیکنه کوم.

په بېل کارکوم، پر بېل کارکوم. لومړی دا مانا ورکوي چې بېل د یوفاعلي او وسیله ییز شي حالت څرګندوي او دویمه دا مانا لري چې دبېل لاستی او یاکوم بل ځای خراب دی، هغه جوړوم .

**ه- لـه ــ تـر:** (لـه ) دېلـون او پیوسـتون لپـاره کارېـږي او(تـر) یوقیدي اوشرطي حالت ځرګندوي، باید یو دبل پرځای ونه کـارول شي .

له هېواده بهر_ له هېواده دننه (غلط)

ترهېوادبهر_ ترهېواددننه (درست)

له کوره بهر_ له کوره دننه( غلط)

ترکوره بهر_ ترکوره دننه ( درست)

له دې وړاندې _ له دې وروسته (غلط)

تردې وړاندې _ تردې وروسته (درست) اوهمداسې نور...

دغــه راز نــور سـربلونه او لــه هغــو سـره داړونــدو اوسـتربلونو نادرسـته کارونـه هـم زیاتـه، دود ده. د یوشـمېرنوروکلموپه کارونـه کــې هـم زیاتــه تېروتنــه ترسـترګوکېږي ،لکـه سـربېره او برسـېره ترمنځ، د(منځ) (ترمنځ ) په استعمال اوهمدارنګه په یو شمېر نـورو کلموکي. سربېره د(علاوه) په مانا او برسېره د (برسېرن یابنکـاره ) په ماناراځي، اکثره لیکوال دادواړه یوبل سره مغالطه کوي، پـه احمـد برسـېره محمـود هـم راغـی، مانـا یـې داسـې ده چـې احمـد ښکاره او محمود هم راغی، چې مطلوبه مانا نه ورکوي.

خو اصلي هدف یې دادی، پـر احمـد سربېره محمـود هـم راغـی، یانې له احمد نه علاوه محمود هم راغی.

(منځ) او (تـر مـنځ) هـم کلـه کلـه د یـو بـل پـر ځـای کـاروي. مـنځ د واحد مکان داخل یـا منځنـۍ برخې تـه ویـل کېـږي، لکـه دکـور پـه مـنځ کـې، د سـیند پـه مـنځ کـې، او(تـرمنځ) بیـا د دوومکـانونو،

وختونو یا نورو ځیزونو ترمنځ د بېلتون واټن اوحالت ښیي. که دا دواړه یو دبل پر ځای وکارول شي، مانا یې بدلېږي، وګورئ دامقاله چې له مور ، ځخه هم په یوه ګڼه کې سهواً چاپ شوې ده:

((سیاست د ایډیالیزم او ریالیزم په منځ کې)) د لیکوال مقصد داو چې (سیاست د ایډیالیزم او ریالیزم ترمنځ) په یوه منځنۍ لار تعقیبوي او څېړي یې، خو پورته عنوان داسې مانا ورکوي چې دی سیاست یو ځل په ایډیالیزم، او بیا په ریالیزم، کې څېړي او بیایې دهغو له نظره مطالعه کوي.

کله چې ددې عنوان نیمګړتیا ته متوجه شو، نووروسته مو دمتن له اصلي ماناسره داسې سم کړ: (سیاست د ایډیالیزم او ریالیزم ترمنځ). د (منځ) او (ترمنځ ) مانیز تفاوت دومره دی لکه یو څوك چې د سیندونو (سیند ) په منځ کې ولاړ وي او یو بل سړی بیا دسیندونو ترمنځ، نوپه دې وجه لومړی شخص ډوبېږي او دویم ته به هېڅ زیان نه اوړي او یا هم یو څوك داورونو په منځ کې ولاړ دی او بل داورونو ترمنځ. یو بل مولانا صاحب بیالیکلي وو: "اسلام د افراط او تفریط په منځ کې" اصلي مقصدیې دا و چې (اسلام دافراط او تفریط تر منځ) یانې اسلام یو معتدل دین دی، نه په کې افراط شته نه په کې تفریط، خو پورتنی ترکیب دمولانا د اصلي مقصد معکوسه مانا ورکوي.

همداشان د ترکیبي او یو شمېر بېلو کلمو په لیکلو کې هم یو شمېر لیکوال ستونزې لري. عمومي قاعده داده، که دوه کلمې د یو واحد مقصد او مانا لپاره استعمالېږي او دپیوستون قابلیت

ولري، باید یو ځل ولیکل شي. لکه کلیوال، سمونپال او داسې نور ... دا داسې نه لیکل کېږي لکه کلي وال، سمون پال، ښاغلی ډاکټر ګل جان ورور بیا نو نوښتګر ـ نوښت ګر لیکي، که موږ تر (نوښت) وروسته (ګر) تر لږې فاصلې وروسته و وایو خبره به بلې خواته لاړه شي.

همدا رازځینې لیکوال بیا هغه کلمې چې له مانیز پلوه دپیوستون وړ نه وي، سره یوځای کوي، لکه (له) او (په) چې کله کله یې بې ځایه نورو کلمو سره نښلوي.

لکه (له) چې له (خوا) سره نښلوي = (لخوا)، خواد(لوري) په مانا دی خوکه ( له ) لوري سره وصل کړو (للوري) ورڅخه جوړېږي او هیڅ مانا نه ورکوي.

یا (په) له (کار) سره ( پکار) ، نوکه دا قاعده مراعت کړو بیا باید به (تا)، (ما) او ( ځان) هم داسې ولیکو: ( پما ، پتا ، پځان) خو اصلي خبره داده چې (له) او ( په) سربلونه یا و ییکي دي او له ځینو (استثنایي) حالاتو پرته له نورو خپلواکوکلمو سره دپیوستون قابلیت ځکه نه لري چې مانا یې بدلوي.

د هممخرجه کلمو په لیکلوکې هم یو شمېر لیکوال ستونزې لري لکه د ګ او ږ ، ښ ، ش او خ او نورو ترمنځ لکه نادرسته بڼه (ګیره ، تیګه) درسته بڼه(ږیره او تیږه) لکه پختو ، پښتو. هوش ، هوښ او ځینې نور.ګړدودیز ( لهجوي) توپیرونه بله هغه ربړه ده چې زموږ یوشمېر لیکوال ورسره لاس او ګرېوان دي لکه د (وو) جمع حالت پر ځای (ول) کارونه

هغوی راغلي وو= هغوی راغلي ول، څرنګه چې (ول) له (ول) (غوټې ـ حلقې) سره هم شکلي ټکر خوري، یوازې د کم شمېر وګړو په لهجوکي شته، نوباید دماضي جمع حالت لپاره د مرستندوی فعل په توګه (وو) وکارول شي نه (ول).

یوشمېر لیکوال د سپوره او کلیشه یي عنوانو داسانۍ او ژر پیداکولو له کبله له هغو سره روږدي شوي دي، ددې لپاره چې ځان ارامه کړي بس خپلې لیکنې ته یو نوم وټاکي اوځینې یې ان بې نومه هم راولېږي، د مجلې یا خپرونې کتونکي د مجلې دخوږلنۍ اورنګارنګۍ لپاره اړ دي، چې عنوانونه اهنګین، خواږه، صیقل، لنډ، اونوي کړي ، د یوې بېلګې راوړل یې دلته پر ځای بولم. هیلې مجلې ته یو لیکوال دهېواد دیوې لیکوالې (خدای بښلې مېرمن مستورې شال) د مړینې په باب یوه لیکنه رالېږلې وه، د لیکنې سرلیک و : ((دمستورې شال غمجنه مړینه)) څرنګه چې داعنوان ډېر سولېدلی، تکراری او کلیشه یي و، د مجلې کتونکي هغه په دې ډول واړوه: ((مستوره دمرګ په شال کې)) داعنوان تر هغه اول هم د مانا او هم د اهنګ له پلوه ښه دی او هم د (مستورې شال) له نامه او تخلص سره ښه مانیز تر کیب جوړوي،خو لوستونکي ته داکارونه د لیکوال د خپل ذهن محصول ښکاري. داسې په سلګونو نورې بېلګې هم شته.

یوشمېر لیکوال په خپله لیکنه کې دفاعلي او مفعولي حالت، مبتدا او خبر خیال نه ساتي.

دپښتو ژبې ګرامري جوړښت له مخې په هره جمله کې فاعل لومړی او بیا وروسته مفعول او فعل راځي، همدارنګه مبتدا اول او خبر

وروسته راځي، خوځيني ليکوال بيا په دې کې تېروزي . زموږ په ملايي نثرونوکي داتېروتني زياتې پيداکيږي لکه : ((انسان نه دی پيداشوی ، مګرپيداشوی دی، لپاره دعبادت دپروردګارخپل)) ماناداچې ( انسان دخپل پروردګاردعبادت لپاره پيداشوی دی ) چې دجملې دپيل برخه مبتدااووروستۍ برخه يې خبرشو. ځينې ليکوال دوخت اومهال تسلسل ته هم سم پام نه کوي او وړاندې وروسته يې ليکي: (يکشنبه (۵) داسدماسپښين ) موخه يې ( دزمري ۵ نېټه ديکشنبې ماسپښين) ياپه لنډه ډول (دزمري ۵ ماسپښين دی) يا (شپږمه دجدي دکال ۱۳۵۸ ) مقصديې دادی د (۱۳۵۸ کال دجدي مياشتې شپږمه نېټه) ده. کله بياپه جمله کې مفعول ترفاعل وړاندې کوي اودجملې ټوله مانا سرچپه کوي، په ځينوحساسومتنونوخصوصاً په ديني متنونوکې که دڅېږ طبيعي جوړښت ته پام ونه شي، نوسړی کفرته رسوي. زموږ يوښاغلی نومیالي ليکوال ليکلي:( انسان خدای(ج) پيداکړی دی) (نعوذباالله) دليکوال مقصد دادی (چې خدای(ج) انسان پيداکړی دی) دلته به خدای(ج) خالق اوانسان مخلوق شي، خولومړۍ جمله بيادامانانه ورکوي.

۲ _ *دکتونکي ستونزې اونيمګړتياوې:* دکتونکي يا ايډيټر غټې ستونزې همدادي، چې د مختلفو ليکوالو املايي، انشايي سمون، ليکنيز يووالي او معيارته ځان ورسوي، که يو کتونکی پوخ ليکوال وي او د ښه هنري خلاقيت، څېړنې او پنځونې استعداد او واك ولري، نو بيا به يې هم ټوله انرژي ددې ډول ليکنو پر سمون او رغون ولګول شي، ذهني ځواك به يې تت شي، خپلې ليکنې

ته به وخت پیدا نه کړي او دخپلې لیکوالۍ دبلهارۍ په بیه به دنورو لیکوالو لیکنې کره او دچاپ جوګه کړي، خو که کتونکی یوازې پروف ګوري، نورې لیکوالۍ نبوغ او استعداد ونه لري، نو بیا خو بې له دې هم دالیکنې سمې نه شي اصلاح کولای اوپه نتیجه کې به یوه کمزورې مجله یا خپرونه ټولنې ته وړاندې کوي، چې هم ټولنه پرې بې باوره کېږي او هم به یې دله منځه تلو شونتیا زیاتېږي. که یو کتونکی هر څومره تکړه هم وي، خو چې خپرنیز کارته یوازې شي، بیا به ترې ددومره درانه کار په سرته رسولو کې نیمګړتیاوې رامنځته کېږي، ټولې لیکنې به په سم او معیاري ډول ایډیټ نه شي کړای، طباعتي تېروتنې به یې زیاتې شي او دلوستونکي دنارضایتۍ سبب به شي.

*۳- دلوستونکي ستونزې اونیمګړتیاوې:* لکه څنګه چې دمخه مو وویل لوستونکي ته داسې صفا، پاکه او خوندوره مړۍ په کار ده چې هغه له هره پلوه خوندوره وي، خویو شی چې ډېرد پام وړ دی هغه دادی چې کله لوستونکی یو چاپي متن لولي نو تر هرڅه لومړی یې چاپي تېروتنو ته پام کېږي او دطباعتي تېروتنو ټول مسئولیت دکتونکي پرغاړه اچوي، خو که کتونکي په لسګونو او سلګونو ځایه دلیکوال په اَر متن کې سمون راوړی وي هغه دلوستونکي له ذهنه پټ پاتې کېږي، ځکه چې هغه فکر کوي دلیکنې ټوله درسته بڼه دلیکوال دزیار او فکر زېږنده ده او طباعتي او ځینې نورې تېروتنې یې دکتونکي له نا ځیرتیا نه پیدا شوي دي، لکه څنګه چې مو پورته یادونه وکړه ددې بېلابېلو لیکوالو داملایي یووالي لپاره طبعاً په لیکنوکې سمون ته اړتیا شته، نو کله چې لیکوال خپله چاپي مقاله له اَر لیکنې سره پرتله کوي، نو بیا سخت غبرګون ښیي او وایي چې زما په

لیکنـه کـې خـو لاس وهـل شـوی دی. ان خبـره لـه خپـروني سـره دپرېکـوڼ تـر بریـده ورسـوي. خـو کـه چېـرې داسـې سمون پـه کـې شوی وي چې لیکـوال پـه زړه کـې پـرې اعتـراف وکـړي، نـو بیـا هـم داسې ډېر کم پېښ شوي چې دخپـروني لـه چلوونکي څخـه دمننې حق ادا کړي، که موږ ددې ټولو خبرو نچوړ را غونډ کړو، نو دومره ویـلای شـو چـې کـه پـه یـوه خپرونـه کـې درې کسـان، لیکوال،کتونکی اولوستونکی شامل وګڼو، نـو لومړی د شـهرت او د خپـل فکردانتقـال، دریـیم دنـوې فکـري پـانګې د خپلولـو او نویو معلوماتو د زیاتولو له پلوه ډېره ګټه کړې اودویم (کتـونکی) دخپلې منځنۍ اوبې نومـه ښېګڼې اود نـه څرګندېدونکي راز لـه کبله بلهاري شوی اوانرژي یې زبېښل شوې ده.

# کلتوري اخلاق

دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۸۰ل) کال په (۵)مه ګڼه کې خپره شوې ده

لکه څنګه چې انساني ټولنې پر بېلابېلو ټولګیو وېشل شوې، همداسې یې کلتورونه او د هغو په رڼا کې اخلاقي معیارونه هم بېلابېل او رنګارنګ دي. بېلابېلو ادیانو، مذهبونو او د هغو څانګو ټولو، د نېکو اخلاقو د کړنې او دودونې لارښوونه کړې، د اسلام مبارك دین خو ترټولو زیات د نېکو او غوره اخلاقو یادونه او سپارښتنه کړې او د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) خو د غوره مسلمان تر ټولو ښه ځانګړنه همدا نېك خوی خصلت او کړنه ګڼي او وایي، "تر ټولو غوره مسلمان هغه دی چې له لاس او خولې نه یې خلك په امن کې وي." خو که ادیان، مذهبونه او نور بېلابېل کلتورونه هرڅومره د اخلاقو پر ترویج، تبلیغ او دودونې ټینګار کوي، ځینې فلسفیان بیا له پخوا څخه تر اوسه پورې د اخلاقو په دودونې او یادونې پسې چندان نه ګرځي او نه یې دومره په کیسه کې دي، ځینې خو یې ان مخالف هم دي. د ساینسي پرمختیاوو په زیاتېدو سره په هره ټولنه کې یو شمېر پخواني اخلاقي نورمونه متضرر شوي او یا یې هم خپل ځای نورو اخلاقي معیارونو ته پرې ایښي، ځینې فلسفیان وایي چې اخلاقو ته

اصلاً هېڅ اړتیا نه شته ، زور او قوت د بشر ژوند تضمینولای شي، اخلاق د کمزورو خلکو له خوا د خپل ځان د ژغورنې او تسکین لپاره یو لړ معیارونه دي، چې غواړي د هغو په واسطه له زورورو څخه خپل ځان خلاص کړي. یو هندي فیلسوف چې تر میلاد څو پېړۍ د مخه یې ژوند کاوه، هم په دې نظر دی چې ((اخلاق دځان د تسکین یوه وسیله ده.))

همداسې ځینې نور هم په دې نظر دي، چې اخلاق کوم فزیکي موجود نه دی چې د انسان پر وجود دې فزیکي اغېز وکړي، مانا دا چې ددې پرځای چې څوك اخلاقو ته پناه ور وړي، د ژوند پر عملي وسایلو او امکاناتو دې ډډه ولګوي. دا خو د اخلاقو په باب د بېلابېلو نظرونو یوه یادونه وه، دا چې څوك اخلاق مني که یې نه مني دا خو بېله خبره ده، خو د اخلاقو له شتوالي نه انکار نه شي کېدی او هره ټولنه د ځینو خاصو اخلاقي نورمونو تابع ده او اکثریت وګړي یې د همغو ټاکلو نورمونو خیال ساتي، په دې وجه خو ځینې کسان اخلاق یو ټولنیز قرارداد هم بولي، چې دیوې مشخصې ټولنې د وګړو ترمنځ په نالیکلي بڼه پرې موافقه شوې وي او عمر یې له کلونو تر پېړیو غزېدلی وي. کلتوري او اخلاقي نورمونه نه یوازې له یوې ټولنې څخه بلې ته توپیر کوي، بلکې په خپله د یوې ځانګړې ټولنې یا هېواد په بېلابېلو جغرافیایي سیمو کې هم یو له بل سره توپیر کوي، په اکثرو کلیوالو سیمو کې یو ډول کلتور او اخلاقي معیارونه واکمن شوي، خو د همغې ټولنې په ښاري سیمو کې بیا بل ډول اخلاقي معیارونه د تائید وړ وي.

خو لـه دې ټولـو توپیرونـو او تضـادونو سـره سره بیـا هـم ځیـنې داسې سـتر انسـاني او اخلاقـي معیارونـه شـته، چې هغـه د قـوم، ژبې، کلتـور، ګروهې او جغرافیـایي پولـو تـر بریـدونو اوړي او پـر ټول انساني ذهن واکمني کوي. د نړۍ یو شمېر ستر لیکوال پردې بریالي شوي چې د لـوړو اخلاقـي ارزښتونـو لرونکي اثـار انسـاني ټولنې ته وړاندې کړي، همدغو معیـارونو هغـوی لـه خپـل فـردي، سیمه ییـز او هېـوادني چاپېریـال څخـه نړیـوال کـچ تـه اوچت کـړي دي. خو اوس راځو دې تـه چې زمـوږ پـه اوسني چاپېریـال کې هـم لیکوال د اخلاقي ایډیالونو د موندلو، دودونې، تائیـد او درنـاوي پـه لټـه کـې دي او کـه نـه؟ کـه اوس هـم د خپلې ځانغوښـتنې لـه اغزنې دایرې څخه راوتلي نه دي، ارمـان لـري کـه نـه؟ ایډیـال لـري کـه نـه؟ دکومـو اخلاقـي او کلتـوري معیـارونو تـابع دي او کـه نـه؟ کله چې دا او دې ته ورته پوښتنې پـه ذهـن کـې مطـرح کـوو او هغـه بیـا د رښتیـاینې د ارزښـت تـر پولـو تېـروو، نـو پـه خواشینۍ سـره پردې ترخه واقعیت اعتراف کـوو، چې زمـوږ یـو شمېر لیکـوال نـه کـوم ټـاکلی او سپېڅلی ارمـان لـري او نـه یـې پـه لټـه کـې دي، دا داسې لار ورکي دي چې نه یوازې خپله تـرې لار ورکـه ده، بلکـې د نـورو پـه لارو کـې هـم اغـزي شینـدي او غـواړي د ځان پـه شـان یـې کړي.

زمـوږ پـه لیکـوالـو کـې یـو شـمېر داسـې کسـان هـم شـته، چې د پوهې او کلتوري اخلاقو پـه پرتله یې د لیکوالۍ د شهرت تله درنـه ده او پـه ټولنـه کـې یـې د کـار پـه انـډول د شـفاهي تبلیـغ لـه لارې

ځانتـه د لیکوالـۍ زیـات نـوم ګټلـی، ددې ډول کسـانو انـرژي بـه پخوا د ځانښودلو او ځان ستـایلو پـر لارو چـارو لګېدلـه، کلـه چې دا چاره پایتـه ورسېدله او نـوره دا سـکه نـه چلېدلـه، نـو بیـا یـې د نورو د سپکاوي لپاره لکه د تبلیغیانو په شان ګړني تبلیغ تـه مـلا وتړله، چېرته چې ټولنه کې دکار سړی وي، ددوی دفکر دایره تـرې راتاوه شي او پـه لسګونو ډولـه (خـو) ګـانې پـه کـې پیـدا کـړي، د نورو دشخصیت توهین، سپکاوی او د حیثیت تـرور دخپـل ځـان د تثبیـت یـوه وسـیله ګڼـي اوپـه دې ډول لا هـم پـه ټولنـه کـې د یـو مغشوشوونکي عنصر په توګه خپل رول ترسره کوي.

دا ډول منفـي عناصـر د عـامو خلکـو پـه نظر نـه راځـي ځکـه چـې هغوی ته په بله جامه او بل رنـګ کـې څرګند ېږي، زمـوږ عـام پـاك زړي لیکوال چې ډېر لا په عملي فرهنګي کـار کـې راټالـه شـوي نـه دي او یوازې د فردي لیکوالـۍ تـر بریـده خپـل انسـاني مسـئولیت ترسره کـوي، هـم ددې ډول نـا څرګنـد خـو ضـرري عنصـر لـه هڅـو خبرېـږي نـه، خـو هغـه څـوك چـې د عملـي فرهنګـي کـار لپـاره یـوه سـتراتیژي او پـلان لـري، هغـوی پوهېـږي چـې پـه لاره کـې څـومره محسوس او نامحسوس خنډونه او خطرونه شته، ان دا چې د خپل ځاني شخصیت دداغولو تر بریده باید ورسره مبارزې تـه تیـاروي، که نـه نـو هېـڅ ډول فرهنګي کـار تـه بـه تـرې اوږه ورنـه کـړي، ددې ډول پرازیټ او مکروبونو د خپـراوي یـو علت دادی، چـې زمـوږ پـه ټولنه کې لا د کلتوري کار او کلتـوري اخلاقـو معیارونـه مشـخص نه دي. ددې پولې لا ټاکـل شـوي نـه دي، چـې یـو سـړی دې څنګـه،

ځومره، څه ډول او په کوم کیفیت فرهنګي کارونه وکړي، چې له (خو) څخه ځان خلاص کړي؟ دغه معیارونه دلته مطلوب نه دي، نو ځکه خو چې هرڅومره د زړه وینې خوري او هرڅومره کار کوي همغومره د (خو) ګانو داغونه ورپورې کېږي.

ددې ټول علت دادی چې موږ لا په ټولنه کې د کلتوري کار لپاره مشخص اخلاقي علمي او عملي معیارونه نه دي مشخص کړي او ان په ذهن کې مو نه دي تصور کړي، نو ځکه خو هغه اشخاصو ته چې د خپل شخصیت د تثبیت لپاره په نورو پسې د دروغو پرازیت خپروي، دا زمینه برابرېږي، چې د لنډ وخت لپاره د هوا ځپې اخلال کړي، زموږ په نظر کېدی شي د یو فرهنګي شخص لپاره لږ تر لږه د اخلاقو او فرهنګي کار څو ځانګړنې وړاندې کړو، که له همدغو معیارونو او ځانګړنو سره ځینې نور هم زیات شي او همداسې ورو ورو په ټولنه کې د فرهنګي او علمي اخلاقو بریدونه مشخص شي، نو تصنعي، تکلفي او کاذب شخصیتونه به خپله له هغو څخه ووځي او رښتیني اشخاص به هم خپل کار ته وزګار شي، ددې معیارونو ځینې کېدی شي په دې ډول وي:

## ۱_ اخلاقي معیارونه:

۱. یو فرهنګي شخص باید لږ ترلږه دټولنې د عامو کلتوري قوانینو خیال وساتي، هغه کارونه چې په ټولنه کې د عامو خاصو د کرکې وړ ګرځي له هغو څخه که مطلق نه وي، نو تر ډېره زیاته بریده دې ځان ترې

وساتي، مانا دا چې چرسي نه وي، بنګي نه وي، شرابي، جوارګر او نور نه وي.

۲. که د خلکو له سپېڅلو عقایدو سره سل په سلو کې موازي نه وي، نو مخالف خو دې هم نه وي، مانا دا چې له خپل دین او عقیدې څخه دې نه اوړي، ملحد، مرتد او منافق دې نه وي.

## ۲_ مسلکي او علمي معیارونه:

۱. یو فرهنګي شخص باید لږ تر لږه د کلتور په یوه مشخصه څانګه کې د تخصص او پوهې خاوند وي، ددې لپاره چې خبره یې وزن پیدا کړي او کره وي او نورو ته هم یوه سمه لار وښیي، یانې لږ ترلږه هغه څوک چې د یو ادیب او لیکوال اطلاق پرې کېږي، یا یې باید د ژبو او ادبیاتو پوهنځی لوستی وي، یا یې باید خصوصي زده کړې کړې وي او یا یې هم دومره عملي کار او لیکوالي کړې وي چې څوک ورته د (خو) ګوته ونه نیسي.

## ۳ _ عملي معیارونه:

۱. عملي معیارونه دا دي چې څوک د فرهنګي کار او شخصیت دعوه کوي او یا د نورو په چارو کې لاسوهنه کوي، نو لږ تر لږه یې باید ټولنې ته د خپل عملي کار

بېلګې وړاندې کړې وي، مانا دا چې خپل اثار یې خپاره کړي وي، مجلې، رسالې، ورځپاڼې او جریدې یې خپرې کړې وي، په یوه علمي او فرهنګي مرکز کې یې عملي کار کړی وي او خلکو ته یې خپل ثمر وړاندې کړی وي.

نو که پورتني او ځینې نور معیارونه موږ د یو فرهنګي شخصیت د تثبیت لپاره په پام کې ونیسو، بیا به نو موږ ته له تصنعي شخصیتونو څخه د اصلي شخصیتونو د تفکیک مسئله ډېره اسانه شي. زموږ په اوسنی فرهنګي جریان کې ځینې داسې کسان شته چې له پورتنیو ځانګړنو څخه یو هم نه لري، خو بیا هم په ټولنه کې ځان د یوه ګړني لیکوال په توګه معرفي کوي او کاري لیکوالو ته تر خپله وسه ستونزې راولاړوي او دا غواړي چې نور هم په دې ببولالو کې ځان سره مصروف کړي او له اساسي کاره یې وباسي.

که چېرې په ټولنه کې دا ډول اشخاص نه وای، نو موږ به دې لیکنې ته نه اړ وتلو او ددې پرځای به مو یوه بله لیکنه کړې وای، خو د ځینو دې ډول لیکنو ضرورت ځکه وي، چې ګران لوستونکي پردې پوه شي، هغه ثمر چې تر اوسه ورته رسېږي، هغوی ته د ورسبدو په لاره کې د وربنکاره ستونزو ترڅنګ نورې ستونزې هم لري، چې تر اوسه یې لا هغو ته څرك نه دی لګېدلای او یوازې هغه څوك پرې پوهېږي چې عملاً فرهنګي کار کوي. خو تنګنظرانو ته دې دا خبره هم سپینه وي، هغه څوك چې په بحراني، سختو ستونزمنو

او اغزنو شرایطو کې د سترو فرهنګي کارونو د سرته رسونې وس لري، ددې کار وس هم لري، چې دلویو اغزیو او خنډونو ترڅنګ داسې واړه اغزي هم له لارې ټول کړي او که څو یې پر لمن ونښلي هم، نو په یو دوه ټکانونو به یې لرې ګوزار کړي او خپل مزله ته به دوام ورکړي.

# مثبت کلتوري بدلون، اوښتون او پرمختګ ته اړتيا ده

**دا ليکنه هم د هيلې مجلې د (۱۳۷۷ل) کال په (۵)مه ګڼه کې چاپ شوې وه**

په تېرو شلو کلونو کې ډول ډول افکارو زموږ ټولنه لړزولې او بې ثباته کړې ده. په دې موده کې د ټولنې دلارښوونې لپاره د بېلابېلو ((انقلابونو)) ازمېښت وشو. ((خلقي انقلاب، ملي ډيموکراتيک انقلاب او ان د اسلامي انقلاب)) په نامه فکري او ايډيالوژيکو تګلارو، هرې يوې د خپل ځواک او ظرفيت په اندول د ټولنې د ثبات او نورمال پرمختګ مزي وشلول. کله چې به دهغو دهر يو ((بشپړتيايې پړاوونه)) پيل شول، نو زموږ د ولس د ژوند حالات به لا ترينګلي شول او خبره به تر بدو بتره شوه. د دې مصنوعي او ناغوښتل شويو انقلابونو په وجه نه يوازې زموږ ملت او هېواد درانه زيانونه وزغمل، بلکې په خپله ((انقلابيانو) ته هم د ژوند د قربانۍ په بيه تمام شول. ډېرو پکې خپل سرونه وخوړل، ډېرو پکې دخپل ژوند شته داو کړل او د ((يوه انقلابي)) دا خبره چې ((انقلاب خپل بچيان خوري)) پر واقعيت بدله شوله. اکثره ((انقلابيانو)) د محکوميت پر وخت دومره بلهاري (قرباني) نه وه ورکړې، لکه د حاکميت پر وخت. د محکوميت پرمهال دوی د واکمنۍ د لاسته راوړلو لپاره څه نا څه يوه مفکوره او رواني ځواک هم

درلود او انرژي يې ددې لپاره مصرفېدله چې واک تر لاسه کړي. کله چې يې واک ترلاسه کړ، نو بيا يې ځواک، فکري او رواني قوت پر دې لوري مصرفېده چې څنګه هغه وساتي. ((انقلابيان)) اکثره دخپلو واکمنيو پر وخت دومره ذليل او پيکه شول چې تر واک وروسته يې بيا په ټول هېواد کې د پښې ايښودلو ځای نه درلود. د دې پيکه والي يو لامل دا هم و چې ((اکثره انقلابيان)) پر خپلو سياسي تګلارو او ايډيالوژيو ثابت پاتې نه شول او د پورته کړيو شعارونو پر ضد يې عمل وکړ. ځکه يې په ولس کې خپل سياسي، فکري او ان اخلاقي شخصيت بايلود. يو وخت داسې راغی چې سياسي لوبغالي هماغه و، خو لوبغاړي سره تېر و بېر شول، په اصطلاح سروېس تبديل شو. هغه څوک چې د امپرياليزم، لويديځ، پاکستان او لويديزې اروپا مخالفين وو، هغوی ته يې پناه وروړه او هغوی چې د شوروي او کمونيزم ضد شعارونه يې پورته کول، د هغوی اکثرو د روسيې او پخواني شوروي دکورنۍ له هېوادونو سرونه راپورته کړل. لنډه دا چې اکثره سياسي ګروپونه له خپلو مخالفو سرچينو سره يوځای شول. په پايله کې دا کار په هر اړخيز ډول د دوی دخپل شخصيت او فکري لوري د سپکاوي سبب شو او ولس او هېواد په سوونو کلونه دنړيوال تمدن له کاروانه شاته پاتې شو.

د نورو لاملونو ترڅنګ ددې کار يو اساسي لامل زموږ په ټولنه کې د نالوستۍ شتوالی او د چټک فرهنګي بهير نشتوالی و. سياستوالو په روا او ناروا ډول په ډېره ارزانه بيه د ولس د برخې برخې ذهنونه راونيول او دخپلې موخې لپاره يې وګومارل. له (۱۳۵۷- ۱۳۷۱) کلونو پورې هېواد په ټوليز ډول پر دوو سترو متضادو فکري لورو وېشل شوی

و او بیا په خپل منځ کې پر نورو متضادو اندونو. تر (۱۳۷۱ل) کال وروسته پخوانیو فکري او عقیده یي لیکو بله بڼه ونیوله، چې تراوسه یې څو ځله خپل شکل ته بدلون ورکړی دی. په دې ټوله موده کې هېڅ ډلې هم د ټولنې ((انساني)) کولو او د کلتوري انقلاب لپاره شعار پورته نه کړ او نه یې هم کومه هڅه وکړه، بلکې اکثرو یې د ټولنې همدې شتمنۍ ته درانه زیانونه واړول. که چېرې زموږ ولس ټول لوستوال او زده کړی وای، نو هر افغان به هم په ځاني ډول او هم په ډله ییز ډول فکر کولای شو، چې کومه یوه د ورانۍ او کومه د ودانۍ لاره ده؟

ښکېلاکګرو ځواکونو تر هرڅه لومړی زموږ ټولنه له ذهني پلوه ناروغه او مصروفه کړه، چې د ازاد فکر او خپلواک تفکر ځواک یې کمزوری کړي، لومړی ګوزار پر کلتوري مرکزونو وشو، دجګړې په بهیر کې تر (۳۵۰۰) څخه زیات ښوونځي له منځه لاړل، چې په میلیونو افغانان د زده کړې له نعمت نه بې برخې شول. له دې کار څخه د هغوی موخه دا وه، چې د جګړې لپاره بشري ځواک پیدا کړي. کله چې ټولنه نالوستې شي، نو بیا خو د ښکېلاکېلو سیاسي، عقیده یي او نورو شعارونو ترنامه لاندې د نالوستو کسانو له صداقته ښه ګټه پورته کېدلای شي او په ښه ډول یې ولولې او احساس راپارېدلای شي.

د نالوستو کسانو له عقیده یي او کلتوري صداقت او ساده ګۍ نه عاجله او فزیکي ګټه اخلي او خپلې موخې ترسره کوي، خو په اوږده واټن کې هغوی ته هم سردرد پیدا کوي. دکړکېچنو شرایطو په بهیر کې د دې ډول اشخاصو کنټرول خورا ګرانېږي، دوی د واکنمو له واکه وځي او د بغاوت لاره خپلوي. داسې کړنې سرته رسوي، چې له آره له

خپل هغه هدفه سره ټکر خوري، چې دوی دهغه د بري لپاره فزیکي او سیاسي عمل ته لاس اچولی دی. ددغه نا کنتروله حالت په پایله کې نه یوازې د هغې ډلې دمشر سیاستوال حیثیت او سیاسي دریځ ته زیان رسېږي، بلکې د هغه فکري او سیاسي تګلوری هم په عامه ذهنیت کې پیکه کېږي. د افغانستان د تېرو دوو لسیزو د تنظیمي او سیاسي ډلو د مشرانو سیاسي څرنګوالی او پیکه والی په همدغه ټکي کې څرګند او طاعون لاپسې اوړد شو.

دهمدې خونړي ناتار په بهیر کې زمونږ د ټولنې مانیزه او مادي شتمني تباه شوه. اوس زمونږ ټولنه له یوه ستر ناورین سره مخ ده. ولس هم ستړی او ستومان دی، هیله لري چې ځان ته دخلاصون یوه لار پیدا کړي. ایا داسې کومه لاره چاره شته؟

په بشري تاریخ کې د ځینو نورو داسې ټولنو بېلګې هم شته چې پر ټاټوبي یې پر تېر شوي توپان وروسته بیا دهوسا او سوکاله ژوند جوګه شوي دي. له داسې یو ناورین نه د وتلو یوه لاره دا هم ده چې د ټولنې د ((انساني)) کولو لپاره هڅې وشي. د ټولنې د ((انساني)) کولو یوه بېلګه به وړاندې کړو.

کله چې د دویمې نړیوالې جګړې پر وروستیو وختو د امریکا متحده ایالاتونو پر جاپان اتومي بمونه وغورځول او د جګړې برخلیک یې چورلټ بدل کړ، جاپان تسلیمۍ او د جګړې د تاوان ورکړې ته حاضر شو، نو پر دې وخت جاپان او دهغه ولس له سختو ستونزو سره مخ و. ویل کېږي چې د هغه هېواد مخورو یوه واکمنه جرګه جوړه کړه، چې څه باید وشي؟ چې ټولنه له دې کړکېچ څخه راووځي؟ هم پرمختګ وکړو؟ هم دجګړې تاوان ورکړو؟ او هم د سوکاله ژوند څښتنان شو؟

چا ویل جاپان باید صنعتي شي، چا ویل باید زراعتي شـــي، چـــا ویــل دواړه شي او هر یوه ددې لپاره دلایل وړاندې کول، خو یو تن وویل: نـــه باید صنعتي شي، نه زراعتي، بلکې ((انساني شي)). د هغه دې نومونې ته ټول حیران شول، چې ((انساني)) یانې څه؟ هغه وویل چې انســاني په دې مانا چې ټول جاپان کې باید هېڅوک هم نالوستی پاتې نه شـــي. تر هر څه لومړی باید موږ ښوونې او روزنې تــه ژوره پاملرنــه وکــړو. ده ویل کله چې ټولنه لوستواله شي، نو هغه پخپله فکر کولای شي، چـــې باید څه وکړي، جاپان همدا خبره عملي کړه، تر هر څــه زیــات یــې د ټولنې ښوونیزې، روزنیزې او کلتوري برخې ته پاملرنه وکړه. د اتیــایمو عیسوي کلونو په لسیزه کې جاپان هر کال ( شـــپېته میلیــارده) ډالــر یوازې په روزنیز برخه او د ټکنالوژۍ د نورو پرمختګونو لپاره لګولې. پر همدې وخت امریکایانو هر کال ( ســل ملیــارده ډالــره) پــه تعلیمـــي، کلتوري او علمي برخو کې لګول، چې امریکا په نــړۍ کـــې لــومړی او جاپان دویم مقام درلود. د جاپان دا لګښت د افغانستان دهغه مهــال د دولتي بودیجې په اندول د افغانستان د دوه سوه کالو بودیجه جــوړوي او د امریکا لګښت زموږ د هېــواد د درې ســوه دېــرش کــالو دولتـــي بودیجې په اندول دی.

جاپان اوس په نړۍ کې هغه هېواد دی چې نه یوازې د جګړې زیــان یې جبران کړی، بلکې اوس دنړۍ له ډېرو سترو پــانګوالو او پرمختللـــو هېوادونو څخه ګڼل کېږي. په نړۍ کې ځانګړی مقام او حیثیت لري او په خپل ټول هېواد کې یې د نالوستۍ د تیارو کمپله ټوله کړې ده.

نو اوس که زموږ د هېواد خواخوږي غواړي، چې خپل هېــواد لــه دې روان ذهني، فکري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز ناورین نه راوباسي، نو

ښه لار دا ده چې د ټولنې د ((انساني)) کولو لپاره هڅې پیل کړي. د ټولنې د انساني کولو لار په ټول هېواد کې د ښوونې او روزنې عامول دي. کله چې ټولنه ټوله لوستواله شي، نو هر څوک ځانته د ځانګړي او ټولنیز ژوند د ښېرازۍ او سوکالۍ لارې پیدا کولای شي، په ټولنه کې د وګړو تر منځ زغم، اوسېله، د یو بل زغمل او فکري ثبات رامنځته کېږي، هر څوک د خپل واک او صلاحیت پولې پېژني او د ژوند پر خوند پوهېدلای شي. سیاستوال او واکوال هم ددې پرځای چې یو بل د تورې او برچې په زور تسلیم کړي، د تورو په نخولو ځانونه ستړي کړي او یو بل ووژني، دخبرو لاره خپلوي؛ د متمدنو انسانانو او بشپړو عاطفي وګړو په څېر د ژوند ستونزې له منځه وړي. عمومي ښوونه او روزنه او د ټولنیز کلتور پرمختیا د ټولنیز ژوند بقا او هوساینه تضمینوي او انسان کې د مینې او عاطفې څواک پیاوړی کوي. زموږ په هېواد کې باید هم مثبت ښوونیز، روزنیز او کلتوري اوښتون راوستل شي.

کلتوري پرمختیا او مثبت بدلون هغه درمل دی، چې ټولنه دناروغۍ تر خورېدو دمخه وقایه کوي.

# زموږ د لیکوالو عمومي او ځپلمنځي ستونزې

> دا لیکنه د طالبانو د واکمنۍ پر دویم کال لیکل شوې او همامهال په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

دا څرګنده خبره ده چې د بېلابېلو لاملونو له کبله زموږ ټولنه شاته پاتې ساتل شوې او لا ساتل کېږي. دې وروسته پاتېوالي د ټولنې د هوسا کېدنې او د ولس د ښېرازۍ او سوکالۍ په لاره کې ستر خنډونه راپیدا کړي. دا داسې ستونزې دي، چې زموږ د ټولنې د ژوند پر هره خوا یې خپل سیوري خپاره کړي، کلتور یې له ستوني نیولی، ځلا او زرغونېدو ته یې نه پرېږدي، خو دې سره سره تر ننه دوه لسیزې وړاندې زموږ په هېواد کې بیا هم ژوند ورو ورو دښېرازۍ پر لور روان و او د یو شمېر کلتوري هڅو او بریاوو څراغونه لګېدلي وو، خو کله چې دې تېرې شل کلنې غمیزې د هېواد په ګوټ ګوټ کې خپل زهرجن لوګي خپاره کړل، نو هر څه د خارو او ایرو ځلي شول.

په ځانګړې ډول په تېرو اوو کلونو کې کلتور ته نور زیانونه هم واړول شول او زموږ د لیکوالو ستونزې لا پسې زیاتې شوې.

دا هغه زماني واټن دی، چې د ټولنیز، سیاسي او کلتوري نظام مزي وشلېدل او ټولنیز انډول له منځه لاړ. کلتور چې د ټولنیز نظام یو اساسي توکی دی، تر ځپونکو ګوزارونو لاند ې راغی. فرهنګیان د کلتور د پرمختګ د عاملینو او زېږوونکو په توګه په خپله د مرګ او

وېرې ترګوانې لاندې راغلل. هغه فرهنګیان چې پخوا یې د کلتـور پـه یوه څانګه کې کار کاوه، د مسلکي کا رله منځه تلو سره سـم یـې لـه مسلکي لارې د ژوند د خړوب امکان هم ختم شو.

هغه لیکوال چې تر هېواده بهر مهاجر شوي وو، د هغوی ستونزې بیا بل ډول وې، هغوی د یو بې باوره ژوند په ستونزو کې راګیر وو. کله چې د هېواد په داخل کې له فرهنګي کار څخه د خړوب امکان ختم شو، نو لیکوال د دویم کار په لټه کې شول، ددې کا رپایلـه ډېـره منفـي وه، د لیکوال او فرهنګي کار تر منځ واټن ورځ پر ورځ زیاتېده. په نتیجه کې لیکوال لکه د نوور کسبګرو په شان پر عـادي اشخاصـو واوښـتل او د ټولنې ددې متفکر مغز ټول ځواک یوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره پـه مبارزه کې اوبه شو. تجربو په ډاګه کړې ده چې لیکوال، شاعر او یا هـر هغه څوک چې ذهني کار کوي که چېرې پر فزیکي کار او چـارو اختـه شي، نو ذهني کار ته یې سخت زیان رسېږي. دلیکوال ذهن هغه نرمـه کرونده ده، چې ده په کې د مینې او عشق د کلمو بزغلي کرلـي او لـه هغه څخه یو رنګین او ښکلی حاصل لاسته راوړي. د فزیکي کـار پـه کولو سره په داسې شاړه او کرخته ځمکه اوړي چې بیا ډېر ځنډ د هنر د مینه ناک حاصل لپاره نه تیارېږي. ددې خبرې یـوه بېلګـه بـه هـم وړاندې کړو:

په کابل کې د افغانستان د علومو د اکـاډمۍ یـو تـن غـړی چـې د سرمحقق عملي رتبې ته رسېدلی، یو وخت یې ډېر ښه تحقیق کاوه او دومره خوړه ژبه او خوږ نثر یې درلودل چې د زړه راکښون ځواک یـې ډېر پیاوړی و. کله چې په هېواد کې علمي کار خپل مـادي امکـان لـه لاسه ورکړ، نو دی مجبور شو، چې فزیکي کار ته ملا وتـړي. لـه یـوې

موسسې سره چې د ښار د ویالو د جوړولو او پخولو چـارې یـې سـرته رسولې، پر کار بوخت شو. ددې سرمحقق دنده دا وه چې د تېږو مـنځ کې سمنټ واچوي او تېږو ته انګاف ورکړي، ده څو میاشتې پرله پسـې دې دندې ته دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یوې علمې غونـډې تـه د لیکنې بلنه ورکړای شوه، کله چې ده خپله لیکنه واورولـه، نـو دده د پخوانیو لیکنو په انډول ډېـره کمـزورې، پیکـه او سـپوره وه، داسـې ښکارېده، چې په وچ زور او تر یوه سخت فشار لاندې یـې لیکلـې ده، وروسته یې خپله اعتراف وکړ، چې د ذهن کرونده مې سخته شـوې او کېدی شي نور حاصل ور نه کړي.

د هېواد دننه اکثرو لیکوال پر همدې برخلیک اختـه شـول، هغـه څوک چې تر هېواده وتل- هغو اکثرو خپل مسلک پرېښـود او ځینـو چې په یو شمېر بډایو موسسو او ادارو کې کارونه ومیندل، نو د هغو پر احساس، عاطفې او فرهنګي مینې د یو بل کلتور او د ژوند د بې باورۍ د تورو وربځو لړۍ خورې شوې، یا په ډله ییز، یا په انفرادي ډول مسخه شول او یا د مسخه کېدو په حال کې دي.

زموږ د لیکوالو ستره او عمومي ستونزه دا ده چـې دلتـه د لیکـوال لاسته راوړنه د مالي ارزښت له پلوه کوم دوراني حرکت نه لري، چې د هغه په نتیجه کې دې لیکوال مادي ثمر ترلاسه کړي، دلته زیات وخت لیکوالو د دولت پر مادي امکاناتو او نورو مرستو ډېره لګوله.

د ساري په توګه په پښتو کې داسې کتابونه ډېر کم لیدل شوي چـې هغو دې د خرڅلاو له لارې خپل لګښت پوره کړی وي او یا دې لـه دې درکه لیکوال ته د یاد وړ مادي ګټه تر لاسه شوې وي، پـه پرمختللیـو هېوادونو او ان مخ پر ودې هېوادو کې بیا خبره داسې نه ده، هلتـه یـو

اثر نه یوازې د لیکوال علمي پانګه ګڼل کېږي، بلکې د هغه د ژوند لپاره ستره مالي شتمني هم جوړوي. ((اریک فرام)) یو غربي لیکوال دی، د ((ښکلا)) په باب یې یوه کوچنۍ رساله لیکلې، دا رساله تر لسو ځلو زیاته چاپ شوې او هر ځل یې د چا پ تېراژ میلونونو ټوکو ته رسېده او دا کتاب ټول پلورل شوی دی، نو هغه اثر چې درې میلونه ټوکه وپلورل شي، نو ایا لیکوال به یې بیا هم له اقتصادي پلوه له فقر سره مخامخ شي؟

زموږ ټولنه لکه څنګه چې د ژوند په نورو برخو کې د نورو پرمختللو او مخ پر ودې ټولنو سره د پرتلې وړ نه ده، همداسې په فرهنګي برخه کې هم د پرتلې وړ نه ده. په پښتو ژبه تراوسه پورې د چاپ شویو اثارو شمېر تر لس زره عنوانونو نه زیاتېږي. د بي بي سي راډیو د یو خبر له مخې یوازې پر یو کال په لندن کې (شپېته زره) عنوانه کتابونه چاپېږي، د دې هر عنوان کتاب تېراژ میلونونو ټوکو ته رسېږي، زموږ په هېواد کې له ځینو تعلیمي، مذهبي او سیاسي کتابونو پرته د هر کتاب شمېر له (۵۰۰-۵۰۰۰) ټوکو ترمنځ دی. د تېرو پنځه لسو میاشتو په ترڅ کې افغانستان کې د ټول هېواد په کچه (دوه عنوانه) ادبي کتابونه او پنځه عنوانه مجلې یوه - دوه درې ګڼې چې د ټولو عمومي تېراژ ایله شل زره ټوکو ته رسېږي، چاپ شوي دي. دا هغه ټیټ ګراف دی چې په افغانستان کې د چاپ او خپرونو تر دود وروسته لیدل کېږي. د هېوا په داخل کې د چاپ له دې کمیت نه زموږ د لیکوالو او د هېواد د فرهنګي کار څرنګوالی معلومېږي، خو دې سره سره په پېښور کې زموږ یو شمېر لیکوال پر سختو هلو ځلو بوخت دي؛ ګڼ شمېر کتابونه چاپوي، چې د هېواد دا اړتیا تر یوه بریده پوره کړي، هېواد ته ددې

کتابونو د لېږد  په برخه کې  هم یو لړ ستونزې شته، ځکــه چــې ددې کتابونو ډېره برخه د هېواد داخل ته وړل کېږي.

دا هغه عمومي ستونزې دي، چې زموږ هېواد او لیکوال ورســره مــخ دي، خو د دې تر څنګ په خپله  زموږ د لیکوالو تر مــنځ  هــم یــو لــړ ستونزې شته، چې هغه زموږ د لیکوالو ځواک ته سخت زیان رسوي او له اصلي کار نه یې پام بلې خوا ته اړوي، دا تضادونه د هېواد په داخــل کې هم محسوس دي، په پېښور کې هم، کېدی شي په نورو هېوادونــو کې هم وي، اوس په کابل او جلال اباد کې یو شمېر شــته چــې هغــوی غواړي د هغو ګوتو په شمېر لیکوالو تر منځ  چې هلته پاتې دي، تر هــر څه لومړی د توپیر یو عقیده یي اوسیاسي لیکه راکاږي، پــه ځــانګړي ډول هغه لیکوال دې کار ته ډېره لمن وهي چې هغوی په فرهنګي  کار کې د زیات تشبث او هلو ځلو ځواک او اوسېله نه لــري، دوی غــواړي خپله فرهنګي تنبلي او بې کفایتي  د عقیدې او سیاســي ګروهــې تــر چتر لاندې پټه کړي، دوی د ملت په کچه فکر نه شي کولای، انــد یــې یوازې  د تنظیم  تر حده محدود دی، دوی په هېڅ وجــه ددې وس نــه لري، چې هغه لیکوال هم وزغمي چې له دولتي امکاناتو پرته  په خپلــو شخصي هلو ځلو  فرهنګي  فعالیتونه کوي، هغوی حکومت ته لاس تــر زنې ناست نه دي او نه دې ته منتظر دي چې ټول کارونه  باید حکومت وکړي.

مثبت لیکوال پر دې هم  پــوهېږي چــې د فرهنــګ  ســاحې تــه  د حکومتونو پوره پام را اړول ډېر وخت غواړي، لکه څنګــه چــې اشــاره وشوه په تېرو  پنځه لسو میاشتو کې حکومــت یــوازې (دوه عنوانــه) کتابونه چاپ کړي دي، خو زموږ  ځینو لیکوالو په همــدې مــوده کــې

یوازې په پېښور کې تر سلو عنوانو زیات اثار چاپ کړي دي، نو که دوی حکومت ته منتظر وای، ډېر کلونه به پرې تېر شوي وای، بله خبره دا ده چې فرهنګي کار یوازې د دولت مسئولیت نه دی، بلکې دټــول ولــس ګډ کار دی.

په پېښور کې د افغان لیکوالو په شخصي هلو ځلو او په لویدیځ کې د مېشتو افغانانو په مالي مرستو یو شمېر اثار چاپېږي، خو دلته په داخل کې بیا د یو شمېر لیکوالو تر منځ یو ډول محسوس او نامحسوس منفي رقابت موجود دی. زموږ د یو شمېر لیکوالو زیات وخت او انرژي یــوازې پر دې مصرفېږي چې په نورو پسې خپل وخت په منفي ګړني تبلیغ تېر کړي. که خپله یې کار له واکه نه کېږي، نو منفي تبلیغ ته شین شــړک ولاړ دي، د دوی په ځینو کې بیا دا کینه او حسادت دومــره پیــاوړی وي، چې د رواني عقدې تر بریده رسېږي، ځینې لیکوال په پېښور کې هم تنظیمې، سیاسي او عقیده یي مسایلو ته لمن وهي او غــواړي پــر فرهنګي چارو او مسایلو باندې هم سیاسي سیوری خپور کړي. دلتــه هم دا کینه هغو کسانو سره مطرح ده، چې په فرهنګي کار کــې کــوم ځانګړی تشبث او نوښت نه شي کــولای، دلتــه هــم خپلــه فرهنګــي نیمګړتیا د سیاست او سیاسي جغرافیې تر پردې لانــدې پټــوي. اوس زموږ ځینو لیکوالو تر منځ دا کشمکشونه روان دي، داســې ښــکاري چې د سوچه ملي فرهنګ د ښېرازې، خدمت او پرمختګ لپاره ډېر کم لیکوال پاتې کېږي، چې له دې ډول ډول پاټکونو څخه تېرېږي او خپل

فرهنګي کار ته دوام ورکوي، تجربو ښودلې ده چې افغاني فرهنګ ته کار کول خورا لویه اوسېله غواړي؛ هر څوک چې غواړي له دې اغزنو او ستونزمنو لارو تېر شي، نو دې مغولیزو ذهنونو ته باید خپل هوډ خوشالخانی کړي او هغه کسان چې غواړي زموږ د رښتینو فرهنګیانو مخ ته ذهني او سیاسي پاټکونه واچوي، اخر به له خپل دې عمله ستړي شي، تر پایه خو دوی هم دا کار نه شي کولای، چې د بل چا د فرهنګي کار په مخ کې خنډ اچولو ته خپل کار ووایي.

# الفت د زړونو الفت

## (د استاد الفت د نثر ځينې مانيز اړخونه)

دا ليکنه په کابل کې د استاد الفت د يوې تلينغونډې لپاره ليکل شوې وه او وروسته بيا په هيله مجله کې چاپ شوه.

استاد ګل پاچا الفت لکــه ځنګــه چــې د هغــه لــه نامــه څخــه څرګندېږي د مينې او الفت پاچا دی، هغه د خپل قلم په روح کــې داسې انساني مينه پو کړې، چې کلونه کلونه به زموږ د زړه په پردو کې ګرځي، راګرځي او د زړونو او ذهنونو په دې لايتناهي فضا کې به بې برچې، بې عسکره او بې لښکره پاچاهي کوي.

الفت د انساني ټولنې د يو ذهني معمار او رنځپوه په توګه لومړی د ټولنې نيمګړتياوې او رنځونه راپه ګوته کړي او بيا يې د رغونې او درملونې لپاره د قلم او ليکوالۍ کيميا بوټی کارولی دی.

الفت چې په خپله د مينې په خم کې يو لوبېدلی او ټوکېدلی روح دی، د ډېرو انساني رنځونو د علاج اساسي نسخه يې همدا (مينه) ګڼلې ده. هغه مينه او عاطفه د انساني ژوند د پايښــت، ســمون او ښېرازۍ اساسي وسيله بولي. بې مينې ژوند يو بې مانا ځيز ګڼــي، چې انساني ژوند لوښی له خونده تشوي، مينه د الفت په نظر هغه

ستر ځواک او واک دی، چې ډېر زورور او زبرځواکي هغې ته خپــل سرونه ټیټوي او کاڼي زړونه هم د موم په شان نرمولای شي، استاد الفت وایي: (( د دنیا دود او دستور خو دادی چې زورور به کمزوری وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده. هلته یو کوچنی ماشــوم خپــل مشر ورور په څپېړه ووهي او هغه ورته خاندي، له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی. که دمینې او عاطفې ماشوم هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي یا یې لمن ټینګه ونیسي څوک ترېنه ځــان نه شي خلاصولی، ځکه چې دا قوت په ټولــو قوتونــو زورور دی.)) استاد وایي عشق او مینه دهمدې دوه بېلابېلو طبقــو ( زورورو او کمزورو) اند او ژوند د پیوستون او بقا په تار تړي: (( که عشــق او مینه په مینځ کې نه وي نو د دیو او ښاپېرۍ زور هېڅکله برابر نــه دی)).

استاد الفت د فاتح په نامه یوه نثــر کــې د مینــې قــوت داســې څرګندوي چې ان ډېر زورور، ظالم، او لوی فاتحین یې هم قوت ته ټینګېدی نه شي. وایي: (( سکندر له ډېر قوت او ډېرو لښکرو سره ښار ته راغی، د ښار له خلکو سره یې څو ځله زورور جنګونه وکړه، له دواړو خواوو نه ډېر خلک ووژل شول، ډېرې وینې تویې شــوې، ډېرې ککرۍ تر پښو لاندې شوې، وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو پښې کېښودې او د لوی فاتح په حیث ښار ته ننوت.

دی ډېر په قهر و، غوښتل یې چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونه شو کړای، ځکه چې په ښار کې یو پټ قوت موجود و چې ده ورسره مقابله نه شوه کولای.

دی چې ښار ته ننوت په یوې ډېرې ښکلې پېغلې یې سترګې ونښتې او په یو ځل لیدو یې زړه بایلود.

څوک چې بې زړه شي هغه بیا جنګ او جګړه نه شي کولای، ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې ته وسپاره.))

د مینې ترڅنګ دویم څیز چې د انسان په ژوندانه کې تر ټولو ستر روحي ځواک جوړوي، هغه عقیده ده، د الفت په نظر عقیده د انسان هغه ستر روحي ځواک دی چې انسان پرې د مرګ له ستر ناورین سره ډغره وهلای شي. یو انسان د عقیدې په زور کولای شي ډېر بې عقیدې ځواکونه راونړوي. له پخواني شوروي سره د جګړې په ترخ کې د افغانانو سرښندنه او اتلولي هم د یوې لویې عقیدې پایله وه، له یو انګرېز سیاستپوه نه د جګړې د لومړیو کلونو پر مهال چا پوښتنه وکړه، چې افغانان د شورویانو په اندول له اقتصادي، بشري، پوځي او ان ارضي پلوه خورا کمزوري دي، ایا دوی به له شوروي زبرځواک سره د مقابلې توان ولري؟ هغه په ځواب کې وویل: (( هلته افغانان جګړه نه کوي، بلکې عقیده جنګېږي.))

د همدغې عقیدې په رواني ځواک دښمن مات شو، خو کله چې همغو ګروهمونو اشخاصو د عقیدې لمن خوشې کړه، بیا یې نو نــه هغه د تورې تاب و او نه هغه اتلولي، ان خبره تر دې هم راورسېده چې دهېواد د سیاسي ډګر یو منفي سیاسي لوبغـاړي خپلــو بــې عقیدې همځنګو ملګرو ته وویل: (( اوس د عقایدو دوران تېر شوی او د قومیت بازار ګرم دی)). د همدغو بې عقیدې لښکرو پر ضد بیا یو بل عقیده يي لښکر په تش لاس د مبارزې ډګر ته را ودانګــل او دا بې عقیدې شوی شخص یــې لــه خپــل تخــت و بخــت ســره د کومیډۍ په سیند لاهو کړ.

اروپوهان او د طب ډاکتران عقیده، د انســان روحــي نــاروغیو، نفسي غوښتنو د کنټرول او رواني ډاډ او تســکین ســتره وســیله ګڼي. استاد الفت د یو عقیده من شخص په توګه، عقیده تــر ټولــو ستر ځواک بولي او د روحي تسکین او اخروي نړۍ پانګه یې ګڼي، هغه د یو عقیده من ړانده مثال ورکوي چې: (( په سترګو یې څه نه لیدل، مګر د خدای کتاب یې تر څنګه و او مســجد تــه راغــی، ده هغه اسماني کتاب په تاخچه کې کېښود او په لمانځه ودرېد. کلــه چې له عبادت نه فارغ شو او له مسجد نه روانېده هغه کتاب پاتې شو او یو بل کتاب لاسته ورغی، دی ړوند و کتاب یې نه لیده او په کتاب نه پوهېده مګر ټینګ یې په غېږ کې نیولی و.

ده ته دا نه وه معلومه چې په کتاب کې څــه دي او د چــا کتــاب دی؟ له ده سره ټینګه عقیده وه، مګر پوهه او بینایي ورسره نه وه.

ده د خدای(ج) لپاره دغه کتاب ښکلاوه او لکه تعويذ لــه ځــان سره يې ګرزاوه.))

د عقيدې تر څنګ اند يا فکر او د فکر ازادي د فردي او ټــولنيز نظام د ثبات، پرمختګ او ټولنيزې ښېرازۍ اساســي تــوک دی. د الفت په نظر په هغو ټولنو کې چې فکري اختناق موجود وي، انتقاد تړلی او فکر په زندان کې وي؛ هغه ټولنه له ســترو نــاروغيو ســره مخامخېږي. سره له دې چې يو شمېر ليکوال د ســاري پــه توګــه تولستوی په دې اند دی چې په يوه ټولنه کې اختناق د زياتو ادبي اثارو او ان ادبي شهکارانو د رامنځته کېدو سبب کېږي، خو که په ځينو ټولنو کې اختناق د ادبي اثارو د رامنځته کېدو سبب شــوی هم وي، خو په ځينو نورو ټولنــو کــې بيــا د ډېــرې تبــاهۍ لامــل ګرځېدلی دی، استاد الفت تر ټولو زيات فکري اختناق او سانسور د ټولنې د سوکالۍ او هوســاينې د مخنيــوي عامــل بــولي، دی د ټولنيزې ښېرازۍ او نورو ډول ډول ستونزو د حل لاره همدا فکري ازادي بولي، وايي: ((... که دی خلاص شو، ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړي، ستاسې وږي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ بــه پــټ کاندي، ستاسې دغه ښکلی موجــود پــه تــورو ځاګــانو کــې مــه غورځوئ! په زندانونو کې يې مه اچوئ! پرېږدئ! دا بې ګناه بنــدي پرېږدئ! دی به ستاسې د ګــډو وډو او پرېشــانه خوبونــو صــحيح تعبيرونه وکړي. ډېرې سختې مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزي. دی د راتلونکي حال پېشــبيني کــولای شــي. د جــوي او فلکــي

اوضاعو اقتضات ورته معلوم دي. پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ، د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زیاتېږي. وطن رڼا کېږي او ړانده بینا کېږي. دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي. دی ډېر پېچومي اوارولی شي. دی ډېرې کږې لارې سمولی او ډېر مشکلات حل کولای شي. ما خوب لیدلای چې دا بې ګناه بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني، ښه فکر وکړئ دا بې ګناه بندي څوک دئ؟ پس له ډېره فکره وایم فکر دی فکر.))

په یوه ټولنه کې د فکري ازادۍ تر څنګ سالم مشرتوب او لیډرشیپ په کار دی، خوشال بابا د یو ټولنیز مشر او دستار د سړي لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه لازم بولي، د لوی خان په عقیده که چېرې دا شل هنرونه او شل خصلتونه په یوه شخص کې متبارز وي، نو بیا خو د دستار د تړلو ( مشرۍ) لایق ګڼل کېدی شي او که نه هسې چې دستار تړي، هغه هزار دي. استاد الفت هم د مشرتوب لپاره کوټلي قوانین په ګوته کوي، د استاد په نظر هر هغه شخص چې د څومره والي او څرنګوالي له پلوه تر بل غوره وي، هغه باید د ټولنې مشرتوب پر غاړه واخلي. استاد وايي: (( که موږ دوه مساوي عددونه لکه ( ۱=۱)، (۲=۲)، (۳=۳) او ... هر یو له بل نه وړاندې وروسته کړو، نتیجه یې یوه ده، مګر په دوو متضادو عددونو کې تقدیم او تاخیر ډېر فاحش فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت راځي.

که موږ ((یو)) او ((نه)) یوځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نولس کېږي، مګر شل کېږي نه، که همدغه دوه عددونه داسې ولیکل شي (۹۱) خبر سلو ته نږدې کېږي او ډېر زیادت په کې راځي. همدغه سبب دی چې په پوهو جوامعو کې هغه څوک دمخه کېږي چې قدر او مقدار یې له هغه بل نه زیات وي او د ده په مخکې توب باندې د جامعې قدر او قیادت ډېر لوړېږي. موږ باید په دې سُر پوه شو او د هر چا استعداد، معیار، مبلغ او مقدار ته وګورو.))

استاد الفت چې زموږ د ټولنې ذهني معمار دی، د ټولنې د ویجاړۍ او د هغې د درملونې هرې خوا ته یې د فکر وړانګې رسېدلي. افراط او تفریط چې یو ستر مرض ګڼل کېږي، که د ژوند په هره برخه کې منځته راغی، نو هغه برخه له بې ثباتۍ او په پایله کې له نابودۍ سره مخامخوي. استاد د خپلې ټولنې د یو رنځپوه او طبیب په توګه په ټولنیز ژوند کې منځنۍ حد ډېر ګټور بولي. د اسلام د سپېڅلي دین د لارښوونو له مخې هم اوسط حد احسن دی. استاد الفت په دې عقیده دی که چېرې په یوه ټولنه کې افراط او تفریط واکمن شو، نو د یوه پر ځای به دوه تلفات زغمي، دی دا مرض په یوه نثر (( دوه جنازې))، که واضح کوي. (( په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې، هغه یو د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و. هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو. د دغه بل وینه زیاته شوې او تیزه شوې وه، ځکه یې ژوند ونه شو کړای. دوی دواړه یو بادار او

بل مزدور و، یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو.)) د استاد په نظر: (( د یو کمزوري کول او د بل قــوي کــول د دواړو پــه مړینــه تمامېږي او د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شان دی.))

د افراط او تفریط تر څنګ بله ستره ناروغي چې هم ځاني او هم ټولنیز خطرونه راولاړولای شي، هغه مضــر احتیــاط دی، د اســتاد الفت په نظر د یوه انسان د ځاني او ټــولنیز ژونــد د پرمختــګ او هوساینې لپاره انساني جرئت هم په کار دی. تدبیر، هڅه، له حالاتو او نادودو سره مبارزه، د انساني ژوند بشپړونکي تــوکي دي. ډېــر احتیاط د سړي اخلاقي جرئت سلبوي او فکر اوهامو تــه ســپاري، استاد هغه احتیاط غندي چې تر ګټې یې زیان زیات وي او د مضر احتیاط تر پولې رسېږي.

دا احتیاط څه په فردي ژوند کې وي که په ټــولنیز کــې د دواړو ضرر زیات دی. په ځانګړي ډول هغه ( مشــران) چــې د ټــولنې د لارښوونې دنده لري، که چېرې پر دې ناروغۍ اخته شي، نو ټولنه د تباهۍ کندې ته رسوي، استاد الفت په خپل یو نثر کې دا موضــوع واضح کوي: (( شمی اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا به چې کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه چې تر اخره پورې یې خپل کور ته برق رانه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شــي نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوزي.

د ده دا عادت و په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته بـه هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدو ویرېده او احتیاط یې کاوه. هوا! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼـا هم ډېره لږه وه.))

استاد الفت د انسان نفس د لایتناهي هوسونو مجموعه ګڼي چې عقیده یي برجونو ته له تکیې پرته د هغو مهـار کـول او کنټـرول ناشونی کار دی. هر کله که د انسان یوه هیله پوره شوه، نو ورپسې به د بلې د پوره کېدو هیله لري، غم او خوشالي هـم پـه همـدغو هیلو پورې تړلي او یو له بله نه جلاکېدونکي بولي. د یونان یو نامتو ډرامه لیکونکی اشایلوس هم په همدې نظر و او ویل به یې: (( پـه هر غم پسې باید یوه خوښي او په هرې خوښۍ پسې باید یـو غـم راشي، چې د ژوند پاڼو ته رنګ ورکړي)) استاد الفـت هـم غـم او خوشالي دواړه شپه او ورځ بولي چې یوه په بلې پسې رادرومي. خو استاد د خپلې ټولنې د وګړو د اندروني ناروغیو پر خواو خورا ښـه بلد دی، د ده په نظر د انسان هیلې نه پوره کېدونکي دي. غـم او خوشالي هم دواړه انډولیز یا نسبتي دي. مثلاً که چېرې یو څوک په ټولنه کې یو تن تر ځانه ډېـر خـوار و زار وګـوري، نـو بیـا دی خوشاله وي او که چېرې تر ځانه پورته شخص وګوري، چې خولـه یې له خندا ډکه وي، نو بیا دی خفه وي، ځکه چې تر ځانه پورتـه شخص نه شي زغملای، نو ځکه خو استاد وایي چې زمـوږ غـم او خوشالي په خپله زموږ نه دي، بلکـې هغـه د بـل چـا پـه غـم او

خوشالۍ پورې تړلي دي. که هغوی خفه وو موږ خوشاله یــو او کــه هغوی خوشحاله وو نو موږ بیا خفه یو. د دې خبرې د اثبات لپاره د خپل یو دوست مثال ورکوي او وایي چې زما دوست په خپل کــور کې هر څه لري، د ډېرو شتو خاوند دی، لنډه دا چې د ژونــد ټــول خواږه نعمتونه ورته رسېږي او له هېڅ ډول ستونزې سره مخامخ نه دی، خو دی هم کله کله خفه وي، خفه په دې وي چې زما یــو بــل دوست دی هغه تر ده لږ شان زیات شیان او شته لري.

ددې ډول غم او خوشالۍ تر څنګ په ټولنیز او ځاني ژونــد کــې استثنایي حالات هم د غور وړ دي. د استاد په فکر زموږ د قضاوت شعور باید پر یوې مسالې مطلق حکم ونه کړي او وخت ته منتظــر شي. ځینې چارې په ځاني تدبیر ترسره کېدلای شي. دی پــه دې برخه کې د دوو بزګرانو یادونه کوي: (( چــې دواړو خپــل فکرونــه جنګول. یوه دهقان فکر وکړ چې په مني کې به خپل غوایي خــرڅ کړم، ځکه تر پسرلي پورې ډېر وخت دی، واښه به یې هم راته پــه ګټه کې پاتې شي او دویمي وویل چې په مني کې غوایي ارزانه وي اوس به یې واخلم او تر پسرلي به یــې وســاتم، دوی دواړه پــه دې معامله کې جوړ راغلل. یوه دهقان په بل غوایي خــرڅ کــړل، څــو موده وروسته کلي ته د غویو ټاکو (مرض) راغی او د دهقان دواړه غوایان په تېره چوړکۍ حلال شــول. لــومړي دهقــان پــه خپلــې هوښیارۍ شکر ایسته چې ښه وو غوایي یې خرڅ کړي وو او کور و کلي هم د ده په هوښیارۍ افرین وایه، څو ورځې وروسته د همدې

دهقان په کور د غلو غدۍ پرېوته، دی کم بخت ووژل شو او پیسې یې غلو یوړې، بیا به خلکو ویل چې نغدې پیسې څوک په کور کې ساتي همدا به یې حال وي. تر ده خو هغه بل ډېر هوښیار و که غوایان یې لاړل نو سر خو یې روغ دی.))

استاد الفت چې له یوې خوا پر مینې مین دی، نو له بلې خوا د ظالمانو پر وروستي برخلیک هم ښه خبر دی، د استاد په نظر د ظلم کاسه نسکوره وي او په وروستۍ پایله کې ظالم د خپلو اعمالو سزا ویني او د خلکو تر پښو لاندې کېږي. هغه دا ستره موضوع په ډېرو ظریفانه الفاظو کې ((د شاعر تحفه)) تر عنوان لاندې نثر کې بیانوي، وایي: (( کله چې هغه سر راپورته کړ او په ما یې نظر ولېده ما خپله تحفه یو د پړانګ پوستکی او یو غزنیچی پوستین د هغه په مخ کې کېښوده.

هغه وویل: دا یو د ظالم پوټکی دی، ځکه تر پښو لاندې لوېږي، دا بل د ضعیفانو له پوستکو نه جوړ دی او په غاړې پورې تعلق نیسي.))

# زموږ د اوسنیو ادبیاتو فکري لوری

دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۷۸ل) کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.

په تېرو دوو لسیزو کې چې زموږ ادبیاتو ته د ((رسالت))، ((مسئولیت)) او ((خدمت)) په نامه، د مختلفو ګروهو او سیاسي تګلورو د غوښتنو او موخو د بار وړلو دنده سپارل شوې وه، د هغو له کبله زموږ ادبیات ښه ډېر سترې شول او دهغو ډېرې څانګې تر دې درانه بار لاندې زیانمنې شوې، زموږ په ټولنه کې سیاستوالو خپل سیاسي ارزښتونه ډېر لوړ وګڼل او ان د سیاسي موخو لپاره یې ګروهیز ارزښتونه وګومارل او وکارول، خو بیا هم سیاسي تګلارو خپل ارزښت بایلود. هغه ((ادبیات)) چې دې مشخصو فکري او سیاسي لوریو ته ځانګړي شوي وو، د هغو لیکوالو هم خپل ځانونه او قلمونه سترې کړي وو او ګڼ شمېر(( ادبي اثار یې)) یې چاپ کړي وو، پر ژوند یې د خپلو اثارو بې ارزښتي او مړینه ولیدله. د لیکوال لپاره تر دې بله بده پېښه نه شته چې دده تر مړینې دمخه دې، دده اثر ومري او ژوند دې ونه کړای شي. زموږ په تېر شل کلن ادبي بهیر کې ګڼ لیکوال او شاعران او ډېر مطرح لیکوال او شاعران لیدل شوي، چې اوس خپل اثار د شرم له کبله چاته نه ښکاره کوي. د ځینو د خلاصون لاره دا وي چې (( والله نو هغه وخت دا شیان وو نو...)) په (( انقلابي شرایطو)) کې زموږ ډېرو کمو لیکوالو خپل ځاني شخصیت او د قلم عفت وساتلای

شو. سیاسي یا شعاري ادب د ټولنې په ځانګړو کړکېچنو پړاوونو کې را منځته کېږي او د بل پړاو په راتګ سره خپل پخوانی رنګ او ارزښت بایلي او نوی رنګ اخلي، خو په بشري ټولنه کې ځینې تلپاتي ارزښتونه وي، که هغه د شاعر یا لیکوال د اثر مانیز جوهر شي او د ښکلا په نرم وربښمین شال کې یې تاو کړي، نو بیا کېدی شي د یو ادبي اثر د ژوند دوام تضمین شي. د حمزه بابا په اند (قومي او عقیده يي) ارزښتونه ددې ارزښتونو له جملې څخه دي.

د حمزه بابا د خبرې مانا دا ده چې عقیده او ملتپالنه د انسان د فطرت غوښتنې دي، چې یوه یې د روح او بله یې په وینه کې چلېږي. ژوند هم له دغو څیزونو جوړ دی، نو هغه لیکوال چې دا ارښتونه یې د خپل اثر مانیز ملاتړ ګرځولي وي، اثر به یې هم مقاوم او د ژوند له پلوه به تلپاتې وي. البته دا په دې مانا نه ده چې یوازې مانا او ښه فکر دې د یو ادبي اثر روح ښېرازه او ژوندی وساتلای شي، بلکې د لیکوال نوره روحي سپېڅلتیا، د ښکلا خوښونې او ځلونې احساس، د ژبې خوږلنې، رنګینې ولولې او نور توکي هم په کې رول لري. که لیکوال یوازې د اثر پر مانیزه خوا زور راوړي، نو خبره خو بیا هماغه شعار ته رسېږي. شعاري ادب په غنايي برخه کې هم ځان ښکاره کوي. لنډه دا چې د هرې مسالې بربنډ بیان او د ادبي ښکلاوو په پام کې نه لرل، یو ادبي اثر د شعار کچې ته راټیټوي. په تېرو وختونو کې مو ړ ددې ډول شعاري ادب ډېرې زیاتې بېلګې لرو. په ادبیاتو کې د دغو ګرمو شعارونو پرله پسې غبرګون او تکرار انساني ذهن له یو ډول محسوسې او نامحسوسې سترړیا سره مخامخ کړ، ځکه خو د فطري غوښتنې له مخې انساني ذهن یو ډول ښکلاییزې ارامتیا ته اړ شو. دا ارامتیا د پوره ادب

د ښاپېرۍ په ورېښمینه غېږ کې د خپل روح د غوړولو له لارې امکــان پیدا کولای شي، نه د سپوره، کلیشه یي او سولېدلي شــعاري ادب پــه لمن کې.

د دغه پخواني شالید او تجربې په رڼا کــې اوس زمــوږ ګــڼ شــمېر لیکوال د ادب د رباب په نازکو تارونو اغزنې سندرې نه وایــي، بلکــې هڅه کوي، چې ادب د خپل اصــلي هــدف (ښــکلا ټوکــونې) پــر لــور وخوځوي. اوس د ګرمو شعارو نو او نرِه فکري شعرونو بازار سوړ شوی، نه مینه وال لري، نه لېوال اونه هم لوستونکي. هغه لیکوال چې د ښکلا ټوکونې ځواک یې کمزوری و، د فکري عقیده یي ارزښت تــر ســیوري لاندې یې ځانونه په ادبیاتو کې په یو ډول ځرګند او ناځرګنــد فشــار مطرح کول، اوس ورو ورو له متن نه حاشیې ته روان دي. په مقابل کې یې هغه لیکوال او شاعران راټوکېدلي او د ودې په حال کــې دي، چــې ټول ښکلي عقیده یي، ملي، هېوادني ارزښتونه او د انساني فطــرت او غریزې غوښتنې په خپلو اثارو کې ځایوي. یوه لیکوال ته نه ښایي چې دومره مانیز بار یې پر خپل اثر ایښی وي، چې د هغــه وزرونــه دې تــر لاندې ورپېږي، مړاوې دې شي او د هغه د لېږد ځواک دې ونه لــري او یا یې هم د خپل اثر ښاپېرۍ دومره سینګار کړې وي، چې د مصــنوعي ښکلا رنګ دې ورځخه راځرګند شي. اوس ځوک نه غواړي چې خپل ادبي اثر د یو ځانګړي ګوند، ډلې او یا سیاسي تګلوري د خدمت لپاره وګوماري. په ټولیز ډول ویلای شو، چې زمــوږ د اوســني ادب فکــري لوری په ادب کې د تلپاتې ارزښتونو د ځلونې او ځایونې پر لــور روان دی او دا کار د لیکوال د ځاني شخصیت او ادبي اثر د تلپاتېینې لپــاره ګټور دی.

# راډیو په ویر او ټلویزیون په زنځیر کې

**ددې لیکنې زیاته برخه د راډیو ټلویزیون د مسولینو د مرکو پر بنسټ او د ځینو نورو اثارو په مټ ترتیب شوې ده. دا لیکنه پر کابل باندې د استاد رباني د تنظیم واکمنۍ تر ختمېدو وروسته، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال، د(١٣٧٦ل) کال د تلې- لړم پر میاشت، له پېښوره خپرېدونکې مجلې (تعاون) په خپله (٤)مه ګڼه کې خپره کړې ده.**

په هر هېواد او ټولنه کې راډیو او ټلویزیون دوه داسې سترې خپرنۍ وسیلې دي، چې نه یوازې د یوې ټولنې عامه ذهنونو ته د پېښو څرنګوالی او څومره والی رسوي، بلکې د یوې ټولنې په ذهني او فکر اعمار او پرمختګ کې هم کارنده رول ترسره کولای شي. راډیو او ټلویزیون د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه کولای شي، د یوه ولس ټولنیزې نیمګړتیاوې او دردونه را برسېره او د هغو د درملنې لارې چارې په ګوته کړي. ددې ترڅنګ راډیو او ټلویزیون د یوه ولس د روحي او ذهني ارامتیا او خوشالۍ لپاره ستر ستر کارونه ترسره کولای شي.

له هغه وخته راهیسې چې زموږ په ټولنه کې راډیو په خپرونو پیل کړی او بیا تر هغه وخته چې د اکثرو خپرونو مزي وشلول شول، راډیو په خپل وار سره زموږ د ټولنې په ذهني او ذوقي پرمختګ کې خپل

اغېزمن رول ترسره کړی دی. په دې کې هم شک نه شته چې وخت ناوخت به راډیو د واکمنو سیاسي ډلو او اشخاصو د سیاسي او نورو ګټو تر شعاع لاندې راغلې وي، خو تر کومه ځایه چې خبره د راډیو په ټولنیزو، تفریحي او نورو خپرونو پورې اړه نیسي، په دې برخه کې په رښتیا سره ډېر کار ترسره شوی دی. افغانستان ته په داسې وخت کې راډیو راوړل شوې ده، چې هغه وخت لا زموږ ځینو ګاونډیانو د راډیو د درلودلو تصور هم نه شو کولای.

تقریباً (۵۰) کاله راډیو ښه په خوند او دبدبې سره خپلو خپرونو ته دوام ورکړ. خو لکه څنګه چې د یو لیکوال په وینا زموږ پر ټولنه هر (۵۰) کاله وروسته یوه بلا نازلېږي، دا ځلې هم په سپین رنګ کې یوه تور رنګې بلا نازله شوه، نه یوازې دا چې د راډیو د ښېراز غږ ستوني یې خپښه کړ، بلکې د ټلویزیون ستوني یې هم ومروړه. د افغانستان په خپرنیو وسایلو کې تر راډیو وروسته ټلویزیون دویمه ستره وسیله وه، چې په ډېره اغېزمنۍ سره یې د ولس په ذهني، فکري، ذوقي او سلیقوي پرمختګ کې یې ښه رول لرلای دی. د هېواد ټلویزیون هم تقریباً (۱۴) کاله له خپلو زیاتو بریو او لږ نیمګړتیا سره خپل کار ته دوام ورکړای شو، خو بیا یې پر مرۍ د جګړې خپسې کېنول شوې او چا یې بیا له خولې رنګین او مترنم اواز وانه ورېد.

موږ به په دې لیکنه کې ددغو دوو سترو فرهنګي وسیلو د جوړېدو فعالیت او هغو ته د وراړول شوي مالي زیانونو جاج واخلو.

((سره له دې چې پر (۱۳۰۲ل) کال یوې دستګاه په راډیویي خپرونو پیل وکړ، خو د یوې نوې راډیویي دستګاه په اخیستلو سره چې د هغې د منتاژ او تړلو کار پر (۱۳۱۸ل) کال پیل شو، د (۱۳۱۹ل) کال په نیمایي کې، راډیو ازمېښتي خپرونې پیل

کړې او د (۱۳۲۰ل) کال د وري پر مياشت د هغه وخت د صدارت د مرستيال مرحوم سردارمحمد نعيم له خوا رسماً پرانيستل شوه.)) (باز سازی نهادهای فرهنگی افغانستان، پېښور، شباهنگ، (۱۳۱-۱۳۴) مخونه)

په وروسته کلونو کې راډيو په کمي او کيفي لحاظ وده وکړه، د کابل په ګډون د هېواد په اکثرو ولايتونو کې راډيويي دستګاوې نصب او پر خپرونو يې پيل وکړ.

((د سردارمحمد داودخان د جمهوري رياست په وروستيو وختونو کې له جاپان څخه د ټلويزيون دستګاه او ستوډيوګانې وپېرودل شوې او پر همدې وخت ټلويزيون پر ازمېښتي خپرونو پيل وکړ.))

د راډيو ټلويزيون د مامورينو په وينا:

((پر دستګاه د خدمتونو او تجهيزاتو لپاره د جاپان له بلاعوضې مرستې څخه (۹۵۰) مليونه ينه چې (۲،۳) مليونه ډالره کېږي لګښت شوی و.))

خو ټلويزيون د (۱۳۵۷ل) کال په دريو لومړيو مياشتو کې په اساسي ډول خپرونې پيل کړې. په وروسته کلونو کې د راډيو ترڅنګ ټلويزيون هم په ځينو ولايتونو کې نورې دستګاوې جوړې او خپرونې پيل کړې.

پر (۱۳۶۱ل) کال د افغانستان ټلويزيون د ((شمشاد)) دستګاه لرونکی شو، چې له بهرنۍ نړۍ سره يې مستقيماً د افغانستان د ټلويزيون اړيکي ټينګ کړل.

د راډيو افغانستان مسوولين وايي چې په افغانستان کې راډيو اصلاً د غازي امان الله خان د سلطنت پر وخت پر کار پيل وکړ او د لومړي ځل

لپاره یې پر (۱۳۰۴ل) کال د (۲۰۰) واټو په طاقت د راډیو دوې کوچنۍ بروډ کاسټنګ دستګاوې هېواد ته راوړل شوې. له دې دوو دستګاوو څخه یوه د هارتل پله ترڅنګ په یوه درې پوړیزه ودانۍ کې چې په لندني کوټې یادېدله، نصب شوه او په پام کې وه چې دویمه دستګاه یې په کندهار کې پر کار واچول شي، خو دا دستګاه مخکې تر دې چې کندهار ته انتقال شي، د سقاویانو له خوا تخریب شوه. د کابل راډیو تر خپرونو دمخه یوازې (۳۰) راډیوګانې چې په بطریو چالانېدلې او غوږونو ته به نژدې کېدلې او بیا اورېدل کېدلې، خلکو ته وېشل شوې وې، خو د یوه کال په بهیر کې دا شمېر (زرو) راډیوګانو ته ورسېده.

پر هغه وخت راډیو یوازې دوه ساعته خپرونې کولې. چې د مازیګر له پنځو بجو پیلېدې او د ماښام تر اوو بجو پورې یې دوام کاوه. په دې دوو ساعتونو کې (۲۰) دقیقې خبرونو، مقالو او تبصرو ته وقف شوې وې او پر نور پاتې وخت موسیقي خپرېدله.

د راډیو پر خپرونو لا یو کال نه و تېر شوی، چې د سقاوي اړو دوړ په نتیجه کې د نورو ملي شتمنیو تر څنګ د راډیو تاسیسات هم له منځه یوړل شول. خو پر (۱۳۲۰ل) کال د راډیو خپرونې بیا په رسمي ډول پیل شوې، ددې کار لپاره پر (۱۳۱۵ل) کال د راډیو د منځنیو څپو یوه شل کیلو واټه دستګاه، له المان څخه وپېرودل شوه. پر (۱۳۱۷ل) کال په یکه توت کې د بروډکاسټ او د هغه د محلقاتو د ودانۍ او په پل باغ عمومي کې د سټډیو د ودانۍ کار پیل شو. همدارنګه د ښوونځیو (۲۵) تنه زده کوونکي د راډیو د تخنیک په برخه کې پر زده کړه مصروف شول. پر (۱۳۱۸ل) کال د استوونکې دستګاه او سټډیو لوازم

او سامان کابل ته راوړل شول او د مونتاژ کار یې پیل شو، د مونتاژ تر بشپړېدو وروسته پر (۱۳۱۹ل) کال د راډیو ازمېښتي خپروني پیل خو اساسي خپروني یې د (۱۳۲۰ل) کال له پیل سره پیل شوې.

تر پیل څخه بیا تر څو کلونو پورې د راډیو پروګرامونه چې هره ورځ تر پنځو ساعتونو نه زیاتېدل، په ژوندي ډول خپرېدل، د راډیو کارکوونکي لکه ویاند، تخنیکر، سندرغاړي او نور د موسیقۍ غړوونکي د یوه مهالوېش له مخې راډیوته حاضرېدل، د کار تر اجرا وروسته یې خپله حق الزحمه اخیستله او رخصتېدل. د هغه وخت د راډیو په خپرونو کې خبرونه، ادبي ټوټې، ټولنیز، روزنیز، روغتیایي مضامین او موسیقي خپرېدله. پر (۱۳۲۲) او (۱۳۳۱ل) کال په اردو او انګلیسي ژبو هم له همغو داخلي چینلونو څخه خپروني پیل او دوام یې وکړ. بهرنۍ نړۍ ته د افغانستان د پېژندني په خاطر په (۱۳۳۲-۱۳۳۷ل) کلونو کې د لنډو څپو یوه لس کیلو واټه او یوه پنځوس کیلو واټه دستګاه نصب شوه، چې پر دې وخت په یوه شپه او ورځ کې د راډیو خپروني (۱۲) ساعتونو ته رسېدې. پر (۱۳۳۸ل) کال د یو ځانګړي چاینل له لارې، د اردو، انګلیسي، الماني، روسي، عربي او وروسته په فرانسوي ژبو د خپرونو زمینه برابره شوه. د ګاونډیو هېوادو د اسیا د جنوب او جنوب ختیځ لپاره پر انګلیسي پروګرام سربېره پر همدې وخت د اروپایي هېوادو لپاره په انګلیسي ژبه یو بل پروګرام هم پر خپرونو پیل وکړ.

پر (۱۳۴۳ل) کال په انصاري واټ کې د راډیو د کاپي، نشر او نویو سټډیوګانو جوړېدل او له پل باغ عمومي څخه نوې ودانۍ ته د راډیو د ادارو لېږد، د راډیو خپرونو په نوې او عصري بڼې بدلون وموند، د

موسسې نوم چې مخکې د راډیو کابل په نامه یادېده، پر دې کال د راډیو افغانستان په نوم واړول شو.

پر (۱۳۴۲ل) کال د راډیو له نورو تجهیزاتو پرته د لنډو څپو یوه سل کیلو واټه دستګاه او د منځنیو څپو یوه سل کیلو واټه دستګاه هم په کار ولوېده او په دې ډول د راډیو افغانستان د خپرونو تولیز طاقت تر (۲۸۰) کیلو واټو زیات شو.

د راډیو د غږ د لاوچتیا لپاره پر ۱۳۵۵ل کال د منځنیو څپو درې ریلي دستګاوې، هره یوه د لسو کیلو واټو په طاقت د یوګوسلاویا له هېواده وپېرودل شوې او د کندهار، بلخ او هرات په ولایتونو کې وکارېدې. پر همدې وخت په منځنۍ کچه په یوه شپه ورځ کې د خپرونو وخت (۲۰) ساعتونو ته ورسېد.

پر (۱۳۶۱ل) کال د راډیو د خپرونو حجم (۲۹) ساعته او (۳۰) دقیقې شو، پر (۱۳۶۲ل) کال (۳۳) ساعته او (۳۰) دقیقو ته ورسېد او پر ۱۳۶۳ل کال په یوه شپه او ورځ کې په پنځو چینلونو کې د راډیو د خپرونو وخت (۵۱) ساعتونو ته ورسېد. تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته په یو شمېر ولایتونو کې محلي راډیوګانو پر فعالیت پیل وکړ. وروسته یې شمېر (۱۵) راډیویي مرکزونو ته ورسېد. چې هرې یوې په منځني حد (۳) ساعته خپرونې درلودې، چې مجموعي وخت یې (۴۵) ساعتونو ته ورسېده.

تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه د مرکز د راډیو د خپرونو حجم (۵۳) ساعتونو ته رسېده، چې (۱۸) ساعته یې په پښتو او دري ژبو چې بېلابېلې خپرونې یې په لمن کې رانغاړلې او نور وخت یې ځینو نورو خپرونو او بهرنیو ژبو ته وقف شوی و.

راډیو په اوونۍ کې (۹۵) بېلابېلې خپرونې درلودلې چې هرې اداري په خپله برخه کې خپلې خپرونې سمبالولې. دلته به د ځينو خپرونو نومونه واخلو:

- د قران کریم تلاوت او تفسیر
- دیني موعظې
- خاصه دیني خپرونه
- دهقان
- کارګر
- ترانه ها و سخن خان
- کورنی ژوند
- دنیای جوانان
- زن وزنده گي نو
- کار و زنده گی
- ما و شنونده گان
- اطفال
- ورزش
- از هر چمن سمنی
- جوانه ها
- شهر قصه
- فرهنگ مردم
- دهکده سبز کودکی
- نمایش رادیویی
- جام جم
- تبصره های سیاسی

- مروری به رویدادهای مهم هفته
- در ائینهء مطبوعات
- صدای سرباز
- در فروغ مصالحه
- کلوپ دوستداران قوای مصلح
- د ېرې مجلس
- رادیو دوست شما
- صدای سره میاشت
- جهان ما
- اقتصاد
- علمی
- بسوی اشتی ملی
- ما و کشور ما
- مجله رادیویی
- پیام صبحگاهان
- هفت اورنگ
- زمزمه های شب هنگام
- ترازوی طلایی
- شبچراغ
- ولولې
- شعرونه او بهیرونه
- دنیای کتاب
- گزارشها و گفتگوها
- سرود و سخن ادینه روز

ـ راډیو ډرام و راډیو داستان
ـ ملل متحد
ـ سپېدې
ـ در پرتو بازسازی
ـ څارندوی
ـ سیمای قهرمان
ـ غزل
ـ هوجرې مجلس
ـ سهارنۍ نذارنه
ـ موسیقی کلاسیک
ـ موسیقی حماسی
ـ موسیقی ولایت
او ځینې نورې خپرونې...

پر دې خپرونو سربېره په پشه یي، نورستاني، بلوڅي، ترکمني او ازبکي ژبو هم ځینې خپرونې کېدلې.

هغه اساسي خپرونې چې تر ۱۳۷۱ ل کال دمخه، د افغانستان تلویزیون ترتیب او خپرولې، ټولې(۴۸) خپرونې وې، دلته یې د نومونو یادونه کوو:
ـ د قران کریم تلاوت
ـ اسلام و جامعه
ـ اطفال
ـ زراعت و مالداری
ـ سرگرمیهای ورزشی
ـ راه زنده گی

ـ زن و جامعه
ـ مسابقه ذهنی
ـ کلوپ جوانان
ـ جهان ما
ـ کنسرتهای هنرمندان خارجی
ـ مستند فلمونه
ـ سریالونه
ـ اردو
ـ زنده گی سرباز
ـ شما و تلویزیون
ـ هفت شهر هنر
ـ مجله تلویزیونی
ـ کتاب دریچه بسوی جهان
ـ پاسخ چیست؟
ـ تیاتر تلویزیونی
ـ مشاعره
ـ فرهنگ مردم
ـ تلویزیوني سفر
ـ موسیقي رنگارنگ
ـ جهان حیوانات
ـ نگینه ها
ـ سینمایي فلمونه
ـ ساعتی با شما
ـ خارندوی د خلکو خدمتګار

ـ کلوپ دوستداران قوای مسلح

او ځینې نورې...

تر ۱۳۷۱ل کال دمخه د ټول هېواد په کچه (۱۷۴۸) تنو د هېواد په مرکز او ولایتونو کې په راډیو او ټلویزیون کې رسمي دندې سرته رسولې. چې له هغې جملې (۱۲۷۷) تنو په مرکز او (۴۷۱) تنو په ولایاتو کې دندې لرلې. دغه راز (۹۷۲) تنو په مرکز او (۱۹۴) تنو په ولایتونو کې د اجیرانو په توګه کار کاوه، چې د دواړو ټول شمېر (۲۹۱۸) تنو ته رسېده. کله چې د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر میاشت په کابل کې خونړي جنګونه پیل شول او ځلورنیم کاله یې دوام وکړ، نو د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو ترڅنګ راډیو او ټلویزیون ته هم تر تصوره اوچت درانه زیانونه واړول شول.

د BBC راډیو د یو خبر له مخې، د راډیو ټلویزیون دیو مسئول په وینا، د ۱۳۷۱ل کال په همغو څو لومړیو میاشتو کې راډیو ټلویزیون ته (۱۵) ملیونه امریکایي ډالره زیان اړول شوی و.

پر ۱۳۷۳ل کال د راډیو ټلویزیون رئیس (شمس الحق اریانفر) یوې غونډې ته د رپوټ په ترڅ کې وایي: ((د مرکز د ټلویزیون د اورېدنې او لیدنې یوازینۍ دستګاه تخریب شوې او له منځه وړل شوې ده، چې دا له لسو ملیونو ډالرو څخه زیات دی. د راډیو د لېږدونې شپږ دستګاوې کاملاً له منځه وړل شوي دي چې دا تر (۳۰) ملیونو ډالرو څخه زیات زیان دی. په شلو ولایتونو او ولسوالیو کې عملاً ټلویزیونونه موجود وو، چې دوه ثلثه یې له منځه وړل شوي او چور شوي دي.

په (۱۸) ولایتونو کې محلي راډیوګانې موجودې وې، چې درې په څلورمه برخه یې تخریب شوې او له منځه وړل شوې دي. په ټولو ولایتونو کې د راډیو د اخذې دستګاوې او په (۴۴) سیمو او ولایتونو کې ګرځنده سینمایي دستګاوې موجودې وې، چې نورې وجود نه لري.))

خو پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون مسوولینو د خپلو پاتې او له منځه تللیو وسایلو او وسایطو یوه څېړنه کړې او راډیو ټلویزیون ته رسېدلي زیانونه یې په دې ډول په ګوته کړي دي:

### ۱- په یکه توت کې راډیویي تاسیسات:

دا تاسیسات چې د منځنیو او لنډو څپو راډیویي استوونکې په کې شاملې وې او د جګړو له کبله تخریب شوي دي، د دې تاسیساتو اټکلیز زیان د تجهیزاتو په برخه کې (۳۰) ملیونه امریکایي ډالره او د ودانیو په برخه کې (۷) ملیارده افغانۍ اټکل شوی دی.

### ۲- په څرخي پله کې راډیویي تجهیزات او تاسیسات:

ددې تاسیساتو ټول تجهیزات له منځه وړل شوي او د تاسیساتو اکثرو برخو ته هم زیان اړول شوی. د تجهیزاتو په برخه کې دوه ملیونه امریکایي ډالره او د ودانۍ په برخه کې یو ملیارد افغانۍ زیان اټکل شوی دی.

### ۳- په اسمایي غره کې ټلویزیوني لېږدوونکي تاسیسات:

د ټلویزیون لېږدوونکي تاسیسات د جګړو په ترځ کې په بشپړ ډول تخریب شوي، چې د تاسیساتو د تجهیزاتو په برخه کې څلور ملیونه امریکایي ډالره او د ودانیو په برخه کې یو ملیارد افغانۍ زیان اټکل شوی دی.

## ۴- د راډیویي او ټلویزیوني سټوډیوګانو په برخه کې:

د راډیو ټلویزیون د سټوډیوګانو د یادونې وړ وسایل لکه مایکونه، راډیو، ټیپ ریکارډونه، امپلی فایرونه، د لایټ وسایل، ویډیو ټیپ ریکارډونه، ویډیو کسټ ریکارډونه، جنراتورونه، له لېږدوونکو سره د سټوډیوګانو د تړلو وسایل، مانیټورونه، د اډیټ او کاپي سیستمونه، اکثره له کاره لوېدلي او یا هم د توغوندیو د لګېدو له امله زیانمن شوي او له فعالیته غورځېدلي دي. دغه راز د برېښنا د نشتوالي له کبله د راډیویي او ټلویزیوني وسایلو، کسټو او ټیپونو د مناسبې نه ساتنې له کبله اکثره دا وسایل د ګټې اخیستې وړ نه دي. د دې موادو د بیا پوره کولو او اخیستلو لپاره دوه ملیونه ډالره اټکل شوي دي. همدارنګه د راډیو ټلویزیون یو زیات شمېر سامان الات غلا شوي، چې هغه لا په دې شمېر کې شامل نه دي.

## ۵- په ولایتونو کې د راډیو ټلویزیون تاسیسات:

په (۱۸) ولایتونو کې د راډیو ټلویزیون محلي سټوډیوګانې د هغو له کم طاقت لېږدوونکو دستګاوو سره موجودې وې. په اکثرو ولایتونو او سیمو لکه کندهار، فراه، شینډنډ، کندز، پکتیا، خوست، کونړ، غزني، نیمروز، هرات، ننګرهار، پروان، ارزګان، مقر او نورو ځایونو کې د راډیو ټلویزیون مرکزونه او د هغو تخنیکي امکانات یا په بشپړ ډول او یا هم قسماً تخریب شوي او یا چور شوي دي، چې دلته ورته اشاره کوو:

۱- د غزني د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:

د تجهیزاتو په برخه کې (۵۰۰) زره ډالره، د ودانۍ په برخه کې (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۲- د مقر د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:

تجهیزات یو ملیون ډالره، وداني (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۳- د خوست د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:

تجهیزات یونیم ملیون ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۴- د ګردېز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یوملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.
۵- د کلات د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو ملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.
۶- د کندهار د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو ملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.
۷- د هلمند د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو نیم ملیون ډالره، ودانۍ (۳۰۰) ملیونه افغانۍ.
۸- د فراه د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات، (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.
۹- دنیمروز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۴۰۰) ملیونه افغانۍ.
۱۰- د هرات د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.
۱۱- د ننګرهار د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یوملیون ډالر، ودانۍ دوه سوه ملیونه افغانۍ.

په نورو پاتې ولایتونو کې د راډیو ټلویزیون تاسیساتو ته په مجموعي ډول دوه ملیونه ډالره او درې ملیارده افغانۍ زیان اوښتی دی. په اداري او ټرانسپورټي برخه کې هم راډیو ټلویزیون ته په مجموعي ډول درې ملیارده او (۵۰۰) ملیونه افغانۍ زیان اوښتی دی.

## د راډیو ټلویزیون نا بشپړ کمپلکس ته رسېدلی زیان:

### ۱- د راډیو په برخه کې:

د ۱۹۸۰م کال د فبرورۍ میاشتې پر (۹) نېټه د افغانستان او «ډیموکراتیک المان» د حکومتونو ترمنځ یو تړون لاسلیک شو، چې د ختیځ المان له کریډیټ څخه، د راډیو ټلویزیو لپاره نوې ودانۍ او سټوډیوګانې جوړې شي. (۴/۵) ملیونه ډالره د المان له کریډیټ او (۲/۵)

ملیونه ډالره له دولتي کریډیټ څخه ددې کار لپاره بېل شوي وو. ددې پروژې د لاسلیک په لړ کې (۸/۵) ملیونه ډالره د وسایلو او تجهیزاتو لپاره په پام کې نیول شوي وو. ددې پروژې د بشپړېدو لپاره پنځه نیم کلونه وخت ټاکل شوی و. خو په افغانستان کې د سیاسي، پوځي حالاتو د خرابۍ او د المان د دولت د متخصصینو له خوا د خنډونو د رامنځته کولو له کبله د پروژې کار بشپړ نه شو او هغه وسایل او مواد چې د ودانۍ د بشپړونې لپاره راوړل شوي وو، هم د غلو او داړه مارانو له خوا چور او چپاول شول.

## ۲- د ټلویزیون په برخه کې:

د ۱۹۸۳م کال د جون پر دویمه نېټه د افغانستان او په هغه وخت کې د شوروي حکومت ترمنځ له افغانستان سره د تخنیکي مرستو په لړ کې د دریو داسې سټوډیوګانو د جوړولو په باب چې په سټوډیویي تجهیزاتو، ارتباطي مرکزونو، د کنټرول کمپلکس او د اندازه کولو وسایلو سمبال وي، خبرې پیل شوې. ددې درې سټوډیو ګانو لپاره (۱۰) ملیونه روبله په پام کې ونیول شول.

له دغه کریډیټ څخه (۴۱۸۶۰۰۰) روبله مصرف شول. د افغانستان د دولت له بودجې څخه (۵۳۰) ملیونه افغانۍ مصرف شوې. د شوروي د ړنګېدو په وجه دا پروژه هم نابشپړه پاتې شوه او مواد یې هم ټول غلا شول. ددې پروژې زیان (۷) ملیونه ډالره اټکل شوی دی.

## ۳- د شمشاد دستګاه ته رسېدلی زیان:

د شمشاد دستګاه چې په (۱۰) ملیونه ډالره پېرودل شوې وه او له هغې څخه بهر ته د ټلیفون کولو او د ټلویزیوني خپرونو د اخیستلو او لېږدولو لپاره کار اخیستل کېده، دوه ځلې د جګړو په ترڅ کې په توغندیو ولګېده. لومړی توغوندی د هغې د ټلیفوني او ټلویزیون کانالیزاسیون سیستم فلج کړ، چې له دې درکه (۱۵۰) زره امریکایي

ډالره زیان واړول شول، یو کال وروسته د توغوندیو ضربو د شمشاد د ټلویزیوني لېږدونو سیستم چې ولایتونو ته یې خپرونې ریلې کولې، له منځه یووړ او د یو توغوندي د لګېدو په وجه د هغې کاسه یا ډېش هم له کاره ولوېد، چې رسېدلی زیان یې لسګونه ملیونه ډالره اټکل شوی. په مجموعي ډول (۲۵۲) ملیونه ډالره زیان اړول شوی دی. دغه راز په همدې وخت کې د راډیو ټلویزیون د دفترونو وسایل هم لوټ شوي چې له دې درکه هم راډیو ټلویزیون ته د سل زرو ډالرو په شاوخوا کې زیان اوښت دی.

دا هغه زیانونه وو، چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه د میزان تر میاشتې پورې راډیو او ټلویزیون ته رسېدلي دي. کله چې د طالبانو اسلامي تحریک د کابل پر ښار واکمن شو، د راډیو په پروګرامونو کې کوم زیاتوالی رانغی، اوس په یوه شپه او ورځ کې نهه نیم ساعته خپرونې کوي. د راډیو افغانستان نوم (د شریعت غږ) راډیو په نوم اړول شوی. د رباني حکومت په ړنګېدو او د طالبانو د اسلامي خوځون په واکمنۍ سره دومره وشول، چې راډیو او ټلویزیون ته د هر ورځني زیان مخه ونیول شوه.

د راډیو او ټلویزیون پوره بیا رغونه او جوړونه او په پوره خپرونو سمبالول ډېر زیات مالي لګښت او وخت ته اړتیا لري چې دا دواړه په اوس وخت کې موجود نه دي. خو له دې سره سره بیا هم طالبانو د راډیو ځینې برخې ترمیم کړې او په ځینو ولایتونو کې محلي راډیوګانو بیا پر فعالیت پیل کړی. خو ټلویزیون لا تراوسه ګونګ دی، یا به د پخوانۍ ویجاړتیا او مالي ستونزو له کبله غلی وي او یا به یې هم چا پر خوله لاس ایښی وي او د بېلابېلو ګروهو په زنځیر به تړل شوی وي.

# د پوهنتوني کتابونو د چاپ اړتيا

دا ليکنه د طالبانو د واکمنۍ پرمهال، پــه (کابــل پوهنتــون) علمي مجله کې چاپ شوې ده او د پوهنتون د همغــه وخــت او حالاتو څرګندونه کوي.

دا خو ټولو ته څرګنده ده چې جګړه د تباهۍ او بدمرغۍ ستر لامــل دی. پر هره ټولنه چې د جګړې توپان تېر شي نو تر ډېره وخته بيــا پــه کې د نوي تمدن او فرهنګ راټوکېدل له ســتونزو ســره مــخ وي. تېــر فرهنګ او کلتوري شتمني يې هم لوټ او تالا شــي، او د نــوي او تېــر فرهنګ او کلتوري ارزښتونو ترمنځ يې په ځينو برخــو کــې د ارتبــاط مزي هم غوڅ شي.

زموږ پر هېواد هم همداسې يوه خونړۍ جګړه تېره شوه او لا تېرېږي. د همدې جګړې په ترڅ کې د ژوند هره برخه زيانمنه شوه، په تېره بيــا فرهنګي شتمنيو او ميراثونو درانه زيانونه وزغمل، کتابونه او خپرونې د هېواد د فرهنګ هغه برخه وه، چې په ډېره زياته کچه ورته زيان واړول شو. اټکل شل مليونه ټوکه کتابونه د ټول هېواد په کچــه لــوټ او لــه منځه يوړل شول. کابل پوهنتون چې د هېواد ستر روزنيز مرکــز دی، د جګړې اورونه يې پر سينې بل شول. د پوهنتون د مرکزي کتابتون لــه اټکل دوه مليونو ټولو کتابونو ډېر کم شمېر پاتې شو. د پوهنتون د ټولو پوهنځيو او ټولو څانګو کتابتونونه، درسي او مرستندوی درسي کتابونه

هم اکثره له منځه یوړل شول د هېواد یو شمېر نورو پوهنتونو تــه هــم ورته زیانونه واړول شول. تر جګــړې لــه مخــه د کابــل پوهنتــون پــه چاپخونه کې دومره درسي او مرستندوی درسي کتابونه چاپېدل، چې د پوهنتون د محصلینو درسي اړتیاوې یې تر زیاته حــده خړوبــولې. د پوهنتون چاپخونې د پوهنتون د استادانو تر (۲۶۰) عنوانو زیات داسې کتابونه خپاره کړي وو، چې د پوهنتون په تحصیلي نصاب کــې شــامل وو، خو تر جګړې وروسته د دې کتابونو ډېر کم شــمېر پــاتې شــو. تــر جګړې وروسته چې کله کابل پوهنتون تر (۱۸) میاشتني ځنډ وروسته یو ځل بیا پیل شو، نو د نورو ستونزو تر څنګ یــوه بنســټیزه ســتونزه همدا د درسي کتابونو نشتوالی و. استادانو په اکثرو ټولګیو کې د کتاب پرځای محصلینو ته نوټ ورکــاوه. د نــوټ ســتونزه دا وه او ده چــې د محصل او استاد ډېر وخت نیسي، استاد دې ته وخت نه پیدا کوي، چې محصل ته خپل ورکړی نوټ تشریح کړي، که استاد د وخــت د ســپما لپاره په ګړندي ډول نوټ ورکوي، نو کېدی شي ټول محصلین پر ټاکلي وخت ټول نوټ سم وانه خیستلای شي.

استاد هم د درس د تشریح او شننې لپاره پوره وخت نه شي ترلاسه کولای، مجبور دی پر ډېر لږ وخت محصل ته ډېر څــه وړانــدې کــړي. محصل چې ذهني ځواک یې په لومړي سر کې د نــوټ پــر اخیســتلو کارېدلی وي، د یو ډول ذهني ستړیا احساس کوي او د درس تشریحي برخې ته یې ذهن ښه تازه نه وي. د استاد د ذهن تازه ځواک په لومړۍ برخه (نوټ) کې کم شي، دویمې برخې ته یې لږ ذهني ځواک پاتې وي.

بله بنسټیزه ستونزه دا ده چې دا کار استاد او محصل تــه د یــو ډول ذهني لتې چانس په لاس ورکوي. استاد دې ته نــه اړوزي چــې نــوې

مطالعه وکړي او زده کوونکي ته نوي څه وړاندې کړي، فکر کوي چې پرته له دې هم درسي ساعت پر نوټ ورکولو باندې تېرېږي، نويو موادو ته څه اړتيا ده. په نتيجه کې د زده کوونکي او استاد ترمنځ د ښوونې او روزنې يو ډول تکراري او بې نوښته درسي سيستم رامنځته کېږي، چې استاد د نوې مطالعې اړتيا ته نه اړوزي او محصل د زياتو معلوماتو د جذب ځواک له لاسه ورکوي.

کابل پوهنتون له څو کلونو راهيسې له دې ستونزې سره مخامخ دی. د نړۍ په اکثرو او ان ټولو پوهنتونونو کې اوس دنوټ سيستم له منځه تللای دی، ځکه چې هلته د درسي موادو په ځانګړي ډول د چاپي درسي موادو هېڅ کمی نه شته. هر استاد په خپله تخصصي څانګه کې د خپل نصاب، وخت او د زده کوونکو له اړتيا سره سم کتاب ليکلی او چاپ کړی دی. زده کوونکي ( محصلين) له همغه چاپي کتاب نه ګټه اخلي. استاد په کتاب کې راغلي موضوعات تشريح کوي او د اړتيا پر وخت محصلينو ته نور کتابونه ور په ګوته کوي، چې د خپلو ستونزو د حل لپاره هغو ته مراجعه وکړي. په ځينو برخو کې لکچرنوټ يوازې د دې لپاره ورکول کېږي چې استاد کومه داسې موضوع څېړلې او شنلې وي، چې په کتاب کې د هغې يادونه يا نه وي راغلې او يا يې سرسري يادونه شوې وي. د کتاب تر چاپ وروسته زماني واټن کې نوې پرمختياوې او لاسته راوړنې هم د لکچر نوټ په بڼه ورکول کېږي، د کتاب په بيا چاپ کې دا نوې لاسته راوړنې هم په کتاب کې زياتېږي. په همدې ډول دا لړۍ دوام مومي. د پوهنتونونو د درسي سيستم کمپيوټرايز کول خو لا په ځينو پوهنتونو کې د کتاب د نشتوالي اړتيا هم له منځه وړې ده.

خو زموږ په پوهنتونونو کې پخوا هم د درسي ساعت يوه يـا دويمـه برخه نوټ نيوله او اوس خو ښځې زيات وخت پر نوټ ورکولو تېرېـږي. ښه نو چې داسې ده د حل کومه لاره هم شته او که نه؟

د حل څو لارې شــته: يــوه لاره داده چــې د پوهنتــون چــارواکي د پوهنتوني کتابونو د چاپ لپاره ځانګړې پانګه پيدا کړي، چاپخونــه لــه سره جوړه او ټول پوهنتوني درسي کتابونه له سره چاپ کړي.

که چېرې پوهنتون او يا پوهنتونونه په خپله ددې وس نه لري او يـا حکومت ددې کار لپاره پوره پانګه ونه لري او يا يې نه ورکوي، نو ښه به دا وي چې يونيسکو، د ملګرو ملتونو ځينو نورو اړوندو ادارو او خيريــه موسسو سره خبرې وشي، چې د پوهنتوني کتابونو په چاپ کــې لاس وکړي.

درېيمه لاره داده چې د ناچاپه پوهنتوني کتابونو يو لست برابر شــي، د هر کتاب عنوان، موضوع، مخونه او اټکليز لګښت وليکل شي، بيا دا لست يو شمېر هغو فرهنګيانو، فرهنګپالو، ملي سوداګرو او هېواد پالو افغانانو ته ولېږل شي، چې هر څوک د هر کتاب د چــاپولو وس لــري، همغه کتاب دې انتخاب او چاپ کړي. په دې ډول کېدی شي ګڼ شمېر کتابونو ته د چاپ لاره اواره شي.

بله لاره داده، هغه نشراتي موسسې چــې د خپلــې ځــاني ګټــې او هېوادني فرهنګ د خدمت لپاره کتابونه چــاپوي، هغــو ســره اړيکــي ټينګ شي او د يوه ګډ پلان او تفاهم له مخې د کتابونو د چاپ مســاله وڅېړل شي، کېدی شي مثبته نتيجه ترلاسه شي.

که پورتنيو ټولو لارو هېڅ نتيجه ور نه کړه، بله لاره داده چــې خپلــه استادان دې دا کتابونه په شخصي لګښت چاپ کړي او پــر محصــلينو

دې په تمام شوي قیمت او یا له هغه څخه (۵-۱۰) فیصـده لـوړه بیـه وپلوري. محصلین ددې ډول کتابونو د اخیستلو وس څکه لـري، چـې هغوی خو پرته له دې هم د نوټ لپاره ځانګړې کتابچـه اخلـي، کـه د ورځني نرخ له مخې د سپین کاغذ یـوې سـل مخیـزې کتـابچې او د اخباري کاغذ یو سل مخیزه کتاب قیمت سره محاسبه کړو نـو انـډول یې تقریباً برابر خبرې او که د محصل د قلم او وخـت لګښـت پـرې ور زیات کړو، نو کېدی شي کتاب لا ارزانه او ګټور پرېوزي.

ځینو کسانو سره کېدی شي دا پوښتنه پیدا شي چې اسـتادان خـو ځانته حیران دي، دوی ځانته ډوډۍ نه شي پیداکولای پاتې لا د کتاب چاپ، دا خو ډېر لګښت غواړي او یو استاد هېڅکله دومره نقدي پانګه نه لري.

په دې برخه کې باید وویل شي چې ډېرې داسې چاپخونې شته چې په مناسب قیمت کتاب چاپوي او هم د یو ټاکلي وخت لپاره پیسـو تـه صبر کوي. که یو استاد له چاپخونې سره د یو تړون له مخې په ټـاکلې موده کې د پیسو ورکړه ومني نو غټه ستونزه به پیدا نـه شـي. دلتـه اسانتیا داده چې که هر استاد د خپل مضمون د نوټ پر ځای محصل ته کتاب ورکړي، نو محصل د اړتیا له مخې مجبور دی کتاب واخلي، هغـه پیسې چې د نوټ لپاره یې پر کتابچې ورکولې اوس به یـې پـر کتـاب ورکوي. د کتابونو وېشل او د پیسو لاس ته راوړل په ډېر لږ وخـت کـې ترسره کېدی شي، مثلاً د سمستر پیل کې محصل مجبور دی، د نـوي مضمون کتاب راونیسي او دا لړۍ په پنځه ورځو کې ترسره کېدی شي.

د پوهنتوني کتابونو د چاپ په اړه پـر پورتنیـو څرګنـدو لارو چـارو سربېره کېدی شي، ځینې نورې لارې چارې هـم وي، چـې اسـتادان کولای شي په خپل فکر او سوچ هغه پیدا کړي، خو موږ دلته د ځینـو

څرګندو لارو چارو یادونه وکړه. که چېرې کابل پوهنتون او یا د هېـواد نورو پوهنتونونو لپاره پوهنتوني کتابونه چاپ شـي، نـو د محصـلینو پورتنۍ یادې شوې ستونزې به له منځه لاړې شي. دواړه، هم اسـتاد او هم محصل به د وخت د سپما له کبله زیات تفکر او کار ته وخت پیـدا کړي. علمي او فرهنګي پرمختیا به رامنځته شي.

اوس یو شمېر خپلواکو فرهنګي ټولنو پتېیلې چې د خپلو فرهنګـي خدمتونو په ترڅ کې د تحصیلي کتابونو چـاپ تـه د لومړیتـوب حـق ورکړي. دا ډول فرهنګي ټولنې چې یوازې فرهنګي او علمـي مـوخې تعقیبوي، کېدی شي په خپل کار کې زیاتې بریمنې شـي، ځکـه چـې دوی د وخت اړتیا احساسوي او سپېڅلی هدف تعقیبوي.

( د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه) چې په جرمني کې د یو شـمېر افغان لیکوالو او فرهنګیانو له خوا جوړه شوې ده او د خپـل دوه کلـن عمر په بهیر کې یې تراوسه ګڼ شمېر علمـي او تـاریخي اثـار افغـاني ټولنې ته وړاندې کړي دي، د نوښت دا ډیـوه پـه لاس کـې نیـولې او غواړي د هېواد د پوهنتونو لپاره په لومړي ګام کې هغه کتابونـه چـاپ کړي، چې په تحصیلي نصاب کې شامل دي. ددې ټولنې له خوا اوس د طب پوهنځي په تحصیلي نصاب کې شامل څو کتابونه تر کـار لانـدې دي، کېدی شي په نږدې وختونو کې چاپ شي. که دغه کـار او چـار د نورو فرهنګي ټولنو، فرهنګپالو، ملي سـوداګرو، حکومـت او یـا نـورو اشخاصو له خوا ګام پر ګام عملي شي، نو پوره باور دی چې په ډېـر لـږ وخت کې به د پوهنتونونو د محصلینو ټولې هغې ربړې له منځـه لاړې شي، چې د کتابونو د نشتوالي له امله ورته پیدا شوې دي.

# د افغانستان په ختيځ کې ژورنالستيکي هڅې

دا ليکنه په هغه يو ورځني علمي ورکشاپ کې اورول شوې وه، چې په ختيزو ولايتونو کې د ژورناليزم د پراختيا او ځوانو ژورناليستانو د استعدادونو د غوړېدو لپاره په ننګرهار کې د ميديوتيک دفتر له خوا، جوړ شوی و. وروسته بيا د سپوږمۍ جريدې د (۱۳۸۳ ل) کال په لومړۍ او دويمه ګڼه کې چې د نوموړي کال له وري-غبرګولي سره سمون خوي، خپره شوې ده.

د شمس النهار او سراج الاخبار جريدو تر خپراوي وروسته، چې په افغانستان کې د معاصرو ژورنالستيکي هڅو پيلامه ګڼل کېږي، په ولايتي کچه په ختيځ کې (اتحاد مشرقي) خپرونه له لومړيو ژورنالستيکي فعاليتونو څخه يو غوره فعاليت ګڼل کېږي، ( د کور غم) چې د وزير محمد ګل خان مومند په لارښوونه خپرېده، ( اتحاد مشرقي)، ننګرهار مجله، ننګرهار ورځپاڼه او جريده، زيتون مجله، لغمان جريده او په ختيځ کې په کونړ او ننګرهار کې د راډيويي او ټلويزيوني خپرونو تر پيله پورې ټول بهير له ګڼو ستونزو او يو څه برياليتوبونو ډک و.

په عمومي ډول دې بهير په ختيځ کې د جهادي تنظيمونو د واکمنۍ تر پايه پورې د ډېرو سختو اغزنو پړاوونو په وهلو ځان

راورساوه. د طالبانو په واکمنۍ کې ژورنالستيکي هڅو چې تر ډېره حده په خپرنۍ برخه کې افاده کېده، بله بڼه خپله کړه، پر ټلويزيوني خپرونو بنديز، په مطبوعاتو کې د زيروح انځورونو نه خپراوی او يو اړخيز مطبوعات د دې وخت د ژورنالستيکو فعاليتونو او خپرندويو وسايلو غټه ځانګړنه ده.

د ژورنالستيکي چارو د پوهانو په اند انځور يا تصوير د خبر د پراخوالي او پېښې د بيان يوه مهمه برخه ده، ان تر دې چې انځور د خبر روح ګڼي او بې انځوره خپرونې اصلاً بې روحه خپرونې بولي، نو که د طالبانو د واکمنۍ خپرونې څه په ختيځ کې دي او که په نور افغانستان کې، په دې معيار او محک وتلل شي، نو ددې وخت خپرونو ته به بې روحه خپرونې وويل شي، خو کله چې د طالبانو واکمني وپرځول شوه، نو په ټول افغانستان او همدارنګه په ختيځ کې مطبوعاتو، خپرونو او ټولو ژورنالستيکو فعاليتونو، نوی رنګ، نوې ساه، نوی قوت او نوی تحرک په برخه شول، بې شمېره ژورناليستان او ګڼې خپرونې راوټوکېدلې او يو زيات شمېر ژورناليستيکي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته شول او نور هم د منځته راتلو په حال کې دي، دا دوره په ختيزو ولايتونو کې د ژورنالستيکو هڅو يو غوره او بريمن پړاو ګڼل کېږي، خو دا دوره له خپلو ګڼو برياوو سره، سره يو شمېر نيمګړتياوې هم لري، چې بحث کول پرې په کار دي.

په مجموعي ډول په ختيځ کې ژورنالستيک فعاليتونه په همدې درې پړاوونو؛ تر طالبانو دمخه، د طالبانو له واکمنۍ او د طالبانو تر سقوط وروسته پېر کې مطالعه کېدی شي؛ د طالبانو د واکمنۍ او تر هغه دمخه مهال باندې دلته اوس څکه زياتې خبرې نه کوو، چې پخوا

**پرې هم زیاتې لیکنې شوي او دا پړاوونه اوس د تاریخ یوه برخه ده، خو غواړم تر طالبانو وروسته پړاو باندې لنډه رڼا واچوو:**

**لومړی- په ختیځ کې خپرونې:**

**الف- مجلې:**

**۱ -مینه**

**۲ -ډالۍ**

**۳ -مشرق**

**۴ -رڼا**

**۵ -سیلۍ**

**۶ -کاروان**

**۷ -پوهه**

**۸ -زیتون**

**۹ -غوښتنه**

**۱۰ -خوځښت**

**۱۱ -کونړ**

**۱۲ -انځور**

**۱۳ -الینګار**

**۱۴ -څرک**

**۱۵ -ننداره**

**۱۶ -ننګرهار (سقوط(**

**۱۷ -کمپیوټر او ټیکنالوجي**

**ب- جریدې:**

**۱ -څپه**

۲ -ولس غږ

۳ -سپوږمۍ

۴ -ښاخۍ

۵ -اوښکه

۶ -تلوسه

۷ -ځلا

۸ -شايق

۹ -نن

۱۰ -سپين غر

۱۱ -ختيځ

۱۲ -افغان يووالی

۱۳ -د لايټ(The light)

۱۴ -مهترلام

۱۵ -کاوون

۱۶ -لغمان

۱۷ -ځوان

۱۸ -ځوانانو غږ

۱۹ -ننګرهار

۲۰ -قلموال

۲۱ -نورستان

۲۲ -ژوند

۲۳ -اواز (کونړ(

ج- راډيويي او

ټلويزيوني خپرونې:

۱ -ننگرهار راډيو

۲ -شرق راډيو

۳ -کونړ راډيو

۴ -لغمان راډيو

۵ -ننگرهار ټلويزيون

۶ -افغان کېبل

۷ -شايق کېبل

د- د بهرنيو خپرونو استازيتوب:

۱ -بي بي سي راډيو

۲ -ازادۍ راډيو

۳ -امريکا غږ راډيو

۴ -ايران راډيو

۵ -ماښام په خير افغانستان راډيو

۶ -چين راډيو

۷ -الجزيره ټلويزيون

۸ -باختر اژانس

۹ IWPR -اژانس

۱۰ -د کليد، پخلاينې، مرسل او نورو خپرونو استازيتوب.

په مجموعي ډول په ختيزو ولايتونو کې د خپرندويه وسيلو ټول شمېر تر دې دمه تر (۵۵) خپرونو اوړي او دا د افغانستان په تاريخ کې په دې سيمه کې يو بې سارى ريکارډ دى. په طباعتي خپرونو کې يوه د يادولو وړ خبره داده، چې دا ټولې خپرونې د بېلابېلو عواملو له

امله پر خپل وخت نه خپرېږي او اکثره یې ټکنۍ، ټکنۍ خپرېږي، خو په راډیویي خپرونو کې څنډ ډېر کم لیدل کېږي، په ټولیزه توګه په ختیزو ولایتونو کې ژورنالیستیک فعالیتونه پر درېو برخو وېشل کېدی او مطالعه کېدی شي:

دولتي ژورنالستیکي فعالیتونه:

په ختیزو ولایتونو کې په مجموعي ډول ټولې پنځه دولتي خپرندویه وسیلې فعالیت لري. په لغمان کې یوه راډیویي خپرونه او یوه جریده، په کونړ کې یوه راډیویي خپرونه او یوه مجله، په ننګرهار کې یوه راډیویي، یوه ټلویزیوني خپرونه او یوه ورځپاڼه د دولت له خوا خپرېږي. دا خپرونې یو زیات شمېر تخنیکي ستونزې لري. د خپرېدو ساحه یې هم تنګه ده، ازاد فکر او ذوقي مطالب هم په پوره ډول نه شي خپرولای، نو ځکه یې د لیدونکو او اورېدونکو شمېر هم ډېر زیات نه دی. دولتي خپرونې اکثره وخت د اداري بیروکراسۍ او سیاسي اختناق له امله وده نه شي کولای او دا عملیه او قاعده په ختیزو ولایتونو کې هم تکرار شوې ده، خو دې سره ننګرهار ورځپاڼه د افغانستان په ټولو ولایتي دولتي خپرونو کې د اوچت معیار او ښه صحافت لرونکې ده.

ازاد ژورنالستیکي فعالیتونه:

ازاد ژورنالستیکي فعالیتونه اکثره ازادو، خپلواکو کلتوري ټولنو او اشخاصو له خوا ترسره کېږي، دا ډول فعالیتونه له مالي پلوه یا خپله د اشخاصو له خوا ترسره کېږي یا هم د ځینو خیریه موسسو او ملي پانګوالو له خوا تمویلېږي. دا ډول خپرونې وخت پر وخت د مالي

پانګې له کمښت سره لاس و ګرېوان وي او په همدې وجه زیاتره وخت له ځنډ او خنډ سره مخامخ وي.

په نادولتي خپرونو کې شرق راډیو یو ډېر غوره مثال دی، چې په ډېر کم وخت کې یې ډېر زیات اورېدونکي، مینه وال او لېوال پیدا کړل، شرق راډیو اوس د دولتي راډیو په پرتله څو ځله زیات اورېدونکي لري، دغه راز افغان کېبل او شایق کېبل ټلویزیوني خپرونو لیدونکي د دولتي ټلویزیون په اندول څو ځله زیات دي. په طباعتي خپرونو کې مینه مجله په ښه معیار چاپېږي او زیات لوستونکي لري، دغه راز ښاخۍ جریده، په طنزي برخه کې په ټول ختیځ او ان د افغانستان په کچه یوه ډېره غوره بېلګه ده، که څېرې د ښاخۍ صحافت ته زیاته پاملرنه وشي، نو د همداسې مطالبو په خپراوي سره کولای شي د ټول افغانستان په کچه په طنزیه خپرونو کې ریکارډ ټینګ کړي، خو اوس فکر کوم د مالي تنګسیا له امله د صحافت له پلوه خواره او ډنګره برېښي. په ازادو خپرونو کې یوه بله نیمګړتیا داده، چې پر ځینو خپرونو د هغو د چلوونکو شخصي ذوق او سلیقې تحمیل له ورایه څرګندېږي، د دې خپرونو ځینې چلوونکي پر دې نه دي بریالي شوي، چې د خپل ذوق او فکر له دایرې څخه بهر شي. یو کم شمېر خپرونې کېدی شي یوازې د شهرت لپاره پیل شوې وي او ډېر ژور هدف او مرام ونه لري، له ژبني پلوه په ختیزو ولایتونو کې د اکثرو خپرونو یوه ښه بریا داده، چې په یوه ژبني او لیکني معیار خپرېږي او دا کار د وخت په تېرېدو د ملت جوړونې له بهیر سره مرسته کوي، قبیله یي ذهنیت او سیمه ییزه لېوالتیا له منځه وړي. په ازادو خپرونو کې نه یوازې ګڼ شمېر ژورنالیستان او لیکوال پر کار

بوخت دي، خپلې تجربې پخوي او زیاتوي او ښه کدرونه ترې جوړېږي، بلکې یو زیات شمېر نوي ژورنالیستان او لیکوال هم روزي او په دې ډول په ټولنه کې د لیکوالو او ژورنالیستانو شمېر زیاتېږي. د خپرندویو وسیلو ترڅنګ ځینې فرهنګي ټولنو او اشخاصو هم د ځوانو لیکوالو او ژورنالیستانو په روزنه او پالنه کې برخه اخیستې، ښاغلي صدیق منصور انصاري، ښاغلي لعل پاچا ازمون، میدیوتیک، ایینې دفتر او د IWPR اژانس هم د لیکوالو او ژورنالستانو په روزنه او پالنه کې یاد وړ ونډه اخیستې ده.

بهرنۍ خپروندویه وسیلې:

د افغاني خپرونو ترڅنګ یو شمېر نورې بهرنۍ خپرونې چې د افغانانو لپاره د افغانستان په اړه خپرونې کوي، هم د ټول افغانستان په تېره بیا په ختیزو ولایتونو کې زیاتې مطرح دي. دا خپرونې د خپلو زیاتو مالي او تخنیکي امکاناتو په لرلو سره پر ازادو او دولتي راډیویي خپرونو دواړه غښتلي دي.

د پام وړ شمېر ژورنالیستان یا لیکوال په دې خپرونو کې بوخت دي، دې خپرونو د لیکوالو او ژورنالیستانو د اقتصادي ژوند د ښېرازۍ ترڅنګ د هغوی په روزنه، پالنه او د تجربو په زیاتونه کې کارنده رول لوبولی دی.

خبریالانو یې هم وخت پر وخت ددې سیمې د سیاسي، ټولنیزو، کلتوري او پوځي حالاتو په باب تازه راپورونه ورکړي دي. خلک اوس د افغانستان لپاره له بهرنیو راډیوګانو سره دومره روږدي شوي، چې هر تازه خبر له همغو راډیوګانو اوري، دولتي راډیوګانو نه د دې وس لري، چې تازه خبرونه په تازه ډول نشر کړي او نه هم  دومره

اورېدونکي، لنډه دا چې بهرنۍ راډیويي خپرونې او د هغوی خبریالان ډېرې زیاتې بریاوې او لاسته راوړنې لري، خو د دې ګڼو بریاوو ترڅنګ څه ناڅه نیمګړتیاوې هم شته او که نه هر څه شفاف دي؟ او شپه تیاره ده منې په شمار خبره عملي ده؟ فکر کوم بهرنۍ خپرونې او د هغوی سیمه ییز خبریالان هم یو لړ نیمګړتیاوې لري، چې دلته به په لنډ ډول ورته اشاره وکړو:

۱ -بهرنیو راډیوګانو یو شمېر کاري لیکوال، چې زیاته کاري تومنه یې لرله، د زیات اقتصادي امتیاز په ورکړې سره له خپل آر مسلک څخه لرې کړل، لیکوالي ترې پاتې شوه او اوس یوازې پر ژورنالیستیکي لیکنو بوخت دي او د ماشین د یوې پرزې په شان کار کوي.

۲ -کورنۍ خپرونې یې تر سیوري لاندې راوستې او د هغوی اغېز یې کم کړی.

۳ -یو شمېر لیکوال او ژورنالیستان د بهرنیو خپرونو له امکاناتو نه په ګټه اخیستنې خپلې شخصي کینې او عقدې راسپړي او د پېښو انعکاس، لکه څنګه چې دی هغسې نه ښيي.

۴ -یو شمېر خبریالان پر دې نه دي بریالي شوي، چې له خپلې شخصي عقدې، کینې، ذوق او سلیقې څخه راووځي او د ټولنې مثبتې څېرې او پېښې په مثبت او منفي کرکټرونه او پېښې په منفي ډول انعکاس کړي. د حق السکوت او د پېښې په باره کې افراط او تفریط د ځینو خبریالانو په رپوټونو کې لیدل کېږي.

۵ -د یو شمېر خبریالانو په رپوټونو کې بلیکیشن یا غبرګون لیدل کېږي، د دوه بېلابېلو راډیوګانو له خبریالانو څخه پر یو وخت یو ډول

رپوټ اوړېدل شوی، چې د خبر الفاظ هم تر زیاته حده یو شان و او سرچینې یې هم هماغه محدود اشخاص، دا سې ښکاري چې خبریالان د پېښې صحنې ته نه دي تللي، یو خبر جوړ کړی او بل ته یې ورکړی، هغه د وخت د کمي او یا هم د ذهني کسالت له وجې په ټول خبر کې یوازې یو څو الفاظ بدل کړي دي.

۶ -ځینې فریلانس خبریالان له سیمې او د پېښې له ځایه لرې رپوټونه برابروي، ځان ته تکلیف نه ورکوي، دا ډول خبریالان د خبر اصل حالت تر خپلې ځاني اقتصادي ګټې او فزیکي ارامتیا قربانوي او برسېرن رپوټونه برابروي او داسې یو لړ نورې نیمګړتیاوې، خو د نیمګړتیاوو په اندول د بهرنیو خپرندویو وسیلو ګټې زیاتې دي او د هغو د کار کوونکو کار د ستاینې وړ دی.

اوس راځو د خپلو ټولو خبرو نچوړ ته!

په اوسني وخت کې په ختیزو ولایتونو کې خپرنی بهیر تر بل هر وخت ډېر ښه روان دی، که دا بهیر همداسې دوام ومومي، نو د خبریالانو او لیکوالو شمېر به زیات شي، خپرونې به هم زیاتې او غوښنې شي او د لیکوالو او ژورنالیستانو کاري تجربه به لا هم زیاته او پخه شي او دا ټول کارونه به پای کې په دې سیمې کې د یو غوړېدلي ژورنالیزم ورېښمین شال خپور کړي.

# کلتوري یون او د فرهنګي تجربو تبادله

دا لیکنه په ننګرهار، لغمان او کابل کې د ځوانو لیکوالو او فرهنګیانو په علمي غونډو او ورکشاپونو کې اورول شوې او وروسته بیا له کونړه خپرېدونکې (غـونچې) مجلې د (۱۳۸٦ل) کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.

## د فرهنګي تجربو د تبادلې اړتیا :

په افغانستان کې د یو شمېر لویو محرومیتونو ترڅنګ یو هم فرهنګي محرومیت او فرهنګي فقر دی، چې ټول افغانان په تېره بیا دهېواد اکثریت ځوروي او کړوي.

د فرهنګي فقر د له منځه وړلو لپاره د سیاسي، اقتصادي، مذهبي او علمي لارو چارو ترڅنګ یوه لاره هم په خپله دفرهنګیانو او لیکوالو ځاني هڅې،دهغوی ګډ کار او د تجربو تبادله ده. د فرهنګي تجربو تبادله داسې یوه موضوع نه ده، چې له بهر څخه کټ مټ کاپي شي، بلکې فرهنګ او فرهنګي تجربه دیوه ولس د ټول ژوند دمادي او معنوي شتمنیو مجموعه ده. دا شتمني اکثره د یوه ولس د خپل ذهن او فکر زېږنده ده. البته هر ولس دخپل ژوندانه په اوږدو کې د فرهنګي شتمنیو دتبادلې اوبداینې خپل تاریخ لري. دهمدغو تجربو

او شتمنیو د تبادلې په نتیجه کې نړیوال کلتور رامنځته شوی او رامنځته کېږي.

اوس چې موږ دخپل فرهنګ د تاریخ په یوه حساسه مرحله کې یو، ملي فرهنګ او ملي هویت مو له یو لړ بهرنیو او کورنیو ګواښونو سره مخ دی، نو ددې ګواښونو دمخنیوي، رفعې او دفعې لپاره په کار ده، چې دهېواد ملتپال فرهنګیان دخپل ژوند ټولې فرهنګي تجربې یو بل سره شریکې کړي او د همدې تجربو په رڼا کې د خپل فرهنګ راتلونکی لید لوری او تګلوری وټاکي. دا لیکنه یا څرګندونې همدغو پوښتنو ته له سلګونو ځوابونو څخه یو ځواب او یو نوی پیل دی، چې که چېرې دا لړۍ وغځول شي او بډایه شي نو پوره باور دی چې ګټورې او مثبتې کلتوري پایلې به ولري. ددې لکچر په بهیر کې به ځینو هغو لویو موضوعاتو ته اشاره وکړو چې زموږ فرهنګي بهیر ورسره مخ دی او یا هم زموږ په کلتوري چاپېریال کې په یوه نه یو ډول مطرح کېږي؟

۱ -څوک فرهنګي شخص یا فرهنګیال دی؟ او دفرهنګي شخصیت معیار څه دی؟:

ترڅو پورې چې په یوه ټولنه کې د یوې موضوع یا شخصیت دتعریف او معیارونو په باب توافق موجود نه دی، ډېره سخته ده چې پر شخص توافق وشي، پر معیارونو توافق هم ساده خبره نه ده، دا هم د ټولنې په علمي پرمختګ او دخلکو د ذهني کچې په اوچتوالي پورې اړه لري، د استاد محمدصدیق روهي په وینا: ((په وروسته پاتې ټولنه کې د شخصیت معیار معلوم نه دی)) نو ځکه په کې د ټولنې خدمتګار خلک وده نه شي کولای، د استاد الفت په نظر هم په

**وروسته پاتې ټولنه کې (( تر خدمتګاره بادار ښه پېژندل کېږي)) او ددې غټ علت همدا دی چې د ټولنې د ذهن دتفکیک قوه کمزورې ده او یا هم دعقده یي، سیاسي، کلتوري، قومي او نورو ارزښتونو تلنه او اندازه سمه نه کېږي او یو تر بله قرباني کېږي، خو اوس مورډ د معیارونو او تخصص په نړۍ کې ژوند کوو، ترڅو چې د یو چا، شخص او څیز لپاره معیار او تعریف مشخص نه کړو او پر هغو توافق ونه کړو، نو ډېره سخته ده چې موږ د فرهنګي انارشۍ او د فرهنګي شخصیت دترور مخنیوی وکړو، دلته کېدی شي څو هغو معیارونو ته اشاره وکړو چې یو فرهنګي شخصیت له نافرهنګي هغو څخه بېلوي، چې دا څو ځانګړتیاوې او معیارونه دادي:**

**د فرهنګي شخصیت معیارونه:**

**الف- رسمي زده کړې**

**ب- نارسمي زده کړې**

**ج- کړی کار**

**د- دعقیده یي ارزښتونو درناوی**

**ح- دملي او وطني ارزښتونو پالنه**

**هـ- دکلتوري ارزښتونو درناوی او پالنه**

**او ځینې نور....**

**په دې ټولو معیارونو کې غوره معیار چې حساب پرې کېږي هغه کړی کار دی. که یو شخص نور ټول معیارونه پوره کړي، خو چې هېڅ فرهنګي کار ونه کړي، بیاهم فرهنګي شخصیت نه شي بلل کېدی. د یو چا فرهنګي شخصیت په حقیقت کې د هغه د فرهنګي کار محصول دی، که فرهنګي کار نه وي فرهنګي شخصیت عملاً نه شته.**

نور معیارونه البته د فرهنګي شخصیت رغنده توکو نه دي، خو دکار په شان محوري ځکه نه دي که هر یو ترې حذف کړو، فرهنګي شخصیت به څه ناڅه دا غمن شي، خو بې هویته به نه شي. خو که (کار) نه وي دفرهنګي شخصیت هویت له منځه ځي.

**۲ -فرهنګي ټولنې ولې رامنځته کېږي؟ :**

فرهنګي ټولنې د فرهنګي شخصیتونو یوه مجموعه ده. هغه کار چې په ځاني ډول یې سرته رسېدنه ناشونې وي، په ډله ییز ډول ترسره کېږي، دفرهنګي ټولنو لوی هدفونه دهمغې ټولنې د کلتوري کچې اوچتوالی، فرهنګي پرمختګ او ښېرازي ده. دفرهنګي ټولنو دجوړېدو فکر په پیل کې دیوه فرهنګي د ذهن زېږنده وي، وروسته همڅنګو ملګرو فرهنګیانو او بیا نورو فرهنګیانو ته غځېږي. پر ټولنه واکمن سیاسي اختناق یا ولسواکي، قومي، فرهنګي، سیمه ییز او شخصي رقابتونه هم د فرهنګي ټولنو دجوړېدو سبب کېږي. هر څومره چې په یوه ټولنه کې فرهنګي ټولنې یا کلتوري مرکزونه زیات وي، همغومره دفرهنګ او استعدادونو د غوړېدو لاره اوارېږي، دمشروع او نامشروع شهرت غریزه هم دفرهنګي ټولنو په جوړېدو کې خپل رول لري. د اقتصادي امکاناتو ترلاسه کول یې هم یو علت دی خو زموږ په ټولنه کې دا علت لږ کمزوری دی.

**۳ -فرهنګي ټولنې ولې له منځهٔ ځي:**

اکثره هغه عوامل چې د فرهنګي ټولنو د رامنځته کېدو سبب کېږي، که له هغو څخه انحراف وشي او یا هم هدفونه په ښه ډول

**تعقیب نه شي، نو دفرهنګي ټولنو د له منځه تللو لپاره لاره اواريږي.**

**دلته به يې ځينو غټو ټکو ته اشاره وکړو:**

**الف- که سیاسي اختناق تر حده زيات شي.**

**ب- قانوني ستونزې راولاړې شي.**

**ج- له ټولنې څخه نامشروع اقتصادي ګټه پورته شي.**

**د- ټولنه د شخصي رقابتونو ډګر شي.**

**هـ- په ټولنه کې يو شخص تر نورو زيات په مشروع او نامشروع ډول مطرح شي.**

**و- ټولنه له تخنیکي او مالي پلوه کمزورې شي.**

**ز- د ټولنې مکاني چاپېریال بدل شي.**

**حـ- په ټولنه کې دفرهنګي فعالیت په اندول سیاسي فعالیت زیات شي.**

**طـ- فرهنګي ټولنې له ځينو مذهبي او نورو ارزښتونو سره په ټکر کې شي او ځينې نور مسايل.**

**رسنۍ ولې رامنځته کېږي او ولې له منځهٔ ځي؟:**

**د ډله ييزو رسنيو د رامنځته کېدو عوامل او علتونه هم دفرهنګي ټولنو هغو ته نږدې دي، خو څه ناڅه توپيرونه هم سره لري. رسنۍ کېدی شي د يوه شخص، اشخاصو او يا هم يوه مشخص دولتي او نادولتي ارګان له خوا رامنځته شي او د چلولو اصلي عنصر يې همغه اشخاص وي، په رسنيو کې د آمريت او مادونيت، مرکزيت ، دسپلين اوانتفاع مسايل ډېر مطرح دي، خو په فرهنګي ټولنو کې د انتفاع پر ځای د تاوان احتمال هم شته، البته په افغاني ټولنه کې رسنۍ په**

تېره بیا چاپي رسنۍ هم نږدې په همدې کته ګورۍ کې راځي، خو ټولې رسنۍ بیا دا شان نه دي. دلته به د رسنیو په ډولونو او دهغو دکنترول پر محورونو هم لنډه رڼا واچوو. اوس موږ په خپله ټولنه او په تېره بیا په نړۍ کې له څو ډول رسنیو سره سروکار لرو:

الف- اورېدنۍ: لکه راډیویي خپرونې (کورنۍ او بهرنۍ) چې شمېر یې لسګونو ته رسېږي.

ب- لیدنۍ: تلویزیونونه ( کورني او بهرني.....(

دلته له هغو بهرنیو رسنیو څخه هدف دی چې د افغانستان لپاره خپرونې لري.

ج- چاپي: کورنۍ او بهرنۍ مهالنۍ او نا مهالنۍ چاپي خپرونې.

د- کتنۍ ( برېښناییزې): چې د انټرنیټ او نورو مخابراتي شبکو له لارې کتل کېږي.

ددې ټولو رسنیو دکنترول سرچینې او محورونه په دې ډول دي:

الف- دولتونه ( حکومتونه) ( کورني او بهرني(

ب- تنظیمونه یا ګوندونه

ج- انجیو ګانې

د- فرهنګي ټولنې

هـ- اشخاص

د محتوا له پلوه دا ټولې خپرونې مختلف مسایل خپروي، چې ځینې یې په دې ډول دي:

الف- دبهرنیو حکومتونو پالیسي

ب- د افغانستان دحکومت پالیسي

ج- هېواد پال، ملتپال او اسلامپال مسایل:

د- انجیویز اهداف
هــ- ژبنی، قومي، سیمه اوسیاسي اختلافات.
و- مختلف علمي، ادبي، ټولنیز، تفریحي، هنري، ذوقي او نور مسایل.

دخپرونو په دې ډولونو کې ځینې رسنۍ دتعرض، ځینې د دفاع او ځینې د نصیحت او منځګړیتوب په حالت کې دي. دا چې دا رسنۍ ولې له منځه ځي؟ دلته یې څو لوی علتونه په ګوته کوو:

الف- ځینې هدفمنې خپرونې دهدف په بري یا نابري سره پایته رسېږي.
ب- دمالي امکاناتو دبندېدو له امله له فعالیته غورځي.
د- دشخصي غریزو دخړوب او د شهرت دغریزې پوره کېدو له امله له منځه ځي.
هــ- دخپرونو په کاري ټیمونو کې د اختلاف له امله له فعالیته غورځي.
د- د مسوول چلوونکو دستړیا، دکار او دندې د چاپېریال دبدلون له کبله سقوطېږي.
او ځینې نور عوامل.

فرهنګي شخصیتونه ولې پر سیاسي شخصیتونو بدلېږي؟:

هره ټولنه چې وروسته پاتې وي، یا هم وروسته پاتې ساتل شوې وي، هلته دژوند په هر اړخ کې یو تن د څو تنو کار کوي او یا هم یو تن د څو تنو لپاره کار کوي. تخصص او مهارتونه کم وي او تیت وپرک کارونه ډېر. له یو ټاکلي مسلک څخه د ژوند دخړوب امکان هم کم

وي، نو ځکه خو په هېڅ برخه کې دقیق او سالم پرمختګ نه رامنځته کېږي. افغاني ټولنه کې هم دفرهنګي ښوونځي زده کوونکي او ښوونکي ددې جوګه نه دي چې دمسلک او فرهنګي کار له لارې خپل ژوند خړوب کړي، نو دوی هم اړ دي چې فرهنګي کارونه یوازې دخپل ځاني، وطني او ملي درد او احساس له مخې ترسره کړي او دخپل فزیکي ژوند دخړوب لپاره دویم یا درېیم ډول کار ته لاس واچوي. په دې ډول کارونو کې یو هم سیاسي فعالیت او کار دی، چې زموږ د افغاني ټولنې یو شمېر لیکوال پر همدې برخلیک اخته کېږي، یانې خپلې ټولنیزې هڅې له فرهنګي کاروزیاره پیلوي او پر سیاسي مبارزو یې پای ته رسوي.

ددې کار ځینې لوی علتونه کېدی شي، دلته په ګوته کړو:

الف- په افغاني ټولنه کې د فرهنګي او سیاسي مبارزې دامتراج یو اوږد تاریخ او دود موجود دی. امیر کروړ، روښان، خوشال خان، میرویس نیکه، احمدشاه بابا، وزیر محمدګل خان مومند او ځینې نور یې غوره بېلګې دي، چې هم فرهنګیان او لیکوال وو او هم سیاستوال، نو دا دود تر اوسه هم روان دی.

ب- لیکوال او فرهنګیان دژور سیاسي او اجتماعي شعور او حساس ذهن څښتنان دي، دوی له سیاسي پېښو څخه زیات متاثره کېږي، نو ځکه خو یو شمېر لیکوالو خپل قلم هم دسیاسي افکارو د انعکاس لپاره استخدام کړی دی.

ج- دسیاسي او فرهنګي کار د اقتصادي امتیاز انډول هم سره برابر نه دی، د دواړو په وزن کې د پښ ( اهنګر) او زرګر دګوزارونو مثال پروت دی. د استاد خادم په وینا په یوه ټولنه کې عالم د یوه

ګروندګر مثال لري، چې تخم کري،   لیکوال او شاعر دیوه پالونکي چې هغه ته اوبه ورکوي او سیاستوال بیا هغه څوک دی چې ددې کروندې وړی یا ثمر اخلي. د یو پښتون سیاستوال شېرعلي پاچا په قول، ((سیاستوال په ټولنه کې دیوه قومندان حیثیت لري، چې امر کوي او امتیاز اخلي)) دسیاست ددغه امتیاز له کبله د یو شمېر لیکوالو سیاسي لوری درنېږي.

د- ځینې لیکوال غواړي سیاست دفرهنګي کار د بري لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي، دا ډله په دې نظر دي تر هغه چې سیاسي واک و ځواک ورسره نه وي، خپل فرهنګ او ژبې ته په اساسي ډول کار نه شي کولای، نو سیاست چې د قدرت اساسي کیلي ده، باید لومړی دا کیلي ترلاسه شي. دوی په دې نظر دي چې فرهنګ د قدرت په وسیله او اخلاق د عبادت په وسیله تقویه کېدلای شي.

فرهنګي شخصیتونه ولې مسخه کېږي؟:

په یوه ټولنه کې چې د شخصیت پر تعریف توافق موجود نه وي، یوه شخصیت په تېره بیا یو فرهنګي شخصیت زیات متاثره کېدلای شي. زموږ په ټولنه کې دفرهنګي شخصیت مسخه کېدنې عوامل زیات دي، غټ یې هغه دي چې خپله دلیکوالو او فرهنګیانو له خوا یو د بل پر ضد کارول کېږي، موږ به دلته د یوه فرهنګي شخصیت دزیانمنولو او ځینو هغو عواملو ته اشاره وکړو چې اوس اوس زموږ په ټولنه کې موجود دي:

۱ -یوه عامه او دودیزه قاعده خو همدا ده چې دلته مړي پالل کېږي او ژوندي غندل کېږي (( یانې په مړو کې بد او په ژوندیو کې

ښه نه شته.)) که څه هم په وروستۍ لسيزه کې د ژونديو فرهنگيانو ستاينه او نمانځنه هم پيل شوې، خو بياهم دژونديو او مړو ترمنځ انډول برابر نه دی.

۲ -دليکوالو ترمنځ نامشروع رقابت ددې سبب کېږي، چې يو د بل شخصيت تخريب او کمزوری کړي او دفرهنگي کار پر ځای خپله انرژي شخصي رقابت ته واړوي. ديوه فرهنگي له خوا د بل فرهنگي دتخريب بهير څو پړاوونه لري:

الف- په زړه او ذهن کې يو د بل پرضد دحسادت دعقدې ټوکېدل.

ب- يو د بل پرضد دخصوصي او شفاهي تبليغ پيل.

ج- يو د بل پرضد دعلني تبليغ پيل.

ح- يو د بل پرضد په خپل او بدل نامه د ليکنو او چاپي او نورو خپرونو پيل.

د- له رسمي او نارسمي لارو چارو يو د بل د ودې مخنيوی.

د ليکوالو ترمنځ دا بحران ددې سبب کېږي، چې زياته انرژي يې په دې کشمکش کې مصرف شي او فرهنگي کار ته يې لږه انرژي پاتې شي، دا بحران هغسې يوه خپلمنځي جگړه ده، چې کله کله ورسره د يوه هېواد وگړي او يا هم ځينې سياسي تنظيمونه لاس و گرېوان شي او په نتيجه کې دهغه هېواد د ويجاړۍ او دهمغو گوندونو دړنگېدو او پيکه کېدو سبب شي.

دليکوالو ترمنځ دا ډول بحران هم په پای کې د ليکوالو دخپل شخصيت دسپکاوي سبب گرځي او د يوې ساري ناروغۍ په څېر تر هغو کشر نسل ته هم انتقالېږي.

**د فرهنګي ټولنو او فرهنګي شخصیتونو د خوندیتوب لارې:**

**څرنګه چې په هره ټولنه کې هر ډول ناروغي وي، نو د هر مرض لپاره یو علاج هم وي، که هر څوک پر خپل وخت او پرخپل ځای د ناروغۍ له تشخیص سره سمه نسخه وکاروي، نو کېدی شي دناروغۍ مخنیوی وشي او مخکې تر دې چې ټوله ټولنه پرې ککړه شي، ناروغي وقایه شي، طبیعي خبره ده چې دفرهنګي ناروغیو او ستونزو متخصصین خپله فرهنګیان دي، نو دوی باید دعلاج غوره لارې چارې په ګوته کړي. دلته به په لنډیز سره ځینو لارو چارو ته ګوته ونیسو:**

**۱ -د فرهنګي ټولنو دخوندیتوب او بریاوو لپاره:**

**الف- که دیوې ټولنې مسولین او غړي غواړي، ټولنه یې ښه وځلېږي او ښه پرمختګ وکړي، باید ټول مالي حسابونه یې شفاف وي. د اختلافاتو یو غټ عامل هم مالي مسایل دي، چې د ټولنې دغړو ترمنځ ناسم پوهاوی او کله کله ((سوء تبسم)) پیداکوي.**

**ب- په پښتنو کې پر مشرتابه د توافق بحران له همغه پیله پر خپل ځای پاتې دی، ددې لپاره چې دمشرتابه بحران ټوله ټولنه له ګواښ سره مخامخوي، نو ښه به دا وي چې د فرهنګي ټولنو مشرتابه دوراني بڼه خپله کړي او هغه اشخاص چې دمشرتابه لېوال وي، هغوی ته به هم په نورمال ډول نوبت ورسېږي او دمشرتوب لېوالتیا به دعقدې پر بحران بدله نه شي.**

**ج- هغه څوک چې په ټولنه کې ډېر زیات فعالیت لري او یا زیات باسواده وي، کوښښ کوي، چې ټولنه کې زیات کارونه ترسره کړي،**

خو هڅه دې وکړي، چې ځان ډېر مشهور او مطرح نه کړي، ځکه دده دامطرح کېدنه دټولنې دنورو تنبلو او کم استعداده غړو دکینې سبب ګرځي او دا کینه وروسته پر کشمکش بدلېږي او ټولنه ړنګېږي.

د- ټولنه باید ددې ظرفیت پیدا کړي، چې دخپل ژوند د بقا لپاره دوراني مالي پانګه ترلاسه کړي او دنزولي حرکت پرځای لوړ حرکت وکړي.

هـ- د ټولنې د اثارو په چاپ کې دې د ټولنې دغړو او نورو اشخاصو او د اثارو دمحتوا په باب دتوازن او تناسب دواړه اصلونه په پام کې ونیسي.

و- ټولنه دې له اقتصادي او فکري پلوه د یو یا څو تنو اشخاصو له انحصاره ووځي، ځکه که انحصار زیات او قوي وي، دهغو په حذف سره د ټولنې د ړنګېدو خطر زیاتېږي.

ز- فرهنګي ټولنې یوه له بلې سره دهمکارۍ او ګډ تفاهم له لارې هم کولای شي یو شمېر ګواښونه او خطرونه له منځه یوسي.

د فرهنګي شخصیتونو دخوندیتوب او بریاوو څو لارې چارې:

د فرهنګي شخصیتونو خوندیتوب لارې چارې هم زیاتې دي، چې ځینې دولتي ادارو او فرهنګي ټولنو پورې اړه لري، خو موږ دلته یوازې هغو لارو چارو ته اشاره کوو، چې خپله دلیکوالو په لاس کې دي او د یوې دقیقې ارزونې له مخې کولای شي، هغه په سمه توګه وکاروي:

الف- کله چې یو لیکوال پوه شو، بل لیکوال ورسره دمشروع او نامشروع رقابت له امله کینه کوي، دی دې ورسره د ورته عمل

پرځای ښه وکړي، دا کار ددې سبب ګرځي چې دهغه کینه دویم پړاو ته داخله نه شي.
ب- که یو لیکوال دلیکنې ترمرحلې دمخه دشفاهي تبلیغ په پړاو کې وي، نو مقابل لیکوال دې هڅه وکړي خپل عکس العمل دیوې ګیلې په توګه ورته مطرح کړي او هېڅکله دې ورته عمل نه ترسره کوي، که ګیلې هم کار ونه کړ ځان دې بېخي غلی کړي، دهغه کینه دشفاهي تبلیغ په ترسره کولو سره سرېږي.
ج- که یو لیکوال د بل پر وړاندې خپرنی لیکنی تبلیغ پیل کړ، نو بیا دې هم ځان غلی کړي، ځواب دې نه ورکوي، ځکه که ځواب یې ورکړ هغه داسې تصور کوي، چې زما لیکنه اغېزناکه وه، نو که همداسې بې تفاوته پاتې شي، دلیکنې ارزښت له منځه ځي او د وخت په تېرېدو سره هغه لیکوال هم له خپلې لیکنې پښېمانه کېږي او دا پر معترض لیکوال د هغه بل لیکوال یو اخلاقي پور پاتې کېږي. انسان په تېره بیا لیکوال په تحت الشعور کې پاک وي خو شعور یې هغه دمشروع او نامشروع ځاني ګټو خوندیتوب ته هڅوي، نو کله چې بیا لیکوال خپلې تحت الشعور ته مراجعه کوي، هلته بیا خپله تېروتنه مني.
د- ځینې واړه یا هم مبتدي لیکوال غواړي، خپل ځان او یا هم خپله خپرونه ژر او تر وخت دمخه شهرت ته ورسوي، نو دا ډول لیکوال هم غواړي پر یوه پوخ او مطرح لیکوالو داسې پرځای او بې ځایه اغېزمنې نیوکې وکړي، چې هغه غبرګون ته راکاږي او د لوستونکیو پاملرنه راواړوي. نو ددې لیکوالو پر وړاندې هم باید هېڅ ډول غبرګون ونه ښودل شي. ځکه دغبرګون په حالت کې ډېره ګټه معترضین کوي، خو که غبرګون ونه ښودل شي نو دا ډول لیکوال او

خپرونه یې په اسانۍ شهرت ته نه رسېږي او د وخت په تېرېدو سره له خپل کاره پښېمانېږي.

هــ- د ټولو خپرندیو وسایلو مسولین باید هېڅکله هم هغه لیکنه او وینا خپره نه کړي، چې د شخصي عقدې پر بنسټ لیکل شوې وي. ځکه که عکس العمل څرګند شي، نو هغه کې به هم پرځواب سربېره څه ناڅه د بل شخصیت ته لاس غځول کېږي، څو ځله چې دا عمل تکرار شو، خبره تر انتقاده عملي انتقام ته وځي.

و- لیکوال باید یوازې هغو ډول لیکنو ته ځواب ورکړي، چې دعلمي، سیاسي او ملي مسایلو په برخه کې د ابهام د تشریح غوښتونکي وي، که دې ډول انتقادونو ته چوپه خوله پاتې شي نو ددې مانا ورکوي، چې لیکوال د دلایلو په وسله سمبال نه دی.

ز- لیکوال دې بل سره د سالم رقابت پر ځای د خپلې سویې د اوچتولو لپاره هلې ځلې وکړي. دلیکوالۍ لپاره ټول اوسني وسایل، لکه کور، کتابتون، کمپیوټر او انټرنیټ دې برابر کړي یو ساعت د خپل ځان لپاره کار کول د بل پر ضد تر لسو ساعتونو کاره غوره او مثمر دی.

حــ- لیکوال  باید د زغم او تحمل کلتور لومړی پر خپل ځان او بیا په ټولنه کې عام او دود کړي.

# د ((پسرلي)) د فکر پسرلی

**دا لیکنه د استاد محمدصدیق پسرلي په هغه نمانځغونډه کې اورول شوې ، چې دده په ویاړ د غزني ولایت د فرهنگیانو لـه خوا په غزني ښار کې جوړه شوې وه. دالیکنه وروسته د ښکلا مجلې د (۱۳۸٦ل) کال په (۵)مه گڼه کې هم چاپ شوې ده.**

شعر پوهانو او ادبپوهانو د شعر په اړه تراوسه پورې ډېرې خبرې او شننې کړي دي، خو تراوسه پورې لا د شعر پر یوه نـړه، کـره، پـوره او بشپړ تعریف بریالي شوي نه دي.



خو هر کله چې د شعر په اړه خبرې کېږي، د شعر جوله یا شکل او محتوا تر هر څه دمخه د بحث موضوع گرځي. د شعر محتوا د شعر پر اند او فکر راڅرخي او د شعر جوله بیا د شعر د کلیمو پر سکښت او رغښت، وزن او اهنگ او د هغو پر مناسب اوډون راگرځي، چې دا ټول بیا د شعر د ښکلا رغنده عناصر بلل کېږي.

ځينې شعر پوهان د شعر شکلي او ښکلاييز اړخ تــه زيــات ارزښــت ورکوي او وايي: ((د شعر غايه اصلاً ښکلا ده))، خو ځينې نور بيا فکر يا مانا د ښکلا يوه برخه ګڼي او وايي، هغه شعر چې ښکلا ولري او مانا ونه لري، داسې وي لکه سرې چې سرېتوب ونه لري. شعر پوهان همدارنګه د شعر شعريت د فکر او ښکلا امتزاج ګڼي او د يوه شعر لپاره يې داسې حتمي او لازم بولي، لکه د يوه سړي لپاره چې سړيتوب ضروري او لازم دی. خو په شعر کې پر هر فکر باندې ډېر ټينګــار ځينــې ســتونزې او خطرونه هم لري. پر شعر باندې د فکر ډېر دروند بار شعر لــه شــعريت څخه شعاريت ته راکاږي، دا کار د شعر ښکلا ته زيان رسوي او له شعره چې ښکلا لاړه شي، نو بيا هغــه، ذوق او شــوق نــه شــي خړوبــولای، عواطف نه شي مستولای او ولولې نه شي راپارولای. که په شعر کــې د ښکلا عنصر کمزوری او له منځه لاړ شي، نو شعر پر عادي نظم او خبرو بدلېږي او د هنر له دايرې څخه بهر کېږي.

له همدې امله شعر پوهان نسبي ښه شعر هغه ګڼــي چــې د فکــر او ښکلا موازي حرکت په کې تضمين شوی وي. موږ چــې کلــه د پښــتو کلاسيکې او بيا اوسنۍ شاعرۍ ته نظر کوو، نو پر يو شمېر ډېرو مطرحو شاعرانو، د شعر پوهانو دا وروستی فورمول د تطبيــق وړ ګرځــي. پــه اوسني شعري بهير کې يوه مطرحه څېره استاد محمد صديق پســرلی دی، چې همدې فورمول ته ور داخلېږي. دده شاعري د الفت صــيب د وينا په مصداق ((د لوړ خيال او ژور فکر)) امتزاج دی. له لوړو خيــالونو او ژورو فکرونو د راټوکېدلې شاعرۍ درک همداسې يــوه ژور ســوچ او يوه لوړ تخيل ته اړتيا لري. دا ډول شاعران ډېر مشهور او نوميــالي نــه وي، خو شاعري او هنر يې ډېر متداوم او مقاوم وي. مينه وال او لېــوال

يې هم زيات نه وي، يوازې د فکر او ذوق خاوندان ترې خوند اخيستلای شي.

کله چې موږ پسرلی صاحب او د هغه شاعري مطالعه کوو، نو ګورو چې پسرلی د خپل ژور هنر په اندول په ټولنه کې زيات مشهور نه دی او کله چې د هغه شاعري شنو، نو له دې واقعيت سره مخامخېږو، چې په يو ځل لوستلو د هغه د شاعرۍ د مانا تل ته نه شو ورکښته کېدلای او که څوک غواړي د هغه د شاعرۍ پر رمزونو پوه شي، نو د هغه د هر شعر څو ځله لوستنې ته اړتيا پېښېږي. له دې څخه دا نتيجه اخلو، چې د پسرلي شاعري نه د عوامو لپاره ده او نه د خواصو لپاره، بلکې په خواصو کې هم د خواصو لپاره ده. په دې مانا چې دده شاعري د عوامو، ځينو روڼاندو او د ټولنې د نورو پاړکو تر ذهني کچې اوچته ده، يوازې شاعران کولای شي دده له کلامه خوند واخلي او پند ترلاسه کړي، په شاعرانو کې هم بيا يوازې ((شاعران)).

ستا مخته مې اوښکه چې له سترګو بهېدلې وه
خپله ببوسي مې په لېمو کې رغړېدلې وه
کومې يوې راشې ته برکت برکت ووايم
زما دانه خو وړاندې تر کرلو سوځېدلې وه
خپلو پښو ته سل ځله رامات يې تجربو کړ سر
هر څو که نقشه راته د ښه ژوند ځړېدلې وه
ما وې زه به سيورى شم او پښو ته به دې ولوېږم
ځوانه غرځنۍ وه له خپل سيوري رمېدلې وه
ما کرل رېبل چې اوس به لاس د يارۍ راکړي وخت
پوه نه وم چې دا کيسه انجام ته رسېدلې وه.

دا او دې ته ورته غزلې داسې نه دي، چې په یو ځلې او اني ډول یې ټول خوند او مانا د لوستونکي او اورېدونکي ذهن ته ور ولېږدي، هر څوک چې د پسرلي صاحب شاعري لولي، نو په خپل ذهني لابراتوار کې به یې تجزیه کوي او تحلیلوي او بیا به ترې د مانا کوچ راوباسي.

خپله شاعر د ژورې مطالعې او ژور نظر خاوند دی، هغه چې هر څه لیکلي په درد یې لیکلي او په فکر یې لیکلي، هغه د فکري بلوغ پر داسې یوې پوړۍ ولاړ دی، چې نور یې د تزلزل او ښویېدو خطر نه ګواښوي او خپله چې هر څه ټولنې ته وړاندې کوي، تر ډېر اوږده تحلیل او د پرله پسې مطالعې او تجربې د نچوړ او غورچاڼ په نتیجه کې یې وړاندې کوي.

یو غربي لیکوال فرانسیس بیکن شاعران پر دریو کټګوریو وېشي:

۱- هغه ډله چې هېڅ ډول مطالعه نه کوي او هر څه چې وړاندې کوي، هغه یې د خپلې ګېډې او خپل فکر محصول وي، داډول شاعران د غنې مثال لري، چې له خپلې خولې تارونه باسي او له بهر څخه هېڅ هم نه اخلي.

۲- هغه شاعران چې د مېږیو خاصیت لري، ټول عمر غله دانه راټولوي او بېرته هېڅ هم نه ورکوي، دا کټګوري شاعران هم د نورو په فکر او تجربو شخوند وهي او وخت تېروي.

۳- هغه شاعران دي چې لکه د شاتو د مچیو په شان پر ګلونو ګرځي، شیره راټولوي او تر ډېر زیات زحمت او کړاو وروسته یې پر شاتو بدلوي او بیا یې لوستونکو ته وړاندې کوي.

څوک یې مني او که نه؟ خو زما په نظر پسرلی صاحب د همدغې درېیمې کټګورۍ په سر کې ځای لري، خو زه په کې دا زیاتونه هم کوم،

چې د پسرلي د ذهن شات بیا په شاتو کې د ببرې اوپلوسې شــات دي، چې زحمت یې هم زیات دی او قیمت یې هم لوړ، یــوازې هغــه څــوک ددې شاتو پر قیمت پوهېږي چې د ذهن مچۍ یې ددې ونو او بوټــو پــر ګلانو خپل وزرونه غوړولای شي.

په کیسه ییزو اثارو کې کرکټرونه د کیسې د بشپړاوي یو مهم عنصر ګڼل کېږي او دا خبره هم معموله ده چــې پــه خپلــه لیکــوال چــې د کرکټرونو پنځوونکی دی، خپله د کرکټرونو تر شا ولاړ دی او ډېر ځلــه خو داسې هم کېږي، چې اصلي کرکټر خپله لیکــوال وي او دا عملــي کرکټر د هغه عکس یا ممثل وي. د شکسپیر د یو شمېر ډېــرو بریــالیو ډرامو یو راز دا ګڼي، چې ددې ډرامو اصلي کرکټر خپله لیکــوال یــانې شکسپیر دی، هېڅ ممکنه نه ده، هغه پټ درد او روحي حالت چې پــه خپله پر لیکوال نه وي تېر شوی، هغه دې د یوه بل کرکټر په وجود کې څرګند او تمثیل کړي، دغسې په شعر کې هم کرکټر او کرکټرونه شته، خو د شعر اساسي او مرکزي کرکټر په خپله شاعر دی.

کله چې موږ د پسرلي صاحب شاعري د فکر له پلوه څېړو، نو هلتــه موږ ته خپله پسرلی صاحب سترګو ته درېږي، ماضي یې څه وه؟ حــال یې څه دی؟، ټولنیز، افاقي او سیاسي شخصیت یې څنګه و او څنګــه دی؟ موږ چې خپله اوسنۍ شاعري پــه تېــره لــه (۱۳۵۷-۱۳۸۵) پــورې څېړو، نو له فکري پلوه درې کټګورۍ شاعران یا فکري کرکټرونه مو تر سترګو کېږي:

۱- هغه ډله شاعران یا ناظمان دي، چې پــر منکســره فکــري لیکــه تللي، په دې مانا چې فکري بلوغ ته نه دي وررسېدلي، پر شعر یا نظــم لیکلو یې پیل کړی و، دې ډلې اشخاصــو داســې فکــري لــوړې ژورې

ولیدلې، چې تر پایه پر دې بریالي نه شول، چې ځانته خپله لاره غــوره کړي. په هر پړاو کې چې دې شاعرانو کوم شعرونه خپاره کــړي وو، پــه بل سیاسي یا فکري پړاو کې هغه چاته د ښودنې نــه وو، پــه دې کــې داسې شاعران هم شته چې د خپل ځان او خپل تېر فکر پر ضد یې هم په اصطلاح شعرونه ولیکل.

۲- هغه ډله شاعران چې پر منحني فکــري لیکلــه تللــي، دې ډلــو شاعرانو هم ډېرې فکري تېروتنې او ښویېدنې کړي، خو دې حد تــه لا نه دي رسېدلي، چې د خپل ځان او فکر پر ضد هم لیکنه وکړي.

۳- دریېمه کټګوري هغه شاعران دي، چې شعري او فکري بلوغ یــې پر یو وخت پیل شوی، دوی یو مستقیم فکري خط تعقیب کــړی او لــه خپل هنر سره یې فکر هم خلکو ته وړاندې کړی دی، دوی په هنر کــې فکري ښویېدنې، تېروتنې او جاروتنې نه دي کړي او نه یې د خپل ځان پر ضد نظمونه یا شعرونه لیکلي دي. پسرلی صاحب په همدې وروستۍ کټګورۍ کې راځي، که موږ د پسرلي صاحب لومړنۍ څلــوریزه وګــورو چې وایي:

لالــــه ښــــکاره شــــو پــــه یــــوه داغ بانــــدې
مــــا پــــټ ســــاتلی تــــر پــــردو لانــــدې
نســــیمه راشــــه زړګــــی مــــې واکــــړه
چــــې کــــړم داغونــــه خلکــــو تــــه وړانــــدې

دا څلوریزه نن څخه څه باندې پنځه لسیزې دمخه لیکل شوې، خــو که د ۱۳۷۷ ل کال غزل هم ولولو، نو بیا به یې هم په فکري جوهر کــې اختلاف ونه ګورو.

ببګاه يې غلې ناست ومه تـر څنــګ يــې والــوتم
دا څــومره بــې مقصــده لکــه رنــګ يــې والــوتم
کتـــه مـــې ورتـــه لاره، لکـــه خـــوب د مســـافر
ناڅاپــه د بنګــړو پــه يــوه شــرنګ يــې والــوتم.

که د پسرلي صاحب له شعرونو څخه نېټې او د هغه نوم لرې شي، نــو د ډېرو به پرې زموږ د يو شمېر کلاسيکو شاعرانو د شاعرۍ تنــده هــم ماته شي، زما په فکر پسرلی صاحب د خپل عصر کلاســيک دی او دا ډېره سخته ده چې هر شاعر د خپل عصر کلاسيک شــي. د کلاســيک يوه مانا داده چې نور پرې د زمان او مکان د توپانونو زور نه رســېږي او مرګ يې وژلای نه شي.

کله چې موږ د پسرلي غزلونه او څلوريزې يانې رباعيات لولــو، نــو د کاظم خان شيدا او يا هم د خوشال بابا د غزلو او رباعياتو په تلــه يــې تللای شو. د پسرلي د افکارو ډېــره برخــه همــدې غزلــو او رباعيــاتو رانغاړلې ده. دلته يې يوازې څو څلوريزو ته اشاره کوم:

لکــــه مانــــا چــــې رڼــــوي ســــتوري
پــــه تــــارونېږي د ســــترګو تــــوري
هــــر ځــــای کــــې کېــــږې تــــر ســــترګو، ســــترګو
احساســــوم دې پــــه هــــر لــــوري.

✸✸✸

چـــې ورتـــه ګـــورم لـــه شـــرمه ســـره شـــي
د حســـــن ګـــــل وي د زړه ټوټـــــه شـــــي

شــــــرم و حیــــــا وي جــــــوهر د حســــــن
منــــه چـــې ســــره شــــي هالــــه خـــوږه شــــي.

✸✸✸

نــــه وایــــم عشـــقه چــــې ژونــــد اســــان کــــړه
ارزو مــــــې ډېــــــره دیـــــدن دې ګــــــران کــــړه
چــــې د زغــــم کــــانې پــــه کــــې اوبــــه شــــي
ســــوی زړګــــــی مــــــې اتشفشــــــان کــــړه.

پښتو څلوریزې یا رباعیات او همدارنګه غزل هغه شـعري فورمونـه دي، چې د یوه مفکر او اندیال شاعر د فکر د بیان لپاره ډېر مناسب دي او پسرلي صاحب لکه د خوشال بابا په څېر له دې شعري فورمونو څخه ښه او پرځای ګټه پورته کړې ده. په علمي سیمینارونو کې لیکنې ډېرې او وخت کم وي، له همدې کبله اوږدې لیکنې د چا نه خوښېږي، اوږدې لیکنې په کتابونو کې بدې نه ښکاري، خو دا ټکی هم باید قیـد کـړم، چې لنډې لیکنې که هرڅومره په دقت او ځیرتیا ولیکل شي، د پسرلي صاحب د شاعرۍ د یوې خوا رنګ او خوند هم نه شي راټولـولای، پـه پای کې زه په لنډیز سره د پسرلي د شاعرۍ په بـاب ددغـو څـو ټکـو یادونه کوم:

۱- د پسرلي صاحب شاعري یوه فکري شاعري ده.

۲- له ښکلا ډکه ده، یانې فکر او ښکلا په کې غاړه غـړې دي او پـه موازي ډول حرکت کوي.

۳- مقاومه ده ( د وخت توپانونه یې له منځه وړلای نه شي.)

۴- متداومه ده (ډېر عمر به دوام وکړي او څومره چې د ټولنې ذهني کچه اوچتېږي هغومره به يې د شاعرۍ مینه وال زیاتېږي.)

۵- د پسرلي صاحب شاعري موسمي نه ده، تخلص يې موسمي دی، خو شاعري يې موسمي نه ده، یانې هېڅ ډول سیاسي موسـمونه يــې خوند او رنګ نه شي پیکه کولای.

۶- د پسرلي شاعري مکاني نه ده، یانې په یوې مشخصې جغرافیایي سیمې پورې تړلې نه ده.

۷- د پسرلي شاعري د عوامو لپاره نه ده، دده شــاعري د خواصــو او په خواصو کې هم د خاصو اشخاصو لپاره ده، هر کله چې په ټولنه کــې ددې خاصو خلکو شمېر زیاتېږي، د پسرلي صاحب د شاعرۍ مینوال او لېوال هم زیاتېږي.

۸- د پسرلي شاعري د اوس وخت لپاره نــه ده، د راتلونکــو لســیزو، راتلونکو نسلونو او راتلونکو پېړیو لپاره ده او قدر به يې پر همغو خلکــو ډېر زیات وي، هغه د خوشال بابا خبره:

د خوشال قدر که اوس په هېڅا نه شته
پــس لــه مــرګه به يې یاد کا ډېر عالم.

# د یوې ((ژبخورې)) ژبې یرغل او د پښتو او دري ژبو برخلیک

دا لیکنه تر لیکلو وروسته په (ځولۍ) مجله او په ځینو پښـــتو وېبپاڼو کې خپره شوې ده.

د نړۍ یو شمېر ژبپوهان انګلیسي یا انګرېزي ژبې ته (ژبخــوره) ژبــه وایي. په دې مانا چې د نړۍ هرې ســیمې او ټــولنې تــه، چــې دا ژبــه رسېدلې؛ نو محلي او یا سیمه ییزې ژبې یې بې اغېزې کړي، له کاره یې غورځولي او له دفتري دریځ او ارزښته یې لرې کړې دي.

د انګرېزي ژبې جادو په دې کې ده، چې له کوم ملمسوس فزیکــي او نورو فشارونو پرته خپل ارزښت او قیمت په ټولنه کې خوندي کــوي او خلک یې مني او هضموي یې.

یو شمېر پیداګوژستان یا ښوونپوهان په دې نظر دي، چې بې فشاره، نامستقیمه او نارسمي زده کړه تر رسمي او مستقیمې زده کړې ډېره موثره ده او زده کوونکي یې په اسانۍ سره منلای او هضــمولای شــي، دغسې، سیاستپوهان هم په دې نظر دي، چې تــر مســتقیم اســتعمار (ښکېلاک) نامستقیم ښکېلاک په اسانۍ سره ولسونه ښکېلولای شي.

د مستقیم ښکېلاک پر وړاندې د غبرګون لپاره عوامل او دلایل ډېــر ژر څرګندېږي او ولسونه د هغوی په مټ عکس العمل یا غبرګــون ښــيي؛

خو د نامستقیم ښکېلاک د رد او غبرګون لپاره موجه دلایل، د ابهام په تیارو کې پټ وي او عام ولس، چې د ښکېلاک پر وړانـدې د غبرګــون اساسي فزیکي سرچینه ده، په اسانۍ سره دا دلایـل درک کــولای نــه شي؛ نو په دې ډول نامستقیم ښکېلاک ډېر دوام کوي.

د سیاسي ښکېلاک تر څنګ کلتوري یا ژبني ښکېلاکونه هم شــته، چې ژبني ښکېلاکونه بیا پخپل وار د دین یا مذهب، سیاسي زورواکــۍ، علم او تمدن او دغه راز د اقتصاد په مټ رامنځته کېږي. پــه دې مانــا، چې د یوې ژبې د بقا، ځلا، پایښت او پرمختګ لپاره دا څو ملاتړه ډېــر ضروري دي:

**الف_ دین یا مذهب:** ژبه باید مذهبي ارزښــت او ملاتــړ ولــري، یانې د مــذهب او دیــن زده کــړه بایــد د هماغــه ولــس پــه ژبــه وي.

**ب_ سیاسي یا دولتي ملاتړ:** ژبه باید د سیاســت او دولــت ژبــه وي، یانې سیاسي چارواکي په هماغه ژبه خبرې وکړي او دفتر و دېوان په همغه ژبه وي.

**ج_ اقتصادي ملاتړ:** ژبه باید د ګټې ژبه وي، په دې مانــا، چــې څوک ددې ژبې ویونکي دي، د هغوی اقتصادي ګټې خوندي وســاتلای شي او څوک چې دا ژبه زده کوي د هغو ګټې لا ورزیاتې کړي.

**د_ علمي ملاتړ:** ددې ژبې ویونکي باید خپلې ټولې علمــي تنــدې خړوبې کړي او څوک چې دا ژبه زده کوي د هغه ذهني او علمي کچــه نوره هم اوچته کړي. البته یو بل ډول اساسي ملاتړ هم شته، چې هغــه ولسي ملاتړ دی، چې د واک و ځواک اساسي ســرچینه ده، چــې دوی کولای شي خپله ژبه خوندي وساتي؛ خو بیا به هم د علمي، اقتصادي،

سیاسي او دفتري اړتیاوو د لرې کولو لپاره اړ کېږي، چې نوري اړتیا خروبې ژبې هم زده کړي. دا ډول ژبې چې تر ډېره حده د ولس له ملاتړه برخمنې وي او نور ملاتړونه یې کمزورې یا سست وي، یوازې ددې جوګه دي، چې د ولس په ملاتړ ځان وساتي، په همدې علت ځان ساتې (محافظه کارې) ژبې بلل کېږي.

پښتو ژبه هم یوه ځانساتې یا محافظه کاره ژبه بلل کېږي، چې تر ډېره حده د ولس په ملاتړ ژوندۍ ده او نور ملاتړونه یې لا تر دې دمه ډېر غښتلي نه دي.

د پښتو ژبې د بقا او مقامت یو بل غټ عنصر دا هم دی، چې پښتو نه یوازې د یوې ژبې نوم دی؛ بلکې د پښتون ولس یو ټولنیز قانون هم دی، تر څو چې ولس ژوندی وي؛ نو مجبور دی، چې د خپل ټولنیز قانون له لارې خپلې ستونزې حل کړي؛ نو ځکه خو د قوم تر پایښته د قانون او واک پایښت اټکلېږي.

د پښتو ژبې د بقا بل علت دادی، چې خپله د "پښتو" ریښه له (پښت یا پښتون) څخه اخیستل شوې. هغه ژبې، چې د نوم په ریښه او محتوی کې یې د قوم ریښه او محتوی پرته وي، د هغوی ژوند د قوم له ژوندانه سره موازي او مساوي دی او هغه ژبې، چې د علمي، کولتوري، سیاسي او اقتصادي ارزښتونو په نتیجه کې رامنځته شوې او له یوه ځایه بل ته لېږدېدلي، وده او پرمختیا یې کړې د همدغو ارزښتونو په کمزورۍ او له منځه تلو سره، له منځه ځي.

څو ژبې به د بېلګې په توګه وړاندې کړو: عربي ژبه تر شا یې عرب ملت ولاړ دی، ترکي ژبه تر شا یې ترک ملت ولاړ دی، روسي ژبه تر شا یې روس ملت ولاړ دی او پښتو ژبه تر شا یې پښتون ولس ولاړ دی.

دلته د ژبې او قوم د نومونو تر منځ پر مانیز تړاو ســربېره روانــي تــړاو، ارزښت او ماهیت هم پروت دی، دا قومونه هېڅکلــه هــم دا نــه شــي زغملای، چې دوی دې ژوندي وي او ژبې دې یې ومري.

اوس بېرته د انګرېزي ژبې پر چټک پرمخیون خبرې کوو: انګلیسي او یا هم انګرېزي ژبه د (جرمانتیک) ژبــو لــه کــورنۍ څخــه ده، پــه (17) میلادي پېړۍ کې یې د سیاسي، اقتصادي او علمي ملاتړ له امله چټک پرمختګ پیل شو او د نړۍ ګڼو سیمو ته یې لاره وکړه، د انګلیسي ژبې د چټک پرمختګ بهیر اوس افغانستان ته هــم را رســېدلی، لــه تېــرو څلورو کلونو راهیسې چې هره کورنۍ او بهرنۍ موسسه ګــورې؛ نــو د تقرر لومړی شرط یې پر انګلیسي ژبــه او کمپیــوټر پوهېــدل دي. لــه دولتي موسسو پرته اوس دا شرط یا اړ مهمو دولتي پوســتونو تــه هــم غځېدلی، دولتي چارواکي استدلال کوي، چې د افغانستان دولــت پــر بهرنیو مرستو ډډه لګوي؛ نو بایده دي داسې یو څوک پر مهمو دولتــي څوکیو وګومارل شي، چې پر انګلیسي ژبه پوه وي، له بهرنیو ســرچینو سره اړیکي ټینګ کړي، مرستې راماتې کړي او د پوهاوي جوګه شي.

په ولس کې هم د انګلیسي ژبې مینه وال او لېوال ډېر زیات دي (څوک په انګلیسي ژبه پیسې ګټي) او (څوک پر انګلیسي ژبه پیسې ګټي). د افغانستان په ښارونو کې تــر درملتونــو وروســته د انګلیســي ژبــې د کورسو شمېر تر بل هر څه زیات دی.  د انګلیسي ژبې دا چټکــه وده او پراختیا به په نږدې څو کلونو کې (کــه حــالات همداســې روان وي) د افغانستان د دولت د دفتري چارو زیاتره رګونه ونیسي او خلکو ته بــه هم تر یوه حده د ګټې او علم ورونه ببرته شي؛ خو اوس راځــو دې تــه، چې دا ژبه به د کومې ژبې ځای ونیسي، کومه به کمزورې کــړي او لــه

کومې یوې سره به مرستندویه شي؟ دا ډېره مهمــه پوښــتنه ده، چــې دقیق اټکل او ارزونه غواړي.

زما په اند په افغانستان کې به وړې ژبې چې هسې هــم د لویــو ژبــو (پښتو) او (دري) تر اغېز لاندې دي، نور زیان هــم وګــالي؛ ځکــه ددې ژبوویونکي به د خپلو ځاني ګټو لپاره هم هڅه وکړي، له نړیوالو سره د ارتباط په هیله انګلیسي ژبه زده کړي او د خپلې سیمه ییــزې ژبــې د ودې لپاره به ډېره هڅه ونه کړي.

دویم هره علمي او سیاسي ژبه چې یو هېواد ته ورځــي او د دفتــري ژبې ماهیت او ارزښت راخپلوي، تر ټولو لومړی ګوزار یې پر همغې ژبــې دی، چې دا وخت پر حکومت او دفتر حاکمه ده. د حکومت او دفتــر د خپلولو لپاره به ددې دوو ژبو تر منځ سیالي روانه وي او میدان به هغــه ژبه ګټي، چې تر شا یې لوی سیاسي، اقتصادي، علمي او تخنیکي قوت پروت وي.

د افغانستان د دولت دفترونو ته، چې اوس په کوم سرعت انګلیســي ژبه را روانه ده، دا په حقیقت کې له دفتر څخه د دري ژبې د حاکمیــت د ختمېدو زیګنال دی.

دري ژبه په هېڅ وجه له علمي، اقتصادي، سیاسي او تخنیکي پلــوه اوسمهال د انګرېزي ژبې مقابله نه شي کولای؛ نو ځکه به یې په اسانۍ سره ځای انګلیسي ژبه ونیسي.

ددې خبرې یادون هم ضروري دی، چې دري ژبه په افغانســتان کــې ډېر قومي ملاتړ نه لري، په دې مانا، چې دري ژبه د دربار او دفتر ژبه وه او تر یوه حده د مذهب دویمه ژبه. له قومي پلوه یوازې تاجکــان او پــه دویمه درجه کې هزاره ګان ددې ژبې ملاتړي دي. تر اوسه پــورې دري

ژبه د دربار له لارې د ګټې ژبه هم وه؛ نو ځکه يو شمېر نورو افغانانو هم يا د ضرورت او يا هم د مجبوريت له مخې زده کوله، هغه ژبې چې په هېواد کې د دربار له لارې حاکمې وې، هغه د درباري امتياز د له منځه تلو سره سمې کمزورې کېږي او نورې ژبې يې ځای نيسي. غوره بېلګې يې په روسيه کې د (فرانسوي) ژبې او د هند د مغولو په دربار کې د (دري) يا (فارسي) ژبې د درباري ارزښت ختمېدل وو، کله چې دا ژبپالي دربارونه له منځه لاړل، له هغو سيمو څخه ددغو ژبو د نفوذ ټغر هم راټول شو او ځای يې قومي ژبو ونيو.

د انګليسي ژبې د مخ پر زياتېدونکي ګواښ تر څنګ د افغانستان د اساسي قانون د شپاړسمې مادې حکم هم د دري ژبې حاکميت ته غټ ګواښ پېښ کړ. ددې مادې د حکم له مخې محلي او سيمه ييزې ژبې د پراختيا او پرمختيا حق لري، دلته خو نورې محلي ژبې دومره د بحث وړ نه دي؛ خو ازبکي او ترکمني ژبې چې اوس دواړه د (ترکي ژبې) په نومونو يادېږي. د دري ژبې حاکميت ته ستر ګواښ دی.

د افغانستان د دري ژبې د حاکميت غټه سيمه همدا د هېواد د شمال ولايتونه وو، البته د دفتر له لارې د هېواد په جنوب لويديز او نورو سيمو کې هم دود ده؛ خو شمال يې يوه امتيازي سيمه ده. اوس هلته ازبکي (ترکي) ژبه چې د ترکيې د لوی تمدن، اقتصادي او سياسي قوت ملاتړ هم لري، په ټوکېدو ده او دا له احتماله لرې نه ده، چې د هېواد په شمال کې د دري ژبې ټولواکه واکمني له سخت زوال سره مخامخ کړي. له قومي پلوه د هېواد په شمال کې هېڅ قوم هم بشپړ اکثريت نه لري؛ بلکې ازبک، پښتانه، تاجک او هزاره ګان ټول يو نسبي توازن لري؛ نو کله چې د هېواد په شمال کې ازبکي ژبه وده وکړي، پښتانه هم د

خپلې ژبې د ودې لپاره کار وکړي دا کار به د دري ژبې د واکمنـــۍ ډګــر راتنګ کړي   او نوي سیالان به یې ورځ پر ورځ غښتلي شي.

د حکومت دننه چې ورو ورو انګلیسي ژبه پر دفتر حاکمــه وي؛ نــو د دري ژبې درباري ارزښت به له منځه لاړ شي او هغه په سوونو څه، چې په زرونو مامورینو ته، چې پــر دري ژبــې د حاکمیــت لــه لارې یــې د حکومت ډېر خواږه ترخولې کول او د درباري مهــارتونو او لفــاظۍ لــه لارې یې زیات شمېر امتیازات راخپلول، ددې میرزایانو او میرزا قلمــانو ځای به داسې نوي ځوان کدرونه ونیسي، چې هم پر انګرېزي ژبه او هم پر کمپیوټر حاکم وي او هم یې عصري علوم زده وي.

د انګرېزي ژبې په زده کړه کې پښتانه تر هر چا ځکه زیات دمخه دي، چې د انګرېزي ژبې غږیز یا فونولوژیــک جوړښــت د پښــتو لــه غږیــز جوړښت سره یو شان دی، د جنس او حالت توپیر او پر ساکن تــوري د کلمې پیل په دواړو ژبو کې شته، په داسې حال کــې چــې د دري ژبــې ګرامري سکښت له دې سره توپیر لري؛ نو له ځینو استثناتو پرته د ژبې د زده کړې د عملي نتیجو او اصولو له مخې هغه ژبې چــې مشــترکات سره ولري، د هغو ژبو ویونکي دا ژبې ښې زده کولای شي؛ نــو پــه دې ډول ویلای شو په هر انګلیسي ژبي ټولګي کې چې پښتانه او دري ژبي سره ناست وي د تلفظ (وینګ) او ګرامر له مخې پښتنو ته د انګلیســي ژبې زده کړه اسانه ده. دا خبره هم واقعیت دی، د هرې ژبې یا هر قــوم کدرونه چې په حکومت یا دربار کې کار کوي، طبعاً خپل قومي او ژبني تمایلات لري او د خپل ځان په ګټه به کار کوي. کله چې بیا په دفتر یــا حکومت کې د دویمې یا قومي ژبې مساله راولاړېږي؛ نو طبعاً د پښــتو امتیاز او استحقاق زیاتېږي.  د ملګرو ملتو یوه اداره (یونیسکو) چــې د

کلتوري ميراثونو او فرهنګي شتمنيو د ساتنې او پالنې لپاره کار کــوي، په هر هېواد کې يوه ژبه د هغه هېواد د ملي ژبې په توګه پــه رســميت پېژني، دا سازمان په ايران کې فارسي ژبه او په افغانستان کــې پښــتو ژبه د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژني؛ نو د انګليسي ژبې په راتــګ سره به يوه د دربار د ژبې او بله د ملت د ملي ژبې مساله زياتــه راولاړه شي.

دا يو څرګند حقيقت دی، کېدی شي د پښتو ژبې مخالفينو ته دا يــو تريخ حقيقت وي؛ خو حقيقت دی. ملي ژبه د ملت د اکثريت ژبــې تــه ويل کېږي، نه درباري يا دفتري ژبې ته، په ځينو هېوادونو کې ملي ژبې هم درباري او دفتري بڼه لري؛ خو په  ځينو کې بيا دفتري ژبې ځانتــه اوملي بېلې وي.

د افغانستان د اوسني اساسي قانون د 16 او 20 مادې د محتوياتو لــه مخې پښتو هم د دولت رسمي ژبه او هم د ملت ملي ژبه ده؛ خو د يو لړ نامشروعو جريانونو د پرله پسې حاکميت له لامله پښتو ژبې خپل ټول دفتري استحقاق نه دی تر لاسه کړی؛ خو ملي ژبــه ځکــه وه، چــې د تاريخ په اوږدو کې يې همدې ملت ساتنه او پالنه کړې ده.

اوس دلته بېرته خپل بحث رانغاړم او وايم، چې که د انګرېزي ژبــې د پرمختګ سرعت همداسې روان وي؛ نو ددې احتمال شته، چې د دري ژبې درباري ارزښت، قوت او حاکميت له منځه يوسي او کله چــې ددې ژبې درباري قوت ختم شي؛ نو ددې احتمال شته، چې اوسنی شــان او شوکت يې هم له زوال سره مخ شي او انګليسي ژبه، چې په نــړۍ کــې يې تر دې دمه ډېرې ژبې خوړلي او له درباره شړلي، د افغانســتان دري ژبه به هم د کمزورۍ له سخت ګواښ سره مخامخ کړي.  د پښتو ژبې پر

وړاندې بیا بل ډول اټکل کېدی شي او هغه دا چې پښتو ژبه خو هسې هم په دربار کې درنه برخه نه لري؛ نو که انګلیسي دربار ته را هم شي، له پښتو څخه څه کمېدی نه شي، پښتو به د ملي ژبې او د وخت په تېرېدو سره د انګلیسي تر څنګ د دولت د ژبې په حیث خپل شتوالی خوندي وساتي او هلته به لا ښه څرګنده شي، چې پښتو د افغان ولس ملي ژبه ده.

# افغانستان او د ایران کلتوري یرغل

**دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۸۲ل) کاله په (۳)مه ګڼه کې خپره شوې**

افغانسان دتاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو هېوادونو او مختلفو امپراتوریو تر سیاسي، پوځي او کلتوري یرغل لاندې راغلی دی، خو افغانانو په ډېره مېړانه د پردیو سیاسي او پوځي یرغلونه په شا تمبولي، خو د کلتوري یرغلونو اغېزې لکه د سیاسي او پوځي هغو په شان ژر له منځه نه دي تللي.

د کلتوري یرغلونو په جمله کې د عربو، ایران، پاکستان او اوس اوس د لویدیزې نړۍ د رنګارنګ کلتورونو د خپاو یادونه کولای شو، د عربو کلتوري تاثیرات د دیني او مذهبي ارزښتونو د دودونې، د پاکستان کلتوري اغېزې، د هغو د سیاسي او اقتصادي پرمختګونو او د لویدیزې نړۍ کلتوري اغېزې په افغانستان کې دهغو د اوسنیو سیاسي لېوالتیاوو او تخنیکي برلاسۍ له امله رامنځته شوي دي.

خو د ایران کلتوري تاثیرات د هغو له مذهبي، سیاسي او ژبنۍ پراختیا غوښتنې سیاست سره تړاو او په افغانستان کې له پېړیو پېړیو راهیسې دوام لري، ایراني لیکوالو او د وخت سیاستوالو هېڅکله هم په افغانستان کې خپله ژبنۍ لېوالتیا پټه کړې نه ده، ایرانیان افغانستان خپله ژبنۍ او فرهنګي حوزه ګڼي، د فرهنګي او مذهبي

اغېز د ساتلو تر سیوري لاندې غــواړي د اوږدې مــودې لپــاره خپلــې سیاسي ګټې هم خوندي او ترلاسه کړي.

له همدې امله له پېړیو راهیسې د ایران د هر وخت حکومتونو هڅــه کړې په افغانستان کې د سیاسي لاسوهنې تر څنګ فرهنګي لاسوهنه وکړي، له همدې کبله خو په افغانستان کــې د کلتــوري چــارو د ادارو اکثره مسوولین فارسي ژبي او یا هم داسې پښتانه ټاکل شوي وو، چې د دري ژبې تر زیات تاثیر لاندې وو.

کله چې د هند په نیمه وچه او د منځنۍ اسیا په بېلابېلو سیمو کې د فارسي ژبې پر وړاندې نورې قومي ژبې راټوکېدې، نو د فارســي ژبــې لمن له دې سیمې څخه په ټولېدو شوه او یوازې د فــارس (ایــران) لــه لوري د راټوکېدو په حال کې شوه، په منځنۍ اسیا کې روســي ژبــې د فارسي ژبې ځای ونیو او دهند په نیمه وچه کې لومړی نورو قومي ژبــو او بیا وروسته انګلیسي ژبې د فارسي درباري حاکمیت ختم کړ.

په افغانستان کې د هوتکیانو، احمدشا بابا، امیر شېرعلي خان، امیــر حبیب الله خان او غازي امان الله خان ژبنیو ریفورمونــو (ســمونونو) د فارسي ژبې پرله پسې درباري حاکمیت له سخت ګواښ ســره مخــامخ کړ.

په سقاوي اړو دوړ کې ټول ریفورمونه په شا وتمبــول شــول، خــو د اعلیحضرت محمد نادر خان پر وخت پښتو ژبې ته یو ځل بیا اساســي پام راواوښت، خو دا سمونونه هم د محمد نادر خان د وژنــې لــه املــه ټکني شول، خو د وزیر محمدګل مومند په شــان د هغــه د یــو شــمېر ملګرو او ملتپالو افغانانو په هڅو ژبني ریفورمونه ژوندي وساتل شــول، د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په اساسي قانون کې

دپښتو ژبې دملي حق تثبیت، د افغانستان دملي هویت د روښانتیا په لاره کې یو مهم ګام و، تر هغه وروسته د ولسواکۍ په لسیزه کې هم پښتو ژبې تر یوه بریده وده وکړه.

د (۱۳۵۷ل) کال تر سیاسي بدلون وروسته هم پښتو ژبې وده وکړه او ان د درباري ژبې حیثیت یې خپل کړ، تر دې وخت دمخه ټوله موده کې د ایران حکومت دپښتو ژبې د پرمختګ بهیر ته خواشینی و او هڅه یې کوله چې دا بهیر له ځنډ او خنډ سره مخامخ کړي. پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد تر پوځي یرغل وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې د ودې بهیر ټکنی شو او ژبنی پرمختګ د سیاسي حالاتو تر اغېز لاندې راغی، دپښتو ژبې د ودې ګړندی بهیر سست شو او فارسي ژبې ته زیاته پاملرنه راواړول شوه، پښتو د دولت په رسمي خپرونو کې د دویمې او ژباړیزې ژبې پوړۍ ته راټیټه شوه، د شوروي اتحاد پښتون ضد او د مشخصو لړکیو د پیاوړتیا پالیسي ددې سبب شوه، چې پښتو ژبه او پښتني فرهنګ په زیاتو برخو کې وځپل شي، د شوروي اتحاد حکومت که څه هم له سیاسي پلوه د ایران دمذهبي حکومت مخالف و، خو په ژبنۍ او فرهنګي برخه کې دشوروي اتحاد افغان ضد سیاست عملاً د ایران له هیلو سره مطابق و.

په داسې حال کې چې په کابل کې د روس پلوه حکومت پر فرهنګي او خپرنیزو مرکزونو او وسایلو واکمنه فضا د ایران د دودیزې فرهنګي او ژبنۍ پراختیا غوښتنې له هیلو سره سمه وه، خو ایران بیا هم پر دې بسنه ونه کړه، په ایران کې مېشت اته ګوني شیعه ګوندونه چې له مذهبي او ژبني پلوه یې د دوی ایډیالوژي تعقیبوله، په خپلو ټولو امکاناتو ښه سمبال کړل او ډېر یې ونازول، ایران مېشتي شیعه مذهبي

ډلې دومره زیاتې د ایران تر اغېـزې لانــدې راغلــې چــې ان د ایــران مذهبي او سیاسي مشران یې خپل مشران ګڼل او دهغوی پر مشــرۍ یې ویاړ کاوه. دې ډلو که څه هم جهاد او مذهب خپل شــعار ټــاکلی و، خو په واقعیت کې قومي او ژبنی عنصر په کې تر بل هر څیز ډېر قوي و. دې جهادي ډلو په کابل کې نورو واکمنو الحادي شیعه ډلو سره په پټه او ښکاره داسې اړیکي درلودل چې په ایران پالنه او ژبپالنه کې یې بیا ګډې هڅې په ښه ډول څرګندېدلې، د ډاکټر نجیب الله د واکمنــۍ پــر مهال به د ایران د اسلامي انقلاب او د ایران نورې مذهبي او سیاســي ورځې دهمدې شیعه واکمنو ډلو په مرسته په داسې شاندارو مراســمو سره لمانځل کېدلې چې ځینو به دا فکر کاوه چې دا د افغانستان مرکز (کابل) نه دی، بلکې د ایران کوم لوی ښار دی.

د خمیني او د ایران د نورو مشرانو عکسونه به پر موټرو ځړېــدلي وو او په لاریونو کې به ( د الله اکبر- خمیني رهبر) غږونه اورېدل کېدل، د ایران حکومت له ژبني او مذهبي پلوه پر ایران مېشتو اته ګونو شــیعه ګوندونو سربېره پاکستان مېشتي اسلامي جمیعت ګوند سره هم ښــه اړیکي درلودل، له جمیعت تنظیم سره د ایران د خوږو اړیکو درلودلــو علت مرکزي ټکی د هغوی ژبنۍ او فرهنګي لېوالتیا وه، د استاد ربــاني اسلامي جمیعت تنظیم د خپل سیاسي ژوندانه په کار او فعالیــت کــې خپل قومي او ژبني تمایلات تر هر چا زیــات ښــه ډاګیــز کــړي وو او د اسلام او جهاد تر چتر لاندې یې دا بله ستراتیژي هم پرمخوړله.

د ایران او اسلامي جمیعت ترمنځ ژبني اړیکي دومره ټینګ وو چــې یو وخت دجمیعت تنظیم مشر پروفیسور برهان الدین رباني له ایــران

سره د ګډې فرهنګي همکارۍ او ستراتیژۍ تړون هــم لاســلیک کـړ، ایران او افغانستان یې دواړه هم فرهنګه او یو ژبي هېوادونه وګڼل.

خو پر کابل باندې د استاد برهان الدین ربــاني د نیمــواکې واکمنــۍ پرمهال په کابل حکومت کې د ایران پلوه اصلي ډلې یانې وحدت ګوند له غوښتنې سره سم دمناسبې ونډې دنشتوالي له امله د استاد رباني له ادارې سره له سیاسي پلوه د ایران دحکومت اړیکــي اکثــره وخــت ترینګلي وو، دغه راز دا مهال کابل دتنظیمي جګړو ډګر و او د ایــران د فرهنګي فعالیت لپاره چندان زمینه برابره نه وه، خو بیا هم د کابل یــو شمېر خپرونو، ایراني بنه خپلوله، همدا مهال یــو شــمېر فرهنګــي او علمي مرکزونو ته له ایران څخه د مرستې پــه نامــه پــه لســګونو زره عنوانه کتابونه راغلل او په علمي مرکزونو او د هغو په کتــابتونونو کــې ځای پر ځای شول، خو کله چې د طالبانو دتحریــک د زور لــه املــه د استاد رباني دتنظیم واک له کابل او د هېواد له بېلابېلو ســیمو څخــه ټول او یوازې د هېواد په یو نیم ګوټ کې راټول شو، نو د ایران حکومت بیا د استاد رباني د سمبولیک او تمثیلي حکومت هــر ډول سیاســي، اقتصادي، پوځي او تبلیغاتي ملاتړ ته راودانګل.

دا وخت د ایران اکثرو راډیویي، تلویزیوني او چاپي خپرونو د اســتاد رباني د تمثیلي حکومت تائیدونه او د طالبــانو د نظــام غندنــه خپلــه اصلي موخه کړه، ان تر دې بریده چې د استاد ربــاني د شــړل شــوي حکومت ټول نشرات یې یو سلنې ته هم نه رسېدل، ایراني خپرونــو دا وخت دومره سپین سترګي کوله چې د نړۍ هېڅ هېواد به په بل هېواد کې کوم خپل خوښي تنظیم یا حکومت لپاره نه وي کړې، کلــه چــې د امریکایي ځواکونو په زور د طالبانو نظام ړنګ شو، نو ایران ته ډېره ښه زمینه په لاس ورغله، چې هم له طالبانو څخه خپل سیاسي غچ واخلي اوهم په افغانستان کې خپل ژبنی او فرهنګي پلان عملي کړي.

پاکستان دا وخت په افغانستان کې د سیاسي لـوبې یـو بـایلونکی هېواد ګڼل کېده، سعودي عربستان هم له سیاسي ډګـر څخـه لـرې شوی و، د امریکا متحده ایالتونو خپلو سیاســي اهــدافو تــه تــرجیح ورکوله، دمنځنۍ اسیا هېوادونه اکثره له ایران ســره موافــق وو او کــه ځینې بیا موافق نه و، نو مخالف هم نه وو.

امریکائیانو هم نــه غوښــتل د ایــران د فرهنګــي نفــوذ د پراختیــا دمخنیوي لپاره خپله انرژي مصرف کړي، دا ټول عوامـل ددې ســبب شول چې ایران ته طلایي چانس په ګوتــو ورشــي او هغــوی د خپلــې اوږدې او لنډې مودې فرهنګي پلانونه عملي کړي.

د ایران د کلتوري اغېز لپاره بل طلایي چانس دا و چې اکثره کلتوري وزارتونه لکه د بهرنیو چارو، لوړو زده کړو او اطلاعاتو کلتور وزارتونــه د ایران پلوو اشخاصو په لاسو کې پرېوتل، په کابل کې د ایــران ســفارت فوراً د افغانستان د اطلاعاتو کلتور وزارت سره پــه لســګونو بېلابېــل قراردادونه لاسلیک کړل، چې هر یو یې په افغانســتان کــې د ایرانــي کلتور او ژبې پراختیا ته لاره اواروله. په ایران ســفارت کــې څــو ځلــه داسې خاصې غونډې او مېلمستیاوې برابرې شوې، چې په هغــه کــې هغو ډول اشخاصو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د ایرانپالنې روحیه یــې لرله.

تر دې وروسته په ښکاره ډول د افغانستان پــر ملــي ترمینــالوژۍ د ایراني ترمینالوژۍ یرغل وشو او ګڼ شمېر فارسي ژبي افغاني خپرونــې ترې ډکې شوې، ان تر دې چې دولتــي او رســمي خپرونــې د ایرانــۍ ترمینالوژۍ د تبلیغ او ترویج اصــلي وســیلې وګرځېــدې، یــو شــمېر خپرونې د ایراني خپرونو په شکل، سلیقه او ډیزاین چاپ شوې، علمي او کلتوري مرکزونو ته هم د ایرانپالنې او ایراني ترمینالوژۍ لمن خــوره شوه، ایران د افغانستان پر علمي مرکزونو دومره واکمن شو، چې ان د

لوړو زده کړو لپاره د کانکور د ازمویني پاڼې هم په ایران کې چاپ شوې او دکتنې لپاره بیا هم ایران ته واستول شوې، دا د افغانستان د لوړو زده کړو د تاریخ په ټول بهیر کې تر ټولو بدرنگه پېښه ده، چې افغانستان ورسره په تېر کې هېڅکله هم نه و مخامخ شوی، د افغانستان په پوهنتونونو کې ایراني ترمینالوژۍ دود شوه.

دې کار سره تر ټولو لومړی په خپله د لوړو زده کړو او اطلاعاتو او کلتور وزارت اول لاس چارواکو مرسته کوله او ورته لېوال وو. ایراني ترمینالوژي نه یوازې په علمي مرکزونو کې خوره شوه، بلکې پوځي مرکزونو ته یې هم لاره وکړه، یو شمېر ایران پلوو اشخاصو هڅه پیل کړه هغه عسکري اصطلاحات چې د امیر شېرعلي خان له وخته بیا تر دې دمه په پښتو وو، له منځه یوسي او پرځای یې ایراني عسکري اصطلاحات دود کړي، ایراني اصطلاحاتو په چاپي خپرونو کې د ځای نیونې ترڅنګ ټلویزیوني او راډیویي خپرونو ته هم لاره وکړه، کابل ټلویزیون او ځینې نورو ټلویزیوني چینلونو اکثره ایراني فلمونه او یا هم په ایران کې ژباړل شوي او دوبله شوي فلمونه خپرول او خپروي یې، سړی دا فکر نه شي کولای چې دا د افغانستان ټلویزیوني خپرونې دي، یانې کله چې سړی په کابل کې په مجموعي ډول فارسي خپرونې لولي او ګوري نو سړي ته له ورایه ایران تداعي کېږي او فکر کوي چې د ایران په کوم لوی ښار کې اوسي، که چېرې د ایران فرهنګي یرغل همداسې دوام ومومي او د مخنیوي لپاره یې اساسي ګامونه پورته نه شي، نو لرې نه ده چې د افغان ملت ملي هویت به د ایران د فرهنګي یرغل په خم کې دل او حل شي.

# زرين انځور د فکر او کار سړی

دا ليکنه پر (۱۳۸۵ل) کال، د زرين انځور د پنځوسمې کاليزې په وياړ ليکل شوې وه او په هغه علمي غونډه کې اورول شوې چې د زرين انځور په وياړ په کابل کې جوړه شوې وه. دا ليکنه تر اوسه په کومه خپرونه کې چاپ شوې نه ده.

په هره ټولنه کې چې هر ډول بشري پرمختګ او هوساينه رامنځته شوې، دا د هغې ټولنې د انديالو اشخاصو او د کار د سړيو د هڅو نتيجه ده. نېکمرغه ټولنې همغه دي چې د فکر او کار سرونه لري، اول فکر وکړي بيا کار وکړي او وروسته پاتې يا بدمرغه ټولنې هغه دي چې د فکر او کار سرونه په کې نه وي او يا که وي هم له خبرلوڅو او منفي پالو اشخاصو څخه سر نه شي پورته کولای. د مقدوني سکندر د بري غټ راز په دې کې و چې د ارسطو په شان د يوه غټ مفکر ماغزه يې ملاتړي وو.



دغه راز که د نړۍ د هر زورواک، ولسواک نومیالي او فرهنګیالي د بري شالید ته وګورو نو وبه وینو چې بریالیتوبونه یې د فکر او عمل د پیوستون نتیجه ده.

زموږ په ټولنه په تېره بیا په لیکوالو کې، درې ډوله لیکوال لیدل کېږي:

۱- یو هغه ډله لیکوال دي چې هېڅ کار نه کوي او یوازې خبرې کوي، دوی خپلې ذهني ناروغۍ او سپوره انتقادونه د نقد یا کره کتنې په نامه تېروي او غواړي په ټولنه کې د یوه کره کتونکي په توګه مطرح شي، ان تر دې چې ځینې د کار لیکوال یې هم ((پوهې))، ((بصیرت)) او ((دقت)) ته په درنه سترګه وګوري، دا په حقیقت کې شفاهي یا بې لیکه لیکوال ګڼلای شو چې لیک او اثار نه لري، خو په لیکوالو کې حساب دي.

۲- دویم هغه ډله لیکوال دي، چې د نظر او پوهې خاوندان دي، پوهه یې ډېره خو کار یې کم دی، دا ډله لیکوال کوښښ کوي، چې ټولنې ته دقیقې لیکنې وړاندې کړي، ډېر ځله داسې پېښېږي، چې ددې لیکوالو ډېرې لیکنې دډېر احتیاط له وېرې له چاپه پاتې شي او ولس یې له ګټو برخمن نه شي، داسې هم شوي چې د زیات احتیاط له وېرې ،دوی خپلې لیکنې پر وخت چاپ کړي نه دي او بیا یې چې کله د چاپ هڅه کړې او یا یې چاپ کړي، نو اثر یې خپل هغه پخواني ارزښت، قیمت او ماهیت له لاسه ورکړی او یا کم شوی دی. یانې دا ډله لیکوال د ښه نظر خاوندان دي، خو ښه د کار سړي او مېړني نه دي.

۳- درېیمه ډله هغه لیکوال دي چې هم فکر لري، هم فکر کوي او هم کارونه ترسره کوي، ددې لیکوالو له جملې څخه پوهاند مجاور

احمد زیار، استاد حبیب الله رفیع، سرمحقق زلمی هېوادمل او ځینـــې نور دي، چې څه يې په ذهن کې ګرځېدلي، فکر يې پرې کړی او بیا يې ټولنې ته وړاندې کړي دي، یانې د نن کار يې سبا ته نه دی پرې ایښی. زما په فکر ښاغلی زرین انځور هم په همدې درېیمه کټګورۍ لیکوالــو کې راځي، یانې دا چې هم فکر کوي هم کار کوي. د فکر او کار ترڅنګ یو څو نور مهارتونه هم لري، چې هغه هم د ده د فرهنګـــي کـــارونو پـــه بریالیتوب کې مرسته کوي، ددې مهارتونو له جملــې څخـــه یـــو مهـــم مهارت یا خصلت دادی، چې د خپل کار په بهیر کې د نورو احساســات او کینه نه راپاروي یانې کار په دې ډول ترسره کوي، چې د رخه ګرو او کینه ګرو ورته ډېر پام نه شي او که پام يې هم شي نو پـــر ده د نیـــوکې داسې ښکاره څه پیدا نه کړي چې د هغوی د کینې اظهار سبب شـــي. زموږ د ټولنې په ځینو لیکوالو کې یو غټ عیب دادی چې څـــوک ډېـــر کار کوي له هغه سره زیات مخالفت کـــوي، لـــه ښـــاغلي اســـتاد رفیـــع صاحب سره د یو شمېر کسانو رخه په دې ده، چې ولې ډېر کار کوي او د انتقاد غټه وجه، عامل او دلیل د هغه زیات کار ګڼي، خو خپلـــه چـــې هېڅ کار نه کوي له هر ډول نیوکې، ګناه او انتقاده پـــاک او معـــاف دي. دې ډول لیکوالو په حقیقت کې دېته کار ویـــلای چـــې د نـــورو کارونـــه وڅاري، چې هغوی څه کوي، د خپل ځان په اړه فکر نـــه کـــوي، خـــو د نورو کار او زیار له زربینه تېروي.

زرین انځور زموږ د ټولنې دغسې یوې څنګزنې خو ډېـــرې عیبجنـــې نیمګړتیا ته متوجه شوی، نو ځکه پر داسې یو محتاط او مستقیم خـــط حرکت کوي او خپل کار ته دوام ورکوي چې له ښي اړخو او کیڼ اړخـــو ناروغانو ځان وژغوري، دی په دې خاطر چې د رخه ګرو او کینـــه ګـــرو

حسادت را ونه پارېږي، خپل ځینې کړي کارونه یې هم د نورو په نامــه تمام کړي او په دې ډول یې د کینې د توپان مخه ډب کړې ده.

په فرهنګي کار او چار کې د انځور بله پخه تجربــه او مهــارت دادی، چې که غواړې کار وکړې، نو ځان به نه مطرح کوې، نور به مطرح کوې، خپله به شاته کېږې، نور به مخې ته کوې، په دې ډول به د هغو خلکــو مرسته او همکاري جلبوې چې یوازې د ځان د ځلونې او شهرت لېوال دي او یا دېته اړتیا لري؛ طرحه به دې خپله وي خو عملي کوې به یــې په بل چا، خبره به دې خپله وي خو کوې بــه یــې د بــل پــه خولــه، د همدغه مهارت او فورمول دقیق استعمال انځور ددې جوګه کــړی دی، چې د فرهنګي کارونو لپاره د مختلفو ســلیقو، نظرونــو، افکــارو او ان عقایدو د خاوندانو مرسته او همکاري راجلب کړي او ځــان د پښــتني ټولنې په داسې یو حالت کې چې د شخصــیت د تثبیــت بحــران یــې ګواښوي، د یو مثبت او باور وړ شخصیت په توګه تثبیت کړي.

دله غواړم په لنډیز سره د ده پر کړیو فرهنګي کارونو لنډه رڼا واچوم او بیا په پای کې یو څو خبرې د نچوړ او لنډیز په توګه راوړم:

۱- د فرهنګي کار موده:

انځور په رسمي ډول له (۱۳۵۶ل) کال څخه پر فرهنګي کارونو لاس پورې کړی، البته تر دې دمخه د تحصیل په بهیر کې یې هم څه نا څــه لیکوالي کړې، خو د رسمي او عملي کارونو پیل یــې لــه ۱۳۵۶ل کــال څخه دی، پر همدغه کال دی په راډیو افغانستان کې د هنر او ادبیــاتو په اداره کې د رسمي کارکوونکي په توګه مقرر شو او تر ننه پورې یې له وقفې پرته نږدې (۳۰) کاله فرهنګي کارونه ترسره کړي دي.

۲- راډیو افغانستان کې کار:

انځور په راډیو افغانستان کې له (۱۳۵۶-۱۳۶۵ل) کال پورې نږدې لس کاله کار وکړ، ددې کار په بهیر کې انځور بېلابېلې پښتو ادبي خپرونې برابرولې، له هغې جملې څخه یوه هم ((د شومه دم انګازې)) پښتو ادبي خپرونه وه، چې زیات مینوال یې درلودل، ((د کیسو جونګړه)) چې لنډو کیسو ته ځانګړې شوې خپرونه وه، هم زیاته په زړه پورې وه. انځور په اوونۍ کې پر ټاکلې خپرونې سربېره نورو ادبي خپرونو سره هم مرسته او همکاري کړې، خو که موږ لږ تر لږه په اوونۍ کې یوه ادبي خپرونه دده په کړي کار کې محاسبه کړو، نو د انځور صاحب په لاس د جوړو شویو او خپرو شویو پروګرامونو شمېر به (۴۸۰) پروګرامونو ته ورسېږي. انځور صاحب په راډیو افغانستان کې د ځوانو لیکوالو او شاعرانو د استعدادونو د غوړېدونو لپاره د ((ولولې)) په نامه یوه ځانګړې ادبي خپرونه هم جوړه کړه، چې هره یکشنبه به د یوه ساعت لپاره خپرېدله، دې خپرونې تر یوې لسیزې زیات عمر وکړ او په لسګونو ځوان شاعران یې وغوړول.

۳- د افغانستان لیکوالو په ټولنه کې کار:

د افغانستان د لیکوالو ټولنه د شپېتو کلونو په لومړیو کې جوړه شوه، لومړی پړاو یې ډېر سیاسي و او د واکمن ګوند د افکارو څرګندویه او پالندویه وه، خو وروسته وروسته دا ټولنه خپل ادبي بهیر ته ولوېده او آن منتخبه بڼه یې خپله کړه. زرین انځور پر ۱۳۶۵ل کال ددې ټولنې د رئیسه هئیت غړی او ادبي کره کتنې او څېړنې د څانګې مسول شو. دا هغه مهال و چې د افغانستان په استوګن ادبي بهیر کې د شعر او شعار ترمنځ کرښه غښتلې کېدله. البته تر کال دوه دمخه په افغانستان کې د شعاري ادب زوال پیل شوی و، زرین انځور په دې چار او کار کې د یو شمېر نورو لیکوالو لپاره د ادبیاتو یو روزنیز کورس جوړ کړ، په دې

کورس کې په لسګونو ځوان لیکوال شـامل وو، چـې د زریـن انځـور، استاد بریالي باجوړي، اکبر کرګر او نورو له خوا ورته د ادبیاتو بېلابېلـې خواوې تدریسېدلې. دا کورسونه په افغانستان کې د ادبیاتو د تـدریس په برخه کې لومړي کورسونه وو، چې د ځوانو استعدادونو پـه غوړونـه کې یې اساسي نقش درلود. کوم ځوان لیکوال چې په دې کورس کـې شامل وو، له همغه ځایه یې له شعاري ادب سره خدای پامـاني وکـړه. ځکه نو که موږ اوس په استوګن ادبي بهیر کې د شـعاري ادب او ادب د بېلتون مخکښان معرفي کوو، نو د زرین انځور نوم یې په سر کې راځي.

انځور ددې ترڅنګ د هغو ادبي اثارو چاپ او خپـراوي تـه هـم لاره اواره کړه، چې د واکمنې سیاسي فضا ښکارندویي یې نه کوله، تـر دې دمه ورته د چاپ زمینه برابره نه وه. دا مهال په لسګونو ادبي اثار چاپ شول او د ژوندون مجلې دواړه برخې د سیاسي مسایلو پرځای یـوازې ادبیاتو ته وقف شوې.

۴- په ناستوګن ادبي بهیر (پېښور) کې د انځور نقش:

انځور لا په کابل کې د شعاري ادب لمن ټوله کړې نه وه، چې له کابله پېښور ته لاړ، لومړی یې د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې کار پیـل کړ او د خپلواکۍ مجلې مسوول مدیر شو. دا هغه مهال و، چې زموږ نـا استوګن ادبي بهیر هم د شعار په منګولو کې سولېده او ایډیولوژیک بار اوچتولو ته یې اوږه ورکړې وه او دا ډېره سخته وه چې خلـک دې پـه اسانۍ سره د ادب ښاپېرۍ له ایډیالوژیکي چاپېریال څخه راوباسي. دا ډول یوه هڅه هغه وخت ان د تکفیر په بیـه تمامېـدلای شـوه، خـو د ښاغلي محمد صدیق پسرلي، استاد حبیـب الله رفیـع، محمـد اصـف صمیم او مرحوم امان الله ساهو او څو نورو فرهنګیانو افغانانو په مرسته انځور هم ددې بهیر ملګری شو او د افغانستان د کلتـوري ټـولنې لـه لارې یې د ادب جوهر ځلا ته لاره اواره کړه. (سپېدې) په نـا اسـتوګن

ادبي بهير کې هغه لومړنۍ مجله وه چې د شعاري ادب پر وړانــدې يــې ګامونه پورته کړل او ورو ورو د شعاري ادب امپراتوري مخ پر ځوړ شوه، تر ۱۳۷۱ل کال وروسته چې د استوګن او نا استوګن ادبي بهير اصــلي مخکښان سره يوځای شول، نو د شعاري ادب بازار سوړ شو. د (افغــان ادبي بهير) جوړېدو سره د شعاري ادب لمن لاپسې ټولــه شــوه او تــر نړدې دوه نيمو لسيزو وروسته ايله ادب بېرته خپل مسير ته راوګرځېد.

۵- په مسکو کې فرهنګي هڅې:

په پېښور کې لا هم د شعاري ادب واکمني وه، چــې انځــور صــاحب مسکو ته لاړ او هلته يې د خپلې مېشتېدنې په نږدې يونيم کلن بهيــر کې د نورو ګڼو افغانانو فرهنګيانو په مرسته (( د افغانستان د فرهنــګ ټولنه)) تاسيس کړه، انځور په دې ټولنه کې د مرستيال په توګه وټاکل شو او د يوې ځانګړې ادبــي خپرونــې لــه لارې يــې فرهنګــي هڅــې وغځولې. دا فرهنګي هڅې بيا وروسته په مســکو کــې د نــورو افغــان فرهنګياليو له خوا وپالل شوې او وغځول شوې.

۶- په جرمني کې فرهنګي هڅې:

زما په فکر د انځور د فرهنګي فعاليتونو يوه ډېره درنه برخه همغه ده چې په جرمني کې ترسره شوې.انځور چې کله هم له هېواده د مســکو او له مسکوه د جرمني په نيت حرکت کاوه، نو له يو شــمېر انــديالو او ستراتيژيستو ليکوالــو ســره يــې د يــوې اوږدې او عملــي فرهنګــي ستراتيژۍ په باب مشوره وکړه. ددې مشورو يوه برخه دا وه، چې کلــه دی جرمني ته ورسېږي، نو هلته به افغان ليکوال او ادبپال راټولــوي، د هغوی د مالي او معنوي مرستو په مټ بــه پــه پېښــور کــې فرهنګــي فعاليت خصوصاً چاپ او خپراوي ته لاره اواروي. همداسې وشول، کلــه چې انځور صاحب جرمني ته ورســېد، نــو هلتــه يــې د افغانســتان د کلتوري ودې ټولنې د جوړېدو لپاره هڅې پيــل کــړې، المــان مېشــتو

افغان لیکوالو او فرهنګپالو دا هڅه تائید کړه او دا ټولنه یــې تاســیس کړه، دې ټولنې تر (۱۳۷۷ل) کال وروسته عملاً په پښبور کې د کتابونو پر چاپ او خپراوي پیل وکړ او له هغه وخت تر دې دمه یې نــږدې (۹۰) عنوانه بېلابېل، علمي، ادبي، تاریخي، سیاسي او طبي کتابونــه چــاپ کړل. که ددې کتابونو کمیت او کیفیت ته په دقیق ډول وګورو، نــو لــه بابا ادمه تر دې دمه هېڅ یوې خپلواکې افغان کلتوري ټــولنې، دومــره کتابونه نه دي چاپ کړي، سربېره پر هغو کتابونو چې د ټــولنې نښــان پرې لګېدلی او شمېر یې اوس تر (۹۰) عنوانو اوړي، دې ټولنې، د کابل پوهنتون، هیلې مجلې او ځینو نورو خپرونو لاسنیوی هم کړی او دغه راز یې تر (۲۰) عنوانو زیات نورو هغو اثارو ته چې لا د ټولنې نښان پرې نه دی لګېدلی، هم له بېلابېلو لارو د چاپ زمینــه برابــر کــړې ده. دې ټولنې نه یوازې دا کارونه ترسره کړي، بلکــې ددې ټــولنې جوړېــدو او فعالیت ددې زمینه هم برابره کړه، چې پــه اروپــا کــې نــورې افغــاني کلتوري ټولنې هم راوټوکېږي، په خپلــه پــه جرمنــي کــې د پښــتنې فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنــه، ددې ترڅنــګ فعالــه شــوه او (۱۳) عنوانه بېلابېل اثار یې خپاره کړه. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه په دې بریالۍ شوه چې په اروپا کې د مېشتو افغان فرهنګي ټولنــو ګــډه جرګه ګۍ جوړه کړي، چې اوس په کې، په ډنمــارک، هالنــډ، ســویډن، بیلجیم، ناروې او نورو هېوادو کې تر لسو زیاتې کلتوري ټــولنې راټالــه دي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې څو مهم نړیوال او څو سیمه ییــز علمي او تاریخي سیمینارونه هم جوړ کړي او یو شمېر افغان لیکوالــو، علمي او کلتوري شخصیتونو ته یې ستاینلیکونه او مډالونه هم ورکړي، چې مالي ملاتړ هم ورسره مل و.

دا کار په فرهنګي هڅونه کې ډېر موثر و. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ترڅنګ نورو اروپا مېشتو افغان کلتوري ټولنو هم د قدر وړ کارونه ترسره کړي دي، چې که د ټولو چاپ شویو کتابونو شمېر یې محاسبه کړو نو تر (۱۲۰) بېلابېلو عنوانو اوړي. یانې په مجموعي ډول د ټولو هغو اثارو شمېر چې اروپا مېشتو افغان کلتوري ټولنو او په انفرادي ډول افغان لیکوالو په تېرې یوې نیمې لسیزې کې چاپ کړي ( له مهالنیو خپرونو پرته) شمېر یې تر (۳۰۰) عنوانو اوړي.

دا کار که د افغانستان د حکومتونو د یوې نیمې لسیزې له ټول کړي خپرنیز کار سره پرتله کړو، نو څو برابره ترې زیاتېږي. نو کله چې جرمني کې د انځور صاحب د هڅو یادونه کېږي، نو لازمه ده چې په متناسب ډول د هغه د نورو فرهنګي ملګرو لکه: ډاکتر طارق رشاد، نجیب احمدزي، امین باوري، عاشق الله غریب ، افضل ټکور، نظیف الله تکل، ډاکتر خوشال روهي، ډاکتر شېرولي برهان، حبیب الله غمخور، عبدالمالک بېکسیار، یوسف هېواد دوست، ممتاز ارمان، اسدالله بها، بسم الله امیر او نورو لیکوالو یادونه هم وشي. همدا ماهوګان دي چې زموږ د فرهنګي مرام بېړۍ د خپل هدف پر لوري بیایي.

انځور د خپل دېرش کلن فرهنګي کار او زیار په نتیجه کې پر پورتنیو یادو شویو خدمتونو سربېره (۱۹) عنوانه بېلابېل اثار هم ټولنې ته وړاندې کړي، چې په هغو کې (۵) داستاني مجموعې او نور علمي او څېړنیز اثار دي، چې نه غواړم دلته پرې بحث وکړم.

زه اوس یوې پوښتنې ته راځم، د انځور د دومره سترو کارونو د بري راز په څه کې دی؟ زه فکر کوم یو دده خپله ذاتي پوهه او کار و زیار دی او بل اساسي علت یې دادی چې ده خپله ټولنه ښه پېژندلې او د خپلو خلکو پر روحیاتو ښه خبر دی. دی د یوه ګټور احتیاط پر لیکه روان دی، خو دا احتیاط مضر احتیاط نه دی، چې خپل هر څه له احتیاطه

قرباني کړي، بلکې دا داسې یو احتیاط دی چې کار خپله وکړي او شهرت بل چاته ورکړي، خبره او نظر دې خپل وي، خو ممثل ورته بل پیدا کړې، په تاوان کې ځان شریک کړې او په ګټه کې نور، د همدغه پرنسیپ له مخې چې قرباني یې یو اصل دی، انځور صاحب دې اوسني اوچت معیار ته رسېدلی دی.

د روهي صاحب په وینا: (( په وروسته پاتې ټولنې کې د شخصیت او خدمت معیار معلوم نه وي)) یانې دا چې یو شخص ته ټول خلک د یوه مثبت شخصیت په سترګه نه ګوري، ځکه چې دلته خلکو سره کوم مشخص معیارونه نه وي او نه یې هم په اسانۍ سره تشخیصولای شي.

خو اوس له نېکه مرغه زموږ په ټولنه کې هم د شخصیت د تشخیص معیارونه ورو ورو په تشخیصېدو دي او دا اوسنۍ غونډه ( په کابل کې د انځور نمانځنې غونډه) یې یوه بېلګه ده.

زه فکر کوم زرین انځور که یو انځور دی، نو انځورګر هم دی، که اندیال دی نو یو اندپال هم دی، که فکر کوي نو عمل هم کوي، فرهنګیال هم دی او فرهنګپال هم او همدغه معیارونه زما په نظر په ټولنه کې د یوه مثبت شخصیت د تثبیت اساسي توکي دي او انځور همدا معیارونه پوره کړي دي، نو ځکه ورته ( د فکر او کار سړی) ویلای شو.


جنګ او فرهنګ
په افغانستان کې
(د پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو ټولګه)
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۴ لمریز کال

# جنګ او فرهنګ

# په افغانستان کې

## (د پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: جنګ او فرهنګ په افغانستان کې

لیکـــــوال: محمد اسمعیل یون

خـپرونـدی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېـــبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: ضیاء ساپی

پښتي ډیزاین: فیاض حمید

چـــاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـــاپـکـــــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریک د خپرونو لړ: (۹۷)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې لــه خپلــو ګرانــو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شــل عنوانونــه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملــي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نبښــه پــوره او د یــوې پرتمینــې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو تــه وړانــدې کــړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کــې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمــي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کــړی چــې خپلــه دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کــې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چــاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېــوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولــو هغــو لیکوالــو، ژبــاړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یــو بــل ســره مرســته او ملګرتیــا کــړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانــي ورتــه وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

# په تحمیلي جنګ کې راټوکېدلی فرهنګ

په افغانستان کې له تېرو څو لسیزو راهیسې په بېلابېلو نومونو جنګ یانې د تمدنونو ټکر (Clash of Civilisation) یا د (باچا خان بابا) په وینا د پردي جنګ تنور تود دی، چې خشاک یې افغانان په تېره بیا پښتانه دي، وینــه د افغــان توېږي، پښه د افغان غوڅېږي، کــور د افغــان ورانېــږي، ښــوونځی د افغــان سوځول کېږي، ډاکټر، انجنیر، ښوونکی، سپین ږیری او ملک د پښــتانه وژل کېږي، خو ثمر یې د سیمې او نړۍ زبېښونکي هېوادونه څټي. په جنګ کــې ګوډې نه وېشل کېږي، جنګ افغانستان ته زیــات مــادي او معنــوي زیانونــه اړولي دي، په تېره بیا زموږ فرهنګ یې تر کچې ډېر زیانمن کــړی دی، چــې بېلګه یې له هېواده د پښتون کدر فرار، پردی فرهنګي یرغل او نور دي، خــو ددې ترڅنګ بیا هم ځینې ژمنو پښتنو د جنګ په دغه بټ کــې هــم خپلــه فرهنګي او علمي ډیوه بله ساتلې او وخت نا وخت یې نوموتي اثــار پنځــولي دي، چې په دې جمله کې (جنګ او فرهنګ پــه افغانســتان کــې) د درانــه استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د بېلابېلو ارزښتمنو لیکنو ټولګه ده، چې دده بېلابېلې لیکنې په کې شاملېږي.

په نوموړې ټولګه کې استاد ډېر ښکلي او په زړه پورې لیکنې، چې ځینې یې د تېرو پنځو کلونو په بهیر کې د علمي کنفرانوسونو لپاره چمتو کــړې وې او علمي ارزښت لري، ځای کړي دي، او ځینې نورې یې وخت ناوخت د هېــواد په روانو حالاتو د زړه درد او د هغو تداوي دواړه له ټولنې سره شــریک کــړي

دي او ځيني نورې يې د هېواد د معتبرو ليکوالو پر اثارو تحليلي ليکنـــې دی، د بېلګې په توګه: (جنګ او فرهنګ په افغانســتان کــې ) ليکنــه، چــې پــه همدې نامه کتاب هم نومول شوی، استاد دغه ليکنــه د ســارک هېوادونــود سکرتريت لپاره ليکلې وه، چې په کې يې د هېواد فرهنګي غنا ته نغوته کړې او هم يې د روان ((پردي جنګ)) له امله زموږ هېواد تــه اوښــتي فرهنګــي زيانونه ارزولي او په نږدې راتلونکي کې يې د شتو فرهنګي اثارو او فرهنــګ ته د اوښتونکو زيانونود مخنيوي لارې چارې په ګوته کړي دي. د (د يو مثبت فرهنګي بدلون اوښتون هڅه) ليکنه د هېواد پر نوښــتګرو چــارو بانــدې را څرخي، چې څرنګه موږ په ګډه د يون کلتوري يون لــه لارې د اســتاد يــون (۳۳) بېلابېل اثار په پښتون ځېونکي ارګ کې راټول، ترتيب، کمپوز، ايـډيټ او خپاره کړل، چې بېلګه يې تر اوسه په افغانستان کې نه ده ليدل شــوې، د دغو کتابونو په پار په کابل سرينا هوټل کې شانداره غونډه جــوړه شــوې وه، چې بېلابېلو ليکوالو له هماغه ځايه د خپلو اثارو د راټولولو او د چاپ له لارې د خونديتوب فکر واخيست او هوډ يې وکړ چې ورته کار به ترسره کوي، خــو ((کار سخت کار دی))، له بده مرغه چې تر اوسه پورې يو پوخ ليکوال هم پــه دې چاره بريالی شوی نه دی.

په تېرو څوارلسو کلونو کې نړيوالو د پيسو د جوال خوله د افغانســتان لپــاره پرانيستې وه، چې له امله يې زياتې رسنۍ راوټوکېدې، خو له بده مرغه زياتې رسنۍ په کې يرغمل شوې. د زورواکو او بهرنيو له خوا يرغمل شــوې رســنۍ اوس د هېواد د ملي ګټو پر ضد خپروني کوي. له ښه مرغه په دې ټيل کې يو شمېر پښتو رسنۍ هم را وټوکېدې، چې په (پښتو رسنيو ته څو د زړه خبرې

او څو د راز مشورې) په لیکنه کې د پښتو رسنیو د چـارو د لا ښـه والـي او رسنیز ځواک د اغېزمن کارولو لارې چارې په ګوته شـوي دي، چـې څنګـه پښتو رسنۍ په تېره چاپي او برښنایي رسنۍ د بې ځایـه تورونـو او رسـنیزو اخلاقو خلاف چارو پر ځای پر ملي او فرهنګی مسایلو تمرکز وکړي.

په افغانستان کې تل پر یوه غم پسې بل غم وي، یـوازینۍ لـوبې دي، چـې د هېوادوالو په شونډو یې موسکا راوستې چې په دوی کې زموږ د کرکټ ملـي لوبډلې لوبغاړي په سرکې راځي، دوی د هېواد بېرغ د نړۍ په ګوډ ګـوډ کـې ورپاوه. د تنظیمي جګړو پر مهال به موږ په پېښور کې کرکټ لـوبې کتلـې او کولې، خو په زړه کې مو د خپل هېواد د لوبډلې د لوبې د کتلو غټ ارمـان و، چې الحمد الله دادی دا ارمان مو هم پوره شو، موږ به په خپلو ناستو کې ویل چې کله به د افغانستان ملي لوبډله په نړیوالو لوبو کې لوبېږي او موږ بـه پـه فخر ورته چکچې وهو او خپل احساسات او ولولې به څرګندوو، له ښه مرغه دا ورځ مو هم ولیده، استاد په خپله لیکنه ( د ودان اوښـکه) کـې د کرکـټ لوبې لېوالتیا ته او د هېواد د ملي لوبډلې لپـاره خپـل، د خپلـې کـورنۍ او کشري زوی (ودان) احساسات انځور کړي، چې نن سبا د هر افغـان کـورنۍ همدا احساسات دي، ( ودان ) بختور دی چې وار له مخه په ماشومتوب کـې یې د ملي لوبډلې لوبې ولیدې او د ملي ټیم د ماتې له امله یې اوښکې د بریـا په هیله تویې کړې،کېدی شي راتلونکې کې د هېواد د همدې لوبډلې ستوری شي، زموږ د نسل خو یوازې دا ارمان و، چې خپل بېرغ د نړۍ په میدانونو کې رپانده ووینو، د ( ودان) دا هیله چې ملي لوبډله به د نړۍ سترو لوبـډلو تـه

ماتې ورکوي، یوه په بلې پسې رښتیا کېدونکې ده او هغه ورځ لرې نه ده چې زموږ هېواد به دنړۍ په کچه اتل وي.

یو چا رښتیا ویلي دي چې ((پښتانه ښه ژوندي او بد مړي نه لري)) خو دغه خبره بیا د د پوهاند محمد حسن کاکړ په اړه صدق نه کوي، ځکه چې پوهاند صیب او اروانښاد زرملوال صیب دوه تکړه تاریخ لیکونکي وو، چې تــل یــې د غرضي او مرضي ستمي تاریخ تحریفوونکو لیکوالو پر وړاندې په زغــرده پــه ثبوتونو او د تاریخ د علم د اصولو په رڼا کې ځوابونه ویلي دي، درانــه اســتاد یون هم د (پوهاند محمد حسن کاکړ د جګړې پر لومړۍ کرښه!) لیکنــې تــر سرلیک لاندې د پوهاند صیب په اړه خورا کره او پخه لیکنه کړې، چې په کې یې د پوهاند صیب کاکړ پر کړو خدمتونو رڼا اچولې ده.

یون صیب د یو ژمن او وفادار دوست په څېر خپل ملګري په ژونــد او مــرګ دواړو پاللي دي، چې د ښاغلي عبدالحمید بابي صیب پر مرګ یــې هــم پــه (بابي ګله! ستا دلیدو په هیله) لیکنه کې اوښکې تویې کړي. دغه راز یــې د ( ضمیر پر مړینه ضمیر لړزېږي) سرلیک لاندې د ځوانیمرګ لیکــوال (احمــد ضمیر علم دوست) پر مړینه اوښکې توی کــړي او هغــه تــه یــې د عقیــدت پیرزوینې وړاندې کړي دي.

[په ((ځانګو)) کې کوم فکر زانګي؟] لیکنه یې د نوموتي لیکوال فاتح الملک ننګ یوسفزي پر یوه کتاب ( ځانګو) کښلې ده، چــې پــه کــې یــې د کتــاب منځپانګه په ژوره توګه روښانه کړې او د کتاب پر ارزښت او د موضــوع پــر اهمیت رڼا اچولې ده.

زه چې څومره یون صیب پېژنم له خوشال بابا سره یوه روحي تړاو لري، چې پرې تر حده زیات ګران دی او ما چې د استاد څومره اثار لوستي، ده د خوشال بابا د شعر بېلګې په کې په یو نه یو ډول راوړي دي. (د خوشال پوځي نړۍ لید) یې یوه بله جالبه لیکنه ده. دا لیکنه د پروفیسر علي احمد جلالي پر کتاب ( د خوشال د عصر او چاپېریال پوځي څېړنه) نومي کتاب باندې شوې ده، چې د بابا فکر یې په کې ښه شنلی دی. په دې کتاب کې داسې بېلګو ته اشاره شوې چې د هېواد په اوسنیو حالاتو کې هم د تطبیق وړ دي او لیکوال هڅه کړې چې نه یوازې د بابا د وخت، بلکې د هغه په رڼا کې اوسني جنګي چاپېریال او تکتیکونه هم وڅېړي. ورپسې لیکنه یې د نقیب احمد اتل پر ژباړه چې د نوموتي ارواپوه ډیل کارنیګي کتاب ( د بریالیتوب لار) کتاب باندې کړې ده، چې د کتاب ټوله محتوا یې په لنډ ډول په کې واضح کړې ده، نوموړې لیکنه د کتاب پر منځپانګې سربېره نور ډېر ګټور مطالب راپېژني او د شخصیت جوړونې په اړه په کې لازمې لارې چارې راښيي، د کتاب په بله برخه کې یې د (د نړیوالو اړیکو، اند او انګېرنې) پر کتاب چې د ښاغلي (نورولي خان نور) یو څېړنیز او شننیز اثر دی، هم یوه هر اړخیزه لیکنې کړې ده.

دغه راز استاد یون د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره ځینې څېړنیزې علمي لیکنې هم په دې ټولګه کې ځای کړي دي، چې وخت ناوخت یې په کابل پوهنتون کې د کنفرانسونو له لارې وړاندې کړي دي، چې (په پښتو شعر کې درې نوي شعري فورمونه)، ( پښتو اوسنی شعر د حوادثو په مسیر کې)، (د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري) او (د نظم رغنده توکونه)

عنوانولاندې لیکنو کې یې په پوره تفصیل سره علمي او ادبي بحث کړی دی، چې د علم او ادب لارویانو لپاره یوه مشعل کېدی شي او په ورته موضـوعاتو کې ترې د ریفرنس په توګه ګټه اخیستلای شي.

په پای کې د ادب او لیکوالۍ د یو شاګرد په توګه ویلای شم، چې په دغه اثـر کې کولای شو، د سریزې لیکنې، کره کتنې، یادښت لیکنې او نورو بېلابېلـو لیکنو د لیکلو په اړه پوره مالومات ترلاسه کړو او کولای شـو چــې لـه دغـو لیکنو په الهام اخیستنې سره ورته لیکنې وکړو، چې دا به زموږ د فردي وړتیا په غوړېدنه کې ستر رول ولوبوي، که څه هم ما هڅه کـړې چــې د کتـاب د منځپانګې په اړه لنډیز وړاندې کړم، چې ایله په همدې څو کرښو په تورولـو توانېدلی یم، په پای کې درانه لوستونکي ددې اثر لوستو ته رابولم او اســتاد ته د لوی الله ج له درباره د اوږد عمر، تاند قلم او ځیرک فکر هیله لرم.

په درناوي

پوهنیار وفاالرحمن وفا

کابل – بګرامي

۱۳۹۴ ل کال د مرغومي ۲۲مه

سریزه:

# بیا هم په جنګ او فرهنګ کې

دا زما د متفرقه پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو یوه ټولګه ده، دا لیکنې د (۱۳۸۸ل)کال له پیل څخه بیا د (۱۳۹۴ل) کال تر پایه پورې په بېلابېلو وختونو کې لیکل شوي دي. ځینې یې چاپي او برېښنايي رسنیو کې پر خپل وخت خپرې شوي او ځینې یې لا خپرې شوي هم نه دي. په دې هیله یې د یوې ټولګې په توګه خپل ولس ته ډالۍ کوم، چې ګټه یې عامه شي. په دې لیکنو کې ځینې پر بېلابېلو ادبي اثارو لیکل شوي چې د همغو اثارو څرنګوالی څېړي.

څلور لیکنې په کې داسې دي چې ما د (پوهنوالۍ) او (پوهاندۍ) د علمي رتبو لپاره د علمي کنفرانسونو په توګه وړاندې کړي او د کنفرانسونو ژوري هیئت له خوا مثبتې ارزول شوي دي، د هغوی سپارښتنه هم دا وه، چې دا کنفرانسونه باید چاپي بڼه هم خپله کړي. (جنګ او فرهنګ په افغانستان کې) په دې ټولګه کې شامله یوه لیکنه ده، دا لیکنه ما په هندوستان کې د جنوبي اسیا د لیکوالو د ټولنې د سکرتریت په غوښتنه هلته د یوه جوړېدونکي علمي کنفرانس لپاره لیکلې وه. یاد سکرتریت د یادې ټولنې د غړو هېوادونو له یو دوه درې تنو لیکوالو څخه غوښتي وو چې په خپله خوښه یوه مهمه فرهنګي موضوع وټاکي، یوه علمي لیکنه پرې وکړي او یاد سکرتریت ته یې ورولېږي!

څرنګه چې افغانستان یو جګړه ځپلی هېواد و او فرهنګ یې د پرله پسې جګړو له امله ډېر زیان لیدلی و ، ما د څو کلونو په ترڅ کې په دې برخه کې څېړنې کړې وې او لږ تر لږه مې (درې عنوانه) ځانګړي اثار هم په دې برخه

کې چاپ کړي وو، نو ځکه مې د (جنګ او فرهنګ) موضوع وټاکله، لـه دې لیکنې څخه مې هدف دا و چې موږ، نړۍ په تېره بیا خپلو ګاونډیو هېوادونـو ته دا په ډاګه کړو چې افغانستان له فرهنګي پلوه یو غني هېواد و، خو جګړو یې ډېره زیاته مادي او معنوي شتمني له منځه وړې او پاتې یـې هـم ډېـره زیانمنه کړې ده. ددې تر څنګ مې هدف دا و چې ددې فرهنګي شـتمنۍ د نور ویجاړي مخه ونیول شي، زموږ یو شمېر تاریخي اثار بېرته ترلاسه شي او هم د نړۍ پام زموږ د فرهنګي شتمنۍ خوندیتابه تـه راواوړي. دا لیکنـه مـا هغوی ته ورولېږله، دا چې هغوی پرې څه وکړل، په درد به یې ورتـه خـوړلي وي که نه، خو ما خپل ملي او فرهنګي مسؤلیت ادا کـړ. دلتـه مـې پـه دې ټولګې کې یو ځل بیا دا لیکنه ځای پر ځای کړه، که بهرنیان زموږ د فرهنګي شتمنۍ ساتنې ته پاملرنه نه کوي، موږ خپله باید لاس په کار شو. نو همـدې مسئلې ته د زیاتې پاملرنې په خاطر ددې لیکنو ټولګې تـه مـې همـدا نـوم (جنګ او فرهنګ په افغانستان کې) غوره کړ. هیله ده درانه لوستونکي ددې لیکنې تر څنګ نورې لیکنې هم په غور سره ولولي او هر څه یې چې د هېواد د فرهنګ د بېلابېلو خواوو د خدمت لپاره په وس کې وي، له هغو څخـه ډډه ونه کړي. په همدې هیله د لیکنو دا ټولګه ستاسو مخې ته ږدم.

په ټوله هېوادنۍ فرهنګي مینه

محمد اسمعیل یون

# د یو مثبت فرهنگي بدلون او اوښتون هڅه

دا یادښت د (۱۳۸۷ل)کال په وروستیو کې د یون کلتوري یون له خوا د (۳۳) عنوانو بېلابېلو اثارو د چاپ په مناسبت لیکل شوی و.

په افغانستان کې روان دېرش کلن بحران بېلابېل علتونه لري، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، فقر، بهرني او کورني سیاسي غرضونه او نور ډول ډول محرومیتونه ددې بحران د اوږدېدو لاملونه دي. خو ددې ترڅنګ یو بل مهم عامل چې تر اوسه لا چا ورته ډېره اشاره نه ده کړې او نه یې ورته ډېر کار کړی دی، هغه فرهنګي فقر، فرهنګي محرومیت او فرهنګي محکومیت دی. همدا فرهنګي فقر او محرومیت ددې سبب شوی، چې زموږ د ټولنې د بېلابېلو خواوو ترمنځ د تفاهم امکانات کمزوري شي او هم له نورو ټولنو سره د افغاني ټولنې ذهني واټن رامنځته شي. د فرهنګي محرومیت او محکومیت د ختمولو لپاره په هېواد کې د زیاتو ښوونیزو، روزنیزو، علمي او فرهنګي مرکزونو جوړول ډېر ضروري دي. د رسنیو فعالیت او خلکو ته د مثبت پیغام رسول هم ډېر مهم دي. د ډول ډول علمي، ادبي، ټولنیزو او سیاسي کتابونو چاپ او د هېواد هر لوستي او کم لوستي وګړي ته د هغو رسول د فرهنګي فقر او کلتوري محکومیت په ختمولو کې مهم نقش لري.

هر څومره چې په هېواد کې د کتابونو د چاپ او خپرونو مراکز زیاتېږي، همغومره د فرهنګي فقر لمن راټولېږي، د خلکو ذهنونه روښانېږي، یــو بل سره یې د تفاهم او تحمل روحیه پیاوړې کېږي. (یون کلتوري یون) چې په هېواد کې د یو ازاد علمي او کلتوري مرکز په توګه له (۱۳۸۷ل) کال راهیسې فعالیت کوي، د لومړي ځل لپاره یې په افغانستان کــې د یو مثبت فرهنګي کار بریالۍ تجربه ترسره کړه. (یون کلتوري یــون) د (۱۳۸۷ل) کال په وروستیو کې (۳۳) عنوانه بېلابېــل ادبــي، ټــولنیز، سیاسي، روزنیز او علمي کتابونه په یوځایي ډول چاپ کړل. ددې (۳۳) عنوانو کتابونو مالي لګښت بېلابېلو افغانانو پر غاړه اخیســتی و. کلــه چې دا کتابونه ټولنې ته وړاندې شول، نو د ټولنې له خوا یې تود هرکلی وشو، کتابونه نه یوازې په چاپي بڼه وو، بلکې (۳۳) عنوانه کتابونه پــه یوه سي ډي (CD) کې هم او د انټرنېــټ لــه لارې هــم لوســتونکو تــه وړاندې شول. ددې کتابونو هر عنوان له (۱۰۰۰-۲۰۰۰) ټوکو پــورې پــه چاپي بڼه او نږدې (۳۰۰۰) سي ډګانو په شکل او همدارنګه په انټرنېــټ کې د روهي، بېنوا، کتابتون او نورو سایټونو له خوا د لوستونکو په واک کې ورکړل شول. ټول (۳۳) عنوانه کتابونه د یوه پېکج یــا بســتې پــه شکل د هېواد هغو علمــي، ښــوونیزو او روزنیــزو مرکزونــو تــه چــې کتابتونونه یې درلودل، په وړیا ډول ورکړل شو، نږدې (۳۰۰) بکسې چې په هره یوه کې (۳۳) واړه اثار ایښودل شوي له یوې ســي ډي ســره د افغانستان د خیبر پښتونخوا ایالت کتابتونونو ته ولېږل شــول. نــږدې (۵۰) پېکجه، روسیې، هندوستان، ډنمــارک، بلجــیم، امریکــا متحــده ایالات، کویټ، سعودي عرب، جرمني، متحده عربــي امــاراتو او ځینــو نورو هېوادونو ته له سي ډیانو سره ولېږل شــول. نــږدې (۲۰۰۰) ســي

ډیانې افغان محصلینو، زده کوونکــو، ښــوونکو، لیکوالــو، شــاعرانو او قلموالو ته ورکړل شوې او هیله ورڅخه وشوه، چې نورو اړتیا وړ کسانو ته هم دا (سي ډیانې) کاپي کړي. په دې ډول یوه نوي تاسـیس شــوي علمي، خپرنیز مرکز د هېواد وګړو یوه پام وړ برخه تــر علمــي پوښــښ لاندې راوسته. دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی، چې یو نوی تاسیس شوی ازاد علمي مرکز دې پــه خپلــو هڅــو او نوښــت علمــي خدمتونه د چاپ، سي ډي، انټرنېټ له لارې پر یوه وخت وړاندې کړي. کله چې دا کتابونه د هېواد بېلابېلو مرکزونو او کتابتونونو ته ورسېدل، نو د لوستونکو ډېرې زیاتې او مکررې غوښتنې (یون کلتوري یون) تــه راورسېدلې او ددې اثارو د لازیات تکثیر غوښتنه یې وکړه، خــو یــون کلتوري یون چې له کلونو راهیسې په دې پروژه کار کړی و، ددې اثــارو د بیا چاپ، تقسیم او بیا تکثیر ورته اسانه نه و. دا چې یــون کلتــوري یون څه ډول یو علمي مرکز دی، دلته به یې په لنډیز سره معرفي کړو:

**یون کلتوري یون:** یون کلتوري یون یو علمي او خپرنیز مرکــز دی چې پر (۱۳۸۷ل) کال یې فعالیت پیل کړ او په یو ځایي ډول یــې (۳۳) عنوانه علمي، ادبي او روزنیز کتابونه ټولنې ته وړاندې کړل. دا علمــي مرکز زما (محمد اسمعیل یون) او زما نورو ملګرو (ضیاء الرحمن ضیاء، وفاء الرحمن وفا او شېر عالم املوال) له خوا تاسیس شوی. دا داسې یو مرکز دی چې نه سیاسي فعالیت کوي، نه انتفاعي اهداف لري، یوازې د علمي، ټولنیز او روزنیز، سیاسي او تفریحي اثــارو د چــاپ او خپــراوي لپاره کار کوي. د هېواد د کوچنیانو، ځوان نسل او فرهنګیانو د روزنــې لپاره روزنیز، علمي او ښوونیز ســیمینارونه او ورکشــاپونه جــوړوي او

فرهنګي استعدادونه روزي، دا مرکز یو علمي مشورتي بورډ لري، چې د مرکز له تګلارې او کړنلارې سره د مرکز فعالیتونه تنظیموي.
د یون کلتوري یون د علمي بورډ په مشوره لومړی ما (یون) خپل اثــار ددې علمي مرکز له لارې ځکه چاپ کــړل چــې دا لــومړۍ تجربــه وه، لګښتونه مې هم خپله ورته پیدا کړل؛ ډېر دوستان مې وهڅول هغــوی یې لګښتونه ورکړل. موږ ټولو وویل که دا تجربه بریالۍ شوه، نو بیا بــه یې همداسې پسې وغځوو، که چېرې په دې کار کې کومه نیمګړتیا وه، نو مسؤلیت یې هم موږ ته راجع کېږي. سره له دې چې دې مرکز ســره زما تخلص تړلی، خو دا په دې مانا نه وه چې یــوازې زه بــه خپــل اثــار ورڅخه چاپوم، ما ځکه خپل اثار له دې لارې چاپ کړل چې زه له خپل کاره وزګار او د نورو خلکو کار ته وخت پیدا کړم، ما خو به هم خپل اثار له یوې لارې چاپول، نورو خپرندویو ټولنو کېدی شي د شکل او محتوا له مخې ددې ټولو اثارو همهالي او یو ځایي چاپ تــه زړه نــه وای ښــه کړی، نو ځکه ما له دې مرکزه دا اثار چاپ کړل، له نــورو لیکوالــو مــې هیله ده چې خپل لیکلي او بشپړ شوي اثار دې مرکز ته د چاپ لپــاره راولېږي.
دا د یو مثبت فرهنګي بدلون او اوښتون لپاره یوه هڅه ده، موږ هیلــه لرو، ددې په شان نورې فرهنګي هڅــې هــم ترســره کــړو، لــه ټولــو هېوادپالو فرهنګیانو هیله کوو چې ددې ډول هڅو د بریالیتوب لپــاره زموږ ملاتړ وکړي.

# پښتو رسنیو ته څو د زړه خبرې او څو د راز مشورې

**دا لیکنه ما پر (۱۳۸۷ل) کال هغه مهال وکړه، چې یو شمېر لیکوالو په بېلابېلو وېبپاڼو کې په مستعارو او ځینو په خپلو نومونو یو په بل پسې لیکنې کولې او یو بل ته یې سپکاوی کاوه.**

د تاریخ په اوږدو کې کله هم چې پښتنانه له بهرني یرغل څخه څه ناڅه په وقفه یي ډول بې غمه شوي، نو بیا یې په خپلو منځونو کې یو په بل پسې را اخیستي ده، دا تجربه له پخوا نه تر دې دمه لا تکرارېږي، خو اوس ددې وخت رارسېدلی چې دا تجربه پریوې مثبتې تجربې بدله کړو؛ تر بحران وروسته حالت او وخت پر پرمختګ او جوړونې ولګوو، نه د اختلافاتو پر راپنځونې. اوس سره له دې چې موږ لا د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له ډول ډول ګواښونو څخه نه یو بې غمه شوي خو په فرهنګي برخه کې مو څه نا څه پرمختګ کړی او کوو یې؛ خو له بده مرغه یو شمېر ګړني او لیکني ویناوال او لیکوال لا هم اوسنیو سترو خطرونو او ګواښونو ته په ژور نظر نه ګوري، ددې پر ځای چې خپل فکر او قلم د هېواد د ملي کلتور د غوړونې لپاره وکاروي، پر تا ویلو او ما ویلو سر دي او ځینې هم په دې خاطر چې د خپل شهرت غریزه خړوب کړي، پر منفي لیکنو خپل وخت تېروي او پر داسې مطرحو او مثبتو شخصیتونو غرضي لیکنې کوي، چې په ټولنه کې د درناوي پوړۍ ته رسېدلي دي، دا ډول اشخاص په دې ډول د بل چا د سپکاوي

له لارې د خپل شهرت اسباب برابروي. دا عیبونه پخوا هم وو خو اوس په ځینو اشخاصو کې زيات لیدل کېږي، نو په دې ډول دا کټګورۍ اشخاص په عام ډول په ټولنه کې د شخصیت جوړونې پر معیارونو د ابهام تیارې خوروي او غواړي نور مثبتې شخصیتونه په خپلو دې ډول هلو ځلو خپلې کچې ته راټیټ کړي. زموږ د ټولنې د ځینو کسانو همدغه عیب ته په کتو سره (استاد روهي) مرحوم دا تشویش ښکاره کړی چې ((په وروسته پاتې ټولنو کې د شخصیت معیار معلوم نه دی)) مانا دا چې ځینې کسان په ټولنه کې د مثبتو شخصیتونو زغم ته تیار نه دي، دوی د رخې او کینې پر داسې یوې ناروغۍ اخته دي چې له ځانه پرته بل څوك نه شي زغملای. دوی ددې پر ځای چې پر ځان کار وکړي، د نورو کارونو او عملونو ته متوجه وي او هغه د خپل ذوق او تمایل په تله تلي، په حقیقت کې د دوی شخصیت د نورو په شخصیت پورې تړلی دی، که نور ښه، بشپړ او یا نیمګړي کارونه وکړي، نو دوی ته په واقعیت کې کار پیدا کېږي. څه د پاسه شل کاله کېږي چې زه د خپلو یو شمېر نورو ژمنو فرهنګي ملګرو تر څنګ پر کلتوري هلو ځلو بوخت یم او ددې تر څنګ یو شمېر سیاسي او ټولنیزو هلو ځلو ته په دې خاطر زړه ښه کوم چې خپلو او د نورو لیکوالو ملګرو کلتوري هلو ځلو ته لار اواره کړم، خو په دې دوو-دوه نیمو لسیزو فرهنګي هلو ځلو کې مې د زمانې ډېرې تجربې لیدلي او دخپلو ځینې نږدې او لرې فرهنګیانو ذهني او شخصیتي حالت که راته ټول نه وي خو تر زیاته حده معلوم دی. موږ داسې لیکوال هم لرو چې هم یې خپله کار کړی او هم یې نورو ته کار پیدا کړی، هم یې خپل شخصیت جوړ

کړی او هم یې د نورو د شخصیت د ودې او تثبیت لپاره پانګه جوړه کړې، خو له بده مرغه موږ ځینې داسې په اصطلاح لیکوال هم لرو چې د نورو د شخصیت د ودې د مخنیوي په خاطر له ځان سره پر جګړه اخته دي، ددې پر ځای چې د خپل ځان، خپل قلم او خپل ژوند د پرمختګ په لټه کې شي د نورو کارونه شمېري. د نورو د جیبونو حساب کوي او د نورو د پرمختګ پوړۍ شمېري، د دوی پر دې سر خلاص نه دی چې له هر چا څخه چې کوم لوی شخصیت جوړېږي هغه د ازمون له بټۍ څخه تېرېږي، شخصیت په دې نه جوړېږي چې یو به زحمت ګالي او بل به په راحت وخت تېروي، بیا به په ټولنه کې د دواړو موازنه برابره وي. یو وخت موږ په پېښور کې ډېر کتابونه چاپول او بیا به مو کابل ته راوړل نو اکثره خلك ډېر خوشاله وو، یو وخت تکړه کره کتونکي (استاد اسدالله عضنفر) ماته وویل ((ډېر کارونه کوې او ښه کارونه کوې خلك درته ډېر احترام لري، خو ګوره چې یو شمېر خلك کینې او رخې هم لري یو څه عیبونه په ځان کې پرېږده، چې کینه ګر دې عیبونو ته متوجه شي او ته به خپل کار وکړې که نه وي نو کینه ګر به درته ډېر مشکل پیدا کړي...)) د استاد عضنفر به اوس دا خبره هېره وي که به یې په یاد وي خو زما ځکه په یاد ده چې زه عملاً په ژوند کې له دې ستونزې سره مخامخ شوی یم. له دې لیکنې څخه مې موخه دا ده، چې زموږ په ټولنه کې د ځینو شخصي عقدو له مخې یو منفي کړکېچ را ټوکېدونکی دی او که ددې بحران مزي کش شي نو کېدلای شي پر یو ژور بحران بدل شي. ددې بحران لومړنۍ نښې نښانې په ځینو چاپي او کتنیو رسنیو (ویبپاڼو) کې څرګندېږي او که مخه یې ونه

نیول شي کېدی شي پر یوه فرهنګي بحران بدل شي. ستونزه په دې کې ده چې یو شمېر کم لوستي په اصطلاح لیکوال غواړي د خپل شهرت لپاره پر لویو او مطرح لیکوالو او شخصیتونو غرضي لیکنې وکړي، هغه څوك چې لویې ارادې او لوی پلانونه لري که داسې ماشومانه جنګك او څواب ته تمرېږي، نو خپل قیمتي وخت له لاسه ورکوي او لویو پلانونو ته یې زیان رسي او په نامستقیم ډول د کمزوري لیکوال د شهرت سبب ګرځي. زموږ یو شمېر مطرح لیکوال اوس له دې ستونزې سره مخ دي. زه په خپله ددې تجربو یو نچوړ لرم؛ یو ځل یو کمزوري، بل ځل متوسط او بل ځل یو قوي لیکوال زما د شخصیت پر وړاندې داسې سپورې لیکنې وکړې، چې د هغو یوه نښه څه چې ځرك یې هم زما په شخصیت کې نه و، له روحي پلوه ډېر ارام ځکه وم؛ هغه څوك چې د عقدې له مخې یې زما مخالفت ته دانګلي، څومره سهوه شوي او څومره په نا حقه دي او زړه کې مې ویل چې لیکنه توکړې لاړې دي چې یو ځل تو شوې بیا نه پورته کېږي، ماویل یو وخت به دا اشخاص ډېر پښېمانه شي، ځکه انسان د خپل فطري جوهر له مخې یو وخت خپله ملامتي مني. میاشتې لا وتې نه وې چې یوه وویل ((زه د پښتنو په جرګه درته پړ یم، هر څه چې ته یې غواړې زه یې منم، حتی پړي اچولو ته هم تیار یم)) بل راته له شرمه مخامخېدی نه شو، په تلیفون کې یې راته وویل: ((استاده زه درته ډېر کوز ګوری یم، ستا کور او دفتر کې مې ستا نمك خوړلی، د شپې ارام نه لرم، که غواړې زه ارام شم زما د لیکنې ځواب راکړه، له ځواب پرته ما ته هېڅ خو ب نه راځي...))

درېیم په جلال اباد کې دفتر ته راغی، ډېر وخت ناست و کله چې نور خلك لاړل نو زما څنګك ته راغی ویې ویل: «استاده ستا پر وړاندې مې یو دوه کاله مخکې بې ادبي کړې، زه هیله لرم ما وبښې...».

دې درې واړو کسانو ته ما نه هغه وخت او نه هم وروسته ځواب ورکړ، ځواب مې ځکه ور نه کړ چې زه نه غواړم خپل یو روحي پور چاته په همدې ډول ځواب کړم، زه غواړم ملامت ټول عمر زما پوروړی پاتې شي.

په دې ورځو کې یو څو ښاغلي غواړي زما او زما څو تنو نورو هېوادپالو افغان لیکوالو پر ضد د ناوړه تبلیغ له لارې ځان په پنځو کې حساب کړي، یو ښاغلی خو لا په کې داسې هم دی چې تر خپلې مور او پلار وروسته یې تر هر چا ما او زما ملګرو زیات خدمت کړی دی، له یو داسې حالت څخه مو چې دلته یې یادونه ضروري نه ګڼم، تر لیکوالۍ او نور مقامه پورې را ورسوه، هغه هم په ګړنې تبلیغ څه چې لا په لیکني تبلیغ کې برخه اخلي، کېدی شي دوی فکر وکړي که دوی هر ډول ادبي لیکنې وکړي دومره قوت به په کې نه وي چې دوی زیات مشهور کړي، خو که پر پښتو ادبي کړیو او لیکوالو پسې بدې راونغاړي نو بیا خو کېدی شي ډېر خلك د دوی د لیکنو پر ضد عکس العمل وښیي او دوی به نو بیا په پنځو کې یاد شي. زه نه غواړم په دې لیکنه کې ددې ښاغلو ګړنیو اولیکنیو ویناوو مستقیم او نامستقیم تبلیغ ته ځواب ورکړم، زه غواړم دا ډول اشخاص د یادو شویو مثالونو په شکل، ځواب کړم خو له ټولو چاپي، لیدنیو، اورېدنیو او کتنیو

رسنیو څخه مې دا هیله ده چې د هېڅ هغې لیکنې خپراوي ته لاره اواره نه کړي چې اساس یې شخصي عقده او رخه وي او هېڅ ډول، سیاسي، علمي، هنري او ټولنیز پیغام نه لري. دا ډول لیکنې مثبت او منفي غبرګون راپاروي، د سوال او ځواب لړۍ یې غبرګېږي، ورو ورو د یوې ساري ناروغۍ بڼه نیسي او ډېرو لیکوالو ته سرایت کوي، په پایله کې زموږ فرهنګي بهیر ته درون زیان اړوي. دې کې هم هېڅ شك نشته هغه کمزوري لیکوال چې له دې لارې د خپل شهرت په لټه کې دي، په وروستۍ نتیجه کې دوی هم له خپلو دې ډول عملونو څخه پښېمانه کېږي، خو هغه پښېماني بیا څه ګټه ځکه نه لري چې زموږ د لیکوالو ډېره انرژي به یې ضایع کړې وي. زموږ ډېرو پخو لیکوالو ته ډېر غټ کارونه په مخ کې پراته دي، دوی باید د غښې په جال کې راګیر نه شي. له دې خبرو څخه مې مقصد عام لیکوال او رسنۍ دي، چې د پښتنو لیکوالو تر منځ د هر ډول ټکر مخه ونیسي که د کوم بناغلي د صبر کاسه ډېره ډکه وي نو وخت پر وخت ادبي غونډې، مشاعرې، بهیرونه او د کره کتنې غونډې جوړېږي، که انتقاد یې اصولي وي نو هلته دې مطرح کړي که مقابل طرف یې د ځواب وس درلود ځواب به یې ووایي او که نه دده انتقاد به خپل ځای ونیسي. تر کومه ځایه چې دې ښاغلو ته خبره زما په خپل ځواب پورې اړه لري زه نه غواړم چې خپله انرژي له کم لوستو، رخه ګرو اوشهرت غوښتونکو په اصطلاح لیکوالو سره پر تا ویلو او ما ویلوء مصرف کړم، که څه هم د دوی ځوابونه ماته ډېره اسانه ده، زه چې د افغانستان د ملي ګټو او د هېواد د ځمکني بشپړتیا د مخالفینو څو ګونو جبهو اود هغو له

لسګونو لیکوالو سره مقابله کولای شم، نو دا ځو تنه خو هغه د چا خبره نسوار هم نه دي. تر موږ مشرانو، پخو لیکوالو او لویو استادانو څخه مو هم هیله ده چې خپلې شخصي لیکنې، ستونزې او نور ډول ډول زړه بداوي دې رسنیز ډګر ته نه راباسي، ځکه دا ډول لیکنې نور زړه بداوي او نور لیدلوري پیدا کوي او په پای کې دهېواد، ملت او ملي فرهنګ ژغورنه او پرمختګ له موږه پاتې کېږي، اوس چې د ځینو مشرانو لیکوالو دا ډول لیکنې په رسنیو کې ګورو دا یو خواشینوونکی حالت دی او زموږ د ځوان کلتوري پښت پر سالمه روزنه ناوړه اغېز کوي، له خپلو نورو ځوانو لیکوالو څخه چې موږ ورته د ښې راتلونکي هیله لرو، هم غواړو چې د چا پر تائید یا رد دې لیکنې نه کوي، د خپلې لیکوالۍ لپاره دې ډېر لوی او اوږده لیدلوري په پام کې ونیسي او ځانونه دې دومره د پوهې، ذکاوت، ملتپالنې او ژوند جوړونې په پانګه سنبال کړي چې د خپل هېواد او کلتور له دښمنانو سره د مقابلې وس یې زیات شي او کینه ګر او رخه ګر یې له بریاوو څخه خپل لړمون وخوري.

# بابي ګله! ستا دلیدو په هیله

**دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د بابي صیب د شهادت د خبر په اورېدو لیکل شوې ده.**



کله چې مې انټرنیټ خلاص کړ ، نو پر همـدې دردونکـي خبرمــې ســترګې ولګېدې ، زړه مې وښوید، بیا پر موږ یوه بله ټکه پرېوته ، عبد المجید بابی هم راځخه ولاړ ، د ژوند قافله مو څومره ورو ورو درومي ، خو د مرګ هغه څومره په ځغاسته ده ، هسې خو مرګ له موږ سره روږدی دی ، موږ هغه ښه پېژنـو اوهغه موږ د خپلې سزا وړ ګڼلي یو ، په ډېرو مرګونو مو له مرګه ګیلـه نـه ده کړې ، خو په یو نیم مو خامخا له لوی ذات او دا هغه لـه کـوچني مخلوقاتـه ګیله کېږي چې ولې یې دومره مجبور لیدلي یو.

کلونه کلونه وشول چې عبدالمجید بابی د خپل فرهنګ د غوړیدا پــر هڅــو بوخت و، سترړی و، ستومانه و ، د چا یې زنه نیولې وه د چا یــې لاس او د چــا لمنه ، ټولو ته په زاریو و، چې زموږ دژغور لاره همدا ده، په نــورو لارو زړه مــه خورئ . هغه نور دتل لپاره هر چاته له زاریو خلاص شو ، پر یو داسې سفر لاړ، چې بیا به هیڅکله رانه شي ، ځان یې د ټول عمر لپاره بې غمه کړ، خــو مــوږ یې د ټول عمر لپاره د غم پر تغر کېنولو. بابی بیا له موږ څخه یو ګــام دمخــه شو، خدای خبر چې عبد المجید بابي پسې به دا ځل د کــوم بــل خــدمتګار بابي وار وي، د مرګ کډه زموږ له کلي نه ځي . بابي ګله ! هلته ستا د لیدو په هیله

ستا یون ، نوی ډیلی ــ هندوستان

# په ((ځانګو)) کې کوم فکر ځانګي؟

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د ((ځانګو)) کتاب د مخکتنې په ویاړ شوې وه.

که موږ ټول پښتو ادبیات په تېره بیا شاعري له مانیز پلوه ډلبندي کړو، نو د ملي فکر برخه به په کې خورا درنه راڅرګنده شي. د ملي اند دایره پراخه ده، د ټولنیزو ناخوالو انعکاس، ژبپالنه، ملتپالنه، د ولسي ولولو پاروونه، پر تېرو تورو ویاړنه او د سترو اتلانو ځلونه ټول د ملي فکر په دایره کې شاملېږي.




په پښتو کې به داسې لیکوال او یا شاعر د ګوتو په شمار پیدا شي، چې له دې دایرې بهر وي، نور اکثره لیکوال د همدې دایرې په داخل کې د خپل فکر او تخیل وزرونه غوړوي. دا چې ولې دا دایره دومره پراخه ده، دا یوه اساسي پوښتنه ده چې کېدی شي له څو لیدلوریو ځواب شي، زما په نظر یې یو

ځواب دادی چې زموږ په ټولنه کې ملي ارزښتونه، ملـــي هويـت، ملـــي خپلواکي او ملي ارمانونه، زياتره وختونه تر تهديد لانــدې وو او لا دي. شعر او شاعري او په ټوليز ډول ادبيــات د محکوميــت، محروميــت او اختناق پر وړاندې يو ډول غبرګون او بغاوت دی، ملي احساس د ملـــي محکوميت په بهير کې ډېر راپاريږي. دا چې په پښتو ادبياتو کـې ملـــي ولوله تر نورو برخو زياته ځلېږي، ددې يو علت دادی چې دلته د متواتر محکوميت لړۍ همداسې غځېدلې پاتې شوې ده. د ساري پــه توګــه د نړۍ ډېر کم قومونه به وي چې د خپلې ژبې مظلوميت ته دې شــعرونه ووايي، هغوی خپلې ژبې سره مينه لري، کار هم ورته کوي، خو شعرونه ورته ځکه نه وايي چې ژبنی محروميت او محکوميت يې لا هغه حالــت ته نه دی رسېدلی چې په دوی کې د شعر ولولې راوپـاروي، خــو مــوږ پښتانه ځکه خپلې ژبې ته شعرونه ليکو چې لــه ورايــه يــې مظلومــه احساسوو.

زه چې څومره د ښاغلي فاتح الملک ننګ يوسفزي لــه کــلام او ليــک سره له پخوا اشنا وم او بيا چې مې دده د فکر په (ځانګو) کې وزانګــل نو لا راته څرګنده شوه چې ننګ صيب د هغو شاعرانو او ليکوالو په ډله کې دی چې زموږ د ملت همدې پرله پســې محکوميــت، مظلوميــت او محروميت ته په ځير سره متوجه دي. ننګ صيب همــدې محروميــت کړولی، ځورولی او ژړولی دی. دده اکثــره ليکنــې چــې مــوږ ګــورو، د همدې جبر پر وړاندې يو غبرګون دی.

که چېرې زموږ په هېواد کې يو ملي اکثريتي محکوميت او ژبنی محروميت نه وای، نو بيا خو موږ (فاتح الملک)، (ننګ) او (يوسفزي) ته دا ډول اړتيا نه احساسوله. وګورئ يو عجيب ترکيب دی:

(فاتح الملک ننګ یوسفزی). یو چا دې خاورې ته سترګې نیـولې وې، چې مورِ (د هېواد فاتح) ته اړتیا پیدا کړه، یوه مبـارزه راپسـې وه چـې (ننګ) مو په کار شو، کوم مغول سره مو رقابت و چې (یوسفزي) ته مو اړتیا پیدا شوه. ظاهراً خو دا نومونه یو تصادف ښکاري، خو څوک چـې ددې تصادفاتو تـر شـا ولاړ دی او دا ټولـه نـړۍ لـه تصـادفاتو پرتـه کنټرولوي، هغه ته دا ډول تصادفات مانا نه لري، هغـه تـه (دم او قـدم دواړه په حساب دي). زه چې کله د ښاغلي فاتح الملک ننګ یوسفزي دا (څلور کلمه ییز ترکیبي نوم) ته ګورم، ماته په کې تر ظاهري تصادف اخوا د یوه اوږده نري رنځ د علاج یوه نسخه ښکاري، داسې رنـځ چـې پېړۍ پېړۍ مو ځوروي او ډوبوي ، خو لا یې هم مورِ غوڅ علاج نـه دی کړی. دا چې په (ځانګو) کې کوم فکر زانګي دېته به لږ وروسته نغوتـه وکړو، خو دا چې خپله ټوله ځانګو ورته ډالۍ شوې هغه کوم درد، کـوم فکر او کوم سوز دی؟

هغـــه زړه تـــه چـــې د خـــدای پـــه مینـــه پـــایي
هغـــې ژبـــې تـــه چـــې خپلـــه ژبـــه وایـــي
هغـــې څړیکـــې تـــه چـــې زېـــرى د ژونـــدون وي
هغـــه رګ تـــه چـــې یـــې وینـــه د پښـــتون وي

نو کله چې یو څوک خپل ټول کتاب داسې یو ارمان ته ډالۍ کـوي، نـو هلته سړي ته ښه پته لګي چې ننګ صیب پر څه شي ننګ کـړی او د څه لپاره یې قلم چلولی دی.

د ننګ صیب په خپلې وینا چې (په ژوند کې یې تر خوړو ترخـه زیـات دي)، د ژوند په داسې یو انډوله بهیر کې لیکوال نه شي کولای، تصنعي

خواږه تولید کړي، څه شی چې په ټولنه کې وي، هغه د لیکوال ذهنـــي دایرې ته ورداخلېږي، ننګ صیب هم د خپل ژوند په اوږدو کې (ژونــد) ته ډېر کم وخت پیدا کړی دی، که هغه د ژوند ډېر خـــواږه لیـــدلي وای، ده غوښتل که نه غوښتل هغه به ترې څرګندېدل:

د خوشال خټک له عشقه ګفت و ګوی شي

چې په لوښي کې څه وي هغه ترې توی شي

زموږ یو مرحوم لیکوال (مولانا سیفي صیب) بــه ویــل: پښـــتانه کـــالیو (جامو) ته ځکه کالي وایي چې په کال کې یې یو ځل کوي.

نو پښتو ادبیاتو کې چې غنایي یا بزمي برخه د رزمي هغـــې پـــه انـــډول کمه برېښي علت یې دادی چې دلته ددې قوم لیکوال ژوند تـــه وزګـــار پاتې شوی نه دی. ننګ صیب که د ولس اســـتازی و او کـــه د تنظیمـــي بهیر په تاریخي جبر کې راولاړ مبارز او یا هم یو ازاد لیکوال، یـــو شـــی چې ورسره همېشه مل و هغه ملي فکر و او ملـــي ولولـــه وه. چـــې دده نږدې شپېته کلن سیاسي-فرهنګي ژوندانه کې یې هېڅکله منکســـر حرکت ونه کړ. که څوک د ننګ صیب فکري بهیر له پیله بیا تر دې دمه وڅاري، نو پر یوه مستقیم خط یې عمودي حرکت کړی دی. پـــه ټـــولیز ډول انسان یا وګړی د پښتو متل په مصداق (تر کاڼي کلک او تـــر ګـــل نازک دی)، ځینې کسان د زمانې ناخوالو ته ځان نه شي ټینګولای، خو هغه کسان چې د زمانې بادونه یې د فکر لیکې کږې نه کړي، هغـــه پـــه سترو شخصیتونو کې راځي. که موږ د ننګ صیب د ژوندانه د ســـختیو ټولو پړاوونو ته پام وکړو، نو په هر ډول حالاتو کې یې د ملي احساس او ملي فکر مستقیم خط همداسې پسې تعقیب کـــړی دی. دا کـــار د هـــر انسان په وس پوره نه دی. دې خبرې ته په پام سره چې د ننګ صـــیب

په لیکوالۍ کې د ژوند نور ډګرونه هم په ښه ډول ځلول شوي او ســتر انساني پیغامونه یې ټولنې ته وړاندې کړي، خو که پــه ټــولیز ډول لــه فکري پلوه دده پر اثارو غرېږو، نو د ملي فکر برخه په کې تر ټولو برخــو درنه ده. دده خپل کرکټر په حقیقت کې د ملي فکر د دایرې په محــور کې واقع دی. د همدې اثر (ځانګو) په (ضمیر) نثري ټوټه کې د (سر) او (زړه) د دوو متضادو کرکټرونو په مکالمه کې ستر انساني پیغام پــروت دی. ددې لیکنې یا راډیویي فیچر پیغام دادی، چې مینه اوعواطف پــه پای کې پر زر او زور بریالي کېږي.
په (نوم ورکي شپون یا نامتو تورکښ شهید) ډرامه کې د (شین خــالۍ) او (شاعر) ډیالوګ د ژور ملي او وطني احســاس څرګندونــه کــوي. دا ډرامه د شاعر د هغه فطري حالت او د ضــمیر د حقیقــي درد انځورنــه کوي چې په ټول وطن کې هېڅ کور نه لري، خو دی د ټول وطن دعــوه کوي، نه د هغو په شان چې په هېواد کې هر څه لري خو هېڅ نه لــري. دا ډرامه د شاعر هغې پانګې ته اشاره کوي، چې اکثره شــاعران پــرې ډېره لګوي: (( د شاعر بچي د هغه شعرونه دي.))
د (کمیس او ژولۍ) په ډرامه کې د پېروز په کرکټر کې د نیمه ځمکوالۍ ټولنې د یوه حریص وګړي شخصیت انځوروي او په ډېره جالبه اصطلاح د هغه ناعلاجه ناروغۍ ته د (حرص الدرهم) اصطلاح کاروي. دا ډرامــه په انسان کې د بولهوسه ناروغیو د کنټرول او مهار لپاره ســتر انســاني پیغام لېږدوي.
(ځانګو) چې ددې ټولګې مرکزي ډرامه ده، ټوله ډرامه یوه ستره ملي او تاریخي پېښه انځوروي. ددې ډرامې د مرکزي کرکټرونو (بېــټ نیکــه، نازو انا او میرویس نیکه) په ډیالوګونو کې ستر پیغامونــه پراتــه دي. د

نازو انا په دعا کې ستر ارمان پروت دی. د ببېتۍ نیکه او نازو انا مکالمه د یوه ستر، واحد او بریمن ملت روح تمثیلوي.
د ((تربګني)) په نوم ډرامه خو له ورایه ښکاري، چې د کومې ټولنې زېږنده ده، تربګني د چا ترمنځ وي او نتیجه یې څه وي؟ ننګ صیب په دې ډرامه کې خورا کمال دا کړی، چې لومړی یې د دوو کرکټرونو (تور ګل) او (انار ګل) ترمنځ د تربورولۍ داسې ډیالوګ پیل کړی، چې د تربګنۍ له ناعادلانه منطق سره بشپړ انطباق لري، لوستونکی تر دې حده ځان سره کشوي چې وایي ضرور به اوس یو څه پېښېږي، خو خبره لا د ډزو پړاو ته نه رسېږي چې د (جانباز) او (سر باز) د تربګنۍ داستان چې (مرچکي) په کې د خپلې چغلګرۍ پرېمانه مرچ دوړولي، پیلېږي. ددې تربګنۍ په بهیر کې سرباز او جانباز د یو بل ورونه وژني او خپله کلونه کلونه زندان ګالي، نو کله چې جانباز د خپل برخلیک دا غمجنه کیسه (تور ګل) او (انارګل) ته کوي، هغوی ترې عبرت اخلي او دښمني یې پر دوستۍ بدلېږي.
د (غیرتي مېرمن) په ډرامه کې یې د احمدشاه بابا د وخت یو تاریخي روایت په ښکلې هنري ژبه بیان کړی او یو ستر ملي ارمان یې په کې ځلولی دی. د عینو نوم، د عینو کارېز له پېړیو راهیسې مشهور دی او له نېکه مرغه چې نن (عینو مېنه) په کندهار کې د نړۍ د یوه متمدن ښارګوټي په توګه نوی جوړېدونکی ښارګوټی دی.
همداسې نورې ډرامې چې د ټولو یادول دلته د وخت د کمي له امله ضروري نه بولم. په پای کې خپلې خبرې رالنډوم او وایم: له فکري پلوه (ملي فکر) په دې ډرامو کې داسې دی، لکه په شمسي نظام کې چې (لمر) وي. له ژبني پلوه دا ډرامې په ډېره پخه، کره، تر ډېره حده په نره

او معیاري ژبه لیکل شوي، لیکوال چې څه غوښتي هغه یې په ښه بڼــه افاده کړي. د ډرامو پیغامونه یې مثبت دي او ښه خو لا دا چې د هندي فلمونو په شان مثبت کرکټرونه په پای کې بری مــومي او منفــي هغــه ماتې خوري، دا حالت د لوستونکو په ذهن کې د مثبتو شخصــیتونو د روزلو روحیه روزي او لوستونکي په پای کې د راحت احساس کوي.

# پوهاند محمد حسن کاکړ د جګړې پر لومړۍ کرښه!

دا لیکنه مې پر (۱۳۸۹ل) کال په کابل کې د پوهاند صیب محمد حسن کاکړ په یاد جوړه شوې غونډه کې اورولې ده.

کېدی شي ځینو دوستانو ته به دا پوښتنه عجیبه وي؛ په داسې حال کې چې زموږ هېواد له لکونو، کورنیو او بهرنیو جنګیالیو، جګړه مارو، جګړه پالو، جنګسالارانو، طالبانو، جنرالانو، مارشالانو، کیڼ لاسو او ښي لاسو وسلوالو ډک دی او دا دوه دېرش کاله کېږي، متواتره جګړه روانه ده، نو بیا داسې یوې جګړې ته څه اړتیا ده چې پوهاندان دې هم په کې راټاله شي؟ او هغه هم بیا د پوهاند محمد حسن کاکړ په شان یو پوهاند، چې هم د دودیزو علومو او تجربو په بتۍ



کې پوخ شوی او هم د عصري علومو داسې پوره تجربه ورسره ده چې د ځمکې او اسمانونو ننداره پرې کېدلی شي...

پوهاند کاکړ داسې یو څوک دی، چې په لغمان کې د طبیعي علم، چل، هنر او مهارت له سینده یې اوبه څښلي او په (ډیوه) کلي کې یې د علم ډیوې ته سترګې غړولي او هم یې د اوسنۍ عصري او تخنیکي نــړۍ د تمدن د مخکښانو، امریکا، انګلیستان او نورو کې د عصري علومــو پــه تولو معیارونو برابرې زده کړې کړې دي. یانې دا چې زموږ پوهاند داسې یو پوهاند دی، چې د دودیزو او عصري دواړو علومو پخه تجربــه لــري. پوهاند کاکړ د تاریخ لیکنې د علمي میتودلوژۍ پر بنسټ خپلې لیکنې اعیارې کړي. دی لکه د ځینو نورو په شان د شخصــي احساســاتو تــر اغېزې لاندې نه دی راغلی، پېښې لکه څنګه چــې دي همغســې یــې څېړلي، البته د یوه تاریخ لیکونکي په توګه یــې د پېښــو هــر اړخیــزه شننه او څېړنه خپل حق ګڼلی دی؛ نه یې خپل ویاړونه په پردو پــورې او نه یې پردۍ تورې خپل ځان پورې تړلــي دي، شــته داســې تــاریخ لیکونکي چــې کلــه کلــه د خاصــو ســیمه ییــزو، قــومي او مــذهبي احساساتو تر اغېزې لاندې راځي او پېښو ته له خپل لید لوري ګــوري، یو دوه بېلګې به یې راوړو: (محمود افشار یزدي) یو ایراني لیکوال دی، هغه د افغانستان په اړه په (۱۶۰۰) مخونو کې د (افغان نامه) په نامه یــو کتاب لیکلی دی، په هغه کې یې نه یوازې د افغانستان ټول ویاړونه پــه ایران پورې تړلي، بلکې د خدای په خلقت کې یې هم ګــوتې وهلــي او لیکلي یې دي، چې د افغانستان په غرونو کې کومې طبیعي ونې کېږي هغه هم له ایران څخه باد راوړي او دلته شنې شوې دي، هغه په کینــه ییز ډول د افغانستان د تاریخ  د مسخه کولو هڅــه کــړې ده. مرحــوم کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي بیا دا کتاب نقد کــړی او دده افراطي نظریات یې رد کړي دي، عطایي صیب بیا د افراطي لیکوالو یــا

تاریخ لیکونکو په جمله کې د یو پښتون لیکوال یادونــه هــم کــوي او وايي  چې هغه بیا ځمکه او اسمانونه، غرونــه او رغونــه ټــول پښــتانه معرفي کړي، د بشر ټول خلقت یې پښتنو ته منسوب ګڼلی او لیکلــي یې دي: ادم علیه السلام هم اصلاً پښتون و، نوم یې همېشه ګل و او په تیرا کې به اوسېده.

له دې بېلګو مې هدف دا و، چې په تاریخ لیکونکو کې هم داسې کسان شته چې ښي او کیڼې افراطي نظریې لري، خــو زمــوږ پوهانــد صــیب حسن کاکړ بیا له دا ډول افراطي نظریاتو څخه پاک دی، هغه د تاریخ د علمي میتودونو له مخې پر یوه مستقیم خط روان دی، خو ایــا لــه دې علمي قوت، سپېڅلتیا او دقت سره سره بیــا هــم د پوهانــد صــیب د موافقینو او مخالفینو اندول برابر دی؟ دا مهمه نه ده چې پوهاند صیب څومره مخالفین لري، خو دا مهمه ده چې پوهاند صیب څه ویلــي دي؟ په شرقي ټولنو کې دا یو دود دی چې کله کله د رښتیاوو پر وړانــدې د مخالفینو شمېر زیات وي.

اوس راځم همغې پوښتنې ته چې زموږ دا پوهاند ولې جګړې تــه لاړ او بیا ولې د جګړې لومړۍ کرښې ته؟

ټولو ته څرګنده ده چې له پخــوا څخــه د ځینــو ګاونــډیو او د ځینــو پردیپالو په اصطلاح لیکوالو او تاریخ لیکونکــو د افغانســتان مســتقل هویت او حیثیت نه خوښېده او نــه یــې خوښــېږي، پــر افغانســتان د شوروي له یرغل سره سم یو شمېر بهرنیو او د هغو کورنیو اړوندانو تــه ددې لاره اواره شوه چې په منظم او سیستماتیک ډول د افغانستان پر تاریخ، ویاړونو او تېر برم بلوسه وکړي او دا بلوسې لا  تر اوسه په خپــل قوت سره روانې دي، ددې منظم یرغل پر وړاندې ودرېدل د هر چا پــه

وس پوره نه دي، خو پوهاند صیب د امیر کروړ په څېر چې په یو تن بــه له سلو جنګاورانو سره جنګېده، په یــوازې ځــان د دوی پــر وړانــدې ودرېده، هغه څه یې ولیکل چې بلوسګرو ته مناسب ځــواب و، دا ډول سیاسي، اخلاقي او علمي جرئت د ډېــرې قربــانۍ پــه بیــه کېــږي. د افغانستان د تاریخ مسخه کوونکي له هرې وسیلې څخه کار اخلي چې زموږ پر دې ډول ملي او علمي شخصیتونو د ژوند ساحه راتنګه کــړي؛ په ټولنه کې یې د نشنلیست، فاشیست او ژبپال په نامــه معرفــي، پــه ټولنیزو او سیاسي چارو کې یې فعالیت ور محدود کړي او بیــا لــه دې بېلګې نورو لیکوالو ته هم دا پیغام ولېږي چــې کــه تاســو هــم دا لاره تعقیبوئ نو برخلیک به مو دغسې شي، زموږ اکثره پښــتانه لیکــوال، سیاستوال او تاریخ لیکونکي زموږ د هېواد د هویــت د پټــو او ښــکاره مخالفینو له خوا د نشنلیست او فاشیست له توره دومره وېرېږي، لکــه ملا چې پر چا د تکفیر ټاپه ولګوي او یا هــم لکــه پــر سیســیو چــې د شاهین د وزر سیوری خور شي، خو زموږ پوهانــد صــیب د عوامــو پــه اصطلاح د مخالفینو ددې غور و پش په کیسه کې نه دی، هغه د شــاعر ددې بیت په مصداق چې:

په چا به ښه په چا به بده لګي
ما د رښتیا کیسه پوره وکړله

خپل حقانیت غځوي او بلوسګرو ته علمي او منطقي ځــواب ورکــوي. پوهاند صیب د هغو مخالفو بلوسګرو په شان نه دی چې د چا پر ویاړ او پرتم بلوسي او یا ور سره رخه لري، بلکې هغه د خپل تاریخ، خپل ویــاړ او خپل پرتم د مخالفینو پر وړاندې دفاع کوي، په همدې خاطر خو یــې د یوه مهم اثر نوم: (رښا او دفاع) دی. زموږ پوهاند تیاره روښانه کــوي او

د خپل تاریخ دفاع کوي، که دده په زړه کې لکه د نورو په شان خیــری وای، نو بیا خو به یې د (رڼا او دفاع) پرځای (تورتم او تېری) اثر لیکلــی و. هوکې! یو مدبر، مفکر، نوښتګر، ناپېیلی، ځیــرک او هوښــیار تــاریخ لیکونکی او تاریخ پوه باید همداسې وي، لکه زموږ د پوهاند پــه شــان چې (رڼا او دفاع) لیکي، نه (تورتم او تېری). موږ پرې ویاړو.

اوس راځم خپلو څو مشخصو وړاندیزونو ته:

ددې په خاطر چې زموږ نسلونه د تل لپاره د پوهاندصــیب لیکنــو تــه لاسرسی ولري او په خپل هېواد کې د هېواد د مخالفینو پر وړاندې لــه (رڼا او دفاع) څخه محروم نه شي، نو:

۱- د پوهاندصیب ټول چاپي او ناچاپ اثار دې یو ځل بیا په منظم ډول چاپ شي.

۲- د استاد متفرقه لیکنې دې له پیله بیا تر دې دمه راټولې، ډلبنــدي او بیا دې پر یوه وخت چاپ شي.

۳- د استاد ځینې اثار چې په انګرېزۍ او یا نورو ژبو لیکــل شــوي وي، په پښتو دې وژباړل شي.

۴- د استاد ځینې اثار دې د نړیوالو د ذهن د روښانتیا پــه خــاطر پــه نړیوالو ژبو وژباړل شي.

۵- د کتابونو پر چاپ سربېره دې د استاد ټول اثار پــه یــوه ســي ډي (CD) کې خوندي او بیا دې اړتیا وړ شمېر تکثیر شي.

۶- د استاد ټول اثار دې په انټر نېټ کې خواره شي چې د نړۍ پــه هــر ګوټ کې یې هر مینوال ترې ګټه پورته کړي.

۷- په انټرنېټ کې دې د ځوانو لیکوالو پــه مرســته د اســتاد د ژونــد، نظریاتو او اثارو لپاره یو ځانګړې وېبپاڼه جوړه شي.

۸- او له استاد څخه مو هیله ده چې د ژوند پاتې عمر کې (له بابا ادمــه تر دې دمه) د افغانستان یو مشرح تاریخ ولیکي چې زموږ ځوان نســل د هېواد د تاریخ د مخالفینو پر وړاندې د (رڼا او دفاع) جوګه شي.

اوس همدومره

# د (ودان) اوښکه

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د افغانستان او هندوستان د کرکټ د ملي ټیمونو تر منځ د شل اوریزه سیالیو پر مهال شوې ده.

(ودان) زما کوچنی زوی، د ښوونځي د لومړي ټولګي زده کوونکی، په غوښه خوار خو په عقل پوخ دی، د خپل ټولګي اول نومره دی، هره ورځ چې له ښوونځي څخه کورته راځي نو ښوونکې یې پرمخ د لیاقت ستوري رسم کړي وي، د کتابچې په هره پاڼه کې ورته ښوونکې، افرین، ډېر ښه، excellent او Very good لیکلي وي. خپلې کورنۍ دندې پرته له دې چې زه او یا مور یې ورته ووایو وخت پر وخت ترسره کوي. کله چې له ښوونځي راستون شي نو ژر تر ژره خپله کورنۍ دنده ترسره کړي، وخت ځانته سپما کړي، ددې یو علت شاید دا وي چې دی له ټلویزیون او کمپیوټر سره ډېره علاقه لري، په ټلویزیون کې یې ټول هغه چینلونه په نښه کړي چې سپورتي لوبې په کې وي او یا کارتوني نشرات لري، زما د ټلېفون څو سیټونه یې په ګېمونو خراب کړل، کله چې مې ټلېفون پرې بند کړ، نو ده راته وویل: ((د چا زوی چې اول نومره وي پلار یې هر څه ورته اخلي، خیر چې ټلېفون راته نه راکوې لیپټاپ راته واخله))، ما ویل کور کې ډیسکټاپ کمپیوټر شته، هغه کاروۍ! ده ویل: ((هغه ته ټوله ورځ سمسور (مشر ورور یې) ناست وي

هغه مانه پرېږدي، ما ویل پرېږدي دې، ده ویل نه مې پرېږدي، ما ورته وویل ځه که چېرې په کلنۍ ازموینه کې اول نومره شې، نو لیپټاپ درته اخلم، هغه اولنومره شو، نو ما هم ورسره خپله وعده پوره کړه، اوس نو پر لیپټاپ کمپیوټر دومره حاکم دی چې زه کله کومه پوښتنه ورڅخه کوم، نو موسکی شي مانا دا چې ته لا پر ډېرو شیانو نه پوهېږې. زه یې کله کله مور ته وایم چې دې د کمپیوټر نسل ته خو زه او ته دومره ساده ښکارو، لکه د غره سړی چې ښار ته راشي. هغه راته وایي، ما پورې هم کله کله خاندي ساده ورته ښکارو، دوی سره به څه کوو؟

په اکثرو کورونو کې د ټلویزیوني چینلونو د بدلولو واک له کوچنیانو سره وي، خو د ډرامو او تفریحي فلمونو پر سره د میندو او ماشومانو ترمنځ کله کله ټکر پېښېږي، ما په خپل کور کې دري ټلویزیونونه لګولي: یو د ماشومانو په خونه کې، یو په خپله خونه کې، یو په مېلمستون کې او په کتابتون کې مې کمپیوټر ایښی، هدف مې دادی کله چې د ماشومانو او زموږ د ذوق ترمنځ اختلاف راځي، نو چې هر یو د خپلې خوښې چینل ته لاسرسی ولري. پر دې ماښام چې د افغانستان او هندوستان ترمنځ د کرکېټ لوبه مستقیماً ښودل کېدله، زه خپله خونه کې ټلویزیون ته کېناستم، لمر، شمشاد او نورو ټلویزیونونو لوبه په مستقیم ډول ښودله، لوبه لومړی افغانانو پیل کړه، له هر ځایه ټلېفونونه راتلل! استاده! ټلویزیون ته کېنه ټلویزیون ته، ما ورته ویل ناست یم. زړه مو د خپل هېواد لوبډلې ته ډب ډب کاوه، له دعاګانو پرته مو نور هېڅ نه شو کولای، مېرمن به مې یوه شېبه په پخلنځي کې وه، یوه شېبه به یې زما په خونه کې ټلویزیون کاته، کله

چې به افغانستان کومه نومره واخیسته نو دواړو بـه چکچکـې کـړې.
مېرمن به مې همدا ویل، خدای خو دې افغانستان کامیاب کـړي، ډېـر
غریبان یو، افغانستان قندول ډېر مظلوم دی. کله چې به د افغانســتان
کوم لوبغاړی وسوځېده، نو ددې په غړ کې به هم تغیر راغی.
زما مټ به یې کېکاږه خدای دې زموږ افغانان کامیاب کړي، زه به ورتـه
ډوډۍ تیاره کړم یو ښه محفل به ورته ونیسم. ودان له هغې بلې کـوټې
رامنډه کړه، اغا! اغا دا (سمسور) او هیلو (مشره خـور یـې) ګـوره! مـا
ټلویزیون ته نه پرېږدي، غړ مې کړ: وه هلکـو پرېـږدئ ودان، سمســور
راغی اغا دی بیا کارتوني نیسي او (کشتی کج) نیســي مـوږ هغـه نـه
غواړو، ودان بیا راغی ګوره اغا نه مې پرېږدي، ودان ته مو وویـل راځــه
ماسره کېنه، نن د افغانستان او هند د کرکټ مسابقه ده، خــدای دې
وکړي چې موږ یې وګټو! زویه که موږ وګټله نو ښه تحفه درتــه اخلــم،
هلک راغی، زما څنګ ته کېناست، بالښت ته یې ډډه ولګوله او سر یې
زما پر ولي کېښود، ما یې پر سر ورو ورو  لاس راکښــه، هلــک ورو ورو
لوبې ته متوجه کېده، ودان تر ما زیات پر کرکټ پوهېده، ماته یې ویل
دوی ژر ژر او په تېزه توپ نه ولي؟ ما ویل زویه ولي یې خو هنــد ډېــره
تجربه لري هغوی شپېته کاله کېږي چې دا لوبه کوي او مـوږ او تاســې
خو دا دی څلور پنځه کاله کېږي چې دا لوبه کوو، ودان وویل: اغا هنــد
کې کافران دي که مسلمانان؟ ما ورته وویل زویــه هنــد کــې اکثریــت
هندوان اوسي خو مسلمانان هم په کې شته! ده بیا یو ســوړ اوســېلی
وکېښ، کله چې به لوبه د افغانستان په ګټه نه وه، نو دده پر روحیاتو به
پوهېدم چې ورو ورو به  په کې تغیر راته. دی به کله کله هغه ریفري ته
چې سرې جامې یې پر تن وې ډېر په قهر شو، ویل یې خدای خو دې دا

سور ږیری مړ کړي ټول کار په همده کې دی، دی زموږ دښمن دی، ما ویل نه زویه هغه خو ریفري دی، ده ویل نه د توپ مخه نیسي. رښتیا هم څو ځله داسې وشول چې د افغانانو توپ د ریفري ترڅنګ تېر شو او هغه به ځان بچ کړ. مېرمن خو مې چې څو شپې نوره لوبه وکتله ویل یې زه د لیدو تاب نه لرم، که کوم ښه زېری و ما باندې غږ کړئ، افغانانو هند ته (۱۱۵) منډې هدف وټاکه. کله چې هندیانو لوبه پیل کړه، نو دا وخت ډوډۍ هم تیاره شوه، نو ما ویل چې لوبه خلاصه شوې نه وي، ډوډۍ نه خورو، زه او ودان کرکېټ ته ناست وو او هیله، سمسور، سوله او مور یې په خپله خونه کې، کله چې به افغانانو کوم هندي لوبغاړی اوټ کړ، نو ما او ودان به چکچک وکړ، ټولو به یوځل زموږ خونې ته رامنډه کړه، دا به یو ښه زېری و، خو د لوبې حالت ته مې چې کتل، د افغانستان د ګټې چانس ورو ورو کمېده، د ودان وضعیت هم ورو ورو خرابېده، پر ما یې هم ډېر بد تاثیر کاوه، کله چې د لوبې د پای شېبو ته رانږدې شو، نو د ودان حالت نور هم خراب شو، یو وخت چې ورته متوجه شوم، د هلک په سترګو کې د اوښکو ډنډ راڅرګند شو ورو ورو یې د ښي سترګې له کونجه یوه اوښکه راووتله! ما ویل زویه خیر دی بل ځل یې ترې ګټو کله یې پرېږدو، دا خو اول ځل دی، دې وخت کې مې مېرمن (ارین یون) سوله (کشره لور مې) سمسور (مشر زوی مې) ټول زما خونې ته راغلل، مېرمن مې وویل وش افغانستان قندولک بایلوله! ما ویل بېچاره ګانو ډېر زور وواهه خو هېڅ چاره نه وه، دې وخت کې سمسور او سوله ودان ته متوجه شول، یو دم دواړه په خندا شول، اوهـ ودان خو ژاړي ودان ژاړي، چکچک یې کړ، د ودان په سترګو کې نورې اوښکې هم راغلې، شونډې یې مرۍ مرۍ

شوې، ګوره اغا که نه ما باندې ریشخند وهي! پر هغوی په قهـر شــوم، چوپ شئ غلي شئ، تاسې خو نه پوهېږئ، دا خو مې هوښیار زوی دی، پر خپل هېواد یې زړه خفه شوی، دی خو دومره تکړه ســړی دی، چــې هم په صنف کې اول نومره دی او هم خپل هېواد ورباـندې ګــران دی تاسې په دې خبرو څه پوهېږئ، دی خو په هر څه پوهېږي، دی چې له خیره غټ شي په کرکټ ټیم کې یې داخلوم، ټولو هندوانو ته به ماتې ورکوي، بیا به یې وګورئ، مور یې هم پر هغوی په قهر شوه دواړو ودان مچ کړ، د لاسه مو کړ، غبرږ کې مې ونیو ما ورته وویل زویه تاتــه ښــې ډېرې تحفې اخلم او دې نورو ته هېڅ شی نه اخلم پرې چې دوی ته ښه زور ورکړي.

څو شېبې وروسته ډوډۍ ته لاړو، خو ډوډۍ هېڅچا ته خوند ور نــه کــړ، ډېره ترخه راباندې تمامه شوه، زه خپلې خونې ته راغلــم، لــږه شــېبه وروسته ودان خپل قلم او کتابچه راواخیستل او د خپلې کورنۍ دندې پر لیکلو یې پیل وکړ. هلک بیا لکه چې د کرکېټ کوم خیال کې تللــی وي، څو شېبې وروسته بیا سولې او سمسور چغه کــړه، اوه ودان ژاړي ودان ژاړي، ورمنډه مې کړه، بیا پر هغوی سخت په قهر شوم، دواړه مې له غوږونو ونیول په خپلو بسترو کې مې څملول، چوپ شئ بــې ادبــو، ودان په سلګو و، ګوره اغا دوی په ما ریشخند وهي، نور نو د خبرو نه و د زړه له درده یې ښه په خوټ خوټ وژړل، خپله کتابچه یــې لانــدې مخې ته نیولې وه، کله چې کتابچې تــه متوجــه شــوم، نــو د اوښــکو څاڅکو د پنسل کرښې سره ګډې کــړې او تــورې لیکــې یــې د پــاڼې بېلابېلو برخو ته غځولې وې، غبرږ کې مې ونیو خپلې خونې ته مې راوړ، ډاډ مې ورکړ، ما ویل زویه ته چې لږ غټ شې په کرکېټ تــیم کــې دې

داخلوم، ټولو ته به له خیره سره ماتې ورکوې، د افغانستان غچ بــه لــه خیره اخلې، د رخصتۍ پر ورځ به درته ډېرې تحفې اخلم، هر شی چــې ته غواړې هغه به درته اخلم، د هلک په وېښتانو کې مې ورو ورو ګــوتې وهلې، یو وخت ماشومانه خوب هغه په غېږ کې نیولی و، پــر مــا هــم د پرېشانۍ داسې خوب راغی چې له پرېمانــه نهیلــو ســره مــل و، ودان خپلې اوښکې وڅڅولې، خو ما او مور یې خپلې ګرمې اوښکې خپل زړه ته تېرې کړې او هېچا هم ونه لیدلې.

# د (ضمير) پر مړينه ضمير لړزېږي

دا يادښت د ځوانيمرګ ليکوال (احمد ضمير علم دوست) پر مړينه پر (۱۳۸۹ل) کال ليکل شوی دی.

کله چې په يوه ټولنه کې (ضمير) ژوندی وي، نو هغه ټولنه پرې روښانه وي، خو کله چې ضمير مړاوی شي، په ټولنه کې د عدالت



وړانګې هم تتې شي. زموږ (احمد ضمير علم دوست) هم زموږ د ټولنې د ځوان کهول لپاره يوه رڼا وه او يوه ځلا وه؛ هغه هم (احمد) و، هم (ضمير) و او هم (علم دوست) و، پر يوه وخت خدای(ج) موږ له دربو نعمتونو بې برخې کړو.

(ضمير) د خپل (ضمير) په رڼا کې د خپل ولس د سوکالۍ لپاره ډېر ((لوړ خيالونه)) او ((ژور فکرونه)) لرل، خو د مرګ قاصد هغه خپل لوړ (فکر) او (تفکر) ته پرېنښود، د هغه د مينې او فکر خزانه

همداسې ناسپړلې پاتې شوه. اوس نو د (ضمیر) لارویـان پرتـه لـه دې چې خپل (ضمیر) ته د دعا لاسونه پورته کړي او مهربانې کورنۍ ته یې د لوی خدای(ج) له درباره د لوی زغم هیله وکړي، نور هېڅ یې په وس کې نه شته، که نه خو ټول پوهېږو چې بې (ضمیره) ژوند څومره ګـران دی او سړی له کومو تیارو سره مخامخوي. لـوی رب دې د (ضـمیر) د فکر او خیال ډیوه په دې نړۍ او د ابدي ژوند ډیوه دې ورته په فردوس جنت کې بله لري.

د (ضمیر) په مینه

یون

# جنګ او فرهنګ په افغانستان کې

دا لیکنه مې پر (۱۳۹۰ل) کال د سارک هېوادونو د لیکوالو د ټولنې په غوښتنه د هغوی له خوا یو رابلل شوي علمي سیمینار ته لیکلې او ورلېږلې وه.

جنګ او فرهنګ د مانا او محتوا لــه مخــې دوه متضــادې کلمــې دي. فرهنګ د یوې ټولنې یا یوه ملت د ټولې مادي او مانیزې شــتمنۍ یــوه مجموعه ګڼل کېږي او جنګ بیا داسې پدیده ده چې د یوه ملت ټولــه مادي او معنوي شتمني له منځه وړلای شي. د جنــګ او فرهنــګ پــر معنوي تضاد هغه ملتونه ډېر پوهېږي چې د غني فرهنګ خاوندان وو، خو جنګ ورڅخه دا ټوله شتمني لوټلې وي. موږ (افغانان) د اســیا پــه زړه کې هغه ملت یو چې لرغونی کلتور او تاریخ لرو، خــو د پېړیــو پــه اوږدو کې جګړو زموږ د فرهنګ اکثره فزیکي او معنوي شتمني داســې له منځه وړي چې اوس یې یوازې د کتابونو په پاڼو کې نومونه ګورو. ان دا چې دا نومونه او ویاړونه لا کله کله د شک تر وهم او وېرې لاندې هم راځي.

پر افغانستان باندې د عربو، چنګېزیانو، انګرېزانو، روسانو او غربیانو د یرغلونو او د هغو پر وړاندې د جنګېدونکو افغانانو د جګړو له املــه پــه متواتر ډول د افغانستان ډېره زیاته کلتوري شتمني له منځه تللې، چې ددې ټولې له منځه وړل شوې شتمنۍ څېړل ددې لیکنې په وس کــې

نه دي، خو زه غواړم د خپل نسل او خپلې زمانې د یوه شاهد په توګه هغې کلتوري شتمنۍ ته اشاره وکړم، چې له (۱۹۷۸ع) کال بیا تر (۲۰۱۱ع) کال پورې یا په بشپړ ډول له منځه تللې یا زیانمنه شوې ده. زه د هغو افغانانو په ډله کې یم چې د تېرې (۳۳) کلنې جګړې په ټول بهیر کې په افغانستان کې پاتې شوی یم. ما د جګړې هر ناتار په خپلو سترګو لیدلی او د جګړې ډېرې ناخوالې مې په خپله لمس کړي دي. د همدې درې دېرش کلنې جګړې په ترخ کې چې به هر کله د جګړې اور زموږ هر فرهنګي میراث تر ستوني تېر کړ، نو زما پر زړه به لمبې شوې، قلم او کاغذ به مې راواخیست او هغه پېښه به مې ثبت کړه. د همدې جګړه ییزو کلونو په بهیر کې مې ( د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه)، ( د مغزونو فرار)، (کلتوري یون) او (افغاني اوسنۍ رسنۍ) بېلابېل اثار ولیکل. په دې اثارو کې اکثرو هغو فرهنګي میراثونو ته کتنه شوې چې د جګړې له امله یا بېخي له منځه تللي او یا هم زیانمن شوي دي. په دې لیکنه کې زه غواړم د افغانستان فرهنګ ته د اوښتو زیانونو یو نچوړ وړاندې کړم او په دې کې مې پیغام دا دی چې نړیوال زموږ پر فرهنګ د راغلې غمېزې له حجم او څرنګوالي څخه خبر شي، بل پیغام مې دادی چې نړیوال د نړۍ په هر ګوټ کې چې وي باید د هر ډول جګړې مخنیوی وکړي او بل پیغام مې دادی چې فرهنګي شتمني که څه هم د دنیا په هر ګوټ کې رامنځته شوې وي، د ټول بشریت ګډه پانګه ګڼل کېږي؛ د ساتنې او پالنې لپاره یې باید ټول په ګډه کار وکړي. افغانستان فرهنګ د تېرو دېرشو کلونو په ترخ کې دومره زیانونه زغملي چې که پر هره برخه یې بحث وکړو جلا جلا اثار

پرې لیکل کېدی شي، خو زه بــه دلتــه یــوازې مهمــو زیــانمن شــویو فرهنګي میراثونو ته په لنډیز سره اشاره وکړم:

۱- ښوونځي:

ښوونه او روزنه د یوه هېواد د فرهنګ اساس جــوړوي. کلــه چــې پــه افغانستان کې جګړه پیل شوه، نو تر ټولو لومړی او سخت ګوزار یې پــر همدې ښوونځیو وکړ. له (۱۹۷۸ع) کال څخه چې په افغانســتان کــې ګرمه فزیکي جګړه پیل شوه، بیا تر (۱۹۹۲ع) کال پورې په افغانســتان کې د ټولو ښــوونځیو شــمېر د اوو زرو (۷۰۰۰) پــه شــاوخوا کــې وو. د ځوارلس کلنې جګړې په ترڅ کې ددې ښوونځیو له جملې څخــه درې زره پینځه سوه (۳۵۰۰) ښوونځي وسوځول شول. دا (۳۵۰۰) ښوونځي اکثره د هېواد په کلیوالــو ســیمو کــې وو چــې د (ډاکتــر نجیــب الله) حکومت له کنټروله وتي وو او د (مجاهدینو) تر کنټرول لاندې ســاحه کې وو. کله چې د (ډاکتر نجیب الله) حکومت ړنــګ شــو، مختلــف او متفرق (مجاهدین) پر ښارونو خواره شول، نو پــه ښــارونو کــې پــاتې ښوونځي هم اکثره له همغه برخلیک سره مخامخ شول؛ یا ړنــګ او یــا هم زیانمن شول، د پاتې ښوونځیو ایله نیمایي برخــه پــه نســبي ډول پرانیستي پاتې شوه چې په هغو کې هم درسي کیفیت ډېر ټیــټ و. دې دورې نږدې څلورنیم کاله دوام وکړ، ورپســې د طالبــانو رنــځ او کــړاو راغی، هغو نو هغه پاتې ښوونځي هم په بلــه بڼــه واړول، د ښــوونځیو درسي نصاب یې له عصري علومو څخه دیني علومو تــه واړوه، نــږدې یوولس سوه(۱۱۰۰) ښوونځي یې پر سوچه دیني (مدرسو) واړول. په دې

ډول په افغانستان کې د هر سیاسي نظام پــه بــدلون ســره د پــوهنې بنسټونه زیانمن شول او دا لړۍ تر دې دمه روانه ده.
د نارسمي ارقامو له مخې یوازې له (۱۹۷۸ع) څخه تــر (۱۹۹۲ع) کــال پورې لږ تر لږه د اوه نیم ملیونه (۷۵۰۰۰۰۰) افغانــانو د باســواده کېــدو مخه نیول شوې. له (۱۹۹۲ع) څخــه تــر (۲۰۰۰ ع) کــال پــورې هــم د همدومره کسانو د باسواده کېدو د مخنیوي اټکل کېدی شي. دا هغــه معنوي زیان دی چې د یو بشپړ نسل زمانه په غبرږ کې نیسي او جبران یې هم همدومره وخت او په ملیاردونو ډالرو مالي لګښت ته اړتیا لــري. که څه هم له (۲۰۰۱ع) څخه بیا تر ننه پورې د افغانستان د معــارف پــه ډګر کې ډېر پرمختګ شوی؛ اوس په ټول افغانستان کــې لــږ تــر لــږه یوولس زره (۱۱۰۰۰) ښوونځي فعال دي چې نــږدې اتــه اعشــاریه درې ملیونه (۸،۳۰۰۰۰۰) زده کوونکي په کې زده کړه کوي او له هغې جملــې څخه (۳۰) په سلو کې یې نجونې دي. د خصوصي ښوونځیو د جوړولــو زمینه هم برابره شوې چې شمېر یې اوس په ټول هېواد کې نږدې څلور سوه (۴۰۰) خصوصي ښوونځیو ته رسېږي. دې سره سره د افغانســتان په زیاتو سیمو کې اوس هم د ښوونځیو د ســوځونې لــړۍ روانــه ده. د همدې تېرو لسو کلونو په ترڅ کې لږ تر لږه تــر دوه ســوه (۲۰۰) زیــات ښوونځي سوځول شوي او همــدا اوس (۶۲۱) ښــوونځي تړلــي دي. د هېواد په زیاتو سیمو په تېره بیا په جنوب، جنوب لویدیځ او ختیځ کې د وهم وېره خوره ده، پــه دې یــادو ســیمو کــې د دوه نــیم ملیونــه (۲۵۰۰۰۰۰) هغو ماشومانو د زده کړې مخه نیول شوې چې همــدا اوس باید ښوونځیو کې پر زده کړو بوخت وای. د افغانســتان پــر معــارف دا ناورین اوس هم روان دی، جګړې د تمدن او پرمختګ، په تېــره بیــا د

پوهنې پر پرمختګ سخت ګوزار کړی او کوي يې. افغان ماشومان يې نه يوازې له پرمختګ، بلکې له خپل اساسي حق (تعليم) څخه هم محروم کړي دي. د نړۍ په کوم ګوټ کې به داسې پېښې کمې رامنځته شــوې وي چې ماشوم دې د تعليم په خاطر د ژوند له حق څخه محروم شوی وي، خو افغان ماشومان ډېر ځله په دې ((ګناه)) چې ولــې مــو قلــم او کتاب په لاس کې دی، ښوونځي ته روان ياست، وژل شوي، تېزاب پرې پاشل شوي او د بدن غړي يې پرې شوي دي. داســې ډېــرې تراژيکــې پېښې لرو چې دلته يې بيان د دې ليکنې له اوسېلې څخه وځي.

۲- د لوړو زده کړو موسسې او علمي مرکزونه:

د ښوونځيو ترڅنګ د هېواد علمي مرکزونه او د لوړو زده کړو موسسو هم پراخ زيانونه وزغمل، خو دا زيانونه د ښوونځيو هغو په انــډول ډېــر زيات نه وو. د لوړو زده کړو مرکزونه اکثره په لويو ښــارونو کــې وو. پــه افغانستان کې د څوارلس (۱۹۷۸-۱۹۹۲) کلنې جګــړې اور اکثــره پــر کليوالو سيمو متمرکز و، خو (۱۹۹۲- ۱۹۹۵) کلونو کې بيا جګــړې پــه لويو ښارونو کې زياتې ګرمې وې، د همدې کلونو په ترڅ کې د هېــواد د لوړو زده کړو موسسو او نورو علمي مرکزونو خورا درانه زيانونه وزغمل. يوازې کابل پوهنتون لږ تر لږه (۲۱) مليونه درسي ساعتونه ضايع کــړل او (۵۰) مليونه ډالر مالي زيان يې وزغمه. کابل پلتخنيک، ګــڼ شــمېر ولايتي پوهنتونونو مسلکي انستيتيونو، د ښوونې او روزنې موسســو او نورو روزنيزو مرکزونو خورا درانه زيانونه وزغمل، تر (۵۰) زيــات داســې علمي مرکزونه وو چې په تــوليز او نســبي ډول يــې زيانونــه وزغمــل، کدرونه يې له لاسه ورکــړل او د لســګونو زره محصــلينو پــه درســي

سیستم کې یې اخلال راغی. د طالبانو د حاکمیت په بهیر کې ښځینه قشر له تحصیلي بهیره حذف شو او په درسي نصاب کې اخلال نور هم پسې زیات شو. د طالبانو نظام تر سقوط وروسته له (۲۰۰۱م) کال راهیسې بیا تر (۲۰۰۱م) کال پورې د ټول هېواد په تحصیلي موسسو کې نوې ساه پوه شوه، پخواني علمي مرکزونه یوځل بیا ورغېدل، نوي پوهنتونونه او نوي علمي مرکزونه جوړ شول.

اوس د ټول هېواد په کچه د دولتي پوهنتونونو شمېر تر (۲۱) اوړي او د ښوونکو د روزنې او نورو لوړو زده کړو د موسساتو شمېر هم تر (۱۰۰) اوړي. د نویو قوانینو پر اساس د لوړو زده کړو خصوصي پوهنتونونه او موسسې هم د فعالیت حق لري. د تېرو لسو کلونو په ترڅ کې اوس په مرکز او ولایتونو کې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو تر (لسو) زیاتې موسسې جوړې شوې دي. اوس د ټول هېواد په کچه د لوړو زده کړو په موسسو او پوهنتونونو کې تر سل زرو (۱۰۰،۰۰۰) زیات محصلین زده کړه کوي، چې نجونې او هلکان دواړه په کې شامل دي. له لس کلن چټک پرمختګ سره سره بیا هم د هېواد په بېلابېلو سیمو کې لا هم د وهم او ډار سیوری خور دی او د امنیت په خرابېدو سره د ټولو پرمختګونو د له منځه تللو وېره شته.

۳- فرهنګي ټولنې او کتابتونونه:

په افغانستان کې د (۳۳) کلنې جګړې په ترڅ کې په سلګونو دولتي او نادولتي فرهنګي ټولنې زیانمنې شوې دي. جګړې د فرهنګي پرمختګ سرعت کمزوری کړی او د ګڼو لیکوالو او فرهنګیانو د راټوکېدو زمینه یې له منځه وړې ده. که څه هم (۱۹۷۸- ۲۰۰۰م کال)

پورې په افغانستان کې د ازادو فرهنګي ټولنو شمېر ډېر زيات نــه وو او اکثره فرهنګي ټولنو رسمي يا دولتي بڼه لرله، خو بيا هم پــه نارســمي ډول ځينې فرهنګي ټولنې موجودې وې چې فرهنګي کارونه يې کول، کتابتونونه يې لرل او روزنيز مرکزونه، خو جګړې د فرهنګي فعــاليتونو زياته برخه زيانمنه کړه. يوازې د (۱۹۹۲م) کال د څو ورځنيو جګړو پــه ترڅ کې د هېواد د لويو علمي مرکزونو اکثره کتابتونونــه لــوټ شــول. کابل پوهنتون چې په هېواد کې يو لوی مرکزي کتابتون درلود، نــږدې دوه مليونه (۲،۰۰۰،۰۰۰) ټوکه کتابونه يې په څو ورځو کې لــوټ شــول. يوازې د کابل ښار په بېلابېلــو کتــابتونونو او کتــابپلورنځيو کــې (۲۰) مليونه ټوکه کتابونه له منځه يوړل شــول. د افغانســتان پــه بېلابېلــو ولايتونو کې د ټولو له منځه وړل شويو کتابونو شمېر تر دې هم زيــات دی. د ټول ټال پنځوس مليونو (۵۰،۰۰۰،۰۰۰) ټوکو کتابونو له منځه تګ، کېدی شي د يوه پرمختللي هېواد لپاره ډېره غټه ضايع نــه وي، ځکــه هلته کېدی شي د څو عنوانو کتابونو عمومي شمېر مليونونو ټوکونو ته ورسېږي، خو په افغانستان کې له تعليمي کتابونو پرته چې شــمېر يــې لکونو ټوکو ته رسېږي، نور اکثره کتابونه له (۵۰۰-۵۰۰۰) ټوکو په شمېر چاپېږي، نو د دومره کتابونو، کتابتونونو، فرهنګي مرکزونو له منځه تګ او زيانمنېدل خورا درونډ فرهنګي زيان دی. لــه (۱۹۷۸-۲۰۰۰م) کــال پورې د افغانستان فرهنګي ډګر ته خورا درانه زيانونه رسېدلي، خو لــه نېکه مرغه د تېرو لسو (۲۰۰۱-۲۰۱۱م) کلونو په ترڅ کې افغانستان پــه فرهنګي ډګر کې ډېر پرمختګ کړی دی. اوس د ټول هېواد په کچه تــر (۵۰۰) زياتې ازادې فرهنګي ټولنې فعاليت لري چې ځينې يــې خپلــې ازادې رسنۍ هم لري، د دولتي فرهنګي ټولنو او مرکزونــو شــمېر هــم

سلګونو ته رسېږي، د کتابتونونو شمېر خو اوس زرګونــو تــه رســېږي. اوس د هېواد اکثره علمي، تعلیمي او فرهنګي مرکزونه کتابتونونه لري. په لسګونو لویې چاپخونې او په سلګونو چاپي خپرنۍ موسسې فعالیت لري، چې که چېرې بیــا پــرې د جګــړې ســیوری راخــور نــه شــي او افغانستان په همدې ډول فرهنګي پرمختګ وکړي، کېدی شــي ډېــره هیله ورته پیدا شي.

۴- مسلکي کادرونه: افغانستان کې له (۱۹۷۸-۱۹۹۲م) کلونــو پــورې داسې حکومتونه وو، چې کمونیستي افکارو ته یې تمایل درلود او چې د شوروي اتحاد ملاتړ ورسره و، پــه دې دوره کــې د څلــورو سیاســي مشرانو په مشرۍ څلور حکومتونه رامنځته شول، چــې پــه مجمــوعي ډول دا ټول حکومتونه له اختنــاق ســره ملګــري وو، فکــري ازادي او دیموکراسي په کې نه وه، هر حکومت له حکومتي وسایلو او زور څخــه اعظمي ګټه اخیسته او خپل وسلوال او ناوسله وال مخالفین یې ځپل. دې حالت څوارلس کاله دوام وکړ. د هېواد یو زیات شمېر کادرونــه یــا زندانونو کې واچول شول او یا هم د هېواد پرېښودو ته اړ شــول، د دې څوارلس کلن جنګ په اوږدو کې نږدې پنځه ملیونه (۵۰۰۰۰۰۰) افغانان مهاجر شول، په دې کې هم یو زیات شمېر هغه افغانان شامل وو چې د لوړو او مسلکي زده کړو خاوندان وو. په دې بهیر کــې یــوازې د کابــل پوهنتون نږدې (۶۰۰)تنه استادان یا زنداني شــول یــا ووژل او یــا هــم مهاجرت ته اړ شول، په همدې مقیاس د هېواد د نورو علمي مرکزونــو مسلکي کادرونه هم محاسبه کېدی شي. پــه مجمــوعي ډول پــه دې څوارلس کلن بهیر کې نږدې پنځوس زره (۵۰،۰۰۰) مسلکي کادرونه یــا مهاجر شوي یا یې خپل مسلک پرې ایښی، یا زنداني شوي او یو زیات

شمېر یې وژل شوي دي. د افغانستان په شان یو هېواد لپـاره چـې دا مهال یې ایله په سلو کې (لس) کسان د لیک لوسـت خاونـدان وو، د دومره زیات شمېر کادرونو له لاسه ورکول یو نه جبېره کېدونکی زیان و. د همدې (۱۹۷۹- ۱۹۹۲م) کلونو په بهیـر کـې د حکومـت مخـالف ځواکونه چې د (مجاهدینو) په نامه یادېدل هم د حکومت پـه شـان د مسلکي کادرونو په وژنې صرفه ونه کړه، دوی هم په زرګونـو مسـلکي افغانان له حکومت سره د همکارۍ او (چپي افکـارو) د لرلـو پـه تـور ووژل، په تېره بیا ښوونکي. د هغو ښوونکو شمېر چې د مجاهـدینو یـا حکومت مخالفو ځواکونو له خوا په همدې موده کې وژل شوي (۳۰۰۰) تنو ته رسېږي. دې ډلو په لغمـان ولایـت کـې پـر یـوه ورځ (۹) تنـه ښوونکي د تدریس په تور ووژل. هغه مسلکي افغانان چې پاکستان تـه مهاجر شوي وو هغوی هم د ترور له بلا خلاص نه شول، څرګنده بېلګه یې نومیالی افغان فیلسوف (پوهاند سید بهاالدین مجروح) دی چې په (پېښور) کې ترور شو. کله چې دا ډلې پر(۱۹۹۲م) کال پر کابل ښـار او نورو لویو ښارونو راشېوه شوې، نو د لوټ او تالان یو بې مثالـه حالـت رامنځته شو. یوازې په کابل ښار کې یې (۶۵) زره کسان ووژل، دا مهال یو ځل بیا د عامو افغانانو او مسلکي کادرونو د فرار لـړۍ پیـل شـوه، افغانستان یو ځل بیا په زرګونو مسـکلي کادرونـه لـه لاسـه ورکـړل. (څلورنیم) کاله دې حالت دوام وکړ. دې پسې د طالبانو دواکمنۍ لـړۍ پیل شوه، هغوی بیا په زرګونو مسلکي کادرونه له دنـدو لـرې کـړل او پرځای یې طالبان او ملایان مقرر کړل. طالبانو یـوازې اووه دېـرش زره (۳۷۰۰۰) ښځینه مامورینې، چې اکثره یې ښوونکې او د لوړو زده کـړو خاوندانې وې، له دندو ګوښه کړې او پر کور یې کېنـولې. پـه دې ډول

هغه ناتار چې له (۱۹۷۸ع) کال څخه تر (۲۰۰۰ م) کال پورې د افغانستان پر کادري ټولنه خور و، د طالبانو نظام په سقوط سره پای ته ورسېده. له (۲۰۰۱- ۲۰۱۱م) کال پورې اوس د افغانستان په کدري برخه کې ډېر پرمختګ شوی، نه یوازې د هېواد په داخل کې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو نور مرکزونه ورغول شول، فعال شول او زیات شول، بلکې اوس هر کال تر دوو زرو (۲۰۰۰) زیات افغانان د لوړو زده کړو؛ لیسانس، ماسترۍ، او دوکتورا لپاره نورو هېوادونو ته لېږل کېږي. هغه افغان مسلکي کادرونه چې د بېلابېلو یادو عواملو له امله مختلفو هېوادونو ته مهاجر شوي وو، د زرګونو په شمېر بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي، خو بیا هم افغانستان ته لا ډېر زماني واټن پاتې چې خپله کادري خلا ډکه کړي.

۵- رسنۍ: په افغانستان کې د (۱۹۷۸-۱۹۹۵) کلونو تر منځ افغاني رسنۍ په پرله پسې ډول زیانمنې شوي. د همدې کلونو په بهیر کې افغانستان کې ازادې رسنۍ نه وې، اکثره دولتي رسنۍ وې او پر هغو باندې هم فکري اختناق واکمن و. پر (۱۹۷۸م) کال په ټول هېواد کې یو سراسري ټلویزیون او یوې عمومي راډیو خپرونې درلودلې، وروسته بیا محلي دولتي راډیو ټلویزیونونه چې همغه مرکزي نشرات او یو څه خپل محلي نشرات یې درلودل، فعال شول، دا وخت په ټول هېواد کې د چاپي رسنیو شمېر تر (۲۰۰) عنوانو اوښته خو په ټولو رسنیو کې د حاکم نظام افکارو انعکاس کاوه. پر (۱۹۹۲م) کال چې جهادي ډلې کابل ښار او نورو لویو ښارونو ته داخلې شوې، نو د نورو دولتي تاسیساتو د زیانمېدو ترڅنګ، ټولو رسنیو په تېره بیا دولتي راډیو

ټلویزیون تاسیساتو ته خورا درانه زیانونه واوښتل. چاپي رسنۍ اکثــره په ټپه ودرېدلې، د دولتي راډیو ټلویزیون اکثره تاسیســات لــه منځــه لاړل، د بېلګې په توګه د غزني ولایت د راډیــو ټلویزیــون تاسیســاتو، ودانیو او تجهیزاتو یو نیم ملیون، د مقر ته یو ملیــون ډالــره، د پکتیــا ولایت ته یو ملیون ډالره، قلات ته یو ملیون دالره، کندهار ته یو ملیون ډالره، هلمند ته یونیم ملیون ډالره، هرات ته نیم ملیون ډالره، فراه تــه نیم ملیون، نیمروز ته نیم ملیون او ننګرهار راډیو ټلوېزیون ته تــه دوه ملیونه ډالره زیان واوښت، همدارنګه نورو سیمو کې همدا ډول زیانونه، په مجموعي ډول پر لویو ښارونو باندې د جګړې د راغلي ناتار له املــه په ټول افغانستان کې د راډیو ټلویزیون، ودانیو، تاسیساتو او تجهیزاتو ته (۲۵۲) ملیونه ډالره زیان اوښتی. د (۱۹۹۲-۱۹۹۵م) کلونو په بهیــر کې د راډیو ټلویزیون اکثره پروګرامونه پــه ټپــه ودرېــدل او ډېــر کــم نشراتي فعالیت یې درلود. په لسګونو مامورین، انجنیــران او مســلکي اشخاص یې مهاجرت ته اړ شول او ځینو نورو یې خپلې دندې له لاسه ورکړې. پر (۱۹۹۶م) کال طالبــان واک تــه ورســېدل، د دوی واک پــر رسنیو یو بل ګوزار و، طالبانو پر رسنیو چورلټ بندیز ولګاوه، په تېره بیا پر تصویري رسنیو. په چاپي رســنیو کــې هــم د زیروحــو اجســامو د عکسونو خپرېدل منع شول، یوازې د (شــریعت غــږ) پــه نامــه یــوې سراسري راډیو، څو محلي راډیو ګانو او د ټول هېواد په کچــه تــر (۲۰) عنوانو پورې چاپي خپرونو فعالیت درلود. راډیوګــانو یــوازې مــذهبي ترانې، خبرونه او د طالبانو د نظام د چارواکو نظرونــه خپــرول، چــاپي رسنۍ هم همدغه شان وې. د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې تــر دې بله تنګه دوره نه ده تېره شوې. د طالبانو د نظام د سقوط په وروســتیو

شپو ورځو کې د امریکایي الوتکو د بمبارۍ په وجه د راډیـو ټلویزیـون تاسیساتو ته نور زیانونه هم واوښتل او د زیانونو لړۍ تر همغـه وختـه راورسېده.
کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، د افغاني رسنیو پـه تـاریخ کـې بـې ساری پرمختګ څرګند شو. د رسنیو قانون جوړ شو او د هغه په رڼا کې اوس په هېواد کې، ډول ډول چـاپي، غږیـزې، انځـوریزې او انټرنېټـي رسنۍ فعالیت لري چې د کمیت له پلوه په کې ډېر زیات او د کیفیت له پلوه هم په کې پاموړ پرمختګ شوی دی.
اوس د ټول هېواد په کچه پر دولتي راډیو ټلویزیون سـربېره چـې پـه مرکز او ولایتونو کې خپرونې لري، تر (۴۰) زیات شخصـي ټلویزیونونـه فعالیت لري. (۱۳۰) اف ام خصوصي راډیوګانې په ټول افغانســتان کـې فعالې دي، چاپي رسنۍ تر (۱۰۰۰) عنوانـو اوړي او د انټرنېټـي وېبپـاڼو شمېر هم سلګونو ته رسېږي، که څه هم له کمي او کیفي پلـوه خـورا پرمختګ لیدل کېږي، خـو بیـا هـم د افغانسـتان د رسـنیو اوسـنی پرمختګ تضمین نه دی. د نظام په بدلون، سقوط، د بهرنیو ځواکونو په وتلو او یا هم د جنګسالارانو د واک په زیاتېدو سره دا پرمختګ له ستر ګواښ سره مخامخېدلای شي.

۶- تاریخي ودانۍ او اثار: په افغانستان کې د فرهنګ د نورو ډګرونـو د زیانمنېدو ترڅنګ، تاریخي ودانیو، څلو، ښارونو او نورو تـاریخي اثـارو هم خورا درانه زیانونه لیدلي دي، داسې زیانونه چې ځینې یې په ډېـر لګښت د بیا رغېدو امکان لري، خو ځینې د ابد لپاره د افغانسـتان لـه لاسه ووتل. د هغو ودانیو شمېر لسګونو ته رسېږي چې افغانستان تـه

یې تاریخي ارزښت درلود، خو جګړو پرې اورونه بل کړل، دا ودانۍ په ولایتونو کې هم وې او په کابل ښار کې هم چې د ټولو یادونه یې دلته ممکنه نه ده. د کابل د تاجک بیک تاریخي ماڼۍ، د چهلستون بڼ او ماڼۍ، د دارالامان ماڼۍ، د استالف ماڼۍ، د ارګ د دلکشا ماڼۍ، د ملي ارشیف ودانۍ او نورې چې له تاریخي پلوه یې خورا ارزښت درلود، ټولې زیانمنې شوې دي. د دارالامان ماڼۍ د (۳۳) کلونو په ترخ کې دوه ځله زیانمنه شوه، وروستی زیان یې د (۱۹۹۳-۱۹۹۵م) کلونو کورنیو جګړو کې ولید چې یوه زیاته برخه یې ونړېدله. اوس ددې ودانۍ د بیا رغونې پلان جوړ شوی، چې (۱۷) ملیونه امریکایي ډالره لګښت پرې راځي، په همدې مقایس موږ نورو تاریخي ودانیو ته د ور اوښتي زیان کچه هم معلوموﻻی شو.

د جګړو او طبیعي حوادثو په بهیر کې تر (پنځه لسو) داسې تاریخي ځلي او منارونه زیانمن شوي چې د افغانستان تاریخ ته یې زیات ارزښت درلود، د بېلګې په توګه د (چکرویو) منار چې عمر یې لومړیو میلادي پېړیو ته رسېده او دا یو بودایي مینار و چې د توغندیو د لګېدو له امله زیانمن شوی و او د (۱۹۹۸م) کال په اپریل کې ونړېد. په (۱۲میلادي) پېړۍ کې د غزنویانو منارونه، د غوریانو جام مینار او نور په لسګونو منارونه یا په بشپړ ډول له منځه وړل شوي او یا زیانمن شوي دي. نور نو د هېواد داسې تاریخي ځلی او منار نه شو لیدلی چې د هغه پر زړه او ګوګل دې د مرمیو داغونه نه وي لګېدلي.

د تاریخي ودانیو ترڅنګ تاریخي نندارتونونه هم خورا زیانمن شول او ان ببخي له منځه لاړل. په کابل ښار کې د افغانستان د ﻻسي صنایعو، قیمتي ډبرو او نظامي توکو پینځه لس ببلابېل نندارتونونه وو، چې خورا

قیمتي او تاریخي اثار په کې ایښودل شوي وو. هر کال په زرګونو کسانو ددې نندارتونونو لیدنه کتنه کوله او د افغانستان د خلکو د بریــاوو لــه بېلابېلو ډګرونو خبرېدل. کله چې پر (۱۹۹۲م) کال د کابل ښار د کابــل نندارې په سیمه کې جګړه پیل شوه، نو دا ټول پنځه لس نندارتونونــه په کې وسوځېدل. په زرګونو اثار یې یا لوټ شول او یا هم د اور خوراک شول، یو ملت چې د پېړیو په اوږدو کې د لاس کومې نښې او بریــاوې درلودلې، دا ټولې د جګړې ښامار پر یوه ورځ له ســتوني تېــرې کــړې. ددې نندارتونونو مادي او معنوي ارزښت تر تصور پورته و.

د جګړې د ښامار ګېډه پر ننداړتونونو هم مړه نــه شــوه، د افغانســتان داسې شتمنۍ ته یې ځان ورسوه چې افغانان به یې بیا هېڅکلــه هــم خاوندان نه شي، موزیمونه یادوم، ملي او سیمه ییز موزیمونه. د جګړې په بهیر کې پنځه سیمه ییز؛ میمنې، هرات، کندهار، ننګرهــار او بلــخ موزیمونه زیانمن شول، خو مرکزي او ملي موزیم چې د زیــاتو تــاریخي اثارو لرونکی و، د جګړې پر ډګر بدل شو. د سیمه ییــزو موزیمونــو لــه جملې څخه به یوازې د ننګرهار د هډې نامنقول موزیم یادکړم او بیا به د ملي موزیم غم لړلی داستان ته لاړشم.

د هډې نامنقول موزیم د ننګرهار د جلال اباد ښار په ختیزې څنډه کې پروت دی. په دې نامنقول موزیم کې د بودایي عصر داسې اثار ایښودل شوي یا جوړ شوي وو چې د خپل جوړښت او نوعیت له پلــوه یــې پــه افغانستان کې د بامیانو تر تاریخي بتانو وروســته ډېــر زیــات تــاریخي ارزښت درلود. دا مــوزیم د (۱۹۸۱م) کــال پــه جګــړو کــې د جهــادي تنظیمونو له خوا په کنډوالو بدل شو، تر جګړو وروسته بیا هــم پــه دې ځای کې ناقانونه کېندنې وشوې او یو شمېر هغه اثار چې تــر ځمکــې

لاندې وو، هغه هم په نافنې ډول وکښل شول او د تاریخي اثارو د قاچاقوړونکو لاس ته ورغلل، اوس دا سیمه یوازې د یوې مخروبې حیثیت لري.
بل ډېر ستر زیان چې جبیره یې ناممکنه ده هغه د افغانستان ملي موزیم او د افغانستان د اردو موزیم و. د افغانستان د اردو موزیم د دارالامان په سیمه تاج بېک ماڼۍ کې و. په دې موزیم کې له لرغونې زمانې بیا تر (۱۹۹۲م) کال پورې په بېلابېلو جګړو کې د افغانانو او د هغو د مخالفو پردیو عسکرو له خوا د کارېدلو وسلو بېلګې خوندي وې ، د افغانستان د شاهانو تختونه، مېزونه، څوکۍ، لاس تورې او لباس خوندي وو. دا هر څه د اور خوراک، لوټ او تالان شول. په همدې سیمه کې؛ د دارالامان تاریخي ماڼۍ مخې ته د افغانستان د ملي موزیم ودانۍ وه. د افغانستان ملي موزیم د سیمې له مهمو موزیمونو څخه یو و، په دې موزیم کې سل زره (۱۰۰۰۰۰) ټوټې بېلابېل اثار وو، چې د ځینو عمر یې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کالو ته رسېده.
د جګړو په لومړیو وختونو کې په سیستماتیک ډول د بېلابېلو جګړه مارو له خوا د موزیم اثار ولوټل شول. د موزیم په سلو کې اویا (۷۰) تاریخي اثار لوټ شول. پر (۱۹۸۸م) کال شبرغان ته نږدې د طلا تپې له غونډۍ څخه د (۲۱) زرو طلایي سکو حیرانوونکې خزانه لاسته راغله. دا خزانه هم د افغانستان د ملي موزیم برخه وه. تر (۱۹۹۲م) کابل تر جګړو دمخه د وخت د حکومت مشر ډاکتر نجیب الله د جګړې د احتمالي خطر له امله د ملي موزیم له مشر سره پرېکړه وکړه چې دا مهمه خزانه باید له موزیم څخه یوه خوندي ځای ته انتقال شي، دا خزانه پر همغه  وخت (د افغانستان بانک) محفوظو ځایونو کې چې د

افغانستان د جمهوري رياست د ارګ ماڼۍ ته لاره لري، خوندي شـوه، خو په دې راز هېڅوک خبر نه وو، همغه و چې دا مهمه خزانه د لوټمارو له لوټه خوندي پاتې شوه. اوس دا خزانه اروپا، امريکـا او د نـړۍ نـورو سيمو ته د ننداري لپاره وړل کېږي. د نړۍ ګڼ شـمېر سـيلانيان هغـه ګوري او له دې لارې افغانستان پاموړ ګټه ترلاسه کوي.

د ملي موزيم ترڅنګ د افغانستان ملي ارشيف هم د جګړې له ناتـاره خوندي پاتې نه شو. د افغانستان د ملي ارشـيف د ټولـو اثـارو شـمېر زرګونو ته رسېده. د افغانستان په ملي ارشيف کې د سووکلونو تاريخي اثار خوندي دي، په تېره بيا د اسلامي دورې اثار. له نېکه مرغه چـې د ملي موزيم په پرتله ملي ارشيف ته د غلـو کـم لاس رسـېدلی، خـو د جګړې د ناتار له امله د ملي ارشيف د اثارو خونديتابه ته ډېره توجه ونه شوه او يو شمېر اثار يې له همدې امله زيانمن او له منځـه لاړل. خـو د ملي ارشيف نورې ولايتي څانګې بيا ډېرې زيانمنې شوې.

د افغانستان د تاريخي اثارو او ملي هويت د ښـکارندويۍ بـل مرکـز د افغانستان ملي ګالري وه چې د (۱۹۹۲م) کال جګړو پرې خـورا نـاوړه اغېز وکړ. پر (۱۹۹۲م) کال په ملي ګـالرۍ کـې د نقاشـۍ، مينـاتورۍ، مجسمې او ظريفه اثارو (۵۹۶) بېلابېل اثار موجود وو، چې په کابل کې د جګړو د پيل له امله ددې اثارو يوه پاموړ برخه يا زيانمنه شوله او يا د غلو له خوا لوټ شوه.

د پورتنيو يادو او مهمو تاريخي اثارو د زيانمنېـدو ترڅنـګ بلـه ډېـره ستره او نه جبرانېدونکې فرهنګي ضايعه چې افغانستان ته پېښه شوه، هغه همغه د باميانو تاريخي بتان وو چې طالبانو د خپل حاکميـت پـه اوج کې ونړول، دا تاريخي اثار نه يوازې په افغانستان، بلکې په سيمه او

نړۍ کې بې ساري وو. د بامیانو بتانو لومړي یې (۵۳) او بـل یـې (۳۵) متره لوړوالی درلود. له (۳-۵) میلادي پېړیو تـرمنځ مـوده کـې جـوړ شوي وو او د بودایي دورې شهکارونه ګڼل کېدل، خو طالبانو د افغانانو د تاریخ دا ستر ارزښت د خپلو افراطي افکارو پـه اور کـې وسـوځوه. طالبانو په دې کار سره نه یوازې افغانان، بلکې ګرده نـړۍ وځوروله. د بامیانو ددې تاریخي بتانو له نړولو سره د طالبانو واکمنۍ هم په نړېـدو شوه. افغانان به ډېر له لاسه ورکړي شیان بیا ترلاسه کړي، خو داسـې تاریخي اثار به بیا هېڅکله ترلاسه نه کړي. داسې نورې په سـلګونو او زرګونو فرهنګي غمیزې چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې پېښـې شـوي، خو ما یې یوازې د ځینو هغو لنډېز دلته راوړ.

له پورته وړې لیکنې ځخه دا جاج اخیستلای شو چې جګړه له فرهنګ سره ځومره تضاد لري، جګړه ځنګه کولای شي چې د (۲۰۰۰) کلونو په بهیر کې یو جوړ شوی میراث د سترګو په رپ کې له سترګو پناه کـړي. موږ هغه ملت یو چې ډېر څه مو لرل، خو اوس ډېر څه نه لرو، یا مو باید ډېر څه لرلای خو اوس هېڅ نه لـرو، دا ځکـه چـې د جګـړې ښـامار همېشه زموږ د فرهنګ پر ځالې اور بل کړی او زموږ د فرهنګ بلـبلان اواز او الوت ته نه پرېږدي.

# د خــوشــال پــوځــي نــړۍ لید

دا لیکنه ما پر (۱۳۹۱ل) کال د خوشال په باب د ښاغلي (علياحمــدجلالــي) پر یو کتاب (د خوشال خان ختک د عصر او چاپېریال پوځي څېړنه) پــر اثــر کړې وه او د نوموړي کتاب د مخکتنې په غونډه کې اورول شوې ده.

یا د سپینو تورو مــرد شــه یــا عاشــق شــه
چـــې یـــادېږي پـــه بـــدلو پـــه ســـندرو
د خوشال ختک خوښي به هغه وخت شـــي
چې برېښنا د سپینو تــورو شـــي یــا زغــرو.

د خوشال بابا په باب دا خبره عامه ده، چې یو څو اړخیز شخصیت دی. رښتیا هم کله چې څوک بابا مطالعه کوي، نو ورتــه څرګنــدېږي، چــې خوشال بابا هم شاعر دی، هم لیکوال، هم ادیب دی هــم ادبپــوه، هــم سیاستپوه دی او هم سیاستوال، هم صــوفي دی، هــم فلســفي، هــم رنځپوه دی هم ټولنپوه، هم قومي مشر دی، هم ټبر پوه، هــم ښــکاري دی هم ښکار پوه، هم د ځان نقاد دی هم د ټولنې، هم عالم دی هــم د علم لېوال، هم خطاط دی هم لیکپوه، هم ارواه پوه دی هم دینپوه، هم خان دی او هم د غریبانو یار، هم پرځان خبــر دی هــم پرجهــان، هــم جنګیالی دی هم توریالی، هم سرتېری دی هم جنــرال، لنــډه دا چــې زموږ خان څه نه دی چې نه دی. نو په همدې خاطر خوشــالپوهانو پــه

لنډه مانا زمورِ خان ته د فرهنګیالي او توریالي خان یا د تـورې او قلـم خاوند لقب ورکړی دی. د خان د ژوند، مبارزې او اثارو په باب تراوسـه پورې نړدې دوه زره بېلابېلې لیکنې شوي او نږدې پنځـوس ځـانګړي اثار لیکل شوي، خو بیا هم خان لکه د علم د ښار او کـان پـه شـان لا ډېرې نوې خبرې لري او لا هم نورې څېړنې، سپړنې، شننې او ځلـونې ته اړتیا لري. خوشال د یو نړیوال شاعر او لیکوال په توګه د نړۍ له هـر لوی لیکوال او شاعر سره یوازې د یو شاعر او لیکوال په توګه د پرتلنې وړ دی، خو که د خوشال د څو اړخیز شخصـیت ټـول بعدونـه د یـوې مجموعې په توګه پام کې ونیسو، نو له مبالغې پرته پـه زغـرده ویـلای شو، چې د نړۍ هېڅ لیکوال او شاعر ورسره د پرتلنې او سیالۍ جوګـه نه دی. د نړۍ تېر ستر شاعران او لیکوال چې نـړۍ یـې لا اوس هـم د افکارو له ځلا او ښکلا څخه خوند اخلي، یوازې د شاعر او لیکوال او یـا هم د ژوندانه د یو یا څو نورو ډګرونو د مفکرینو په توګه مطرح دي، خو زمورِ د خان په شان داسې نه دي، لکه د علم او هنر د یو کان په شـان چې هر څومره یې سپړو لا هم نـورو خزانـو تـه لار مومـو. دوه سـتر ممیزات او نعمتونه چې د نړۍ د نورو ژبو له ادبیاتو څخه د پښتو ادبیاتو ځانګړې ښکلا جوتوي؛ یو یې پښتو لنډۍ دي چې د نړۍ په نـورو ژبـو کې یې ساری نه لیدل کېږي او بل زمورِ همدا لوی خـان؛ خـان علـین مکان خوشال بابا دی. نادره خبره به وي چې پښتانه او نړۍ بیا داسې، ننګیالی، فرهنګیالی او توریالی انسان وټوکوي، خو د پښـتو متـل دی چې د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي؛ هغه ملـت او هغـه ولـس چې خپله تر خاورو لاندې وي، اتل به یې هم د زمانې په ګردونو کې پټ وي.

د خان د ګڼ اړخیز شخصیت یو اړخ د هغه پوځي شخصیت دی. د خان د پوځي شخصیت، چاپېریـال، عواملو او دلایلو په بـاب لکـه څنګه چې لازمه او ضروري ده، ډېرې لیکنې نه دي شوي، البته د خان پوځي کرونولوژي ترتیب شوې، خو د جګـړو د بېلابېلـو اړخونــو، ټــولنیزو، سیاســي، اقتصادي او تاریخي عواملو پـه باب ډېرې لیکنې نه دي شوي. سره له دې چــې د خوشــال د شخصیت بېلابېل اړخونــه پــر




توره او قلم ولاړ دي، د قلم اړخ یې څېړل شوی، که څــه هــم لا نــورې څېړنې ته اړتیا لري، خو د تورې چاپېریال یې تت دی. ددې کار یو علت شاید دا وي چې موږ د پــوځي چــارو د څېړنــې او ارزونــې لپــاره لــږ متخصصین او کارپوه لیکوال لرو، که لیکوال ولرو نو بیا د پوځي چــارو داسې ماهرین او څېړونکي نه دي چې له سیاســي، پــوځي، ټــولنیز او تاریخي پلوه یوه موضوع ښه وڅېــړي او یــا هــم کــه د پــوځي چــارو کارپوهان ولرو، د لیکوالۍ تخنیکي او فني عناصر یې کمزوري دي، پــه همدې وجه نه یوازې د خوشال بابا، بلکې د پښتنو د نورو پوځي اتلولیو د مبارزو بېلابېل ډګرونه هماغسې تت پاتې شوي دي. د خپلو تورو پــه ځلونه کې موږ تر خپلو لرې او نږدې سیالانو ډېر شاته پاتې یو. له نبکه مرغه نن تر مودو وروسته موږ د یوې داسې هڅې شاهدان یو چې توره

او قلم په کې دواړه غاړه غړې دي، د یو مسلکي جنرال او لیکـوال لــه خوا، د خپل وخت د یوه نابغه لیکوال او مارشال د پوځي فعــالیتونو د بېلابېلو اړخونو ژوره علمي څېړنه او شننه ګورو.

ښاغلي پروفیسور علي احمد جلالــي ((د خوشــال ختــک د عصــر او چاپېریال پوځي څېړنه)) د خوشال بابا په یوه شعر پیل کړې:

(( چـــې مغولـــو تـــه مـــې وتړلـــه تـــوره
درســت پښــتون مــې و عــالم وتــه ښــکاره کــړ
اتفــاق پــه پښــتانه کــې پیــدا نــه شــو
کنــه مــا بــه د مغــول ګرېــوان پــاره کــړ.))

ښاغلی جلالي ددغه شعر په شننه کې وایي: (( د خوشال ختک دغــه منظوم کلام که له یوې خوا په لنډ عبارت د هغــه نومیــالي پښــتون د اوږدو مبارزو اغېزې او پایلې څرګندوي، نو له بله پلوه په دې مضــمون کې د هغه لښکري ځواک، او داخلي کمزورتیا انعکاس پروت دی، چــې په قبیلوي ټولنیز نظام باندې اتکا لري او لــه یــوې مســلطې فیــوډالي واکمنۍ سره یې د پوځي ازمایښت په ډګرونو کې د تکتیکي نتایجو پــه منځ کې د اړیکو د نشتوالي او بېلتــون پــه وجــه، مجمــوعي اغېــزې هېڅکله په یوه ستراتیژیک لوري توجیه نه شوې او په نتیجــه کــې، د زیاتو تکتیکي بریالیتوبونو له ګټلو سره سره یې، ستراتیژیک مرام پــه مطلوب ډول ترسره نه شو.))

دا هغه تحلیلي خبرې وې چې له پورتني شعر څخه یې الهام اخیستی، لیکوال د یوه پوځي په توګه د خوشال د چاپېریال پــه درک ســره یــو

داسې تحلیل وړاندې کړی، چې د خوشال له زمانې څخه بیا تر دې دمه پورې یې نتیجه یوه ده؛ هغه قوم چې د زمانې په بهیر کې په تکتیکي جګړو کې بریالی وي، داسې تکتیکي جنګونه چې یو بل سره ارګانیک او سیستماتیک اړیکي ونه لري او په ټوله کې یوه واحده او دقیقه ستراتیژي تعقیب نه کړي، نو سترو هدفونو ته نه شي رسېدلی.

ښاغلي جلالي په خپل دې اثر کې د خوشال د چاپېریال حال او تر هغه لږ وړاندې ماضي، د جګړې او سیالیو بېلابېل طرفونه، د جګړې تخنیک او وسایل، د جګړې میتودونه، د خوشال په نظر د جګړې موثرې لارې چارې او ټول هغه پوځي اتموسفیر تشریح کوي، چې خوشال په کې ژوند کړی او پوځي مبارزې ته اړ شوی دی.

خوشال په یوه ډېر تنګ چاپېریال کې پوځي مبارزه پیل کړه، له یوې خوا له مغولي واکمنۍ سره چې د تورې او قلم، فیوډالي مناسباتو او یوې سیاسي ستراتیژۍ څخه برخمنه وه او ان د تورې په اندول یې د فرهنګ تله درنه وه، له خپلمنځي اختلافاتو لرې او له بلې خوا یې پانګه او شتمني په لاس کې وه، خوشال بیا د یوه داسې قوم سرلښکر او جنرال و، چې کورني اختلافونه یې د ټولنې زړي وو، د پوهې کچه یې له تورې سره موازي نه وه، د تورې پر وړاندې ورته خپل او پردي یوشان وو، نو په داسې یوه اغزن چاپېریال کې د یو جنرال ظهور او بریا تر تصوره پورته کار و. که د خوشال د زمانې سختې بدبختي، د پښتنو ټولنیز چاپېریال، قبیله یي رقابتونه او نورې ستونزې په پام کې ونیسو او بیا داسې یو شخص چې له دې ستونزو څخه د راوتو لاره په ګوته کړي او د یوه غښتلي دښمن پر وړاندې په ټینګه ودرېږي، دریځ او

حالت په پام کې ونیسو ، نو په زغرده ویلای شو چې خوشـال د خپـل وخت یو سـتر پـوځي جنـرال او مارشـال و. د مغولـو سـتر واکمـن ظهیرالدین بابر به ویل چې له پښتنو څخه هېڅکله مه وېرېږئ؛ د هېڅ مغول توره د خپل مغول په وینو سره نه ده، خو د پښتون توره همېشه د خپل پښتانه په وینه سره ده، د بابر ددې خبرې تفسیر دا و؛ پښـتون هغه قوم دی چې واک و ځواک یې د خپل ورور په وژنـه مصـرفېږي. د مغولو د بریا راز په اتفاق او د پښتنو د بدمرغۍ عامل په بـې اتفـاقۍ او لنډ فکرۍ کې نغښتی و. بابا وایي:

چـې بنیـاد یـې پیـدا شـوی پـه نفـاق
لـه هغـو نـه طمـع مـه کـړه اتفـاق.

***

تفحص کـه څـوک د خـوږو زړونـو کانـدي
د خپل قام له لاسه ورک خوشال خټک دی

***

کـه هـر څـو یـې سـمومه نـه سـمېږي
پښـتانه دي د کـږو تیـږو دېـوال

***

پښـتانه لکـه مګـس وربانـدې ګرځـي
ورتـه ایښـی دی مغـول د حلـوا تـال

***

درسـت جهـان پـه ناپوهـانو سـره ډک دی
ولې زیات کـه پـه کـې وګـورې افغـان دی

***

که په نور خلکو کې ښه سـړي مونـده شـي
ولـې ښـه سـړي بـه لـږ وي افغانـان

خوشال بابا پر یو مهال له څو بېلابېلو ستونزو سره په جګړه کې و.

جلالي صیب د خوشال بابا د زمانې دغه ستونزمن چاپېریـال پـه هـر اړخیز ډول تحلیل کړی دی، داسې نتیجه وړاندې کوي چې پر قبیلوي جګړې باندې د امپراتورۍ قدرت، ستراتیژیک لاس بری لري، خـو پـه سیمه ییزو شرایطو کې د امپراتورۍ پر جنګي ماشین بانـدې د قبیلـو پرګنیز جګړه ییز ځواک تکتیکي تفوق ترلاسه کوي. دی د مغولـو پـر وړاندې د پښتنو تکتیکي بریا هغه سېلاب ګڼي، چې تر چټک حرکـت وروسته په سیند بدلېږي او دښمن ته د بیا فعالیت مجال ورکـوي، دی وایي پښتانه ((په خپل وطن او ننګ مین، ښه مېړني، زړور او جنګیالي سپاهیان وو، چې د سېلاب په شان به په غلیم راکوز شـول، د جګـړې ډګر به یې وګاټه، مګر وروسته له هغه به یې د تشـکیلاتي کمزورتیـا او داخلي بېلوالي په وجه، د هرې تکتیکي ګټې اغېزه لـه بلـې تکتیکـي اغېزې سره ونه تړل شوه او په پای کې به ددې جګړو تکتیکي سوبې او ګټنې ستراتیژیکي هدف ته د رسېدو په چاره کې پـاتې راغلـې. هغـه یرغلیز سېلاب چې په شدت له اوچتو سردرو راکوز شوی وو، لـږ څـه وروسته به ارام سیند شو او تر څو چې به بیا یو سېلاب ترې جوړېـده، نو دښمنانو به د تېر سېلاب په اثر خپلې منځته راغلـې مـاتې ګـوډې ببرته جوړې کړې وې او بیا به په میدان تازه نفس ورته ولاړ وو.))

## ددې اثر ځينې ګټور پيغامونه:

د ښاغلي جلالي صيب دا اثر که څه هم د پاڼو د شمېر له مخې کوچنی اثر ګڼل کېږي، خو د محتوايي پانګې د ځايونې له مخې خورا مغتنم اثر دی. په دې اثر کې نه یوازې د خوشال د عصر پوځي چاپېريـال څېـړل شوی، بلکې یو ډول داسې مهم تحليلونه او پيغامونه هم په کـې ځـای پرځای شوي، چې نه يوازې د خوشال بابا د عصر انځورونه روښـانوي، بلکې زموږ د نن او سبا لپاره هم ډېر ګټور مفاهيم لري. دلتـه بـه ددې ډول پيغامونو او تحليلي پايلو څو بېلګو ته اشاره وکړم، چې لا هم زموږ د ټولنې پر حالاتو تاثير لرلای او دقيق غور پرې موږ ته ګټـه رسـولای شي.

په دې اثر کې راغلي:

* تکتيک او یا هم تکتيکي جګړه چې له ستراتيژۍ سره منطقي او ټينګ اړيکي ونه لري، تاثير يې موقتي دی او لوی هدف پرې نـه شي ترلاسه کېدلای.
* د تکتيکي جګړو تاثيرات موقتي وي او د يوه سېلاب بڼه لري، که چا ترې ځان بچ کړو، نو بېرته خپل ځان رغولای شي.
* توره د جنګ مادي او تدبير د جنګ معنوي قوتونه دي، که تورې سره پوهه او تدبير ملګري نه شي، مثبته نتيجه نه شـي ترلاسـه کولای.

* د مغولو د تجربو پر بنسټ، هغه ولس چې څوک غواړي حکومت پرې وکړي، هلته باید محلي ډلو ته واک انتقال او مخرب قوتونه یې باید پر یو بل دفع شي.
* د هر سیمه ییز واکمن لپاره باید سیال او بدیل په پام کې ونیول شي.
* داخلي اختلافات د جګړه ییز ځواک اساسي برخه کمزورې کوي.
* مغولو په سیستماتیک او منظم ډول د پوځي روزنې له لارې جنګي مهارتونه زده کړي وو او پښتنو په غرنیو سیمو کې په عنعنه یي بنه. منظمې لښکرې په غرني چاپېریال کې د عنعنه یي لښکرو پر وړاندې ماتې خوري.
* لوژستیکي عنصر په محاربه کې مهم رول لري، هر څومره چې د ستراتیژیکو عملیاتو په ترڅ کې د ارتباط کرښې اوږدې شي، په هماغه تناسب یوه پراخ مغلق او درانده لوژستیکي بنسټ ته اړتیا زیاتېږي. په همدې توګه د جنګي عمل په ساحه کې د پوځونو د لوژستیکي بنیادونو محدودیت، د عسکري عملیاتو د محدودیت سبب ګرځي.
* له پښتنو سره په جګړه کې د مغولو د ځینو عسکري ټولګیو د ماتې یو علت دا و چې ددې پرځای چې د مغولو دا عسکر ښه سپاهیان وي، ښه خدمتګاران وو.
* منظمې لښکرې چې سیستماتیک جنګ پرمخ بیایي او هره برخه یې خپل فعالیت کوي، په غرنیو سیمو او نا اواره چاپېریال کې د نامنظمو ګوریلایي او چریکي جنګیالیو پر وړاندې ماتې خوري.

* لیکوال زیاتوي: ((په ګوریلایي جګړه کې د پردي یرغل په مقابل کې د سیمې د خلکو عنعنوي جګړه ییز تمایل هم وي، په داسې چاپېریال کې ګوریلایي قوتونه ځانته خوندي اډه لري، په داسې حال کې چې پردی لښکر په هره برخه کې ناخوندي وي.
* مغولو خپل پوځي زور په حرفوي لښکرو، درنو او سپکو وسلو، پراخ لوژستیکي ملاتړ او منظم جنګي هنر کې ګاڼه، خو د پښتنو ملي وسله وال جوړښت، په ستر روحي قوت، ملي ګډ احساس او داسې مېړانې کې و چې د خپل ولس د خپلواک ژوندانه له حماسي تاریخ او دود دستور څخه یې په میراث اخیستی و.
* د مغولو د سیاسي ستراتیژۍ په اندول د پښتنو سیاسي ستراتیژي کمزورې وه او یوازې پر تکتیکي جنګونو یې ډډه لګوله.
* مغولو د سیاسي ستراتیژۍ له مخې هڅه کوله پښتانه په خپل منځ کې سره واچوي چې سره وسوزي  او میدان دوی ته صاف پاتې شي.
* ګورګاني حکومت په شمالي هند کې د پښتنو په توره ټینګ شو او بیا دغه حکومت په همدې تورې نور زیات میدانونه وګټل، بیا یې له ټولنیزو او سیاسي شرایطو څخه په ګټه اخیستلو سره په همدې پښتني توره په خپله پښتانه ووهل.
* مغولو د سیاسي مهارتونو له مخې پښتانه یو بل سره واچول او ان د کورنۍ غړي یې د منصبونو او امتیازاتو په ورکړه یو د بل دښمن کړل. د یوسفزو مشر (بهاګود) د مغولو پر ضد کلونه کلونه د مبارزې سنګرونه تاوده وساتل، خو زوی یې د شاه جهان منصب

ترلاسه کړ. خوشال خان د ژوند ترپایه د مغولو پر ضد جګړه وکړه، خو زوی یې (بهرام) د اورنګ زېب له خوا پـه خـانۍ او سـرداری ونازول شو. خوشال بابا وایي:

دا منصـــــــبونه دا انعامونــــــــه
واړه زنـــــــدۍ دي واړه مارونـــــــه

***

لېـــوني شـــول پښـــتانه پـــه منصـــبونو
خدایــه مــا ژغــورې لــه هســې غضــبونو

***

پښتانه چې بې ننګي کا څـوک یـې څـه کـا
ګورســـتان لـــره بـــه درومـــو لـــه ارمانـــه

* مغولو ځینو پښتنو ته د منصبونو، لقبونو او جاګیرونو په ورکولـو سره د هغوی ستري تکتیکي اغېزې د خپلې سیاسي ســتراتیژۍ په ډینامیزم کې تر زیاتې اندازې شنډې کړې. په بل عبارت هغــه ګټنې چې پښتنو د پوځي ستراتیژۍ په غیرمستقیم تقــرب کــې ترلاسه کولې، ګورګانیانو د عمومي ســتراتیژۍ پــه غیرمســتقیم تقرب له منځه وړلې. په نتیجه کې ویلای شو، چې پــه (۱۶ او ۱۷) میلادي مې پېړۍ کې له مسلطې ګورګاني واکمنۍ سره د پښــتنو وسلوالې مبارزې ځکه خپل وروستي مرام ته ونه رسېدلې، چې د پښتنو د قبیله یي نظام حماسي او بهادري جوړښت بې له کومې واحدې رهبرۍ د یوې فیوډالۍ واکمنۍ له ټولو موسساتو ســره، د لښکري جوړښت په ګډون، مخامخ وو.

* روښاني غورځنګ له پوځي عمل سره ایډیولوژیک عمل، چې د سیاسي ستراتیژۍ یوه اغېزمنه وسله ده، ملګری کړ، خو د ګورګانیانو د سیاسي ستراتیژۍ په وجه دا غورځنګ هم له ایډیالوژیک اغېز څخه محروم شو او په نتیجه کې یوازې د یو پوځي عمل په توګه په میدان کې پاتې شو.

ښاغلی جلالي په خپل دې پوځي تحلیلي اثر کې د وروستۍ نتیجې په توګه دا پیغام ورکوي، چې د جګړې او مبارزې لپاره د تورې او تدبیر، مادي او معنوي قوت په کار دی، تکتیکي عملونه باید د یوې سیاسي او عمومي ستراتیژي برخه وي او د ټولنې سیاسي موسسات باید په ترتیب سره وده وکړي، له دې پرته پوځي او ایډیولوژیک غورځنګونه نه شي بریالي کېدی. ښاغلی جلالي وایي:

(( دا د (۱۷) مې پېړۍ خوشال و چې ددې ټولو تاریخي واقعیتونو په درک کولو سره یې له تورې سره قلم هم راواخیست او په دواړو وسلو یې مبارزې ته دوام ورکړ. هغه په خپله زمانه کې د سیاست او عسکرۍ ستراتیژۍ د یو نسبتاً پراخ نړۍ لید په رڼا کې د جنګي شرایطو مفصله څېړنه وکړه، له یوې خوا یې د ژوند ترپایه دښمن ته توره په ځمکه کېنښوده او له بله پلوه یې تر مرګ پورې د پښتنو په قومي تحریک کې، د هغوی سیاسي او ستراتیژیکې کمزورتیاوې کله په خوږه او نرمه او کله په ترخه او ستوغه ژبه څرګند کړې:

هـــره چـــاره د پښـــتون تـــر مغـــل ښـــه ده
اتفـــاق ورســـره نـــه شـــته ډېـــر ارمـــان
د بهلـــــول او د شېرشــــــاه خبـــــرې اورم
چـــې پـــه هنـــد کـــې پښـــتانه وو بادشـــاهان
شـــپږ او اوه پېـــړۍ یـــې هســـې بادشـــاهي وه
چې په دوی پـــورې درســـت خلـــک وو حیـــران
یـــا هغـــه پښـــتانه نـــور و دا څـــه نـــور شـــول
یا د خـــدای دی اوس دا هســـې شـــان فرمـــان
کـــه توفیـــق د اتفـــاق پښـــتانه مـــومي
زوړ خوشـــال بـــه دوبـــاره شـــي پـــه دا ځـــوان

د جلالي صیب په نظر چریکي جنګ چـې خوشـال یـې د ((قزاقـي))
جنګ یوه برخه ګڼي او اوس په نړۍ کې د ګـوریلایي جنـګ پـه نامـه
نومول شوی، د خوشال د پوځي مبارزې د تکتیک اساسي عنصـر دی،
همدا چریکي جنګ و چې د مقدوني سکندر، چنګېز، انګرېـز او روس
منظمې لښکرې یې ماتې کړې او اوس دا دی په یوه بل عصـري تعبیـر
سره د نړۍ د شلمې او یوویشـتمې پېـړۍ سـتر زبرځـواک او د هغـه
لسګونو انډیوالانو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکوي.

## ((د بریالیتوب لار)) له کومو پېچومو تېرېږي؟

(د بریالیتوب لار) د نړۍ د نومیالي لیکوال (ډېل کارنیګي) اثر دی چې (نقیب احمد اتل) په خوږه پښتو ژباړلی، ماته یې د سریزې لپاره راکړی و، پر (۱۳۹۱ل) کال ما پر دې اثر دا سریزه ولیکله، دا اثر پر همدې کال چاپ شو.

په ژوند کې د ستونزو پر وړاندې مبارزه او پر ناخوالو لاسبری اسانه کار نه دی. هغه ټولنې چې د سوکالۍ پړاو تــه رســېدلي، د کــار، زیــار او متواترو تجربو له یــوه اوږده تسلسل څخه تېرې شــوي دي. ستر شخصیتونه هم په اسانۍ نه دي ســتر شــوي، دوی هم ډېرې شــېې رنــې کړي؛ د مرګ او ژوند د پولې پــــر لیکــــه ودرېــــدلي، د ازمېښت د اور له بټۍ څخه تېر شوي دي. هغوی چې د ســختیو اورونــو خــوړلي، نومونــه یــې د تــاریخ لــه حافظې وتــې دي. د تــاریخ قضاوت هم سل په سلو کې




عادلانه نه دی؛ تصادفات، استثنات او ناڅاپي پېښې هــم لــه عــادي اشخاصو اتلان جوړولای او همدا پېښې بیا د نړۍ سترې ســتې هــم د هېرېدو کندې ته ټېل وهلای شي.

پر ټولنیزو ستونزو د بري حل لارې او فورمولونه لکه د ساینسي هغو په شان نه دي، چې په ټوله نړۍ کې یـو شــان قابلیــت او منښــت لــري؛ عاطفي، درد، احساس، تخیل، اخلاقو او نورو ټولنیزو ترونونو ته اړتیا نه لري، د محاسبې او تجربې فکس او ټاکلي قوانین لري، په ټولنیزو چارو کې بیا فورمولونه بل ډول دي؛ متــواترې تجربــې، متلونــه، د خلکــو د افکارو مجموعي نچوړ، اخلاق او ټولنیز قراردادونه د ټولنیزو شــخړو د حل فورمولونه دي چې د زمان او مکان ټول حاکم چاپېریال پرې خپــل خپل تاثیرات لري.

په نړۍ کې ګڼ شمېر داسې پوهان شته چې د زماني د اوږدو تجربو پــه برکت یې د شخصیت جوړونې او پر ټولنیزو ســتونزو د لاســبري حــل لارې په ګوته کړي دي. انسان کولای شي همدې تجربو ته په کتو سره خپل ځان د بري پړاو ته ورسوي، پر ستونزو لاسبری پیدا کړي، ځان او ټولنه سوکاله او خپل نوم ابدي کړي.

د پوهانو همدا نظریې او پخې خبرې د یوه ټولنیز فورمول په توګه کــار ورکوي او که څوک یې عملي کړي، کېدی شي د ژوند ډېــرې نــاخوالې یې له منځه لاړې شي.

( ډېل کارنیګي) د نړۍ د ګڼو لیکوالو په منځ کې هغه لیکوال دی چــې خبره یې د عوامو په اصطلاح د کاڼي کرښه ده او د یوه ټولنیز فورمــول حیثیت لري. ډېل کارنیګي (د ژوند لار)، (د خبرو هنر یــا فــن) او ګــڼ شمېر نور داسې کتابونه لیکلي چې په سوونو ملیونه ټوکه چاپ شــوي او په سلګونو ملیونه لوستونکي لري. د ډېل کارنیګي هر اثر له یوځــل څخه تر شلو ځلو پورې چاپ شوی او د هر ځل چاپ ټیټ شمېر یې یو ملیون ټوکه و. د نړۍ په ډېرو ګڼ ویونکو ژبو یې اثار چــاپ شــوي دي. نږدې نیمه پېړۍ کېږي چې د نړۍ مارکېټ او ذهن د ډېل کارنیګي پــر

اثارو راڅرخي. ((د بریالیتوب لاره)) هم د نړۍ ددې نامتو لیکوال بل اثر دی، چې دده د پراخې مطالعې او اوږدې تجربې نچوړ دی. دا اثر که څه هم ډېرې پاڼې نه لري، خو ډېرې د کار خبرې لري. دا اثر اصلاً د تجربــه شویو خبرو یو نچوړ دی چې فرعي، ځنګزني او اضافي خبرې نه لــري، هره خبره یې په تول تللې او له هدفه ډکه ده. هغه چا څخه چې د ژوند لاره ورکه وي، دا اثر ورته د سوکاله ژوند لپاره یوه کونجي ده، یو څراغ دی. د ناهیلو انسانانو لپاره د هیلو یوه ډیوه ده، د کم جرئته اشخاصــو لپاره هم د جرئت یوه نسخه. لکه څنګه چې حساب، هندسه، کیمیــا، الجبر او نورو ساینسي مضامینو کې د هرې معــادلې د حــل لپــاره یــو فورمول وي، دا اثر هــم د شخصــیت جــوړونې او د ســتونزې د هــرې معادلې لپاره یو فورمول لري، که هر ناکام او ناهیلی شــخص د خپــل د ژوند په بېلابېلو ناکامو ډګرونو کې ددې اثر نسخې عملي کړي، نو پوره باور دی چې ډېرې بریاوې به ترلاسه کړي. ددې اثر اصلي جوهر دادی چې له ((سړي)) نه ((سړی)) جوړ کړي، یو ناکام شخص پر یــوه بریــالي شخص بدل کړي، یو ناهیلی انسان پر یوه هیله من انسان او یو ناهدفه شخص پر یوه هدفمن شخص عوض کړي. دا اثر یو ژونــددود دی چــې ستنې یې د پخو تجربو پر بنسټ ولاړې دي.

په دې اثر کې واضح کېږي چې ذوق او مزاج د انسان په ژوند کــې ډېــر مهم دي؛ هر هغه کار چې د انسان په ذوق برابر نه وي، د هغه انتخــاب او بیا د هغه برۍ د هغه شخص لپاره اسانه کار نه دی. هدف په خپلــه د برۍ لپاره مهم عنصر دی؛ هغه انسانان چې بې هدفه مبــارزه کــې وي، وروستۍ نتیجه یې له سترړیا پرته بل څه نه دي. هر انسان چې غــواړي برۍ ته ورسېږي، باید پر ځان وېسا او باور پیدا کړي، پر یوه هــدف بــې باوري، هدف ته تر رسېدو دمخه د ناکامۍ پیلامه ده. د هدف او برۍ په لاره کې شوق، ذوق او ولوله مهم رول لري، انســان لــه ســترړیا څخــه

ژغوري، له خپل کاره خوند اخلي. انسان بايد خپله تېره ناکامه او مايوسه ماضي هېره کړي، خپل ذهن هلته مصروف نه کړي، خپل اوسنی وخت په پام کې ونيسي، د خپل وخت له امکاناتو اعظمي ګټه پورته کړي، د راتلونکي په اړه فکر وکړي او هغه هم مثبت فکر. منفي تفکر هم د ناکامۍ چينجی دی، چې د بريا مغز خوري. انسان بايد له تېرو تجربو څخه مثبته ګټه پورته کړي. تجربه داسې ده لکه د رڼا لار. انسان بايد د خپل ځان د صحت او سلامت هم زيات خيال وساتي. د ډيل کارنيګي په نظر هغه انسان چې په صورت روغ نه وي، سالم فکر نه شي کولای، (سليم عقل په سالم بدن کې دی) متل د مصداق په توګه راوړي. انسان بايد د خپلو ښېګڼو او نيمګړتياوو جاج واخلي، له نيمګړتياوو بايد خواشينی نه شي، د هغو د حل لپاره بايد کار وکړي او ښېګڼې بايد زياتې کړي. انسان بايد په ټولنه کې خلکو ته خپل کمال او مهارت څرګند کړي، دا کار په ټولنه کې دده د شخصيت د ګرانښت او منښت سبب ګرځي او دده د لازياتې هڅونې عامل ګڼل کېږي. زړورتيا د شخصيت په وده کې بل مهم عنصر دی. که يو انسان د يو کار وړتيا هم ولري، خو چې لازمه زړورتيا ورسره ونه لري، د هغه د اجرا لپاره اقدام نه کوي.

د ډيل کارنيګي په وينا (د وينا فن) او اغېزناکه وينا هم د شخصيت په وده کې ډېر مهم رول لري، د نړۍ يو زيات شمېر مشهور شخصيتونه د خپلې اغېزناکې وينا په برکت د شهرت او بري لوړ مقام ته رسېدلي دي، نو که يو څوک غواړي ستر شخصيت شي او خپل فکر خلکو ته بيان کړي، نو بايد د وينا فن زده کړي. ده په خپل دې اثر او هم په يو بل ځانګړي اثر کې د يوې ښې او جذابې وينا رغنده توکي تشريح کړي دي.

کارنیګي وايي چې ازاد فکر او پرله پسې هڅه د انسان پــه بریــالیتوب کې بل اساسي عنصر دی؛ هر څومره چې د انسان د فکر دایره پراخــه وي او له خپلو هڅو ستړی نه شي، همغومره د بري حد ته نږدې کېږي. د ستونزو پر وړاندې په ټینګه مبارزه د بري بل راز دی.

ډیل کارنیګي په دې اثر کې د شخصیت جوړونې بېلابېــل او کــړلېچن پړاوونه تشریح کوي، دا پړاوونه او قوانین يې اکثره داســې دي چــې د نړۍ پر اکثرو ټولنو د تطبیق وړ دي، له هغې جملې څخه زموږ پر ټولنه. هغو ناروغیو ته چې کارنیګي اشاره کړې، د هغو یو زیات شــمېر همــدا اوس زموږ په ټولنه کې ګزمې کوي او د یو زیــات شــمېر خلکــو ذهــن اخلالوي. د ساري په توګه (غیبت کول). سره له دې چې غیبــت کــول اسلامي شریعت غندلی او په ټینګه يې منع کړي، خو بیا هم زمــوږ پــه ټولنه کې د لوستي او نالوستو اشخاصــو تــرمنځ لکــه د یــوې ســاري ناروغۍ په توګه فعالیت کوي، د ګړني، لیکني او د غیبت نــور ډولونــه همدا اوس دود دي. د دې کار یو علت شاید دا وي چې دلته څوک د یو چا د شخصیت وده نه شي زغملای، نو ځکه د هغه د تخریب لپــاره لــه داسې یوې وسیلې څخه کار اخلي چې هېڅ لګښت پــرې نــه راځــي؛ غیبت کول، تور پورې کول او دروغ ویل. کارنیګي وايي: (( لــه غیبــت کولو نه بل اسان کار نشته، ځکه چې په دې کار کې فکر، پوهې او وړتیا ته اړتیا نه لیدل کېږي)). زموږ په ټولنه کې یو ډول هغه کسان دي چې کار کوي او بل ډول هغه کسان دي، چې د هغوی کار ته متوجــه دي او غواړي په غیبت او تور پورې کولو يې د کار رنګه پیکــه کــړي. ځینــې خلک بیا داسې دي لکه د سلطان محمود پاچا لټان، د کار لټه نه کوي، یوې موقع او طلايي چانس ته منتظر وي، په دې پلمه چې د کار موقــع نه شته خپله تنبلي پټوي. کارنیګي وايي: (( موقع یا چانس د چا کور ته نه ورځي، باید تاسو خپله موقع پسې لاړ شئ!)).

ځینې خلک له دې وېرې هم د یو مثبت کار لټه نه کوي چې څوک یې مخالفت ونه کړي. د مخالفت وېره د یو لوی کار د مخنیوي سبب ګرځي، خو هوډمن اشخاص هغه دي چې د چا مخالفت ته ډېر ارزښت ورنه کړي، خپل کار ترسره کړي. کارنیګي په دې نظر دی چې (( په ژوند کې هغه وخت مزه پیدا کېږي، چې څوک دې مخالفت وکړي.)) زه به خپله یوه شخصي تجربه هم درسره شریکه کړم: هر کله چې یو چا د حسد او کینې له مخې زما د فرهنګي او ټولنیزو کارونو مخالفت کړی، نو ما نور هم هغه کار ته کش ورکړی، تر هغه چې مې هغه کار ترسره کړی دی. کله چې مې په سختۍ د کار ثمر ترلاسه کړی، نو ډېر خوند یې راکړی، لکه څومره چې یې ماته خوند راکړی زما مخالفین یې کړولي دي، نو اوس ماته یوه پخه تجربه ده چې که ستا او مخالفت ترمنځ د یو کار پر سر اختلاف وي، ته باید مخالف سره په داوو دانګلو وخت تېر نه کړې، ژر خپل کار ترسره کړې. مخالف ته بیا تر دې بله خپله سخته ماتې او عذاب نشته. که څه هم ځینې خلک داسې شته چې غیبت او منفي هڅو ته یې کار ویلای وي، عادت یې نه بدلېږي، د کارنیګي په وینا (( عادت یې د فطرت په ختّه کې وده کوي))، خو ددې پرځای چې موږ د چا د ټولنیزو او فطري عادتونو پر بدلولو وخت مصرف کړو، خپل کارونه باید ترسره کړو. کار د نېکمرغۍ او ((بې کاري د بدبختۍ زانګو ده)).

د اپلاتون، کارنیګي او نورو پوهانو په نظر پوهه د انسان لپاره لویه نېکمرغي ده، که څوک غواړي نېکمرغه شي، نو ځان باید د مطالعې او پوهې په ګاڼه سمبال کړي. کله چې موږ خپلې ټولنې ته وګورو، هغه اشخاص، لیکوال او نورو خلک چې ذهن یې له تفکره ډک وي، هغوی کار کوي، د بري لارې لټوي، خو هغوی چې خالي ذهنه وي، ذهن کې وسوسې، کینه او حسد وده کوي، ځان خوري. دا پخه خبره ده چې

((خالي ذهن د شیطان کور دی))، نو که موږ غواړو ځـان لـه شـیطانه وژغورو، باید خپل ذهن د علم په رڼا روښانه کړو.

هر سخت کار یوې سختې او قوې ارادې ته اړتیا لري، هېڅ ستر کار لـه سترې ارادې پرته نه شي ترسره کېدلای، د کارنیګي په نظر (( اراده یو روحي عمل دی)) چې د سختو عملونـو د ترسـره کولـو لپـاره خـورا اغېزمنه وسیله ده.

د کارنیګي په نظر ناهیلي، بې ځایه شهرت غوښتنه، ځان کم ګڼل، بـې زړه توب، د کمترۍ احساس او نور هغه مرضونه دي چې که په یو انسان کې یې ځای ونیو، انسان له سختیو بدمرغیو سره مخـامخولای شـي. دی وایي (( نېکمرغي هغه ذهني کیفیت دی، چې د یوه انسان د ټولـو غوښتنو او امیدونو تر پوره کېدو وروسته رامنځته کېږي.))

کارنیګي وایي، که غواړئ د نېکمرغۍ ذهني کیفیت ترلاسه کړئ، نو (( له چا څخه نفرت مه کوئ، له چا سره کینه او حسد مه کـوئ، بـې لـه کومې وجې د چا بې عزتي مه کوئ، دښمنۍ ته لار مه اواروئ، د کینـې ناروغي له ځانه لرې کړئ، یو کار په صبر او سکون سره ترسره کړئ، په ځان کې له ژوند سره د مینې جذبه پیداکړئ، د نظم او دسـپلین تـابع شئ)) او داسې نور مهم عناصر، چې په یو انسان کې د نېکمرغۍ وزرې غوړولای شي.

ددې اثر د توضیح لپاره د اثر مطالعه تر ټولو ښه لاره ده، که زموږ ولـس په تېره بیا ځوان نسل دا اثر په دقت ولولي او ډېرې برخې عملي کړي،

نو کېدی شي د ښه ژوندانه لپاره ورته یوه ښه کیلي په لاس ورشـــي. دا چې کارنیګي د نړۍ ولسونو ته د ښه ژوند لپاره داسې یوه وړیـا کیلــي جوړه کړې، نو پر هغه دې هم سل افرین شي او دا چې ښــاغلي نقیــب احمد اتل بیا په خوړه، روانه او اسانه پښتو دا کیلي د هر افغان کور تــه په وړیا ډول رسولې، دده په ځوانۍ دې هم برکت شـــي، الله(ج) دې دی د نېکمرغۍ په هغو ټولو خوږلنیو کې ډوب کړي، چې لیکوال یې په دې کتاب کې هیله کړې او په پای کې د هر افغان او د نړۍ هر انسان لپــاره همدا هیله.

ددې ټولنې

یو یون

۱۳۹۱ل کال د غويي ۱۳مه

ارګ، د جمهوري ریاست ماڼۍ

# پښتو کې درې نوي شعري فورمونه

## (ټپيزه، ټکوريزه او هايکو)

دا ليکنه پر (۱۳۹۱ل) کال د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د يوه علمي کنفرانس په بنه اورول شوې وه.

د يوې ژبې د ادبي دورې په ټاکنه کې يو مهم اصل شکلي او محتــوايي بدلون دی. جوليز او مانيز بدلون هم په اسانۍ سره نه رامنځته کېـــږي، يا د اوږدو ټولنيزو بدلونونو زېږنده وي، يا هم د پخو ادبي تجربو د تکرار او اوج له پړاوونو څخه دا محتوايي او شکلي بدلون راټوکېږي.

پښتو ادب له محتوايي او شکلي، په تېره بيا له جوليز پلوه خورا غنـــي دی. د پښتو ژبې سکښت، جوړښت او اهنګين ترتيب دا ځانګړې وړتيا لري، چې د نړۍ د هرې ژبې د ادبياتو جوليز جوړښت راخپل او د خپلو ادبي فورمونو په ليکه کې زيات کړي. د (۱۴) (عربي) شعري فورمونـــو په ګډون چې پښتو يوازې له عربي څخـــه راخپـــل کـــړي دي، د (دري) (دوه بيتی) هم پښتو کې څه نا څه ځای لري، له (انګليســـي) او نـــورو نړيوالو ژبو څخه راغلی ازاد شعر او د هغه بېلابېل ډولونه هم پښتو کې دود دي. د پښتو د خپلو شعري فورمونو شمېر هم د نړۍ تر بلې هـــرې ژبې زيات دی. که د پښتو د ټولو شعري فورمونـــو شـــمېر او پـــه واحـــد شعري فورم کې د هغو بېلابېلې بڼې په پام کې ونيسو، نو د ټولو پښـــتو

شعري فورمونو شمېر نږدې (۵۵) بېلابېلو شعري فورمونو ته رسېږي. پښتو ژبه که څه هم د هغې د خپل جوړښت، د غړونو د تراکم، د جنس، حالت او نورو اوښتونو له نظره ناپښتنو ته د زده کړې له مخې سخته برېښي، خو د اهنګین جوړښت او موسیقیت له مخې بیا هغه شان ده، چې د نړۍ هر موسیقیوال او سندرغاړي ته تر هرې بلې ژبې خوږه، اهنګینه او اسانه ده.

خبره لا دوه نیمو لسیزو ته نه ده رسېدلې، چې د پښتو ادب په لمن کې (درې نوي شعري فورمونه) په ټوکېدو او غوړېدو دي. دا شعري فورمونه که څه هم هر یو خپل جوړښت او سکښت لري، خو داسې هم نه ده چې په پښتو ادب کې پخوانۍ ریښه او مخینه نه لري. دا شعري جولې، (ټپیزه)، (ټکوریزه) او (هایکو) دي. دلته غواړو، د هرې یوې پر جولیز سکښت او جوړښت بحث وکړو. تر بحث دمخه یادونه کوو چې ددې جولو له ټوکېدو سره سم بیا تر دې دمه دا هر یو فورم خپل مخالفین او موافقین لري. موږ به دلته د هر یو فورم پر جوړښت بحث وکړو، د موافقینو او مخالفینو پر احساساتو او د اختلافاتو پر انګېزو به هم یو څه وغږېږو.

## ۱- ټپیزه:

ټپیزه د پښتو تر ټولو قوي او مشهور شعري فورم (لنډۍ یا ټپې) پر بنسټ رغول شوی فورم دی. سره له دې چې د پښتو مشهور شعري فورم (لنډۍ) نور نومونه ټیکی، ټپه، مصرۍ هم لري، خو ټپیزه چې له (لنډۍ) څخه مشتق شوې د پوهاند زیار په نظر ورته (ټپیزه) نوموونه

تر ټولو ځکه غوره برېښي، چې له بلې نوموونې یا اصطلاح ســره مــانیز ټکر نه پېښوي او یا هم ویون یا تلفظ یې اسانه دی. لکــه څنګــه چــې څرګنده ده پښتو ټپه یا لنډۍ دوه ثابتې مسرې لري او یوه څپه یې هم تر ټاکلي حده زیاتېدی یا کمېدی نه شي او که د فشار له امله یې کومه څپه زیاته یا کمه شي، نو لنډۍ یا ټپه خپله دا ځانګړتیا له لاسه ورکوي او هېڅکله هغه خوند او اهنګ چې لري یې، نه شي ورکولای.

ما ویل یوازې زما یار یې

د اختر ټال یې هر سړی دې زنګوینه

ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته ځینه

خویندې چې کښني وروڼه ستایي

وروڼه چې کښني خویندې بل ته ورکوینه

لومړۍ مسره (۹) او دویمه (۱۳) څپې ده، چې ټولې (۲۲) څپې کېــږي. همدا (۹+۱۳) څپې د لنډۍ ریاضي ده، چې له دې جوړښت پرته لنډۍ یا ټپه هډو جوړېدی نه شي.

ټپیزه چې اساس یې همدا لنډۍ ده او په وروستۍ برخه کې یې همــدا لنډۍ ورزیاتېږي او ټپیزه سره تړي، د لنــډۍ یــا ټپــې تــر وروســتنې پیوستون وروسته ثابت شکل غوره کوي او د نور انکشاف امکان یې له منځه ځي.

هره ټپیزه په مجموعي ډول پینځه مسرې لري؛ درې مسرې په خپله د ټپیزې لومړۍ برخه وي او دوه مسرې د لنډۍ وي، چې له لومړیو درېـو مسرو سره یوځای کېږي یا د لومړۍ برخې درې مسرې لــه وروســتیو دوو مسرو سره یوځای کېږي. د ټپیزې لــومړۍ مســره (۹) دویمــه (۹) درېیمه هم (۹) څپې لري، د لنډۍ لومړۍ مســره خــو هســې هــم (۹) څپیزه وي، په دې ډول دا څلورې مسرې نه یوازې د څپو د شــمېر لــه مخې سره مساوي دي، بلکې د قافیز جوړښت له پلوه هم په خپل منځ کې هم قافیه دي او څلور واړه مسرې یوه مشترکه قافیه تعقیبوي، کــه چېرې احیاناً د لنډۍ لومړۍ مسره پر قافیې سربېره ردیف هم ولري، د ټپیزې د لومړۍ برخې د لومړیو دریو مسرو ردیفونه هم تر همغې قافیې وروسته هماغه ردیف تعقیبوي. دلته پوښتنه پیــداکېږي چــې خپلــه لنډۍ خو اصلاً یو ناقفیوال نظم دی، نو دلته بیا قافیه له کومــه شــوه؟ دلته باید واضح شي چې کله هم یو ټپیزوال ټپیزه جوړوي، نو لنډۍ یې د اساس په توګه غوره کوي؛ د لنډۍ د لومړۍ مســرې وروســتی بڼــه، اهنګ یا د کلمې سکښت په پام کې نیسي، خپلې لومړۍ درې مســرې هم پر همغه وزن او اهنګ برابروي، نو ځکه د لنډۍ لومړۍ مســره کــه څه هم له آره قافیه نه لري، خو چې د لومړۍ مسرۍ وروستۍ برخه یې د ټپیزې له درېیو لومړیو مسرو سره غاړه غړۍ شي، نــو قافیوالــه بڼــه خپله کړي.

**د لنډۍ ځانګړې هندسي بڼه داده:**



**خو کله چې د ټپیزې له لومړیو درېیو مسرو سره یوځای کېږي له ټپیزې سره دا شکل خپلوي.**

a________________

a________________

a________________

a________________



**او یا هم**

=a________________

=a________________

=a________________

=a________________



**دلته به یې څو بېلګې وړاندې کړو:**

**غلیم یې ډاري له پرتمه**

**کره یې ورپرې د ښکېلاک تمه**

**غازیان راتول پرې له هر چمه**

د توریـــــــالي اکبـــــــر لـــــــه برمـــــــه
ځوانـــــان د ننـــــګ تـــــورې وهـــــي، ســـــر ورکوینـــــه

❋❋❋

ښــــــتن دې مــــــات هغــــه لښــــــکر کــــــړي
لــــه ژونــــد وژواکــــه لاس پــــر ســــر کــــړي
چـــــې پښــــــتانه تـــــه بـــــد نظـــــر کـــــړي
مــــیرویـــــسه خـــــدای دې جـــــنـــت درکـــــړي
چـــــې مـــــوږ دې خـــــلاص کـــــړو د پـــــردو لـــــه منتونـــــه

❋❋❋

شــــــوم لاس پــــر ســــر لـــــه پــــردي خپلـــــه
څـــــوک بــــه یـــــې نــــه کـــــړي پــــر مـــــا بلـــــه
څـــــو دا ســــتا مینــــه نــــه کـــــړم خپلـــــه
پـــــــــــــاس پـــــــــــــــر
کـــــــــــــمـــــــره ولاړه ګــــــــــلـــــــه
یـــــا بـــــه دې پـــــرې کـــــړم یـــــا بـــــه ځـــــان وغورځومـــــه

❋❋❋

تـــــه بـــــه د چـــــا پـــــر کـــــور مېلمـــــه یـــــې
ورســـــره ناســـــت پـــــه څـــــه پلمـــــه یـــــې
تیـــــاره ماښـــــام تـــــه بلینـــــده یـــــې
تـــــه بـــــه د کـــــوم مـــــحفـــــل ډیوه یې
زه د هجـــــران تـــــورو تیـــــارو تـــــه ناســـــته یمـــــه

( د پوهاند زیار له لیکنې څخه)

ګـــــــــورئ د نـــــــــــورو ګـــــــــــوډاګی دی
پــــــــرې مــــــه غـــــــولېږئ دا پـــــــردی دی
دی د ډالــــــــــــــــــــرو لېـــــــــــــــــوني دی
ســــــــــــــــړی پــــه رنـــــــــګ کــــله سړی دی
ســــړی هغـــــه دی چــــې یــــې خـــوی د ســــړي وینــــــه

( د اخلاقي جرئت غوره سمبول، ۶۶مخ.)

هســـــې مــــې کلـــــي کـــــې زړه تنــــګ شــــــو
چــــې یــــار روان رانــــــه پــــه ځنـــــګ شـــــو
لــــه خپـــل نصـــیب ســـره مـــې جنــګ شـــو
زمـــا د میـــــنې یـــــار مـــلنــــــــګ شـــــــــــو

اوس بـــــه دېــــــرې د مـــلنګانـــــــو لــــتومــــــــــه.

✵ ✵ ✵

هغـــــــه لـــــــه زړه نـــــــه راتـــــــه ګـــــــران دی
د ســـــــــــــتمونو یـــــــــــــې بـــــــــــاران دی
زمـــــا تـــــــرې ســــــــر او مـــــــال قربــــــان دی
په مـــــــا یـــــــــــــې زر مـــــــنه احســــــــان دی

چـــــې جانـــــان تــــول کلــــی پربـــــږدي مالـــــه راځینـــــه

د ټپیزې ځپیز خجیز جوړښت هم د لنډۍ د فورم تابع دی، د پښتـــو د ټولو شعرونو خجیز جوړښت داسې دی چې که د مسرې پر هره لومړۍ،

دویمه، درېیمه او یا هم څلورمه څپه خج یا فشار راغی، نــو تــر هغــې وروسته به هره څلورمه څپه خجنه وي، همدا خــج او څپــه ده چــې د پښتو شعر یا نظم اسکلیټ جوړوي. دا قانون د پښتو پــر ټــول نظمــي جوړښت؛ ازاد وي که قافیوال، یوشان د تطبیق وړ دی. په پښتو لنــډیو کې په لومړۍ او دویمه مسره کې هره څلورمه څپه خجنه ده:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

ددې لنډۍ څپیز جوړښت په دې ډول دی

U - U U U - U U U

U – U U U – U U U – U U U

(د پښتو شعر هندسي جوړښت ۱۳۹مخ)

پـــــه زړه مـــــې ډېــــــر ګلونـــــــه شـــــــنه دي

زړه کــــې مـــــې پـــــټ دي هغــــــه ښــــــه دي

زمـــــــا او ســـــــتا ترمنځـــــــــه څــــــــه دي

نـــــور خـــــو یـــــې هـــــېڅ ویلـــــي نـــــه دي

دا ســـــتا پېغــــــور یـــــې راکـــــاوه پـــــه ژړا شــــــومه

ددې ټپیزې څپیز جوړښت په دې ډول دی:

U – U U U – U U U

U – U U U – U U U

U – U U U – U U U

U – U U U – U U U

U–U U U – U U U – U U U

زه بـــــه تــــــر ګـــــوره درتـــــــه کېـــــنم

چېرتـــــــه بــــــې کــــــوره درتــــــه کېـــــنم

د زړه لــــــــــه زوره درتـــــــــــه کېـــــــــنم

یـــــو کـــــال بــــــه نـــــوره درتــــــه کېـــــنم

زیـــــارت خــــو نـــــه یـــــې چـــــې جنــــدې بــــه دې ســــــاتمه

( د محبوب شاه محبوب له لیکنې)

د پورتنۍ ټپیزې څپیز خجیز جوړښت هم د پورتنۍ هغې په شان دی.

هندسي جوړښت یې:

a=_______________

a=_______________

a=_______________

a=_______________

د یادونې وړ ده چې د ټولو څپیز خجیز جوړښت، لکه د ریاضي د فورمول په شان دی، خو هندسي جوړښت یې لږ تر لږه په دوه ډوله دی. یو ډول همغه چې د لنډۍ د لومړۍ مسرې په ګډون په کې څلور واړه مسرې یو شان قافیه تعقیبوي او پینځمه مسره یې له قافیې څخه ازاده وي او دویم شکل یې همغه دی چې تر قافیې وروسته ردیف هم لري:

لومړی شکل:

__________________ a

__________________a

__________________a

__________________a



دویم شکل:

__________________a=

__________________a=

__________________a=

__________________a=



په پښتو کې ټپیزه ډېر اوږد تاریخ نه لري، البته په ژبه کې دېته ورته نظمونه شته. نږدې دوه لسیزې کېږي چې ټپیزه په پښتو ادب کې تر سترګو کېږي، ان تر دوو لسیزو کمه موده کېږي. ځینې لیکوال په دې نظر دي چې پوهاند مجاور احمدزیار د ټپیزې د مخکښانو له جملې څخه دی. البته په پښتو ازاد شعر کې د پښتو لنډۍ کارونه مخکې هم شوې؛ یو شمېر شاعرانو چې پښتو ازاد شعر یې لیکلی، په خپلو ځینو شعرونو کې یې پښتو لنډۍ د خپل شعر د قوت، د منطق د پوخوالي او د استدلال د یوې ستنې په توګه کارولې ده. پوهاند زیار هم په خپلو ځینو ازادو شعرونو کې لنډۍ کارولې. سربېره پر دې پوهاند زیار خپلواکې ټپیزې هم لیکلي دي. تراوسه د پوهاند زیار د ټپیزو کوم ځانګړی اثر نه دی چاپ شوی، خو د پښتو یو شمېر ځوانو لیکوالو ټپیزې ته خپل کار ویلی او په دې برخه کې یې دومره کار کړی چې خپل مستقل اثار یې چاپ کړي دي. ځوان لیکوال (حنیف حیران) او (رحیم الله ارماني) هغه لیکوال دي، چې د ټپیزو مستقل اثار لري.

د حنیف حیران د ټپیزو ټولګه (یو ځلې بیا په دې لار راشه) نومېږي، یو شمېر نورو لیکوالو او شاعرانو هم ټپیزې لیکلي دي. ټپیزو هغه وخت خپل عام ګرانښت پیدا کړ چې د موسیقۍ تر څپو ورسېدلې؛ نامتو سندرغاړو د موسیقۍ له هنر سره یوځای کړې، د پښتنو هر کلي او بانډو ته یې ورسولې.

**یو ادبي فورم څنګه رامنځته کېږي؟** یو ادبي فورم د وخت اړتیا، د زماني د اوږدو تجربو او د شاعرانو د منظم تمرین او د یوې بېلګې د بیا بیا تکرار په نتیجه کې رامنځته کېږي. یو ادبي فورم تر هغه

پورې فورم نه دی چې واحده بڼه یې نه وي خپله کړې، واحد قانون پرې تطبیق نه شي. په پښتو کې چې موږ اوس کوم شعري فورمونه لرو، پر هغو اکثرو یو مشخص قانون او قاعده تطبیقېږي او یا لږ تر لږه تر یوې یا څو قاعدو لاندې راځي. کله چې موږ د ټپیزې فورم ته ګورو، نو عیناً لکه د لنډۍ په شان پرې یو مشخص قانون د تطبیق وړ دی او د ریاضي د یو قاعدې حیثیت لري، هر هغه څه چې د قاعدې خلاف وي او په دې قاعده کې زیات او یا کم شي، فورم خپل خصوصیت، کیفیت، ارزښت او ماهیت له لاسه ورکوي.

**د ټپیزې موافقین او مخالفین:** لکه د بلې هرې نوي ادبي، ټولنیزې او سیاسي پدیدې په شان له ټپیزې سره موافقت او مخالفت هم یوه طبیعي پروسه ده. هره نوې پدیده چې رامنځته کېږي په ټولنه کې حاکم کلتور او دود پدیدې ورسره مخالفت کوي، تر هغه پورې چې نوې پدیده د تجربې، ګټورتیا او اغېزمنتیا له یوه بهیره تېرېږي، دا مخالفت دوام مومي، خو د وخت په تېرېدو سره د مخالفت کچه راټیټېږي او د موافقت هغه زیاتېږي. په پښتو کې په پیل کې د ازاد شعر پر وړاندې هم یو لړ حساسیتونه موجود وو، خو ورو ورو ازاد شعر د پښتو ادب په ګلبڼ کې خپل ځانته ځای پیدا کړ. د ازاد شعر د ودې شرایط ډېر سخت وو، ځکه د موسیقۍ قوت، مقید او ثابت وزن ورسره ملګري نه وو، خو د ټپیزې نبکمرغي په دې کې ده، چې تر شا یې د موسیقۍ هنر ولاړ دی. د موسیقۍ هنر هم ټپیزې ته اړ دی، نو ځکه په وړیا ډول د ټپیزې عامولو ته تیار دی. د نامتو سندرغاړي (کرن خان) د خولې ټپیزې چې څومره مشهورې او خوندورې دي، کچه یې نه شي

اټکلېدی. د ټپیزو د مخالفینو تشویش دادی چې دا د لنډۍ ټولمنلي فورم ته زیان رسوي، کمزوري شاعران د خپل ځان د شهرت په خاطر له خپلو دربو مسرو سره یوه لنډۍ ملګرې کوي او د ټپیزې نوم ورکوي. ددوی بل تشویش دادی چې ځینې شاعران یا ناظمان کېدلای شي د خپلې ټپیزې د تکمیل په خاطر تصنعي لنډۍ جوړې کړي؛ داسې لنډۍ چې نه په کې خوند وي، نه لذت او نه هم کوم شعري جوهر لري، په دې ډول به لنډۍ له خپل اوسني موقف څخه، چې د ولس د مینې، تفکر او احساس اصلي هنداره ده، مبتذل حالت ته راکښته شي او له لنډیو به هم د خلکو زړه تور شي. دا حالت به ددې سبب شي چې د یو نوي فورم په رامنځته کېدو سره به موږ یو خپل پخوانی او اصلي فورم له لاسه ورکړو. د موافقینو او مخالفینو د دواړو تفکراتو په باب باید وویل شي چې په دې برخه کې باید تر هر څه لومړی د فورم او محتوا مغالطه له منځه لاړه شي. ځینې ټپیزوال چې کمزورې ټپیزې لیکي ایا دا د فورم مشکل دی، که د شاعر یا ناظم د تفکر او هنري ظرفیت؟ موږ په پښتو کې د غزل د فورم ډېر اوچت شاعران هم لرو، خو د ډېرې ټیټې کچې هم، دواړو د غزل فورم کارولی، یوې ډلې په لوړ کیفیت او مهارت او بلې په مبتذل او ډېر ټیټ کیفیت. ایا دې کار په پښتو کې د غزل فورم زیانمن کړ او یا یې له منځه یوړ؟ ښه خبره لا په دې کې دا ده چې ټپیزوال ددې صلاحیت نه لري چې په اصلي لنډۍ کې لاسوهنه وکړي، کله که د ټپیزې لومړۍ برخه چې خپله د ناظم یا شاعر د فکر زېږنده ده، کمزورې وي له اصلي لنډۍ سره یې اوچت توپیر کېږي او که څوک تصنعي لنډۍ جوړې هم کړي، نو برخلیک یې همغه شان دی چې ځینو نورو شاعرانو د تصنعي لنډیو د جوړولو هڅه کړې ده. نو که اوس

ځینې کمزوري شاعران ټپیزې ولیکي دا د ټپیزې یا لنډۍ اصلي فـورم ته زیان رسوي؟ دا بله فرضیه به هم وړاندې کړو: که ډېر قوي شـاعران د ټپیزو په فورم کې قوي محتوا وړاندې کړي بیا به څه ووایـو؟ اصـلي خبره دا ده چې په یوه ادبي فورم کې په زرګونو تجربې وړاندې کېـږي او تکرارېږي، له یوې نیمې یې غمی جوړېږي او عم مقبولیت ته رسېږي. د محتوا کمزوري تر ډېره حده د پنځوونکو په هنـري کمـال پـورې اړه لري، نه په فورم پورې، البته ځینې فورمونه داسـې دي چـې د فکـر د بیان لپاره خپلې خپلې اسانتیاوې لري، دا هم په پنځوونکې پـورې اړه لري، چې د خپل فکر او محتوا د بیان لپاره کوم فورم انتخاب کړي.

## ۲- ټکوریزه:

ټکوریزه په پښتو ادب کې بله جوله ده چې غالباً تـر ټپیـزې وروسـته رامنځته شوې ده. له ټپیزې سره یې تـوپیر دادی، چـې دا فـورم پـه مجموعي ډول شپږ مسرې لري او ټپیزه پینځه. په ټکوریزه کـې څلـور مساوي الوزنه مسرې چې د یوې څلوریزې بڼه لري؛ د ټکوریزې لومړۍ اصلي برخه او دوه وروستۍ مسرې چې اصلي لنـډۍ ده، د ټکـوریزې دویمه برخه جوړوي.

که څه هم د (ټکوریزې) نومونه یوه محتوایي اصطلاح ده نه شکلي، خو بیا هم چې د یو شکل لپاره غوره شوې ده، پـر ذهـن بـده نـه لګـي. ټکوریزې ته ځکه محتوایي اصطلاح وایو چې یوه محتوا بیـانوي؛ یـانې همغه شعر چې زړه ته تسکین او ټکور ورکوي. لکه مرثیه، ویرنه، ویاړنه یا غندنه چې محتوایي فورمونه دي. یوه ویرنه یا مرثیه کېدی شي پـه غزل، قصیدې، مثنوي او یا هم کوم بل فورم کې وړاندې شي، دغسـې

په یو غزل، قصیده، یا بل شعري فورم کې کېدی شي، ټکوریزه محتــوا هم وړاندې شي، نو دلته باید د فورم بڼه یا محتوایي شــکل پــه دقــت سره وارزول شي، خو له دې سره سره ټکوریزه ډېره ښایسته او خــوږه نومونه ده او راساً د سړي د زړه تل ته لاره کوي او د هغه شعري فــورم، چې د یوې لنډۍ او څلورو لنډو متحدالوزونه مسرو لرونکی وي، د هغه لپاره یې کارونه مناسبه برېښي.

ځینې لیکوال وایي چې ټکوریزه اصلاً له یوې قطعې او یوې لنډۍ څخه جوړېږي. دلته ځینې کسان د (قطعې) او (څلوریزې) ترمنځ تــوپیر نــه کوي. قطعه او څلوریزه دواړه هغه شعري فورمونه دي، چې لــه عربــي څخه پښتو ته راغلي دي، د دواړو د مسرو شمېر سره مساوي وي، خــو توپیر یې یوازې په دې کې وي چې د قطعې دویمه او څلورمه مسره پــه خپل منځ کې مشترکه قافیه لري او د څلوریزې بیا لــومړۍ، دویمــه او څلورمه مسره خپل منځ کې مشترکه قافیه تعقیبوي.

قطعه:

بیـــــا د میـــــو جـــــام بـــــه مــــات کــــړم
چـــــې ځـــــواني شـــــي زمـــــا تېـــــره
پـــــه ځـــــوانۍ کـــــې ګنـــــاه خونـــــد کـــــړي
پـــــه پیـــــرۍ کـــــې تقـــــوا ډېـــــره

**هندسي جوړښت:**

____________________

a____________________

____________________
a____________________

**څلوریزه:**

**د مـــار کـــه نـــه وي پـــه تـــن کـــې زهـــر**
**ســـردار کـــه نـــه لـــري خنجـــر د قهـــر**
**دا دواړه توکـــه بـــه زمـــا پـــه پوهـــه**
**نـــه یـــاد پـــه کلـــي وي نـــه یـــاد پـــه شـــهر**

**هندسي جوړښت:**

a____________________

a____________________

____________________

a____________________

(د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۴۱ او ۴۶ مخونه)

البته ردیف لرونکې قطعې او څلوریزې هم همدا شکل تعقیبــوي، خــو یوازې ردیف یې زیات وي. کله چې موږ د ټکوریزې بڼې تــه ګــورو، نــو لومړۍ برخه یې د څلوریزې تر فورمول لاندې راځي، نه د قطعې تر چتر لاندې.

هـــــــېڅ درنـــــــــــــه نـــــــــــــه وړي
غـــــــــم بـــــــــــه پـــــــــــه زړه وړي
خـــــــــــوږو لـــــــــــــه در شـــــــــــــي
همـــــــــــــــــــېش ترخــــــــــــــه وړي
خویـــــــندې د ورور لــــــــــه کــــــــوره څــــــه وړي
خـــــواره زلفــــــان پــــــه اوږو وړي پــــــه ژړا ځینـــــــه

❋ ❋ ❋

دا نــــــورې مه کړې
بې کورې مه کړې
پښتـــــنې پـــــېـــــغلې
سرتورې مــــه کړې
خدایه ګورګورې تورې مه کړې
جینکۍ سرې شونډې وروړي تورې راوړینه.

(ګورګورې، محبوب شاه محبوب)

ټکوریزه هم لکه د ټپیزې په شان د لنډۍ تابع ده، یــوازې د مســرو او څپو په شمېر کې توپیر لري.

ددې ټکوریزې هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a=__________________

a=__________________

a=__________________

a=__________________

=a__________________

**سویه ګـوګله!**

**مړ شې پاګله**

**زما جانـــــانـــه**

**د ګـلاب ګـــله**

**پاس په کمره ولاړه ګله**

**نصیب د چا یې اوبه زه درخپږومه**

✵ ✵ ✵

**جـــــانــــــه خاندې**

**سترګې دې لاندې**

**په تـــرخ راګـــــورې**

**هیلې دې تـــــــاندې**

**جانانه زېړی مې درباندې**

**زموږه کډه ستاسو کلي ته درځینه.**

**(ګورګورې، محبوب شاه محبوب)**

**ددې ټکوریزو هندسي جوړښت په دې ډول دی:**




**له ټپیزو سره د ټکوریزو بل توپیر دادی چې ټکوریزه له لنډۍ پرته هــم یوه مستقله مانا لرلای شي. که لنډۍ ترې لــرې هــم شـــي، دا د یــوې ځانګړې څلوریزې په شان خپله محتوا ښندي، خـــو پـــه ټپیـــزه کـــې د ټپیزې لومړۍ مسرې د لنډۍ له مانا سره پیوستون لري. تراوسه پـــورې په پښتو ادب کې ډېرې ټکوریزې نه دي ویل شوي. یوازې محبوب شاه محبوب د (ګورګورې) په نامه د ټکوریزو یوه ټولګه چاپ کړې ده.**

د ټکوریزو د اوسني څپیز جوړښت له مخې د هرې مسرې د څپو شمېر (۵) څپو ته رسېږي. دا فورم لا نوی دی، نورې تجربې ته هم اړتیا لـري، وبه کتل شي چې شپږ څپیزې، اوه څپیزې او اته څپیزې ټکوریزې هـم راټوکېږي او که نه یوازې پر همدې (۵) څپیزې ودرېږي او د ټپیـزو پـه شان (۹) څپیز ثابت شکل غوره کوي.

د ټپیزو په شان د ټکوریزو هم یو شمېر مخالفین شته او پـر دې فـورم هم لکه د ټپیزو هغو په شان نیوکې کوي. خو له نیوکـو سـره سـره دا فورم هم د خپلې بشپړتیا پړاوونه وهي، که چېرې ټکوریزې پر همـدې پنځو څپو ولاړې پاتې شي، نو د څپیز جوړښت له مخې بـه یـو ثابـت شکل غوره کړي، خو د پیغام د لېږد لپاره به یې لمن پراخه نـه وي، نـو که شپږ څپیزې، اوه څپیزې او اته څپیزې ټکوریزې رامنځتـه شـي، د پرمختګ چانس یې هم ډېر زیاتېږي او د موسیقۍ لمن ته هم په اسانۍ سره لاره پیدا کولای شي.

## ۳- هایکو:

هایکو یوه جاپاني کلمه او د یوه جاپاني شعري فورم نوم دی، چـې پـه نړۍ کې تر ټولو ډېر کوچنی شعري فورم ګڼل کېږي. دا هغه ډول شعري فورم دی چې نه وزن لري، نه قافیه، نو ځکه یې لیکوال یـا شـاعر پـه پنځونه کې ازاد دی، څومره چې دا د وزن او قافیې لـه قیـده ازاد دی، همدومره یې لیکل سخت دي، ډېرې باریکۍ او ژورتیا ته اړتیا لري.

ادبپوهان وایي چې دوه زره کاله پخوا (هایکو) د (تانکا) په نامـه د (۳۱) څپیز شعر لومړنۍ برخه وه، دا هغه ډول شعر و چې د پوښتنې او ځواب

په بنه ویل کېده، وروسته بیا په (۱۶مه)میلادي پېړۍ کې لومړۍ اولس (۱۷) څپیزه برخه له دویمې (۱۴) څپیزې برخې جلا او د یو خپلواک فورم بنه یې خپله کړه. (د صدیق الله بدر لیکنه).

په جاپاني ژبه کې هایکو له ډېرو باریکیو ډکه ده. په همدې خاطر یو الماني ژباړن (مانفرد هاوسمان) په دې نظر دی چې له جاپانی پرته د نړۍ هېڅ ژبه ددې توان نه لري، چې په (۱۷) څپو کې همغه څه بیان کړي، چې یو جاپانی شاعر یې د هایکو په قالب کې بیانوي.

په جاپاني ژبه کې د هایکو هندسي جوړښت په دې ډول دی:

__________ پینځه څپې

__________ اوه څپې

__________ پینځه څپې

دا فورم ټولې درې مسرې لري، چې لومړۍ او درېیمه یې سره مساوي یانې هره یې پینځه پینځه څپې لري، خو دویمه یې بیا لږ اوږده چې ټولې اووه څپې لري. جاپاني هایکو بیا د پښتو لنډۍ په شان هم نه ده، چې شاعر یې معلوم نه دی او هر څوک چې د زړه درد او غم ولري، احساس پرې غلبه وکړي، لوستی وي که نا لوستی، ښځه وي که ځوان ټول یې ویلای شي. جاپاني هایکو ډېره باریکه او له خاصو نزاکتونو ډکه ده، یوازې ډېر مطرح شاعران یې ویلای شي، هغه شاعران چې په هایکو کې مهارت لري هغه څرګند دي.

(ماتسویو باشوریا) (۱۶۴۴-۱۶۹۴م) (بوسون) (۱۷۱۶-۱۷۸۳م) (ایسـا) (۱۷۶۴-۱۸۲۷م) او (شیکي) د (۱۸۶۷-۱۹۰۲م) نامتو هـایکو ویـونکي دي. د دوی د هر یوه، یوه یوه هایکو به هم راوړو:

## ماتسویوباشوریا:

زوړ ډنډ
د کانتړار منډه
د اوبو غړ

## بوسون:

د زاړه ډنډ غاړه
کانتړار زړېږي
رژېدلې پاڼې

## ایسا:

دا شبنمي نړۍ
بېشکه شبنمي ده
خو تراوسه...

## شیکي:

فکر کوم

دا مې وروستی کال

دا امبلوک خورم

هر څومره او په هر ډول چې جاپاني هایکو د نړۍ نـورو ژبـو تـه واړول شي، هغه خوند او هنر نه شي لېږدولای لکه په خپله، چې پـه اصـلي جاپاني ژبه کې خوندي دی. جاپاني او چیني ژبـه د هجـایي سیسـتم لرونکې دي. په دې ژبو کې څپه یا هجا خپله یوه مستقله مانا لري، خو په پښتو او ځینو نورو ژبو کې کېدی شي څپه کومه مستقله مانا ولري او یا یې ونه لري.

دا چې جاپاني هایکو څه وخت او څه ډول پښتو ته راغلې ده، تراوسـه پورې دقیق معلومات نه شته او نه هم په پښتو کې کـټ مـټ جاپـاني هایکو ته ورته شعرونه ډېره سابقه لري.

په پښتو کې ظفرخان ظفر (د ناوې لور) پـه نامـه د (هایکوګـانو) یـوه ټولګه لري. په دې ټولګه کې (۳۰۲) هایکوګانې راغلي، لومړی ځل پـه (۲۰۰۴) او بیا په (۲۰۰۸) م کال کې چاپ شوې ده.

یـه خدایـه پاکـه مـا پـه دې مـه نیسـه!
زه خـــو دا خلـــک خندومـــه ځکـــه
چې څـوک لـه غمـه خودکشـي ونـه کـړي.

❋ ❋ ❋

مـــا چــې وهـــل او ټکـــول وخـــوړل
ماتـــه ارمـــان ددې خبـــرې راغـــی
زه د جانـــان کـــوڅې تـــه ځلـــه تلمـــه.

تر ظفرخان ظفر وورسته ځوان لیکوال (محب الله سباوون) هم د خپلو هایکوګانو یوه ټولګه چاپ کړې ده. (( په چنارونو دې لمبې پورې شي)) دا ټولګه (۴۲۹) هایکوګانې لري.

مــوږ چــې کیســې د ماشــومتوب کــوو نــو
ســترګې یــې ډکــې شــي لــه اوښــکو وایــې
ځـــه ســـباوونه اکوبکـــو وکـــړو.

❋❋❋

ځــه چــې کــړو ماتــه د مــاحول خاموشــي
محبـــوبې زه بـــه هـــایکو ووایـــم
تــه خــو جینــۍ یــې ځــه ټپــه شــه پــه کــې

❋❋❋

اوبــه دې تېــل شــي نــور ددغــې چینــې
مــا او جانــان چــې ورلــه نــه راځــو نــو
پـــه چینـــارونو دې لمبـــې پـــورې شـــي.

پورتنۍ هایکوګانې چې موږ ګورو له جاپانې هغو سـره یـې درې غـټ توپیرونه دي: لومړی دا چې د پښتو هـایکو د دریـواړو مســرو د څپـو شمېر سره مساوي دی، دویم دا چې دا هایکو یو مقید وزن تعقیبوي او

دربېيم دا چې د پښتو ټولې هايکوګانې د څپو د شمېر له مخې يو شــان جوړښت نه لري. ياني د څپيز جوړښت له مخــې کېــدی شــي د يــوې هايکو د څپو شمېر يو ډول او د بلې بل ډول وي.

خو د هرې هايکو د خپلو مسرو د خپلمنځي څپو شمېر سره مســاوي دی.

پورتنۍ هايکوګانې ټولې (۱۱) څپيزې دي. درې واړه مسرې يې يو واحد وزن تعقيبوي.

خو نورې هايکوګانې هم شته چې د څپو د شمېر له مخې له دې تــوپير کوي.

د نجيب الله عامر يوه هايکو:

خدايـــــه يـــــو غــــــټ زړه راکـــــــړې
لکــــــه د غــــــره پــــــه شـــــــانته
خــــــو چـــــــې د کــــــانې نــــــه وي.

د څپو شمېر يې اووه څپې دی.

خو د پښتو د ټولو هايکوګانو هندسي جوړښت يو شان دی.

---

---

---

په دې ډول که موږ د شکل له پلوه وګورو پښتو هايکوګانې له جاپــاني هغو سره پوره توپير لري، داسې نه دي لکــه د غــزل، قطعــې، ربــاعي،

قصیدې او نورو په شان چې په پښتو او عربي کې یو ډول شکل لري. د محتوا له مخې هم پښتو هایکو ګانې اکثره مزاحیه رنګ لري، خو جاپاني هایکو د طنزیه محتوا ترڅنګ د طبیعت د ښکلا انځورونې یوه ښه هنداره ده.

## اخځونه


۱- پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار، پښتو ټپیزه د جاپاني هایکو ترخنګ، ۱۳۹۱ل کال.

۲- محبوب شاه محبوب، ټپیزه او ټکوریزه د ټپې معنویت ته ګټه رسوي که تاوان؟ ۱۳۹۱ل کال.

۳ - انورالحق، ټپه که د ولس مال دی نو ټپیزه د چا ده؟ ۱۳۹۱ل کال.

۴ - محمد حنیف حیران، د پښتو ټپیزې رامنځته کېدل، بریاوې او پر وړاندې یې اندېښنې او چیلنجونه، ۱۳۹۱ل کال.

۵ - صدیق الله بدر، هایکو، ۱۳۹۱ل کال.

۶ - عبدالله کمال، پښتو ادب ته هایکو له کوم لوري راغله؟ ۱۳۹۱ل کال.

۷ - محمدعزیز تحریک، د اخلاقي جرئت غوره سمبول، ۱۳۹۰ل کال.

۸ - محمد اسمعیل یون، د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۱۳۸۷ل کال.

۹ - محبوب شاه محبوب، ګورګورې، ۱۳۹۰ل کال.

# پښتو اوسنی شعر د حوادثو په مسیر کې

## (۱۳۸۱- ۱۳۹۱ل کلونه)

دا لیکنه پر (۱۳۹۱ل) کال د کابل پوهنتون د ژبــو او ادبیــاتو پــوهنځي پښتو څانګه کې د یوه علمي کنفرانس په بڼه اورول شوې ده.

پښتو شعر له امیر کروړه رانیولې بیا تر شیخ اسعد سوري، ښــکارندوی غوري، ملکیار غرشین، هوتک بابا، روښانیانو، د خوشال تر عصــر او ان تر دې معاصرې دورې پورې اکثره د حوادثو تر سیوري لاندې ټوکېدلی دی. کله حوادثو شعر ټوکولای او کله شعر حوادث زېږولي دي. په یــوه لنډه لیکنه کې نه شي کېدې د یوې ژبې د شعر د پنځونې ټول اساسي عوامل او حوادث بیان شي، له همدې کبله خپلــې اصــلي موضــوع او مهالیزې محدودې ته راځم او یوازې په نږدې یوه لسیزه (۱۳۸۱-۱۳۹۱) کې چې د سختو سیاسي او پوځي پېښو لسیزه ګڼل کېــږي، د پښــتو شعر، پرمختګ پرشاتګ، خوځون او بډاینې په باب بحث کوم:

په دې لیکنه کې دغه لاندې غټ ټکي بیانوم:

- د لیکوالو او شاعرانو د کاري ساحې بدلون
- سیاسي او پوځي حوادث او پښتو شعر
- د پښتو شعر شکل
- په پښتو شعر کې د شعریت او شعاریت معادله

## ۱- د شاعرانو د کاري ساحې بدلون:

(۱۳۸۱- ۱۳۹۱المریز) کلونه داسې لسیزه ده، چې افغاني ټولنه له سترو پېښو سره مخامخ ده. په دې پېښو کې یو شمېر مثبتې پېښې هم شته او منفي هغه هم. د مثبتو پېښو له جملې څخه یوه هم پــه افغانســتان کې د رسنیو ازادي او رســنیزه پرمختیــا ده. پــه دې لســیزه کــې پــه افغانستان کې په منځني ډول تر (۱۰۰۰) عنوانو زیاتې چاپي رســنۍ، د (۱۵۰) په شاوخوا کې غږیزې یا راډیویي رسنۍ، (۵۰) په شــاوخوا کــې لیدنۍ یا ټلوېزیوني رسنۍ او په سلګونو برېښناییزې یا انټرنېټي رسنۍ راټوکېدلي دي. ددې ګڼ شمېر رســنیو راټوکېدنــه د ټــولنې د ودې د طبیعي بهیر نتیجه نه وه، د تصــنعي ولســواکۍ، د بیــان د ازادۍ او د نړیوالې ټولنې د ناکنټروله اقتصادي مرستو نتیجه وه.

دې کار پر خپل ځای او وخت خپلې خپلې ګټې او زیانونه درلودل، چې د ټولو سپړنه یې ددې لیکنې له وسه وځي. د رسنیو دې چټکــې ودې یو زیات شمېر کدرونو ته اړتیا درلوده. څرنګه چې دا مهال د ژورنالیزم په ډګر کې دومره ګــڼ شــمېر کدرونــه موجــود نــه وو، نــو د رســنیو چلوونکي اړ وو له هغو اشخاصو څخه هــم ببړنــۍ ګټــه واخلــي چــې ژورنالیزم یې آر مسلک نه و، خو د ژورنالیزم له ساحې سره یې څه نــا څه کار درلود. لیکوال او شاعران چې په اسانۍ سره د ژورنالیزم چارې پرمخ وړلای شي، د نویو رسنیو ددې پراخې ساحې لپــاره تــر ټولــو وړ کسان وګڼل شول، اکثره لیکوال او شاعران په رسنیو کې پر سنیز کار بوخت شول. دې کار که له یوې خوا د رسنیو ماشین وڅرخوه، رســنۍ

يې ښې وځلولې، خو له بلې خوا دې کار د ليکوالو او شاعرانو تخليقي هڅو او پنځونو ته سخت زيان ورساوه.

شاعران اړ وو لکه د ماشين د يوې پرزې په شان کار وکړي او استهلاک شي، ټوله ورځ خپلو رسنيزو چارو ته پاملرنه وکړي او تخليقي کار ترې پاتې شي. که څه هم رسنيو په خپل ذات کې شعر و شاعرۍ او په ټوله کې د ادبياتو ځلونې او پراختيا ته ډېر کار وکړ، خو خپله هغه شاعر چې پخوا يوازې د شاعر په توګه مطرح و او د زياتې پنځونې وخت، ظرفيت او ځواک يې درلود، په رسنيزه برخه کې د هغه مصروفيت ددې سبب شو چې ټوله انرژي يې پر څو برخو ووېشل شي. نو په دې ډول شاعرانو ژورناليزم خپل ځان ته دويم مسلک په توګه غوره کړ. دې کار طبعاً پر پښتو شاعرۍ نامطلوب اغېز وښنده. لکه څنګه چې يو ژورناليست ته په ژورناليستي کار کې د ژوند د خړوب لپاره ښه زمينه برابره شوه، دغسې که شاعر ته هم يوازې په شاعرۍ کې دومره امکانات برابر شوي واى، نو شاعرانو به د شاعرۍ په برخه کې ډېر کار کړى واى.

## ۲- سياسي او پوځي حوادث او پښتو شعر:

په تېره يوه لسيزه کې د خوړو پېښو په اندول د ترخو حوادثو شمېر زيات وو. پښتنو شاعرانو، د کلاسيکې دورې په شان ارامه ذهني فضا نه لرله، د متواتر تفکر لپاره هم وخت ډېر نه وو. د شاعر په باب دا ويل کېږي چې پوټکى يې ډېر نازک دى، د چاپېريال پېښې پرې ډېر ژر تاثير کوي او چټک غبرګون ښيي. په پخوانيو دورو کې که څه هم شعر له محيطه متاثره کېده او له همدې پېښو راټوکېده، خو داسې شعرونه هم

په کې وو چې خپله د پښتو د ټوکېدو سبب کېدل. یــوه ســاده شــان بېلګه به یې ورکړو: که د میوند جګړه نه وای رامنځته شوې، نو د ملالۍ د خولې دا ټپه:

( که په میوند کې شهید نه شوې ــــ خدایږو لالیه بې ننګۍ تــه دې ساتینه) نه رامنځته کېدله، خو که د ملالۍ له خولې دا لنــډۍ نــه وای راوتلې، نو کېدی شول افغان ځوانان به په ولولــو نــه وای راغلــې او د میوند د برې پښته به زمونږ په نصیب شوې نــه وای، دلتــه ګــورو چــې پښتې یو شعر او شعر بیا بله بریمنه پښنه وزېږوله. کله چې مونږ تېر لس کلن بهیر ته ګورو، دلته پښتو شعرونه یا نظمونه ټوکولي، خــو شــعرونو بیا پښتې نه دي ټوکولي. هره هغــه سیاســي یــا پــوځي پښــه چــې افغانستان کې رامنځته شوې، پر لیکوالو او شاعرانو یــې خپــل اغېــز شیندلی دی. د جګړې په ډګر کې چــې کــوم اصــطلاحات او مفــاهیم کارول کېږي، هغو پښتو شعر یا نظــم تــه هــم لاره کــړې ده. الــوتکې، ټانکونه، ځانوژنه، بهرنیان، کورنیان، واسکټ، مــاین، فســاد، رشــوت، دیموکراسي او نور چې د اوسنۍ جګړې او د ټولنې د نــاخوالو بېلابېــل عناصر دي، پښتو نظم کې یې هم همدا ډول انعکاس موندلی دی:

د ځان وژنــې مــنظــره لــکه پــــتنګ خوښــوي

دغه سړی بې ننګه ژوند نه، مرګ د ننګ خوښوي.

(جلال امرخېل، اوس دې هم هره شېبه په خوب کې وینم)

هر بهرنی عنصر چې د افغانستان په جګړه کې په یو نه یو ډول ښکېل دی، شعر یا نظم ته یې هم په همغه ډول لاره کړې ده.

ای پـــه مشـــرق کـــې د مغـــرب واکـــداره
ســـتا نـــه دې پـــاک خـــدای(ج) دا زور واخلـــي
زمـــا د خـــاورو کـــور دې لولپـــه کـــړ
ســـتا دې دا ســـپینه مـــانۍ اور واخلـــي
یـــارانو دومـــره ځوربـــدلی یمـــه
والله کـــه داغ زړه مـــې ټکـــور واخلـــي
کـــه پاکســـتان همداســـې وي ملګـــرو!
جنـــګ بـــه ځلریشـــت کالـــه نـــور واخلـــي

❋❋❋

ماتـــه پـــه ســـر چـــورلکې مـــه ګرځـــوه
تـــا خـــو زمـــا پـــه وطـــن غـــم جـــوړ کـــړ
خپلـــو بنګلـــو تـــه رڼاګـــانې ګـــورې
زمـــا جـــونګړې تـــه دې بـــم جـــوړ کـــړ
تـــا راتـــه کومـــه فابریکـــه جـــوړه کـــړه
کـــوم یـــو ســـړک دې راتـــه ســـم جـــوړ کـــړ
خـــالي همـــدومره دې لـــه وســـه کېـــدل
چـــې غـــټ نفـــاق دې چـــم پـــه چـــم جـــوړ کـــړ.

(سمیع الله تړون، زه دې نور نوم په ژړه نه اخلمه)

لس کلنه دیموکراسي هم له هغو پېښو څخه ده چې پـه ناڅـاپي ډول افغانستان ته وارد شوه، دې ولسواکۍ خپـل طبیعـي پړاوونـه نـه دي

بشپړ کړي، ځکه خو لکه څنګه چې لازمه وه، په ټولنه کــې یــې خپــل ځای تثبیت نه شو کړای، شاعران او لیکوال هم ددې پېښې نقــش تــه متوجه شوي دي، په خپل کلام کې یې تر ټینګو نیوکو لاندې راوســتې ده:

بـــي دوه پنځـــوس راوســـتې ده بـــلا دموکراســـي ده
د چـــــور، د رشـــــوتونو او د غـــــلا دموکراســـــي ده
ولـــس لګیـــا پـــه خپلـــو لاســـو وژنـــي ولســـونه
دا چـــا ویـــل غلطـــه ده رښـــتیا دموکراســـي ده
فاشـــیزم، کمـــونیزم بـــل هـــر ایـــزم تـــرې کربـــان شـــه
دا مـــوړ تـــه یـــې راوړې چـــې کـــه دا دموکراســـي ده
قـــدم پـــه قـــدم بـــم دی او بمبـــار دی او بلـــوا ده
ســـبا دموکراســـي ده او بېګـــا دموکراســـي ده
بګـــرام، ګوانتانـــامو ابوغریـــب کـــې چـــې څـــه کېـــږي
تـــر دې زیاتـــه لیـــدلې چېـــرې چـــا دموکراســـي ده؟
زمـــا نالوســـتي خلـــک بـــه ضـــرور پـــرې نـــه پـــوهېږي
دا ځکـــه چـــې دا مېـــډ ایـــن امریکـــا دموکراســـي ده
څوک مات دربانډې نه کړي بېکسیاره دا ګنجـی ســرلړ
پـــام کـــوه اشـــنا ډېـــره رســـوا دموکراســـي ده.

په تېرو لسو کلونو کې د زور او زر په ملاتړ د ځینو اشخاصو تصنعي وده او واک ته رسېدل هم هغه پېښې دي، چې د ټولنې د عامو وګړو له خوا غندل شوي دي. د ترخو واقعیتونو په توګه دې حالاتو هم د شاعر کلام

ته لاره کړې. د هېواد تکړه شاعر پیرمحمد کاروان په خپل یو کلام کې په هېواد کې د دوو داسې شخصیتونو پرتلنه کړې چې په یوه کوڅه کې یوه بل ته مخامخ کورونه لـري، یـو د زر او زور خاونـد دی، واکــوال او ټوپکوال دی او بل نه زر لري نه زور، خو د علم د یـوې لـویې شــتمنۍ خاوند دی. شاعر دا دوه شخصیتونه یو بل سره پرتله کړي دي:

## دایمان غوندې سړی

دکابـــــل پـــــه خیرخانـــــه کـــــې
ځوتولیـــــــــه وســـــــــله وال دي
دلـــــوی کــــــورمخې تــــه ګرځـــــي
پـــــه باروتونبـــــــه ســـــــمبال دي

✵ ✵ ✵

پلنګـــــــي کــــــالي پــــــه غــــــاړه
ترینـــــه پلـــــي خلـــــک ریـــــږدي
ایلـــــه ســــترګې چـــــې کـــــړې کـــــړي
لکـــــه خلـــــي خلـــــک ریـــــږدي

✵ ✵ ✵

پـــه دې کـــورکې بـــه چـــې خـــدازده
ســــپین کـــه تـــور ســـړی اوســـېږي
بـــــس یـــــو دا راز یـــــې څرګنـــــددی
چـــــې د زورســـــــړی اوســــــېږي

✵ ✵ ✵

ودې کورتــــه کلــــه
پــــه ســــحرپه غرمــــه راشــــي
ســــره ځراغونــــه ښېښــــې تــــورې
دموټرو،رمــــه راشــــي

✵✵✵

ددې کورپــــه مقابــــل کــــې
یوســــاده غونــــدې کــــورګی دی
یوســــپین رېــــری پــــه کــــې اوســــي
دایمــــان غونــــدې ســــړی دی

✵✵✵

نــــه عســــکرنه یــــې پیــــرې شــــته
دبــــاروتوداورونو
خــــوکړی دي ترېنــــه تــــاوې
دزړګوټودفکرونــــو

✵✵✵

چارچاپېرورتــــه ولاړدي
کتابونــــه دېوالونــــه
پــــانې پــــانې پســــې ګــــوري
لــــري ســــل زره فکرونــــه

✵✵✵

کلـــه یوکتـــاب راواخلـــي
کلـــه بـــل کتـــاب راواخلـــي
کـــړي لـــه ګـــل ســـره خبـــرې
دبلـــب ل کتـــاب راواخلـــي

❊ ❊ ❊

دملالـــې ژبـــه وایـــي
پـــه خپوپـــه ســـېلابونو
دومـــره خـــوږدومره شـــیرین دی
لکـــه شـــرنګ دربـــابونو

❊ ❊ ❊

مخـــامخ چـــې ورتـــه کېنـــې
لکـــه نوردربانـــدې ووري
بـــس خبـــرې یـــې چـــې اورې
یوســـروردباندې ووري

❊ ❊ ❊

کـــه تـــرې یـــوه پوښـــتنه وکـــړې
نوبـــه لـــس ځوابـــه درکـــړي
کـــه تـــش ډاګ یـــې هـــم بـــه بـــاغ شـــي
دی بـــه ســـل ګلابـــه درکـــړي

❊ ❊ ❊

دزړه تنـــــــده پـــــــرې مــــــــاتیږې
داوبوغونـــــــدې یـــــــې رنــــــګ دی
پــــــاچهۍ تـــــرې صــــــدقه شـــــــه
لــــوی دروېـــش دی لـــوی ملنـــګ دی

✵✵✵

کـــــه بیمـــــاریې ورتـــــه راشــــــه
چــــې خبـــــرې یـــــې انـــــاردي
پــــه موســــکاکې یـــــې راتـــــولې
ســــــل جــــوپې دلالـــــه زاردي

✵✵✵

دېرکولپونــــــه یـــــــې دزړونـــــــــو
دقلــــــم پــــــه کیلـــــــي وا دي
ده پرقـــــام بانـــــــدې وېشـــــــلې
دکــــــــې لپـــــــې د رڼــــــا دي

✵✵✵

خدایـــــــه شـــــــکرخدایه شــــــکر
چـــې پښـــتون قـــام کـــې پیـــدادی
پــــــه رمـــــــوزدعلم پـــــوی دی
لــــوی عــــالم دی لـــوی بابـــادی

✵✵✵

علامـــــــه رشـــــــادیې نـــــــوم دی
پښـــــتون جــــم دی پښـــــتون جـــام دی
تـــــرې لـــــوګی اوســــپېلنی شــــم
دکـــــاروان شــــعرته الهــــام دی.

په دې شعر کې شاعر دوه بېلابېل متضاد شخصیتونه پرتله کړي دي. دا شخصیتونه زمونږ د ټولنې د پېښو زېږنده دي، خو شاعر په ډېـر هنـري ډول دا سره پرتله کړي دي.

په افغانستان کې د ګڼو دردوونکو پېښـو پـه مـنځ کـې د کنـدهار د پنجوايي پېښه خورا دردوونکې ده، دې پېښې د ګڼو افغانانو او بشرپالو نړیوالو احساسات راوپارول، دې پېښې د شاعرانو روح هم وټکـوه، پـه لسګونو شاعرانو دې پېښې ته شعرونه وویل او ددې ډله ییز درد انځور یې وکاږه. ددې پېښې په اړه له ویل شویو شعرونو څخه ځانګړې ټولګه جوړېږي. د یو شاعر د نظم یوه برخه:

وایه اسمانه!
چې په غېږه کې دې،
رانه رانه
د سپوږمۍ خواته
ستوري چا وخوړل؟
او د ګلاب
له بوټي چا

په توره شپه کې
پانه پانه د غوټۍ
له غېږې ژوند
په سرو لمبو سوځوه؟...
(د پوهنمل حبیب زي د شعر یوه برخه)

او دا هم ددې پېښې په اړه بل شعر:

اخ جوړه بچي مې نه شته د کور ستنه مې ده ړنګه
وئ په خپلو وینو لامبي اوس یې وړي زما له څنګه
زما بچي خو مکتبیان وو، د دوی څه وو ستا له جنګه؟
وئ جوړه بچي دې ومره، سره کاپره سره پرنګه!

***

ببګاه دواړو رانه غوښتی یو یو ګرم ټیکلی و
دا یو سره خوله هلکی و دا بل ګل غوندې زلمی و
اوس یې برېتې تاوولې پاچاهۍ ته جوړ سړی و
یو مې سر ته راته پروت و بل مې پښو ته لکه ورې و

***

چې په توره نیمه شپه کې سور لمبوه پر کاله راغی
لکه سپی چې لېونی شي غورېده پر کاله راغی
هره خوایي اورولې سرې ګولۍ له ماشینګنې
خوند یې اخیست زموږ له چیغو غړمبېده پر کاله راغی

***

مسلمانو خویندو ورونو! زما دا ځیــرې ګریــوان ګــورئ؟
دا نوکارې زما پــه مــخ کــې دا د وینــو نښــان ګــورئ؟
دا چې وینې وینې ژاړي، دا چې مرګ له خدایه غــواړي
دا زمــا د بچــو پــلار دی، دا مظلومــه انســان ګــورئ؟

❋ ❋ ❋

د ده مخکې تــوره شــپه کــې ، ســره کــاپر یــم لټــولې
پاچــا زمــوږه چیغــې واوره! یــو خنځیــر یــم لټــولې
پاچا سپي یې راشکارلي،پاچا ســر یــې راتــه لــوخ دی!
پاچا بند په بنــد یــې ټولــه، ښــه پــه ځیــر یــم لټــولې

❋ ❋ ❋

احمد شاه له خوبــه پاڅــه ، کنــداری مېرمنــه ژاړي!
ســره کـــاپر ده ځـــورولې یـــوه بلـــه غـــزا غـــواړي
احمدشاه د تا په پښو کې یوې ښــځې تنــدی ایښــی
چــا یــې وړې لوپټــه ده تــا نــه خپلــه حیــا غــواړي

❋ ❋ ❋

احمدشاه! د سرو کاپرو ستا په مینــه کــې غوبــل دی
هره شپه په کور را اوړي پــه ســرونو مــو اور بــل دی
احمدشاه! ککرې ډېرې ، خو د سر سړي مو نــه شــته
موږ به ټوله ورپســې شــو خــو کمــی د یــو اتــل دی

❋ ❋ ❋

احمدشاه! بېګــاه یــې بــوره د جــوړه زلمیــو مــور ده
دا کیسه څه نوې نــه ده، هــره ورځ پــه یــوه کــور ده
اخ پــه ویــر یــې کېښــولې د تنکــو ژړېکیــو خــور ده
بیا د غم تــوره لمنــه خــوره شــوې لــور پــه لــور ده

✵✵✵

احمد شــاه! کیســه مــې واوره زمــا زړه لــه ژونــده تــور دی
د کـــافرو پـــه لاســـونو ســـوځېدلی زمـــا کـــور دی
احمــد شــاه! پاچــا مــې ژاړي، ورتــه ګــوره دا یــې زور دی
اود دین په نوم چې جنګ کړي داهم خدای چې پــه زړه تــور دی

✵✵✵

لویه خدایه! زمونږ په ملک کې د دستار سړی پیــدا کــړه
چې مشال غوندې بلېږي یــو د کــار ســړی پیــدا کــړه!
ســفید پوشــه بــلا ورکــه ، ژړنــدوکي پاچــا واخلــه!
یو هوښیار سړي پیــدا کــړه د وقــار ســړي پیــدا کــړه!

(د عبدالهادي هادي شعر)

دې ډول ناڅاپي خونړیو د پښتو شعر لمن نیولې، څه چې په ټولنه کې تېرېږي هغه شعر ته هم لاره کوي. دا بل ازاد شعر هم وګورئ:

## بېړنی خبر

سره کربښه
ځل ځل
بل بل

ډېره لنډه
ډېره تېزه
را ښکاره شوه په سکرین
د تلوېزیون
ژر شوه تېره بیا راتېره
زړه مې ډب کړ
زړه مې ډیب کړ
زړه مې درز کړ
بیا به څوک وي؟
بیا به څوک؟
کوم وکیل
کوم یو ملک
کوم ښوونکی
کومه پېغله
کوم ماشوم د ښوونځي؟
یوځل بیا سکرین ته ځیر شوم
بیا الوتي
بیا پرهوتي
تورو خاورو کې شته‌پړي
لاس یې یو سر یې بل چېرته
ټولوي یې اندامونه
د وجود
سپینو کڅوړو کې پولیس
پولیس هم په وینو رنګ
ځمکه هم په وینو سره

هلته پورته
رېبل شوي دي
د شنو ونو شاخونه
نیم دي سوي لوغړن
هلته لرې په بر شاخ کې
دی راځوړند کمربند
د ښوونځي د کوم ماشوم
څاڅکی څاڅکی
وینه څاڅي
مور یې ژاړي ګرېوان څیرې
لګوي تندی پر ځمکه
سولوي خاورې په خولې
وایي څه شو زوی مې څه شو؟
ما خو نن سهار چوف کړی
له قرانه مې تبر کړی
ټول سورت مې پرې ویلی
نو بیا ولې
نو بیا ولې
خدایه خدایه
لویه خدایه!
یو سپین ږیری هلته لرې
د پولیس ترخنګ ولاړ دی
څوک یې نه پرېږدي صحنې ته
د لونګۍ شمله یې خوله کې
پیڅکه سترګو ته نیولې

داسې ژاړي داسې ژاړي
لکه چا يې چې سينه کې
د ځيګر ټوټه رېبلې
زه هم ګورم تلوېزيون ته
د سکرين پرمخ بيا ليک شول
شل ټپيان، شل وژل شوي
شل لا نور هم لا درک دي
يو سربول، يو سندرغاړی
يو وکيل د قوم سپين ږيری
يو ښوونکی
زده کوونکی
يوه مور
او يو تي روی هم شامل دي
په ټپيانو
او په مړو کې
ژر مې لاس کړ ټلېفون ته
يوه نومره مې کړه ډايله
وروره ځنګه يې خيريت دی؟
زه خو ښه يمه ته ښه يې؟
خو غږ نه راځي په فون کې
يو سورت دی، تلاوت دی
د قران د سورتونو
بيا مې زنګ
په زوره تېر کړ
وروره ځنګه يې خيرت دی؟

**بیا سورت دی**

**بیا سورت**

**تلاوت دی تلاوت**

**شېبه پس زنګ راغی**

**له کوره**

**یو اواز و غریو نیولی**

**یو فریاد و غریو نیولی**

**ما ویل څه دي؟**

**ژر ووایه؟**

**هغه هغه...**

**هغه بم چې نن چاودلی**

**ها ځانمرګی برید چې شوی**

**ها چې شل یې دي وژلي**

**ها چې شل یې ټپیان کړي**

**ها چې ته پرې نازېدلې**

**ها چې ته پرې ویاړېدلې**

**ها باتور او شمله ور**

**ها د قوم چې مخور**

**هغه ورور یې ستا وژلی**

**سترګو تور یې ستا وژلی.**

**د دا ډول پېښو په لړ کې د کونړ، شینوارو، شینډنډ، لغمان، هلمند، بره کې برک، ارزګان، پکتیا او په هېواد کې د نورو سیمو د حوادثو په بـاب ګڼ شمېر شعرونه ویل شوي، چې دلته د ټولو یادول ممکن نه دي.**

## ۳- د پښتو شعر شکل:

په تېره یوه لسیزه کې د فورم له مخې اکثره هغه شعري فورمونه کارول شوي چې په پښتو کې ډېر دود دي، خو په دې کې غزل او ازاد فورمونه زیات کارول شوي دي. سربېره پر معمولو پښتو شعري فورمونو نوي رامنځته شوي شعري فورمونه، لکه (هایکو، ټپیزه او ټکوریزه) هم کارول شوي، خو څومره چې پښتو غزل او ازاد شعر د تېرو لسو کلونو حوادثو ته ځانګړي شوي، نور فورمونه د دوی په اندول د پېښو زیات منعکسوونکي نه دي. په تېره یوه لسیزه کې په پښتو شعر کې محتوایي او شکلي پرمختګ د واړه لیدل کېږي، خو څرنګه چې د ټولنې په نورو برخو کې د نورو لسیزو په اندول زیات پرمختګ شوی دی. په پښتو شعر کې د ښکلاییز پرمختګ سرعت ډېر زیات نه دی. په تېرو لسو کلونو کې لږ تر لږه هر کال تر سلو عنوانو زیاتې شعري ټولګې چاپ شوي دي، د کمیت له مخې د نورو لسیزو په اندول دا یو ښه کمیت دی، خو اوسنیو تخنیکي امکاناتو ته په کتو سره بیا هم دا د ګاونډیو هېوادونو د شعري اثارو تر کمیت ډېره ټیټه کچه ده.

په دې لسیزه کې ازاد شعر ډېره وده کړې، علت یې کېدی شي دا وي چې ازاد شعر په خپله لمن کې د ډېرو پېښو د ځایونې ظرفیت لري؛ یوه پېښه له پیله تر پایه انځورولای شي؛ شاعر ددې امکان لري چې د پېښې د انځورونې ترپایه خپل کلام وغځوي، خو په غزل او نورو مقیدو فورمونو کې د شاعر پر وړاندې ثابت محدودیتونه دي.

په پښتو کې درې نوي شعري فورمونه، (ټپیزه، ټکوریزه او هایکو) هم په دې لسیزه کې ښه وځلېدل خو لا هم ددې درېواړو شعري فورمونو پوخوالي ته لا ډېره لاره پاتې ده.

## ۴- په پښتو شعر کې د شعریت او شعاریت معادله:

کله چې په ټولنه کې بحراني حالت واکمن وي، په شعر کې یې هم د بحران انعکاس حتمي دی. ځینې ادبپوهان په دې نظر دي چې ډېر ښه ادبیات د اختناق په مرحله کې راټوکېږي، ښه مثال یې روسي ادبیات ګڼي چې یوه زیاته برخه یې د اختناق په شرایطو کې راټوکېدلې ده، خو اختناق او بحران په تېره بیا پوځي او سیاسي بحران یو له بل سره توپیر لري. د اختناق یو ډول په ټولنه کې داسې یوه مرحله ده چې ټولنه کې عام نظم ټینګ وي، خو هغه اشخاص چې له حاکمیت سره سیاسي او فکري تضاد لري، هغوی ته خطر متوجه وي، په بحراني شرایطو کې د ټولنې ټول اقشار تر تهدید لاندې وي. افغانستان په تېرو نږدې درې نیمو لسیزو کې له همداسې یو بحران سره مخامخ دی. تېره یوه لسیزه هم یوه لویه سیاسي او پوځي بحراني لسیزه وه. ددې کړکېچ بېلابېل اړخونو، محتوا او تاثراتو شعر ته هم لاره کړې ده. ځینې شاعران په دې بریالي شوي چې د کرکجنو پېښو له انعکاس سره سره د خپل کلام هنري جوهر او شعریت خوندي وساتي. (شعریت) د شعر جوهر دی لکه (انسانیت) چې د انسان جوهر دی. یا (سړیتوب) د سړي. د عوامو په اصطلاح په یوه سړي کې چې سړیتوب نه وي، نور څه په کې نه پاتې کېږي. شعر کې هم چې شعریت نه وي او یا په کې کمزوری وي، شعار ورڅخه جوړېږي. شعار که څه هم مانیز بار لېږدوي، کېدی شي ښه او

مثبت پیغام هم ولري، خو بیا هم که هنریت یې کمزوری وي، خوند یې له منځه ځي؛ ډېر عمر نه شي کولای. شعاري کلام کېدی شي د عوامو په ذوق برابر وي، خلک یې خوښ هم کړي او خوند هم تـرې واخلـي. ددې خوند علت به دا وي چې شعاري کلام سـاده او تـر یـوه حـده د عوامو په ژبه دی، بیان یې هم مستقیم دی او د هنر لـه کـوم شـفاف فلتره نه تېرېږي. په تېرو لسو کلونو کې په پښتو کې ډېر داسې نظمونه ویل شوي چې شعاري برخه یې تر شعریت یا هنري برخې درنه ده. پـه تېرو څو ببلګو کې هم موږ د شعاریت ځرکونـه ګـورو، پـه تېـره هغـه شعرونه یا نظمونه چې د کومو مشخصو پېښو یا حالاتو انځورنه کـوي، په هغو کې د شعاریت تومنه زیاته ده. شعاریت نه یوازې په ازاد نظـم او غزل کې محسوس دی، بلکې د پښتو د ولسي شاعرۍ نورو فورمونو ته یې هم لاره کړې ده. لنډۍ چې د پښتو ولسي ادب یـو خـورا قیمتـي غمی دی، په تېرو لسو کلونو کې ځینې داسې لنـډۍ رامنځتـه شـوي چې د شعار او تصنع ځانګړتیاوې په کې په ځرګند ډول ښکاري. دا څو بېلګې به وګورو:

د مسینجر اواز دې خپ دی
یاره د سکایپ له لارې نیسه تماسونه
بیا شل اوریز مېچونه پیل شول
یار مې نوروز دی سپېنزان پرې لوبومه
جانانه صبر دې لږ ډېر کړه
په سرک ماین دی زه په پوله ځمه

بیا به د چا کور کې غوغا وي
په هوا ګرځي د ناټو جنګي جازونه
هلیکوپټر په شان کړه شوه
د زړه په سر یې په راکټو وویشتمه
طالب بګرام کې خېټه وکړه
د اوباما لالا قورمې خوند ورکوینه
ځانمرګی برید راباندې وکه
داسې خو مه وایه چې خوله نه درکومه
جانانه سمه امریکا یې
هم ملامت یې هم زارۍ درته کومه
زما کافر کافر جانانه
درته طالب طالب کېدم شهید دې کړمه
جانانه سمه القاعده یې
زه امریکایم تل زارۍ درته کومه.

په دې لنډیو کې که څه هم د ټولنې عیني واقعیتونه شته، په تېره هغه څه چې په دې تېره یوه لسیزه کې عملاً پېښ شوي دي. پر عوامــو بــه هم تر یوه حده ښې ولګي، خو هغه خوند او لذت چې د پښتو په اصلي ولسي لنډیو کې شته، په دې کې نه شته، دا یو څو ټپیــزې بــه هــم د ببلګې په توګه یادې کړو.

ښځه مېړه ده مېړه ښځه
له مانه واوره غرب ته مه ځه
درته په لړ خبر وای وځه

دا ځي په بره ته په کوزه
که څه دې وویلې پولیس ته زنګ وهینه
❋❋❋

سهار کې وغواړي ښښنه
بېګاه ته بیا وکړي وژنه
د مرګ مو لوړه شوه سلنه
له دوی به څوک وکړي پوښتنه
چارواکي اوس د ځان په حال ژړا کوینه
❋❋❋
دیموکراسۍ کړله شاخداره
نه ځي مېږه سره په لاره
درناوی ورک شو خدای لپاره
ښځه مېږه باندې واکداره
د بچو حال به یې اینده کې څنګه وینه

د مفاهیمو مستقیمه او بربنډه افاده د شعر شعریت کمزوری کوي. د پښتو پر زیات شمېر نظمونو اوس د شعاریت سیوری خور دی. که په مجموعي ډول یې وارزو، په تېرو لسو کلونو کې د شعاري نظمونو کچه خورا زیاته شوې ده. په ادبي غونډو، مشاعرو او نورو ادبي ناستو کې چې کله هم د شعر خبره مطرح کېږي او یا شعر لوستل کېږي، ناظمان

یا شاعران کوښښ کوي، داسې شعر یا نظم ووايي چې د ناستو خلکـو پر مزاج برابر وي، هغوی يې مستقيماً د مانا تل ته کښته شي او ژر پرې پوه شي. شاعر د خپل موقتي تشويق په خــاطر د شــعر اوږده عمــر او اصلي جوهر ته ډېره پاملرنه نه کوي. نو په دې خــاطر يــو شــمېر هغــه شعرونه یا نظمونه چې په مشاعرو کې لوستل کېږي او یا هم د انټرنېټ په څپو خپرېږي، د شعري جوهر مالګه يې کمه وي. په پښتو شعر کــې شعاريت له ډېره وخته دود دی. تېره یوه لسيزه هم ترې مســتثنی نــه ده. د کميت له مخې که يې وارزو، په تېره یوه لسيزه کې ټول نظمونــه چې د شعر په نامه ټولنې ته وړاندې شوي دي، په سلو کې نږدې شپېته يې شعاري تومنه لري. دلته په یوه ليکنه کې نه شــي کېــدلای د ټولــو بېلګې وړاندې کړو. که د پښتو ادبياتو کره کتونکي په دې برخــه کــې دقيق کار وکړي، کېدی شي د شعاريت کچه کمــه او د شــعريت هغــه پياوړې شي.

اخځونه:

۱- د پیرمحمد کاروان یو شعر

۲-د عبدالهادي هادي یو شعر

۳-د سميع الله تړون یو شعر

۴- د محمد اسمعيل یون یو شعر

۵-د عبدالمالک بېکسيار یو شعر

۶- د طلاباز حبيبزي یو شعر

۷- د اسمعيل اړم څو ټپيزې

# د یو ښه لیدلوري لپاره یوه ښه هڅه

**دا لیکنه ما د ښاغلي (نور) پر یو علمي څېړنیز اثر (د نړیوالو اړیکو، اند او انګېرنې) باندې پر (۱۳۹۲ل) کال کړې وه.**

(د نړیوالو اړیکو، اند او انګېرنې) د ښاغلي (نورولي خان نور) یو څېړنیز او شننیز اثر دی، د کتاب پر لومړي مخ لیکل شوي: ((د نړۍ د




تېرو او راروانو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي او امنیتي چارو، اندونو او بنسټونو د شننو ټولګه)). که همدا یوه جمله هم څوک ولولي، نو د کتاب د منځپانګې پر ارزښت پوهېږي، همدا جمله ده چې سړی د کتاب د متن لوستو ته راکاږي، کله چې څوک د کتاب نیولیک ته متوجه شي، نو تلوسه یې نوره هم زیاته شي ځکه چې هر سرلیک یې خورا مهم دی، په تېره بیا هغو اشخاصو ته چې د سیاست، اقتصاد او نړیوالو اړیکو له صنف سره لېوالتیا لري. ښاغلي (نورولي خان نور) د یوه عملي او نظري سیاستوال او سیاستپوه په توګه د عملي تجرلو له

یوه مسیر او بهیر څخه تېر شوی او بیا یې دا اثر لیکلی دی. دی هم لیکوال دی، هم سیاستوال، هم سیاستپوه دی او هم ادبپوه، هم یې کورنۍ له سیاست سره تړلې پاتې شوې او هم ده په خپله. د خپل هېواد د سیاسي استازي په توګه خپله دنده پر مخ بیولې او هم یې د نورو سیاستونو ته پام کړی، هم یې له نورو هېوادونو سره د خپل هېواد سیاسي اړیکي ټینګ کړي او هم یې د هغوی روابط له خپل هېواد سره ټینګ کړي، د روابطو دا عملي پالل څه اسانه خبره نه ده. خو (نور صیب) سره د عملي او نظري تجربو یوه کارنده وسیله وه، په همدې وسیلې یې دا دی داسې یو ښکلی ارزښتمن اثرو لیکه چې تر اوسه یې په پښتو ژبه کې ډېر کم ساری لیدل کېږي. دا اثر د خپلو پراخو او هر اړخیزو معلوماتو له امله ددې ارزښت لري چې د حقوقو او سیاسي علومو او یا هم د بشري علومو په نورو پوهنځیو کې د یوه درسي او مرستندوی درسي اثر په توګه تدریس شي. د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکو ته هم خورا مهم دی، ځکه هغوی په خپل عملي سیاسي ژوندانه او دندو کې له همدې مسیره تېرېږي.

په پښتو ژبه د ادبي اثارو شمېر خورا زیات دی، کله کله پښتنو شاعرانو او لیکوالو د عامو لوستونکو غرور زیات کړی او د علم د عرضې کچه یې ورته راټیټه کړې ده، د علمي اثارو په اندول د ادبي او ذوقي اثارو زیاتوالی پر ښکاره ډول علمي اثارو ته زموږ اړتیا په ډاګه کوي، موږ باید له هرې لارې چې وي په خپله ژبه کې علمي اثار زیات کړو، تر هغه چې ژبه علمي، اقتصادي، سیاسي، مذهبي او دفتري ارزښت پیدا نه کړي، په ننواتو او زور نه ژبه پر چا زده کولای شو او نه پرې خپلې اړتیاوې پوره کولای شو، د ګران ورور (نور) دې خدای خونه له غنمو ډکه او په

نور دې روښانه لري چې زموږ د ټولنې یوې اساسي اړتیا ته یې پام وکړ او ددې اثر په لیکول یې یو، د علمي خدمت په برخه کې یو ستر ګـام اوچت کړ، زه نه غواړمه ددې اثر په باب ډېر څه ووایم، ځکه اثـر خپلـه ستاسو په لاس کې دی، خو له ښاغلي نور څخه مننه هـم پـر ځـان او ټولو هېوادوالو دده حق ګڼم، خدای (ج) دې دی اباد او سوکال لري، له (نوره) د (نور) د نور (نور) د خوربدو په تمه.

د نور د لازیاتې رڼایي او نورانیتوب په هیله

په ډېر درنښت

پوهنوال محمد اسمعیل یون

# د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري

دا لیکنه پر (۱۳۹۴ل) د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د یوه علمي کنفرانس لپاره لیکل شوې وه او په پښتو څانګه کې د استادانو او محصلینو په یوه غونډه کې اورول شوې ده.

استاد الفت د خپلې لیکوالۍ په پنځوس کلن مثمر ژوندانه کې موږ تــه ډېره ستره ادبي پانګه ډالۍ کړې ده. دا پانګه اوس د استاد الفت میراث ګڼل کېږي. دا میراث په منظومه او منثوره بڼه تر موږه رارســېدلی دی. زه دلته غواړم د استاد الفت همدې منثور معنوي میراث ته لږ تم شم او په دې کې بیا هم هغې برخې ته چې د منثور هنري نثر پــه بڼــه ډالــۍ شوې ده. په دې برخه کې بیا هم زه د استاد الفــت د هنــري نثــر پــر شکلي خواوو بحث نه کوم، غواړم دده په نثر په تېره بیا په هنــري نثــر کې د هغه پر فکري لیدلورو او فکري زاویو لنډه رڼا واچوم.
دې کې هېڅ شک نه شته چې استاد الفت د خپل وخت یو لوی مفکــر انسان و. الفت داسې یو اندیال شخص و چې د خپل فکر د بیان لپــاره یې د نظم او نثر د بېلابېلو فورمونو وسیلې درلودلې، الفت د خپل فکــر د بیان لپاره د نثر او نظم له وسیلو څخه په ښه ډول ګټه پورته کړه، په

تېره بيا له نثر څخه او د خپل چاپېريال هره ناخواله يې په کې په ښه ډول منعکس کړه، د الفت اثار په حقيقت کې د خپلې ټولنې داسې يوه رڼه هنداره ده، که موږ غواړو د خپلې ټولنې تصويرونه په ښه ډول وګورو، نو دې هنداري ته بايد مخامخ شو. استاد محمد صديق روهي وايي: ((لکه څنګه چې ليو تولستوی ته د روسيې د انقلاب هنداره ويل کېږي هماغسې الفت د خپل ماحول د ټولنيزو جريانونو او مسلطو کلتوري ارزښتونو منعکسولو کې ستر نقش لوبولای دی.))[1] نو که څوک غواړي افغاني ټولنه په هر اړخيز ډول مطالعه کړي، د استاد الفت اثار دې ولولي.

د استاد الفت اثار نه يوازې د افغاني ټولنې هنداري دي، بلکې د ټول بشر د هيلو، ارزښتونو، ناخوالو او غوښتنو منعکسوونکي هم دي. د الفت فکر د زمان، مکان او محدودې جغرافيې تر بريدونو اوړي او د ټولې انساني نړۍ د هيلو انځورګري کوي. زه نه غواړم خپلې خبرې پسې وغځوم. اوس راځم د استاد فکري ليدلورو ته. لکه څنګه چې مې دمخه نغوته وکړه، د استاد الفت د فکر وړانګې د بشري ژوند د هر ډګر تل ته وررسېدلي، خو زه دلته غواړم د استاد الفت د فکر يوازې شلو بېلابېلو ليدلورو ته نغوته وکړم:

**۱- قانون او قانونيت:** استاد الفت د يوې ټولنې د ژغورنې، پرمختګ او سوکالۍ تر ټولو غوره لاره دا ګڼي، چې په ټولنه کې قانون پلی او ټولنه قانوني مسير ته ورداخله شي، دی قانون تر ټولو ((ښه حاکم بولي)) چې کولای شي د ټولنې د هر رنځ لپاره د درملنې سبب شي. دی قانون داسې يو حاکم ګڼي چې: ((هغه نه نفس لري، نه نفسي

خواهشات، نه يې په زړه کې ډار شته، نه طمع، نه له موقوفۍ وېرېـږي، نه د ترفیع پروا لري. نه رشوت اخلي، نه تنخوا. نه له چا سره عناد لري، نه د چا مراعات کوي، نه د چا مخ ګوري، نه د چا څټ، نه زورور پېژني، نه غریب، نه يې څوک خپل دي او نه پردي، نه سپارش مني، نه تملـق اوري، نه چاته خاندي، نه چاته وچولی ترویوي. پوهېږئ دا حاکم څوک دی، هوا قانون او عدالت))[٣] اوس چې زموږ ټولنــه د لاقانونیــت او بــې عدالتۍ په منګولو کې راګیر ده، نو که غواړو درملنه يې وکړو، د اســتاد الفت تر پورتنۍ فکري نسخې ورته بله ښه نسخه نه شو پیداکولای.

**٢- افراط او تفریط:** افراط او تفریط لکه څنګه چې زموږ په دین کې مردود دي، استاد الفت د ټولنې داسې یوه ناروغي ګڼلې، چې زيان يې دوه برابره دی. که په یوه ټولنه کې دا دوه مرضــونه حــاکم وي، نــو ټولنه به د یوه تن پرځای دوه تنه تلفات او ضایعات ورکوي. استاد الفت دا پورته محتوا په ډېره ښه بڼه په یوه واړه نثر (دوه جنازې) کــې راوړې ده، دی وايي: (( په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نــه دوه جنازې راووتلې، هغه یوه د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون پــه سبب مړ شوی و، د هغه جنازه څلورو تنو په اوږه را اخیســتې وه، ددې بل په جنازې پسې بې حسابه لوی او واړه موټرونه روان وو.

هغه یوه وینه نه درلوده، ځکه مړ شو، ددغه بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه، ځکه يې ژوند ونه شو کړای.

دوی دواړه مړه شول، مګر مرګونه يې یو راز نه وو او مرضونه بېل وو، یو د نورو وینې هم څکلې وې او دېته محتــاج و، چــې ډاکتــران یــې لــه وجوده وینه وباسي، بل ته چا خپله وینه نه وه پرېښې او بې وینې و.

یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو.))[۳]
الفت، افراط او تفریط په ټولنه کې یوه داسې ټولنیزه ناروغي بللې، چې ثبات له منځه وړي، عدالت او اعتدال تر پښو لاندې کېږي او د زیـانونو کچه یې دوه ځله زیاتېږي.
**۳- فکري ازادي:** استاد الفت د ټولنې لـه مرضـونو او تنګنظریـو څخه د خلاصون بله غوره لار دا ګڼي، چې په ټولنه کې فکـر او انتقـاد ازاد شي او خلک په ازاده توګه خپل نظـر او فکـر څرګنـد کـړي، دی انتقادي فکر او نظر یوه (بېګناه بندي)) ګڼي چې په راخلاصـون یـې د ټولنې ډېر مرضونه تداوي کېدلای او ډېر ابهامات روښانېدلای شي. دی په ((بې ګناه بندي)) کې وایي: (( پرېږدئ! پرېږدئ دا بـې ګنـاه بنـدي پرېږدئ.
مه وېرېږئ د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته.
فساد او شرارت له ده څخه نه پیداکېږي.
د ده بندي کول لویه ګناه ده.
دی هغه یوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کـې لوېـدلی دی.
که دی له زندانه راوالوزي ستاسې آینده سنجولی شـي او ستاسـې د بلې ورځې غم خوړلی شي.
پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږئ.
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېرښه شان وکړي.
ستاسې وړي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو څاګانو کې مه غورځوئ.

په زندانونوکې یې مه اچوئ!
پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحیح تعبیرونه وکړي.
ډېرې سختې، مبهمې او مجملې غوټې به پرانیزي.
دی د راتلونکي حال پیشبیني کولی شي.
د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.
د جوي او فلکي اوضاعو اقتضارات ورته معلوم دي.
پرېږدئ پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زیاتېږي.
وطن رڼا کېږي او ړانده بینا کېږي.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي.
دی ډېر پېچومي اوارولی شي.
دی ډېرې کړې سمولی او ډېر مشکلات حل کولی شي.
ما خوب لیدلی، چې دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني.
ښه فکروکړئ.
دا بندي څوک دی.
پس له ډېره فکره وایم
فکر دی فکر!))(۴)

**۴- مضر احتیاط او مضر مصلحت:** په عام ډول که څه هم په هر کار کې احتیاط او دقت ښه شی دی، خو هر هغه څه چې تر خپل ټاکلي برید او حده واوړي، پر افراط او تفریط بدلېږي او لکه څرنګه چې دمخه مو اشاره وکړه، د استاد الفت له نظره د افراط او تفریط پایلې

ډېرې ناوړه دي. دغسې په یوه کار کې تر حده زیات احتیاط هم د ګټې پرځای تاوان زیاتوي او د یوه ضروري او ممکن کار د ناممکنۍ سبب ګرځي. استاد الفت د ((مضر احتیاط)) په نامه یوه نثر کې د ناوړه احتیاط عواقب ډېر ښه تشریح کوي او وايي: ((که رښتیا ووایم مونږ ډېرې هوښیارۍ او ډېرو احتیاطونو برباد کړي یو. یو چا زمونږ په حق کې ویلي وو، دا خلک له ضرورته زیات هوښیار او محتاط دي.

راځئ چې په دې خبره کې فکر وکړو.

هوښیاري، چې له اندازې نه زیاته شي اوهام قوي کوي.

احتیاط، چې ډېر زیات شي لاسونه او پښې شلوي.

شمی اکا زمونږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا به چې کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه، چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق را نه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي، نو حریق به واقع او کور به مې وسوزي.

د ده دا عدت و، چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه.

هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېر لږ وه.

دغه شان هوښیاران او د احتیاط خاوندان زمونږ په مملکت کې زښت ډېر دي او د نوي تهذیب او تمدن قبلول له برق او موټر نه هم زیات مضر بولي.))[۵]

د استاد الفت دده په نظر د داسې احتیاط کارو مخه نیول په کار دي.

**۵- مینه، عواطف او زور:** استاد الفت په خپل یو فکري لیدلوري کې مینه، عواطف او زور سره پرتله کوي. الفت په دې نظر دی چې مینه، عواطف او ښکلا هغه پټ قوتونه دي چې د زور اسباب، وسایل او د یو انسان زیات فزیکي طاقت یې هم تاب نه لري او د هغو پر وړاندې د تعظیم سرونه ټیټوي. استاد الفت همدا مینه، ښکلا او عاطفه د انساني نړۍ د سرکښه هوسونو د مهارولو وسیله ګڼي او وایي؛ د مینې په برکت په کور کې کمزوری کوچنی تر زورور مشره زیات قوت لري، هغه د ((قوي او ضعیف)) په نثر کې دې موضوع ته اشاره کوي او وایي: (( د دنیا دود او دستور خو دادی چې زورور به کمزروی وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده، هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپېړو وهي او خاندي، یعنې له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی.

ما ته دغه کورنی دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدایه غواړم، چې دا رواج عام شي. پدې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کورنۍ کې کوچنیان په لویانو زورور او زړور دي.

د ګیرا او ترسا په کاله کې هم د کوچینانو زور چلېږي او جوړ د ناجوړه په مخکې منډې وهي، مګر چې له کورونو نه د باندې وګورو، نو بیا قوي پرضعیف مسلط دی. د دنیا طبیعي قانون همدغه دی، چې غټان او لویان به په وړو او بیوزلو سوک او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نلري.

د دغه ظالمانه قانون د ماتولو دپاره، چې پاک خدای څه شی پیدا کړی هغه مینه او عاطفه ده.

د مینې او محبت په نړۍ کې ضعیف او کوچنی د لوی او قوي تر څپېړو لاندې نه دی، بلکې کوچنیان په لویانو حکومت کوي او د وړو پادشاهي ده.

مونږ ښځه عاجزه بولو، مګر مینې او محبت ډېر زورور او پیاوړي د دوی دخوښې او رضا تابع کړي دي.

څنګه چې په زړه زمانه کې دېوان د ښاپېریو تابع وو اوس هم د قوت او قدرت خاوندان د دغه ضعیف او لطیف جنس په مقابل کې ډېر ضـعیف معلومېږي.

که عشق او مینه په منځ کې نه وي، نو د دیو او ښاپېرۍ زور هېڅکلـه برابر نه دی او یو ماشوم هېڅ وخت د سپین ږیرو په ږیره لـوبې نشـي کولای او نه د مشرانو پر اوږو سپریدلی شي. یوه ورځ یو ماشوم یو غټ سړی له لمنې ټینګ نیولی و او کاله ته یې په زوره بیوه هغه خپله لمن د ده له لاسه خلاصه نکړی شوه که څه هم د ده زور او د هغه زور برابـر نه و د ماشوم مینې او محبت د ماشوم په پنجوکې دغه قوت ایښـی و، چې یو لوی سړی یې ځان پسـې راښـکوده او هغـه هـم ځـان نشـو خلاصولی.

که زما فکر صحیح وي، نو قوت او قدرت هماغه د پخوا زمانې دیـو دی او مینه هماغه ښاپېرۍ ده، چې دیوان یې د فرمان لاندې وو.

که د مینې او عاطفې ماشوم د هر څنګه لوی سـړي ګرېـوان تـه لاس واچوي یا یې لمن ټینګه ونیسي څوک ترینه ځـان نشـي خلاصـولی، ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زورور دی.

زه مینه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې، ځکه ماشومان بولم چـې زور او قوت ډېر پخوا پیدا شوي دي او انساني عواطف، انساني رحـم او

شفقت وروسته پیداشول، یعنې هماغه شان چې فرعون له موسی نــه دمخه دنیا ته راغی، حیواني غرایز هم له انساني عواطفو نه ډېر پخواني دي او د عمر په لحاظ عواطفو تــه کوچنیــان ویلــی شــو، مګــر دغــو کوچینانو ته پاک خدای هغه قوت ورکړی دی، چې فرعونیان ترینه پــه خوب کې هم وېرېږي او بد بد خوبونهویني.

که څوک په دنیا کې د صلح او سلام غوښتونکي دي او غواړي، چې د ناروا او ظلم مخه ونیسي، نو یوه داسې اختراع په کار ده، چې د عشــق او مینې له عنصر نه پکې کار واخیستل شي.

دا اختراع د دماغ کار نه دی د زړه کار دی او د زړه توجه تــه ضــرورت لري. پدې باب کې ساینس او تخنیک ته رجوع نه ده په کار، دا افتخــار که هر وخت دنیا ته حاصلیږي، نو د شعر او ادب په لمن کې به وي او د زړونو په مملکت کې به پیدا شي.)))(۶)

استاد الفت د (فاتح) په نامه په یوه بل نثر کې د مینې، ښکلا او عاطفې قوت داسې څرګندوي: ((سکندر له ډېر قوت او ډېرو لښکرو سره ښــار ته راغی، د ښار له خلکو سره یې څو ځله زورور جنګونه وکړه.

له دواړو خواوو نه ډېر خلک ووژل شوه، ډېرې وینې تویې شوې، ډېــرې ککرۍ تر پښو لاندې شوې، وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو پښې کېښودې او د لوی فاتح په حیث ښار ته ننوت.

دی ډېر په قهر و. ده غوښتل چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونشو کړی، ځکه چې په ښار کې یو پټ قوت موجــود و، چې ده ورسره مقابله نشوه کولای. دی چې ښار ته ننوت په یوې ډېرې ښکلې پېغله یې سترګې ونښتې او په یو ځل لیدو یې زړه بایلود.

ځوک، چې بې زړه شي هغه بیا جنګ او جګړه نشي کولی، ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې ته وسپاره.
دغه لوی فاتح، چې د عشق او مینې په پنجو کې ګېر شو بل راز شـو او د خپلې معشوقې د خوښې دپاره یې د ښار د خلکـو خـدمت تـه مـلا وتړله.
دغه وخت دا معلومه شوه، چې دی فاتح نه و فاتح بل ځوک و. دی پـه دې نه پوهیده، چې په ډېر زور او قوت خپل ځان یوه قوت او قدرت تـه سپاري، چې له سلطان او شهنشاه نه د خلکو خدمتګار جوړوي.
په رښتیا، چې د عشق مقام ته رسېدل هم څه اسانه کـار نـه دی او د ښکلا په دربار کې پادشاهي هم په تعظیم او احترام سرټیټوي.
هلته محمود د ایاز تابع دی او سکندر هم په یوه نظر بـل راز کېـږي او قهر و غضب خپل ځای مینې او محبت ته پرېږدي.))[۷]

**۶- مشرتوب:** سیاسي، ټولنیز او مذهبي مشـرتوب چـې د یـوې ټولنې د ثبات، پرمختګ، انسجام او سوکالۍ لپاره خـورا ضـروري دی، استاد الفت یې د انتخاب لپاره غوره معیار د شخص کیفیت ګڼي. استاد الفت وایي هغه ځوک باید د یوې ټولنې د مشـرتابه مسـولیت پرغـاړه واخلي چې تر هغه بل یې کیفیت او ظرفیت زیات وي، دی باید دمخـه او هغه نور باید ورپسې وي. د الفت په نظر که په ټولنه کـې د مشـرتابه لپاره باکفایته اشخاص دمخه وي، نو ټولنه ځو ځلـه زیـات پرمختـګ کولای شي او که وړ اشخاص شاته او کم کفایته او یا هـم بـې کفایتـه اشخاص دمخه وي، نو ځو ځله د ټولنې د شاتګ امکـان شـته. اسـتاد الفت خپل دا تعبیر، تحلیل او ارزونه د ریاضي په عددونو کـې توضـیح

کوي. هغه د ((حسابي خبرې)) او ((استاد وويـل)) پـه نثرونـو کـې د رياضي د عددونو د موقعيت او کيفيت له مخې په ټولنه کې د مشرتوب دريځ ټاکي، دی د رياضي د استاد له خولې وايي: ((تاسې بايد هر وخت له ځان سره حساب وکړئ او حسابي خلک اوسئ!

د ده يو حسابي درس دا و: که يو عدد له بل سره داسې يو ځـای کـړو، چې يو پاس او بل لاندې وي لکه ۲ ۲ نو څلور(۴) ترينـه جـوړېږي او د دواړو وجود هم په خپل حال نه پاتې کېږي، که دواړه څنګ په څنـګ يو ځای کړو لکه:۲۲ دوه ويشت ورنه جـوړېږي او دوه شـلې کېـږي. د دواړو عددونو شکلونه او صورتونه هم په خپل حال پاتې کېږي، ځکـه چې دلته د ملګرتيا او وروروليۍ راز پټ دی او په هغه بل صـورت کـې تفوق، تسلط او محوه کول معلومېږي.

ده ويل: که دوه مساوي عددونه لکه: (۱-۱) (۲-۲ ) (۳-۳) هريو له بل نـه وړاندې يا وروسته کړو نتيجه يې يوه ده، مګر په دوه متفاوتو عـددونو کې تقدم او تاخير ډېر زيات فرق راولي او په مقـدار کـې ډېـر تفـاوت راځي. که مونږ(يو) او (نه) (يو) ځای کوو او داسې يې ليکو (۱۹) نـونس کېـږي، مګـر شـل کېـږي نـه، کـه همدغـه دوه عددونـه داسـې وليکو(۹۱)خبره سلوته نږدې کېږي او ډېر زياتوالی پکې راځي.))

((همدغه سبب دی چې په جوامعو کې هغه څوک دمخـه کېـږي چـې قدر او مقدار يې له هغه بل نه زيات وي او د ده په مخکې تـوب بانـدې دجامعې قدر او قيمت ډېر لوړېږي، مونږ بايد په دې سُر پوه شو او د هر چا استعداد معيار، مبلغ او مقدار ته وګورو.))[۸]

**۷- فکر پالنه:** لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه اســتاد الفــت (فکر) او د (فکر ازادي) د ټولنې د ژغورنې ښه لاره ګڼي، خو تــر هغــه پورې چې د فکر او مفکر لپاره د ژوند بستر برابر نه شي، نــه فکــر وده کولای او نه مفکر راټوکېدلی شي. له همدې کبله استاد الفــت د فکــر روزونکي او فکر پالونکي رول مهم ګڼي او ان تر مفکره یې هــم درجــه لوړه ګڼي. استاد الفت د فکر پالونکي ته خطاب کوي او وایي: ((دلتــه د فکر او قلم خاوندان ډېر دي، مګر د فکر او قلــم د ازادۍ علمبــرداران ډېر لږ دي، ځکه ستا مقام له نورو نه هسک ګڼم، که څوک تاته د فکــر خاوند ونه وایي، زه ورسره کار نه لرم، مګر که د فکر خاونــد تــا خپــل حقدار ونه ګڼي، زه به ورته بې انصافه ووایم.
هغه څوک چې په وطن کې هېڅ ونه لري او د وطن د ازادۍ لپــاره ســر ورکوي په وطن باندې حق لري. همدغه وجه ده چې د فکــر پــالونکي مقام له فکر لرونکي څخه ډېر اوچت دی او زه هم دواړو ته په یوه نظــر ګورم.))[۹]

**۸- د خدمتګارانو پېژندنه:** استاد الفت په دې نظــر دی چــې په یوه ټولنه کې د رښتینو خدمتګارانو پېژندنه اسانه کــار نــه دی، پــه تېره بیا په وروسته پاتې ټولنه کې. په داسې ټولنــو کــې خــدمتګاران نومورکي او نوم پټي دي، هغه څوک چې خلکو ته خدمت کوي، ضرر نه رسوي، امر و نهې نه صادروي، هغه د خلکو پــه ســترګو نــه ښــکاري، خلک هغه خلک ښه پېژني چې د بادار په بڼه ځرګند شوي وي، الفــت دا موضوع چې زموږ د ټولنې یو حقیقي تصویر لري، د ((خدمتګار)) په نامه په یوه نثر کې په خورا ښکلې بڼه تشریح کوي: ((هلته یو ړوند بــې

لارې روان و، هغه پر سمه لاره برابرکړ، مګر ړوند پـوه نشـو چـې زمـا رهبرڅوک دی.
یو بل په خواږه خوب ویده و، په خوا کې یې یوه منګري سـر را اوچـت کړ، هغه په بیړه وواږه او ویده هماغسې ناخبره پاتې شو.
د شپې په مسجد کې ناروغه مسافر زګېروي کول، هغه یې په خـدمت کې شپه سبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپـل زړه سـواندی خدمتګار یې ونه پېژانده، هغه پر لاره روان و، یو ماشوم ته یې یو موټی مېوه ورکړه، مګر یوه هم ونه پیژانده، چې دی څوک دی.
له دې لویې لارې نه هغه ډېر اغزي او کاڼي لرې کړه، مګر څـوک چـې سبا ته پر دې لاره راځي د هغه له خدمت څخه نه خبربږي او هغـه نـه پېژني.
په رښتیا، چې مونږ خپـل خـدمتګاران نـه پېژنـو او بـاداران ډېرښـه پیژنو.)) (۱۰)

**۹- ملي خپلواکي:** اسـتاد الفـت ازادي د یـوه ملـت د بقـا او پرمختګ اصلي ضامن بولي او د ملي خپلواکۍ او ملي ناموس د ساتنې او پالنې لپاره د ملي احساس شـتوالی ډېـر مهـم ګڼـي او وایـي: (( د استقلال ساتنه د ملت قوي جذبې ته ډېر شدید ضرورت لري، که د غه احساس په یوه ملت کې کمزوری شي، هغه د استقلال په قدر و قیمت نه شي پوهېدلی او د همدغسې ناپوهۍ په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي.
موږ باید خپل ملي شعور او ملي احساس ډېر ټینګ وسـاتو او د خپـل استقلال تقویه ورپورې مربوطه وګڼو.)) (۱۱)

**۱۰- فساد او رشوت:** فساد او رشوت یوه داسې ناوړه پدیــده ده چې د ټولنې انډول له منځه وړي، عدالت په کې تر پښو لاندې کېږي، د ژوند د سالمې ودې مخه نیسي او په لسگونو نور لوی او واړه مرضــونه ورڅخه راټوکېږي. په تېرو څو کلونو کې زموږ هېواد له دې ناروغۍ سره لاس او گرېوان دی. رشوت خواره او فسادگر هر څه خوري، خــو هــېڅ مړېږي نه. استاد الفت همدا رشوت او رشوت خور د ډېــرو نــاروغیو او مرضونو عامل گڼي، په ټولنه کې چې چېرته کومه ناروغي گــوري، نــو رشوت خور د اصلي عامل په توگه ورته وریادېږي، دی پــه یــوه نثــر (( رشوت خوره! ته راپه یاد شوې)) کې د هغه انځور تشریح کــوي وایــي:

((چاوویل: ټندېږي، مگر مړېږي نه، ما ته سمدلاسه ته راپه یادشوې.

بل وویل: گېډه خو یې مړه ده، مگر سترگې یې وږې دي، بیا ته را په یاد شوې.

یوه وویل: قصاب نه دی، مگر ډېر خلک یې بې تیغه حــلال کــړې دي، دلته هم ته را په یاد شوې.

هغه بل وویل: منگولې او پنجې یې د لېوانو نه دي او خونخــوار دی، دا ځل هم ته را په یاد شوې.

بې گناه خلک مې په زندان کې ولیدل، ته را په یاد شوې.

هغه ورځ چا پوښتنه وکړه، چې په غلو زهېــر، د مجرمینــو طرفــدار د مظلومانو دښمن، د نا حقۍ ملگری، د قاتلانو حامي څوک دی؟

ماته ته را په یا دشوې.))[۱۲]

**۱۱- سیاست او سیاستوال:** استاد الفت د سیاست اصــلي او ظاهري رنگ او د سیاستوال ظاهري منطق او بــاطني حالــت تــه هــم

سخت متوجه دی، د عمل او وينا ترمنځ تضاد د سياست يوه ځانگړنــه گڼي. اکثره شرقي ټولنې چې اوس د سياسي تجربې له تلــې وتلــې، د سياست په باب د استاد الفت نظر پرې د تطبيق وړ دی. پــه تېــره بيــا زموږ په خپله ټولنه کې. استاد الفت د (سياست) په باب وايي: ((وايه يو څه کوه بل څه.
له بل نه پوښتنه کوه! پخپله هېڅ مه وايه!
په شپه کې د لمر وړانگې ښيه! په ورځ کې د تورتم نښې.
که خبر وې ځان ناخبره کړه! که خبر نه وې د باخبرۍ مظاهره کوه!
شکره لکه مرچ خوره، مرچ لکه شکره.))(۱۳)

**۱۲- حقيقت موندنه:** الفت د يوه ريالست او متجسس ليکــوال په توگه تل د حقيقت په لټه کې دی. هغه پر رښــتيا او رښــتينو خبــرو مين دی. چل او فريب سره يې ورانه ده. هغه څوک د ټــولنې او خلکــو خدمتگار گڼي چې ټولنې ته رښتيا ووايي او حقيقت راوسپړي. د الفت په نظر څوک چې حقيقت پټوي، تر ټولو ستر غل همغــه دی. الفــت دا ډول غل تر ظاهري او هغو غلو چې د خلکو د کور مالونه لوټــوي، ډېــر خطرناک بولي، دا ډول غله حقيقي غله بولي، په خپل يوه نثر ((حقيقي غل)) کې يې څېره داسې انځوروي: ((په رڼا ورځ يې د ډېرو خلکــو پــه مخکې ډېرڅه له موږ نه پټ کړه، ستا خوښه چې غل ورته وايې که نه! زه خويې غل بولم.
هو! غل دی مگر دپوليسانو په نظرکې نه.
د دې غله لاس قاضي او مفتي نه پرېکوي.
هېڅوک داغل نه نيسي او نه يې بندي کوي.

د دې غله په ړيره خلی نشته.
ده ډېرځه له موړ نه پټ کړي دي او ډېر زيان يې را اړولی دی ده له موړ نه سره و سپين نه دي پټ کړي.
دی ډېرلوی غل دی.
د ده غلاډېره لويه او ستره غلا ده.
دی مال نه پټوي.
د ده غلاته په عادي نظرمه ګورئ!
دی زموږ پيسې نه پټوي.
ده ته دمال او دپيسو غل نه شو ويلای.
دی موږ نه خپل ځان او خپل بد بد کارونه پټوي.
دی خپل حقيقت او ماهيت پټوي.
ځان او حقيقت پټول ډېره لويه او ستره غـلاده دا غـلاد يـوه ملـت او مملکت کور ورانوي او ملکونه بربادوي.
په سترګو ننوزي.
له سترګو سره دښمني لري.
هو! داغل له سترګو نه رانجه نه پټوي، سترګې پټوي له مـونږ نـه ډېـر حقيقت پټوي او د حقيقت غل دی، ده ته بايد حقيقي غل ووايو.))[۱۴]

**۱۳- قوت او طاقت:** د ځواک، قوت او طاقت تعريفونـه بېلابېـل دي، هر څوک يو قوت د خپل نظر او تعبير له مخـې تعريفـوي. څـوک علم قوت بولي، څوک زر، څوک زور، څوک ټانکونه، څـوک لښـکرې، څوک مېږونه او څوک د دنيا نور اسباب، خو د الفت په نظـر دا د دنيـا اصلي قوت او طاقت نه دی، خو که دا ټول يوچاسره وي چې زړه، اراده او عقيده ونه لري، هغه هېڅ نه شي کولای، استاد الفت د ټولو قوتونـو

محرک، بنسټ او ډاډ ځای عقیده بولي. استاد الفت عقیده داسې یو ستر قوت گڼي چې هېڅ بل قوت ورسره د پرتلنې وړ نه دی: ((څوک وایي مال دی او څوک یې په صنعت او تخنیک کې لټوي، ځینې وایي چې علم دی او ځینې یې په ډېرو افرادو غواړي، مګر کله کله چې سړی له دې ټولو نه لکونو هغه خوا ددې ډېرو لښکرو ترشا له هوایي طیارو نه پورته نظر کوي، یو دا راز قوتویني، چې پدې ټولو قوتو زورور او غښتلی دی، له دې قوت سره نه اور او اوبه مقاومت کولی شي او نه په توره او علم ورسره مقابله کېږي. دا قوت هغه عقیده ده چې انسان هر راز ایثار او قربانۍ ته تیاروي او له یوه ملت نه بل شی جوړوي، که دا قوت له یوه ملت سره نه وي او نور هرڅه وي، ته یقین وکړه چې هېڅ یې نه په کارېږي او هرڅه یې پردي دي.

بې عقیدې انسان هېڅ نه دي کړي او هېڅ نشي کولی نه به یې وروسته تردې وکړي، څوک چې له خپل ژوندون او سر و مال نه سوا یو داسې شی نه پېژني، چې دا ټول ورځنې ځار کړي هغه ته د لویوکارو هیله هېڅ وخت نه کېږي.

عقیده په انسان کې یو فعال عقل، نه وېرېدونکی عشق، فرهادي عزم او یو سیلابي حرکت پیدا کوي، چې هېڅوک او هېڅ شی یې مخه نشي نیولی.

د نړۍ په غولي کې چې څه حق او ناحق جنگونه شویدي او کوم کام یا ملت پکې خپل ستر قوت او فوق العاده مقاومت ښودلی، هغه ارومرو په یوه عقیده بنا دی، چې من حیث عقیده ورته ستر قوت ویلی شو. عقیده په اصل کې د انسان او حیوان حد فاصل دی، چې د خپل شعوري ماهیت او متین موجودیت په لحاظ د ډېرې ستاینې حق لري، مګر وروسته چې یو خارجي موجود او جزیي مفهوم پیداکوي، نو په

دوو نوعو ببلېږي، چې حق او باطل عقاید ورته وایي او په دواړو صورتونو کې ورته قوت ویلی شو.
همدغه عقیده ده چې د چا دپاره ایمان او د چا دپاره مسلک شي، څوک یې خپل نصب العین بولي او د ځینو دپاره عشق او مایه وګرزي.))(۱۵)

**۱۴- د ظلم نتیجه:** دا متل ډېر مشهور دی چې د ظلم کاسه نسکوره ده. د ظلم انجام ښه نه دی، ظالم به اخر تر پښو لاندې کېږي او څېره به یې بربنډېږي. د ظالم او مظلوم څېره د قضاوت په وروستي پړاو کې څرګندېږي. استاد الفت له شاعر څخه هیله کوي چې د عادلانه قضاوت لپاره قلم اوچت کړي او دا د شاعر دنده ګڼي چې د ظالم او مظلوم ترمنځ توپیرونه په هنري بڼه افاده او خپل مثبت پیغام ولس ته ورسوي. دی دا کار د شاعر تر ټولو غوره تحفه بولي چې ولس ته همدا ډول پیغامونه ورسوي. ((د شاعر تحفه)) په نثر کې وایي: ((زه چې ورغلم هغه په کوټنۍ کې ناست و، سر یې په ګرېوانه کې ښکته کړی و، فکري عبادت یې کاوه.
کله چې هغه سر راپورته کړ او پر ما یې نظر ولوېده، ما خپله تحفه یو د پړانګ پوستکی او یو غزنیچی پوستین د هغه په مخ کې کېښوده.
هغه وویل: دا یو د ظالم پوټکی دی، ځکه له پښو لاندې لوېږي، دا بل د ضعیفانو له پوستکو نه جوړ دی او پر غاړې پورې تعلق نیسي.
د شاعر تحفه باید همدغسې وي او همدغه معنی ولري.
دی باید دا دوه منظرې همدغه راز وښیي او خلک په دغه رمز ښه پوه کړي.

په دغو خبرو زه له خوبه راوېښ شوم او په خوب کې د خپل خوب پــه تعبیر پوهیدلی وم.))[۱۶]

**۱۵- وړوکوالی او لویوالی:** استاد الفت وړوکوالی او لویوالی پــه ظاهري لویوالي او کوچنیوالي کې نه ګوري، دی هغه شی لوی ګڼي چې په خپله (اصل) وي، نور ټول شیان چې له همدې اصــل څخــه راوتلــي وي، که څه هم له اصل څخه لوی ښکاري، خو په حقیقت کې تــر هغــه کوچني دي. الفت په دې نظر دی چې که اصل له منځه لاړ شي، نو ټول هغه شیان چې له دې اصله راټوکېدلي او ډېر لوی ښکاري او یا هم لوی وي، له منځه ځي. لوی شیان تر یوه وخته لوی وي، دایمي ژوند نه لري، خو اصل همغه شی دی چې که ظاهراً ډېر کوچنی ښکاري، خو عمر یې دایمي دی. الفت د ((لوی او وړوکي)) په نثر کې دا موضوع په ډېر ښــه ډول بیانوي، وایي: ((په شفتالو کې زړی دی په زړي کې ونه ولاړه ده.
د غنمو په وږو کې دانه شته، په دانو کې همدغسې وږي شته.
په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې چرګه ده.
دغه یوه دانه پندانه، چې ګورې تېل او پلته دواړه لري او په حقیقت کې بله ډیوه ده، مګرستا سترګې دغه رڼا نه ویني.
ته خبرنه یې، چې په یوه دانه او په یو څاڅکي کې عالمونه پراته دي.
ته پخپله هم دغنم په دانه کې وېده وې بیا دې په یوه څاڅکي اوبو کې لامبو وهله نن په لویه ببړۍ کې ناست یــې او پــه لویــو دریــابونو کــې ګرځې.
څه شی، چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی یا هغه څه، چې تا ته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی.

ته  ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کې ده.
تا ته زړی وړوکی معلومېږي په هغه کې غټه ونه ځای شوې ده.
دغه غټه هندوانه، چې ګورې کال ته نه پاتې کېږي او عمر یې ډېر لنډ دی، دغه د هندوانې کوچنی زړی تا ته هر کال تازه هندوانې درکوي.
د زړي قیمت له هندوانې نه لږنه دی.
که زړی ورک شو هندوانه ورکېږي.
نو راشه هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکه چې دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابر دي یوازې خدای لوی دی او بس.
د نن ورځې دیموکراسي له همدغسې ژوندکتنې څخه پیدا شوې او د ډېر دقت نتیجه ده.)) (۱۷)

**۱۶- غوړه مالي:** غوړه مالي او غوړه مالان یوه بله ناروغي ده، چې ډېر واکمن او ډېر دربارونه یې له ګړنګونو غورځولي دي. همدا غوړه مالان دي، چې د واکمن هرې نامنطقي خبرې ته منطقي رنګ ورکوي او په دې وجه خپل موقف ساتي. استاد الفت په درېیو مختلفو دریځونو کې د یو غوړه مال د ژبې اړولو مهارت ته ګوته نیسي او د هغو ماهیت څرګندوي وایي: ((یوه پاچا له چانه پوښتنه وکړه، چې زما په ورغوو باندې ولې وېښته نشته.
هغه وویل: ځکه چې پاچا پخپلو لاسونو باندې په لپو لپو روپۍ خلکو ته ورکوي او ورغوي یې سولېږي.
پاچا وویل: چې د نورو خلکو ورغوي، خو هم ماغوندي دي.

هغه وويل: هغوی هم پخپلو لپو ستا له لپو نه څه اخلي او ورغـوي يـې سوليږي.
پاچا بيا وويل: هغه چې زه هېڅ نه ورکوم د هغوی ورغوي هم دغه شان دي.
هغه په ځواب کې وويل: هغوی چې ستا بخششونه د نورو په حق کـې ويني، نو له ډېر حسرت او ارمانه خپل ورغوي سـولوي او افسوسـونه كوي.))[١٨]

**١٧- خيال او فكر:** لكه ښنګه چې مـو دمخـه يادونـه وكـړه، د استاد الفت د فكر وړانګې د ژوند هر ډګر ته رسېدلي، خپله هم شـاعر او فيلسوف دی، د خيال او فكر، شعر او فلسفې پـر رمزونـو پـوه دی. استاد الفت د لوړ خيال او ژور فكر نتيجه يوه ګڼي، د شـعر او فلسـفې مفهوم او د بيان مقصد هم يو ګڼي. د استاد يو نثر ((شعر او فلسـفه)) نومېږي. ده په دې لنډ نثر کې يوه ډېره لويه مانا، پرتلنه او بيـا نتيجـه رانغاړلې ده. هغه وايي: ((وربځې پورته په هوا کې دي، ځاګانې ښكته په ځمكه کې.
هغه څه چې په هسكو وربځوکې شته په ژورو ځاګانو کې هم شـته پـه دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتېږي.
د لوړخيال او د ژور فكر نتيجه يوه ده.
ته: يا خپل نظر ډېر لوړ كړه يا په خپل ګرېوان کې ډېر سر ښكته كړه:
د شاعر او فيلسوف فرق
همدغه دی
زه شعر او فلسفه دغه شان

ګـــنیم))(۱۹)

**۱۸- ژوند او حرکت:** الفت ژوند د حرکت محصول ګني، هغه ژوند چې حرکت په کې نه وي، هغه کې برکت نه وي او ساقط وي. الفت په دې نظر دی، هغه څوک د ژوند، ښناک او خوراک حـق لـري چې د حرکت په حال کې دی. هغوی چې ځای پرځای ناست دي، د الله قانون هم د ښناک او خوراک مستحق نه دي ګڼلي، الفت د شریعت دې رمز او مجوز ته د یوه لاروي د منطق په هنداره کې اشاره کوي او دا بیانوي چې ژوند، ښناک او خوراک هغه وخت کېږي. چې انسان د حرکت پـه حال کې وي. استاد الفت وایي: ((مونږ د خپلوکورونو له څنګه په دېـره کې ناست وو.

له پاسه یو لاروی راغی د ونې ډډ ته یې ډډه ولګوله.

له ملانه یې ډوډۍ پرانیستله او له څه شي سره یـې پـه خونـد خونـد خوړله، مونږ وږي تږي وو، هغه ځان موړ کړ او یخې اوبه یې وڅښلې.

مونږ روژه وو. هغه بوزه و، ځکه چې په مسافرو باندې روژې نشته.

لاروي وویل: ماته دخوړلو اجازه شته او تاسو ته نشته.

ماته خدای خواړه او اوبه رواکړي دي، په رمز او معنیٰ پوهېدل په کـار دي.

د خدای کارونه بې حکمته نه دي، تاسې د دغه عملي تعلیم په اصـلي معنیٰ ښه فکر وکړئ!

تاسې ولې وږي یاست او زه موړ یم؟

زه په کار او مقصد پسې روان یم او تاسې ځای پر ځای پراته یاست.

ستاسو حرکت لنډ دی، ځکه یې وړي کړئ!
تاسې د خدای قانون منلی دی، مګر پوه شوي پرې نه یاست.
زه راوګرځېدم، چې تاسې په دغه راز پوه کړم او له لوړي نجات ومومئ، پاڅېږئ روان شئ او لرې ځای په نظر کې ونیسئ!
لوږه او تنده په توقف او سکون کې ده په حرکت کې نشته.))[۲۰]

**۱۹- رڼايي:** الفت علم او رڼايي د خلکو د ویښتابه لپاره اساسي وسیله ګڼي، څومره چې خلک په تیاره کې وي، پر کورونو یې د لوټ او تالان وېره شته، غله به پرې لګېږي او مالونه به یې پټېږي، غله په تیاره کې لوټ کوي، نو که څوک غواړي خپل مال او سر یې خوندي شي، باید په خپل کور کې ډیوې ولګوي، له ډیوو څخه د الفت تعبیر علم، پوهه او ذکاوت دی. هغه همدا مطلب په ډېر استادانه ډول د (غلو ډیوه) تر عنوان لاندې په یوه هنري نثر کې واضح کړی، وایي: ((سپوږمۍ ورکه شوه، شپه ډېره تیاره وه، غله په تورتم کې راغله په کاله ننوتل.
دوی خبرنه وو، چې ښه ښه مالونه چېرته ایښي دي، ځکه یې ډیوه ولګوله او مال یې لټاوه.
د کور و کلي خلکو چې رڼا ولیده را پاڅېدل دغلو مخه یې ونیوله او غله یې وپېژندل، یوه وویل: له تورتم نه د غلو ډیوه هم ښه ده.
مونږ غله په رڼا کې ولیدل او راویښ شوو.
هو! مونږ غلو راویښ کړو.
زمونږ په کور کې غلو ډیوه ولګوله.))[۲۱]

**۲۰- ټولنیز سمون:** متلونــه او اصــطلاحګانې د یــوې ټــولنې د ناخوالو او ټولنیز ژوندانه د اوږدو تجربو نچــوړ دی، متلونــه او ګړنــې د ټولنې نیمګړتیاوو ته نغوته کــوي او د لانجــې د حــل لپــاره وروســتۍ منطقي وسیله ده. استاد الفت هغو متلونو ته هم خورا متوجه دی، چې پخوا جوړ شوي او اوس یې کله کله نتیجه معکوســه راووځــي. اســتاد الفت په ډېر ظرافت سره دې ډول متلونو ته نغوته کړې او له هغو څخــه یې ډېره باریکه خو مثمره معنوي نتیجه راویستې ده. ده استاد الفت د ((څوک وایي)) په نثر کې یو شمېر هغه متلونه چیلنج کــړي چــې پــه ټولنه کې لا تر دې دمه کارول کېږي، خو په عملي مانا کې یې یــو څــه بدلون راغلی دی. استاد الفت وایي: ((څوک وایي چې کوږ بار تر منزله نه رسېږي او د دروغو منزل لنډ دی.

د دروغو مزل خو تر اخرته پورې دی او کاږه بارونه ترهماغه وخته مزله ته رسېږي. څوک وایي چې بد ګرزې بد به پرزې.

که دا خبره رښتیا وای اوس، خو به یو سړی روغ نه و پاتې.

څوک وایي چې د دروغجن مخ تور دی. ما خو ډېر دروغجــن ولیــدل، چې مخونه یې تک سپین دي.

څوک وایي، چې د شیطانانو دې کور وران شي.

څوک وایي، چې د غله په غره کې ځای نشته.

رادې شي ودې ګوري، چې ښارونه بازارونه ترې نه دي ډک؟

څو ک وایي چې غل نه یې له پاچا مه ډارېږه!

ایا د ناحقۍ له شاهدانو نه وېره نه ده په کار؟

څوک وايي چې په تشو خبرو کار نه کېږي؟ دلته خو په خبــرو هرڅــه کېږي او بې خبرو هېڅ نه کېږي.

څوک وايي چې د غله په زړه خلی وي، دېر غله شته چې ببخي زړه نلري.

څوک وايي چې دېر وايي لږ ترې خېږي، ما خو ولیدل چې هېڅ ترې نه خېږي.))[۲۲]

دا د استاد الفت د فکر هغه شل لیدلوري وو، چې ما ورته په دېر لنــډيز سره اشاره وکړه. د استاد الفت هر نثر د ژوند یوه خوا راســپړلې، ټــول کلیات يې له همداسې فکري ژورتیاوو ډک دي، پر يوه نثر يې يو نثــري اثر لیکل کېدی شي، ټول نثرونه يې دومره خواږه او له رمزونو ډک دي چې سړی يې لوستل پیل کړي، نو تر هغه يې چې پای ته نه وي رسولی، پرېږدي دې نه، هر نثر يې د منطق او جاذبې ځانګړې قوه لري. ما خپله لیکنه په جبري ډول دلته ودروله او که نه د غځولو تلوسه يې نوره هم زیاته ده. په ټولیز ډول ویلای شو چې الفــت فکــر او هنــر دواړه ســره داسې غاړه غړۍ کړي چې کله يې څوک نثر لولي، نو د فکــر او ښــکلا دواړه ملکې يې لاسنیولی ترپایه ځان سره بیايي او مطلوبې نتیجې تــه يې رسوي.

# اخځونه


۱- ادبي څېړنې، محمد صدیق روهي، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ل کـال، ۹۳ مخ.

۲- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۱۱۸مخ.

۳- د استاد الفت نثري کلیات، د محمد اسمعیل یـون راټولونـه، یـون کلتوري یون، ۱۳۸۷ل کال،۲۱۶مخ.

۴- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال،۸۴ مخ.

۵- لیکوالي، املا او انشا، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ل کال،۲۰۹ مخ.

۶- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه،۱۳۳۶ل کال،۲۶ مخ.

۷- د استاد الفت نثري کلیات، د محمد اسمعیل یـون راټولونـه، یـون کلتوري یون،۱۳۸۷ل کال،۱۰۴ مخ.

۸- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه،۱۳۳۹ل کال، ۱۱۳مخ.

۹- د استاد الفت نثري کلیات، د محمد اسـمعیل یـون راټولونـه،یون کلتوري یون،۱۳۸۷ل کال،۳۶۹ مخ.

۱۰- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه،۱۳۳۶ل کال، ۷ مخ.

۱۱- اصلاح ورځپاڼه، ګل پاچا الفت، ۱۳۴۰ل کال، د سـنبلې (۵) نېټـې ګڼه.

۱۲- څه لیکل یا لیک پوهه،اتحاد مشـرقي مطبعـه،۱۳۲۸ل کـال، ۵۸ مخ.

۱۳- د استاد الفت نثري کلیات،د محمد اسمعیل یون راټولونــه، یــون کلتوري یون، ۱۳۸۷ل کال،۷۹۰ مخ.
۱۴- پښتو نثرونه، ۱۳۵۰ل کال، کابل، ۷۹-۸۰ مخونه.
۱۵- کابل مجله، ګل پاچا الفت، ۱۳۲۳ل کال، ۶-۸ مخونه.
۱۶- د استاد الفت نثري کلیات،د محمد اسمعیل یــون راټولونــه، یــون کلتوري یون، ۱۳۸۷ل کال،۷۱ مخ.
۱۷- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت،پښتو ټولنه،۱۳۳۶ل کال، ۵ مخ.
۱۸- څه لیکل یا لیک پوهه،اتحاد مشرقي مطبعه،۱۳۲۸ل کال،۸۳ مخ.
۱۹- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت،پښتو ټولنه،۱۳۳۶ل کال،۱۱۴ مخ.
۲۰- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه،۱۳۳۶ل کال،۲ مخ.
۲۱- نوی سبک او نوی ادب، ګل پاچا الفت، داخلي نشرات، ۴۴مخ.
۲۲- د استاد الفت نثري کلیات، د محمد اسمعیل یون راټولونــه، یــون کلتوري یون، ۱۳۸۷ل کال، ۳۴۱مخ.

# د نظم رغنده توکونه

دا لیکنه هم پر (۱۳۹۴ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې د استادانو او محصلینو په حضور کې د یوه علمي کنفرانس په بڼه اورول شوې ده.

د نظم په معمولو تعریفونو کې یو هم دادی: ((نظم هغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) وزن یې د نظم تر ټولو اساسي رکن ګڼلی دی. ځینو (قافیه) هم د نظم یو عنصر ګڼلی او ځینو لا (ردیف) هم ورسره ملګری کړی دی. مخکې تر دې چې د نظم ټولو رغنده توکونو ته اشاره وکړو، ښه به وي چې د وزن رغوونکي عناصر وپېژنو.

وزن ته مو ځکه لومړیتوب ورکړ ؛ همدا زموږ فرضیه ده، چې وزن د نظم اساسي رکن دی او د نظم نورې برخې لومړی پر وزن راڅرخي او بیا په مجموعي ډول د نظم د رغښت سبب ګرځي. دلته غواړو لومړی د وزن پر همدغو رغنده عناصرو لږ شان رنا واچوو.

**غږ یا اواز:** (( غږ، اواز یا فونیم د ژبې تر ټولو کوچنی غږیز عنصر دی چې په خپله کومه مانا نه لري، خو په مانیزو کلمو کې مانیز توپیر پیښوي.))[۱] غږ پر نورو عناصرو د تجزیې وړ نه دی، همدا غږ دی چې د څپې د جوړښت سبب ګرځي. غږ او څپه دواړه بیا په خپل وار سره د وزن د جوړښت عامل ګرځي. غږ د ګړنۍ ژبې اساس ګڼل کېږي، که غږ

نه وي، ګړنۍ ژبه نه شته. منثوره او منظومه ګړنۍ لیکنۍ وینا په مجموعي ډول ټوله ژبه جوړوي، د ګړنۍ ژبې بنسټ غږ او د لیکنۍ ژبې اساس توری دی. که غږ نه وي، نه څپه شته، نه اهنګ او نه وزن او نه هم نظم، نو ځکه خو غږ د وزن او نظم لومړنی بنسټ ګڼل کېږي.

**څپه، هجا، سېلاب:** (( د وینا تر ټولو کوچنی واحد دی چې له څو غږونو څخه رغېدلی وي. د غږونو دا مجموعه له واټن پرته له خولې څخه راوځي او بېرته قطع کېږي.))[۳] یانې هر هغه غږ یا غږونه چې له کوم خنډ او ځنډ پرته په یو ځایي ډول له خولې څخه راووزي هغه یا هغو ته څپه وایي. څپې بیا دخپل جوړښت له مخې پر لنډو او اوږدو، تړلو او خلاصو څپو هم وېشل کېږي. یوه څپه کېدی شي مانا ولري او یا یې ونه لري.

څپه د وزن یو اساسي عنصر بلل کېږي او د څپو له منظم او سنجول شوي ترتیب پرته د وزن رغښت ناشونی دی. د وزن د تول او انډول لپاره څپه تر ټولو ښه معیار دی، همدا څپه ده چې په وزن په تېره بیا په مقید وزن کې د هستې رول لوبوي.

**خج:** خج د وزن یوه برخه ګڼل کېږي چې هم د نظم پر وزن خپل اغېز کوي او هم د کلمې پر مانا او محتوا. خج د نړۍ په ټولو ژبو کې نه شته، ، ځینو ژبو کې د اهنګ لوړوالی او ټیټوالی د جملې یا کلیمې د مانا د بدلون سبب ګرځي خو په پښتو کې د اهنګ تر څنګ خج هم په کلمه او هم په جمله کې د وزن د بدلیدو او هم د مانا د تغیر سبب ګرځي. پښتو یوه (خجنه) ژبه ګڼل کېږي. ((خپله خج یا فشار د اساسي فونیمونو له دراندە او سپک تلفظ کولو څخه عبارت دی چې سره

ترکیب کېږي، یانې فشار دلته مورفیمونو او کلمو ته ځانګړی شــوی او دېته صرفي فشار ویل کېږي، یو هجایي مورفیمونه تــل د یــوه درونــد فشار درلودونکي دي، خو په څو هجایي مورفیمونو او کلمو کې درونــد یا سپک فشار حتی منځنی فشار هم کېدی شي چې موجــود وي...))[٣] په بله وینا ((د وینا پر مهال پر سېلابونو باندې دغه لوېدونکي زور ته په اصل کې خج وایي.)) [٤]په پښتو ژبه کې خج د وزن اساسي برخه ګڼــل کېږي، هر کله چې خج له خپل ټاکلي ځایه پرته پر بل ځای راشي، نــو وزن په اتومات ډول خپل اهنګ او انډول له لاسه ورکوي. خج په پښتو نظم کې د وزن د ثبات سبب ګرځي، مهمه خبره داده چې خج پر ټــول پښتو منظوم (ازاد او مقید) کلام دواړو باندې یو شان د تطبیق وړ دی. ((په پښتو کې (دولت لوانی) لومړنی شاعر دی، چې ځینې نظمونه یــې د (خلیل بن احمد فراهیدي) پر عروضي سیستم برابــر دي)) [٥] او تــر هغه وروسته د (میاه شرف) ځینې شعرونه یا نظمونه پر عربي عروضــي سیستم برابر دي. نور نو له امیرکروړه رانیولې بیا تر دې دمــه پــورې د ټولو شاعرانو او ناظمانو کلام د پښتو خپل شعري یــا نظمــي جوړښــت تعقیبوي، پوهاند زیار دې ډول جوړښت ته ((سېلاب تونیک یا څپییــز خجیز جوړښت)) [٦] ویلی. په دې مانا چې څپه او خــج د وزن یــا نظــم رغنده توکي دي او د نظم اساس پر همدې څیزونو ولاړ دی. پښتو نظم د څپییز جوړښت له مخې ټول یو شان سیستم تعقیبوي، پــه دې مانــا چې په یو نظم کې تر هرو دربیو څپو وروسته ضرور څلورمه څپه خجنه راځي، که چېرې پر څلورمه څپه خج رانه شي، نظم خپل وزن له لاســه ورکوي، دا قاعده زموږ پر ولسي او لیکني ادب ټولو باندې یــو شــان د تطبیق وړ ده، پښتو لنډۍ به د بېلګې په توګه یاده کړو:

سترګې مې ستا په لور څلور شوې

څلور اته شوې اتـــــه شـــــپاړس شوې مینه

د څپو له مخې لـومړۍ مسـره (۹) او دویمــه یــې (۱۳) ده، پـر هـرې څلورمې څپې خج راځي، ټولې لنډۍ د څپییـز خجییـز جوړښـت لـه مخې همدا یوه قاعده تعقیبوي.

**څپییز جوړښت:**

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹

ستر ګې مې ستا په لور څـ لور شوې

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳

څـــ لور ا ته شوې ا ته شپا ړس شوې مـ یـ نه

**خجییز جوړښت:**

v v v- v v v- v

v v v- v v v– v v v - v

ټولې لنډۍ همدا یوه قاعده او سیستم تعقیقوي.

په پښتو نظم کې د ازاد نظم په ګډون د لومړۍ مسرې یـا پـر لـومړۍ، دویمه، دربیمه او یا هم څلورمه څپه خج راځي، خو کـه پـر دې هـرې یوې څپې خج واقع شو، درې څپې وروسته په اتومات ډول نورې څپې خج اخلي او په دې ډول د نظم وزن پوره کېږي. که د خج پـه واردولـو کې دا درې څپییز واټن له منځه لاړ، نو وزن خپل وزن له لاسه ورکوي.

**اهنګ:** دا چې اهنګ د وزن برخه ده که وزن د اهنګ؟ او بیا دا چې وزن د نظم اساسي برخه ده که اهنګ او که دواړه؟ پر دې به وروسته د خپلې فرضیې د اثباتولو په ترخ کې خبرې وکړو، خو اوس راځو د اهنګ لغوي مانا ته!

**الف- اهنګ له لغوي پلوه:** د بېلابېلو ژبو فرهنګونو او قاموسونو د اهنګ لغوي مانا په بېلابېلو بڼو خو یو بل ته په نږدې مانا کارولې ده، قاموسونو اهنګ د (اواز، غږ، غاړه، د اواز وزن، تکل، اراده، دود، طریقه، لحن، مقصد، د ګنبدې او محراب کوږېدل، ژۍ، څنډه، کناره، صف، غږیز تغیر، کتار)) په مانا کارولی دی.

په انګلیسي قاموسونو کې د اهنګ لپاره د ریتم(Rhythm) نوم لیکل شوی چې د ((وزن، سجع، تال، موسیقۍ، نڅا...)) په مانا راغلی دی.

ځینو بیا **میلودي:** (د اساسي تون د اواز حرکت)، **خج:** ( د اساسي غږونو سپک او درانده تلفظ کېدل)، **شدت:** (درووند او سپک تلفظ او د تون قوت)، **ریتم:** (پر عبارتونو د خجنو او ناخجنو څپو بدلېدل)، **لحن:** (په خبرو کې غږیز تغیر، **بېلتون او پیوستون:** (له څنډ او خنډ پرته یوه کلمه له بلې سره لوستل) دا ټول د اهنګ برخې ګڼلې))[۷] او وایي چې دا ټول په ګډه اهنګ جوړوي.

**ب- اهنګ له اصطلاحي پلوه:** له اصطلاحي پلوه هم اهنګ په بېلابېلو ډولونو تعریف شوی دی، ځینې وایي ((اهنګ د غږونو یو داسې ترکیب او اوډون دی چې جګوالی او ټیټوالی لري یا زیر و بمې بڼه مومي. او یا هم په نظم کې د لفظونو ترمنځ یو غږیز امتزاج یا ګډ منظم

ترکیب دی چې پر خج د نظم وزن او موسیقي برابروي.))[۸] ځینو بیا د ترکیبونو منظمې ادا ته اهنګ ویلی دی.
ځینې نور وایي: ((د غږونو موج او موسیقیت ته اهنګ ویل کېږي، له جملو، فقرو او عبارتونو سره اړه لري، په دې مانا چې د ژبې د نحوې ګروپونو ځانګړنه ده.))
اهنګ له څلورو ځانګړنو څخه رامنځته کېږي: لوړوالی او ټیټوالی یا زیر وبمې، شدت یا زنګ، وخت یا امتداد.))[۹]
**قافیه:** ځینو ادبپوهانو قافیه او ردیف هم د وزن او نظم یو رکن ګڼلی او وایي همدا قافیه ده چې د وزن او نظم د جوړښت او ښکلا سبب ګرځي. خو ځینې نور بیا قافیه د وزن په اساسي ارکانو کې نه راولي. دلته غواړو قافیه هم له لغوي او هم له اصطلاحي پلوه په لنډو ټکو کې توضیح کړو.
**الف- قافیه له لغوي پلوه:** قافیه چې په همدې بڼه او جوړښت یې په پښتو او دري کې کاروو، اصلاً عربي کلمه ده (( د عربو په لغت کې وروسته، شا، څټ او ورپسې تلونکي ته وایي.))
**ب- قافیه له اصطلاحي پلوه:** ((د بیتونو د دورونو د پای کلمو همغږۍ ته وایي، یا په بله وینا د مصرع بیت د هرې مسرې او د هر نامصرع بیت د پای کلمه چې شعر وربانديې ختمېږي او اعاده یې په ورپسې بیتونو کې لازمه وي، قافیه ګڼل کېږي. یا هم هغه کلمې چې د دورونو په پای کې لازمه هماهنګي ولري د قافیې کلمې ګڼل کېږي)).[۱۰]
په بله وینا: دوه او یا څو بېلابېلې کلمې چې په خپل منځ کې یو او یا

هم تر هغه زيات مشترک غړونه يا توري ولري، په خپل منځ کې هم قافيه ګڼل کېږي.

**رديف:** ځينو ادبپوهانو رديف هم د وزن يوه برخه ګڼلې، خو ځينو نورو بيا رديف په قافيې پورې تړلی عنصر بللی، کله چې قافيه نه وي، نو د رديف بحث اصلاً هېڅ مطرح کېږي نه، خو کله چې په يوه نظم کې قافيه راشي او بيا ورپسې رديف، نو رديف هم د نظم يا وزن په جوړښت کې خپل رول لوبوي. دلته غواړو رديف له لغوي او اصطلاحي پلوه په لنډيز سره معرفي کړو:

**الف- رديف له لغوي پلوه:** ((رديف په لغت کې پر يوه اس باندې د چا تر شا دويم سور، کېږ، څېره، کتار، چيل، پسې شا، ترڅنګ، غبرګو سورو او دوه سورو ته وايي.))

**ب- رديف له اصطلاحي پلوه:** ((رديف له قافيې څخه بېلې او مستقلې هغه (يوه يا څو) کلمې يا وييکي دي چې په ټولو بيتو کې عيناً تکرارېږي.))[11]

په بله وينا رديف هغه يوه يادوه خپلواکې کلمې يا ناخپلواک مورفيمونه دي چې په نظم کې تر قافيې وروسته په يوه شکل او يوه مانا تکرارېږي. او نظم ته مانيزه او شکلي ښکلا ورکوي. يا ((رديف هغه کلمه يا کلمې دي چې تر قافيې وروسته په يوه شکل او تقريباً په يوه مانا تکرارېږي، رديف په نظم کې اختياري بڼه لري، خو کله چې په قافيه وال نظم کې تر قافيې وروسته راشي، په نورو مقفی مسرو کې يې راوړل ضروري دي))،[12] دا قاعده په غزل، قصيده او يو شمېر نورو فورمونو کې دزيات تطبيق وړ ده. تر دې يادونو وروسته اوس راځو وزن ته!

**وزن:** لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، کله چې د نظم د رغنــده توکونو په باب خبرې کېږي، نو د ځینو خلکو ذهن ته تر ټولو دمخــه د قافیې او ردیف خبره ودرېږي، چې ګنې دا به د نظم اساسي توکي وي، خو کله چې څوک د نظم اساسي جوړښت ته ځیر شي بیا ورتــه پتــه لګي چې قافیه او بیا تر هغه وروسته ردیف د نظــم پــه فروعــاتو کــې راځي، نه په اساسي ارکانو کې. د نظــم اساســي رکــن پــه حقیقــت او واقعیت کې (وزن) دی، البته قافیه او ردیف په تېره بیا قافیه په مقیدو نظمونو کې په خپل وار سره د وزن په جوړښت کې خپل نقش لري، خو د نظم د اساسي رکن په توګه تر ټولو د مخه (وزن) اساسي نقش لــري. دلته غواړو (وزن) هم له لغوي او هم له اصطلاحي پلوه په لنــډیز ســره معرفي کړو:

**الف- وزن له لغوي پلوه:** وزن له لغوي پلوه (تول، اندازه، د عروضو په علم کې د شعر بحر، عزت، قدر وقیمت، محتوا، پیمان) او د انډول مانــا ورکوي، په پښتو، دري او ځینو نورو ژبو کې تقریباً په یوه شکل او یــوه مانا کارول کېږي، خو اصلاً دا هم د نظم په شان عربــي کلمــه ده، پــه عربي کې دا کلمه ثلاثي مجرده بڼــه او مصــدري حالــت لــري، اوزان، توازن، وزین، متوازن او نورې کلمې له همدې (وزن) څخه مشتق شوي دي.

**ب- وزن له اصطلاحي پلوه:** ادبپوهان وایي: ((د شــعر وزن د هغــه نظم او تناسب زېږنده ده چې د کلمو په غږونو کې رامنځتــه کېــږي.)) وزن د نظم اساسي رکن دی، له وزن پرته د نظم انډول نه برابرېږي پــه حقیقت کې هېڅ رغښت نه مومي. د وزن په جوړښت کې تر ټولو زیات

او مهم څیز څپه ده، چې وزن ترې جوړښت مومي، د څپو د شــمېر لــه اندوېل پرته وزن خپل وزن له لاسه ورکوي.

وزنپوهان وايي: ((وزن په پرله پسې ډول د ترنمي ټوټو د تــاکلي نظــام ترتیب دی چې په کلمو کې د لنډو او اوږدو څپو له ټاکلي ترتیب څخــه رامنځته کېږي.

یا هم: د خبرو په غږونو کې تناسب او نظم ته وزن وايي.))(۱۳)

ځینو بیا وزن پر کمي او کیفي برخو وېشلی ، پــه دې مانــا چــې ((کــه چېرې د څپو زماني امتداد د وزن بنسټ شي، نو دېته کمي وزن وايــي، خو که چېرې د شعر ځینې څپې د غږ د لوړوالي او ټیټوالي یانې زیــر و بم له مخې عیارې او منظمې شي، نو دېته کیفي وزن وايي.)) پــه هغــه ډول کې چې یوازې د څپو شمېر د نظم بنسټ ګڼل کېــږي، ((یــانې دا چې د یوې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مســاوي شــي، هغــه تــه (عددي وزن) ویل کېږي.))(۱۴)

ځینو ادبپوهانو یا وزنپوهانو په ځینو ژبو کې (څپه) د (وزن) ځانګړنــه ګڼلې او ځینو نورو بیا (متحرک غږونه) د وزن اساســي بنســټ ګڼلــی دی.

ځینې نور بیايي. ((وزن ، د بېلابېلو اجزاو تر منځ یو کیفي تناســب دی، دا تناسب چې په مکان کې رامنځته شي قرینه ورته وايــي او کــه پــه زمان کې واقع شي وزن ورته وايي.)) (۱۶)

اوس غواړو نظم له لغوي او اصطلاحي پلوه معرفي کړو:

**الف- نظم له لغوي پلوه:** له لغوي پلوه ((د مرغلرو پېیلو، ترتیبولــو، سینګارولو، شعر ویلو او وزنوال کلام ته ویل کېږي.))(۱۵) د نثر (پاشــلو) مخالفه مانا ورکوي. خپله د (نظم) کلمه چې موږ یې په پښــتو، دري او

ځینو نورو ختیزو ژبو کې کاروو، هم یوه عربي کلمه ده، په عربــي کــې دې ته (ثلاثي مجرد) لغت وایي، په دې مانا چې له (دریــو تــورو) جــوړ شوی او د تجزیې وړ نه دی، له دې دریو تورو چې یو هم کم شي، کلمه خپله مانا له لاسه ورکوي. دا کلمه مصدري حالت لري، ناظم، منــتظم، منظم، نظام، انتظام، تنظیم او نورې کلمې هم له همدې مصدري حالت څخه راوتلي، چې بېلابېلې ماناوې ورکوي.

**ب- نظم له اصطلاحي پلوه:** ((نظم هغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) قافیه، ردیف هم په نظم کې کارول کېــږي او د نظــم د لا ښــه تنظیم او خوندورتیا سبب ګرځي. خو تر ټولو مهم عناصــر یــې وزن او اهنګ ګڼل شوي دي، په تېره بیا وزن، یانې هر موزن کلام نظــم ګڼــل کېږي.

د نظم تر دې لغوي او اصطلاحي شــننې وروســته اوس راځــو خپلــې فرضیې ته چې د نظم رغنده توکونه کوم دي؟

وزن دی، اهنګ دی، قافیه ده، ردیف دی، څپه ده، خج دی، غــږ دی او که کوم بل څه؟؟؟

دې کې شک نه شته چې غږ، څپه، خــج، اهنــګ او وزن ټــول د نظــم رغنده برخې جوړوي، خو که دلته په ترتیب سره یادونه وکړو، لــومړی غږ وڅېړو، نو دا به راته په ډاګه شي چې غږ پــه یــوازې ځــان وزن نــه جوړوي، غږ یوازې د غږ په توګه د مطالعې وړ دی، پــر نــورو اجــزاوو د تجزیې وړ هم نه دی، کله چې غږونه سره یو ځــای شــي نــو پــر څپــه بدلېږي، دلته ګورو چې یو انکشاف رامنځته شو، البته غږ د ژبې اساس ګڼل کېږي، چې له هغه پرته ژبه نه شي رامنځته کېدی، خــو یــوازې د بنسټ په توګه د بحث وړ دی، کله چې د غږونو تر امتزاح وروسته څپه

رامنځته شي نو که له څپې سره نورې څپې یو ځای نه شي، نو څپه هم په یوازې ځان د اهنګ او وزن د جوړېدو سبب نه ګرځــي، البتــه هــره څپه خپل خپل اهنګ لري، خو دا یو څپییز اهنګ پــه انفــرادي ډول د ټول نظم د جوړښت سبب نه ګرځي، البته که د څپو له تعدد او ترکیب څخه سنجول شوی اهنګ رامنځته شي، نو همغه مقصود اهنګ ګڼــل کېږي، که خپله اهنګ په انفرادي ډول په پــام کــې ونیســو، لــه واول غږونو څخه رامنځته کېږي، که چېرې د یوې خلاصې څپې اهنــګ پــه پام کې ونیسو، نو تر هغه چې پرې بله څپه زیاته شوې نه وي اهنګ نه قطع کېږي او امتداد پیدا کوي، مقصود اهنګ همغه دی چې ســنجول شوی او د وزن په تول تللی وي، وزن همدې ته ویل کېــږي چــې دغــه ټول پورته یاد شوي عناصر د یو منظم ترکیــب، قاعــدې او قــانون پــه چوکاټ کې راولي، صیقل یې کړي او ویې تلي. وزن مانا تلنه، برابرونــه، صیقلونه او انډول . د ساري په توګه په منظوم کلام په تېره بیا په پښتو منظوم کلام، لکه غزل، قصیده، رباعي، قطعه او ځینو نــورو کــې یــوه عامه قاعده داده چې د څپییز جوړښت له مخې یې د څپو شمېر ســره برابر دی، خو په ځینو لس څپییزو غزلو کې بیا د وزن د پوره کېدو پــه خاطر ناظم اړ دی چې پر بې قافیې مسرې یوه څپه زیاته کړي، کېــدی شي د څپو لنډوالی او اوږدوالی ددې سبب ګرځي چې د اهنګ کمښت احساس شي او وزن یې پوره نه شي، وزن دغه انډول برابروي او په پای کې نظم خپل جوړښت پوره کوي، نو ځکه خو ویــلای شــي چــې نــور عناصر ټول په ګډه د وزن ارکان ګڼل کېږي او وزن بیا په خپل وار سره د نظم اساسي رکن. په لنډیز سره ویلای شو چې نظم مانــا وزن، نظــم چې وزن ونه لري، نظم نه ګڼل کېږي، البته په دې باب ډېر اوږد بحــث کېدی شي خو مونږ هڅه وکړه چې هر څه په ډېر لنډیز سره بیان کړو.

# اخځونه

(۱ ) پښتو غږ پوهنه او ویپپوهنه، پوهنوال محمد صابر خویشکی، صمیم ادبي ټولنه کابل، ۱۳۸۸ل کال، ۱۱مخ.
(۲ ) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنوال، سعید خپرونه ټولنه کابل ۱۳۹۳ل کال، ٦٢ مخ.
(۳ ) پښتو ازاد نظم، لعل پاچا ازمون، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژروتالیستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار ۱۳۹۳ل کال، ۴ مخ.
(۴)پښتو عروض، درویش دراني، صحاف نشراتي موسسه، کوټه، (۲۰۰۷)م کال، ۴۴مخ
(۵)د پښتو ادبیاتو لرغونې او منځنۍ دورې، سرمحقق هېوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ۱۳۷۹ ل کال،۱۰۴مخ.
(٦)پښتو شعر څنګه جوړېږي، پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ۱۳۹۰ ل کال،۱ مخ.
(۷) پښتو ازاد نظم: لعل پاچا ازمون، د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، ننګرها ۱۳۹۳ل کال،۲-۵ مخونه.
(۸) پښتو ازاد نظم: لعل پاچا ازمون، د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار ۱۳۹۳ل کال، ٦ مخ.
(۹) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل ښووال، سعید خپرندویه ټولنه، کابل ۱۳۹۳ل کال، ۵۳ مخ.
(۱۰) قافیه پوهنه، پوهندوی ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون، کابل ۱۳۹۱ل کال، ۹ مخ.
(۱۱) قافیه پوهنه، پوهندوی، ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون،کابل ۱۳۹۱ل کال، ۱۱ مخ.
(۱۲) : د پښتو شعر هندسي جوړښت، محمد اسمعیل یون، یون کلتوري یون، ۱۳۸۷ ل کال، کابل ٢٦ مخ.

(۱۳) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل ښـوال، سـعید خپرندویـه ټولنـه،کابل ۱۳۹۳ل کال، ۱۴-۱۵ مخونه.
(۱۴) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضـل ښـوال، سـعید خپرندویـه ټولنـه،ابل ۱۳۹۳ل کال، ١٦ مخونه.
(١٦) - وزن و قافیه شعر فارسی، تقی وحیدیان گامگار، تهران، ۱۳۹۳ ل کـال، ۲ مخ.
(۱۵) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل ښووال، سعید خپرندویه ټولنه،کابل ۱۳۹۳ل کال، ۷ مخ.